دایمان پلورنکو داستان

# د سلطان صلاح الدین ایوبي د وخت ریښتوني پیښې

د التمش لیکنه

## مکمل غیر سیاسي

ایا زمونږ د هیواد اوسنې حال خو همداسې نه دې !؟

د قریب الرحمن سعید لپاره

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډالۍ:**

د صلاح الدین ایوبي دوخت دربښتونو پيښو په لړ کې دایمان پلورنوکو دداستان دا ژباړه د وطن د نومیالي او وتلي شاعر سمیع الله تړون ددې شعر په بنسټ چې:

زمونږ ځمکه او فضا اوس د پرديو سره ده

تورتم زمونږ دي خو رڼا اوس د پرديو سره ده

مونږ بې په خپل کور کې په خپلو وینو ولړلو

ژړا زمونږ ده خو خندا اوس د پرديو سره ده

مونږ ددې لوې جهان بې خاورې بې وطنه قام یو

مونږ بې واکه یو دنیا اوس دپرديو سره ده

مونږ په ځان کې اوس د «او» او د «نه» توان نلرو

مونږ بې واکه یو دنیا اوس د پرديو سره ده

یهودان ګرځي ایوبي صلاح الدین نه شته دې

ملاعمر او اسامه او ګلبدین نه شته دې

ټولو هغه وطنوالو ته چې د خپل هیواد دصلاح الدین ایوبي په لټه کې دي ، په ډیره مینه ډالۍ کوم.

قریب الرحمن سعید

ناروی:۲۹ اګست۲۰۰۸م کال

---

دغه خوشعرونه د ښاغلي تړون دهغه شعر اخري برخه ده چې هغه دنارنج د ګل د مشاعرې په وخت کې د جلال اباد په ښار کې په یوې ستري غونډې کې ویلي و اوما دلته د www.PashtoDeewa.com په مننه را واخستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Contents

ډالۍ ........................................................................................................ ۲

دداستان د را ټولونکي د زړه خواله ........................................................................ ۲

د ښځې او ایمان ترمنځ هڅې او هاند ........................................................................ ۹

اومه نجلۍ او نادودې ئي ........................................................................ ۴۲

دسلطان ایوبي د وژلو پلان ........................................................................ ۷۹

دویمه میرمن........................................................................ ۱۱۹

دخلافت ماڼۍ یا د بدکارۍ هډه ........................................................................ ۱۴۸

هغه نجلۍ چې له فلسطینه راغلې وه ........................................................................ ۱۹۳

او کله چې عیسائي پادري د مسلمانانو امام وګرځید ........................................................................ ۲۳۴

او کله چې «ایونا» په عایشې بدله شوه ........................................................................ ۲۸۱

زما نورې ژباړې........................................................................ ۳۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دقهار او له تيري کونکو څخه د بدل اخستونکي ذات په نامه

## د ژباړي په اړه:

دايمان پلورونکو د داستان لومړۍ برخه د التمش ليکنه ده، چې له لاهور څخه د خپرېدونکې مياشتنۍ مجلې د چلوونکي، عنايت الله، له خوا را ټوله او په پرله پسې توګه نشر شوې ده. دا تاريخي داستان، له ښه مرغه، د نوموړي را ټولونکي په مټ د کتاب په بڼه کې برابر او دا دي ستاسو درنو لوستونکو په لاس کې دی . داستان نه يوازې د اسلامي امت په وړاندې دصليبيانو د ناوړو هڅو زړه بوګنونکې کيسې کوي، بلکې په خوږه ژبه د اوسنيو سياسي او پوځي حالاتو اړيانوونکې خبرې هم کوي.

داستان که خپلو لوستونکو ته په ډېرې آسانۍ د حقايقو د سمندر تل ښيي، د صليبيانو په ښکېلاکي شنو او سرو باغونو باندې د غولېدونکو، د ايمان د پلورونکو او د وطن د دښمنانو ړانده ذهنونه هم د رڼتينولۍ په رڼا روښانه کوي.

داستان مسلمانانو، په وطن مينو ځوانانو او روڼ آندو ته ښيي چې صليبيان په څه چل ول د اسلامي امت د له منځه وړلو له پاره د اسلامي امت د ځوانانو په فکرونو کې منفي بدلون راولي. داستان، په دې سربېره، ښيي، چې صليبيان په خپل صليبي تهذيب کې د مسلمانانو د غرقولو او رنګولو له پاره له هماغو لارو چارو نه کار اخلي، چې د اسلام د پيل، پيل څخه يې کار آخيست.

که صليبيانو پخوا، په اسلامي امت باندې د خپلې برلاسۍ له پاره، د متحده پوځ له توغ لاندې يرغلونه وکړل، نن سبا يې ګورو، چې د ناټو د متحده پوځ په واسطه يې نژدې ټول اسلامي هيوادونه تر خپلې ولکې لاندې را وستي دي. لوبديځ، لګيا دی، اسلامي تهذيب ته د خپل صليبي تهذيب رنګ ورکوي.

په دې کتاب کې په ډاګه کيږي، چې صليبيانو د اسلامي امت د ځپلو او دمسلمانانو د له منځه وړلو له پاره

څه ډول توطيې پلي کړې وې. ګورو چې نن هم دخپلو موخو دترلاسه کولو له پاره له هماغو لار، چارو نه کار اخلي:

- پخپله د مسلمانانو په لاس د مسلمانانو وهل او ځپل.
- د ذهني عياشۍ د سامانونو د تيارولو او د شرابو د رواجولو له لارې له مسلمان نه په ډېرې آسانۍ د هغه د دين او ايمان آخيستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ښځو د حقوقو د نامه لاندې هغوی ته د بې اندازې آزادۍ ورکول او له نارینه سره د آزاد و جنسي اړیکو کلکول.(نن زمونږ زیات شمیر ځوانان په همدې ناروغتیا اخته دي).
- له نورو هیوادونو ځخه د فاحشو او د «ایډز» په ناروغۍ باندې د ککړو ښځو واردول.(نن زمونږ په هیواد کې د ایډز او ایچ ،اې ،وي ، ناروغتیا ، لګیا ده، په چټکۍ خپریږي. د دې ناروغانو شمیره، نن سبا ، لسګونو زرو ته رسیږي ).
- په ډاګیزه توګه د ځوانانو د ذهنونو تخریبول.
- ورځ په ورځ د فاحشه خانو زیاتوالی.
- په شتمنو مسلمانو کورنیو کې د نجونو او هلکانو ترمنځ د ناجایزې معشوقې پیلول.
- په اسلامي ټولنه کې د مسلمانو نجونو په جامه کې د عیسوي نجونو استول او هغوی ته د مسلمانو نارینه وو ترمنځ د دښمنۍ او وینې د تویولو د دندې سپارل.
- د ځوانانو په منځ کې، د آزادۍ د نامه لاندې، د شرابو ، جوارۍ او قمار ځایونو زیاتوالی او رواجول.
- د مسلمانانو په جوماتونو کې، د ملایانو په بڼه کې، د عیسوي پادریانو ټاکل او له دې لارې د اسلام د اصلي بڼې بدلول.
- د صلیبي کولتوري آغیز له لارې د مسلمانانو د ذهني او کولتوري څېرې بدلول.
- دمسلمانانو په فکر او آند کې شک پیدا کول او بیا د د غه یا هغه صلیبي کولتوري جذابیت په واسطه د هغه چورلټ بدلول.
- صلیبیان وایي: «مذهب به د مسلمانانو خپل وي، خو په لوېدیځ او صلیبي تهذیب کې به رنګ شوي وي».
- خو ایوبي وایي: «یوه عادي ښځه هیڅاته هم زیان نشي رسولې ، خو یوه جاسوسه او تخریب کاره ښځه، په یوا ځې ځان، د یوه هیواد بیړۍ ډوبولای شي».
- ایوبي همدا راز وایي چې «زه د جاسوسانو ځخه ویره نه لرم. ګواښ مونږ ته، په حقیقت کې، د خپلو کلیمه ګویو ورونو نه دي، هغه ورونه چې غواړي د کفارو دغه تر ځمکې لاندې عملیات بریا ته ورسوي. ایوبی زیاتوي چې که چېرې دهغوی ایمان کلک وي، نو د صلیبي جاسوسانو ټول لښکر هم پر مونږ بریالی کېدای نشي.

ایا زمونږ دهیواد او ولس حال ، نن سبا ، همداسې نه دې !؟

(فاعتبروا یا اولی الابصار)

قریب الرحمن سعید

( د ۲۰۰۸ کال د اګست پنځمه )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلوي خداي په نامه

## دداستان د را ټولونکي د زړه خواله:

مونږ د «ايمان پلورنکو دداستان» د ليکوال دروند التمش مننه کوو چې هغه د صلاح الدين ايوبي د قصو لړۍ د داستان په بڼه پيل کړه. دلته مونږ د هغه (اته) قصې دلوستونکو تر مخ وړاندې کوو. په دې قصو کې تاسې ته ټول هغه څه تر لاسه کيداې شي چې ستاسې او ستاسې د ځوان نسل غوښتنو ته د تيرو پيښو په هکله په ډاډ منه توګه ځواب وايي او تر څنګ يې دهغوی هغه ديني ،ملي او قومي احساسات را ژوندي کوي چې زمونږ دښمن يې د خپلو خوندورو قصو په واسطه د له منځه وړلو په هڅو کې مصروف دي.

ددې(اته) قصو په هکله په لنډه توګه دا ويل اړين ګڼو چې : هومره سازشونه چې د اسلام د ستر مجاهد او د اسلام د عظمت دساتونکي صلاح الدين ايوبي په وخت کې د اسلام او مسلمانانو د له منځه وړلو له پاره شوي په بل دور او وخت کې يې ساري نه موندل کيږي. صليبيانو او يهوديانو د مسلمانو امراؤ او فوځي قومندانانو دپه لاس کې نيولو او اخستلو په خاطر بې دريغه دولت او شتمنۍ په کار واچولې اوددې ترڅنګ يې د صلاح الدين ايوبي او نورالدين زنګي د راپرزولو له پاره خپلو ځوانو او ښايسته نجونو ته روزنه ورکړه او هغوی يې په ډيره بې حيا او بې باکانه توګه د اسلامي سلطنت پر خلاف استعمال کړې. هغوی ته دا ښکاره وه چې صلاح الدين ايوبي ته د جنګ په ډګر کې ماته ورکول اسانه کار نه دې. د سلطان ايوبي د جنګ تګلاره داسې وه چې صليبيانو به د وګړو او وسايلو د زيادښت سره سره بياهم ماتې خوړله ، په همدې اساس هغوی په اسلامي سلطنت کې دفساد او ګډوډيو د راپيدا کيدو په خاطر او په ځانګړې توګه په مصر کې، چې فوځي قيادت يې د صلاح الدين ايوبي په لاس کې و ، د جاسوسۍ او تخريب کارۍ ښځه کار اخست او دهغه وخت د ځوان نسل د کرچار دخرابولو له پاره يې ډول ډول لارې خپلولې. شتمني او ښځې يې بې دريغه استعمالولې او د صلاح الدين ايوبي لوړ پوړي چارواکي او د دولت او فوځ واکداران يې د خپل هيواد ،ولس او دين پر خلاف غدارۍ ته هڅول او دهغوی ښځه يې د ايمان پلورونکو ډلې تيارې کړې وې.

صلاح الدين ايوبي ته يو جنګ په ډګر کې ور په غاړه و ، دا د سترو سترو معرکو يوه لړۍ وه چې د صليبي جنګونو تر نامه لاندې مونږ ته را رسيدلې ده. خو دهغو جنګونو کوم تفصيل مونږ ته نه دې را رسيدلې چې سلطان ايوبي د صليبي جاسوسي شبکو ، چې په هغوې کې يې له يوه اړخه ښايسته نجونی ورننويستې وی او تر څنګ يې د حسن بن صباح په څير وژونکې ډله هم ورګډه وه ، پر خلاف و جنګيد. دغه وژونکو ته يې فدائيان هم ويل. ددې تر څنګ د حشيشينو تر نامه لاندې يوه ډله هم وه. دوی په صلاح الدين ايوبي څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژونکي يرغلونه وکړل ، خو د الله(ج) ځانګړي لورونه وه چې دا مجاهد ترې په ډراماييتوګه او دخپلو متبو په زور خونديووت. دغه د ځمکې لاندې صليبي جنګونو هغه په زړه پورې قصې را وزيږولې چې له ډلې څخه يې دلته مونږ ( اته ) خپلو درنو لوستونکو ته وړاندې کوو.

د تاريخ دا رينښتونې پيښې د تفصيلاتو د اوږودوالي په خاطر د تاريخ په کتابونو کې نه دي را خستل شوي او شوني علت يې دا هم کيداې شي چې د تاريخپوهانو آند د ځمکې لاندې او د پردو تر شا نه شواي تللاې. داسې پيښې د اړوندو وختو د پيښوليکونکو په ليکنو کې خوندي پاته شوي او يا د سترګو ليدلو شاهدانو بيان کړي دي ، او بيا دا پيښې سينه په سينه د يوه نسل څخه بله ته ژوندۍ را غلي دي.

دروند التمش چې د کار دپيدا کولو په خاطر منځنې ختيځ ته تللاى و ، د کار د موندلو سره سم يې د تاريخ دليکلو حس هم را بيدار شو. هغه په تيرو دولسو کلونو کې د اسلامي هيوادنو بې شميره کتابتونونه کتلي او د دزيات شمير کتابتونو د ذخيره ځايو څخه يې هغه کاغذات را ويستلي چې مسؤلينو يې بيکاره ګڼلي او هيسته يې په کاغذتوکريو کې غورځولي و. په هغوی کې د صلاح الدين ايوبي د وخت د سرکاري او غيری سرکاري ليکوالانو ليکل شوي نا چاپ شوي ليکني تر لاسه شوي چې همدا د سلطان ايوبي د وخت رينښتونې تاريخ تمثيلوي. او دا هماغه پيښې دي چې د تيرو وختو بنويدنې او غداران ايمان پلورنکي بې پردې کوي او د راتلونکو نسلونو له پاره د عبرت درس او د لارې رڼا ګرځي.

ددې پيښود ليکونکو نه اخوا ، دروند التمش چې دکومو تاريخپوهانو د ليکنو څخه تفصيلي پيښې تر لاسه کړي دي په هغوی کې هيرالډ ليمب ، لين پول ، وليم آف ټآئر ، قاضي بهاؤالدين شدّاد ، محمدفريدابُوحديد ، اينتي ويسټ ، واقدي ، هتّي، جنرال محمد اکبرخان رنګروټ ، موئير، سراج الدين ، اسدالاسدي، الاطهر ، سستين ، بالډوني، او يو څو نور نوم ورکي تاريخپوهان شامل دي.

د ۱۹۷۴ زيږديز کال په ااخر کې التمش پاکستان ته راغې او له ماسره يې وکتل ، زه به د هغه دا احسان تر قيامته پورې له ياده و نه باسم چې هغه دغه ارزښتناکه خزانه د «حکايت» له لارې لوستونکو ته وړاندې کړه. ما د ۱۹۷۵ زيږديز کال د فبروري دمياشتې په ګڼه کې ددې لړۍ په خپرولو پيل وکړ چې تر اوسه پورې جريان لري. دا قصې يو پرلپسې تاريخ نه دي ،بلکه د مختلفو وختونو تفصيلي او ډراماييې کړنې دي چې تاسو په کې صلاح الدين ايوبي او د صليبي جاسوسانو ، خارکښو ، تخريب کارانو ، غلچکي بريدکونکو او د عسکري کماندو يانو حيرانونکې او په زړه پورې پيښې لوستلاې شئ. د ا په حقيقت کې د ښځې او ايمان تر منځ هاند اوهڅې او نه ختميدونکې معرکه ده چې تاسې به حيران پاته کړي او که ستاسې د ايمان ځراغ چيرې هم مړژواندې وي نو هغه به را تازه کړي.

ستاسې دهغه وخت دښمن نن هم ستاسې دښمن دې او تر اوسه پورې هم د اسلام او مسلمانانو د له منځه وړلو له پاره هماغه خوندناکې لارې استعمالوي چې پخوا يې ازمايلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا قصې پخپله هم ولولئ او خپلو کوچنيانو ته يې هم. که چيرې تاسې په رينښتونې توګه غواړئ خپل کوچنيان د فحش، لوڅو لغړو او د اخلاقو خرابونکو قصو څخه خوندي کړئ نو دا (اته) قصې له ځانه سره کورته يوسئ.

ددې قصو په لوستلو سره به تاسې دا احساس کړئ چې نن يو ځل بيا تاريخ تکراريږي او يوه بل صلاح الدين ايوبي ته اواز کوي.

عنايت الله

(د حکايت د مياشتنې مجلې مدير «لاهور»)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښځې او ایمان تر منځ هڅې او هاند(۱)

-او کله چې (ذکویي ) د سلطان ایوبي خیمې ته ولاړه:
-[ته د مرغانو سره لوبې کوه، عسکري د هغې چا له پاره ، چې په ښځو او شرابو کې مست وي،ډیره خطرناکه لوبه ده ]
دا تکې سلطان صلاح الدین ایوبي په ۱۱۷۵ زیږدیز کال خپل د کاکا زوي خلیفه الصالح او د هغې یو امیر سیف الدین ته لیکلي و. دغه دواړو وکړو په پټه د صلیبي ځواکونو څخه د شتمنیو (د زرو او جواهراتو ) د ترلاسه کولو او د سلطان صلاح الدین ایوبي د ځپلو او هغه ته د ماتې د ورکولو په خاطر یو سازش جوړ کړې و. صلیبیانو هم همداسې غوښتل، هغوی یرغل وکړ، الصالح او سیف الدین د هغوی ملاتړ وکړ. خو سلطان صلاح الدین ایوبي د الصالح او سیف الدین په ګډون صلیبیانو ته ماتې ورکړه. امیر سیف الدین خپله شتمني او پانګه پرېښووه او و تښتید ، د هغې د خیمې څخه ډول ډول الوتونکې مرغان ، خایسته او ځواني نڅونکې نجونې ، سندرغاړي ، د موسیقي الآت ، او د شرابو ستر ستر منګوټې تر لاسه شول. صلاح الدین ایوبي ټول الوتونکې ، نڅونکې، سندرغاړي او دهغوی د موسیقي غږونکې ډمان پرېښوول او امیر سیف الدین ته ئې په دې عنوان یو لیک انځور کړ:
[تاسې دواړو د کفارو په ملاتړ زما د نوم و نښان د ورکولو ناپاکه هڅې و کړې خو دا فکر مو نه و کړې چې ستاسو دا سازښ به د اسلامی امت نوم او نښان هم له منځه یوسي. که چېرې تاسې له ماسره کښنه درلوداې نو زه به مو وژلي واې، تاسې تر اوسه پرما دوه ځلې وژونکې یرغلونه کړې دي خو په دواړو کې ناکام شوی یاست اوس یوه بله هڅه وکړئ او ووینئ.
خو که چېرې تاسې ماته دا ډاډ را کړئ چې زما د تن څخه زما د سر په لرېکېدو سره به اسلام نور هم ډېرغښتلي او هسک شي نو د کعبې په پالونکې می سوګند چې زه به ستاسې په تورو خپل سر له تنې پرې کړم. او ستاسې په پښو کې به ئې د ایښوولو وصیت وکړم. زه تاسې ته همدومره ویل غواړم چې هیڅ نامسلمانه د مسلمان دوست نه شي کېداې. تاریخ ستاسې تر مخ دې خپل پخواني تاریخ ووینئ ، د شاه فرینک او ریمانډ په څیر د اسلام ستر صلیبي دښمنان پدې خاطر ستاسې دوستان ګرځیدلي چې تاسې د مسلمانانو پر خلاف په ډګر کې دهغوی مرسته کړې ، که چېرې هغوی برې موندلې واې نو بیا به د هغوی بل ښکار تاسې په خپله واست او دهغې د وروسته به دهغوی دا خوب هم پوره شوی واې چې اسلام د نړۍ له یوي مخې پاکه کړې او له منځه ئې یوسي.
تاسې د یوه غښتلی نو میالي قوم وګړی یاست ، د عسکریت هنر ستاسې قومي دنده ده ، هر مسلمان د اللهﷻ سپاهی دې ، خو ددې له پاره ایمان او عمل بنستیز شرط دې. ته یواځې د الوتونکو سره خپل زړه خوشحالوه او لوبې ورسره کوه، عسکریت د هغه چا له پاره یوه خطرناکه لوبه ده چې په ښځو او شرابو ئې زړه ورکړې او مست وي. زه له تا نه غواړم چې له ماسره بسپنه وکړه ، او زما سره په جهاد کې ګډون وکړه ، او که چېرې دا نشي کولاې نو زما د مخالفت څخه لاس واخله ، زه تا ته هیڅ ډول سزا نه درکوم. اللهﷻ دې ستاسې ګناهونه وبښي.(صلاح الدین ایوبي)]

(c) ketabton.com: The Digital Library



[يو اروپايي تاريخ پوه (لين پول) ليکي چې: چې دغنيمت دومره زيات مال به د صلاح الدين ايوبي لاس ته ورته چې حساب به ئې نه و . جنګي بنديان هم د شميره وتلي و. صلاح الدين ايوبي به د غنيمت ټوله شتمني په درې برخو ووېشله. يوه برخه ئې په جنګي بنديانو ويشله او هغوی ئې ازاد ول. دويمه برخه ئې په خپلو فوځيانو او غريبانو ويشله او دريمه برخه ئې د نظام الملک مدرسې ته ورکوله. هغه پخپله هم په همدې مدرسې کې زده کړه کړې وه. نه ئې پخپله ځانته څه و ساتل او نه ئې خپل کوم جرنيل ته څه ورکړل، ددې ويش پايلې دا شوی چې د جنګي بنديانو زياته برخه که مسلمانان ول او که غير مسلمان، ټول د صلاح الدين ايوبي په پښو غالي کې را ټول شول او د هغې داطاعت په منلو سره ئې د هغې په فوځ کې خپل خدمات پيل کړل. دايوبي لويوالي او سترتوب ترلرې لرې ځايو پورې مشهور شو.]

ددې تر مخه د حسن بن صباح (پټې ډلې) فدايانو، چې اروپايي تاريخ پوهانو د وژونکو په نامه ياده کړې ده، په صلاح الدين ايوبي باندې دويم ځلي وژونکې يرغل کړې و خو د ستړپالونکې اراده ددې ستر مجاهد څخه ډير زيات کار اخستل ول نو په دې خاطر په دواړه ځلو کې يوه معجزه را څرګنديده تر څو د اسلام دا ستر ساتونکې خوندي او ژوندي پاته شي. پر هغه دريمه وژونکې حمله هغه وخت تر سره شوه چې هغې د خپلو مسلمانو ورونو او صليبيانو د سازښت غرونه د خپلې توري په واسطه ټوټې ټوټې کړي ول. امير سيف الدين د جنګ له ډګر څخه تښتيدلې و. خو هغه د صلاح الدين ايوبي پر خلاف د حسد او کينې په لمبو کې سوځيده. هغې د حسن بن صباح د وژونکې ډلې مرسته تر لاسه کړه، دا ډله د يوې اوږدې مودې را هيسې د اسلام په لستونې کې د مار په څير را ټوکېدله چې پوره ډاګيزه کول ئې ډير اوږود وخت ته اړتيا لري، خو لنډه دا چې لکه څنګه چې زمکه د لمرد وړانګو څخه په لرې کېدو سره د ګناهونو زانګو ګرځي، نو په همدې توګه حسن بن صباح نومي وګړي هم د اسلام څخه په جدا کېدو سره د نبيانو او پيغمبرانو په څير د سترتوب د ترلاسه کولو پروګرام تر لاس لاندې و نيو. هغه خپل ځانته مسلمان ويلې او داسې يوه ډله ئې جوړه کړه چې په جادو ډوله تو ګه ئې خلک خپل پيروان ګرځول، ددې موخې د ترلاسه کولو له پاره دې ډلې ډيرې ښکلې نجونې، نشه راوړونکې بوټې، د هيپنټيزم (Hypnotism) او غوره مالۍ په څير لارو چارو څخه کار اخست، داسې په اصطلاح جنتونه ئې د خلکو تر مخ جوړول چې هلته پر ورتللو سره تيري هم ويلې کېدې. هغوی د خپلو مخالفينو د له منځه وړلو له پاره د وژونکو يوه ډله جوړه کړه، د وژلو لارې چارې ډيرې پټې ترسره کېدې، ددې ډلې وګړې دومره چالاکه، زيرکه او نه ويريدونکې ول چې د ښځه او ژبې په بدلون به د سترو سترو جنرالانو ساتونکې ګرځيدل او کله به چې په پټه توګه کومه وژنه تر سره کېده نو د وژونکو پل به هم چا نه شو موندلاې. لږه موده وروسته دغه ډله د «وژونکو د ډلې» په نامه مشهوره شوه. دا وګړې د سياسي وژنو ماهرين ول، دوی به د ښايسته او ښکلو نجونو په لاسو د شرابو په پيالو کې زهر هم په خپلو ښکارشويو باندې څښل. تر ډيرې مودې پورې دغه ډله دهمدې موخو له پاره کارول کېده. چې کارکونکو ته ئې «فدائيان» ويل کېدل.

صلاح الدين ايوبي ته نه دغه ښکلو نجونو دوکه ورکولاې شوه او نه شرابو. هغه ددغې دواړو څخه کرکه کوله. د هغې د وژلو له پاره يواځې همدا يوه لاره وه چې پر هغې وژونکې بريد وشي. خو د هغې د ساتونکو تر مخه پر هغې باندې دا ډول بريد هم څه اسانه کار نه و. ددې تر مخه پرې دوه يرغلونه ناکامه شوي ول. اوس صلاح الدين ايوبي ته ددې هيله پيدا شوی و چې د هغې د کاکا زوي الصالح او امير سيف الدين به د ناکامۍ او ماتې وروسته توبه ويستلې وي، خو هغوی د بدلې اخستلو يو بل تر زمکې لاندې کوښښ وکړ. صلاح الدين ايوبي هم د خپلو برياو د جشن د لمانځلو پر ځاې خپلې فوځي برياوې جاري و ساتلې او په څو نورو کليو باندې ئې هم ولکه ومونده. په دې نوو سوبو کې د غازه ترنامه لاندې مشهور کلې هم و. ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمې په چاپیریا ل کې یوه ورځې صلاح الدین ایوبي ، دامیر جاوالاسدي په خیمه کې د غرمې د خوب او پرکالۍ له زوره سست شوی و، خو هغه پګړۍ ئې چې د جنګ په ډګر کې ئې د لمر د تودخې او ددښمن د توري څخه د سر د ساتلو په خاطر د تل له پاره په سر ووله ، له سره نه وه ښکته کړې. د خیمې څخه باهر د هغې د ساتونکو ډلی په پوره بیدارۍ سره شتون درلود. د ساتونکو ددې ډلې مشر د لږ څه وخت له پاره دهغې ځاې څخه ولاړ. یو ساتونکې د صلاح الدین ایوبي د خیمې د را پریوتو پردو څخه د خیمې دننه حالات و کتل ، ګوري چې د اسلام د عظمت د سالار سترګې ورغلې هغه مخ په شا پروت ویده و. دغې ساتونکې د بل ساتونکې په لور و کتل ، دډلې څخه درې نورو ساتونکو هم ددغې ساتونکې په لور و کتل ، ساتونکې خپلې سترګې بندې او خلاصې کړې ، هغه دوه درې کسه ساتونکې پورته شول او نور ساتونکې ئې په خبرو مشغول کړل. دغه ساتونکې خیمی ته ولاړ ، د خپل ملابند څخه ئې توره را وویستله ، په ډیره سوکه توګه د صلاح الدین ایوبي په لور ور روان شو، او د ځنګلي پیشو په څیر ئې په بیده صلاح الدین ایوبي باندې توره را وویستله ، کله چې دهغې د توري لاس پورته شو نو صلاح الدین ایوبي هم یو اړخ بدل کړ، دا نشي ویل کیداې چې ساتونکې په کوم ځاې باندې ګذار کاوه. په زړه یا په سینه ، خو پیښه داسې شوه چې خنجر د صلاح الدین ایوبي د پګړۍ په پاسنۍ برخه کې ورننوت چې د هغې د سر څخه ئې د یوه ویښته په اندازه لریوالې درلود ، پګړۍ د سر څخه پریوته.

صلاح الدین ایوبي د برق په څیر را پورته شو ، هغه ته دا ستونزمنه نه وه چې و پوهیږي چې څه کیږي ؟ددې د مخه پر هغه دغسې دوه نور بریدونه هم شوی ول. هغه پر دې هم حیران نه شو چې یرغل کونکې د هغې د ساتونکې په هغوبڼه کې پټ دې چې هغې پخپله د هغوی له پاره تیار کړي و. هغې د ساه اخستو په اندازه وخت هم له لاسه ورنکړ، یرغل کونکې د هغې د پګړۍ څخه دخپل خنجر د ویستلو په هڅه کې و او ایوبي لوڅ سر ولاړ و. هغه د یرغل کونکې مخ په یوه ځواکمن سوک سره وواهه ، دهغې د مخ هډوکې او ژامله ئې ورماته کړه. د یرغل کونکې ژاملې ماتې شوی وې. شاته پریوت او دخولې څخه یوه لړزونکې چېغه ووته، د هغې خنجر د صلاح الدین ایوبي په پګړۍ کې بند پاته شو، صلاح الدین ایوبي خپل خنجر را وویست ، په همدې وخت کې دوه نور ساتونکې په منډه خیمی ته را ننوتل ، دهغوی په لاسو کې توري وې ، ءصلاح الدین ایوبي هغوی ته وویل چې دا ژوندې و نیسئ ، خو هغوی دواړو هم په ایوبي باندې را کښیښوده ، صلاح الدین ایوبي د یوه خنجر په واسطه ددواړو تورو مقابله و کړه چې نژدې یو دوه دقیقې روانه وه، ځکه په دې وخت کې ټول ساتونکې خیمی ته را ننوتلي ول.

صلاح الدین ایوبي هغه درنګ ډیر حیران پاته شو چې وئې کتل چې خپل ساتونکې ئې په خپلو منځو کې په دوه ډلو ویشل شوی دي او یو د بل وینې تویوي. خو څرنګه چې هغه ته د انه وه معلوم چې په دوی کې دښمن څوک دي او دوست څوک ، نو په دې اساس ئې په دې جنګ کې ګډون و نه کړ.

د لږ ځنډ وروسته کله چې د ساتونکو څخه یو څو د زمکې خلي شول او یو څو نور په تیښته و تښتیدل او یو شمیر نور د زخمی کیدو وروسته بې حاله پراته وول نو دا ورته برېنډه شوه چې په هغې ډله کې چې د سلطان صلاح الدین ایوبي دخوندي ساتلو ماموریت ئې درلود ، اوه کسان ئې «فدائیان» و، چې غوښتل ئې صلاح الدین ایوبي ووژني. هغوی ددې کار د ترسره کولو له پاره یواځې یو فدائې خیمی ته استولې و. خو کله چې دننه په خیمه کې حالات بدل شول نو هغه پاته نور هم ورننوتل ، اصلی ساتونکې هم خیمی ته ور ننوتل هغوی سمدستې پوه شول او صلاح الدین ایوبي د وژونکې یرغل څخه خوندي پاته شو. هغه د لمړي یرغل کونکې په شارګ باندې د توري څوکه کښیښوه اوترې وئې پوښتل چې څوک دې ؟او چا را استولې دې ؟ په ریښتیا ویلو سره صلاح الدین ایوبي د هغې د ځان د بښنې و عده وکړه. هغه ورته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې فدايي دې او د کېميشتکن (چې يو شمير تاريخ پوهانو د ګمشتګين په نامه ياد کړې ) لخوا دلته ددې کار له پاره راستول شوی. کېميشتکن د الصاح د يوې سيمې والي و.

(۲) *****

د اصلي قصې د اوريدو تر مخه دا اړينه ده چې ددې پيښې د مخه وختونه تر نظره تير کړل شي. د صلاح الدين ايوبي د نوم ، په اسلامي تاريخ کې دهغې دکړونو د ستروالي او ځاې او سربښندونو څخه به څوک خبر نه وي !؟ اسلامی امت خو ئې هيڅکله هم نه شي هيروالائې. او مسيحی نړی په ئې هم د تل له پاره په ياد ولري. په دې اساس دا اړينه نه بريښي چې د صلاح الدين ايوبي د نسب شجره دې په تفصيلي توګه بيان کړل شي. مونږ چې کومې پيښې دلته د لوستونکو تر مخ ږدو نو هغه دومره پراخه دي چې د تاريخ لمن سره را ټولوي. دغه تقصيلات د پيښو د ليکونکو او د قلم د خاوندانو په ريکارډ کې ثبت دي ، او څه د يوې سينی د سلولونو څخه د بلې سيني سلولونو ته وررسيدلي دي. د تاريخ په لمن کې يو اځې د صلاح الدين ايوبي کړنې ياد کړل شوی دي او د هغو سازښونو په هکله لږ څه مومو چې دهغه خپلو دهغه پر خلاف کړې دي. او دهغه د ورځ په ورځ زياتيدونکې شهرت او ستروالي دداغداره کولو له پاره ئې هغه د ښکلو نجونو په يوه داسې جال کې د راګيرولو بيا بيا هڅې کړې چې د هغوی په ښايست کې طلسماتي اغيز و.
د اسلامی تاريخ د ا رينښتوني ډرامه په ۲۳ د مارچ ۱۱۲۹ زيږديز کال کې پيليږي. يعنې هغه وخت چې صلاح الدين ايوبي د مصر وايسراي او د فوځ اعلي قوماندان و ټاکل شو. هغه ته دومره ستره رتبه په دې خاطر ورکړل شوه چې هغه تر هر څه لمړې د حکمراني کورنۍ نوي نيالګې و او دويم دا چې چې هغه د خپل عمر په لمړيو کې د جنګ او ځپلو(حرب و ضرب) د فن ماهر ګرځيدلی و. عسکريت ورته په ميراث کې پاته شوی و. دهغې په ذهن کې حکمرانی د بادشاهی په معنی نه ، بلکه د اسلام د ساتنې او د قوم د ستروالي او د خير ښيګڼې په خاطر وه. کله چې د هغې شعور را بيداره شو نو په لمړي ځل يې محسوس کړه چې په مسلمانو حکمرانانو کې نه يواځې يووالی نشته بلکه يو له بله سره د کومک او بسپنی کولو څخه هم ډه ډه کوي. هغوی عياش ګرځيدلي و. شرابو او ښکلو نجونو اوښځو که له يوه اړخه دهغوی ژوند رنګين ګرځولی و ، خو هلته ئې د اسلامی امت او د اللهﷻ د دغه ستر مذهب راتلونکې دتياری سره مخ کړې وه. د هغوی داميرانو،وزيرانو او مشاورينو ناست ځايونه د نامسلمانه ښايسته نجونو څخه ډک شوی و. له دوی څخه ډيرې نجونې يهودې او عيسايي وي چې د ځانګړو زده کړو وروسته ئې دې ناست ځايو ته ور داخلې کړې وي. د حيرانوونکې ښايست او د اداکارۍ د فن هنرمنداني دغه نجونې د مسلمانانو حکمرانانو او پادشاهانو کړنې او د هغوی ملی غرور د لرګی د چينجي(دېمک ) په څير رژاوه.
ددې پايلې دا شوی چې صليبيان چې فرينک (فرنګيان) په کې په ځانګړې ډول د ياد ولو وړ دې ، د مسلمانانو ځمکې ټوټې ټوټې يو پر بل پسې د کومې تيرې کړې او ان تر دې چې يو شمير مسلمان حاکمان فرنګيانو (اوسني انګليسانو ) ته کلنی محصول ( ټيکس) او جزيه ورکونکې وګرځيدل .دا محصول د بدمعاشۍ د محصول تر نامه لاندې هم يادېده. صليبيانو به د خپل فوځې ځواک په زور او هم د کوچنيو کوچنيو يرغلونو په شکل کې دا حکمرانان ويرول ، په لړی سيمې باندې به ئې قبضه کوله ، تاوان او ټيکس به ئې اخسته ، او موخې ئې داوې چې په کلار کلار اسلامی امت د کومې(ستونې) تير کړې. مسلمانو حکمرانانو به د خپلو رعاياو د وينو په څښلو د هغوی څخه محصول تر لاسه کاوه او صليبيانوته به ئې ورسپاره ، دهغوی هدف داو چې د هغوی د عيش او عشرت په ژوند کې کوم اخلال منځته را نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته ئې د قوم پالني تخم هم و شینده ، او تر ټولو خطرناکه ډله ئې د حسن بن صباح تر نامه لاندې جوړه کړه. دغه ډله د صلاح الدین ایوبي د ځوانۍ څخه نژدې یوه پیړۍ مخته دهمدې موخو د تر لاسه کولو له پاره جوړه کړل شوې وه. دا د ګټه پالو ډله او فرقه وه ، بې حده خطرناکه او د اسرارو نه ډکه . ددې فرقې اړوندو ته ځانته «فدائیان» ویل. خو وروسته د حشیشین په نامه په دې خاطر مشهور شول چې دوی به د حشیش دنشه کونکې بوټې د موادو له لارې نور خلک په خپل جال کې را نښلول.

صلاح الدین ایوبي د نظام الملک په مدرسه کې ښوونه او روزنه تر سره کړې وه. پخپله نظام الملک د اسلامي نړۍ په یوه مملکت کې یو وزیر و ، ددې مدرسې بنسټ همهاغه ایښودې و. په دې مدرسې کې به اسلامي ښوونه او روزنه ورکول کېده او کوچنیان به د اسلامي تاریخ او نظریاتو څخه پوره پوره خبریدل.

د یوه تاریخ پوه « ابن الاطهر» د وینا په اساس ، نظام الملک پخپله د حسن صباح د فدائیانو لمرنې ښکار و. ځکه چې هغه د رومیانو د پراخ غوښتنود سیاست په مقابل کې لکه دغره په ټینګ ولاړ و. رومیانو هغه په ۱۰۹۱ زیږدیز کال کې د همدې فدائیانو په لاسو وواژه ، خو مدرسه ئې په خپل ځاې پاته شوه. صلاح الدین ایوبي همدلته ښوونه او روزنه وکړه. په همدې عمر کې ئې د عسکریت روزنه هم د خپلو مشرانو له خوا تر لاسه کړه. نورالدین زنګي هغه ته جنګي تاکتیکونه ورزده کړل ، د هیواد د نظام د پر مخبیولو روزنه ئې ورکړه ، او په ډپلوماسۍ کې ئې ښه پوهه ورو ښووله. دغي ښونو او روزنو په هغې کې هغه جذبه را پیدا کړه چې وروسته ئې بیا همغه د صلیبیانو له پاره د برق د تارونو په څیر و ګرځوله ، هغه د ځوانۍ په پوړ کې هغه ډول ذهانت او وړتیا تر لاسه کړې وه چې د یوه ستر سالار له پاره اړینه وي.

صلاح الدین ایوبي د جنګ اوځپلو د فن ترڅنګ د څارکښنې (Intelligence) ، کماندو او غلچکي بریدونو(Commando and Guerilla operation) د پوهې د تر لاسه کولو ته هم ځانګړې پاملرنه وکړه. هغه به کتل چې صلیبیان د څارکښنې په ډګر کې ډیر مخته تللي دي ، او هغوی د مسلمانانو په نظریاتو باندې په ډیر هنر سره یرغلونه کوي. صلاح الدین ایوبي غوښتل چې د نظریاتو په سنګر کې و جنګیږي ، هلته چې د توري د استعمال اړتیا نه وی.

په دې قصه کې به تاسي مخته ووینئ چې د هغه دتوري وهنه ډیره درنه او ژوره وه خو دهغې د مینې ګذار ئې د هرڅه سخت وهل کولاې شول. د هغه له پاره د زغم او تحمل اړتیا وه او هغه دغه زغم د خپل عمر په لمرنیو وختو کې په خپل ځان کې پیدا کړې و.

کله چې هغه د مصرد وایسراې او د عسکري ځواکونو د عمومی قوماندان په څیر هلته و استول شو، نویوشمیر هغو منصبدارانو ستره غوغا جوړه کړه چې ددې رتبې له پاره کلونه کلونه منتظر ناست ول. د هغوی له انده صلاح الدین ایوبي لا تر اوسه د مکتب شاګرد او کوچني هلک و خو کله چې د مکتب دا شاګرد دهغوی مخته راغی ، دهغه خبری ئې واوریدې ، نو دهغوی احتجاج په ټپه و درید. د«لین پول» تاریخپوه له مخې صلاح الدین ایوبي په ډسیپلین (Discipline )باندې ثابت او ولاړ وخوت. هغه د خپل ځان او خپل فوځ له پاره تفریح ، عیاشي او ارام کول حرام و ګرځول ، هغه خپل دماغي او جسماني ځواکونه یواځې په دې باندې راټول کړل چې اسلامي سلطنت نور هم غښتلي کړي او صلیبیان ددې مځکو څخه بیرون وشړي. هغه په هر قیمت په فلسطین باندې بیرته ولکه پیدا کول غوښتل او همدا موخې یې خپل فوځ ته هم ورکړې. د مصر د وایسراې په څیر به هغه وویل: [ الله ج ماته د مصر مځکه را کړې نو دهمغې ستر ذات به ماته فلسطین هم را و ښئي] خو مصر ته په ورسیدو سره هغه ته په ډاګه شوه چې د هغې مقابله یواځې د صلیبیانو سره نه ده بلکه خپلو مسلمانانو ورونو هم دهغې په لاره کې ډیر ښایسته ښایسته جالونه غوړلې دي او دا جالونه د صلیبیانو د موخو او د هغوی د فوځي ځواک څخه هم خطرناکه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



******(۳)

هغو فوځي او قومي مشرانو چې مصر ته په ورسیدو سره د هغه ښه راغلاست ووایه په هغوی کې ناجي نومی یو عسکري سالار ډیر د اهمیت وړ و. ایوبي ټول د سر نه تر پښو پورې و کتل ، دهغه په شونډو خندا او په ژبه ئې دمیني او محبت خواږه ټکي. یو شمیر پخوانیو افسرانو هغه ته داسې و کتل چې دهغوی کتنه د طنزاو تمسخر نه ډکه وه. هغوی د صلاح الدین ایوبي یواځې نوم اوریدلی و. او یا د هغه په هکله همدومره پوهیدل چې هغه د حاکمی کورنۍ غړی او دخپل د کاکا د زوي ځای ناستې دې. هغوی په دې هم پوهیدل چې د نورالدین زنګی سره د هغه اړیکې څه ډول دي ! د هغوی له انده د صلاح الدین ایوبي اهمیت یواځې د هغې دکورنۍ له اړخه و ، او یا ئې په دې خاطر هغه ته اهمیت ورکړ چې هغه د مصر دفوځي وایسرای په څیر راغلی دې. ددې پرته هغوی صلاح الدین ایوبي ته هیڅ ډول ارزښت ورنکړ. یو زوړ فوځي سالار په خپل څنګ کې ولاړ د یو بل سالار په غوږ کې وویل: [کوچنې دې ، مونږ به ئې پالنه کوو ]

تاریخ پوهان او دهغې وخت د پیښو لیکونکې دا نه شي ویلائې چې صلاح الدین ایوبي د هغې خلکو په آندونو پوه شوی هم و او که نه. هغه د ښه راغلاست په دې هجوم کې یو کوچنی معلومیده ، خو کله چې د ناجي سره د ښه راغلاست په وخت کې تم شو نو د ایوبي په مخ کې بدلون را پیدا شو. هغه غوښتل ناجي ته لاس ورکړې خو ناجي چې دهغې د پلار په عمر و د ټولو تر مخه د درباري غوړه مالو په څیر ټیټ شو او بیا د ایوبي سره ور غاړیوت. د ایوبي تندې ئې ماچ کړ او ایوبي ته یې د ډاډ ورکولو په خاطر وویل: [زما د وینی اخرین څاڅکې به هم ستا د ځان د خوندي ساتلو په خاطر توئیږي. ته له ما سره د « زنګی »او « شیرکوه» امانت ئې.]

(زما ځان د اسلام د عظمت نه ډیر ارزښتناکه نه دې !) صلاح الدین ایوبي د ناجي لاس ښکل کړ او زیاته ئې کړه (دروندہ ! د خپلې وینی یو یو څاڅکې خوندي و ساته ، صلیبیان د تورو وریځو په څیر په امت را خپریږي. )

ناجي ورته په ځواب کې یواځې موسکې شو، داسې لکه د صلاح الدین ایوبي څخه ئې چې کومه ټوکه اوریدلی وي .داسې بریښیده چې په غالب ګمان صلاح الدین ایوبي د دغه تجربه لرونکې سالار د خندا اهمیت نه وي درک کړې.

ناجي د فاطمي خلافت څخه راپاته یو روزل شوی سالار و. هغه په مصر کې د ساتونکو (Body guards) د ډلی قوماندان و. د نفرو شمیره ئې نژدې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) تنو ته رسیده. دغه وګړي ټول سوډانیان ول ، دا ډله دهغې وخت په نوو او عصری وسلو سنبال وه. چې اوس د ناجي په لاسو کې یوه درنده ځپونکې وسله ګرځیدلی وه، او دهمدې ډلی په مټو ناجي د یوه بې تخته پادشاه په څیر خپل حکومت کاوه. دا وخت د ګټې پالنې او سازښونو وخت و. د اسلامی نړۍ مرکزیت له منځه تللې و .د صلیبیانو تخریبي کارونه هم په ډیره زړه وړونکې توګه روان و. د زرپالنې او عیش او عشرت دوره وه. هر چا چې لږ ځواک هم درلوده نو هغه ئې دخپلې واکمنی د ټینګښت او د مال او شتمنۍ د راټولولو په خاطر مصرفاوه. د سوډاني ساتونکو د ډلی مشر او قوماندان ناجي د مصر د حکمرانانو او نورو مشرانو له پاره یو ویرونکې خوب ګرځیدلی و. الله ج هم هغه ته دغسی یو شیطانی دماغ ورکړې و. هغه ته به ئې په هغه وخت کې پادشاه جوړونکې وایه ، په جوړولو او ورانولو کې ئې ځانګړی پوهه درلوده ، هغه صلاح الدین ایوبي و کوت نو په مخ ئې هماغسی خندا را خپره شوه لکه څنګه چې یوه کمزورې میږه د یوه ځواکمن لیوه غاښونو ته ور لویږي. ایوبي دغه د زهرو ډکه خندا نه وه درک کړې. هغه ته تر ټولو مهم وګړی پخپله ناجي و. ځکه چې هغه د پنځوس زره ساتونکو د ډلی قوماندان و او صلاح الدین ایوبي دې فوځ ته اړتیا درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاح الدين ايوبي ته وويل شول چې : درونده مشره ! د ډېر لرې ځاې څخه دې تشريف راوړې ، لمړې ارام وکړه ! خو هغه ورته وويل :[هغه لنګۍ چې زما پر سر اېښوول شوی ،زه د هغې وړ نه ووم ، دغی لنګۍ زما خوب او ارام له منځه وړې ،ايا تاسې درانده شخصيتونه به ما د هغې چت سيوري ته بدرګه نه کړئ چېرې چې زما دندې (فرايض ) زما انتظار کوي ؟]

(درونده مشره ! ايا دکار د پيل د مخه غذا ته ميل نه لرې؟ يوه نايب ئې ترې و پوښتل .) صلاح الدين ايوبي لږڅه فکر او ځنډ وکړ او بيا له هغه سره ولاړ . دهغې ودانۍ په مخکې چې غذا په کې تياره شوی وه دواړو لورو ته ځواکمن شکله ساتونکي ولاړ ول . ايوبي ددغه ګارډ او ساتونکو قد ، شکل او وسلې و کتلې نو پر مخ ئې روښنائې را پيدا شوه . خو دا روښنائې د ودانۍ دروازی ته د ور رسيدو سره سم پائې ته ورسيده . هلته ځلور ځوانی نجونې چې په جسمونو ئې نرې لباس او په اوږو ئې خپرې زلفې را پرتې وې او د ښايست نمونې ئې له ځانو جوړې کړې و ې ، په لاسو کې ئې د ګلونو د پاڼو ډکې ټوکرئ نيولې ولاړې وې. هغوی د صلاح الدين ايوبي په قدمونو کې د ګلونو د پاڼو په ښيندلو پيل وکړ ، او تر څنګ ئې د ډول او رباب اوازونه د اغيزمنو نغمو سره يو ځاې را پورته شول. ايوبي په خپله لاره کې د ګلانو د پاڼو په ليدلو سره خپل قدمونه بيرته شاته کړل ، ناجي او دهغې معاون ئې دواړو خواو ته روان و . هغه دواړه ورته ښکته شول او ايوبي ته ئې د وړاندې تګ بلنه ورکړه . دا هغه تکلاره وه چې مغلو پادشاهانو په هندوستان کې رواج کړې وه.[ ايوبي د ګلونو د پاڼو د مروړلو او تر پښو لاندې کولو له پاره نه دې راغلی.] ايوبي په داسې خندا کې دا خبره وکړه چې خلکو به ډېره کمه ، کله هم د چا په شونډو کتلې وې.

(مونږ له اسمانه ستوري هم د حضور په لاره کې را شکولي او غوړولي شو ) ناجي وويل.

[که چېرې زما په لار کې څه غوړول وې نو هغه يواځې يو شی دې چې زما زړه خو شحالوي ] صلاح الدين ايوبي وويل.

(تاسې حکم وکړئ ) نائب وويل : ( هغه کوم شې دې چې د حضور زړه پرې خو شحاليږې .). [د صليبيانو لاشونه !] ايوبي ورته سمدستي په خندا شو او ځواب ئې ورکړ. خو سمدستي ئې خندا ورکه شوه ، د هغې د سترګو څخه د اور بخرکې را ووتل او په ټيټ اواز ئې ،چې قهر او غضب په کې پټ و ، وويل:[د مسلمانانو ژوند دګلونو غنچه نه ده ، زه نه پوهيږم ، صليبيان اسلامی سلطنت د مږو او مږکانو په څير خوري ، اوپو هيږم چې هغوی ولی بريالی کيږي. دا يواځې په دې خاطر چې مونږ د ګلونو په پاڼو تګ پيل کړې دې. مونږ خپل بچيان لوڅ کړي او دهغوی عصمت او عزت مو تر پښو لاندې کړې ، زما سترګې په فلسطين لګيږې ، تاسې زما تر پښو لاندې د ګلونو په شيندلو سره د مصر څخه هم د اسلام بيرغ را کيباسئ،.......] هغه ټولو ته و کتل او په پوره دبدبې سره ئې وويل:[زما له لاری دا ګلونه پورته کړئ ، که ما پرې قدم کښيښود نو زما روح به په اغزيو سورې شي. د غه نجونې زما له لاری لرې کړئ ، هسې نه چې داسې و نه شي چې زما توره ددوی په زړه وړونکو زلفو او ښايسته وېښتانو کې په نښتو سره بيکاره پاته شي.]

(د حضور دبدبه او ......)،

[ماته حضور مه وائي ] صلاح الدين ايوبي ويونکې داسې و ټوکه ، لکه په توره چې د کوم کافر غاړه وهل کيږي. هغه وويل [حضور هغه دې چې تاسې ئې کليمه لولئ ، او زه ئې هم غلام يم ، زما ځان دې دهغې حضورﷺ څخه ځار شي چې پاک پيغام ئې ما په خپلې سينی کې ليکلی راوړې. ما همدا پيغام له ځانه سره مصر ته راوړې ، صليبيان غواړی زما څخه دغه پيغام واخلي او د روم په بحيره کې ئې ورډوب کړي ، په شرابو کې ئې ور و منډي ، زه د پادشاه په څير نه يم راغلی.]

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجونو د چا دسترګو په اشارو سره د ګلونو پاڼي راټولي او دهغې ځابه لري شوی. صلاح الدین ایوبي په چټکۍ سره ددروازی له لاری دننه ولاړ، یوه پراخه سالون و چي یو اوږد میز په کې ایښوول شوی و. د میز پاسنۍ برخه په رنګ رنګ ګلونو ښایسته کړل شوی وه، دګلونو تر منځ د ګډو او وزو وریتې کړل شوی برخې، پوره پوره وریت کړل شوی چرګان، او .... نامعلومه چي څه څه ډول خوراکونه ځاې په ځاې شوی و.
صلاح الدین ایوبي ودرید او د خپل نائب څخه ئې و پوښتل [ایا د مصر هر اوسیدونکې همدا ډول غذا خوري؟] (نه حضور!) نائب ورته ځواب ورکړ. غریب خلک خو داسې غذا په خوب کې هم نهویني.
[تاسې ټول د کوم قوم خلک یاست؟ صلاح الدین ایوبي تری وپو ښتل. ایا د هغې خلکو قوم بل کوم دې چې داسې غذا په خوب کې هم نه ویني؟ کله ئې چي دهیڅ لوری څخه ځواب و نه موند نو وئې ویل: [دلته چې څومره کارکونکې دي، او څومره عسکر چې په دنده مشغول دي هغوی ټول دننه را وغواړئ او دا غذا پر هغوی و خورئ هغه لاس ښکته کړ او یوه وچه ډوډۍ ئې را پورته کړه. دهغې له پاسه دوه دری د غوښې ټوټې کنبیښودې. او په ولاړه ولاړه ئې وخوړې. په ډیره بیړه ئې یوه ډوډۍ و خوړله او یو ګیلاس اوبه ئې پسې و ښبلې. او د ساتونکو قومندان «ناجي» ئې له ځانه سره کړ او د کمرې څخه ووت او هغه سالون ته ولاړ چې د وایسراې د کار ځاې و.
دوه ساعته وروسته ناجي بیرون را ووت، په منډه ولاړ او په خپل آس سپور شو. آس ته ئې لغته ورکړه او په لږه شیبه کې د سترګو پټ شو.
د شپې ناجي په خپلې ځانګړې کوټه کې دخپلودوه قومندانانو او د راز باوري ملګرو سره ناست و، د شرابو پیالې ئې په لاسو کې، مست ول، ناجي ورته وویل: (د ځوانۍ جوش دې، په لږو ورځو کې په ئې یخ کړم. کمبخته چي هره خبره کوي وائي چې د کعبې په رب می سوګند چې د اسلامی سلطنت څخه د صلیبیانو په بیرون کولو به ارام تر لاسه کوم)
صلاح الدین ایوبي !! یو قومندان په طنزکونکې توګه وویل: دومره نه پوهیږی چې د اسلامی سلطنت نه هوا ختلې ده، اوس به سوډانیان حکومت کوي.
(ایا تا هغه ته نه دي ویلي چي دغه پنځوس زره لښکر ټول سوډانیان دي؟ یو بل قومندان د ناجي څخه و پوښتل، او دغه لښکر چي هغه ئې خپل فوځ ګڼي، دصلیبیانو پرخلاف هیڅکله هم جنګ نه کوي.)
«اورشه» ! ستا دماغ درست دې؟ ناجي وویل: زه هغه ته همدا خبره کوم چي دغه پنځوس زره د سوډاني زمریانو لښکر به ستا په یوې اشارې سره صلیبیان ټوټې ټو ټې کړي. لیکن...... ناجي چپه خوله شو او په څه فکر کې ډوب شو.
خو څه؟
«هغه ماته حکم کړې چي د مصر د اوسیدونکو یو لښکر تیار کړم، ناجي وویل، هغه ویلي چې د یوه هیواد فوځ باندې تکیه کول مناسب نه وي، هغه غواړي د مصر خلک په فوځ کې واخلي او زمونږ د فوځ په لیکو کې ئې را ګډ کړي.»
نو تا څه ځواب ورکړ؟
ما ورته وویل چې ستا حکم به د سر په سترګو پلي کیږي. ناجي ځواب ورکړ. خو زه به دداسې حکم تعمیل و نه کړم
د مزاج له اړخه څه ډول شخصیت دې؟ (اوروش) تری و پو ښتل.
پوره ضدي معلومیږي، ناجي ځواب ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د پوهې او تجربې په مخ کې هغه هيڅ هم نه برېښي ، يو بل قومندان وويل ، د مصر نوي نوي حکمران ټاکل شوی او راغلی تر يو څو ورځو پورې به دا نشه د هغې په مغزو کې موجوده وي.
زه به دهغې دا نشه هيڅ کله هم کيوتو ته پرې نږدم. ناجي وويل ، هغه به په همدې نشې کې بدمسته او له منځه يوسم.
ترډيره وخته پورې دغه دريوارو د صلاح الدين ايوبي پر خلاف خبری کولې او په دې ستونزې ئې غور کاوه چې که چېرې صلاح الدين ايوبي د ناجي بی تاجه پادشاهۍ ته ګواښ پيدا کړ نو بيا به دوی څه ډول تګلاره خپلوي ! هلته صلاح الدين ايوبي خپل نائيبين په خپل مخکې کښينولي او هغوی ته دا وريه يادوی چې هغه دحکومت کولو له پاره نه دې راغلی او نه به چاته د حکومت کولو اجازه ورکړي. هغه هغوی ته وويل چې هغه ته د جنګي ځواک اړتيا ده. او هغه دا هم وويل چې هغه ته ددې ځای دغه فوځي جوړښتونه له يوه سره د منلو وړ نه دي. دلته پنځوس زره سوډاني ساتونکې دي حال داچې مونږ بايد د هرې سيمې اوسيدونکو ته دا حق ورکړو چې هغوی دې زمونږ په فوځ کې خدمت وکړي ، خپلې وړتياوې دې وښائي او د غنيمت د مالونو څخه دې خپله برخه پورته کړي. ددې ځای د خلکو د ژوندانه سطحه همدا ډول پورته کېداې شي. صلاح الدين ايوبي هغوی ته وويل : [ما ناجي ته ويلي دي چې هغه دې په عامه توګه د فوځي خدمت له پاره خلک را وبولي.]
(ايا ته ډاډمن ئې چې هغه به ستا دحکم منلو ته غاړه کيږدي ؟] يوه ناظم تری وپو ښتل.
[ايا هغه به د حکم د منلو څخه غاړه ورغړوي ؟]
هغه غاړه رغړولای شي ! يوه ناظم ورته وويل ، فوځي امور همغه ته سپارل شوی دي. هغه د چا څخه په دې هکله حکم نه اخلي بلکه څنګه ئې چې خوښه وي همغسې کوي.
صلاح الدين ايوبي پټه خوله پاته شو. داسې لکه هيڅ شي چې پرې اغيز نه وي کړې. هغه ټول رخصت کړل ، او يواځې علي بن سفيان ئې له خپله ځانه سره پريښود. علي بن سفيان د ځارکښنې او د ځوابي ځارکښنې د فن لوبغاړی و. هغه صلاح الدين ايوبي د بغداد څخه له ځانه سره يوځاې راوړې و. د پاخه عمر سړې و، په اداکاری ، ښه او ښه بدلولو او غوړه مالۍ کې ئې پوره پوهه درلوده. هغه په جنګونو کې جاسوسي هم کوله او جاسوسان ئې هم نيول. دهغې خپله ډله داسې وه چې د اسمان څخه ئې ستوري هم را شکولاې شول. صلاح الدين ايوبي د ځارکښنې د اهميت نه پوره پوره خبرو. په علي بن سفيان کې د دې فنی پوهو څخه اخوا هماغه جذبه موجوده وه چې په صلاح الدين ايوبي کې ليدل کېده.
[علي تا واوريدل ؟ صلاح الدين ايوبي ورته وويل. دغې خلکو وويل چې ناجي د چاڅخه حکم نه اخلي ، خپله خوښه په خلکو تپي.]
«هو !» علي ځواب ورکړ. ما واوريدل ، که چېرې زه د مخونو په پيژندګلوي کې غلطي ونه کړم نو زما د آنده د ساتونکو دډلې دغه قومندان چې نوم ئې ناجي دي ، دکرغيړن ذهن انسان دي. ددې په اړوند ماته د پخوا څخه معلوما ت شته. دغه فوځ چې زمونږ د خزانې څخه تنخواه اخلي، په اصل کې د ناجي شخصي فوځ دي. هغه په حکومتي کړيو کې داسې داسې سازشونه کړي چې دهغې له مخې ددولت اداري جوړښت تر ډيره کمزوري شوی دي. ستا دا پريکړه بلکل پر ځاې ده چې په فوځ کې د هرې سيمې عسکر بايد موجود وي ، زه به تاته ډير ژر تفصيلي مالومات را غونډ کړم. زه شکمن يم چې سوډاني فوځ زمونږ نه بلکه د ناجي وفاداره دي. تا ته به ددې فوځ ترتيب او تنظيم کې بدلون را وستل اړين وي او يا به ناجي ددې کاره لرې کوي.»
«زه په خپلو ليکو کې خپل دښمن نه پيدا کوم» صلاح الدين ايوبي ورته وويل ، «ناجي د کور په رازونو پوه دي. دهغې په لرې کولو هغه د خپل خان له پاره دښمن ګرځول په هيڅ توګه د عقل او پوهې کار نه دي. زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



توري د پردېو له پاره دي. د خپلو د وينو د تويلو له پاره نه دي. زه د ناجي ذهنيت په مينه او محبت بدلولاي شم ته د هغې د فوځ د ذهنيت د معلولو هڅه وکړه. ماته صحيح مالومات راکړه چې فوځ تر کومه ځايه زمونږ وفاداره دي.»

خو ناجي دومره خام سړی نه و. د هغې ذهنيت د ميني او محبت د وړانګو څخه ازاد و. هغه ته چې د څه شي سره مينه وه نو هغه د خپلې واکمنۍ او شيطانت سره وه. په دې اساس هغه يوه تيره وه خو څوک به ئې چې په خپل جال کې را نښلول غو ښتل نو دهغې تر مخې به د موم په څير ويلې کېده. هغه د صلاح الدين ايوبي سره هم همدا تګلاره خپله کړې وه. هغه به د هغه په مخکې نه کښيناست. دهغه حکم ته به ئې د هوکړې غږ کاوه ، هغه د مصر د مختلفو سيمو څخه د ايوبي د حکم په مطابق په فوځ کې د خلکو ورننويستل پيل کړل. په داسې حال کې چې دا کار دهغې د خوښې او ارادې پر خلاف و. ورځې تيريدې، صلاح الدين ايوبي هم هغه تر ډيره ځايه پورې خوښاوه. ناجي هغه ته داډه ورکړې و چې سوډاني ساتونکې فوځ د حکم منتظر دي. او همدا فوځ به د ولس د هيلهونو پوره ځواب ورکوي. ناجي دوه دری ځله صلاح الدين ايوبي ته ويلې و چې هغه غواړي د ساتونکو له اړخه هغه ته بلنه ورکړي او فوځ د هغې د عزت له پاره د جشن د لمانځلو له پاره ناقراره دي. خو صلاح الدين ايوبي د خپلو ورځنيو مصروفيتونو له مخې دغه بلنه نشوه منلای.
*****(۴)

شپه وه ، ناجي په خپلې کمره کې د خپلو دوو باوري سترو قومندانانو سره پوځاي د شرابو بوتل په لاس ناست و ، دوه نځونکې نجونې د موسيقۍ په نرم او ملايم اوازا سره په مستۍ راغلې وې او د مارانو په څير ئې په جادووزمه توګه نڅاوي کولې ، دهغوی پر پښو کې ګنګرو نه و ، دهغوی په جسمونو همدومره کالې و چې د هغوی سترئې پټولای شو. په دې نڅا کې د خمار کېدو اغېزو.

دروازه چې دننه راغې او د ناجي په غوږ کې ئې څه وويل ، ناجي به چې کله د شرابو او نڅا په محفل کې ډوب و نو هېڅچا بيا دهغې د اخلال کولو جرآت نه شواې کولاې ، ، بواځې دروازه چې ته معلومه وه چې هغه به څه ډول ضروري کار وي چې دهغې په خاطر ناجي د عېش او عشرت د محفل څخه پورته کېږي او که نه هغې ددننه د ورتللو جرأت هم نه شواې کولاې، دهغې دخبرې په اوريدو سره سم ناجي بېرون ووت ، د روازه چې هغه يوې بلې کمرې ته بوړ، هلته په سوډاني لباس کې پټ يو د پوخ عمر سړی ناست و ، دهغې سره يوه ځوانه نجلۍ هم وه ، د ناجي په کتلو سره هغه دخپله ځايه پورته شوه ، ناجي د هغې دڅهرې او قد په کتلو سره هک پک پاته شو ، هغه دښځو ښکاري و ، هغه ته ښځې بواځې دخپلې عياشۍ له پاره نه په کاريدې ، بلکه دهغوی څخه ئې نور نور کارونه هم اخستل ، دهغوی له ډلې څخه يو کار دا هم و چې هغې به ډېرې ښاپسته او چالاکه نجونې د اميرانو او وزيرانو،د په خپل موټې کې د نيولو په خاطر د هغوی د بليک ميل(Black mail ) کولو له پاره استعمالولې، ددې تر څنګ ئې د څارکښۍ د کارونو له پاره هم د همدې نجونو څخه کار اخېست. لکه څنګه چې يو قصاب دځناورو په کتلو سره په دې پوهېږي چې په دې کې څومره غوښه شته ، په همدې ترتيب ناجي هم د نجلۍ په کتلو سره دا اندازه کولاې شوه چې دا د کوم کار له پاره وړ ده، نجونې به ډېر وخت د ببوپارېانو او انسان پلورونکو له خوا ناجي ته دمال او شتمنۍ د لاسته راوړو په خاطر را وړل کېدې.

دا سړی هم دهمغسې بپارېانو په څېر و ، هغه د نجلۍ په هکله وويل چې تجربه لرونکې ده ، نڅا هم کولاې شي او تېرې د خپلې ژبې د زهرو په واسطه په اوبو بدلولاې شي. ناجي دهغې سره تفصيلي خبرې اترې وکړې ، هغه ددې فن ډېر ماهر انسان و ، هغه د خپلې لورې ددې نجلۍ څخه ازموينه واخسته ، او دا نظر ئې ورکړ چې دکوم کار له پاره چې هغه دا نجلۍ تېارول غواړي دهغې د ترسره کولو له پاره دې ته د لږ څه روزنې اړتيا ده ، د نجلۍ د پلورنکې سره سودا وکړل شوه، هغه خپل قېمت تر لاسه کړ او ولاړ. ناجي دغه نجلۍ خپلې هغې کمرې ته بوړه چې دده دوه نور و ملګرو په کې د نڅا او شرابو په مستۍ کې زړونه له لاسه ورکړي و ، هغه نجلۍ ته د نڅا کولو امر وکړ ، کله چې نجلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپله ځانه خپله چُوغه لرې کړه نو د جسم تولې لوړې ژورې ئې را برسيره شوې. ناجي او دهغې ملګري بې هوشه شانته شول ، په دې وخت کې د هغې نورو دوارو ګډېدونکو نجونو رنګونه هم تک ژېړ شول ، ځکه د هغې نوي نجلۍ ترمخ د دوی ارزښت را کم شوی و.

ناجي په همدې وخت کې محفل رخصت کړ ، خلک ئې ټول وويستل او دا نجلۍ ئې له خپله ځانه سره کښېنوله ، دنوم پو ښتنه ئې ترې وکړه ، هغې ورته ئې ويل «(ذکويي)» ، ناجي ور ته وويل « (ذکويي) ! ستا هغه پلورونکې ماته ويل چې ته تېره په اوبو بدلولاې شې ، زه به ستا دا کمال ګورم»

«هغه تېره څوک دې ؟» (ذکويي) ترې و پو ښتل.

«د مصر نوي امير !»ناجي ځواب ورکړ. « هغه دفوځ ستر سالار هم دې»

«صلاح الدين ايوبي ؟» (ذکويي) ترې و پوښتل.

«هو ! صلاح الدين ايوبي !» ناجي ځواب ورکړ. که چېرې ته هغه په اوبو بدل کړې نوزه به دهغې د جسم د وزن په اندازه طلا ستا په قدمونو کې کېږدم.»

«هغه خو به شراب څښې ؟»

«نه !» ناجي ځواب ورکړ ، « د شرابو ، ښځو ، سندرو او نڅا او تفريح څخه هغه همدومره کرکه لري لکه يو مسلمان ئې چې د خنزېر د غوښې څخه لري»

«ما اورېدلي و چې تا سره د نجونو داسې يو طلسم شته چې د نيل رواني درولاې شې» (ذکويي) ورته وويل « ايا هغه طلسم بېکاره شوی دې ؟»

« ماتر اوسه پورې هغه نه دې ازمېښت کړې» ناجي ورته وويل « دا کار بواځې ته کولاې شې ، زه به د صلاح الدين ايوبي د عادتونو په هکله تاته ډېر څه ووايم»

«ايا ته هغه ته زهر ورکول غواړې ؟»(ذکويي) ترې و پوښتل.

«اوس نه !»ناجي ځواب ورکړ.«زه د هغې سره کومه دښمني نه لرم ، زه بواځې همدومره غواړم چې هغه يو ځل دستا په څېر د يوې نجلۍ په جال کې را و نخلوم ، او بيا هغه زه له خپله ځانه سره يوځاې کښېنوم او شراب پرې و څښم ،که چېرې د هغې وژل مې غوښتلي نو دا کار ما د حشېشېن په واسطه په اسانۍ سره تر سره کولاې شو.

« يعنې ته د هغې سره دښمني نه ، بلکه دوستي کول غواړې !» (ذکويي) ترې په ډېر ادب سره وپوښتل ، د (ذکويي) څخه د دومره سترې خبرې په اورېدو سره ناجي لږڅه ځنډ وکړ، او بيا ئې نجلۍ ته وکتل ، او له ځانه سره ئې وويل چې دا خو زما له آنده هم ډېره زياته ذهينه و ختله.

«هو (ذکويي) ! » ناجي دهغې په نرمو زلفو باندې لاس را ښکود او ويې ويل «زه دهغې سره دوستي کول غواړم. داسې دوستي ، چې هغه زما هم پياله او هم ناستي شې. مخته زه يو هېږم چې دهغه څخه څه ډول کار و اخلم. » ناجي د لږ څه فکر کولو وروسته بيا وويل « لېکن زه تاته دا ويل هم اړين ګڼم چې د صلاح الدين ايوبي په لاسو کې يو جادو هم شته ، که چېرې ستا په ښايست او ادآو باندې دهغې جادو و خېژي نو بيا به زه تا ژوندۍ پرې نه ږدم. که چېرې تا ماته دوکه راکړه ، نو بيا د يوې ورځې څخه زياته ژوندۍ نه شې پاته کېداې. صلاح الدين ايوبي به هم تا ته د مرګ څخه خلاصون در نشي کړاې ، په دې خاطر ما له تاسره د زړه د خلاصه خبرې وکړې ،او که نه زما د رتبې او حېثيت انسان د يوې داسې ځان پلورنکې ښځې سره ، هغه هم په خپلې لمرنۍ لېدنې کتنې کې داسې خبرې هېڅکله هم نه کوي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«دا به تاته را تلونكي وخت و ښئي چي څوک چاته دوکه ورکوي ، » (ذكويي) ورته وويل « ماته دا وواياست چي زه به څه ډول تر صلاح الدين ايوبي پوري ور ورسيږم»

«زه هغه بوه جشن ته را بولم ، » ناجي ورته وويل « هغه هملته د شپي له ځانه سره ساتم ، او تا دهغې د خوب ځاي ته ور ننه باسم ، ما ته د همدي موخو له پاره دلته را بللي ئي.» « مخته زه پوهيږم او كار مي»

*****(۵)

هغه شپه هم تيره شو او ېيا پسي نوري شپي هم تيريدي ، صلاح الدين ايوبي په انتظامي كارونو او د نوي فوځ په تيارولوكي دومره مشغول و چي د ناجي د بلني له پاره ئي وخت نه شو ويستلاي ، علي بن سفيان چي د ناجي په هكله هغه ته كوم راپور وركړي و د هغې ځخه هغه ته انديښنه پيدا شوي وه ، هغه علي ته وويل « نو ددي مطلب خو داشو چي دا وګړي د صليبيانو څخه هم ډير خطرناک دي»

«دا بو ماردي چي د مصر امارت ئي په خپل لستوني كي پالي.» علي بن سفيان د ناجي د تخريبي كارونو تفصيل هغه ته وړاندي كړ ، او دائي ورته په ډاګه كړه چي هغې په كوموكومو ډولو ، كوم كوم وګړي په خپلو لاسو كي اخستي دي، او په څه ډول د دولت په امورو كي خپله اراده چلوي ، او بيا ئي وويل « او هغه سوډاني لښكر چي دائي سالار دي ، هغوی زمونږ پر ځاي د همغې وفاداره دي. ايا دي ته كوم علاج پيدا كولي شي ؟»

«بواځي پيدا كولي نه ، » صلاح الدين ايوبي ځواب وركړ ، «علاج مي ئي پيل كړي هم دي. هغه عسكر چي د مصر څخه په عسكري خدمت كي اخستل كيږي ، هغوی به په همدي سوډاني ساتونكو كي ورګډ كړم ، بيا به دا فوځ نه سوډاني وي اونه مصري ، د ناجي دا ځواک به خپور او زمونږ په فوځ كي به ورجذب كړل شي ، ناجي به زه د هغې په صحيح ځاي كي كښينوم.»

«او زه دا هم په ډاډمنه توګه ويلاي شم ، چي هغې د صليبيانو سره هم تارونه ځغلولي دي.» علي بن سفيان ورته وويل «ته غواړي اسلامي امت د يوه ځواكمن مركز په درلودلو سره پراختيا و مومي ، خو ناجي ستا دغه خوب د لېونيانو خوب ګڼي.»

« ته په دي لړ كي څه كولي شي ؟»

«دا ماته پريږده ، علي بن سفيان ورته ځواب وركړ. « هر هغه څه چي زه ئي كوم ، تاته به ئي په همغه وخت كي خبر دركوم. ته ډاډه اوسه ، ما دهغې په چاپيريال كي د جاسوسانو يو داسي ديوال جوړ كړي دي چي غوږونه ئي هم شته او سترګي ئي هم. دا ديوال بو خوځنده او متحرک ديوال دي، داسي وانګيره چي هغه ما دخپلو جاسوسانو په قلعه كي بندي كړي دي»

صلاح الدين ايوبي په علي بن سفيان باندي دومره باوري و چي دهغې ځخه ئي په دي هكله نوره پوښتنه هم ونكړه ، او نه ئي تري تفصيل و غوښت ، علي تري و پوښتل « داسي بريښي چي هغه تاته په جشن كي د ګډون كولو بلنه دركوي ، كه چيري دا خبره درسته وي ،نو دهغې بلنه هغه وخت و منه ، چي كله ئي زه درته ووايم»

ايوبي پورته شو او خپل لاس ئي په ملا كښيښود او سوكه سوكه راون شو ، دهغه دخولي ځخه د «آه» اواز پورته شو ، ودريد او ويي ويل « بن سفيانه ! ژوند او مرګ د اللهﷻ په لاسو كي دي ، ايا د بي هدفه ژوند څخه دا ښه نه و چي انسان د پيدا ښت سره سم بيرته مړ كيداي ، كله كله دا فكر را ته په مغزو كي را ګرځي ، چي شايد هغه خلک به ډير ښه نصيب خاوندان وي چي قومي احساس ئي مړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی وي،دکوم کرچار خاوندان هم نه وي او په ډېرو مزو او چړچو سره ژوند وکړي او بیا په راغلي مرګ په خپله نرمه بستره و مري.»

«نه !درونده امېره ! دا بدنصیبه دي» علي ورته وویل.

«هو !بن سفیانه !» صلاح الدین ایوبي ورته وویل «زه چې کله هغوی ته د بنه نصیب خاوندان وایم نو معلومه نه ده چې دا خبره ماته څوک په غوږو کې کوي چې تا راته وکړه ؟ خو فکر کوم چې که ما د تاریخ څنډه په دې اړخ را و نه ګرځوله نو اسلامي امت به خپور شي او د غرونو په وادیو ،ځنګلونو ، دښتو او صحراګانو کې به ورک او له منځه ولاړ شي. زه چې وینم د ملت خلافت په درې برخو ویشل شوی دی ، امیران خپله خوښه حاکموي ، او د صلیبیانو د لاس الې ګرځېدلي دي ، ماته دا ویره هم را په زړه کېږي چې که چېرې مسلمانان ژوندي هم او سي نو بیا به هم تل د صلیبیانو د لاس الې او دهغوی غلامان وي ، هغوی به پدې خوښ هم وي چې ژوندي دي ، خو د قوم په څېر هغوی مړه شوی دي. لږڅه نقشې ته ځېر وکړه علي ! په تېره نیمائې پېړۍ کې وو ینه چې زمونږ د سلطنت نقشه څومره خوړل شوی ده.» هغه چپ پاته شو ، سر ئې ټیټ کړ او خوځاوه ئې. بیا ودرېد او سر ته ئې ټکان ورکړ او علي بن سفیان ته ئې و کتل « **کله چې تباهي د داخل څخه را پورته کېږي ،نو بیا دهغې درول محال ګرځي ، که چېرې زمونږ د امارتونو اوخلافت همدا حال وي نو بیا خو صلیبیانو ته پر مونږ د برغل کولو اړتیا نه پیښېږي، هغه اور چې مونږ په کې خپل ایمان ، خپل کرچار او خپل قومیت سوځوو ، په هغې به صلیبیان سوکه تېل وراچوي ، د هغوی سازشونه به مونږ په خپل منځي جنګونو اخته کوي**.... شاید چې زه خپل عزم پوره نه شم کړای. زه شاید د صلیبیانو څخه ماتې هم وخورم ، خو زه د خپل قوم په نوم یو و صیت پرېږدم او هغه دا چې[ **په هیڅ کافر باندې هیڅکله هم باور و نکړئ ، که دهغوی پرخلاف جنګېدل وي نو تر هغې و جنګېږئ چې و مرئ ، د هیڅ کافر او نامسلمانه سره تړون او معاهده ونکړئ،]**»

«ستا وینا داسې ډاګېزه کوي چې ته د خپل عزم څخه نهیلې شوی ئې.»علي بن سفیان ورته وویل.

«نهیلې نه یم ،» صلاح الدین ایوبي ورته وویل ، «جذباتي ........ علي !زما دا یو حکم اړوندې څانګې ته ور سوه ، چې عسکري خدمت ته دخلکو را جذبول تېز کړئ او هڅه وکړئ چې د فوځ له پاره ډېر زیات داسې وګړي چې د جنګ تجربه ولري تر لاسه کړئ ، زمونږ په لاس کې د عسکري روزنې له پاره ډېر زیات وخت نه شته ، عسکري خدمت ته د راتلونکو له پاره دهغوی مسلماني یو اړین شرط کېږدئ ، او ته دخپل ځان له پاره دا په ذهن کې و ساته چې د جاسوسانو داسې یوه ډله تیاره کړه چې ددښمن په سیمه کې نه یوائې د ځارکښنې کارونه تر سره کړي بلکه هلته دشپې له اړخه غلچکي برغلونه هم تر سره کولای شي. دا به د سرتېرو یوه ډله وي ، هغوی ته ځانګړې روزنه ورکړه ، په هغوی کې دا صفتونه را پیدا کړه چې د اوښ په څېر د ډېر وخت له پاره دتندې زغم ولري ، دهغوی سترګې د باز په څېر تېزې وي ، او د صحرایي ګېدړې په څېر مکاري ولري ،او په دښمن د زمري په څېر د برغل کولو توان ولري ، د زړه ورتیا او ځواک خاوندان وي ، په هغوی کې د شرابو ، حشېشو او ......عادت نه وي او د ښځو له پاره هغوی د واورې په څېر یخ وي .... بهرتي تېزه کړه ابن سفیانه !... او یاد لره چې زه د هجوم قابل نه یم ، ماته د جنګجویانو اړتیا ده ،که څه هم شمېره ئې لږه وي ، خو قومي جذبه ولري او زما عزم باندې پوه وي ، دهیڅچا په زړه کې دا شک نه وي چې هغه ولې جنګول کېږي.

(٢)*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



په راتلونکو لسو ورځو کې نژدې لس زره روزل شوی سپاهیان د مصر د امارت په فوځ کې را ټول شوی و ، او په دې لسو ورځو کې ناجي هم (ذکویي)ته ټریننګ( Training ) او روزنه ورکوله، او دائې ورته ښوول چې په څه ډول او څنګه لارو چارو صلاح الدین ایوبي د خپل ښایست او زلفو په جال کې په رانښلولو سره د هغې شخصیت او کرچار کمزورې کړي ، کله چې د ناجي د راز ملګرو (ذکویي)و کتله نو هغوی دکومې ویرې او شک پرته وویل چې که چېرې د مصر فرعون هم دغه نجلۍ ووینې نو د خدایي ددعوې څخه به لاس په سر شي.

د ناجي د څارکښۍ خپل نظام و ، ډیر تیز او زړه ور، هغه ته دا ډاګیزه شوی وه چې علي بن سفیان د صلاح الدین ایوبي ځانګړې مشاور دی او هغه د عربو یو منل شوی څارکښ او رازموندونکې. هغه دعلي پسې خپل جاسوسان پرې ایښې و ، او هغوی ته ئې د علي دو ژلو پروګرام ورکړې و.

ناجي ، د صلاح الدین ایوبي د په دام کې د رانښلولو له پاره (ذکویي) روزلې او تیاره کړې وه ، خو هغه دا نه وه محسوس کړې چې د مراکش او سیدونکې دغه نجلۍ پخپله دهغې په اعصابو باندې سپره شوی ده ، هغه نه یوائې دخپل شکل او صورت له اړخه په زړه پورې وه ، بلکه دهغې په خبرو کې هم د جادو په څیر اغیز و چې ناجي به تل له ځانه سره کښینوله او دهغې خبرو ته به ئې غوږ ایښوده ، هغه د هغې نورو دوه نځونکو سندرغاړو نجونو څخه چې تل به ئې ورسره ناسته کوله اوس خپلې سترګی دې لورې ته رااړولې وي، ددرې څلورو شپو راهیسې ئې هغوی خپلې کمرې ته هم نه وي را بللې ، ناجي دطلایي هګیود چرګې په څیر و، چې دهغوی د لاسو څخه وتلې او د (ذکویي)په غیږ کې ناست او هګۍ ئې اچولې.هغوی هم د خپلې لارې څخه د (ذکویي)د لرې کولو پلانونه جوړ کړل. او دې پایلې ته ورسیدې چې دهغې د وژلو پرته بله لاره نه لري ، خو دهغې وژل هم دومره اسانه په نظر نه راتلل ، ځکه هغه کمره چې ناجي هغې ته ورکړې وه ، په هغې باندې ددوه ساتونکو پهره ولاړه وه ،ددې نه اخوا دغه دواړه نجونې هم بې له اجازې دخپلو د اوسیدو د هغو ځایو څخه چېرته تللاې نه شوی چې ناجي ورته ورکړې و . خو دخپل پلان د پلې کولو له پاره ،هغوی د حرم د خدمت کونکو ښځو څخه یوه له خپلو ځانو سره باوري کړه. هغوی غوښتل د دې په لاسو (ذکویي)ته زهر ورکړي.

علي بن سفیان د صلاح الدین ایوبي ساتونکې ډله تبدېله کړه ، داټول د مصر د امیر (وایسراې ) پخوانی ساتونکې و ،ددې پر ځاې هغه د هغو سپاهیانو څخه د ساتونکو ډله تیاره کړه چې نوي نوي په عسکري خدمت کې را ننوتي و. دا د سر تیرو یو ټاکل شوی ډله وه ، چې په سپاهیتوب کې ئې هم سارې نه درلود ،او د جذبې له اړخه خو هر سپاهي د ډګر میړه و. ناجي په دې بدلون بلکل خوښ نه و ، خو هغه د صلاح الدین ایوبي په وړاندې ددې بدلون ډیره زیاته ستاینه وکړه ، او ددې تر څنګ ئې غو ښتنه وکړه چې صلاح الدین ایوبي دې د هغه بلنه ومني. ایوبي هغه ته ځواب ورکړ چې په یوه دوه ورځو کې به ځواب ورکړي چې ستا بلنه څه وخت منلاې شي. دهغه د تللو وروسته صلاح الدین ایوبي د بن سفیان سره مشوره وکړه چې کله دغې بلنې ته ولاړ شي. علي ورته مشوره ورکړه چې اوس دې چې هر وخت خوښه وي دعوت ئې منلاې شي.

هم په بله ورځ صلاح الدین ایوبي ناجي ته خبر ورکړ چې اوس په هره شپه چې ته وغواړې ستا بلنې ته درتللاې شي. ناجي درې ورځې وروسته دعوت ورکړ. او ورته ئې وویل چې ددې دعوت ، دعوتي اړخ کم خو د جشن اړخ ئې زیات دې. او دا جشن به د ښاره بیرون په دښتې او صحرا کې د مشالونو په رڼاو کې لمانځل کیږي. د نڅا ،ګډا او سندرو انتظام به په کې وي ، د ساتونکود ډلې سواره به د خپل فن مظاهرې کوي ، د توري وهلو او د وسلې پرته دجنګ مقابلې به په کې وي ، او صلاح الدین ایوبي به دشپې هم هملته پاته کیږي. د هغه د تمځاې له پاره به خیمې درول کیږي...... صلاح الدین ایوبي د پروګرام تفصیل اورید ، هغه په ګډا ، نڅا او سندرو باندې هم کومه نیوکه و نه کړه. ناجي په ویره او لړزنده اواز وویل ، «د فوځ ډیر هغه سپاهیان چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان نه دي او يا هغوی چې نيم مسلمان دي کله کله شراب څښي، هغوی د شرابو عادي نه دي ، هغوی اجازه غواړي چې د جشن په شپه هغوی ته د شرابو د څښلو اجازه ورکړل شي.»

«ته د هغوی قومندان ئې !» صلاح الدين ايوبي ورته وويل « که ته غواړې نو هغوی ته اجازه ورکړه ، او که اجازه ورکول نه غواړې نو زه پرتا باندې خپل حکم نه باروم»

«د مصر د امير بخت دې هسک وي !» ناجي د غلامانو په څير وويل « زه څوک يم چې دداسې کار اجازه ورکړم چې ته ئې سخت بد ګڼې.»

«هغوی ته اجازه ورکړه چې د ګډوډيو د جوړولو او بدکاريو پرته هر څه کولای شي.» صلاح الدين ايوبي ورته وويل ،« که چېرې د شرابو د څښلو وروسته ، چاهم ګډوډي وکړه نو هغوی ته به سخته سزا ورکړل شي.»

کله چې دا خبردصلاح الدين ايوبي ساتونکو ته ورسيد چې ناجي د ايوبي د عزت او ښه راغلاست له پاره چې کوم جشن جوړول غواړي ،په هغې کې به نڅا او سندرې وي او شراب به په کې هم څښل کېږي او صلاح الدين ايوبي ددې جشن بلنه ددې ټولو خرافاتو سره سره منلې هم ده ، نو ټولو د حيرانتيا څخه يو دبل خولو ته کتل. يوه به ويل چې ناجي دورواغ وايي ، هغه غواړي په دې توګه خپل رعب او دبدبه په نورو باندې و اچوي او چا بيا ويل چې د ناجي جادو په صلاح الدين ايوبي هم خپل اغيز وکړ، دا انګيرنه هغو مشرانو ته ډيره په زړه پورې ښکاره شوه چې د ناجي د پيالې ملګري و . ځکه صلاح الدين ايوبي د مملکت د امورو د سنبالولو سره سم دهغوی له پاره د عيش او عشرت ، شرابو څښلو او بدکارۍ ټولو دروازې بندې کړې وې او دا کارونه ئې جرم ګرځولي و. هغه دومره سخت ډسپلين رواج کړې و چې هيچاته هم د پخوا په څير د خپلو دندو څخه د غفلت جرآت نه وه پاته ، هغوی په دې خوښ و چې نن د مصر نوي امير په کومې بلنې کې د شرابو ، ګډاو نڅا له پاره اجازه ورکړې ده نو سبا به هغه پخپله هم په همدې رنګينو محفلونو خپل زړه بايلي او زمونږ دډلې يو وګړی به ترې جوړ شي.

دا يواځې علي بن سفيان و چې ورته ډاګيزه وه چې صلاح الدين ايوبي د دې خرافاتو اجازه ولې ورکړې ده.

د جشن ماښام را نژدې شو ، له يوې خوا د پنځلسمې سپوږمۍ شپه وه ، او د صحرا سپوږمۍ دومره شفافه او روښانه وي چې د شګو ذرې هم په کې په نظر را ځي ، اود بلې خوا د زرګونو مشالونو روښنائې هم دهغې صحراشپه رڼا ورځ ګرځولې وه .د ساتونکوسپاهيانو هجوم و چې په يوه پراخه ميدان کې را چاپيره د يوه دېوال په څير ولاړ و ، په هغه خواکې ئې چې د صلاح الدين ايوبي د کښيناستو کوم تخت ايښی و نو هغه د يوه ستر پادشاه تخت معلوميده ، دهغې کېڼ او چپ اړخونو ته د سترو رتبو د خاوندانو له پاره د ناستې ځايونه ټاکل شوی و. ددې پراخه او خپور ننداره ځاې څخه لږ څه لرې د ميلمنو له پاره ډيرې ښايسته خيمې درول شوی وې. ددوی تر څنګ يوه ستره خيمه د صلاح الدين ايوبي له پاره هم همدلته دريدلې وه. په دې خيمه کې به هغه شپه تيرو له ، علي بن سفيان د لمر د پريوتو تر مخه هلته ولاړ او ددې خيمی په چار چاپير کې ئې ساتونکي و درول.

کله چې علي بن سفيان هلته ساتونکي درول نو ناجي (ذکويي)ته دصلاح الدين ايوبي د راپرزولوله پاره اخري لارښووني کولې ، په دې ماښام د (ذکويي) ښايست څه بل منګه زيات و ، د هغې د جسم څخه د عطرو داسې زړه وړونکي بوي را ته چې د سحراو جادو اغيز ئې درلود. هغې خپلې توري ملايمې زلفې په خپلو لوڅوسپينو متو باندې را خپرې کړې وې ، د هغې لباس دومره باريکه و چې د هغې د وجود ټول ښکته پورته او لوړې ژورې ترې له ورايه معلوميدې ، دهغې په شونډو باندې قدرتي مسکا اوخنداوه.

ناجي هغه د سره تر پښو پورې له نظره تيره کړه او وئې ويل «په صلاح الدين ايوبي باندې شايد ستا جسماني ښايست دومره اغيز و نه کړي ، خو خپله جادو شکله ژبه به استعمالوې، ګوره هغه سبق مې چې درته په دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځوکې ښوولې هیر نه کړې ! او دا هم هیر نه کړې چې هغه ته په ورتللو سره دهغې وینځه و ګرځې، له ځانه د انځر هغه ګل جوړ کړه چې د بوټې په سر کې تر سترګو کېږي خو په بوټې د ورختلو وروسته له نظره ورککېږي. هغه په خپلو قدمونو کې کښینوه ، زه تا ته ډاډ درکوم چې ته به دا تیره په اوبو باندې بدلوې.
په همدې سیمې کې «قلو پطره» نومې هم د( سیزر) په څیر د اوسپنیز عزم خاوند د خپل ښایست او ځوانۍ په زور او توان ویلې او د مصر په شګو کې ئې ډوب کړ. قلو پطره ستا شخه ډیره ښایسته نه وه ، ماچې تا ته کوم سبق ښوولی دې هغه ټول د قلو پطره چالونه دې ، د ښځو دا چالونه هیڅکله هم د ناکامۍ مخ نه ویني ، (ذکوبې) مسکۍ مسکۍ کېده ، او دهغې خبرې ئې په پوره غور سره اوریدلې ، د مصر شګو یوه بله قلوپطره د یوه ښایسته جادوګر مار په څیر زیږولې وه ، او داسې بریښیده چې د مصر تاریخ خپل ځان یوځل بیا تکراراوه.
لمر پریوت ، او مشالونه روښانه شول ،صلاح الدین ایوبي په یوه آس سپور راغې د هغه چپ او ښي ، شا او مخ ته دهغو ساتونکو اسونه و چې علي بن سفیان منتخب کړې و . هغه د همدې ډلې شخه لس کسه سواره د صلاح الدین ایوبي د خیمې شاوخوا ته په پهره درولې و.
سازونو د ډول په اواز باندې د ښه راغلاست نغمې و غږولې او صحرا د «صلاح الدین ایوبي دې ژوندې وي» په غږونو ډکه شوه . ناجي مخته راغې او ښه راغلاست ئې ووایه ، او زیاته ئې کړه چې « ستا شخه ځان ځارونکې ، د اسلام د عظمت ساتونکې ،تاته د خپل سر په سترګو ښه راغلاست وایې ، د هغوی ناقرارۍ ته وګوره ، ستا په اشارې باندې مرګ ته تیار دي.» او د ښه راغلاست له پاره ئې چې نور څومره الفاظ زده و هغه ئې ټول په لوړ اواز سره تکرار کړل.
څنګه چې صلاح الدین ایوبي په خپل شاهانه تخت باندې کښیناست ، د زغلیدونکو اسونو د نوکانو او پښو اوازونه واوریدل شو. کله چې داسونه د مشالونو رڼاو ته راغلل نو ټولو و کتل چې څلور اسونه د ښي لورې او څلور آسونه د کیڼ لورې شخه یو دبل پر خلاف ځغلې، په هر یوه یو یو کس سپور و. د هغوی سره وسله نه وه.
هغوی یو دبل مخې ته مخ په مخ را تلل.پوره ډاګیزه وه چې هغوی به ټکر کوي ، هیچاته نه و معلوم چې هغوی به څه کوي؟ کله چې هغوی یو بل ته ډیر را نژدې شول نو ددواړو خواو سپرو په رکابونو کې پښې کښیښودې او ودریدل. بیا ئې د اسونو قیضې په یوه یوه لاس کې و نیولې او بل لاس ئې و غځاوه ، ددواړو خواو آسونه یو دبل مخ ته راغلل او دواړه خواوې یو دبل سره لاس وګریوان شول ، سپرو یو دبل د نیولو او د اسونو شخه د راپرزولو هڅې کولې ، کله چې آسونه مخته ولاړل ، نو هغه دوه سپاره چې د اسونو شخه لاندې راپریوتې و په شګو کې ئې سرکونډالې وهلې ، د یوه لورې یوه سپور د بل لورې سپور د آس شخه د خپلو متو په زور را نیوه او په خپل آس ئې د هغې د کښینولو هڅه کوله ، په هجوم کې دومره شور او غوغا راپیدا شوه چې خپل اواز په خپله هم نه اوریدل کېده.
داسپاره په تیاره کې ترې تم شول ، نوبیا ددواړو لورو شخه څلور څلور اسونه د همدې ډول مقابلې له پاره راغلل او په دې توګه اته مقابلې تر سره شوی ، ددې وروسته اوښ سپاره راغلل ، بیا اوښ سپرو او آس سپرو ډول ډول لوبې تر سره کړې چې وروسته بیا د تیغ وهلو او د وسلو پرته د جنګ لوبې پیل شوی چې یو څو سپاهیان په کې زخمیان هم شول. صلاح الدین ایوبي د زړه ورتیا ، بهادرئ او شجاعت دې لوبو او مقابلو په خپل ځان کې جذب کړې و. هغه ته د همداسې زړه ور فوځ اړتیا وه ، هغه د علي بن سفیان په غوږ کې وویل« که چېرې په دې فوځ کې اسلامي جذبه هم وي نو زه به یوا ځې دهمدې فوځ په واسطه صلیبیان په ګونډو کړم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي بن سفيان همغه مشوره ورکړه چي پخوا تردې ئي هم ورکړې وه ، هغه ورته وويل « که چېرې د ناجي څخه قومنده واخستل شي نو داسې جذبه ، چي ته ئي ارزو لرې ، هم په دوی کي را پيدا کېداې شي .» خو صلاح الدين ايوبي د ناجي په څير تجربه لرونکي او ذهين سالار د ګوښه کولو پر ځاي په نيغې لارې د راوړلو هڅه کوله . هغه په دې جشن کي په خپلو سترګو همدا کتل چي دا فوځ دکرچار له اړخه څه ډول دې ؟ هغه ته د ناجي ددې غوښتني څخه نا هيلهي را پيدا شوی وه چي دهغې سپاهيان او قومندانان شراب څښل غواړي ، او تر څنګ ئي د نڅا اوسندرو شوق هم لري، صلاح الدين ايوبي دهغې غوښتنه په دې خاطر منلې وه چي ووينې چي دالښکر تر کومه ځايه په عيش او عشرت کي ډوب شوی دې.

په زړه ورتوب ، آسپ ځغلولو ، او د تيغ په مقابلو کي خو دا فوځ په ټولو عسکرى او جنګی معيارونو پوره و خوت خو کله چي د ډوډۍ دخوړلو وخت راغي نو دې فوځ د نااهلو ، بدتميزه او ...... خلکو په څير شورو غوغا جوړه او د يوه بي کنټروله هجوم شکل ئي ځانته و نيوه . د ډوډۍ انتظام په يوه پراخه اووسيع ميدان کي شوی و. په يوه اړخ کي ئي د فوځ نژدې دوه زره وګړو ته د ډوډۍ د خوړلو له پاره ځاې جوړ کړل شوی و او د هغوی څخه په ډيره لږه فاصله کي د صلاح الدين ايوبي او نورو ميلمنو د خوراک ښاغلي انتظام و. په سلونو مکمل وريت کړل شوی پسونه ، وزې ، د اوښانو مکمل ورنونه ، اوپه زرګونو روسټ کړل شوی چرګان اينبوول شوی و. د نورو لوازماتو خو شمار نه کېده ، سپاهيانو ته ددې تر څنګ د شرابو کوچنۍ کوچنۍ مشکيزې او صراحي ګاني اينبوول شوی وې ، سپاهيان په خوراک او شرابو باندې لکه د وږو ليوانو په څير را پريوتل ، په غړپ غړپ ئي شراب څښل او يو دبله سره ئي لاس اچول پيل کړل. صلاح الدين ايوبي دا ننداره کتله ، اوچپ ناست و ، دهغې پر مخ باندې هيڅ داسې اغيز نه و چي په ډاګه کړې چي هغه د څه په هکله فکر کوي . هغه د ناجي څخه همدومره و پوښتل « تا د خپل پنځوس زره فوځ څخه ددعوت له پاره دا سپاهيان څه ډول منتخب کړې و ، ؟ ايا دا ستا بدترين سپاهيان دي ؟»

«نه د مصر اميره !»ناجي په غلامانه لهجې سره وويل « دغه دوه زره عسکر زما د ډيرو ښو سپاهيانو څخه دي تا دهغوی مظاهري وکتلي ، دهغوی زړه ورتيا دې و کتله ، هغه ځان ځارنه به چي دوی د جنګ په ډګر کي کوي ، هغه به دې نورهم حيران کړي . ته د هغوی دغه بدتميزۍ ته مه ګوره ، دوی به ستا په اشاره خپل ځانونه ځار کړي. زه کله کله هغوی ته همداسي خلاص لاس ورکوم ، تر څو د مړينی تر مخه ددنيا د رنګ او بوي څخه پوره پوره خوند واخلي.»

صلاح الدين ايوبي ددې استدلال په مقابل کي هيڅ هم و نه ويل ، کله چي ناجي د نورو ميلمنو په لور مخ واړاوه ، نو صلاح الدين ايوبي ، علي بن سفيان ته وکتل او وېي ويل « ماچي څه کتل غوښتل هغه مي و کتل ، دا سوډاني عسکر د شرابو او هنګامو کولو عادي دې ، ته وائي چي په هغوی کي جذبه نه شته ، خو زه وينم چي په هغوی کي کرچار هم نه شته ، که چيرې دا فوځ ته د جنګ ډګر ته يوسې نو دوی به د جنګيدو په ځاې دخپلو ځانو د خوندي ساتلو په فکر کي شي. او د غنيمت مالونه به لوټوي ، او د سوبې شوی سيمې د خلکو د عزت سره به لوبې او وحشيانه سلوک کوي. »

«ددې علاج دادې» علي بن سفيان ورته وويل « چي هغه فوځ چي تا د مختلفو سيمو د خلکو څخه تيار کړې هغه د ناجي په دې پنځوس زره سوډاني فوځ کي ورګډ کړې ، خراب سپاهيان چي د خو سپاهيانو سره يوځاې شي نو دهغوی په سلوک کي هم بدلون را پيدا کېږي.»

صلاح الدين ايوبي مسکي شو او علي ته ئي وويل « ته په رښتيا سره زما د زړه په راز پو هيږې ، زما پلان هم همداسې دې خو ما نه غوښتل چي تا ته ئي اوس په ډاګه کړم، هيڅا ته په دې هکله څه مه وايه»

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي بن سفيان کې دا صفت و چې چې د نورو د زړونو په راز به پو هيده ، ډيرزيات ذهين و ، هغه لږ څه نور و ويل غوښتل چې تر مخ ئې څو نور مشالونه روښانه شول ، په ځمکه باندې قيمتي قالينې غوړيدلې وي ، د شپيلۍ او رباب داسې زړه وړونکې نغمې په غږيدو شوی چې په ميلمنو کې ئې پوره چپتيا را وسته. له يوه اړخه د نڅونکو قطارونه را ښکاره شول ، شل نجونې په داسې نازکه او نرې لباس کې راښکاره شوی چې په هغې کې دهغوی د جسمونو ويښته ويښته په نظر راته ، دهر يوه لباس د يوي نرۍ چوغې په شکل و چې د اوږو څخه تر د زنګونو تر سترګو پورې رسيده ، دهغوی ويښتان خواره و او د وريښمو د يوې برخې په څير ځليدل ، دصحرا د نرې نسيم او د نجونو د زرکو په څير تګ دغه نرې نرې لباس خوځاوه، داسې بريښيده لکه د ګلونو ډک بوټې چې په فضا کې لامبو وهي ، د هر يوه د لباس رنګ جدا و ، او د هر يوه شکل او صورت يو دبل سره توپير درلود ، خو د ښايست او د جسم په نرمښت کې ټولې يو څير وې. د هغوی مرمرينې متې بربنډې او لغړې وې ، هغوی مخته راتللې خو د قدم ښکته پورته کېدل ئې په سترګو نه ليدل کېده ، هغوی د هوا د څپو په څير مخته راتللې.

هغوی په نيمه دايره کې سره را ټولې او ودريدې ، د صلاح الدين ايوبي په لور ئې مخ کړ او د تعظيم او احترام له پاره ئې سرونه ښکته کړل ، د ټولو ويښتان د هغوی په اوږو را پريوتل ، سازونو دهغوی په دغه وريښمي ويښتانو کې د جادو طلسم را پيدا کړی و. دوه تور پوسته دبوشکله حبشي ځوانان چې د ملاګانو څخه ئې د زمري پوستکي را تاو کړي و ، يوه ستر شان ټوکرۍ په لاسو کې نيولې په پوره چټکۍ سره را روان دي هغوی ټوکرۍ د نجونو په نيمه دايره کې کښيښوده ، په دې وخت کې د مار د بين ساز په غږيدو شو . حبشي ځوانانو د مستو غوايانو په څير خپل ښکرونه اخوا دېخوا غورځول او له صحنې څخه غايب شول ، د ټوکرۍ څخه يو ډير ه ستره غوټۍ را ووته او دګل په څير و غوړيده ، ددې ګل څخه يوه نجلۍ را برسيره شوه ،چې سوکه سوکه را پورته کېده ، داسې بريښيده لکه د سرو وريځو څخه چې سپوږمۍ سر را وکاږي ، دا ددې دنيا نجلۍ نه معلوميده ، دهغې خندا هم ددې ځمکې د نجونو خندا نه وه ، دهغې د ويښتانو ځلا هم د مصر د نجونو د ويښتانو د ځلا په څير نه وه ، او کله چې دغې نجلۍ د ګلانو دپاڼو څخه بيرون قدم کښيښود نو دهغې د جسم نرمښت او ملايمت ټول نندارچيان حيران او مسحور کړل.

علي بن سفيان د صلاح الدين ايوبي په لور وکتل ، دهغې په شونډو باندې نرۍ خندا وه ، صلاح الدين ايوبي په خندا شو او دهغه په غوږ کې ئې وويل «ما هيله نه درلوده چې دا به دومره ښکلې وي.»

ناجي د صلاح الدين ايوبي په لور راغې او ورته ئې وويل «د مصر د امير بخت دې ستر وي ، ددې نجلۍ نوم (ذکوبي)دې ، هغه ما ستا له خاطره د سکندرئې څخه را بللې ده ، دا مسلکې ډمه نه ده او ځان پلورنکې فاحشه هم نه ، د نڅا سره مينه لري ، په خپل شوق سره کله کله ناڅي ، د چا محفلونو ته هم نه ځي ، زه ددې پلار پيژنم، هغه په ساحل کې د ماهيانو کار وبار کوي ، دا نجلې ستا سره مينه لري ، ان تر دې چې تا د پيغمبر په توګه مني ، زه په ناڅاپي توګه ددې د پلار د کتلو له پاره ددوی کور ته ورغلم ، نودې نجلۍ له ما و پوښتل چې خبره شوی يم صلاح الدين ايوبي د مصر د نوي امير په توګه راغلي دې. د خداې له پاره ما ته د هغه سره د ليدلو کتلو وخت برابر کړه ، ما سره دهغې له پاره دخپل ځان او نڅا څخه بله کومه داسې تحفه نشته چې ددې ستري هستۍ په قدمونو کې ئې کېږدم ،.... ډير زيات دروند اميره ! ماستا څخه د نڅا او موسيقي اجازه په دې خاطر غوښتې وه چې غوښتل مې دغه نجلۍ ستاسې حضور ته هد يه کړم.»

«تا هغې ته نه و ويلې چې زه په خپل مخکې هيڅ يوه نجلۍ نڅونکې او لوڅه نه شم ليدلې؟» صلاح الدين ايوبي ترې وپوښتل او ورته ئې وويل« دا نجونې چې تا په بڼه کې پټې راوړې بلکل لوڅې دي،»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« دستر مقام خاونده !» ناجي  په لړزنده اواز سره وويل ، « ما ورته ويلې و  چې دمصر امير نڅا او رقص نه خوښوي ، خو دې ويل چې هغه به زما نڅا خو ښه کړي ځکه چې زما  په نڅا کې د ګناه په لور بلنه نه شته. دا به د يوي عزتمندې نجلۍ  نڅا وي ، زه د ايوبي تر مخه  جسم نه ، بلکه خپل فن وړاندې کول غواړم ، که چېرې زه نارينه واې نو د ايوبي دځان د خوندي ساتلو په خاطر به دهغې په ساتونکې ډله کې ور ګډه شوی واې.»

« ته څه ويل غواړې » صلاح الدين ايوبي  ترې وپوښتل « ايا دا نجلۍ ځان ته را وبو لم او تعريف ئې وکړم چې تا دخپل وجود په لوڅولو سره  د زړګونو  وګړو تر مخ ډيره ښه نڅا وکړه ؟ هغه ته په دې خبره شا باسې ورکړم چې هغې د نارينه و  د جنسي د جذباتو په را پارولو کې ښه پوهه او مهارت تر لاسه کړې دې ؟»

«نه د مصر اميره !» ناجي  ورته وويل « ما هغه  په دې  وعدې سره دلته راوړې چې ته هغې ته د ليدلو کتلو شرف ور وبښې ، دا  د ډير لرې څخه دلته راغلې ده ، لږڅه هغې  ته  وګوره ! دهغې نڅا مسلکې اغيز نه  بلکه د خپل ځان سپارل دي ،  هغه تاته  په  څومره مينه ګوري  ! بې شکه چې عبادت يوائې د الله  کبړي خو  نوموړې د خپلې نڅا  ، او عقيدې له لارې په  خمارو  سترګو  ستا عبادت کوي. ته هغې ته اجازه ورکړه  چې ستا خيمې ته راشي ،  که څه هم د لږ وخت له پاره وي، دا  د راتلونکې  مور  وګڼې  چې د رحم څخه ئې د اسلام د ساتنې له پاره  يو سرتيرې  و زيږيږي، دا  به خپلو  بچيانو ته په فخر سره وائې  چې ما  ته د صلاح الدين ايوبي  سره  په ځانته ځانې  کې دخبرو  کولو شرف را په برخه شوی و ».

ناجي په ډيره اغيزمنه توګه او جذباتي وينا سره په صلاح الدين ايوبي  دا  ومنله چې دا نجلۍ ، چې هغه د يوه غلام پلورونکې څخه را نيولې وه ، د يوه شريف پلار عزتمنده لور ده ، هغه په صلاح الدين ايوبي  باندې دا ومنله چې ووائې چې « ډير ښه ! دا زما خيمې ته را وليږه »

(ذکويي ) هم سوکه سوکه خپل جسم مخته کاوه او بيا بيا  به ئې د صلاح الدين ايوبي  په لور کتل او مسکۍ مسکۍ کېدله به، پاته نجونې دهغې په چاپير کې لکه د تتليو په څير الوت کاوه ، دا د ښکته پورته کېدو نڅا نه وه. دوی  د مشالونو په رڼاو کې داسې بريښيدې لکه په شفافو او صافو اوبو کې  چې ښاپيريانې لامبو وهي او تيريږي را تيريږي ، د سپوږمۍ  خپل يو اغيز و ، خو د صلاح الدين ايوبي  په هکله هيڅوک نه شي ويلاې چې  هغه په کوم فکر کې ډوب  ګونګ سونګ  ناست و. د ناجي لښکرو چې د شرابو د څښلو وروسته کومه هنګامه او غوغا جوړه کړې وه ،  اوس هغوی هم خمار، ستومانه او د مړو  په څير ګرځيدلي و. په ځمکه او اسمان  کې يو ډول چپتيا  خپره وه ، او ناجي پر خپلو برياو ډير زيات خوښ و،  او شپه لږه لږه د سهار لور ته راونه وه.

(۷)*****

دشپې نيمائې وه چې صلاح الدين ايوبي هغه ښايسته خيمې ته  ورننوت چې د ناجي  له اړخه هغه ته درول شوی وه.، په خيمه کې دننه  قالينې  خپرې  شوی وي ، په  پالنګ باندې د زمرې  دپوستکې  په څير  پوښ  غوړيدلې و.کوم فانوس  چې  هلته ايښول  شوی  و  ، دهغې شفافه  او ښايسته رڼا  د صحرا  د سپوږمۍ  په  څير زړه وړونکې وه،  دخيمې دننه سيمه ټوله دښايسته  عطرو  په  بوي  معطره  شوی وه. د خيمې  په د ېوالونو باندې  وريښمينې پردې  را  زوړندې وي ، ناجي د صلاح الدين ايوبي  سره يوځاې  خيمې ته ور ننوت ، او ترې  وئې  پوښتل « ايا هغه د لږڅه وخت له پاره  را  واستوم؟زه  د  وعده  خلافۍ  څخه ډير بيريږم.»

«را وئې ليږه  !» صلاح الدين ايوبي  ورته وويل ، او ناجي  د هرن په څير په ښکرونو غورځولو سره  د  خيمې څخه بيرون شو .

لږ وخت به تيرشوی و  چې د صلاح الدين ايوبي  ساتونکو  يوه  نڅونکې دهغه دخيمی په لورد  راتللو په حال کې و کتله، د خيمې  په ټولو اړخونو کې مشالونه د علي بن سفيان  له خوا روښانه شوی وترڅو د  شپې  په وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتونکې د خیمې شاوخوا په بنه توګه ترنظر لاندې و ساتلاې شي. کله چې نڅونکې را نژدې شوه نو ساتونکو و پیژندله، هغوی هغه د نڅا په وخت کې کتلې وه، دا خو هماغه نجلۍ ده چې د ټوکرۍ څخه را وتلې وه. او دا (ذکوبي) وه، هغه تر اوسه هم د نڅا په لباس کې وه، دا لباس توبه ماتونکې و، په دې بڼه کې هغه لوڅه لغړه ښکاریده، د ساتونکو قومندان هغه هملته و دروله، خو (ذکوبي)ورته وویل چې هغه د مصر امیر صلاح الدین ایوبي پخپله دخپل خوب ځاې ته را بللې ده. خو قومندان ورته وویل چې ایوبي دهغه امیرانو څخه نه دی چې دفاحشو نجونو سره شپې سبا کړي.

«ته د همغې څخه پو ښتنه وکړه،» (ذکوبي)ورته وویل «زه خود خپله ځانه دلته د راتللو جرآت نه شم کولاې»

« دهغه بلنه تاته څنګه در ورسیده ؟» قومندان ترې و پوښتل.

«ماته سالار ناجي وویل چې د مصر امیر دې ځانته غواړي» (ذکوبي) ورته وویل، «که ته غواړې زه بیرته ځم که امیر زما په هکله و پوښتی نو دځواب پایلې به ئې پخپله پر تا وي»

قومندان دا نشوه منلاې چې صلاح الدین ایوبي دې د خپل خوب ځاې ته یوه رقاصه نڅونکې را وبولي، هغه دایوبي د عمل او کړچار څخه پوره خبرو، دهغه ددې حکم څخه هم خبرو چې د نڅاکوونکو او سندرو ویونکو سره د اړیکو لرونکې باید سل لښتې (درّې) ووهل شي، قومندان په شک و شبه کې ولوید، په فکر فکر کولو سره ئې جرآت وکړ او د صلاح الدین ایوبي خیمې ته ورننوت، ایوبي دننه قدم واهه. قومندان ترې په ویره ویره و پوښتل «بیرون یوه نڅونکې ولاړه ده، وائي چې حضور دلته را بللې ده، صلاح الدین ایوبي ورته وویل « هغه دننه را ولیږه»

قومندان بیرون را ووت او (ذکوبي) ئې دننه خیمې ته و استوله، ساتونکو هیله درلوده چې ددوی امیر او ستر سالار به دا رقاصه د خیمې څخه بیرون را وغورزوي، هغوی ټول د هغه د غضب ناکه اواز انتظار کاوه، خو هغوی ته هیڅ داسې اواز په غوږو نه شو، شپه لږه لږه اخري وختو ته رسیدله، د خیمې د دننه څخه د سوکه سوکه خبرو اواز را ته، د ساتونکو دډلې قومندان په ډیره نا ارامۍ سره اخوا دېخوا قدم واهه، یو ساتونکې د هغې څخه و پو ښتل، «ایا دا حکم یواځې زمونږ له پاره دې چې د کومې فاحشې سره اړیکې درلودل جرم دي.»

«هو !» هغه ځواب ورکړ« حکم یواځې د ترلاس لاندې خلکو له پاره وي او قانون یواځې د رعایاو له پاره جوړیږي.»

« ایا دمصر امیر به په درّو نه وهل کیږي ؟»

« پادشاهان کوم ځانګړې کړچار نه لري،» قومندان په سوزیدونکې اواز وویل «صلاح الدین ایوبي به شراب هم څښي، یواځې پر مونږ باندې ددرواغو د تقوا رعب اچوي.»

د هغوی له آنده د صلاح الدین ایوبي بُت ټوټې ټوټې شوی و، ددې بُت څخه یو عربې شهزاده را ووت چې یو بدکاره او عیاش انسان و، او د تقوا په لباس کې ئې دګناه ټول کارونه تر سره کول.

ناجي ډیر خوښ و، هغه په دې شپه د صلاح الدین ایوبي د خوښۍ له پاره شراب بوي کړې هم نه و. هغه په خپله خیمه کې ناست او د خوښۍ څخه زنګیده، دهغه تر مخه د هغه سالار «اوروش» ناست و، هغه ناجي ته وویل « هغه چې تللې نو ډیر وخت تیر شو، داسې بریښي چې زمونږ غشې د صلاح الدین ایوبي په زړه کې کښیوتې دې.» «زما غشې خطا شوی کله دې ؟» ناجي په واوزه خوله و خندل او وئې ویل « که چیرې دا تیر خطاکیداې نو سمدستي به بیرته زمونږ لورې ته راغلې واې»

«ته صحیح خبره کوي،» اوروش ورته وویل « (ذکوبي)د انسان په بڼه کې یو طلسم او جادو دې، دا نجلۍ د حشیشینو سره اوسیدلې او که نه د صلاح الدین ایوبي په خیر بُت ئې هیڅکله هم نه شو ماتولاې»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ماچې هغې ته کوم سبق ورزده کړې و هغه به هيڅ کله د حشيشين په وهم وګمان کې هم را نه شي . » ناجي ورته وويل « اوس د صلاح الدين ايوبي په ستوني کې د شرابو ورښکته کول پاته دي،» په دې وخت کې ناجي ته بيرون د قدمونو اواز ترغوږو شو . منډه ئي واخسته او بيرون را ووت، هغه (ذکويي)نه وه بلکه يو سپاهي روان و، ناجي دلرې څخه د صلاح الدين ايوبي د خيمې په لور و کتل، پردې ئي را ځړيدلې او ساتونکې بيرون په پهره ولاړ وو ،هغه دننه ولاړ او اوروش ته ئي وويل « اوس زه په ډاډمنه توګه ويلاې شم چې زما (ذکويي)دا ستر بُت مات کړې دي.»

*****(٨)

دشپې اخري برخه وه ، چې (ذکويي)د صلاح الدين ايوبي د خيمې څخه ووتله ، هغه د ناجي د خيمي پر ځاې په بلې لورې ولاړه ، په لاره کې ورته يو سړې ولاړ و چې ټول وجود ئي د سره تر پښو پورې په يوه ډول لباس کې پټ شوى و. هغه په ډيره سوکه توګه (ذکويي)ته ورغږ کړ. هغه هم د همغه سړي په لور ورغله ، هغه سړي هغه يوې خيمې ته ورننويستله ، د لږ ځنډ وروسته هغه ددې خيمې څخه ووتله او د ناجي د خيمې په لور ئي مخ کړ. ناجي تر دې وخته پورې بيدار پاته و ،هغه څو ځله بيرون را وتلې و او د صلاح الدين ايوبي د خيمې په لور ئي کتلي و ،او ګمان ئي کاوه چې (ذکويي) صلاح الدين ايوبي په خپل جال کې را ګيرکړې او هغه ئي د اسمان د شنو څخه لاندې د ناجي د پست ذهنيت په لمن کې را غورځولې دي.

«اوروش ! » هغه وويل « شپه خو تيره شوه ، او هغه تر اوسه را نه غله ،» ، « هغه به اوس کله هم را نه شي !» اوروش ورته وويلې ،«د مصر امير به هغه د خپله ځانه سره يوسي ، داسې ښاپيرۍ خو هيڅ شهزاده د لاسه نه ورکوي،...... ايا تا په دې هکله کله هم فکر کړې دي ؟»

«نه !»ناجي ورته وويل ، « ما دخپل چال په دې اړخ باندې کله هم فکر نه دې کړې»

«ايا دا نه شي کېداې چې دمصر امير د (ذکويي) سره په اصولي توګه واده وکړي ؟» اوروش ورته وويل « په هغه وخت کې به دا خطره وي چې نجلۍ به په مکمله توګه زمونږ له کاره ووځي ،»

«هغه خو ډيره هوښياره ده »ناجي ورته وويل « خو په رقاصو باندې څه باور ؟ هغه د رقاصې لور ده اوتجربه لرونکې ځان پلورونکې ، دوکه هم ورکولې شي»

هغه په ژور فکر کې ډوب ناست و ، چې (ذکويي)په نابېره توګه دهغې خيمې ته ورننوتله ، هغې ورته په خندا کې وويل «اوس نو دخپل امير جسم مو وزن کړئ او دهمغې په اندازه طلا راوړئ ! تا خو ماته همدا انعام ټاکلې و »

«لمړې خو ووايه چې وشول څه؟» ناجي ترې په پوره ناقرارۍ سره و پوښتل.

«هماغه څه چې تا غوښتل !» (ذکويي) ځواب ورکړ ، تاته چا داويلې و چې صلاح الدين ايوبي د تيږې په څير کلک دي يا دفولادو په څير نه ويلې کيدونکې او يا داچې هغه مسلمانانو ته د اللهؑ سيورې دي .؟» هغې خپله پونده پر ځمکه ووهله او وئي ويل « هغه ددې شګو څخه ، چې هوائي ذره ذره له ځانه سره له يوه ځايه بل ته الوزوي ، هم ډير بې وسه او سپک دې»

«ستا د ښايست جادو او دژبې طلسم د هغې څخه د شګو ډيرې جوړ کړې» اوروش ورته وويل » « او که نه دا کمبخته خو ستر او ولاړ غر و غر.»

«هو !ولاړ غر و ،» (ذکويي)ورته وويل « خو اوس شګلوړه غونډۍ هم نه ده »

« ايا زما په هکله هم څه خبره وشوه؟» ناجي ترې په بې صبرۍ سره و پوښتل.

«هو !»(ذکويي) ځواب ورکړ« پوښتنه ئي کوله چې ناجي څه ډول سړې دي ، ما ځواب ورکړ چې که په مصر کې پر چا باور کولې شي نو هغه يواځې اويواځې ناجي دي ، هغه بيا راڅخه و پوښتل چې ته ئي څه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيژني ، ماورته وويل چې هغه زما د پلار ډیر نژدې دوست دې ، زمونږ کور ته راغلي و او زما پلار ته ئې ويلي چې زه د صلاح الدين ايوبي غلام يم هغه که ماته په سمندر کې د ورغورځیدو حکم وکړي نو زه به ځان ور وغورځوم......بیا هغه له ما څخه و پوښتل چې ته خو پاکه نجلۍ ئې ، ما ورته وويل چې زه ستا وینځه یم ، ستا هر حکم د سر په سترګو منم ، وئې ويل چې د لږ وخت له پاره زما تر څنګ کښینه ، زه دهغې څنګ ته ورغلم بیانو که هغه تیره وه موم و ګرزید او ما هم دا موم په خپل قالب کې ور واچاوه. کله چې ترې را رخصتیدم نو زما څخه ئې ښښنه و غوښتله ، ويل ئې چې ما په خپل ژوند کې د لمړي ځل له پاره ګنا ه کړې ، ما ورته وويل چې دا ګناه نه ده ،تا له ماسره دوکه نه ده کړې ، زور دې را سره نه دې کړې ، زه دې د پادشاهانو په څير د حکم کولو له لارې نه یم را بللې ، زه پخپله راغلې یم او بیا به هم درته را ځم.»

نجلۍ هره خبره داسې باوري او په بربنډه توګه کوله لکه څنګه ئې چې جسم بربنډ و. ناجي د ډيرې خوښۍ څخه هغه پخپله متو کې را و نغاړله ، او اوروش په داسې حال کې چې (ذکوبي) ته ئې افرين وایه او ناجي ته ئې د هغې په دې بریا مبارکي ويله د خیمی څخه ووت.

*****(۹)

ددښتې د رازونو د ډکې شپې څخه چې کوم نوي سهار را و زیږید ، هغه د نورو صحرائي سهارونو څخه ځانګړې نه و ، خو ددې سهار رڼا په خپلې تیارې سینې کې یو راز پټ کړې و چې ټول ارزښت ئې د همدې اسلامي امت تر ارزښت پورې رسیده ، او د قیام له پاره ئې صلاح الدين ايوبي خوبونه لیدلي و او دهمدې تعبیراو تفسیر په عزم باندې هغه را ځوان شوی و.

تیره شپه چې په دې دښته کې څه تیر شوي و ، هغې دوه اړخونه درلودل ، چې د یوه اړخ څخه یواځې ناجي او دهغې بل سالار اوروش خبر درلود ، او دبل اړخ څخه ئې د صلاح الدين ايوبي ساتونکې ډله او په خپله ايوبي خبر درلوده. خو صلاح الدين ايوبي ، (ذکوبي) او د ايوبي د څارکښۍ د څانګې مسئول علي بن سفيان هغه درې شخصیتونه و چې د پيښې ددواړو اړخونو په هکله ئې پوره پوره مالومات درلوده.

ناجي سلطان صلاح الدين ايوبي اودهغې ملګري په ډیر ښه شان او شوکت سره رخصت کړل ، دلارې په دواړو خواو کې سوډاني عسکرو د«صلاح الدين ايوبي دې ژوندې وي» اوازونه پورته کیدل ، صلاح الدين ايوبي ددوی د اوازونو دځواب له پاره خپل لاسونه خوځول ،د خندا او نورو تکلفاتو هیڅ پروا ئې و نه کړه. دناجي سره ئې لاس ورکړ ، خپله آس ته ئې لغته ورکړه دهغه وروسته د هغه ساتونکو او د دولت کارکونکو هم خپل آسونه و ځغلول ، خپل مرکزي دفتر ته په رسیدو سره ئې ، علي بن سفيان او یو بل نائب دخپله ځانه سره دننه دفتر ته یوړل ، او دروازه ئې له دننه څخه بنده کړه ، هغوی ټوله ورځ په همدې کمره کې بند پاته شول ، کله چې لمر پریوت ،او شپه تیاره شوه نو د کمرې په داخل کې غذا خو پريږده چې اوبه هم نه پيدا کېدې. لږ څه شپه تیره وه چې درې واړه بيرون را ووتل او خپلو خپلو کورونو ته روان شول. علي بن سفيان ترې را جدا شو ، نو د ساتونکو د ډلې قومندان هغه تم کړ او ورته ئې وويل« محترما ! زمونږ دنده ده چې حکم و منو او ژبه بنده وساتو ، خو زما په ډله کې يو ډول ناهیلهي او بې اطميناني راپیدا شوی ده ، او پخپله زه هم دهمدې ناهیلهي ښکار ګرځيدلې یم.»

«څه ډول نا هيلهي؟» علي بن سفيان ترې وپوښتل.

«ساتونکي وائي ، کله چې یوه فوځ ته د شرابو د څښلو اجازه وي نو مونږ ترې ولې منه کړل شوی یو؟»

قومندان ورته وويل« که چیرې ته زما دا ګیله بدسترګي ګڼې نو سزا راکړه خو زما ګیله واوره ، مونږ خپل امير د اللهج غوره بنده ګڼو ، او پر هغه د زړه له کومی ځاریدو ته تیار و ، خو تیره شپه.......»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«دهغې خیمې ته یوه رقاصه ورغلې وه .» علي بن سفیان دهغې خبره ور پوره کړه او وئې ویل «تا هیڅ ډول بدسترګي نه ده کړې . ګناه که امیر وکړي او یا غلام ، په سزا کې ئې هیڅ توپیر نه شته. ګناه په هر حال ګناه ده ، زه تا ته داډه درکوم چې د رقاصې او د مصر د امیر تر منځ لیدنه د ګناه سره هیڅ تړاو نه درلود ، دا چې څه شوی، زه ئې اوس نه شم درته بیانولاې ، سوکه سوکه د وخت په تیریدو سره به هر څه تاسې ته پخپله مخته راشي چې په هغه شپه څه شوی و؟» هغه د قومندان په اوږه لاس کښیښود او ورته ئې وویل « ای عامر بن صالح ! زما خبره په غور سره واوره ، ته پخواني عسکر ئې ، په ښه توګه پوهیږې چې د فوځ او د فوځ د مشرانو څه رازونه وي چې خوندي ساتل ئې زمونږ د ټولو دنده ده . د مصر د امیر خیمې ته د رقاصې ورتګ پخپله یو راز دې ، خپل سرتیري په هیڅ ډول شک کې مه پریږده ، او چاته ئې یادونه هم و نه کړې چې د شپې څه تیر شوی دي.»

دا قومندان دعلي بن سفیان د ذهنیت او وړتیا څخه پوره پوره خبر و ، په دې اساس ډاډمن شو اود خپلې ساتونکې ډلې شکوک ئې هم ورختم کړل.

بله ورځ صلاح الدین ایوبي د غرمې ډوډۍ خوړله ، چې هغه ته خبر ورکړل شو چې ناجي ئې کتلو ته راځي ، صلاح الدین ایوبي د ډوډۍ څخه لاس پریمینځه او د ناجي سره کښیناست ، د ناجي مخ ښوول چې لږ څه اندېښمن غوندې هم دې او په غصه هم، هغه په نښتونکې اواز سره وویل ،« دروند امیره ! ایا دا حکم تا ورکړې چې د سوډاني ساتونکې فوځ دغه پنځوس زره کسان په هغه فوځ کې ورګډ کړئ چې همدا اوس تیار کړل شوی دې ؟»

«هو ناجي !» صلاح الدین ایوبي په زغم سره ځواب ورکړ ،« ما پرون ټوله ورځ او دشپې یوه برخه د همدې موضوع د حل له پاره پوره فکر او غور وکړ او د پوره دقت وروسته مې دا پریکړه وکړه چې هغه فوځ چې ته ئې سالار ئې ، د مصر په فوځ کې داسې ورګډ کړل شي چې په هرې ډلې کې د سوډانیانو د نفرو شمیره لس په سلو کې وي، او تا ته به داحکم هم در رسیدلي وي چې ته اوس ددې فوځ سالار نه ئې ، ته د فوځ په مرکزي دفتر کې په خدمت ګمارل شوی او همدلته به خدمت ته راشې.»

«د ستر مقام خاونده !» ناجي ورته وویل « ماته دکوم جرم سزا راکول کیږي ؟»

« که چیرې دا پریکړه دې خوښه نه وي نو د فوځ څخه جدا شه .» صلاح الدین ایوبي ورته وویل.

« داسې معلومیږي چې زما پر خلاف کوم سازش شوی دې »ناجي ورته وویل « تاسې باید په دې هکله تحقیق وکړئ ، زه په مرکز کې زیات شمیر مخالفین لرم .»

«زما ګرانه دوسته !» صلاح الدین ایوبي ورته وویل «ما دا پریکړه یوازې په دې خاطر کړېده چې زما د دولت او فوځ څخه د سازشونودا لړی د تل له پاره بیرون شي ، او ما دا پریکړه په دې خاطر کړېده چې په فوځ کې د یو چا رتبه ، که څه هم ډیره پورته وي، او یا ډیره ټیټه وي هغه به شراب نه څکې ، رمباړې به نه وهي اونه به په عسکري جشنونو کې نڅا ، ګډا او سندرې وي.»

«خو درونده مشره !» ناجي ورته وویل «ما خو له حضور څخه اجازه اخستې وه »

« او ما د نڅا ، ګډا او سندرو اجازه په دې خاطر ورکړې وه چې دا فوځ ، چې ته ئې د اسلامي امت ساتوندویان ګڼې ،دهغوی په اصلي بڼه کې ووینم . زه پنځوس زره کسان له یوه سره ګوښه کولاې نه شم په دې خاطر هغوی په مصري فوځ کې مدغموم تر څو دهغوی کړنې درستې کړم او دا هم واوره ، چې په مونږ کې هیڅ سوډاني ، مصري ، یمني اوعجمی نه شته ، ټول مسلمانان دي ، بیرغ مو یو دي او مذهب مو یو دې.»

«دروند امیر به زما د حیثیت په هکله فکر هم کړې وي چې زما حیثیت ته به څه پاته شي ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«هغه چي ته ئې ورته ولري !» صلاح الدين ايوبي ورته وويل « په خپله تيره شوى (ماضي ) باندې پخپله فکر وکړه ، دا ضروری نه ده چې د خپلو کارونو قصې را ته بيان کړې....... سمدستي بيرته ولاړ شه او دخپل فوځ سپاهيان ، ځناور ،او د خوراک څښاک او ......دسامانونو کاغذونه تيار کړه او زما نائب ته ئې وسپاره ، په اوه ورځو کې دننه دننه بايد زما د حکم تعميل وکړل شي»

ناجي غوښتل څه ووائي ، خو صلاح الدين ايوبي د ليدني د ځاي څخه بيرون شو.

*****(۱۰)

داخبره د ناجي حرم ته هم رسيدلې وه چې د مصر اميرسلطان ايوبي، يوي نڅونکې نجلۍ (ذکويي)ته دخپل ځان سره تپوله شپه د ناستې شرف وربښلې و . د (ذکويي) پر خلاف د حسد او کينې اور لا د پخوا څخه د سرو لمبو په خير هرې لورې ته خوله اچوله ، ځکه دهغې د راتگ څخه ډير لږ وخت تير شوی و خود هغې ښکلا او ښايست په ناجي دومره اغيز کړې و چې هغه ئې د همغه لمړي ورځې څخه دخپل ځان سره ځاي ناستې و گرځوله ، هغې ته ئې د لږ ځنډ له پاره هم هغه حرم ته د تللو اجازه نه ورکوله چېرته چې هغه دوه نورې نڅونکې ښايسته نجونې اوسيدلې ، هغه (ذکويي) ته ځانته کمره ورکړې وه . هغو دوه نورو نجونو ته دا نه وه ځرگنده چې ناجي هغې ته د صلاح الدين ايوبي دموم کولو او په دام کې د را نښلولو ترينينگ ورکوي ، او داچې ناجي د (ذکويي)سره يو ځاي په يوې ډيرې سترې تخريبي منصوبې باندې کار کوي. دانورې دواړه نڅونکې نجونې به هغه وخت نورې هم د اور په لمبوکې ورتيدې چې کتل به ئې چې دغې نوې نڅونکې دهغوی په عاشق پوره برلاسې موندلې دې. په دې خاطر ئې د (ذکويي) پر خلاف کينه اونفرت نور هم ډيرښت وموند ، دحرم دغه دواړه نجونو غوښتل (ذکويي)ته سمه او کلکه سزا ورکړې ،او اوس چې ددې څخه هم خبرې شوی چې (ذکويي)د مصر د امير هم دومره زياته خوښه شوی چې تپوله شپه ئې له ځانه سره په خيمه کې ساتلې وه. نو ددې خبرې اوريدو سره هغوی نورې هم ليونۍ شوی وې. خو هغې ته د سزا ورکولو يواځنۍ لار دهغې له منځه وړل و . د وژلو او له منځه وړلو دوه لارې کېداې شوی. زهر او يا اخستل شوی قاتل ، چې هغه په خوب کې ووژني ، خو په اوسني وخت کې دغه دواړه لارې شوني نه ښکاريدې ، ځکه چې(ذکويي) بيرون نه رواتله ، او د زهرو د ورکولو له پاره هلته ورتگ نه شو کېداې ،

دې دواړو نڅونکو دحويلۍ د تر ټولو چالاکه خادمه دخپل ځان سره دملگرې کولو هڅه و کړه ،هغه ته به يې انعامونه ورکول ، خوکله چې د کينې او حسد اخرې پولو د هغوی په سترگو کې وينې را پيدا کړې ،نو هغوی يو قدم نور هم مخته واخست او دې نوکرې ته ئې د هغې د خوښې دانعام دور کولو لالچ ورکړ اوخپله موخه ئې ورته و ښووله ، دا نوکره ډيره قوي شکله او چالاکه ښځه وه ، هغې ورته وويل چې د سالار د اوسيدو ځاي کې (ذکويي)ته د زهرو ورکول شوني نه دي نو موقع او فرصت نه په گتې پورته کولو سره به هغه په خنجر ووهی ، او ددې کار له پاره وخت ته اړتيا ده ، هغې وعده وکړه چې د (ذکويي)تگ راتگ به تر نظر لاندې ساتي، کېداې شي داسې فرصت ډير ژر په لاس راشي ، دغه بدمعاشې ښځې دا هم وويل چې که چېرې کوم وخت په لاس ورنه شي نو د حشيشينو ملاتړ ته به ورغړ کړي ، خو هغې ددې کار له پاره ډيره زياته بدله غوښتله ، دواړه نجونو ورته ډاډ ورکړ چې څومره چې غواړې همغومره بدله به ورته ورکړل شي.

*****(۱۱)

ناجي د غصې څخه تک سور په خپلې کمرې کې اوخت را اوخت ، (ذکويي)د هغې د يخولو ډيرې هڅې کړې وې ، خو دهغې غصه د سرېدو پر ځاي نوره هم گرميدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ته ما پرېږده چې زه يوځل هغه ته ورشم» (ذكويي) په څلورم ځل ورته وويل « زه به هغه د شيشې په بوتل کې ورننه باسم»

«بيکاره ده !» ناجي په قهرجنه لهجه وويل « هغه کمبخته حکم نامه هم جاري کړې ده ، او پرهغې عمل هم پيل شوی دي ، زه ئې د هيڅ ځاې د پرېښولو کړې نه يم ، پرهغه ستا جادو اغيز نه دي کړي ،ما ته ګرګنده ده چې زما پر خلاف دا سازش کونکي عناصر څوک دي ، هغوی زما د لوړ شخصيت سره کينه لري ، زه د مصر امير ټاکل کيدونکي وم ،هغه وخت چې زه يو معمولي سالار هم وم ما ددې ځاې پر حکمرانانو حکومت کړې دي ، اوس ما ته هغه سالاري هم پاته نه شوه» ، هغه دروازه چې دننه را وغوښت ، او ورته ئې وويل چې پرته د ځنډه ، ډيرژر اوروش را حاضر کړه.

د هغه د راز ملګري او نائب اوروش راغي ، نو ناجي د هغې سره هم په همدې موضوع خبرې وکړې ، هغه اوروش ته کوم نوي خبر نه درلود ، ځکه هغه د اوروش سره د صلاح الدين ايوبي د حکم نامې په هکله تردې دمخه هم تفصيلي خبرې کړې وې ، خودوی ددې حکم نامې پر خلاف د څه عکس العمل د ښوولو په هکله لا تر اوسه فکر نه وکړې ، اوس د هغې په ذهن کې يو پلان راغلي و ، نو اوروش ته ئې وويلې ،«ما د ځوابې عمل په هکله فکر کړې»

«څه !»

«بغاوت !» ناجي ورته وويل ، اوروش چپ چاپ هغه ته وکتل ،ناجي ورته وويل « ته ولې حيران شوی؟ ايا تاته په دې هکله څه شک شته چې دا پنځوس زره سوډانيان به زما وفاداره نه وي ؟ ايا دوی به د صلاح الدين ايوبي په نسبت زما او ستا د حاکم پاته کيدو غوښتونکي نه وي؟ ايا ته خپل فوځ ددې خبرې په کولو سره بغاوت ته نه شې تيارولاې چې ورته ووائې «تاسې به د مصريانو غلامان ګرځئ ؟»»

اوروش ژوره ساه واخسته او وئې ويل «ما په دې هکله فکر نه و کړې ، د بغاوت کار د سترګو په رپ سره ترسره کيږي. خو د مصر نوي فوځ بغاوت ټکولاې شي ، دمصر فوځ ته کومک هم ور رسيداې شي ، حکومت سره د ټکر کولو او سرجنګولو ترمخه مونږ بايد په دې ستونزې باندې پوره غور وکړو »

«ما په دې ستونزې هم غور کړې دي » ناجي ورته ځواب ورکړ.« زه عيسايي پادشاهان د کومک له پاره را بلم، ته دوه پيغام وړونکي تيار کړه ، هغوی ډير لرې ليږم، را شه زما خبرې په غور سره واوره.

(ذکويي) ! ته خپلې کوټې ته ولاړه شه.» (ذکويي) خپلې د ناستې ځاې ته ولاړه اوهغوی دواړه ټوله شپه په همدې ځاې کې په خبرو کولو اوپلان جوړولو کې مشغول پاته شول.

*****(۱۲)

صلاح الدين ايوبي د دواړو فوځونو د يوځاې کيدو او مدغم کيدو له پاره اوه ورځې وخت ټاکلي و ، په دې هکله کاغذي کارونه روان و. ناجي هم په پوره توګه تعاون کاوه ، څلور ورځې تيرې شوی وې ، په دې دوران کی ناجي يو ځل بيا د صلاح الدين ايوبي سره کښيناست ، خو هيڅ ډول شکايت او ګيله ئې و نه کړه ، د خپل تفصيلي را پور په ورکولو سره ئې صلاح الدين ايوبي په دې ډاډمن کړ چې په اومه ورځ به دواړه فوځونه يوبل کې مدغم کړل شي. د صلاح الدين ايوبي نائبينو هم هغه ته ډاډ ورکړ چې ناجي په پوره توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعاون کوي ، خو د بن سفیان را پور لړځه اندېښنه را پیدا کوله ، دهغې جاسوسي شبکې را پور ورکړې و چې په سوډاني فوځ کې نا ارامی او نا قراري مخ په ډیریدو ده. هغوی مصري فوځ سره په یوځاې کیدو خوښ نه دي ، دهغوی تر منځ دا افواه خپریږي چې په مصري فوځ کې د ادغام نه وروسته به دهغوی حیثیت د غلامانو په څیر شي، هغوی ته به د غنیمت مالونه هم نه ورکول کیږي، او د هغوی څخه به د درنو کارونو د تر سره کولو کار اخستل کیږي، او د ټولو ستره خبره دا چې هغوی ته به د شرابو د څښلو اجازه هم نه ورکول کیږي. علي بن سفیان دا ټول راپوروته صلاح الدین ایوبي ته ور ورسول ، ایوبي ورته وویل چې دا خلک د ډیرې مودې څخه په عیش او عشرت کې را لوي شوي دي. په دې خاطر به هغوی په دې نوي بدلون خوښ نه وي، زه ډاډمن یم چې هغوی به د نوو حالاتو او چاپیریال سره ځانونه عادي کړي.

« رښتیا !دهغې انجلۍ سره دې بیا لیدنه شوې که نه ؟» صلاح الدین ایوبي ترې و پوښتل.

«نه !» علي ځواب ورکړ ، « هغه سره د لیدنې امکانات په نظر نه راځي ، زما کسان نه دي توانیدلي له هغې سره بیاووینې، هغه اوس ناجي په زندان کې بنده کړې ده ، »

ددې څخه یوه شپه د مخه یوه پیښه وشوه ، شپه لړلړ تیاره شوې وه ، (ذکوبي) په خپله کمره کې ځانته ناسته وه ، ناجي او اوروش په بله کمره کې و ، هغې د آسونو د پښو اواز واورید ، پرده ئې لرې کړه او وئې کتل چې بیرون د چراغونو په رڼا کې دوه آسپ سواره د اسونو څخه را کوز شول. د لباس له اړخه هغوی تاجران معلومیدل ، خو د آسونو څخه د را کوزیدو وروسته هغوی نیغ د ناجي د کمرې په لور ولاړل ، نو دهغوی د چال څخه را څرګندیده چې هغوی تاجران نه دي ، په همدې وخت کې اوروش بیرون را ووت ، دواړه سپاره د هغه په کتلو سره و دریدل ، اوروش ته ئې د سپاهیانو په څیر سلام وکړ. اوروش د هغوی شاوخوا ته وکتل او دهغوی د لباس ننداره ئې وکړه، بیا ئې هغوی ته وویل چې وسله مو چېرې ده ، دواړو ورته خپلې وسلې و ښوولې ، دهغوی سره کوچنۍ تورې او خنجرونه وو، اوروش هغوی دننه یوړل ، دروازه چې په دروازه کې ولاړه و.

(ذکوبي) په ژور فکر کې ډوبه شوه ، هغه د خپلې کمرې څخه را ووته او د ناجي دکمرې په لور ئې مخه کړه ، خو دروازه چې هغه په دروازه کې و دروله ، او ورته ئې وویل چې هغه ته حکم شوی دي چې هیڅوک هم دننه را پرې نږدي. حال دا چې (ذکوبي)ته هلته داسې مقام ورپه برخه شوی و چې قومندانان ئې هم د حکم لاندې و ، د دروازه چې په درولو سره هغې محسوس کړه چې کومه مهمه خبره شته ، هغه ته را په یاد شو چې نژدې دوه شپې تر مخه ناجي دهغې تر مخه اوروش ته ویلي و چې « زه عیسائې پادشاهان دکومک له پاره راغواړم ، ته دوه پیغام وړونکې تیار کړه ، چې هغوی ته تر ډیر لرې ځابه پورې تګ ور په غاړه دي.» او بیا هغې ماته حکم وکړ چې خپلې کمرې ته ولاړه شي. او هغه د بغاوت خبرې هم کړې وې. »

هغې د دې ټولو خبرو په هکله هر اړخیزه فکر وکړ او بیرته خپلې کمرې ته ولاړه ، دهغې او د ناجي د ځانګړې کمرې تر منځ یوه دروازه وه چې هغې بلې لورې ته ترلې وه، هغې د همغې دروازې سره غوږ ونیو ، ددننه څخه د سوکه خبرو اواز را ته، خو په خبره ئې ځوک نه شو پوهیداې ، د لږځنډ وروسته هغې ته د ناجي لوړ اواز په غوږ شو ، چې وئې وویل« د اباد یو څخه لرې اوسئ ، که چیرې څوک مو په شک کې د نیولو هڅه وکړي نو تر ټولو لمړې دا پیغام له منځه یوسئ ، په خپل ځان باندې هم لوبې وکړې او هر څنګه چې په لار کې درته را مخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيږي هغه له منځه يوسئ ، ستاسې سفر به څلور ورځې اخلي ، خو هڅه وکړئ چې په درې ورځو کې ورسيږئ، دشمال شرق لورې ته ، لورې هير نه کړئ، شمال شرق»

دواړه کسان بيرون راووتل ، (ذکويي) هم بيرون را ووتله ، هغې و کتل چې دواړه په‌آسونو سپريږي،ناجي او اوروش هم بهر ولاړ دي ، کيداې شي سپرو ته د خداې پامانۍ په خاطر را وتلي وي ، سپاره په ډيره چټکۍ سره روان شول ، ناجي چې کله سترګې په (ذکويي)باندې و لګيدې نو ور غږ ئې کړ او ورته ئې وويل« زه بيرون ځم ، کار مې ډير زيات دې ، ته ارام وکړه ، که چېرې په ځانته والي کې دې زړه تنګيږي نو د حويلۍ په انګړ کې قدم وهه ،»

«هو !»(ذکويي) ورته‌وويل « د هغه‌وخته څخه چې دلته راغلې يم بيرون نه يم وتلې ،»

ناجي او اوروش ولاړل ، (ذکويي) چُوغه‌واغوستله ، په ملابند کې ئې خنجر ښخ کړ او د حويلۍ په‌لور روانه شوه ، هغه ځاې يو څو سوه ګزه لرې و ، هغې ناجي ته دا ډاګيزه کوله چې هغه حويلۍ ته ورغلې ، دروازه چې ته هم هغې همداسې ويلې و ، حويلۍ ته په ورننوتلو سره د حويلۍ اوسيدونکې ټول حيران شول ، هغه دلمړي ځل له پاره هلته تللې وه ، ټولو په ډير درنښت سره هغې ته ښه راغلاست ووايه ، هغه دوه نجونو، چې ددې د وژلو پلان ئې ترتيب کړې و ، هم ورته ښه راغلاست ووايه ، (ذکويي)د ټولو سره لاس ورکړ او دهر يوه سره ئې خبرې وکړې او بيرته‌ولاړه ، هغه ملازمه‌هم هملته‌وه چې ددې د وژلو له‌پاره ورته پلان ورکړل شوی و. هغې (ذکويي)ته په ډيره ژوره توګه‌وکتل ، خو (ذکويي)بيرون را ووتله ،

د حويلۍ او دناجي د ځاې ترمنځ لاره د لوړو ژورو نه جوړه وه، (ذکويي) چې کله د حويلۍ څخه‌ووتله نو د ناجي د استوګنځاې په‌لور د تللو پر ځاې ډيره په چټکۍ سره په يوي بلې لورې روانه شوه. د هغې پسې وروسته يوبل تور سيورې هم را روان و. هغه د کوم انسان پرته بل څه نه شو کيداې ، خو د سر نه تر پښو پورې په يوډول لباس کې پټيدل ئې يوه بُت ته‌ورته و ، کله چې (ذکويي) خپل تګ نور هم چټک کړ نو دې سيورې هم په خپل تګ کې تيزوالې راووست. مخته ګڼ ځنګلي بوټي و ، (ذکويي)هملته پټه شوه ، تور سيورې هم په همدې ځنګل کې ورک شو. ددې څخه نژدې سل يونيم سل ګزه لرې د صلاح الدين ايوبي استوګنځاې و ، چې په چاپير کې ئې د فوځ لوړو رتبه مامورين اوسيدل.

(ذکويي)همغې لورې ته تلله، د هغې د خوزيدو سره سم هغه تور سيورې هم را پورته شو ،سپوږمۍ ډيره صافه وه ، خو ددې سره سره بياهم دهغې سيورې مخ په نظر نه راته ، دهغې د پښو او قدم اواز هم نه پورته کيده ، د سيورې لاس پورته شو او په لاس کې ئې خنجر و ځليد ، او په ډيره چټکۍ سره ئې خنجر د (ذکويي) د کيڼ اړخ اوږې او څټ ترمنځ ورننويست ، (ذکويي) اواز و نه ويست او خنجر ئې له تنې وويست ، (ذکويي)ددومره ستر زخم د خوړلو سره سره بياهم په ډيره تيزۍ سره خپل خنجر دملابند څخه راوويست ، کله چې هغه سيورې پرې بل وار کاوه نو (ذکويي) د هغې د خنجر لاس په خپل لاس کې کلک کړ او په خپل خنجر ئې دهغې سينه وخيرله. هغه اواز واوريد ، او دا اواز د يوي ښځې اواز و ، (ذکويي) ددويم وار له‌پاره خنجر پورته کړ او دا ځل ئې د هغې په ګُلمو کې ئې ورننويست ، ددې سره يوځاې دهغې په خپل اړخ کې هم خنجر و لګيد خوزخم ئې ډير ژور نه‌و. سيورې د زخمونو له‌لاسه پر ځمکه را پريوت ،

(ذکويي)دا ونه کتل چې پر دې دا غلچکي يرغل کونکې څوک و ، هغې منډه واخسته ، د هغې د جسم څخه وينه بهيده ، هغې ته د صلاح الدين ايوبي استوګنځاې د سپوږمۍ په رڼاکې تر سترګو شو. نيماې لاره ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهلی وه چې سر پرې و ګرځيد ،دهغې په تګ کې سستوالي راپيدا شو ، هغې چيغې پيل کړې « علي.. ايوبي ،... علي ....ايوبي...» دهغې کالي په وينو سره شوی و اوپه ډيره سختۍ سره ئې قدم اخستلای شو. دهغې منزل ته ډيره لږه لار پاته وه خو هلته ته ئې رسيدل ورته شوني نه ښکاريدل. هغه په پرلپسې توګه علي بن سفيان او صلاح الدين ايوبي ته اوازونه کول، هلته نژدې يوه ساتونکې پهره کوله ، دغه ساتونکې د هغې اوازونه واوريدل نو ورمنډه ئې کړه (ذکوبي) پر هغې ور ولويده او ورته ئې وويل « ما د مصر اميرته ورسوه ،ژر کوه ، ژر کوه ، ساتونکې چې هغه په وينو ککړه وکتله نو په اوږه ئې را واړوله او منډې ئې کړې.

*****(۱۳)

صلاح الدين ايوبي په خپلې کمرې کې ناست د علي بن سفيان راپور ئې اوريده ، دهغه دوه نور نائبان هم ورسره يو ځاې و. دا راپورونه دومره په زړه پورې نه و. علي بن سفيان د بغاوت انديښنه ښووله چې غور پرې کيده، دروازه چې د ويرې په حال کې دننه را ننوت، او وئې ويل چې يو سپاهي يوه زخمي نجلۍ په شا ددروازې بيرون ولاړ دې ، او وائې چې دا نجلۍ د مصر د امير سره کتل غواړي ، ددې خبرې داوريدو سره سم علي دغشي په څير د کمرې څخه بيرون راووت. د هغې پسې صلاح الدين ايوبي هم را منډه کړه ، انجلۍ ئې دننه راوړه ، صلاح الدين ايوبي وويل چې سمدستي طبيب او جراح را وبولئ ،نجلۍ د صلاح الدين ايوبي په پالنګ باندې واچول شوه ، د لږ ځنډ وروسته پالنګ په وينو تک سور شو.

«هيڅوک مه را بولئ ،» نجلۍ په کمزوري اواز سره وويل ، «ما خپله دنده تر سره کړې ده»

«ته چا زخمي کړې ئې (ذکوبي)؟» علي بن سفيان تري و پوښتل.

« تر هر څه لمړې ضروري خبرې واورئ» (ذکوبي) ورته وويل « دشمال شرق لورې ته دوه اسپ سواره وليږئ ، هغوی ته به دوه سواره تر سترګو شي ،د دواړو بادامی رنګ چوغې په ځان کې دي ، د يوه آس سور او دبل تور دې ، هغوی د تاجرو په څير دي، دهغوی سره د سالار ناجي يو پيغام دې چې عيسائي پادشاه فرينک ته ئې استولې دې ، د ناجي دا سوداني فوځ به بغاوت کوي ، ماته ددې اخوا نور څه معلوم نه دي ،ستاسې سلطنت دسترګوانې سره مخ دې ، هغه دوه سپاره په لار کې و نيسئ ، دهغوی سره د پيښې ټول تفصيل موجود دې.، په همدې خبرو خبرو کې په (ذکوبي)باندې بې هوشي راغله.

دوه طبيبان راغلل ، هغوی د (ذکوبي)د وينې د بندولو هڅه وکړه ، دهغې په خوله کې ئې دوائې ور واچوله ، چې په اغيز ئې هغه يو ځل بيا دخبرو کولو شوه، هغه ضروري پيغام رسولې و، دهغې وروسته هغې نورې ټولې خبرې چې ورته معلومه وې ، واورولې ، دنمونې په توګه ناجي د اوروش سره څه ډول خبرې کولې ، او هغه ئې څه ډول د خبرو له ځاې څخه خپلې کمرې ته استولې وه ، دناجي غصه او منډې ترړې ، ددوه سپرو راتګ،........ بيا هغې وويل چې هغه نه پوهيږي چې پر هغې باندې يرغل کونکې څوک و. ځکه هغې د فرصت اووخت نه په ګټې اخستلو سره دراپور ورکولو په خاطر دې خوا د راتګ هڅه کوله چې د شا له خوا چا پرې د خنجر وار وکړ. هغې هم د خپل خنجر په واسطه په يرغل کونکې باندې وار وکړ ، دېرغل کونکې اواز دا په ډاګه کوله چې يرغل کونکې کومه ښځه ده. هغې د يرغل اوحملې ځاې ور وښود ، هغه ځاې ته ئې سمدستي ساتونکې ور واستول ، خو (ذکوبي)ويلې و چې هغه ژوندۍ نه شي پاته کيداې، ځکه چې زما خنجر دهغې په سينه او ګُلمو کې ور ننوتې دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وينه نه دريدله ،ډيره وينه له مخکې بهيدلې وه ، (ذکويي)د صلاح الدين ايوبي لاس و نيو او ښکل ئې کړ نو وئې ويل « الله دې تا او ستا سلطنت تل سلامت ولري ، ته ماتې خوړونکې نه ئې ، له ماڅخه ډير هيڅوک دا نشي ويلاې چې د صلاح الدين ايوبي ايمان څومره ټينګ او پوخ دې.» بيا ئې علي بن سفيان ته مخ را واړاوه، «ماخو به څه کمې نه وي کړې؟ هغه دنده چې تا را سپارلې وه هغه مو پوره کړېده»

«تا د هغې ښځه چې مونږ درته ويلې و زياد وکړل» علي بن سفيان ورته وويل ،«زما په وهن او ګمان کې هم نه و چې ناجي به تر دې حده پورې خطرناکه کارونه وکړي او تا ته به د خپل ځان ځارنه درپيښه شي ،ما خو ته هلته يواځې د ځارکښۍ له پاره ليږلې وې.»

«کاش چې زه مسلمانه وائې» (ذکويي)ورته وويل ، د هغې دسترګو څخه اوښکې را رواني شوې ، نو وئې ويل«زما ددې کار هرڅومره بدله چې ماته راکول غواړئ ، هغه زما رانده پلار او په ناروغيو اخته مورته ورکړئ، زه دهغوې مجبوريتونو د دولس کاله په عمر نڅونکې ګرځولې وم.»

د (ذکويي)سر يوې لورې ته پريوت ، سترګې ئې نيمائې پرانستې وې او شونډې ئې داسې خلاصې وې لکه څوک چې مسکې شي. طبيب ئې په نبض لاس کښېښود او د صلاح الدين ايوبي په لور ئې وکتل او سرئې و خوځاوه ، د (ذکويي) روح د هغې د جسم څخه الوتې و.

صلاح الدين ايوبي وويل « داچې د هر مذهب سره وه ، خو په پوره عزت سره ئې خاورو ته و سپارئ ، هغې د اسلام له پاره ځان ځار کړ، حال داچې که هغې غوښتلې نو مونږ ته ئې دوکه هم راکولې شوه.»

دروازه چې راغې او وئې ويل چې ، بيرون د يوې ښځې لاش راوړل شوې ، لاړل او وئې کتل چې دنيمائې عمر د يوې ښځې لاش دې ، دپيښې په ځاې کې دوه خنجره موندل شوې ، دا ښځه هيچا هم نه پيژندله ، دا د ناجي د حويلۍ ملازمه وه چې د انعام په خاطر ئې په (ذکويي) باندې وژونکې غلچکې يرغل کړې و. (ذکويي)د شپې شپې د فوځې رسم ورواج په ترسره کولو په ډير درنښت سره خاورو ته و سپارل شوه، او د ملازمې لاش ته ئې يو کنده وويستله او خاورې ئې پرې واړولې ، دواړه په ډيره پټه توګه خاورو ته و سپارل شو ، کله چې د هغوې د خاورو ته د سپارلو پروګرام روان و نو صلاح الدين ايوبي دښه نسل اته آسونه راوغوښتل او دخپلو ساتونکو څخه ئې اته کسان و ټاکل او هغوې ئې د علي بن سفيان په مشرۍ د ناجي د هغه دوه استازو پسې ، چې د ناجي پيغام ئې له ځانه سره دعيسايانو پادشاه ته ور وړ ، واستول.

«(ذکويي) څوک وه ؟»

دا د مراکش د هيواد يوه نڅونکې رقاصه وه ، هيچاته معلومه نه وه چې مذهب ئې څه دې ؟ هغه نه مسلمانه وه اونه عيسايې، لکه څنګه چې وويل شول چې علي بن سفيان د صلاح الدين ايوبي د انتيليجنس ( Intelligence ) يعنې د ځارکښۍ او د رازونو د راټولولو د څانګې مشرو ، او هغه ته د نورو د اسرارو او رازونو د موندلو له پاره مختلفې لارې غوره کول و ، نو په دې اساس صلاح الدين ايوبي هغه له خپله ځانه سره مصر ته راوستې و، دلته په راتللو سره ورته څرګنده شوه چې د سوډاني ساتونکې لښکر ډېلې سالار ناجي يو سازشي او شيطان صفته انسان دې ، هغه د ناجي د حال د معلومولو له پاره دهغې پسې دخپلو جاسوسانو جال غوړولې و. هغه ته د راز يوه دا پټه ډاګيزه شوه چې ناجي د حسن بن صباح د فدايانو په څير خپل مخالفين دښايسته نجونو او حشيشو په واسطه په خپل جال کې را نښلوي ، يا ئې د خپل ځان غلاموي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا ئې له منځه وړي ، علي بن سفیان د ډیرو زیاتو هڅو وروسته (ذکویي)د مراکش څخه را وبلله ، او په خپله ئې د انسان پلورونکو په بهه کې هغه په ناجي و پلورله ، ددې نجلۍ سره داسې جادو و چې دهغې په واسطه ناجي غوښتل هغه د صلاح الدین ایوبي پر خلاف استعمال کړي ،خو هغه په خپله ددې نجلۍ په دام کې و نښت ، نښتل هم داسې چې د خپل نائب سالار سره ئې ددې نجلۍ تر مخه د راز ډیرې مهمې خبرې هم کولې.

ناجي (ذکویي)د جشن په شپه د صلاح الدین ایوبي خیمې ته واستوله ، او پر خپله دغه بریا باندې ، چې هغه د صلاح الدین ایوبي بُت ورمات کړ ، ډیر ویاړیده ، د هغه گمان داو چې اوس به هغه دهمدې نجلۍ په لاسو شراب هم څښي ، او په دې ترتیب به هغه خپل مرید او غلام وگرځوي ، خو دهغې شیطانانو ته هم دا پوهه نه وه ورپه برخه شوی چې (ذکویي) پخپله د صلاح الدین ایوبي جاسوسه ده ، هغه ورته هلته په خیمه کې راپورونه ورکوي ، او بیرته د صلاح الدین ایوبي څخه د راتلونکو پروگرامونو په هکله هدایت اخلي. (ذکویي)د هغې دخیمې څخه د وتلو وروسته بلې لورې ته تللې وه ، چې هلته ورته د سر نه تر پښو پورې پټ یو انسان انتظار کاوه ، هغه انسان پخپله علي بن سفیان و ، چې هغه ورته څه نورې لارښوونې هم وکړې ، دهغې وروسته (ذکویي)د ناجي د کوره څخه بیرون را و نه شوه وتلای ، په دې خاطر هغې علي بن سفیان ته بل کوم راپور ورنه شو کړای ، خو کله چې ورته وخت تر لاسه شو او هغه دهمدې راپور د ورکولو له پاره چې د الله پرته بل چاته معلوم نه و ، را ووتله،نو د هغسې پیښې سره مخ شوه ، دا د (ذکویي) بدنصیبي وه چې په حویلۍ کې دهغې پرخلاف پدې خاطر سازش کیده چې هغې پر ناجي قبضه کړې ده ،دا سازش کامیاب شو او (ذکویي) ووژل شوه ،خو هغه د اطلاع تر را رسولو پورې ژوندۍ پاته شوه.

دهغې دمړینې څخه څو ورځې وروسته ، هغه معاوضه چې علي بن سفیان ئې ورسره ژبه کړې وه د صلاح الدین ایوبي له اړخه د انعام سره یوځای او هغه رقم چې علي بن سفیان په ناجي د هغې د پلورلو په واسطه تر لاسه کړې و ،ټول دهغې معذورو والدینو ته په مراکش کې ورکول شو.

*****(۱۴)

دمرگونې شپې ستورې له منځه ولاړل اود سهار د را څرگندېدو سره سم علي بن سفیان دخپلو اتو نورو ملگرو سره په ډیره چټکۍ سره د شمال شرق په لورې خپل اسونه وځغلول ، ابادۍ ډیرې وروسته پاته شوی، هغه ته په ډاگه وه چې د فرینک دربار ته کومه لار ورغلې، که څه هم دا عربي آسونه په ستړتیا کې هم تازه دمه معلومیدل ، خو بیا ئې هم د شپې له اړخه خپلو آسونو ته لږ څه ارام ورکړ. هلته لرې دلمرخاته خواته علي بن سفیان دوه اسپ سواره و کتل چې خپل آسونه ځغلوي ، هغه د خپلو ملگرو لاره بدله او د کوچنیو غونډیو په ژورو کې ئې خپل آسونه په ځغاسته کړل ، هغه ددښتو په لیکو ښه پوهیده ، د لارې د خطا کولو اندېښنه ورسره نه وه ، هغه خپلې ډلې ته د نور تیز تگ امر وکړ. دمخکې سپرو او ددوی تر منځ او س نژدې څلور میله فاصله پاته شوی وه. دا فاصله نژدې شوه خو آسونه ستومانه و. کله چې هغه د کجورو بوټو ته ورسید نو هغه دوه سپاره نژدې دوه میله لرې د خاورو د یوې غونډۍ سره روان وو ، د هغوی آسونه به هم ستومانه شوی و. دواړه سواره د آسونو څخه را ښکته شول او په همدې ځای کې له نظره ورک شول. او لاره ئې بدله کړه.

فاصله د وخت په تیریدو سره کمیده اوکله چې فاصله څو سوه گزه پاته شوه نو هغه دواړه سپاره د بلې لارې څخه مختته راغلل. هغوی د آسونو د ځغلولو اوازونه اوریدلې و ، هغوی بیرته له نظره پناه شول ، علي بن سفیان خپل آس نور هم ورتیز کړ پاته نور و سپرو هم خپل اسونه په ځغاسته کړل ، کله چې د غونډیو دننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلل نو ګورې چې هغه دواړه سواره دهغې ځاې څخه چېرې خوندي ځاې ته تللې و. خو هغوى کوم لرې ځاې ته نه و تللې همملته لنډ چېرته پټ و ، او ګمان کېده چې ويريدلي به وي ،مخکې شګلوړه غونډۍ وي چې لاره پيدا کول په کې ستونزمنه خبره وه. علي بن سفيان خپل آسونه په يوه صف کې و درول ، او پخپله تښتيدونکو ته نژدې سل ګزه نژدې ور ورسيد ، يو غشي ويشتونکې د لرې څخه د ځغليدونکې آس څخه يو غشې وويشت ، چې د يو ه آس په پښه کې و نښت ،آس د کنترول‌ه ووت ، د لږ څه منډو ترړو وروسته هغه دواړه محصور شوى و ، هغوى خپله وسله پر ځمکه و غورځوله ، او درواغ ئې وويل ، خپل ځانونه ئې تجاران و ښول ، خو د تالاشۍ په وخت کې ترې هغه پيغام تر لاسه شو چې ناجي ورکړې و ، ددواړو لاس و پښې ئې ور وتړلې ، آسونو ته ئې د ارام کولو وخت ورکړ او د لږ څه ځنډ وروسته ټول بيرته راستانه شول.

صلاح الدين ايوبي په ډير بې صبرۍ سره انتظار کاوه ، ورځ تيره شوه ، شپه هم په تيريدو و ، نژدې نيمائې تيره شوى وه ، ايوبي په خپله بستره باندې پروت و . او سترګې ئې سره ورغلې وي.د سهار په مهال ددروازې په نرم ټک ټک سره دهغې سترګې و غوړيدې ، منډه ئې کړه او دروازه ئې پرانسته ، ګوري چې علي بن سفيان ولاړ دې ، دهغې تر شا دهغه اته ملګرې او دوه بنديان ولاړ دې. علي او دهغې بنديان ئې خپلې کوټې ته را وبلل، او د علي څخه ئې د ناجي پيغام واخيست او وئې لوست ، لمړې خو ئې د مخ رنګ تک ژير شو اوبيا يو ناڅاپه لکه وينه ئې چې په جوش کې راغلې وي او مخ او سترګو ته ئې ختلې وي ، داسې سور والې په کې را وځليد .

دناجي پيغام لږ شانته اوږود و ، هغه دا د صليبيانو يو پادشاه «فرينک » ته ليکلې و چې هغه دې په دغه دغه ورځ ،او دغه تاريخ د يونانيانو ، روميانو او نورو صليبيانو سره يوځاې د خپلې بحري بيړۍ په واسطه خپله فوځونه د روم په بحيره کې ښکته او پر مصر دې يرغل راوړي ،د يرغل د خبر سره سم به دغه پنځوس زره سوډاني فوځ د مصر د امير پر خلاف بغاوت کوي ، دمصر نوي فوځ به د بغاوت او ستاسې د فوځي يرغل دواړو مقابله په يوه وخت کې ونه شي کولاې ،... ددې سره ناجي د ټول مصر او يا د مصر د يوي برخې د حاکميت شرط هم کښيښودې و.

صلاح الدين ايوبي پيغام وړونکې دواړه کسان په توره کوټه کې بنديان کړل او سمدستي ئې د خپل فوځ يوه ډله و استوله تر څو ناجي او د هغې نائيبين په خپلو خپلو کورونو کې تر څارنې لاندې و نيسي. دناجي د حويلۍ ټولې ښځې ئې ازادې کړې ، دهغې ذاتي خزانه ئې په سرکاري خزانې کې راګډه کړه ، خو دا ټول هر څه ئې پټ و ساتل ، صلاح الدين ايوبي د علي بن سفيان په کومک سره په هغه پيغام کې چې تر لاسه کړې ئې و دېرغل تاريخ تبديل کړ اوخپلو دوه ذهينو وګړو ته ئې دا پيغام ورکړ او د فرينک په لور ئې و استول ، هغودواړو ته ويل شوى و چې خپل ځانونه دناجي استازي وښيي. دهغوى د استولو سره سم ئې په مصري فوځ کې د سوډاني فوځ د وريوځاې کولو پريکړه هم وځنډوله،

اتمه ورځ استازي بيرته راغلل ، هغوى فرينک ته د ناجي پيغام ور رسولې و او دناجي په نوم ئې د فرينک څخه هم پيغام له ځانه سره راوړې و. فرينک ليکلې و چې د تاريخ څخه دوه ورځې د مخه دې سوډاني فوځ دمصر د امير پر خلاف بغاوت وکړې ،ترڅو صلاح الدين ايوبي ته د صليبيانو د يرغل فکر هم په ذهن کې را و نه ګرځي او دخپل باغي فوځ په ټکولو کې مصروف پاته شي. علي بن سفيان د صلاح الدين ايوبي په اجازې سره هغه دواړه استازي هم تر څارنې لاندې و نيول ،دا عزتمنده څارنه وه، چې په کې دواړو ته د ارام اوښه غذا ټولې اړتياوي پوره شوى وي ،دا يو احتياطي تدبيرو تر څو دا راز بيرون را ونه وځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاح الدین ایوبي د روم د بحیرې په ساحل کې په هغه ځایو باندې خپل فوځونه پټ واچول چېرې چې د صلیبیانو بحري بیړۍ لنگر اچو. هغه ددې ځاې څخه لږ شانته لرې خپله بحري بیړۍ هم ودروله ، یرغل ته لا یو څو ورځې پاته وې ، یو تاریخ پوه « سراج الدین » لیکې چې سوډاني فوځ د صلیبیانو د یرغل تر مخه بغاوت کړې و چې ایوبي هغه د ټوپک په زور نه بلکه دډپلوماسۍ او ښیگڼې په واسطه ارام کړې و ،د بغاوت د ناکامۍ یو سبب داهم کیداې شي ، چې باغیانو ته خپل سالار ناجي په هیڅ ځاې کی نه تر سترگو کیده ،او نه ئې کوم نائب په نظر راته ، هغوی ټول لا د پخوا څخه بندیان و ، خو یوبل تاریخپوه «هیتاچې » لیکې چې سوډاني فوځ دصلیبیانو د یرغل څخه ډیر وروسته بغاوت وکړ، خو دغه دواړه تاریخ پوهان په نورو پیښو کې د یوه آند خاوندان دي. دواړو دا لیکلي چې صلاح الدین ایوبي د شپې د شپې ناجي او دهغې نائیبینو ته دمرگ سزا ورکړه او په نوم ورکو قبرونو کې ئې ورښخ کړل.

دې دواړو تاریخ پوهانو د یوه بل تاریخ پوه «لین پول » سره یوځاې د صلیبیانو د فوځونو شمیره یو شان ښوولې ده ، هغوی لیکې چې په لیک کې د لیکل شوی تاریخ په مطابق دصلیبیانو بحریه چې په کې د فرینک ، یونانیانو ، رومیانو او سسسلي بحریې ځواکونه شامل و د یوه قوماندې لاندې د روم په بحیره کې را ښرگند شول ، د تاریخپوهانو د شمیرو په مطابق په دې بحري بیړه کې د جنگي جهازونو شمیره یوسل او پنځوسو ته رسیده، ددې نه اخوا دولس ستر جنگی جهازونه هم و چې په کې په مصر باندې د یرغل له پاره عسکري ځواکونه بار وو. ددې فوځونو عسکري قوماندان «ایملرک» و ، ددې نه اخوا هغه بادې کشتئ چې خوراکې مواد پرې بار و د هغوی شمیره نه معلومیده ،دا ټول جهازونه په دوه قطارونو کې را روان و.

ددفاع قومنده صلاح الدین ایوبي په خپلو لاسو کې واخسته ، هغه پرېښول چې د صلیبیانو بحریه تر ساحله پورې را ورسیږي ، کله چې دتر ټولو لوي بحري جهاز لنگر واچاو، نو یو ناڅاپه ئې د اور لاندې و نیوه ، دا د منجنیقونو څخه ورغورځونکې د اور شعلې وي ددې ترڅنگ د اور گولۍ او داسې غشي هم و چې دهغوی وروستۍ برخې له ځانه سره اور لیږداوه. د مسلمانانو له اړخه د ورتوغول شوی اور په واسطه ددې جهاز او کشتیو بادبانونه اوسوځیدل ، جهازونه چې د لرگیو څخه جوړ شوی و د اور په لمبو کې را و نغښتل ، د بله اړخه دمسلمانانو بحري بیړه هم په حرکت راغله هغوی هم دصلیبیانو د جهازونو په لور د اور په توغولو پیل وکړ، داسې بریښیده لکه دروم بحیرې چې اور اخستې وي ، دصلیبیانو جهازونو د وارښتائې څخه مخونه بل لورې ته کړل او په خپلو منځو کې یو له بله سره په ډغرو اوټکرو شول اویو بل ته ئې اور واچاوه ، صلیبي فوځیان په سمندر کې ور و غورځیدل ، دهغوی له ډلې څخه چې کوم سپاهیان وچې ته را ووتل نو هغوی د صلاح الدین ایوبي د فوځیانو د غشو ښکار شول.

د بله اړخه نورالدین زنگي د فرینک پادشاه په سلطنت یرغل ور وړ ، په دې وخت کې فرینک خپل یو شمیر فوځیان په مصر باندې د یرغل له پاره د وچې له لارې را استولي و. او پخپله فرینک د خپلې بحریې سره یوځاې را روان و. کله چې ورته په خپل سلطنت دیرغل کولو خبر را ورسید نو په ډیره سخته توگه ئې ځان خوندي او د خپل سلطنت په لور ور و خوځید.خو هلته نړۍ بدله شوی وه ، د روم په بحیره کې د صلیبیانو متحده بیړه په اورکې و سوځیده او فوځ ټول یا خو ډوب شو او یا په بیړیو کی وسوځیده ، یواځې «ایملرک » د صلیبیانو قومندان ددې هلاکتونو څخه خوندي پاته شوی و. هغه وسله وغورځوله او د سولې وړاندیز ئې وکړ چې د ډیر ستر رقم په بدله کې ئې وړاندیز ومنل شو. د یونانیانو او سسلي یوڅو جهازونه چې د ساحل څخه لرې پاته و ، د سوځیدو څخه خوندي پاته شوی و. صلاح الدین ایوبي هغوی ته د خپلو جهازونو د بیرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړلو اجازه ورکړه. خو په لاره کې د اسې بحري طوفان راغې چې هغه ټول ئې په اوبو کې د جنګ پرته ډوب او غرق کړل.

د ډسمبرپه ۱۹مه په ۱۱۷۹ زیږدیز کال صلیبیانو په خپلې ماتې باندې لاسلیک وکړ او صلاح الدین ایوبي ته ئې د جنګ تاوان ورکړ.

دجنګ او جګړې زیا ت شمیر تاریخ پوهانو د صلاح الدین ایوبي ددې سوبې شمله د هغې د څارکښنې د شبکې د مشر علي بن سفیان په سر ږدي، ددې تر څنګ د (ذکویي)تر نامه لاندې دنځونکې نجلۍ د رول په هکله یو مراکشي تاریخ پوه «اسدالاسدي» یادونه کړې ده او دعلي بن سفیان سره ئې د پیژندګلوۍ په هکله هم همدې تاریخ پوه لیکنه کړې ده ،

دا خو پیلامه وه ، ددې وروسته د صلاح الدین ایوبي ژوند نور هم ډیر په ګواښونو او خطرونوکې ډوب شو.

*****(۱۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دصليبي جاسوسي شبکو لخوا د روزل شوو نجونو نادودې او دمسلمانانو کمزورتيا(۲):

## اومه نجلۍ او نادودې ئي:

دروم په بحيره کې د صليبيانو د بحري بيړۍ او فوځ د ډوبيدو اوغرقيدو وروسته بيا هم صلاح الدين ايوبي دمصر په همدغه ساحلي سيمه کې پاته شو. اوه ورځې تيرې شوې ،دصليبيانو څخه د جنګ تاوان هم واخستل شو ، خو د روم بحيرې تر اوسه هم هغه پاته سالمې او يا سوځيدلې جنګې بحري کشتۍ او نيم ژوندي سپاهيان په خپل ځان کې ډوبول ، ځکه يو شمير صليبي ملاحانو او سپاهيانو دسوځيدونکو کشتيو څخه ځانونه په اوبو کې غورځولي و. هلته لرې په سمندر کې نژدې اوه ورځې وروسته هم د يو ځو کشتيو بادبانونه رپانده په نظر راتلل ، خو په هغو کې کوم انسان نه و ، خيرې شوو اوشليدلو بادبانونو دغه کشتۍ د سمندر رحم وکرم ته پرې ايښې وې ، صلاح الدين ايوبي د هغې پاته لاهو شوو کشتيو د پلټنې په خاطر خپلې ځارونکې کشتۍ ور واستولې ، او لارښوونه ئې ورته کړې وه چې که چيرې کومه کشتۍ سالمه ،دکار وړ او روغه پاته وې نو هغه دې ساحل ته را کش کړې ، او هغه چې کارې وړتيا و نه لري نو دهغوی څخه دې سامان او دکار وړ نور شيان راواخلي. کشتۍ ولاړې او د جهازونو څخه سامان او وسلې را ټولېدې ، په دې جهازونو کې ډيره وسله او د خوراک څښاک سامونونه ځای په ځای شوي و ،

په سمندر کې د اوبو په سر د مړو لاشونو ډير بد حال جوړ کړی و ، د اوبو څپو به هغوی د سمندر تر ساحل پورې راوړل او د ساحل سره به ئې وهل ، ددوی تر منځ څه سوځيدلي و او څه نور بيا ماهيانو او نورو بحري حيواناتو خوړلي و ، اويو شمير په کې داسې هم و چې په غشو سوري سوري شوی و ، دصلاح الدين ايوبي د صليبيانو د وسلو(غشو ، نيزو ، تورو ، او......) ژوره کتنه وکړه او هغه ئې دخپلو وسلو سره يوځای کنبيښودل او ددواړو د ځواک او توان جاج ئې واخست. دبله اړخه يو شمير ژوندي خلک لا تر اوسه هم په سمندر کې د سوځيدلو کشتيواو جهازونو په تختيو باندې لامبو وهونکې د ساحل په لور را تلل ددغو ورږو ، تږو او ستومانه شويو خلکو د لامبو تختئ چې کومې لورې ته د سمندر موجونو ويشتلې دوی به هملته دمرګ په انتظار بې هوشه پراته واو مسلمانانو به هغوی را نيول او خپلو خيمو ته به ئې را وړل ،د څو ميله اوږدو ساحل حال همداسې و. صلاح الدين ايوبي خپل سپاهيان د مصر په ټول ساحل کې خپاره کړي و. او ورته ئې ويلي و چې هر چيرې چې د سمندر څخه کوم بندي په لاس درشي نو هغه ته دځنډ پرته کالي او خوراک تيار کړئ او که چيرې کوم يو زخمي مو وموند د هغې علاج وکړئ ، ددې ټول انتظام وروسته ئې ټول بنديان يوځای کې را غونډول. صلاح الدين ايوبي پر خپل اس سپور په ساحلي سيمه کې ګرځيده ، هغه دخپلې خيمې څخه نژدې دوه ميله لرې ولاړ، مخته ورته يوه غونډۍ شکله سيمه راغله ، ددې غونډۍ يوې لورې ته سمندر او بلې ته دښته وه ،دا شينلوړه سيمه وه چې په کې د کجورو د بوټو څخه علاوه نور دښتې او ځنګلي بوټې هم را ټوکيدلي و. صلاح الدين ايوبي د خپل آس څخه ښکته او په دغه سيمه کې د خپل آس سره يو ځای په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښو روان شو. له ده سره دده څلور ساتونکې سپاره هم ملګري و. د لږ تګ وروسته ئې خپل آس خپلو ساتونکو ته ورکړ او هغوی ته ئې هملته د تم کېدو امر وکړ. له ده سره د هغې درې سالاران هم و ، په دې ډله کې دهغې د راز ملګري «بهاؤالدین شدّاد» هم و. هغه ددې جنګ څخه یوه ورځ دمخه ددې د کتلو له پاره دعربو څخه راغلې و ، هغوی هم خپل آسونه ساتونکو ته پرېښول او د سلطان سره یو ځای روان شول. هوا یخه وه او په سمندر کې هم ښکته پورته نه مالومېده ،د سمندر څپې به را تللې او لرې به د غونډیو سره دټکر وروسته بیرته ماتېدې ، ایوبي او دهغې ملګري په قدم قدم تر ډېره لرې پورې ولاړل ، ان تر دې چې د ساتونکو له نظره ورک شول ،دهغوی د شا او کیڼ لورې ته سترې سترې غونډئ او ښي لورې ته دسمندر شګې وې، هغه په یوې غونډۍ باندې و درېد چې لوړوالې به ئې دوه دوه نیم ګزه و ، د روم د بحیرې په لور ئې وکتل داسې ښکارېده چې د سمندر شینوالې د ایوبي په سترګو کې کښېوتې وي ، دهغې پر مخ د سوبې اوبریا مسکا وه، او دهغې غاړه او سر د شکر د پرځاې کولو له پاره څه ډېر ښکته شوی و .

هغه خپل رومال په پوزه کړ او پوزه ئې بنده کړه او وئې ویل « څومره بد بوي دې» . دهغه د نورو سالارانو سترګې په سمندر کې ډوبې وې ، هغوی ته د پرې پرې اوازونه تر غوږو شول ، و ئې کتل چې څو غوښه خوړونکې مرغان وزرونه پره کوي او د غونډۍ په غاړه د ساحل تر څنګ را کښېوزي ، ایوبي وویل « هلته لاشونه دي» ، دوی هلته ولاړل ګوري چې دا مرغان په درې لاشونو لګیادې او غوښې ئې را شکوي ، یوه مرغه د یوه لاش څخه د هغې کوپړۍ په خپلو پنجو کې را واخسته او والوت ، په هواکې د لږ څه الوت وروسته ئې هغه کوپړۍ ځمکې ته را پرېښوده چې د صلاح الدین ایوبي په مخ کې را پرېوته. په کوپړۍ کې سترګې پرانستې پاته وې ،داسې برېښېده لکه صلاح الدین ایوبي ته چې وینې ، د مخ او وېښتانو څخه ئې پوره په ډاګه کېده چې دکوم صلیبي کوپړۍ ده ، ایوبي هم تر ډېره ځنډه دې کوپړۍ ته کتل ، بیا ئې دخپلو سالارانو په لور و کتل او وئې ویل « ددې خلکو کوپړئ د مسلمانانو د کوپړیو څخه ښه دې ، دا ددې کوپړیو کمال دې چې زمونږ خلافت د شرابو او ښکلو ښځو او نجونو د ګرداب په څپو کې ډوبېږي او له منځه ځي.»

« هو !صلیبیان د موږه کانو په څېر اسلامي سلطنت تر حلقومه تیروي» یو سالار ورته وویل.

« او زمونږ پادشاهان هغوی ته جزیه ورکوي» شدّاد ورته وویل «په فلسطین باندې صلیبیان ولکه لرې ، سلطانه ! ایا مونږ دا هیله کولاې شو چې مونږ به هغوی د فلسطین څخه بیرون کړو ؟»

د الله د ذات نه ناهیلهه کیږه مه ، شدّاده !»صلاح الدین ایوبي ورته وویل.

«خو مونږ دخپلو ورونو د ذات څخه نا هیلهه شوی یو » یو بل سالار ورته وویل.

« ته صحیح خبره کوی !» سلطان ایوبي ورته وویل « که یرغل د بیرون څخه و ي نو هغه به مونږ دفع کړو ، ایا ستاسو څخه چا هم دا فکر کولې شو چې دکفارو دومره ستره بحری بیړۍ به تاسې ددومره لږځواک په واسطه وسوځوئ ، له منځه به ئې یوسئ، او په بحر کې به ئې ور ډوبه کړئ ؟ تاسو شاید دا نه وي کتلې چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لښکر چې په دې بېړۍ کې را روان و هغوی به په ټول مصر باندې د مچانو او ملخانو په څېر ور خپرېده. الله مونږ ته همت راکړ، او مونږ هغوی په خلاص ډګر نه ،بلکه د پټو سنګرونو په نیولو سره د سمندر په څپو کې لاهو کړل. خو زما درنو دوستانو ! هغه یرغل چې د کور د دننه څخه راټوکېږي هغه به تاسې په دومره اسانۍ سره تم نه شئ کړائ، کله چې ستاسې خپل ورور په تاسې وار کوي نو ته به د هر څه لمړې دا فکر کوی چې په رېښتیا سره ستا ورور په تا وار کړې دي ؟ ستا په متوکې به دهغې پر خلاف د توري دپورته کولو توان هم نه وي ، او که چېرې توره پورته کوی او دخپل ورور سره د ځواک ازمېښت کوی نو دښمن به د موقع او فرصت څخه د ګټې په اخستلو سره دواړه له منځه یوسي.»

هغه سوکه سوکه د ساحل په غونډیو باندې روان و ، په تلو تلو کې و درید ، ټیټ شو او د شګو څخه ئې یو کڅوړه راپورته کړه ، په دې کڅوړه کې د تورلرګي څخه جوړ شوی صلیب و، ټولو ته ئې وښود ،ددې صلیب سره یو تار هم ځړېدلې و ، هغه ددې لاشونو ټوټې هرې خواته خپرې ورې کتلې چې مرغانو ئې غوښې راشکولې ، بیا ئې هغه سروکوت چې د مرغه د پنجو څخه خلاص او ددې مخته را غورځېدلې و، هغه تیز تیز ولاړ او هغې کوپړۍ ته ئې ځان ور ساوه ، درې مرغان ددې کوپړۍ په ملکیت په خپلو منځوکې په جنګ اخته و ، د سلطان ایوبي په ورنژدې کیدو سره هغوی والوتل ، او سلطان ایوبي هغه صلیب د دې کوپړۍ د پاسه کښېښود ، او بیرته ئې منډه واخسته او د خپلو سالارانو سره یوځاې شو او ورته ئې وویل «ما د صلیبیانود یوه بندې سالار سره خبرې وکړې د هغې په غاړه کې صلیب و ، هغه وویل چې په صلیبي لښکر کې چې څوک را جذبیږي نو هغه په صلیب باندې د سوګند کولو وروسته عسکري خدمت کې اخستل کیږي ، هغه د صلیب په نوم خپل ځان هر ډول ځان ځارنې ته تیاروي، اوهغه په همدې صلیب سوګند کوي چې د ځمکې پر مخ داخرې مسلمان د له منځه وړلو پورې به ارام نه کښیني ، ددې سوګند وروسته هغوی د خپل هر لښکري په غاړه کې صلیب را ځوړندوي ، دا صلیب ماته په شګو کې تر لاسه شو ، مالومه نه ده چې د چا به وي ،ما په هغه کوپړۍ ور کښېښود تر څو د هغې روح د صلیب سره یوځاې وي. هغه د صلیب په خاطر ځان ورکړ، یو سپاهی ته د بل سپاهی د سوګند کولو درنښت په کاردې.»

« سلطانه ! » شدّاد ورته وویلي « دا خو تاته مالومه ده چې صلیبیان د بیت المقدس داوسیدونکو مسلمانانو څومره درنښت کوي؟ دهغې ځاې څخه مسلمانان خپلې ښځې او کوچنیان را باسې او بلې لورې ته تښتي، هلته زمونږ د لوڼو په ابرو او عزت لوبې کیږي ، لا تر اوسه هغوی زمونږ بندیان نه دي ازاد کړې ، هلته مسلمانان د ځناورو په څیر ژوند تیروي ، ایا مونږ د هغو عیسایانو څخه بدله وانخلو ؟»

«یوائې بدله نه !» صلاح الدین ایوبي ورته وویل « مونږ به فلسطین تر لاسه کوو ، خو د فلسطین په تر لاسه کولو کې زمونږ خپل حکمرانان زمونږ په مخکې خنډ دي» هغه په تلو تلو کې بیا و درید او وئې ویلې « کفارو په صلیب باندې په سوګند خوړلو سره د اسلامي خلافت د له منځه وړلو عزم کړې دې، خو ما د الله په دربار کې په دریدو او خپل لاس په سینه باندې د ایښولو وروسته سوګند کړې چې فلسطین به خامخا د صلیبیانو څخه ازادوم ،او د اسلامي سلطنت پولې به تر افق پورې رسوم ، خو زما دوستانو ! ماته دخپل تاریخ را تلونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډيره روښانه نه بريښي ، يو وخت چې عيسائي پادشاه و نومونړ جنګجويان و ، اوس زمونږ مشران پادشاهان شوی دي،او عيسايانو جنګجويان دي. کله چې زه دداوړه قومونو يو له بله سره پرتله کوم نوداسې انګيرم چې يو وخت به راشي چې مسلمان به پادشاه وي خو عيسائيان به پرې واکمني کوي ، مسلمانان به يواځې په دې خوښ وي چې ددوی سره پادشاهي ده ، او ازاد دي، خو دوی به ازاد نه وي ، زه به فلسطين په خپله ولکه کې راوړم ، خو دمسلمانانو ميلان ما ته په ډاګه کوي چې هغوی به فلسطين بيرته له لاسه ورکوي، دعيسائيانو کوپړۍ ډيرې تيزې دي،.... دغه پنځوس زره سوډاني فوځ څوک پالي؟ همدا اوس زمونږ پر خلاف د ناجي په ځير ماران زمونږ په لستوني کې څوک روزي؟ زه د مصر لمرنۍ اميريم چې و مې کتل چې نه يواځې دا لښکر زمونږ له پاره بيکاره دې بلکه خطرناکه هم دې ، که چېرې د ناجي ليک مو نه وائې تر لاسه کړې نو نن به مونږ ټول دهمدې لښکر په لاسو د ژونده لاس په سر شوی واې ،او يا به دهغوی په بندي ځايو کې پراته واې......»

يو ناځاپه يو کوچنې اواز راغې او يو کوچنې غشې د ايوبي د پښوتر منځ په شګو کې و لويد. هغه لورې ته د صلاح الدين ايوبي شا وه دکومې څخه چې دا غشې راغې،د سالارانو څخه هم کوم يوه هغې لورې ته نه کتل ، ټولو په چټکتياسره هغې لورې ته مخ واړاوه د کومې څخه چې غشې را غلې و، هلته کوچنۍ کوچنۍ غونډۍ وي، درې واړه سالارانو د ايوبي سره يو ځاې و ځغاستل او د يوې غونډۍ څنډې ته چې د ديوال په څير ئې عمودي شکل درلود ،کيناستل ، هغوی دا هيله درلوده چې نور غشې به هم را شي ،او د غشو تر مخ په سپين ډګر دريدل کومه د زړه ورتيا خبره نه وه ، شدّاد په خوله کې ګوتې کښيښولې او په زوره ئې شپيلې وواهه، ساتونکې چې په خپلو آسونو باندې سپاره پښې په رکاب کې دمنډې انتظار کاوه د شپيلې د اوريدو سره سم ئې آسونه را وځغلول . دهغوی د راتګ سره سم دغه درې واړه سالارانو هغه لورې ته منډې کړې د کومې څخه چې غشې راغلې و. هغوی خپاره شو او په څو غونډيو باندې ور وختل ، غونډۍ هم ډيرې هسکې نه وي ، صلاح الدين ايوبي هم د هغوی پسې ورغې ، کله چې يوه سالار هغه و کوت نو ورته ئې اواز کړ چې « سلطانه ! ته مخته مه راځه .» خو سلطان ايوبي و نه دريد او همغسې ور روان و .

ساتونکې هم ور ورسيدل ، صلاح الدين ايوبي هغوی ته وويل « زمونږ آسونه همدلته پرېږدئ او ددې غونډيو شاته ولاړ شئ، دهغې لورې څخه يو غشې راغې، هر څوک مو چې وکوت وئې نيسئ.»

کله چې صلاح الدين ايوبي د غونډۍ د پاسه وخوت ، نو هغه ته تر لرې لرې پورې سترې سترې غونډۍ خورې ورې په سترګو شوی ، هغه خپل سالاران له ځانه سره يوځاې کړل او دغونډۍ دشا له لورې را ښکته شو ، او هرې لورې ته واوښتل را واوښتل خو د هيڅ انسان نښه ئې هم تر سترګو نه شوه. ساتونکو هم د غونډيو په منځ او چار چاپير کې خپل آسونه ځغلول ، صلاح الدين ايوبي بيرته همغه ځاې ته راغې چېرته چې غشې لګيدلې و ، هغه خپل ملګري را وغوښتل ، او غشې ئې را واخست ، سلطان ايوبي وويل « غشې د لرې کوم ځاې څخه راغلې ، په دې خاطر په پښو کې ولګيد ، او که نه په څټ او يا ملا کې به لګيده ، په شګو کې هم ډير نه و ډوب شوی .» هغه غشې را پورته کړ او وئې ويل «د صليبيانو دي ، دحشيشيانو نه دې»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« سلطان ته ګواښ متوجه دی» یوه سالار وویل.

«او تل به د ګواښ سره مخ وي» صلاح الدین ایوبي ورته په خندا کې وویل ،« زه د روم په بحیره کې دکفارو د هغو کشتیو د کتلو له پاره راوتلي وم چې د ملاحانو پرته په اوبو کې لمبیدې ، خو زما ډیرو خوږو دوستانو ! هیڅکله دا و نه انګیرئ چې د صلیبیانو کشتۍ لامبو وهي، هغوی به بیا راځي دتورو وریځو په څیر به په غرهار را ځي او د باران په څیر به را وریږي ، هغوی به د ځمکې له لاندې او یا د هغې دګیډې څخه هم خپل وار کوي ، اوس خو به مونږ د صلیبیانو سره په دا سې جنګ کې مخ کیږو چې یواځې فوځونو به په کې نه جنګیږي بلکه یو هر اړخیز جنګ به وي. زه دخپلو عسکرو په جنګی روزنه کې زیاتوالې راولم ، دا د حرب او ضرب د فن نوې فصل دې ، چې د ځارکښۍ جنګ ورته ویل کیږي.

صلاح الدین ایوبي غشي په خپل لاس کې واخست او په آس سپور شو او د خپل عسکري پنډغالي په لور روان شو. دهغې سالاران هم په اسونو سپاره او وریپسې روان شول ، دهغوی څخه یوه ئې خپل آس د سلطان په ښي اړخ کې بل په کیڼ او دریم د ټولو پسې اخر ته روان کړ ، ترڅو که کوم غشي دکومې لوري څخه راځي هغه سلطان ته و نه رسیږي .»

*****(۱۲)

صلاح الدین ایوبي په دغه غشي چې یو چا د هغه د وژلو له پاره ویشتلې و لږ څه اندېښنه هم و نه ښووله ، خپل سالاران ملګري ئې په خیمه کې کښینول او ورته یې وویل چې جاسوسي او غلچکي بریدکونکي څومره زیان رسولې شي ، هغه زیاته کړه چې «ما علي بن سفیان ته لارښوونه کړې وه خو پر هغې لا تر اوسه عمل نه دې شوی ، ځکه چې ماته سمدستي د دې یرغل خبر را کړل شو او هغه پلان همداسې نیمګړې پاته شو.تاسې سمدستي داسې وکړئ چې د خپلو عسکرو او منصبدارانو څخه داسې وګړي و ټاکئ چې په جسماني او دماغي توګه دسلامتیا خاوندان وي ، ذهین ، او دپریکړې کولو د ځواک خاوندان وي ، ځان ځارونکې او د ډکر وګړي وي ، ما علي ته د همداسې وګړو صفات ور ښوولې و ، هغه داو چې ، په هغوی کې د اوښ په څیر تر ډیره وخته پورې د لوږې او تندې توان موجود وي د زمري په څیر د حملې کولو چم ورته په یاد وي ،د عقاب په څیر د تیز نظر خاوندان اوسې، د خرګوش او هرن په څیر منډې وهونکې وي ، و سله وال دښمن سره د وسلې پرته هم و جنګیږي ، د شرابو او یا نورو نشه راوړونکو شیانو عادي نه وي ، د کوم لالچ پروا و نه ساتي ، هر څومره ښایسته او ښکلې ښځه چې ورته مخته راشي او یا د زرو او جواهراتو انبارونه ئې تر قدمونو لاندې واچول شي خو ددې ټولو شیانو څخه اخوا د خپلې دندې د تر سره کولو په فکر کې وي...

«خپلو دوستان او دهغوی قومومندانانو ته په ځانګړې توګه دا وریه یاد کړئ چې عیسایان ډیرې ښایسته ،ښکلې او ځواني نجوني دڅارکښۍ او په فوځونو کې د ډاډ دختمیدو او افواهو خپرولو او د عسکرو د ملي اومذهبي جذبو د بیکاره کولو له پاره استعمالوي ، ما په مسلمانانو کې د اکمزوري لیدلې ده چې هغوی د ښځې تر مخ وسله غورځوي ، زه به هیڅکله هم مسلماني نجوني ددې موخو په خاطر ددښمن سیمې ته و نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



استوم مونږ د عصمتونو ساتندويان يو ، هيڅکله به هم د عصمت او عزت څخه د وسلې کار وانخلو ، علي بن سفيان سره يو څو نجونې شته خو هغوی نه مسلمانې دي او نه عيسايانې ، خو په هرصورت زه د ښځو څخه د داسې ګټې اخستو له پاره تيار يم.»

په دې وخت کې د ساتونکې ډلې قومندان خيمی ته را ننوت او اطلاع ئې راوړه چې ساتونکو يو څو نجونې او نارينه را وستي دي. سلطان ايوبي بيرون راووت ، هغه سره ئې درې واړه سالاران هم و، بيرون پنځه کسان ولاړ و ، چې دهغوی د اوږدو اوږدو چوغو ، لونګيو ، اونور حال څخه داسې بريښيده چې دوی دتجارانو ډله ده او په سفر روان دي ، دهغوی سره اووه (۷) نجونې هم وې، ټولې د ځوانۍ په ډير ښه پړاو کې وې ، يوه بله په ښايست کې ماتوله ، دهغې ساتونکو څخه ئې يو چې د غشي ويشتونکي په لټون پسې وتلاې و وويل چې « ټوله سيمه مې چاڼ کړه ، هيڅوک هم را ته تر سترګو نه شول ، خو کله چې لږ لرې ولاړم هلته مې دا خلک پيدا کړل چې د اوښانو سره ئې يوځاې دېره جوړه کړې وه»

«ايا دهغوی د ځانو اوښه لټون دې هم کړې ؟» يوه سالار تري و پوښتل.

« هو ! کړې مې دي»ساتونکې ځواب ورکړ ، دوی وائي چې تاجران دي ، دهغوی ټول سامان مو پرانسته او ومو کته ، ددوی دښه تالاشي مو هم وکړه ، د هغوی سره ددې خنجرونو پرته نور څه نه دې موندل شوی ،» هغه ټول هغه پنځه خنجرونه د سلطان ايوبي په قدمونو کې کښيښودل.

«مونږ د مراکش تاجران يو ،» يو تاجر را مخته شو او ووئې ويل ،« تر سکندرئې پورې ځو ، دوه ورځې تيرې شوی زمونږ مخکينې تم ځاې ددې ځاې څخه نژدې لس ميله لرې دي ، پرون ماښام دا نجونې مونږ ته راغلې ، دهغوی کالې رژيدلې او لامده و ، دوی وائې د سيسلي اوسيدونکې دي، او وائې چې يو عيسائې قومندان دوی په زور دخپلو کورونو څخه را ويستلې او له ځانه سره ئې په بحري بيړۍ کې کښينولې وې ، هغوی د ډيرو غريبو کورنيو پورې اړوندې دي، ميندې او پلرونه ئې غريبان دي ، دوی وايې چې بې شميره جهازونه او کشتۍ ولاړې ،د نجونو په جهاز کې يو څو نور قومندان ډوله سړې اود هغوی تر لاس لاندې فوځ هم و. هغوی به ددې نجونو سره د شرابو د څښلو وروسته هر ډول عيش او عشرت کاوه ، کله چې دوی ساحل ته رانژدې شول نو پر جهاز ئې د اور ګولۍ و لږيدې ټولو خلکو د جهازو څخه سمندر ته ور ټوپ وهل ، دغه نجونې هغه په يو کشتۍ کې کښينولې او دجهاز څخه ئې راښکته او په سمندر کې ئې پرې ښودې ، دوی وائې چې دوی د کشتۍ په چلولو نه پوهيدې ، کشتۍ په سمندر کې غوټې خوړې او اوخته را اوخته ، بيا يوه ورځ پخپله ساحل ته را ورسيده ، څرنګه چې مونږ د ساحل تر څنګ ځان ته د اوسيدو ځاې جوړ کړې و ، نو دوی زمونږ په لور را غلې ، په ډير سخت بد حال کې وې ، مونږ هغوی ته پناه ورکړه ، ځکه مونږ خو هغوی شړلې نه شوې ، اوس مونږ نه پوهيږو چې له دوی سره څه وکړو؟ د مخکينې پړاو څخه تردې ځايه مو له ځانه سره راوړې ، په دې حال کې دا ساتونکې راغلل او زمونږ سامان ئې و لټاوه ، کله چې مونږ دهغوی څخه د لټون سبب و پوښته ، نو هغوی وويل چې د مصر د امير سلطان ايوبي حکم دي ، مونږ هغوی ته ډير عذر و

(c) ketabton.com: The Digital Library



زارۍ وکړې چې مونږ د خپل سلطان حضور ته یوسه ، تر څو مونږ ورته وړاندېز وکړو چې دغه نجونې په خپله ساتنه کې واخلي ، مونږ په سفر کې یو ،او دوی به تر کومه له ځانه سره ګرځوو.»

کله چې دنجونو څخه و پوښتل شو نو هغوی د سیسلي په ژبه خبرې کولې ، هغوی لږ څه اندېښمنې بریښېدې، دهغوی څخه دوه دربو په یوه ځل خبرې پیل کړې ، سلطان ایوبي د تاجرانو څخه و پوښتل چې ددوی په ژبه څوک پو هیږي ؟یوه وویل چې یواځې زه پرې پو هیږم، دوی غوښتنه کوي چې سلطان دې ورته پناه ورکړي ، وائي چې مونږ د تاجرانو د قافلې سره نه ځو ، هسې نه چې په لارکې د غلو کومه ډله مونږ له ځانه سره یوسي، د بله اړخه په سیمه کې جنګ هم روان دې هرې لورې ته د مسلمانانو اوعیسایانو عسکر منډې ترړې وهي ، مونږ د سپاهیانو څخه ډیرې ویریږو ، کله ئې چې مونږ د کورونو څخه را پورته کړو نو مونږ ټولې پیغلې و ، خو دې عسکرو له مونږه څخه په بحرې جهاز کې فاحشې جوړې کړې ،

کله چې یوې بلې نجلې څه وویل نو د هغې ژباړن تاجر سلطان ایوبي ته وویل چې « دوی وائې چې مونږ د مسلمانانو پادشاه ته ورسوئ، کیدای شي دهغه په زړه کې زمونږ له پاره رحم را پیدا شي.»

یوې بلې نجلۍ بیا په ژړغونکې اواز سره څه وویل ، تاجر وویل چې داوائې چې مونږ عیسائې سپاهیانوته بیرته مه سپارئ، زه مسلمانیږم په دې شرط چې دکوم ښه حیثیت خاوند مسلمان ورسره واده و کړي»

دوه درې نورې نجونې تر شا ولاړې وې او دخپلو خولو د پټولو هڅه ئې کوله ، دهغوی په مخونو باندې د ویرې ښبې ښباني څرګندېدې ، کله به ئې چې خبره کوله نو یا به شرمیدلې او یا به ویریدلې.

صلاح الدین ایوبي تاجر ته وویل « هغوی ته ووایه که چېرې دوی بیرته عیسایانو ته تلل نه غواړي نو مونږ ئې هم نه ورتسلیموو ، همدا راز مونږ هغوی نه مجبورو چې اسلام ومني، دا نجلۍ چې وائې چې غواړې مسلمانه شي که کوم مسلمان ورسره واده وکړي ،نو دې ته ووایه چې زه د هغې وړاندېز نه شم منلاې ،ځکه چې دا د ویرې او مجبوریت په وخت کې اسلام منلو ته غاړه ږدي ، دوی ته ووایه چې که چېرې دوی پر ما باور لري نو زه به دوی د اسلام د لوښو په څیر په خپله پناه کې واخلم ، دارالحکومت ته په رسیدو سره سم به ددوی له پاره د عیسائې راهبانو او یا کوم پادري د راپیداکولو انتظام وکړم. یوه بله لار داده چې کله عیسائې بندیان ازاد کړل شي نو زه به هڅه وکړم چې دوی د باورې عیسایانو سره ددوی په خوښه ودونه وکړي. هغوی ته دا هم ووایه ، چې هیڅ مسلمان ته به ددوی سره د لیدو کتو اجازه نه وي ، او نه به دوی ته اجازه ورکړل شي چې دوی د کوم مسلمان سره لیده کاته وکړي، ددوی د اړتیاو او عزت خیال به ساتل کیږي.

تاجر د سلطان ټولې خبرې هغو نجونو ته دهغوی په ژبه واورولې ، نو دهغوی پر مخونو باندې خوښي را پیداشوه ، هغوی په دې شرائطو باندې خوښې وې. تاجر د ممنونیت د ښکاره کولو نه ورسته ولاړ ، صلاح الدین ایوبي د نجونو له پاره د ځانته خیمې ددرولو او دهغوی له پاره د یوه ساتونکې حکم وکړ. هغه د خیمې د ځاې په هکله فکر کاوه چې شپږ نور صلیبي بندیان ئې هم د صلاح الدین ایوبي مخ ته راول ، هغوی هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر بد حال کې وو، کالي ئې رژیدلي او لامده وو ، په بڼه ئې د وینې داغونه هم و او د شګو څخه ډک هم.
دغوی مخونه دژوند بو لاشونو په څیر وو، دغوی په هکله وویل شو چې دوی نژدې دوه دوه نیم میله لرې په ساحل کې د بې هوشۍ په حال کې پراته وو،هغوی په ماته کشتۍ باندې لامبو وهلې یوه ورځ کشتې د اوبو دراپورته کیدو په اساس ډوبه شوه، خو دوی ټول په لامبو باندې ځانونه تر ساحله پورې را ورسول، په دې کشتۍ کې ټول پنځه ویشت کسان سپاره و، یواځې دا شپږ واړه ژوندي را ووتل، هغوی دوه مره ستومانه شوي و چې نور ئې د تګ توان هم له لاسه ورکړې و ، دا د صلیبي لښکر سپاهیان و، دوی ټول په ډیره ستومانیدونکې توګه کیناستل ، دهغوی څخه د یوه د مخ او رنګ څخه مالومیده چې دا معمولي سپاهي نه دې ، هغه زړیروی کاوه، دهغې په بڼه باندې د وینې کوم څاڅکی هم نه و ، خو د زخمیانو څخه ډیر په تکلیف کې مالومیده ، هغه دغه ټولې اوه نجونې په ډیر غور سره وکتلې اوبیا ئې په زړیرویو پیل وکړ.

صلاح الدین ایوبي حکم کړې و چې هر بندي باید ورته ور وښول شي، نو څرنګه چې بندیان لا تر اوسه پورې د سمندر څخه را وتل ، نو په دې خاطر ئې هر بندي د سلطان ایوبي مخ ته راوست اوهغه ته ئې ښووه، نو په دې خاطر هغه دا بندیان هم وکتل ، دهیڅ یوه سره ئې خبره و نه کړه ، خو هغه بندي چې تر ټولو زیات نا ارامه و او په وجود ئې د زخم نښه هم نه مالومیده ، تر سترګو تیر کړ ، او په ارامه سره ئې خپلو سالارانو ته وویل «علي بن سفیان لا تر اوسه نه دې راغلې ، ددې ټول بندیانو څخه چې تر اوسه پورې زمونږ ساتونکو نیولې ، ډیر څه باید و پوښتل شي ، د هغوی څخه باید مالومات تر لاسه شي ،» هغه دهغه بندي په لور وکتل او ووئې ویل « دا سې مالومیږي چې دا سړې کوم قومندان ځوک وي ، دا تر سترګو لاندې و ساتۍ او کله چې علي بن سفیان راشي نو هغه ته ووایاست چې ددې څخه تفصیلي پوښتنه ګرویزنه وکړي ، داسې مالومیږي چې نومونړې له دننه څخه زخمي شوې دې ،کیداې چې پُښتۍ ئې ماتې شوې وي ،.... دوی سمدستي د زخمي شویو بندیانو خیمې ته و ر ورسوئ، هغوی ته خوراک څښاک ورکړئ او ملهم پټۍ ئې وکړئ ،»

بندیان ئې همغه لورې ته یوړل چیرې چې د زخمي بندیانو له پاره خیمې درول شوې وې ، انجونو هغوی ته کتل ، بیا ئې هغه نجونې هم خپلو ځایو ته یوړې.

*****(۱۷)

د فوځ د خیمو څخه ئې لرې څه لرې دغه نجونو ته هم خیمه و دروله، دهغې ځایه څخه نژدې سل قدمه اخوا د زخمیانو خیمې دریدلې وې ، ددوی تر څنګ ئې یو بله خیمه هم و درولـه ترڅو دغه شپږ زخمیانو ته ځاې ورکړي. نجونوبه ددې زخمي بندیانو په لور بیا بیا کتل، دواړه خیمې و درول شوې نجونې خپلې خیمې ته ور ننوتلې او زخمیان خپلې خیمې کې ور ځاې کړل شول ، د نجونو د خیمې څخه بهر یو ساتونکې و درید. نجونو ته غذا راغله چې هغوی وخوړله ، بیا یوه نجلۍ دخیمې څخه بیرون را ووتله ، او دهغې خیمې په لور ئې وکتل چې دغه نوي راغلي زخمیان په کې ځاې په ځاې شوي و ، اوس نو دهغې پر مخ باندې د ویرې څه نښه نښانه نه مالومیده ، ساتونکې وکتله ،او دې هم ساتونکې و کوت ، نجلۍ ورته مسکۍ شوه او اشاره ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وکړه ، هغې غوښتل د زخميانو دخيمي په لور ولاړه شي ، ساتونکې هغه ته د دريدو اشاره وکړه ، ځکه نجونو ته د خپلې خيمې څخه د لرې تللو او يا چا سره د کتلو اجازه نه وه ، د نجونو او د زخميانو د خيمو ترمنځ ډير ګڼ بوټې ولاړ و. ښې لورې ته د خاورې يو غوندی هم وه چې په ګڼو بوټو پوښل شوی وه ،

لمر پريوت ، او شپه په تورو تيارو کې ډوبه شوه ، د پنډ غالي په شوروځوږ باندې خوب زور راوست ، خو د زخميانو شور او ځوږ د شپې په چپتيا کې نور هم تر لرې لرې پورې اوريدل کيده ، ددې ځاېه لږ څه لرې د روم د بحيرې د اوبو د څپو اوازونه په پرلپسې توګه غوږونو ته راتلل ، د صلاح الدين ايوبي په دې جنګي پنډغالي کې بيداره خلک خو يا ساتونکې و او يا هغه زخمي بنديان چې د درد له لاسه بيده کيداې نه شول ،او يا پخپله د سلطان ايوبي دخيمې ناست وګړي و چې د خيمې تياره ئې ورځ ګرځولې وه او هيڅوک ته په کې دخوب کولو فرصت په لا س نه ورته ، د سلطان ايوبي درې واړه سالاران دهغه سره ناست و ، او دخيمې بيرون د ساتونکو ډله ولاړه وه.

سلطان ايوبي يو ځل بيا و پوښتل « علي بن سفيان لا تراوسه نه دې راغلي ؟» دهغې په وينا کې انديښنه غوندې څرګنديده ، او بيا ئې و پوښتل « دهغه کوم قاصد هم نه دې راغلي ؟»

«که چېرې څه ګړ بړ وائې نو حتما به اطلاع راغلې وه ، » يوه سالار ورته وويل « داسې بريښي چې هلته هر څه د معمول مطابق دي ،»

«همدا ډول هيله خو کول په کار دي ،» صلاح الدين ايوبي ورته وويل « خو که چېرې هغه پنځوس زره لښکر پاڅون وکړي نو بيا ئې سنبالول ستونزمنه خبره ده ، هلته خو زمونږ ټول ټال يونيم زر سپاره او دوه نيم زره پياده عسکر پاته دي ، دهغوی په پرتله سوډانيان ډير غښتلي او د تجربې خاوندان هم دې او شميره ئې هم زياته ده ، »

«د ناجي او دهغې د سازشي ډلې د ماتولو وروسته هلته دپاڅون کولو نښې نه په سترګو کيږي ، » يوه بل سالار وويل ، «د قيادت پرته سپاهيان پاڅون نه شي کولاې ،»

« مخکې له مخکې د هغې له پاره تدبير نيول اړين دي» صلاح الدين ايوبي وويل ،« خو کله چې علي را شي نو مالومات به وشي چې څه ډول تدابير بايد و نيول شي ؟»

دصليبيانو د يرغل د مخنيوي په خاطر ايوبي پخپله راغلې و ، خو هلته په دارالحکومت کې د سوډاني فوځيانو د پاڅون کولو ګواښ په خپل ځاې موجود و ، ايوبي ، علي بن سفيان د همدې مقصد له پاره هملته پرې ايښې و ، ترڅو د سوډاني لښکر پاڅون تر سترګو لاندې و ساتي او دخپلې ځانګړې تجربې له مخې د هغې دمخنيوي هڅې وکړي ، هغه بايد تر اوسه پورې د ايوبي لورې ته راغلې واېې او هغه ئې د حالاتو څخه خبر کړې وائې خو تر اوسه پورې را نشو غلاې ، او دهغې د نه راتګ په سبب پخپله ايوبي ډير انديښمن شوی و. کله چې هغه د خپلو سالارانو سره د قاهرې د حالاتو په اړوند خبرې اترې کولې نو دهغې د پنډ غالي ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک په ژور خوب بیده شوی و، خو یواځې هغه اوه نجونې، چې ایوبې ورته ځانګړې پناه ورکړې وه، ویښې ناستې وې، یوځل دهغوی د خیمی ساتونکې دهغوی د خیمې پرده پورته کړه او وئې کتل چې ډیوه بلیږي، دپردې د پورته کولو سره سم نجونو ځانونه و غورځول او خراټې ئې پیل کړې، ساتونکې و شمیرلې او ډاډمن شو چې پوره اوه دې، او بیدې شوی دي، نو پرده ئې بیرته را واړوله. او د خیمی تر څنګ کیناست، هغه نجلۍ چې د خیمې د پردې تر څنګ وه، پرده ئې د لاندې څخه لږ څه پورته کړه او بیرته ئې په کلاره را پریښوده او د خپل ځان تر څنګ د نجلۍ پر غوږ کې وویل «ناست دې»، هغې د بلې نجلۍ په غوږ کې وویل چې «ناست دې» او په دې توګه دا خبره د ټولو نجونو غوږونو ته ورسیده چې ساتونکې ناست دې. یوه نجلۍ چې دخیمې دهغې بلی دروازې تر څنګ وه سوکه را پورته شوه او دخپلې بسترې څخه را ووتله، بستره پر ځمکه غوړیدلې وه، هغه خپله کمبله د بسترۍ له پاسه داسې و غوړوله لکه چې تر لاندې ئې کوم څوک پروت وي.

هغه په پښو وخوېده او دخیمې تر دروازې ئې ځان ورساوه، پرده ئې لرې کړه او بیرون را ووتله، پاته شپږو نجونو په کلاره خراټې وهل پیل کړه. ساتونکې ته مالوم وه چې دانجونې کومې خطرناکه بندیانې نه بلکه د سمندر څخه را وتلی پناه اخستونکې دي، نو په دې خاطر هغه کیناست او پرکالې پرې راغله، نجلۍ په ډیره سوکه توګه د غونډې هماغې لورې ته ولاړه چې د ساتونکې او د هغې تر منځ خیمه را تلله، غونډۍ ته د ورسیدو سره سم هغې همغې لورې ته مخه کړ چې شپږ نوې زخمې بندیان په کې پراته و. شپه تیاره وه او هلته څه اونې بوټې هم و، که چېرې ساتونکې اوس هغه لورې ته کتلای هم نو هغه نجلۍ ورته نه تر سترګو کیده، نجلۍ کیناسته، او په پښو ښویدو سره ئې د زخمیانو خیمې ته ځان ور نژدې کړ، هلته د شګو ډیرې هم وخو بیا هم هغې ددې ډیریو څخه په ښویدلو ښویدلو خپل ځان خیمې ته ورساوه، خو هلته یو ساتونکې ولاړ و، نجلۍ د ساتونکې څخه د ځان د پټولو په خاطر د شګو په ډیرې باندې څملاسته، هغې ته ساتونکې د یوه تور سیورې په شکل کې تر سترګو کیده، اوس نو هغه ددوه ساتونکو تر منځ وه، یو ئې دخپلې خیمې ساتونکې او بل د زخمیانو دخیمې، ویره ئې په دې کې وه چې که د زخمیانو د خیمې ساتونکې دهغې لورې ته راشي نو و به ئې نیسي،

د ډیر زیات انتظار وروسته، کله چې ساتونکې د نورو زخمیانو په لور ولاړ، نجلۍ د لاسونو او پښو په کومک سره خیمی ته ورسیده، او پرده ئې پورته کړه او دخیمې دننه ورغله، دننه په خیمه کې تیاره وه، دوه درې زخمیانو په کلاره کلاره زوږ کاوه، داسې بریښیده چې دهغوی څخه کوم یو دخیمی د پردې په پورته کولو پوه شوی و. هغه په ډیر کمزوري اواز وویل چې «څوک ئې ؟» نجلۍ دخپلې خولې څخه د «شي» اوږود اواز وویست او په ډیره سوکه توګه وئې پوښتل چې «رابن چېرې دې ؟» ځواب ئې واورید چې «دهغې لورې دربیم» نجلۍ د هغه دربیم کس پښې و خوځولې، پروت سړي اواز کړ چې څوک ئې ؟ نجلۍ ځواب ورکړ، «موبي».

(c) ketabton.com: The Digital Library



رابن راپورته شو او کيناست ، لاس ئې را اوږود کړ اونجلۍ ئې له لاسو ونيوه اوپه خپله بستره ئې له ځانه سره واچوله ، خپله کمبله ئې را واغوسته او د نجلۍ ځخه ئې و پو ښتل چې «ساتونکې خو نه ئې کتلي ، له ما سره ځان را جوخت کړه ، هسې نه چې ساتونکي مو ووينی» هغه دغه نجلۍ له خپله ځانه سره را يوځاي کړه او وئې ويل « زه په دې خبره حيران پاته شوم چې دلته هم زمونږ ليدنه و شوه ، دا يوه نه منونکې خبره ده ، داسې بريښي چې د يسوع مسيح خداي ته زمونږ بريا منظور ده ، مونږه ډيره سخته ماتې خوړلې ده ، خو دا ټوله دوکه او چل ول و ،» دا هماغه زخمی بندي و چې دنورو ځخه جدا او دمخ او ځهرې ځخه معمولي سپاهي نه بلکه د اعلې رتبې خاوند مالوميده ، صلاح الدين ايوبي هم ويلي و چې دا کوم معمولي عسکر نه دې ، نومورې تر سترګو لاندې کلک و ځارئ ، علي بن سفيان به له هغه ځخه پوښتنې ايګنې وکړي ،

«ايا ته ډير سخت زخمې شوی ئې؟» نجلۍ تري و پو ښتل، « کوم هډوکې خو دې مات شوی نه دي ؟» «زه بلکل روغ رمت يم ،» رابن ځواب ورکړ ، هيڅ ځاي مې مېنبل شوی هم نه دې. هغوی ته مې ويلي چې دننه زخمې يم او کوم هډوکې مې مات شوی ، په سينې کې مې سخت درد دې ، خو زه بلکل روغ رمټ يم.»

«بيانو دلته ولې را غلې ياست ؟» نجلۍ تري وپوښتل ،

ما ډيره هڅه وکړه چې مصر ته ور ننوځم ، او تر سوډاني لښکرو پورې ځان ور رسوم. خو هرې لورې ته اسلامي فوځ خپور وور دې ، هيڅ لاره مې و نه موندله ، هغه نور پنځه زخميان مې را ټول کړل اودهغوی سره زه هم د زخمي په څير دلته راوستلاي شوم ، اوس به د تيښتې هڅه کوم خو تر اوسه را ته شونې نه ښکاري،» هغه لږ څه په غُصّې سره وويل «ماته ددوه پو ښتنو ځواب راکړه ، اول داچې ما ايوبي ژوندي وکوت ، ولې ؟ ايا غشي تمام شوی و ، او يا هغه حرام خور بې زړه شوی دې ؟ او بله پوښتنه دا چې تاسې ټولې اوه نجونه ولې د مسلمانانو په قيد کې ياست ؟ ايا هغه پنځه نور له منځه ولاړل او يا تښتيدلي دي ؟

« هغوی ژوندي دي ، رابنه !» موبي ورته وويل ، « ته خو وائې چې د مسيح خداي ته زمونږ بريا منظور ده خو زه وايم چې زمونږ خداي مونږ ته د کومې ګناه سزا راکوي ، صلاح الدين ايوبي په دې خاطر ژوندي دې چې غشي د هغې د پښو تر منځ په شګو کې و لږيد.»

« ايا دا غشي کومې نجلۍ ويشتلي و؟»رابن تري و پوښتل «کرستيوفر چېرې و ؟»

«غشي خو هغې ويشتلي و مګر.......»

«ايادکرستيوفر غشي خطا ولاړ؟» رابن تري په حيرانتيا سره و پو ښتل ، « هغه کرستيوفر چې غشي ويشتو ئې پادشاه «اګستس » حيران کړې و او هغه ته ئې خپله د لاس توره په انعام کې ورکړې وه ؟ دلته د راتلو سره دهغه نښه دومره خرابه شوه چې شپږ فټه اوږود او درې فټه غټ او پلن صلاح الدين ايوبي ئې د غشي ځخه خطا شو؟ د هغې بدبخته لاسونه به د ويرې ځخه لړزيدلي وي؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«فاصله ډېره وه .» موبي ورته وويل « او کرسټوفر و ويلې« کله چې غشې د کمان څخه وت نو په همغه لمحه کې ئې ماشې په سترګه کې ورننوت ، او ننبه ئې خرابه شوه.»

«بيا څه وشول ؟»

« څه چې بايد شوی واې »موبی ورته وويل « صلاح الدين ايوبي ساحل ته تللي و ، دهغه سره د هغې درې قومندانان هم ملګري و چې څلورو ساتونکو ئې ساتنه کوله ، هغوی هرې لورې ته خپاره شوی و ، دا خو زمونږ برخه ښه وه چې دغه سيمه د غونډيو نه ډکه وه ، کرسټوفر ځان خوندي کړ او ووت ، او بيا مونږ ته دومره وخت په لاس راغې چې پاته غشي اوليندۍ مو په شګو کې ورننويستې او اوښ مو پرې چو کړ. کله چې سپاهيان راغلل نو کرسټوفر ورته وويل چې مونږ پنځه کسان د مراکش تاجران يو او دا نجونې د سمندر څخه راوتلي او مونږ ورته پناه ورکړې ده ، مسلمانو سپاهيانو زمونږ د سامانونو لټون او تالاشې وکړه ، هغوی ته د تجارتي سامان پرته نور هيڅ په لاس ور نه غلل ، هغوی مونږ ټول يوځاې د سلطان ايوبي مخې ته يوړو ، مونږ ورته وويلي چې مونږ د سيسلي د ژبې پرته په بله هيڅ ژبه نه پوهيږو ، کرسټوفر ايوبي ته وويل چې هغه زمونږ په ژبه پوهيږي ، مونږ اوه واړو نجونو په خپلو څهرو باندې ويره او خوف راڅرګند کړي و .»

موبي رابن ته ټولې هغه خبرې وکړې چې د سلطان ايوبې سره ئې کړې وي ، دغه اوه نجونې او پنځه نارينه چې دمراکشي تجارانو په بڼه کې پټ ول او خپل ځانونه ئې مراکشي تجاران ښوولي و ، دوه ورځې دمخه په ساحل کې د کشتيو څخه پياده شوی و. دغه پنځه واړه کسان د صليبيانو تجربه لرونکې جاسوسان او قومندانان و ، او نجونې هم روزل شوی جاسوسانې وې ، دځارکښې څخه اخوا دهغوی بل کار داهم و چې مسلمان سالاران او جنرالان په خپلو دامونو کې را ونښلوي ، هغوی که له يوه اړخه ښايسته او ښکلې وې خو د بله اړخه ورته د ذهنونو د تخريبولو روزنه هم ورکړل شوی وه، په دې روزنه کې اداکارۍ ځانګړې اهميت درلود. دهغو پنځه نارينه و دنده دا وه چې صلاح الدين ايوبي له منځه يوسي، او دناجي سره اړيکې ټينګ کړي ، دې نجونو مصري ژبه هم په ډېره روانۍ سره ويلاې شوه ، خو هغوی هيڅکله هم دا خبره را برسيره نه کړه ، رابن ددې ځانګې مشر و ، هغه ته د ناجي پورې ورسيدل اړين کارو. خو د صلاح الدين ايوبي او علي بن سفيان پاليسيو د حالاتو مخه بل لورې ته يوړه.

« ايا ته صلاح الدين ايوبي په خپل جال کې نه شې را ښلولې ؟»رابن ترې و پوښتل .« اوس خو دلته زمونږ لمړنۍ شپه ده .» موبي ورته وويل .« هغه پريکړه چې سلطان ايوبي زمونږ په اړوند کړې ده ، نو که چيرې په هغه کې هغه ريښتونې وي نو دهغې مقصد خو داد ې چې هغه انسان نه بلکه تيږه ده . که چيرې هغه زمونږ سره کومه علاقه درلوداې نو زمونږ څخه خو به ئې يوه نجلۍ خپلې خيمې ته بللې واې .....د هغې وژل هم دومره اسانه نه دي هغه يواځې يوځل ساحل ته راغلې و خوزمونږ غشې خطا ولاړ، هغه د سالارانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتونکو په ډله کې اوسيږي ، دلته ئې يو سپاهي زمونږ په سر درولې دې اوهلته د صلاح الدين ايوبي په خيمه د ساتونکو يوه ډله پهره کوي .»

هغه پنځه نور اوس چيرې دي ؟» رابن تري و پو ښتل ،

« لږ څه لرې دي» موبي ځواب ورکړ ،« هغوی به اوس همدلته اوسي .»

«واوره موبي !»رابن ورته وويل « دې ماتې زه ليوني کړې يم ، زما په ضمير باندې دومره ستر بار پروت دې لکه چې ددې ماتې ټول مسئوليت زما په غاړه پريوځي. په صليب باندې په لاس اېښولو سره خو ټولو سوګند ياد کړې دې ، خو د يو سپاهي په سوګند کې او زما په سوګند کې د ځمکې او اسمان تر منځ توپير موجود دې ، زما رتبه خپل مخته کيږده ، زما دندې ووينه ، ماته نيمائې جنګ د ځمکې د لاندې شخه، اونور نيمايي د دښمن د شا څخه په وارکولو سره ګټل و ، خو ما او تاسې اوه واړو اوهغه پنځو يو هم خپل فرض نه دې ادا کړې ، له ماڅخه دا صليب اوس ځواب غواړي» هغه په خپله غاړه کې را ځوړند صليب ته لاس کړ او وئې ويل «زه دا صليب هيځکله هم د سينې څخه نه شم جدا کولې .» هغه د موبي په سينې باندې لاس را ښکود او د هغې صليب ئې په لاس کې را ونيو او وئې ويل ،«ته خپل مور او پلار ته دوکه ورکولاې شې خو ددې صليب څخه سترګې نه شې اړولاې ، هغه چې کومې دندې تاته سپارلې، هغه به پوره کوې، هغه ښايست چې تاته خدای درکړې ، دهغې په واسطه به ته غرونه ښيروې او لاره به ځانته په کې پيدا کوې ، زه تاته يوځل بيا وايم چې زمونږ دغه ناڅاپي او د توقع خلاف ليدنه کتنه ددې خبرې ځرګند ثبوت دې چې مونږ به بريا لې کيږو ، زمونږ لښکر د روم د بحيرې په هغه غاړه کې را ټوليږي ، هغه چې ولاړل ولاړل ، خو هغوی چې ژوندي دي هغوی په دې پو هيږي چې دا ماتې نه وه بلکه چل ول او دوکه وه. ته بيرته خپلې خيمې ته ولاړه شه ، او هغو نجونو ته ووايه ، چې په خيمه کې مه پريوځئ، بيا بيا د صلاح الدين ايوبي سره ووينئ ، دهغې د سالارانو سره ووينئ ، دهغوی سره په کتلو کې بې تکلفي اواسانتيا را پيدا کړئ ، هغوی ته دخپلو ځانو په هکله د مسلمانيدو ډاډ ورکړئ ، مخکې تاسې په خپله پوهيږئ چې څه او څنګه بايد وکړئ»

«د ټولو تر مخه خو دا مالومه کړئ چې اخر دا وشول څه ؟» موبي ورته وويل « ايا سوډانيانو مونږ ته دوکه راکړې ده»

«زه اوس په ډاډمنه توګه څه نشم ويلاې» رابن ورته وويلې « ماد يرغل د مخه په مصر کې دخپلو جاسوسي شبکو له لارې چې کوم مالومات تر لاسه کړې و هغه دا وچې صلاح الدين ايوبي په خپلو پنځوس زره سوډاني عسکرو باندې باور نه کوي ، حال داچې دا دمصر د مسلمانانو د وايسراې خپل فوځ دې ، ايوبي دلته په راتللو سره خپل ځانته مصری فوځ تيارکړ. سوډانيانو نه غوښتل په دې فوځ کې ورګډ شي. دهغوی قومندان ناجي زمونږ څخه کومک و غوښت ، ما دهغه ليک ليدلې و اوما دهغې تصديق هم کړې و چې دا ليک د ناجي د خپل لاس دې. اوپه دې کې هيڅ ډول دوکه نه وه ، خو زمونږ سره زمونږ په تاريخ کې تر ټولو لويه دوکه وشوه ، زه به دا په ډاګه کوم چې دا څه ډول وشوه ؟ چا وکړه ؟، زه ددې دمالومولو پرته بيرته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستنيږم. اګستهس پادشاه په ډېر فخر سره ويلي و چې زه به د مسلمانانو دکورونو په منځ کې د راز خلک پيدا کړم او دهغوی بنستونه به و لړزوم. اوس نو ته تصور وکړه موبي !د شا هنشاه په زړه کې به څه تيريږي ، هغه به ماته د مرګ د سزا پرته بله څه سزا راکړي ؟او د صليب قهر خو به په ځانته توګه پر ما نازليږي.»

«زه په ټولو پو هيږم ،» موبي ورته وويل » جذباتي خبرې مه کوه ، د عمل خبره کوه ، ماته ووايه چې زه څه وکړم؟»

د رابن په اعصابو دخپلو فرضو د ادأ او د ماتي احساس دومره اغيز کړې و چې هغه ته د ا احساس هم نه کيده چې د موبي په څير زړه وړونکي نجلۍ ، دهغې تر سينې سره يوځاې شوی او دهغې د وريښمو په څير نرم اوملايم ويښتان دهغې نيمايي مخ ور پټ کړي دي. رابن دهغې ويښتان لمس کړل او وئې ويل « موبي ! ستا دا ويښتان دومره کلک زنځيرونه دي چې که چېرې يو ځل د صلاح الدين ايوبي په شاوخوا کې را چاپير شول نو هغه به ستا غلام کړي ، خو ته بايد تر ټولو لمړۍ دا کار وکړې چې کرستوفر اودهغې ملګروته ته به ووائې چې هغوی د همدې تاجرانو په بڼه کې تر ناجي پورې ځانونه و رسوي او دا مالومه کړي چې تر اوسه پورې د هغه لښکرو ولې پاڅون و نه کړای شو، او دا راز څه ډول فاش شو چې دهغې څخه په ګټې اخستلو سره د صلاح الدين ايوبي يو څو معمولي عسکري دلګيو په مورچلو کې په کيناستلو سره زمونږ ستره بحري بيړه غرقه کړه؟ اوهغه ته دا هم ووايه چې دا را ته ډاګيزه کړي چې ناجي خو به د صلاح الدين ايوبي سره بيرته نه وي يو ځاې شوي ؟ او يا خوئې زمونږ ددې ماتې او شکست له پاره دا ليک مونږته نه و را استولې ؟ که چېرې همداسې شوی وي نو مونږته خو بيا په خپلو جنګي منصوبو او پلانونو کې د بدلون د راوستلو اړتيا ده ، زه ډاډمن شوی يم چې د مسلمانانو شميره که ډيره لږه هم وي مونږ هغوی ته په اسانۍ سره ماتې نه شو ورکولې ، دې ته اړتيا پيدا شوی چې د هغوی دحکمرانانو او دهغوی د عسکري قيادت جذبه و ځپل شي ، مونږ ستاسې په څيرنوري نجونې هم د عربو په حرام سرايو او حويليو کې ورننه ويستي دي»

«خبره دې بيا اوږده کړه » موبي هغه ته په ټوکني لهجې سره وويل « مونږ په خپل کور کې په يوه بستره باندې نه يو ملاستې چې په خوند خوند سره يو دبل قصې واورو ، مونږ ددښمن په عسکري پنډ غالي کې بنديان يو ، د باندې ساتونکې ولاړ دي ، شپه په تيريدو ده ، زمونږ سره د اوږدو خبرو کولو له پاره وخت نه شته ، زمونږه مشن له منځه تللې ، اوس ووايه چې په دې حالاتو کې مونږ څه کولاې شو؟ مونږ ټول ټال اوه نجونې او شپږ سړي يو، مونږ څه وکړو ؟ يو داچې تر ناجي پورې ولاړ شو او دهغې ددې دوکې په هکله مالومات پيدا کړو ، بيا ددې اطلاع چاته ورکړو ؟ له تاسره بيا چېرته ووينو ؟»

« زه له دې ځايه څخه دتېښتې هڅه کوم »رابن ورته وويلې « خو د تيښتې څخه دمخه ددې پنډ غالي ، په دې کې د وکړو د شميرې او د ايوبي د راتلونکو موخو په هکله مفصل مالومات له ځانه سره را ټولوم ، ددې وګړي په هکله مونږ بايد ډېر زيرکه واوسو . په دې وخت کې په اسلامې امت کې همدا يواځنې وګړې دې چې د صليب له پاره ګواښ ګرځيدلې دې او که نه اسلامي خلافت زمونږ په چال او جال کې تل پروت وي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایملرک پادشاه به ویل ، چې مسلمانان دومره کمزوري شوی دي چې اوس د هغوی په خپلو پښو د کښېنولواو راپرځولو له پاره یواځې یوه ټکان ته اړتیا ده ، خو دهغې داخبره یواځې یو خیال و خوب ثابت شو. زه باید دلته پاته شم او د ایوبي کمزوري رګونه ووینم ، او تاسې دهغه پنځه کسانو سره یوځای شئ او سوډاني لښکر را وپاروئ او پاخون پرې وکړئ ، ډېره اړینه داده چې ایوبي ژوندې پاته نه شي ، خو که چېرې هغه ژوندې پاته کیږي هم ، نوژوند به ئې زمونږ په هغه بندي خانه کې وي چې د عمر تر اخره په کې د لمر ځرک هم و نه ویني ،او نه ورته د شپې د اسمان کوم ستوري په سترګو راشي......ته لمړې خپلې خیمې ته ولاړه شه هغه شپږو نورو نجونو ته دهغوی کار ور وسپاره ، هغوی ته په ځانګړي توګه دا ووایه چې هغوی علي بن سفیان دخپلو ښایسته زلفو او ملائمو جسمونو په واسطه دومره بیکاره کړي چې هغه بیا د صلاح الدین ایوبي دکاره او ښیګڼې څخه ووځي، اوکه چېرې وکړای شي نو دهغې او د صلاح الدین ایوبي تر منځ دې داسې ناخوالې او غلطې انګیرنې را پیدا کړي چې هغوی یو دبل دښمنان وګرځي ، تاسې ټولې په ښه توګه پوهیږئ چې ددوه نارینه و تر منځ ناخوالې او دښمنې څه ډول را پیدا کیدای شي ،....ولاړه شه ! او پاته نورو نجونو ته مکملې لار ښوونې وکړه او بیا کرسټوفر ته ځان ور سوه ، هغه ته زما احترام وړاندې کړه ، او دا هم ورته ووایه ، چې اخر ستا غشې ایوبي ته په ورسیدو ولې خطا شو؟ اوس به ددې ګناه کفاره ورکړې او هغه کار چې تاته در سپارل شوې دې هغه سل په سلو کې پوره کړه»

رابن د موبي ویښتان ماچ کړه او ورته ئې وویل « تاخو په صلیب باندې خپل عزت هم ځار کړ. خو د مسیح د خدای په وړاندې ته دمریم په څیر پیغلهٔ ئې !! د جرړو او بیخه د اسلام ویستل ستا دنده ده ، که چېرې مونږ یروشلم (بیت المقدس ) په خپلو لاسو کې وساتو نو مصر به هم زمونږ وي.»

*****(۱۸)

موبي د رابن د بستري څخه را ووته ، دخیمې څنډې ته ورغله ، پرده ئې پورته کړه بیرون ئې و کتل ، په تیاره کې ورته هیڅوک تر سترګو نه شول ، هغه بیرون را ووتله اودخیمې د څنډې څخه ئې وکتل چې ساتونکې چېرې ولاړ دي ، هغه ته لرې څه لرې د چا داواز زمزمه په غوږو شوه ، وئې ویل کیدای شي همدا ساتونکې وي ، موبي روانه شوه ، د ونو بوټو څخه تیریده اودهر قدم د پورته کولو وروسته به ئې یو ځل دخیمې په لور کتل ، هغه تر غونډۍ ور ورسیده او دخپلې خیمې په لور روانه شوه، نژدې نیمائې لاره ئې وهلې وه چې هغې ته ددوه کسانو د خبرو کولو زوږ تر غوږو شو ، دا خبرې د هغې د خیمې سره نژدې سیمه کې چاکولې ، هغه ته دا ویره په زړه شوه چې کیدای شي ساتونکي ته دا په ډاګه شوی وي چې یوه نجلۍ ورکه شوې ده ، او هغه بل کوم ساتونکې او یا خپل کوم قومندان را بللې وي ، هغې فکر وکړ چې خیمې ته د تللو پر ځای د هغو پنځه ملګرو په لور ور شي چې د مراکشي تاجرانو په لباس کې نژدې یو نیم دوه میله لرې ئې خیمې درولې دي. خو هغه ته دا فکر هم را پیدا شو چې د هغې په ورکیدو به هغه پاته نورې نجونې په کوم مصیبت کې و نښلي ، هغوی ډیرې ګړندۍ او چالاکه وې، بیا هم ویریده ځکه چې پر هغوی د بندیزونو د کلکیدو ګواښ موجود و ، او ددې نه اخوا بله لاره هم نه وه ، موبي لږ څه نوره هم مخته ولاړه تر څو ددې نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوارو خلکو خبرې واورې ، هغه د هغوی په ژبه پوهیده ، داخو دهغوی چل ول و چې ویل ئې چې هغوی د سیسلې د ژبې پرته په بله کومه ژبه باندې نه پوهیږي.

مګر هغه دواړه خبرې کونکې چپ شول ، موبې په سوکه توګه مخته ولاړه، هغه خپلې کینې لورې ته د قدمونو اواز واورید ، هغې هغه لورې ته وکتل ، هلته د ونو ترمنځ هغې ته یو تور سیورې چې دکوم انسان و ، ترسترګو شو ، هغې خپله لاره بدله کړه اود غونډۍ په لور روانه شوه ، موبې نه غوښتل کومه خطره قبوله کړي ، هغه په غونډۍ و ختله ، غونډۍ دومره لوړه نه وه ، سمدستې پاس پرې پورته شوه ، که څه هم هغه ډیره هوښیاره وه خو هر انسان په هر قدم کې پوره احتیاط نه شي کولاې ، هغه د غونډۍ په سر و دریده ، دهغې ترشا د ستورو نه ډک اسمان و ، دبله اړخه د سمندر اودښتې فضا د شپې له اړخه د آینې په توګه شفافه وه ، هلته په ونو کې تلونکې یو سړې په غونډۍ باندې ختونکې یو سیورې و کوت ، موبې خپل اړخ دهغې سړې په لور کړ، دهغې ویښتان پرانستې و چې پر خپلو لاسو ئې شاته ور وغورځول ، داسړې د شپې د ساتونکو قومندان و، هغه په نیمه شپه د پنډغالې د ساتونکو په ګزمه را وتلې و ، ساتونکې ئې کتل او ګرځیده ،دا د ساتونکو د بدلون وخت و ، قومندان په دې خاطر هم ډیر زیات متوجه و چې پخپله صلاح الدین ایوبې د خپلو درې سالارانو سره په پنډغالې کې موجود و، سلطان په ډسپلین کې ډیر سخت و ، هر چاته به هره ثانیه خطره محسوس کیده چې سلطان د شپې را پاڅیږي او په ګزمه باندې راوځي .

قومندان پوه شو چې په غونډۍ باندې کومه نجلۍ ولاړه ده ، په هماغه ماښام قومندانانو ته خبر ورکړل شوی و چې صلیبیانو د تخریب او ځارکښۍ له پاره نجونې را لیږلې دي ، دانجونې د صحرائې کوچیانو په څیر هم را څرګندیداې شي او دداسې غریبو نجونو په څیر هم چې په عسکرې پنډغالو کې د پاته شوې غذا د راټولولو سوال کوي ، ددې ترڅنګ دا نجونې خپل ځانونه د را تښتول شوو او مظلومو ښځو په څیر هم را ښکاره کوي او د پناه غوښتلو هڅې هم کوي.

قومندانانو ته دا ویل شوی و چې نن اوه نجونې د سلطان په پناه کې راغلې دي ، که څه هم سلطان په هغوی رحم کړې خو په اصل کې ئې هغوی د شکمنو په څیر په ځانته خیمه کې اچولې دي ، هغه قومندان ددې احکامو په اوریدو سره خپل یوه ملګرې ته په ټوقو کې ویلې و چې « الله دې وکړې چې دغسې یوه نجلۍ زما څخه پناه وغواړي .» او هغوی دواړو پرې خندلې هم و.

اوس نو د شپې په نیمائې کې ، په داسې حال کې چې ټول پنډغالې بیده دې په دې غونډۍ باندې د یوې نجلۍ سیورې ترسترګو کیږي ، لمړې خو قومندان پخپله په ویره کې شو چې هسې نه چې کوم پیری وي ، هغه ساتونکې ته د نجونو په خیمه ددرولو په وخت کې ویلې و چې دننه اوه نجونې دي ، کله چې هغه پرده پورته کړه نو هماغه اوه بسترې ورته په مرژوانده رڼا کې ترسترګو شوې ، هرې نجلۍ خپله کمبله پر مخ راغوړولې وه ، یخنې ډیره وه ، هغه دننه ولاړ نه شو ترڅو ووینې چې اومه بستره تشه پرته ده ، خو پر هغې ئې کمبله داسې غوړولې وه لکه کوم څوک چې په کې پروت وي ، هغه ته د امالومه نه وه چې اومه نجلۍ پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډۍ دده ترمخ ولاړه ده ، هغه د لږ څه وخت له پاره په فکر کې شو چې ورته اواز وکړي او یا پخپله هلته ورشي نو که چېرې هغه پیرۍ او یا جادوګره وي نو دهغې د ورکیدو انتظار به وکړي ،

دلږ څه ډیر انتظار وروسته بیا هم هغه سیورې ورک نه شو بلکه دوه درې قدمه نور هم مخته راغې او بیا بیرته وروسته شو ، او هملته ودرید . دغه قومندان چې «فخرالمصري» نومیده سوکه سوکه غونډۍ ته ورغې او ورغږ ئې کړ « ته څوک ئې ؟ ښکته را شه» نجلۍ د هرن په توګه و ځغاستل او د غونډۍ بل اړخ ته ولاړه ، فخر ته داډ پیدا شو چې کوم پیرې او یا جادوګره نه بلکه انسان دې ، هغه د قوي هیکل خاوند و ، غونډۍ هم دومره لوړه نه وه ، اوږده اوږده قدمونه ئې واخستل او پر غونډۍ ور وخوت ، هلته هم تیاره وه ، د شپې په چوپتیا کې دهغې نجلۍ د قدمونو اواز تر غوږو شو هغه د غونډۍ څخه ښکته شو اود نجلۍ پسې ئې ورمنډه کړه ، نجلۍ خپل قدمونه نور هم ګړندي کړل ، فاصله لږ څه زیاده وه ، فخر پخپله عسکر و ، دزمرې په څیر ئې منډه وهله ،د غونډۍ شاته لوړه ژوره ځمکه او وچ بوټي او په ځینو ځایو کې یوه یوه وچه ونه هم ولاړه وه، هغه ډیره منډه واخسته خو وئې کتل چې تر مخه ئې څوک نه شته ، و درید او هر لورې ته ئې وکتل ، هغه دخپله ځانه وروسته او ډیر لرې کېڼ اړخ ته د نجلۍ د قدمونو اواز واورید . هغه روزل شوی جاسوسه نجلۍ وه ، هلته چې ورته د هغې دښایست او ښکلا روزنه ورکول کیده تر څنګ ئې ورته عسکري روزنه هم ورکول کیدله ، تر څنګ ئې د خنجر وهلو په لوبو کې هم پوهه درلوده ، هغه دکومې ونې تر څنګ پټه شوې وه ، کله چې فخر مخته راغې نو هغې بلې لورې ته منډه کړه .

دې تعقیب د پټوني شکل ځانته و نیو ، فخر د شپې تیاره اند ښمن کړې و ، کله به چې د موبې قدم و درید نو هغه به هم ودرید ، خو چې د قدمونو اواز به بیا واوریدل شو نو هغه به منډه وهله ، هغه د غصې څخه تک سور شوی و ، هغه په دې و پو هید چې دا کومه ځوانه نجلۍ ده که چېرې د زیات عمر ښځه وای نو دومره ګړندۍ او دومره زیاته منډه به ئې نه شوه وهلای ، فخر نژدې دوه میله فاصله ووهله ، موبې هم د وچو لمدو بوټو او د ځمکې د لوړو ژورو څخه پوره ګټه واخسته ، دهغې د نارینه ملګرو ځای را نژدې شوی و. هغې په منډه منډه هلته ځان ور ورساوه ، هغې خپلو خلکو ته اواز ورکړ ، هغوی د ویرې په حال کې را پورته شول او د خیمې څخه بیرون را ووتل، یو خو له ځانه سره مشال هم را واخست ، دا د یوه لرګي په سر باندې د را چاپیره کړل شوی ټوټې څخه جوړ شوی و چې روښنائې ډیره زیاته وه . فخر خپله توره را وویستله او تیګاه وهونکې او رپیدونکې سترپې ستومانه دهغوی تر مخ و درید. هغې و کتل چې دا پنځه کسان د لباس له اړخه تاجران اومسلمانان بریښي. نجلۍ د هغوی څخه د یوه په پښو کې په داسې حال کې چې دهغې ورنونه ئې کلک نیولي و کیناسته ، د مشال په رڼا سره مالومیده چې د هغې په مخ باندې ویره را څرګنده شوې وه ، دهغې سینه غورځیدله ،او ساه ئې په سختۍ سره اخستله.

«دانجلۍ ماته حواله کړئ»فخر المصري تاجرانو ته په حاکمانه لهجې سره وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«دا یوه نه ده»، بو سرې په عذرانه لهجې سره وویل «مونږ خو اوه نجونې ستاسې سلطان ته ورحواله کړې ، ته دا نجلۍ له ځانه سره ورلاې شې .»

«نه !» موبي د هغې پنبې نورې هم ټینګې و نیولې، په ویره او ژړا کې ئې وویل «زه د هغې سره نه ځم ، دا خلک د عیسائیانو څخه هم ډیر وحشیان دي، د هغوی سلطان انسان نه دې سنډا دې !! هغه د ځیرونکې حیوان په څیر زما هډوکی مات کړې دي ، زه د همغې څخه دلته را تښتیدلې یم .»

«کوم سلطان ؟» فخر په حیرانتیا سره ترې و پو ښتل.

« همغه چې تاسې ئې صلاح الدین ایوبي بولئ .» موبي ځواب ورکړ « هغې اوس په مصري عربي ژبه هم خبرې کولې.

« دانجلۍ سخت درواغ وایي .» فخر وویل او ورڅخه ئې و پوښتل « دا څوک ده ؟ او ستاسې څه کیږې او څه ډول اړیکې ورسره لرئ ؟»

«لږ دننه راشه دوسته ، بیرون هوا یخه ده » بو سرې فخر ته وویل. خپله توره په تیکی کې کیږده ، مونږ تاجران یو له مونږه څخه تا ته هیڅ ګواښ نه شته ، را ځه ، ددې نجلۍ قصه واوره .» هغه بو «اه» وکړ او وئې ویل « ما ستاسې سلطان یو مؤمن مسلمان ګاڼه ، خو د یوه ښایسته نجلۍ په کتلو سره هغه دخپل ایمان څخه لاس په سر شو ، هغه به د هغه پاته شپږو نجونو سره هم همداسې لوبې کړې وي.» هغوی به هغه نورو سالارانو بې عزته کړې وي .» موبي وویل « ماښام ئې هغه ټولې بې وزله خپلو خیمو ته وړې وې او د بې هوشۍ وروسته ئې خیمې ته را وغورځولې ، هغوی ټولې اوس په خیمه کې بې هوشه پرتې دي.»

فخرالمصري خپله توره په تیکې کې کښیښوده او دهغوی سره دننه خیمې ته ولاړ ، هلته د کیناستو وروسته بو سرې اور بل کړ اود قهوې له پاره ئې اوبه پخې کړې ، خو څوک نه پوهیدل چې په هغې کې ئې څه څه ور واچول ، بل سړي د فخر څخه و پو ښتل چې هغه دکومې رتبې خاوند دې ؟ هغه ورته وویل چې هغه قومندان دې ، هغوی له ده سره ډیرې زیاتې خبرې وکړې چې دهغې څخه دوی دا و انګیرله چې دا سړې معمولي سپاهي نه دې بلکه کوم مسئول وګړې دې ، ذهین او زړه ور هم دې ، دهغې خلکو څخه یوه (کرسټوفر) ددغې اوه نجونو هماغه داستان فخر ته تکرار کړ ، کوم ئې چې صلاح الدین ایوبي ته ویلې و ، هغوی فخر ته دا هم وویل چې سلطان ایوبي ددوی په هکله هغوی ته څه ویلې و ، دې نجونو سلطان ته دا وړاندیز هم کړې و چې هغوی خو اوس خپلو کورونو ته بیرته نه شي تللاې او همدا راز نه غواړې چې د عیسایانو سره هم پاته شي په دې خاطر هغوی دې ته تیارې دي چې اسلام و مني ، خو په دې شرط چې د کومې ښې رتبې خاوند له هغوی سره واده وکړي ، مونږ اوریدلې و چې صلاح الدین ایوبي د کرچار له اړخه د تیرې په څیر دې ، اومونږ هره ورځ سفر کونکې تاجران یو ، مونږ به دا نجونې په کومو کومو ځایو کې له ځانه سره ګرځوو. مونږ دوی ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلطان په حواله کړي خو هغه څه چي سلطان ددي نجلۍ سره وکړل هغه تا پخپله دهغې د خولې څخه واوريدل.

فخر المصري د نجلۍ په لور وکتل نو نجلۍ ورته و ويل «مونږ ډير خوښ و چي خداې مونږ د يوي فرښتي په پناه کې ورکړي يو. خو د لمر د پريوتو سره سم د سلطان يو ساتونکې راغی او ماته ئې وويل چي سلطان دې ځانته غواړي ، زه د پاته شپږو نجونو په نسبت ډيره ښکلې وم. دا زما د توقع خلاف وه چي ستاسې ايوبي به ما په داسې بد نيت ځانته غواړي ، زه ولاړم ، سلطان ايوبي د شرابو صراحي پرانسته ، يوه پياله ئي په خپله مخکې کيښوده او بله ئې ماته را کړه، زه خو عيسايې يم او سل ځله هم شراب څښم ، په بحري جهاز کې عيسائي قومندانانو زماد جسم څخه د لوبو يوه اله جوړه کړې وه ، او اوس صلاح الدين ايوبي هم غوښتل زما د جسم سره همغسې لوبې وکړي ، شراب او سړي زما له پاره کوم نوي شي نه دي. خو ما ايوبي يوه فرښته ګڼله ،ما د هغې وجود دخپل ناپاکه وجود څخه لرې ساتل غوښتل ، خو هغه د هغو عيسايانو څخه هم ډير چټل وخوت کومو چي زه په بحري جهاز کې د لوبو نانځکه ګرځولې وم. کله چي دهغوی جهاز په ډوبيدو شو نو زه هغوی دبحري جهاز څخه را کوزه او په يوي کشتۍ کې واچولم او په سمندر کې ئي پريښولم ، هيچا را سره کومک و نه کړ. زما جسم لړزيده او زما هډوکي يو له بله سره ورغلي و.......

«خداې مونږ خوندي کړو او دهغې انسان په پناه کې ئې ور واچولو چي د فرښتي په لباس کې يو ځيرونکې حيوان دي ،ماته سلطان ويلي و چي زما نوري ملګري شپږ نجوني د هغې د سالارانو په خيمو کې دي.. ما د سلطان لاس او پښې و نيولې او ورڅخه مې و غوښتل چي له ماسره واده وکړه ، خو هغه راته وويل چي که چيري ته ما خوښوي نو د واده پرته زه تا په خپل حرم سراې کې له ځانه سره ساتم ، ... هغه له ماسره د وحشيانو په څير سلوک وکړ. هغه په شرابو کې بدمسته و ، هغه زه د خپله ځانه سره په بستره ښملولم ، خو کله چي دهغې سترګې ورغلې زه د هغه ځايه څخه را وتښتيدم ، که چيرې زما په خبرو مو باور نه کيږي نو دهغې د ساتونکو څخه و پو ښته.»

په دې وخت کې يو سړي فخر ته قهوه ورکړه ، لږ څه وروسته د فخر مزاج بدل شو ، هغه د کرکې څخه په زوره زوره وخندل، « مونږ ته حکم کوي چي د شرابو اوښځو څخه ځانونه لرې کړئ او پخپله د شرابو د څښلو نه وروسته د ښځو سره شپې تيروي ، » فخر دا احساس هم ونه کړ چي د نجلۍ قصه پوره بې بنسټه ده ،او نه ئي دا محسوس کړه چي دهغې مزاج ولې بدلون وموند . هغه ته ئې حشيش ورکړي و ، پر هغې داسې نشه راغلې وه چي هغه نشه نه ګڼله ، هغه اوس په خپله انګيرنه کې پادشاه ګرځيدلې و ، د نجلۍ په مخ باندې د مشال رڼا ګډيدله ، د هغې خواره واره ويښتان تور ځليدل ، هغه اوس فخر ته د پخوا څخه ډيره ښايسته ښکاريده ، هغه په پوره نا ارامۍ سره هغې ته وويل « چي که ته غواړې نو زه به دې په خپله پناه کې واخلم.»

«نه» نجلۍ دويرې څخه شاته شوه.او وئې ويل « ته به هم له ما سره د خپل سلطان په څير سلوک وکړې ، ته به ماخپلې خيمې ته يوسې او زه به يوځل بيا ستا د سلطان په غيږ کې کيوزم. »

(c) ketabton.com: The Digital Library



«مونږ خو اوس دهغو نورو شپږو نجونو د خوندي کولو په فکر کې یو » یو تاجر وویل «مونږ خو دهغوی عزت خوندي ساته خو زمونږ څخه سهوه وشوه»

دفخرالمصري سترګې په نجلۍ نښتې وې ، هغه کله هم داسې ښکلې نجلۍ نه وه کتلې ، په خیمې کې چپه چپتا وه ، خو دا چپتیا کرسټوفر ماته کړه او وئې ویل «ته د عربو څخه راغلې ئې او که مصري ئې ؟»

« مصري» فخر ورته وویل « ما تر اوسه دوه جنګونه کړي دي ، په دې خاطر ماته دا رتبه راکړل شوې ده.»

«هغه سوډاني فوځ چې سالار ئې ناجي دې هغه اوس چېرې دې ؟»کرسټوفر ترې و پوښتل.

«دهغې فوځ یو سپاهي هم له مونږه سره نه دې راغلې ،»فخر ځواب ورکړ.

« پوهیږئ چې داسې ولې وشو ؟» کرسټوفر ورته وویل « سوډانیانو د صلاح الدین ایوبي امارت او قومنداني نه ده منلې ، هغه فوځ خپل ځان ازاد ګڼي ، ناجي سلطان ایوبي ته ویلې و چې هغه دې د مصر څخه ووځي ، ځکه چې هغه دلته بیګانه دې ، په دې خاطر ایوبي ځانته مصري فوځ جوړ کړ او د جنګولو له پاره ئې دلته راوست ، هغه تاسې ته د شرافت او نیکۍ دوکه درکړه ، او په خپله عیش کوي ، ایاتاسې ته دغنیمت مال په لاس درغلې دې ،…که چېرې تاسې ته تر لاسه شوی هم وي نو د طلا او سپینو زرو یوه یوه ټوټه به وي ، حال داچې د صلیبیانو د جهازونو څخه بې بها خزانه د سلطان ایوبي لاسو ته ورغلې هغه ئې ټوله دشپې په تیاره کې په سلګونو اوښانو بار او قاهرې ته ولیږله ،چې د هغې ځای څخه به دمشق او بغداد ته ولیږل شي. سلطان غواړي سوډاني لښکر لوځ او دغلامانو په څیر ترې کار واخلي ، اوبیا به د عربو څخه فوځ راشي او تاسې مصریان به هم د غلامانو په څیر وګرځوي.»

(۱۹)*****

ددې مصري سوداګر هرې خبرې د فخرالمصري په زړه کې ځاې نیوه ، خو په حقیقت کې په فخر المصري دخبرو اغیز دومره نه و لکه څومره چې په هغه دموبې ښکلا او حشیشو اغیز کړې و . عیسایانو دا حربه د حسن بن صباح د حشیشینو څخه زده کړې وه. موبي ته هیڅ شونې نه بریښیده چې داسې حال به هم را پیدا کیږي چې یو مصري سپاهي به دهغې په تعقب کې په هغې زړه بایلي. هغه ته دا هم مالومه شوه چې فخر د مصر د ژبې څخه پرته په بله ژبه نه پو هیږي ، په دې اساس موبي په بله ژبه خپلو ملګرو ته وویل چې رابن د زخمیانو په ډله کې د زخمیانو په خیمه کې پروت دې او هغه وویل چې د ناجي سره ووینئ او دا مالوم کړئ چې هغوی لا تراوسه پورې ولې پاڅون نه دې کړې ، او یا داچې ولې ئې د شا له خوا په صلاح الدین ایوبي باندې یرغل و نه کړ. او دا هم ډاګیزه کړئ چې ایا هغې خو به له مونږه سره دوکه او چل نه وي کړې ؟

هغې خبرې کولې نوفخر دسوداګرو څخه و پوښتل چې« دا څه وائې ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«دا وائي» يوه ځواب ورکړ « چي که چېرې دا سرې د صلاح الدين ايوبي په فوځ کې نه وائې نوما به ورسره واده کړې و . دا مسلمانيدو ته هم تياره ده خو وائي چي اوس ئې په مسلمانانو باور له منځه تللې .»

فخر په ډېره ناقرارۍ سره د نجلۍ متې ته لاس کړ او خپل ځانته ئې را ښکوده اووئې ويل « که چېرې زه پادشاه وائې نو په خداې سوګند چي ستا په خاطر به مې تخت اوپادشاهي هم پرې ايښې وه ، که چېرې شرط داوي چي زه د صلاح الدين ايوبي دغه راکړل شوی توره هيسته و غورزوم ، نو دا دې درواڅې خله .» هغه د خپل ملابند څخه توره را پرانسته ، او د تيکې سره ئې يوځاې د هغې په قدمو کې کښيښوله او وئې ويل «زه له همدا اوسه د سلطان ايوبي سپاهي او قومندان نه يم .»

«خو يو بل شرط هم شته !» نجلۍ ورته وويلې «زه ستا په خاطر خپل مذهب پرېږدم ، خو د صلاح الدين ايوبي څخه به حتما خپل انتقام او بدله اخلم .»

«ايا هغه زما په لاسو وژل غواړې ؟» فخر ترې و پوښتل .

نجلۍ د خپلو خلکو په لور وکتل ، او دې خلکو هم يو بل ته سره وکتل ، اخر کرستوفر وويل « که چېرې يو سلطان ايوبي نه وي نو څه به وشي ؟ يو بل سلطان به راشي ، هغه به هم همداسې وي ، مصريان به په اخر کې بيا هم غلامان وي ، ته يو کار وکړه ، د سوډانيانو د سالار ناجي څنګ ته ورشه ، او دا نجلۍ د هغې مخته و دروه او د صلاح الدين ايوبي اصل حقيقت او د هغې ناپاکه ارادې ورته را وسپړه .»

دې خلکو ته خو دا مالومات و چي ناجي د صليبيانو سره اړيکې لري او موبي به له هغه سره خبرې وکړي خو هغوی په دې خبر نه و چي دهغوی دا باوري سالار به په ډېره پټه توګه له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې وي . دا نجلۍ بايد تر هغه پورې ورسيدلې وائې ، خو هغه په يوائې ځان هلته نه شواې تللاې ، اوس نو هغې ته د فخرې په څېر يو ملګرې په لاس ورغلې و نو په دې خاطر ئې د همدې د استعمالولو پريکړه وکړه ، څرنګه چي دا سرې د سلطان ايوبي تر سترګو شوې و نو په دې خاطر تر اوسه پورې بايد دهغې په سترګو کې پاته واې ، ددې نه علاوه هغه د موبي څخه اوريدلې و چي دهغې د ځارکښۍ او تخريب کارۍ د ځانګې مشر رابن په همدې پنډغالي کې دې او د تيښتې له پاره لاره برابره وي او هغه د هغې د کومک کولو له پاره بايد هملته واوسيږي ، د هغوی ارادې مالوم نه وی چي څه دي ، په صلاح الدين ايوبي دهغوی له اړخه را پريښول شوی غشې هم خطا تللې و ، هغه ئې د سلطان ايوبي مخې ته وړې و . د هغوی لباس او ډرامه بريالۍ شوی وه ، خو د هغوی مشن له کاره لويدلې و . په دې خاطر اوس هغوی د بدل شوی حالاتو څخه د ګټې د اخستلو هڅې کولې . فخر المصري د ښايست او حشيشو په جال کې را ښتې و ، اوهغه بيرته خپل پنډ غالي ته د نه تللو پريکړه کړې وه .

هغه ته د امشوره ورکړل شوه چي هغه دې ( خپله معشوقه )نجلۍ له لاسه و نيسي او دخپلې ورسپارل شوی دندې په لور دې ولاړ شي ، هغې خلکو دوی ته خپل يو اوښ هم ورکړ ، او د اوبو يوه مشکيزه اوپه يوه کځوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ئې د خوراک څښاک سامان هم ورته تيار کړ ، په دې شيانو کې څه داسې هم و چې په هغې کې حشيش ورګډ شوی و. موبي په دې رازونو خبره وه ، فخر ته ئې يوه اوږده چوغه او د تاجرانو کالي ور واغوستل ،او پګړی ئې ورپه سر کړه ، نجلی په اوښ سپره شوه د هغې پسې وروسته فخر سپور شو او اوښ د خپل سفر په لور روان شو. فخر د خپل چاپيريال څخه بې خبره و او په خپلې راتلونکې باندې هم نه پوهيده ، يواځې همدا احساس پرې غالب شوی و چې د ځمکې د مخ ډيره ښايسته پيغله ئې تر څنګ ده ، داسې پيغله چې سلطان ايوبي ئې پرېښود او دده څنګ ته راغله ، فخر موبي له خپله ځانه سره را نژدې کړه او وخوځيدل .

«موبي ورته وويل « ته خو به د عيسايانو د قومندانانو او دخپل امير ايوبي په څير وحشی کيږې نه ؟زه هم ستا يم ، هر څه چې له ما سره غواړې و ئې کړې ، وئې کړه ، خو زه به بيا له تا څخه کرکه کوم.»

«موبي !که چېرې ته غواړې نو زه به له اوښه ښکته شم ،» فخر هغه سمدستې پرېښوده او خپل لاسونه ئې ترې لرې کړل او وئې ويل « ماته يواځې همدومره ووايه چې ته ما د زړه څخه خوښوې يادې د مجبورۍ له مخې زما لورې ته پناه را وړې ده ؟»

«ماخو دهغه تاجرانو څخه هم پناه اخستلې شوه»، موبي ځواب ورکړ ،« خو ته ماته دومره ښه ښکاره شوی چې ستا په خاطر مې دخپل مذهب د پرېښودلو پريکړه هم کړې ،» هغې په خپلو جذباتې خبرو سره د فخر په کمزورو اعصابو باندې نوره هم خپله قبضه ټينګه کړه او شپه هم سوکه سوکه په تيريدو کې وه .

دا نژدې د پنځه ورځو سفر و خو فخر المصري د عامو لارو څخه بې لارې بې لارې تګ کاوه ، ځکه چې هغه د فوځ تښتيدلی سپاهي و ، موبي ته خوب راغې هغې خپل سر شاته د فخر په سينه باندې تکيه کړ او په پاڅه خوب بيده شوه. اوښ روان و او فخر ويښ.

*****(٢٠)

صلاح الدين ايوبي د سهار د لمانځه څخه فارغ شوی و چې دروازه چې اطلاع ورکړه چې علي بن سفيان راغې ،سلطان د لمانځه له ځايه منډه کړه او بيرون را ووت د هغې دخولې څخه د علي بن سفيان د سلام د ځواب څخه د مخه دا الفاظ راووتل « هلته څه خبره وه ؟»

«تر اوسه خيريت دې» علي بن سفيان ځواب ورکړ ، خو په سوډاني لښکرو کې بې اطميناني ورځ په ورځ ډيريږي ، ما په هغوی کې خپل مخبران او څارکښي پرې اېښې دي ، د هغوی له راپورنو څخه مالوميږي چې که چېرې دهغوی يو قومندان هم قومنده په خپلو لاسو کې واخسته نو پاڅون به پيليږي.»

صلاح الدين ايوبي هغه له خپله ځانه سره خپلې خيمې ته يوړ ، علی بن سفيان ورته ويل «ناجي او دهغې سالاران خو مونږ له منځه يوړل خودنفرت او کرکې هغه زهر چې هغه د مصري فوځ پر خلاف پر هغوی کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شنيدلي دې دهغې اغيز يوه ذره هم نه دې راکم شوې، دهغوى دبې اطمينانۍ بل علت دهغوی د سالارانو ورکيدل دي ، مادخپلي شبکې له لارې دا خبر خپور کړې دې چې دهغوی سالاران د روم د بحيرې په سنگر کې پراته دي. خو درونده اميره ! زه شکمن يم چې په سوډانيانو کې شکوک او شبهات پيدا کيږي. داسې برېښي چې هغوی دا احساس کړې چې دهغوی سالاران يا خو بندي کړاې شوی دي او يا له منځه وړل شوی دي.»

« که چيرې پاځون وکړل شي نو ايا په مصر کې چې زمونږ کوم عسکري دلگې شته دي هغوی به د سوډانيانو دفوځ مقابله وکړاې شي ؟» صلاح الدين ايوبي تري وپو ښتل ،« ايا هغوی به دغه پنځوس زره تجربه لونکې وسله وال فوځ ته ماتې ورکړاې شي ؟،..... زه شکمن يم»

«زه ډاډ لرم چې زمونږ هغه کوچني شمير فوځ به د سوډانيانو د فوځ مقابله ونه شي کړاې » علي بن سفيان ورته وويل ،« خو ما ددې کار له پاره هم ځان تيار کړې دې. ما د دروند نورالدين زنگي په لور دوه گړندي سواره استولي دي او هغې ته مې دا پيغام ور استولي دې چې په مصر کې د پاځون نښې نښانې را پيدا شوی دي او مونږ چې کوم فوځ تيار کړې د هغې شميره ډيره لږه ده ، ددې نه اخوا زمونږ د خپل فوځ تر نيمائي زيات د جنگ په ډگر کې دي. په دې خاطر د هغې شوني پاځون د ټکولو له پاره مونږ ته بيړني کمک راوليږه»

«ماته د هغې لورې د بيړني کومک د راتلو هيله ډير لږ ښکاري ،»سلطان ايوبي ورته وويل ، « همدا تيره ورځ يوه قاصد دا خبر راوړ چې نورالدين زنگي په فرينکو باندې يرغل ور وړې ، هغه دا يرغل زمونږ سره د تعاون اوبسپني په خاطر کړې دې ، دا په داسې وخت کې شوې چې په خپله فرينکو او دهغې يو زيات شمير فوځي سالاران دروم په بحيره کې په جنگي بيړيو کې زمونږ لورې ته راتلل ، همدا راز د فرينکو د فوځ يوه برخه مصر ته تللې تر څو دهغې ځاېه پر مونږ د شا له اړخه حمله وکړي ، هغوی زمونږ د سوډاني لښکر د کومک په خاطر ان د مصر تر پولو پورې را غلي و ، محترم زنگي د هغوی پر هيواد باندې يرغل وروړ او دهغوی دغه ټول پلانونه ئې دخاورو سره خاورې کړل. هغه اوس د فرينک پادشاه په ډيره سيمه باندې قبضه کړې ، او دصليبيانو څخه ئې څه دولت او شتمني هم تر لاسه کړې ،»

صلاح الدين ايوبي په خپله خيمه کې قدم اخسته ،او په جذباتي لهجې سره ئې وويل « ماته د سلطان زنگي د قاصد تر خولې بيانونکې د هغې ځاې حالات څه د اندېښنې وړ ښکاره شول.»

«ايا اوس به صليبيان هلته يلغار وکړي ؟»علي بن سفيان تري و پوښتل.

« ماته د يوې زرې په اندازه هم د صليبيانود يرغل پرواه نه شته ،» سلطان ايوبي ځواب ورکړ.« اندېښنه داده چې د کفارو د يرغل مخه نيونکې فوځ د شرابو په منگيو کې ډوب شوې دي ، د اسلام د کلا ساتوندويان د ښکلو نجونو په حويليو کې بنديان دي، دښکلو ښځو او نجونو زلفي دهغوی د پښو زنځيرونه گرځيدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي ! د اسلام تاريخ به اسدالدين شيركوه هيڅكله هم له ياده و نه باسي ، څومره به ښه و چې هغه نن ژوندي واي ، زه د جنګ ډګر ته هماغه راوړې يم ، مونږ ډير ستونزمن وختونه کتلي ، علي !ما دکاکا شيرکوه د فوځ د تر ټولو لمړي دلګي قومنداني کړې ده ، زه دهغې سره يوځاي دري مياشتې د صليبيانو په محاصره کې وم. ماته به کاکا شيرکوه تل دا درس راکاوه ، چې د ويرې اوخوف څخه ځان لرې ساته ،د الله تائيد او دهغې په رضا باندي باور لره ، او د اسلام بيرغ تل رپانده ساته ، زه د کاکا شيرکوه تر قومندانۍ لاندي دصليبيانو او مصريانو د ګډو فوځونو پر خلاف هم جنګيدلي يم. په سکندريه کې محاصره شوی يم ، نژدې و چې ماتې سره مخ شم ، زما سره يو ډله عسکر زړه بدي شوی و ، داچې ما څه ډول د هغوی حوصلې ستړې او تازه و ساتلې ، يوازې زما رب پرې ښه خبر دې. ان تر دې چې کاکا شيره کوه په صليبيانو باندې يرغل وکړ او زمونږ محاصره ئې ماته کړه.....نو مونږ په دې قصې ښه پو هيږو ، ايمان پلورنکې د کفارو سره يوځاي شول او زمونږ له پاره ئې څومره ستر ستر طوفانونه را ولاړ کړل خو زه ويريدونکې نه يم ، زړه مې له لاسه نه دې ورکړې»

ماته ټول هر څه په ياد دي سلطانه !» علي بن سفيان ورته وويل « ددومره جنګونو او قتل و قتال نه وروسته شوني بريښيده چې مصريان به په سمه لاره را ستانه شي. خو کله چې يو غدار او د وطن دښمن مري يوبل غدار او وطن پلورنکې را زيږوي او دهغې ايمان پلورونکې ځاي ناستې ګرځي. زما خپله مشاهده خو دا ده چې غداران او ايمان پلورنکې د کمزوري خلافت اونظام زيږنده ده. که چيرې فاطمي خلافت په حرم کې نه واي را نغښتې نو نن به مونږ د صليبيانو سره په اروپا کې جنګيدو ، خو زمونږ دغه غدار ورونه هغوی نه پريږدې چې د اسلامي سلطنت د پولو څخه بيرون شي. کله چې پادشاهان په عيش و عشرت کې ډوب شي نوبيا د رعاياو څخه هم يو شمير خلک د پادشاهۍ خوبونهويني هغوی دکفارو څخه ځواک اوکومک تر لاسه کوي، په ايمان پلورلو کې هغوی دومره ړندېږي چې دکفارو د عزايمو او دخپلو پيغلو د عصمتونو پرواه هم له ياده باسي.»

«زه تل له همداسې خلکو ويريږم ،»صلاح الدين ايوبي ورته وويل. « الله دې نه کوي ، که کله هم د اسلام نوم له منځه ځي نو هغه به دهمدې مسلمانانو په لاسو وي ، زمونږ دښکلي او ځلانده تاريخ څخه اوس لګيادې د غدارانو تاريخ جوړيږي، دا حالات په ډاګه کوي چې يوه ورځ به مسلمان يوازې په نوم مسلمان وي ،خپلې سيمې او ځمکې به کفارو ته ورحواله کوي ، په دې حالاتو کې که اسلام ژوندې هم پاته کيږي نو مسجدونه به کم او قحوه ځاېونه او دفحشا مرکزونه به زيات وي. زمونږ لوڼې به د صليبيانو په څير خپل وينښتان ازاد اود بې حيائې په لور به درومي ، کفار غواړي چې هغوی پر هماغه لاره رواني کړي ، بلکه رواني کړې ئې هم دي..... اوس د مصر څخه يوځل بيا همغه طوفان را پورته کيږي. علي ! ته خپلې شبکې نورې هم باورې او خپرې ئې کړه ، ما خپلو ملګرو ته ويلې دي چې ددښمن سيمو ته ولاړ شي او شپيني غلچکي يرغلونه وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز د خبرونو د راټولو له پاره ځوان او توانمنده وګړي و ټاکه ، صليبيان هم همدا سنګر مستحکم او اغیزمنوي ، ته سمدستي د ځارکښۍ د جنګ له پاره تیاري و نیسه ،..... د هر څه لمړی کار چې باید ژر تر ژره وشي هغه دادې چې د سمندر څخه څه صلیبیان خوندي را وتلي دي دهغوی یو شمیر زخمیان دي او کوم چې زخمیان نه دي نو هغوی په سمندر کې د څو څو ورځو لامبو وهلو وروسته د زخمیانو څخه بدتر ګرځیدلي دي . دهغوی ټولو علاج معالجه تر لاس لاندې ده ،ما هغوی ټول تر سترګو تیرکړي دي ، ته هم هغوی ووینه ، او دخپلې ورتیا په مطابق ترې پوښتنې ګرویزنې و کړه ،»

صلاح الدین ایوبي دروازه چې راوغوښت او د سهارني چاې غوښتنه ئې ترې وکړه ، او علي بن سفیان ته ئې وویل ،« پرون ئې څه زخمیان او یو څو ښکلې شانته نجونې زما مخ ته راوړې وې ، په هغوی کې شپږ د سمندر څخه راوتلی بندیان دي ، د هغوی تر منځ په یوه زه شکمن شوم چې هغه معمولي سپاهي نه دي ، هغه د رتبې او مرتبې سړې ښکاري ، د ټولو دمخه دهمغه سره ووینه ، ددې تر څنګ پنځه تاجرانو اوه کسه نجونې له ځانه سره راوړې وې ،» هغه علي بن سفیان ته د نجونو په هکله همغه څه وویل کوم چې تاجرانو سلطان ته ویلي و .
سلطان ایوبي ورته وویل ،« ما نجونې تر نظارت لاندې نیولې خو هغوی ته مې ویلي چې زه هغوی په خپله پناه کې اخلم . نجونې وائې چې د غریبو کورنو بچیانې دي او بیا دهغوی دا وینا چې هغوی ئې د یوه سوځیدلې جهاز څخه په یوې کشتۍ کې واچولې او په سمندر کې ئې بې اسرې پریښوې ، بیا کشتۍ هغوی تر ساحله پورې راورسولې ، دهغوی دا خبره ما په شک کې اچوي ، ماهغوی ته ځانته خیمه درولې ده .
او ساتونکې مې پرې درولې دې . ته د ناشتې سمدستې وروسته دغه بندیان او دغه نجونې ووینه.

په اخر کې صلاح الدین ایوبي مسکې شو او وئې ویل « پرون ورځ په ساحل باندې د ګرځیدو په وخت کې پر ماباندې یو غشې را وویشتل شو چې زما د پښو تر منځ پر ځمکه و لګید.» هغه دا غشې علي بن سفیان ته ورکړ او وئې ویل « سیمه غره ایزه وه ، ساتونکې د لټون له پاره تر ډیر لرې ځایه پورې ولاړل ، خو هغوی ته کوم غشې ویشتونکې تر سترګو نه شو . دهغې سیمې څخه هغوی ته دغه پنځه تاجران په لاس ورغلل چې ساتونکو ترما پورې را ورسول او دغه تجارانو دغه اوه نجونې هم ماته را حواله کړې .او هغوی ولاړل»

«او هغوی ولاړل ؟» علي ترې په حیرانتیا سره و پوښتل . «ایا تاسې هغوی ته د تللو اجازه ورکړه ؟»

«ساتونکو د هغوی د سامانونو پلټنه کړې وه ،» ایوبي ورته وویل « د هغوی څخه داسې کوم شې تر لاسه نه شو چې شک پرې شوی وي.»

علي بن سفیان غشې په ډیر غور سره و کوت ، او وئې ویل « د سلطان او راز موندونکې تر منځ ډیر توپیر موجود وي ، زه به د هر څه له مخه د هغې تاجرانو د نیولو هڅه کوم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي بن سفيان د صلاح الدين ايوبي د خيمې څخه بيرون را ووت ، نو دروازه چې ورته وويل ، « دغه قومندان خبر راوړې چې د هغه اوه نجونو څخه چې پرون زمونږ په قيد کې راغلې وې يوه ئې اوس درغل شوې. ايا سلطان تهددې خبرې ور رسول اړين دي ؟ دا خو دومره ستره پيښه نه ده چې سلطان پرې اندېښمن کړو .»

علي بن سفيان په ژور فکر کې پريوت ، هغه قومندان چې د را پور ورکولو له پاره راغلې و ، هغه علي بن سفيان ته راغې او سوکه ئې ورته وويلې « د يوې عيسوي نجلۍ بې درکه کيدل خو به دومره مهمه پيښه وي يا به نه وي ، خو ډيره مهمه داده چې فخر المصري نومې قومندان هم د شپې را هيسې بې درکه شوى دې. دشپې ساتونکو وويل چې هغه د نجونو تر خيمې پورې تللې و ، بيا دهغې ځاې څخه د زخميانو تر خيمې پورې ولاړ او بيا دهغې وروسته په سترګو نه دې کتل شوې. هغه د شپې په ګشت وتلې و .»

علي بن سفيان د لږ څه فکر کولو وروسته وويلې ،« تريوه وخته پورې سلطان ته دا خبر مه ورکوئ ، د شپې د هغه وخت ټول ساتونکې را غونډ کړئ ، کوم کې چې فخر المصري ګشت کاوه ، هغه د سلطان ايوبي د ساتونکې د ډلې قومندان ته وويل ، چې پرون چې د سلطان سره کوم ساتونکې تر ساحله پورې تللې و ، هغوى را ولئ ، هغوى هملته و ، څلور واړه مخته راغلل ، علي بن سفيان ورته وويل ،« پرون چې تاسې هغه تاجران او نجونې کتلې وې ، سمدستې هملته ولاړ شئ ، که چېرې هغه تاجران تر اوسه پورې هملته وي نو هغوى تر خپل نظارت لاندې وساتئ ، او هملته زما انتظار وکړئ ، او که چېرې هغوى له هغه ځاېه تللې وي نو سمدستې بيرته را وګرځئ ، »

ساتونکې ولاړل ،نو علي بن سفيان د نجونو خيمې ته ورغې ، نجونې ئې په خپل مخ کې و درولې او په عربي ژبه ئې ترې و پوښتل ، « هغه اومه نجلۍ چېرې ده ؟» نجونو يو ې بلې ته وکتل او سرونه ئې و خوځول ، علي بن سفيان ورته وويل « تاسې ټول زمونږ په ژبه پوهيږئ !»

نجونو هغه ته په ډيره حيرانه توګه کتل ، علي دهغوى د څهرو او حرکاتو څخه په هغوى شکمن شوى و . هغه د نجونو شاته ودريد او په عربي ژبه ئې وويل « ددې نجونو څخه کالې و کاږئ او لوڅې لغړې ئې کړئ ، او دولس کسه قوي هيکله او ځواکمن عسکر راو غواړئ،»

ټولو نجونو يو ټکان وخوړ او وروسته ئې وکتل ، دوه درې کسو په يوه ځل خبرې پيل کړې ، هغوى عربي ژبه ويلاې شوه ،« ته د نجونو سره دا ډول سلوک نه شې کولاې » يوې ورته وويل « مونږ ستاسو پرخلاف نه يو جنګيدلي »،

علي بن سفيان د خندا نه شين شو او وئې ويلې ، « زه به له تاسې سره ډير ښه سلوک وکړم ، لکه څنګه چې تاسې په يوه ګواښ په عربي ژبه خبرې پيل کړې ، اوس پرته له کوم زور اوفشار څخه ووايا ست چې هغه اومه نجلۍ چېرې تللې ده ؟ ټولو بې خبري و ښووله ، علي ورته وويل ، زه به له تاسې څخه ددې سوال ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتما اخلم. تاسو خو سلطان ته ويلي و چې تاسې زمونږ په ژبه نه پو هيږئ ، اوس خو تاسې زمونږ په ژبه زمونږ په ځير خبرې کوئ ، ايا زه تاسې پريږدم ؟» هغه ساتونکې ته وويل « دوی په خيمه کې کښينوه .»

د شپې ساتونکې را غونډ کړل شول ،د فخرالمصري د ګشت د وخت د ساتونکو څخه علی بن سفيان پوښتنې ګرويزنې پيل کړې ، په اخر کې د نجونو د خيمې ساتونکې وويل چې فخر د شپې دلته ولاړ و اوبيا د زخميانو د خيمې په لور ولاړ. لږ شيبه وروسته ئې ما اواز واوريد .« ته څوک ئې ښکته راشه» ساتونکې هغې لورې ته وکتل نو په تياره کې ورته څه په نظر را نه غلل، مخته د خاورو په غونډۍ هغه ته يو سيورې تر سترګو شو ، او هغه سيورې هملته له نظره ورک شو.

علي بن سفيان سمدستي همليته ولاړ ،دا غونډۍ ساحل ته نژدې پرته وه ، دهغې خاورې شګلوړه وې د يوه ځای څخه را په ډاګه کيده چې هلته څوک پورته شوی دې هلته پر ځمکه ددوه ډولو پښو نښې تر سترګو کيدې ، يوه د سرې نښه ، چې فوځي بوټ ئې په پښو و ، او بله نښه دکوچنۍ څپلکې وه چې ښځينه بريښيده ، ځمکه خامه او شګلوړه وه ، د کومه ځايه چې د ښځې د پښې نښې راغلي وې علي همغې لورې ته ولاړ ، دې نښې هغه د همغه خيمې لورې ته يوړ په کوم ځاې کې چې موبې د رابن سره ليدلي و. هغه د خيمې پرده پورته کړه او ورننوت.

دهغې مخ پيژندونکې سترګو زخمي بنديان له سترګو تير کړل. د ټولو مخونو ته ئې وکتل، رابن ناست و ، هغه علي بن سفيان ته وکتل ، او سمدستي ئې په زړيروي پيل وکړ. داسې مالوميده لکه چې ورته په ناڅاپه توګه درد را ولاړ شوي وي ، علي هغه د مټ څخه ونيوه او بيرون ئې را وويست ، دهغې څخه ئې و پوښتل « د شپې يوه بندي نجلۍ دې خيمې ته راغلي وه ، هغه ولې راغلی وه ؟» رابن هغه ته په داسې نظر وکتل ، چې هم په کې حيرانتيا وه او هم داسې څرګنده کړې چې هغه په هيڅ نه وي پوه شوی چې دې څه وويل. علي بن سفيان ورته يوځل بيا ډير سوکه وويل. « دوسته ! ته زما په ژبه پو هيږې ،زه ستا په ژبه پوهيږم او ويلي ئې شم. خو ته به زما په ژبه ځواب راکوی ،» رابن دهغې خولې ته کتل ، علي ساتونکې ته وويل « دا دخيمې څخه بيرون و ساتئ ،»

علي خيمې ته ور ننوت او د بنديانو څخه ئې دهغوی په ژبه و پوښتل ،« تيره شپه هغه نجلۍ دلته څومره وخت پاته شوی وه ؟ خپل ځانونه په ستونزو کې مه اچوئ ؟» ټول چپه خوله و خو د يو بل اخطار په واسطه يوه بندي وويل چې نجلۍ د شپې خيمې ته راغلي وه او د رابن سره ناسته يا ملاسته وه. دې زخمي د بحري جهاز څخه سمندر ته را ټوپ کړې و ، هغه د اور قهر هم او د اوبو قهر هم کتلي و ، هغه دومره زخمي نه و څومره چې ويريدلي و ، هغه په بل کوم مصيبت کې و ر پريوتو ته تيار نه و ، هغه وويل چې هغه ته دا مالومه نه ده چې د رابن او نجلۍ تر منځ څه ډول خبرې وشوی او يا نجلۍ څوک وه ، هغه ته دا هم مالومه نه ده چې د رابن رتبه څه ده. هغه يواځې د هغې د نوم څخه خبر و ، هغه دا هم وويل چې رابن دې پنډغالي ته تر راتللو پورې روغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رمتې و ، خو دلته په را رسيدو سره هغه دومره واويلا شروع کړه لکه په چا چې په ناڅاپي توګه کومه ناروغتيا يرغل وکړي.

علي بن سفيان د يوه ساتونکي په لارښوونه دهغو نورو پنځوکسو د کتلو له پاره ورغې چې خپل ځانونه ئې تاجران ښوول او په هغه لرې درول شوى خيمه کې پراته و. ساتونکو هم هغوى د خپل پنډ غالي څخه جدا کړي و ، هغوى خو لمړي علي ته دا خبر ورکړ چې د هغوى سره ټول تال دوه اوښان وو خو نن يواځې يو اوښ تر ستركو كيږي ، هغه ته همدومره اشاره كافي وه ، هغوى ددې پوښتني په هكله ډاډمن ځواب نه درلود چې هغه بل اوښ ئې څه كړي ؟ هغه ته دبل اوښ د پښو نښې په لاس ورغلې ، علي بن سفيان هغوى ته وويل « ستاسې جرم داسې معمولي غلا ملا نه ده ،تاسې د ټول سلطنت او ټولې ټولنې له پاره ګواښ ياست ، په دې خاطر زه پر تاسې لږ څه رحم هم نه شم كولالې چې تاسې تاجران ياست.»

«هو !» ټولو خپل سرونه و ښوځول او وئې ويلې « دروند مشره !مونږ خو تاجران يو مونږ بې ګناه يو ،» علي بن سفيان ورته وويل« د خپلو لاسونو څټ را و ښائې. پنځه واړو سمدستي خپل لاسونه را واړول اوعلي ته ئې ور وښول ، علي د ټولو د ښې لاس د ګوتو ګوتې او دشهادت د ګوتې تر منځ ځايونه وكتل او دهغو څخه ئې يو د مرۍند څخه و نيوه او ورته ئې و ويل«كمان او غشي دې چيرې پټ كړي دي ؟»

هغه سړي د خپل معصوميت د ښولو هڅه وكړه خو علي د سلطان ايوبي يو ساتونكي را ووغوښت د هغې د ښي لاس چپ اړخ ئې ورته و ښود .دهغې د ګوتې چپ اړخ هغه ځاې چې ګوته د كځوړې سره لګيږى يعني هلته چې د ګوتې بند وي ، هملته يوه نښه وه ، همداسې يوه نښه ددې سړي د ګوتې په بند هم مالوميده ، علي هغه ته دخپل ساتونكي په هكله وويل ، «دا د سلطان ايوبي ډير ښه غشي ويشتونكي دې او دا نښه د دې ثبوت دې چې نوموړي غشي ويشتونكي دې»

دهغې د ګوتې په بل مخ باندې يوه ډيره باريكه نښه وه، او داسې برښيده چې هلته هر ځل كوم څه منښل شوى وي، او دې پخپله ثابتوله چې په هغې باندې غشي منښل شوى دي. غشي په چپ لاس كې نيول كيږي ، او كمان په ښي لاس نيول كيږي. داسې نښې د هر غشي ويشتونكي په لاسو كې وي ، علي بن سفيان هغه ته وويلې « په دغه پنځوكي يواځې ته غشي ويشتونكې ئې ، كمان او غشي دې څه كړي ؟» پنځه واړه چپ پاته و ، علي د هغو پنځو څخه يو راو نيوه او ساتونكو ته ئې وويل « دا دهغې ونې سره و تړئ»

هغه ئې د كجورې د ونې سره و دراوه او وئې تړه ، علي دخپل غشي ويشتونكي په غوږ كې څه وويل او د ونې سره تړلي تاجر ئې په نښه كړ او غشي ئې پرې ور و توغاوه، غشي د هغې سړي په چپه ستركه كې ور كښيوت او هغه په تړپيدو شو. علي هغه پاته څلورو ته وويل « په تاسو كې څومره دې چې د صليب په خاطر په دغه ډول تړپيدو سره دخپلو ځانونو ځاريدو ته تيار ياست ؟» د هغې لورې ته وويني» هغوى و كتل هغه سړي چيغې وهلې ، په خپلو وينو كې تړپيده او د ستركو څخه ئې د وينو سيلاب را روان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«زه له تاسې سره وعده کوم» علي بن سفيان ورته وويل « چې په عزتمنده توګه به تاسې ټول د سمندر هغې لورې ته ولېږم... ووایاست چې په هغه بل اوښ باندې څوک ولاړ ؟او چېرې ولاړ ؟»

«ستا خپل یو قومندان زمونږ څخه هغه اوښ په زور اخیستې دې» یوه تاجر وویل.

« او یوه نجلۍ هم» علي بن سفیان ورته وویل.

دلږ څه ځنډ وروسته علي بن سفیان د خپلې پوهې او هنر په واسطه دهغوی څخه اعتراف واخست چې هغوی څوک دي ، او څنګه راغلي ، خو هغوی دا درواغ ویلي چې نجلۍ د شپې دخپلې خیمې څخه را تښتیدلې وه او ویلې ئې و چې صلاح الدین ایوبي دشپې هغه په خپله خیمه کې ساتلې وه ، او داچې هغه شراب څښلي و اونجلي ته ئې هم شراب ورکړي او نجلۍ د ویرې څخه دلته پناه راوړې وه ، دهغې د تعقیبولو په خاطر فخر المصري نومي یو قومندان راغي کله چې هغې د نجلۍ خبرې واوریدې نو هغه ئې زمونږ پر اوښ کښینوله او کومې لورې ته ئې یوړه ، هغوی دغه ټول بهتان علي بن سفیان ته واوراوه چې نجلۍ په سلطان ایوبي باندې لګولي و.

علي ورته په خندا شو او وئې ویل « تاسې پنځه واړه عسکري روزل شوی خلک او هغه یو تجربه لرونکې غشي ویشتونکې واست ، او ددې ټولو سره بیاهم هغه یوه کس له تاسې څخه نجلۍ او اوښ دواړه یوړل ، » هغه د همغوي په ښودانې سره غشي اوکمان هم د ځمکې څخه را وویستل ، هغوی څلور واړه ئې خیمې ته ولیږل.. چې بیا دغه پنځه واړه هلته په بد مرګ باندې پخپله مړه شول.

د اوښ د پښو نښې په څرګنده تر سرګو کیدې ، علي بن سفیان په ډیره ګړندۍ توګه لس سواره را وبلل. او هغوی ئې په خپله قومنده کې واخستل او همغې لورې ته چې د اوښ قدمونو ښوولې ولاړل ، خو د اوښ د تګ او علي بن سفیان د ملګرو د تعقیبي تګ تر منځ نژدې پنځلس شپاړس ساعته توپیر و. اوښ ګړندې و او دهغې د ارام له پاره دومره ډیره اړتیا هم نه لیدل کیده. اوښ پنځه شپږ ورځې د ارام ، خورک ، څښاک څخه پرته هم تازه پاته کیدای شي ، دهغې په پرتله آسونو ته په لاره کې څو ساعته ارام ، اوبه او خوراک باید ورکړل شي ، او دې شیانو د تعقیبولو په هڅو کې ستر ځنډ را پیدا کړ. اوښ د پنځلس شپاړس ساعتو توپیر ختمولو ته نه پریښوده ، او فخر المصري هم د تعقیب له ویرې ډیر کم ارام کاوه.

علي بن سفیان ته په لاره کې یو شې تر لاسه شو. او هغه یوه کڅوړه وه. هغه و درید او کڅوړه ئې راپورته کړه، پراې نسته ، په هغې کې دخوراک څښاک شیان و ، په همدې کڅوړې کې یوه بله کڅوړه هم وه په هغې کې هم همدا شیان و. د علي بن سفیان د بوي کولو تیز حس هغه ته دا ډاګیزه کړه چې په دې شیانو کې حشیش ورګډ شوی دې. هغه ته په لاره کې په دوه ځایو کې داسې نښې په لاس ورغلې ، چې ددې څخه دا څرګندیده چې په دغه ځایو کې اوښ دمه کړې او سورلیو ئې ناسته او ارام کړې دې ،هلته د کجورو زړي ، د میوو تخم ، او نور پوستکې خواره واره پراته و. کڅوړې هغه په شک کې واچاوه ، خو د هغې په ذهن کې دا شک

(c) ketabton.com: The Digital Library



را پيدا نه شو چې فخر المصري د حشيشو په نشې کې نجلۍ د خپل ساتونکې په څير له ځانه سره روان کړې دې. خو بيا ئې هم هغه کڅوړه له خپله ځانه سره واخسته، خو د کڅوړې په پلټنې او په هغې ځاې کې په ځنډ کولو او پاته کيدو سره ئې ډير وخت له لاسه ورکړې و.

(۲۱)*****

که چيرې موبې او فخر المصري تر منزله پورې هم نه وی رسيدلاې نوبيا به هم دفوځ په حالا تو کې دپام وړ کوم توپير نه راته، ځکه هغه زهر چې ناجي، اوروش او دهغوی نورو ملګرو په سوډاني فوځ کې شنيدلي و هغو خپل اغيز کړې و. د فاطمي خلافت هغه مشران چې په نوم جنرالان و خو په حقيقت کې ولسي حاکمان ګرځيدلي و غوښتل چې سلطان ايوبي د يوه ناکامه امير او بې کاره حاکم په څير عام ولس ته ور وپيژني، مسلمان حکمرانان په خپلو قصرونو او ماڼيو کې دهمدې ډول نجونو، چې ډيرې ئې عيسائې او يهودئ وی، د زلفو بنديان ګرځيدلي و. يو اځې په نوم مسلمان پاته شوی و. د دولت امور د خپله ځانه د جوړو شوو سالارانو او حاکمانو په لاسو کې و، او دوی په خپل عيش او عشرت کې مصروف و. هغوی نه غوښتل چې د صلاح الدين ايوبي په څير کوم سخت مذهبي او په ملت او هيواد مين وګړې دې دا قوم را ويښ کړي، او امرا او سلاطين دې د حرم او قصر د عيش او عشرت څخه بيرون د حقايقو نړۍ ته را وکاږې. دسلطان ايوبي د مخکينو جنګونو څخه چې دکاکا شيرکوه په مشرۍ کې ور پيښې شوی وې، دا خلک پوه شوی و چې که چيرې دې شخص ته واکمني په لاس ورشي نو اسلامي سلطنت به د مذهب او اخلاقو په اصولو کې راو نغاړې، په دې اساس هغوی هرې هغې لوبې ته لاس اچاوه چې د سلطان ايوبي دڅلورو اوږو چت پرې را پرېوتې شو. هغوی په پټه د صليبيانو سره کومک و کړ. او په خپل هيواد کې ئې دهغوی د جاسوسانو او تخريب کونکو د ځاې په ځاې کولو له پاره لاره هموار کړه، او د ايوبي تر مخه ئې خنډونه دغرونو په څير و درول. که چيرې نورالدين زنګي نه واې نو نن به نه د صلاح الدين ايوبي نوم په کوم تاريخ کې ثبت واې او نه به په نقشې کې ددومره زياتو اسلامي هيوادو نومونه تر سترګو کيدل.

نورالدين زنګي د سلطان ايوبي په يوې اشارې سره هغه ته کومک ور واستاوه، کله چې صليبي لښکرو د سوډاني فوځ په اشارو سره د روم د بحيرې دځنډو څخه په اسلامی سلطنت يرغل راوړ نو نورالدين زنګي دخبريدو سره سم د صليبيانو په خاوره بريد وکړ او دهغوی هغه لښکر ئې بې کاره کړ چې په مصر باندې د يرغل له پاره ور روان و. سلطان ايوبي دخپلې څارکښۍ نظام هم داسې جوړ کړې و چې هغې په ځانته توګه هم د عيسايانود بحري بيړۍ د ډوبولو او غرقولو له پاره بسنه کوله، او اوس چې علی بن سفيان د نورالدين زنګي په لور خپل دوه ګړندي پيغام وړونکې ددې خبرد ورکولو له پاره ور استولي و چې د سوډانيانو د پاڅون ګواښ موجود دې او دا چې زمونږ فوځ کم هم دې او په دوو برخو ويشل شوی هم. دقاصد د ورسيدو سره سم نورالدين زنګي يو ځانګړې شمير فوځ ته د مصر په لورد تللو حکم وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو شمير تاريخپوهان ددې فوځ شميره دوه زره سپاره او پياده ليکلي دي خو يو شمير نورو ددې څخه لږ څه ډير ښوولي دي ، په هر صورت نورالدين زنګي د خپلو اړتياو دپروا کولو پرته د سلطان ايوبي د اړتياو او ستونزو د په نظر کې نيولو په اساس هغه ته د لمړيتوب حق ورکړ خو هغې ځاې ته ددې فوځ د ورسيدو له پاره ډير وخت ته اړتيا وه.

په نوم مسلمانو فوځيانو او نورو د سترو رتبو وګړو چې کله وکتل چې په مصر کې د سلطان ايوبي پر خلاف نا ارامي پيداشوې او پاڅون را ولاړ شوې نوهغوی دې فتنو او سرکښيو ته نوره هم هوا ورکړه. په پټه ئې سوډانيان را پورته کړل او دخپلو مخبرانو په واسطه ئې دا مالوم او خوره کړه چې د سوډانيانو سالاران په پټه توګه وژل شوی او ښخ کړل شوی هم دي. د سوډاني لښکر د کمې رتبې مامورين اوس سالاران شول او د سلطان ايوبي په دغه لږ فوځ باندې ئې، چې په مصر کې پاته و ، د يرغل وروړلو پروګرام جوړ کړ. هغوی غوښتل د سلطان ايوبي پر پاته نيمائې فوځ بريد وکړي او په مرکز کې د سلطان د نشتوالي څخه ګټه تر لاسه کړي ، پروګرام داسې و چې سوډاني فوځ د تورو وريځو په څير د مصر په اسمان باندې راو غوړيږي او د اسلام سپوږمۍ دخپلو تورو لوخړو په منځ کې ډوبه کړي.

علي بن سفيان قاهري ته ورسيد ، هغه چې دچا په تعقيب پسې روان و ، هغه ته نور دهغې کومه ننبه ننبانه نه مالوميده ، هغه خپل هغه جاسوسان ، چې د سوډاني فوځ په مرکز کې ئې خپاره کړې و ، را وغوښتل ، دهغوی څخه يوه ورته وويل چې تيره شپه يو اوښ را غلي و ، په تياره کې څه نه تر سترګو کيدل ، په هغې دوه کسه سپاره و ، يو نر او يوه ښځه ، جاسوس هغه ته دا هم وروښول چې هغوی په کوم عمارت کې ورننوتي و. علي بن سفيان ته دا واک ور په برخه و چې هغه دې همهلته د پلټنې له پاره بريد وکړي ، خو سوډاني فوځ ، کوم ازاد فوځ نه بلکه، د اسلامي سلطنت فوځ و خو علي بن سفيان ددې انديښنې له ويرې هلته د احتياط نه کار واخست چې هسې نه چې دهغه دا قدم په اور دتيلو د اچولو کار ورکړي. د هغې موخې يوائې دا نه وې چې موبي او فخر المصري و نيسي. بلکه اصل موخه ئې داوه چې د سوډاني قيادت راتلونکې پلانونه او تګلارې را بربنډې کړي ، تر څو دهغې د مقابلې له پاره مخته تر مخه ځانونه تيار کړي. هغه خپلو جاسوسانو ته نوې لارښونې وکړې، د هغې په جاسوسي شبکه کې غيرمسلمانه نجونې هم وې. دانجونې نه عيسائې وې او نه يهودي بلکه د قحبه ځاېو ذهينې او چالاکه نجونې وې ، خو علي بن سفيان هيڅکله هم پر هغوی سل په سله باور نه کاوه. ځکه چې دهغوی څخه د دوه اړخيزه لوبې د لوبيدو احتمال هم و. هغو نجونو هم د موبي په هکله ، چې علي ئې د پلټنې په خاطر راغلي و ،مالومات پيدا نه شوکړاې.

*****(۲۲)

علي بن سفيان پوره څلور ورځې د دارالحکومت څخه بيرون سترې ستومانه ګرځيده را ګرځيده دهغې دکار دايره د سوډاني فوځي قيادت شاوخوا سيمه وه ، په پنځمه شپه هغه بيرون د شين اسمان لاندې ناست و او دخپلو دوو جاسوسانو څخه ئې را پور اوريده ، دهغې د شبکې ټولو غړو ته به مالومات وه چې هغه په کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې چپرته وي ، د هغې د ډلې يو کس د بوه بل سړي سره يو ځای ددې لوري ته راغی او وئې ويل « دغه سړی وائي چې نوم ئې فخر المصري دی. هلته په ګټو بوټو کې غورځيد پرځيد ، ما ورسره خبرې وکړې وئې ويل چې ما خپل فوځ ته ورسوئ ، دا په ښه توګه خبرې هم نه شي کولای . » په دې وخت کې فخر المصري کيناست.

«ته همغه قومندان ئې چې د محاذ څخه دې يوه نجلۍ هم له ځانه سره راوړې او را تښتيدلی ئې ،؟»علي بن سفيان ترې و پوښتل.

« زه د سلطان د فوځ را تښتيدلي سپاهي يم» فخر په ښتې ژبه او لړزيدلي اواز سره وويل. « د مرګ د سزا وړ يم ، خو زما خبره تر ټولو لمړې واورئ او که نه تاسې ټولو ته به د مرګ سزا درکړل شي.»

علي بن سفيان دهغې د خبرو څخه پوه شو چې يا خو دا سړې په نشه کې دې او يا دنشه ايزو شيانو تر لاسه کولو له پاره ئې دا حال شوې دې. هغه فخر له ځانه سره خپل دفتر ته يوړه او هغه ته ئې هغه کڅوړه ور وښوده چې په لاره کې ئې موندلې وه ، ترې وئې وپوښتل« دا کڅوړه ستا ده؟ او تا ددې څخه د خوراک شيان خوړلي و؟»

«هو !» فخر لمصري ځواب ورکړ « هغې به ماته دهمدې کڅوړې څخه خوراک راکاوه. د هغه تر مخه هغه کڅوړه هم پرته وه چې ددې کڅوړې له منځه څخه راوتلې وه ، علي دهغې څخه شيان را و يستلې او دهغه تر مخه ئې ايښې و. فخر دا شيان ټول وکتل نو ټوپ ئې کړ او د متيائې په څير يوه ټو ټه ئې را پورته کړه ، علي سمدستې دهغې پر لاس باندې خپل لاس کښيښود ، فخر ورته په نا ارامۍ سره وويل« د خدای له پاره ما پريږده چې دا وخورم. زما ځان او روح په همدې کې دې» خو علي دهغې څخه هغه ټوټه واخسته او هغه ته ئې وويل« ماته ټوله خبره واوروه ، بيا دا ټول شيان ستا دي او له ځانه سره ئې واخله»

فخر المصري د بی هوشۍ لورې ته روان و . علي بن سفيان ورته يو وړوکې ټوټه ورکړه چې د حشيش ماتونکې وه ، فخر هغه ته ټوله پيښه واوروله ، چې هغه څه ډول د نجلۍ دتعقيبولو پسې ولاړ ، تاجرانو پرې قهوه و ښنبله ، چې دهغې د اغيز له امله هغه بلې دنيا ته ولاړ ، تاجرانو (صليبي جاسوسانو ) چې له هغه سره کومې خبرې کړې وې هغه ئې هم ورته ټولې له يوه سره وکړې او بيا د نجلۍ سره هغه يوځای پر اوښ باندې سفر وکړ هغه داسې خبرې کولې چې تا به ويل چې همدا اوس هم د نجلۍ سره يوځای په اوښ سپور روان دې . اوښ هم په ډيره ښه توګه ملګرتيا کړې وه ، هغوی به د شپې له اړخه ډير لرې تم کيدل. انجلۍ به دې ته دهغې بلې کڅوړې څخه د خوراک ښناک شيان ورکول ، هغه خپل ځان پادشاه ګاڼه ،انجلۍ هغه ته د خپل محبت ډاډ ورکړې و او د واده وعده ئې ورسره کړې وه ، خو شرط ئې دا ايښودې و چې هغه به دا انجلۍ سوډاني قومندانانو ته ور رسوي ، هغه په لاره کې هڅه کوله چې انجلۍ د واده پرته خپله ښځه وګرځوي خو انجلۍ به هغه په خپلو متو کې نيوه او دهغې دا غوښتنه به ئې په پوره مينې او محبت سره له منځه وړله ، فخر ې تر اخره پورې دا احساس هم نه کړه چې دې انجلۍ هغه د حشيش او او دخپل ښايست او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانۍ په ولکه کې اخستې دي ، کله ئې چې په دربیم پړاو کې د خوراک څښاک د شیانو له پاره اوښ و دراوه نو هغه کځوړه د اوښ د ځغلولو سره چیرې غورځیدلې وه ، انجلۍ ورته وویل ، چې بیرته ستنیږو چې هغه کځوړه را پیدا کړو خو فخر المصري ورته ویل چې هغه دفوځ څخه راتښیدلې انسان دي ، او شوني ده چې دهغې تعاقب به شوي وي ، انجلۍ ضد کاوه چې کځوړه به ضرور را پیدا کوو ، خو فخر ورته ډاډ ورکاوه چې د لوړې کوم خطر نه شته ، په لاره کې به دکوم کلي څخه لږ څه واخلو خو انجلۍ نه غوښتل د کوم کلي او یا ابادۍ په لور ولاړه شي او ویل به ئې چې بیرته ولاړ شه.

فخرالمصري په زور هغه پر اوښ سپره کړه او دهغې وروسته کیناست او اوښ ئې په ځغاسته کړ. دا د هغوی د سفر دربیمه شپه وه ، بل مابنام هغوی د ښاره بیرون د سوډانیانو د یوه قومندان ځاي ته ور ورسیدل ،خو فخر المصري په خپل سر کې داسې ناقراري احساسوله ، لکه د سر په کوپړۍ کې ئې چې چینجي خوځیږي. هغه سوکه سوکه ریښتني دنیا ته بیرته را وګرځید . هغه په دې نه وه پوه شوی چې دا د حشیشو اغیز دي ، دهغې دپادشاهۍ انګیرنه او په خپل ذهن کې په جوړ کړل شوی جنت کې اوسیدل په همغه کځوړه کې چیرې په دښتې کې لویدلي او پاته شوی و. انجلۍ دهغه تر مخه قومندان ته د صلیبیانو پیغام ورساوه او هغه ته ئې د سلطان ایوبي پر خلاف دپاڅون حکم وکړ ، فخر هملته ناست و او هر څه ئې اوریدل خو په کوپړۍ کې ئې اوس چینجي نور هم را ستر شوی و او په پوره قوت ئې خوزښت کاوه ، نشه ئې له منځه تللي وه ،او اوس ورته را په یاد شوی و چې د جنګ د محاذ څخه را تښتیدلي دي ، انجلۍ (موبي ) ته دا ځرګنده وه چې فخر اوس هم هماغسې نشه دي ، نو په دې اساس هغې دکومې ویرې او ترهې پرته قومندان ته دا هم وویلي چې د سلطان ایوبي او علي بن سفیان تر منځ دا غلطه انګیرنه باید را پیدا کړل شي چې هغه په ښکاره توګه له ځانه نیک صفته انسان جوړ کړي خو په حقیقت کې هغه د شرابو او ښایسته نجونو سره سروکار لري.

دهغوی په اوږدو خبرو کې د پاڅون خبرې هم منځته راغلې ، تر دې وخته پورې فخر المصري په مکمله توګه رابیدار شوی و ، خو په سر کې ئې لا تر اوسه هماغه ډول ناقراري وه او دغه ناارامۍ ډیر وارخطا کړې و . انجلۍ قومندان ته وویلي چې که چیرې پاڅون کوئ نو وخت له لاسه مه ورکوئ ، سلطان ایوبي په سنګر کې مصروف دي ، خو نجلۍ ورته دا درواغ وویلي چې صلیبیان دوه درې ورځې ورسته یوځل بیا حمله کونکې دي ، او سلطان ایوبي به دغه پاته فوځونه هم د جنګ محاذ ته وربلي ، قومندان نجلۍ ته وویلې چې تر پنځه شپږو ورځو پورې به سوډاني لښکر د دې ځاي په فوځونو باندې یرغل یوسي.

فخر دا ټولې خبرې اوریدلې او وئې ویل چې د نیمې شپې وروسته ئې هغه یوې بیلې کوټې ته یوړ تر څو هلته ارام وکړي ، نجلۍ او قومندان په بله کوټه کې و . ددواړو خونو تر منځ دروازه تړل شوې وه ، هغه ته خوب نه راته ، هغه ددروازې سره غوږ کینښود او دهغوی خبرې ئې اوریدې ، چې نجلۍ ویل « هغه مې د حشیشو په زور تر دې ځایه راوړې دي او په ټوله لار مې د هغې د مینې محبوبه له ځانه جوړه کړې وه ، ماته د یوه ساتونکې اړتیا وه. د حشیشو هغه کځوړه چیرې په لاره کې و لویده. که چیرې تر سهاره ورته یو خوراک تر لاسه نه شي نو مونږ ته به ستونزې را پیدا کړي.» ددې وروسته چې فخر دهغې بلې خونې څخه کوم اوازونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوريدل هغه ورته په ډاګه کيدل چې ويل ئې، چې شراب څښني او بدکاري کوي ، د ډير څنډ وروسته هغه ته د قومندان اواز راغي «دا سړې اوس زموږ له پاره بيکاره دې ، دا بايد يا بندي کړو او يا ئې له منځه يوسو .» نجلۍ هم د هغې تائيد وکړ.

فخر المصري اوس په مکمله توګه را ويښ شوی و ، او د هغې ځاېه څخه ئې د تيښتې او وتلو فکر کاوه ، شپه په اخري پړاو کې وه ، هغه د هغې کوټې څخه راووت ، دهغې دماغ د هغې سره ملتيا نه کوله ، کله کله به دماغ صاف شو خو ډير وخت به ګډوډ و . هغه د سهار د رڼنايي دخپريدو ترمخه د خطر د ځاې څخه ډير لرې وتلې و . اوس هغه ته د يوه بل تعقيب خطر هم په مخکې و . هغه ته په دواړو خواو کې مرګ تر سترګو کيده ، که چېرې د خپل فوځ لاس ته ورته نو هم مجرم و او که چېرې سوډانيانو نيولی نو سمدستي ئې واژه ، هغه ټوله ورځ د فرعون په کنډوالو کې تيره کړه ، د حشيش غوښتنه ،ويره او قهر د هغه جسم او دماغ له کاره ويستلې و . تر شپې پورې هغه د تللو توان هم له لاسه ورکړې و . بيا هغه ته دا احساس هم و نه شو چې شپه ده او که ورځ ، او يا دا چې هغه اوس چېرې دې. دهغه په ذهن کې دا هم راغلل چې بايد دا عيسائي نجلۍ د هرې لارې چې کيداې شي ووژني. دا ورته هم په ذهن کې را ګرځيدل چې که اوښ او يا آس په لاس ورشي او ولاړ شي او په محاذ کې د سلطان ايوبي په پښو کې ورو غورځي خو هر سوچ به چې ورته پيدا کيده نو د هغې ترمخه به تياره تياره را خپريده او هر څه به ئې ورته تياره کول. هغه ته په همداسې حال کې دا سړې تر لاسه شو . څرنګه چې هغه جاسوس و نو په دې اساس هغه د فخر المصري سره د دوستۍ او همدردۍ خبرې وکړې او هغه ئې په دې ترتيب تر علي بن سفيان پورې را ورساوه.

اوس دا جوته شوې وه چې سوډاني لښکر به يرغل او پاڅون کوي او دا په هره لمحه کې پيښيداې شي ، علي بن سفيان فکر کاوه چې سمدستي ځاېي قومندانان دې لورې ته متوجه کړې اوهمدا راز سلطان ايوبي ته هم خبر ورکړې ،خو د وخت د ضايع کيدو خطره وه ، په همدې وخت کې ورته پيغام ورسيد چې سلطان ايوبي ور غوښتې دې ، هغه حيران پاته شو چې سلطان خو هغه په محاذ کې پرې ايښې و .

کله چې هغه د سلطان ايوبي سره وکتل نو سلطان ورته وويل «ماته خبر را رسيدلې و چې په ساحل باندې د صليبي جاسوسانو يوه ډله موجوده ده ، او دهغوی څخه يو څو دلته هم را غلي. زما کار نور په محاذ باندې پاې ته رسيدلې و ، هلته مې قومنده خپلو نورو ملګرو ته پريښوه او دېخوا ته راغلم. زړه مې دومره نا ارامه و چې ما دلته ډيره زياته خطره احساسوله ، اوس دلته څه خبره ده ؟

علي بن سفيان ورته ټوله قصه واوروله او ورته ئې وويل « که چېرې ته غواړې نو زه د ژبې د وسلې د استعمال په واسطه ددې پاڅون د تمولو هڅه کولې شم او يا ئې د سلطان زنګي د کومک تر را سيدو پورې ځنډولی شم. زه به همدغه خپله د څارکښنې شبکه استعمالوم ، زموږ د فوځ شميره ډيره کمه ده ، د يرغل مخه نه شو نيولاې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان ایوبي په فکر کې ډوب و ، سر ئې ښکته اچولي و اوعلي بن سفیان هغه ته کتل ، سلطان ودرید او وئې ویل «هو علي ! ته خپله ژبه اوخپل جاسوسان استعمال کړه ، خو د حملې د ځنډولو له پاره نه ، بلکه دحملې دکولوله پاره ، سوډانیانو ته حمله کول په کار دي ، خو د شپې له اړخه چې زمونږ فوځ په خیمو کې بیده وي»

علي بن سفیان په ډیره حیرانتیاسره سلطان ته وکتل ، سلطان ورته وویل « ددې ځاې ټول قومندانان را وبوله، او ته پخپله هم راشه ،»سلطان په ډیره کلکه توګه علي ته دا خبره وکړه چې «ټولو ته دوایه چې زما په هکله ددوی پرته بل هیچا ته دا مالومه نه شي چې زه د محاذ څخه دلته راغلې یم. زما دلته شتون دسوډانیانو څخه پټ ساتل ډیر اړین دي.زه په ډیر احتیاط سره په پټه توګه دلته راغلې یم»

دري شپې وروسته...

قاهره د شپې د تیارې په لمن کې ډوبه ویده وه. یوه ورځ تر مخه د قاهرې خلکو و کتل چې د هغوی هغه فوځ چې دمصر څخه تیارکړل شوې دې د ښاره بیرون وځي ، هغوی ته ویل شوی چې فوځ دجنګي تمریناتو په خاطر د ښاره بیرون خیمې ښخوي. فوځ خپلې خیمی د نیل د دریاب پر غاړه د شګلوړه غونډیو او دریاب تر منځ و درولې، په فوځ کې پیاده هم و او سپاره هم ، د شپې نیمائې تیره شوی وه چې د قاهرې اوسیدونکو ته د لرې څخه د قیامت په څیر شور او زوګ تر غوږو شو. د اسونود ځغاستې اوازونه را تلل ، ویده خلک را پورته شول. هغوی داسې ګمارله چې فوځ فوځي تمرینونه کوي ، خو دا زوږ را نژدې کیده او ډیریده ، خلک دکورنو بامونو ته پورته شول وئې کتل چې اسمان تک سور دې ، ځینو وکتل چې لرې د نیل ددریاب څخه د اور شعلې را پورته کیږي او د تیاره شپې سینه څیروي او په وچه لګیږی ، بیا په ښار کې د اسونو د ځغاستې اوازونه واوریدل شو ، خو د ښار اوسیدونکو ته تر اوسه نه وه مالوم چې دا جنګي تمرینات نه دي بلکه یو پوخ جنګ دې او هغه اور چې لمبې ئې خیژي نو په هغه کې د سوډانیانو دلښکر ډیره برخه ژوندی سوځي.

دا دسلطان ایوبي یو بې نمونې چال و. هغه په دارالحکومت کې خپل پاته لږ فوځ د نیل د دریاب په غاړه د شګلوړه غونډیو تر منځ په پراخه سیمه کې خیمه میشت کړې و. علي بن سفیان هم د خپلې پوهې مظاهره کړې وه. هغه سوډاني لښکر ته خپل کسان ورواستول اوپر هغوی کې ئې د پاڅون اور نور هم ور تیز کړ. او دهغې د قومندانانو څخه ئې دا پریکړه واخسته چې کله چې د شپې په تیاره کې د سلطان فوځ په خوب ویده وي نو پر هغوی به سوډاني فوځ حمله وکړي او تر سهاره به د هغوی د یوه یوه سپاهي ژوند پاې ته ور سوي. دوی به دارالحکومت پرته له ویرې قبضه کړي او د سوډانیانو د فوځ بله برخه به د روم په بحیره کې پروت ایوبي فوځ باندې د یرغل له پاره هغې لوری ته ولاړ شي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی دخپلې پریکړې او پلان په مطابق د سوډاني فوځ یوه برخه په ډیره پټه توګه د شپې د روم د بحیرې د محاذ په لور ور ولیږله. او بله برخه ئې دنیل د دریاب پر غاړې په خیمه میشت فوځ باندې لکه دمچیو په څیر ور و ننبتل.

دې فوځ د سیلاب په څیر په یوه میل پراخه سیمه کې خپاره فوځ باندې ور حمله کړه او په ډیره چټکۍ سره په دې سیمه کې خپاره واره شول. یو ناڅاپه په خیمو باندې د اور غشي او تیل ور وشیندل شو، د بڼه سوځیدلې ټوټې را په وریدو شوی ، نیل هم اور اورول پیل کړل، په خیمو اور ولګید او شعلې ئې اسمان ته په رسیدو شوی. خو په خیمو کې دننه سوډاني فوځ ته نه د سلطان د فوځ کوم سپاهي تر لاسه شو او نه کومه سپرلۍ، دې فوځ ته هلته خالي خیمې په لاس ورغلې، هیڅوک هم د مقابلې له پاره را پورته نه شول ، او یو ناڅاپه د اور لمبې هرې خواته خپرې شوې. هغوی په دې نه پوهیدل چې سلطان ایوبي دشپې په لمړ یو کې خپل فوځ دخیمو څخه ویستلې د شګلوړه غونډیو شاته ئې په سنګرونو کې کښینولې ، او په خیمو کې ئې د وچو وښو ډیرې اچولې و، هم ئې په خیمو او هم ئې په وښو تیل ور اړولي و. همدا رازئې په کشتیو کې هم کوچنۍ منجنیقونه ایښې او د شپې له اړخه ئې پټو ځایو کې ځای په ځای کړې و ې.

کله چې سوډاني فوځ خیمه ځاې ته راغي د سلطان پټ فوځ اور توغونکې غشي او د نیل څخه په کشتیو کې ایښې منجنیقونو څخه د اور ګولئ توغول پیل کړې ، خیمو اور واخست نو وښو او تیلو هلته د قیامت ورځ جوړه کړه ، د سوډانیانو آسونو به خپل پیاده فوَځ تر پښو لاندې کاوه ، د سپاهیانو له پاره ددې اوره وتل ناشونې شوی و. دهغوی چیغود اسمان پردې خیرولې ، دې اور شپه رڼا ورځ ګرځولې وه ، دسلطان یوموټې فوځ په اورکې سوځیدونکې سوډاني فوځ تر محاصره لاندې و نیوه ، هغه به چې له اوره راووت هغه به د غشو ښکار ګرځیده ، خو هغه برخه چې په څنګ شول هغوی و تښتیدل.

له بله اړخه د سوډانیانود فوځ یوه برخه دسلطان په فوځ باندې د یرغل له پاره د محاذ په لور روان و. ایوبي دهغې له پاره هم پوره انتظام کړې و ، هغوی ته ئې په لاره کې سنګرونه نیولې و ،د هغې مجاهدینو به د سوډاني فوځ په اخري برخه باندې ګذار کاوه اوپه هغوی کې ئې واویلا ور ګډ وله. دغه مجاهدینو چې سوډانیانو ته څومره زیان وررسولې شو هغه ئې وررساوه او د سیمې څخه ئې ځان په تیاره کې پټاوه.

کله به چې سوډاني فوځ لږ څه بیا مخته ولاړ نو تر شا به بیاپرې غلچکې یرغل و شو ، دا د برق په څیر تیز او ګړندي یرغلونه و چې یرغل کونکې به د یرغل وروسته خوندي ځایو ته ستنیدل. تر سهاره پورې ددې فوځ په اخري برخه باندې نژدې درې حملې وشوی. سوډاني سپاهیان ددې حملو څخه زړه بدي شول. هغوی ته د مقابلې کولو موقع په لاس نه ورتلله، کله چې ورځ شوه نو د هغوی قومندانانو په ډیره ستونزمنه توګه هغوی په کنترول کې راوستل ، خو دشپې له اړخه د تللو په وخت کې یو ځل بیا پرې هماغه ډول غلچکې یرغلونه پیلیدل ، په بله شپه په تیاره کې پر هغوی غشي هم وویشتل شول ، هغوی ته د شپې په تیاره کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو آسونو د ځغلولو اوازونه هم اوريدل کيده.چې په دوی باندې به د غلچکي يرغل وروسته بيرته خوندي ځايونه تلل.

دري څلورو اروپائي مورخينو چې په هغې ډله کې لين پول ، او وليم په ځانګړې توګه د يادولو وړ دي ليکلي دي چې ددښمن په زيات شمير وګړو باندې د شپې د تياري يرغلونو او غلچکي حملی کول د سلطان ايوبي داسې يو جنګي مانور و چې دهمدې مانور په واسطه په راتلونکو وختو کې صليبيانو ته ډير زيان وروسيد.

په دې توګه سلطان ايوبي ددښمن د مختة تګ رفتار ډير را کم کړ او دښمن ئې مجبور کړ چې هغوی دې په هغه ډګر کې و جنګيږي چې صلاح الدين ايوبي ئې په کوم ځاي کې جنګول غواړي ،هغه د جنګ لورې د خپل ځان په ګټه و ګرځوه. دغه تاريخپوهانو د سلطان ايوبي د هغه ځان ځارونکو او سر تيرو سپرو د بهادرۍ او جرأت ډيره زياته ستاينه کړې ده. دنن ورځې يو شمير جنګي مبصرين چې د جنګونو اوجګړوپه تاريخ باندې نظر لري دا نظر ورکوي چې د نن دترپ او خرپ ، غلچکي او ګوريلا عملياتو بنسټ اېښودونکي پخپله صلاح الدين ايوبي دې ، هغه ددې لارې ددښمن پلانونه يو په بل پسې د ناکامۍ سره مخ کړل ،هغه په سوډانيانو باندې همدا طريقه ازميښت کړه او يواځې ددوه شپو د غلچکي عملياتو په واسطه ئې د سوډاني فوځ د جنګ روحيه و ځپله ، دهغوی په قيادت کې کوم داسې دماغ نه و چې خپل فوځ سنبال کړي ، له بله اړخه په هغې فوځ کې د علي بن سفيان د شبکې غړي هم د سوډانيانو په لباس کې موجود و ، هغوی به دا افواه خپروله چې د عربو څخه يو ستر لښکر را روان دې چې د هغې سره مقابله به سوډانيان د پوره هلاکت سره مخ کړي ، هغوی په هغوی کې د زړه بدوالي او د تيښتې ميلان را پيدا کاوه او په دې هکله ئې پوره برياوي هم په برخه شوی. فوځ غير منظم شو او خپور شو. هغه برخليک چې د نيل د درياب په غاړه ورته ورسيد هغه ډير عبرت اخستونکي و ...... دا افواه غلطې ثابتې نه شوی چې د عربو څخه فوځ را روان دې ، په همدې وختو کې د نورالدين زنګي فوځ ، که څه هم د شمير له اړخه ډير نه و ، د جنګ ډګر ته را ورسيد .

يو شمير تاريخپوهانو د هغوی شميره د دوه زره سواره او دوه زره پياده ليکلي دې او ځينو بيا ددې څخه لږ زيات ويلي دي. هر څه چې و خود صلاح الدين ايوبي لاس ئې ورکلک کړ او هغه هم سمدستي ددې فوځ قيادت په خپلو لاسو کې واخست. په داسې حال کې چې د سوډانيانو پنځوس زره لښکر د سلطان ايوبي په اورکې را نښتي و او د دښتې په هر ځاي کې د مجاهدينو د غلچکي بريدونو لاندې راتلل او د پوره بې نظمۍ سره مخ و ، دغه لږ کومک هم د صلاح الدين ايوبي له پاره ډيرستر ملاتړ و .

سلطان ايوبي د همدې کومک په واسطه او دخپل فوځ په توان کولاې شول چې سوډانيان له يوي مخې قتل عام کړي. خو هغې د سياسي زيرکتيا څخه کار واخست ، د سوډانيانو د قوماندې قومندانان ئې و نيول، او هغوی ته ئې دا وويل چې دهغوی له پاره د هلاکت او تباهۍ پرته نور څه نه شته. خو هغه نه غواړي دوی په مکمله توګه له منځه يوسې ، قومندانانو هم خپل حشر ليدلې و. اوس هغوی دسلطان د قهر او غضب څخه په ويره کې و. خو سلطان هغوی وبښل او دسزا د ورکولو پر ځاې ئې د سوډانيانو پاته مات ګوډ فوځ په دهقانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي تبدیل کړ. هغوی ته ئې ځمکې ورکړې او په کرکیله کې ئې دهغوی سره ددولت د خزانې څخه بسپنه وکړه. اوبیا ئې هغوی ته دا اجازه هم ورکړه چې دهغوی څخه چې کوم خلک غواړې دوباره په فوځ کی را ننوځي ، راننوتې شي.

د سیاسي زیرکتیا له مخې ئې سوډانیان په کار و ګمارل او د نورالدین زنګي د رالیږل شوی فوځ او خپل فوځ او همدا راز د هغو سوډانیانو څخه چې غوښتل ئې په فوځ کی خدمت وکړي یو منظم فوځ جوړ کړ. او پر صلیبیانو باندې ئې د یرغلونو کولو له پاره په پلانونو جوړولو پیل وکړ. هغه علي بن سفیان ته وویل چې هغه دې د خپلې جاسوسي شبکې او د غلچکي عملیاتو ځان ځارونکې ډلې تیارې کړي، د بله اړخه صلیبیانو هم دخپلې ځارکښۍ او تخریب کارۍ نظام ټینګول پیل کړي و.

*****(۲۳)

## [مسلمانان به مسلمانان وي خو ایمان به ئې پلورلې او صلیبیان به پرې حکومت کوي (ایوبي)]

## د سلطان ایوبي د وژلو پلان:(۳)

دصلاح الدین ایوبي دوخت پیښنو لیکونکواو تاریخپوهانو په خپلو لیکنو کې د سیف الله په نامه د یوه سړي یادونه کړې او لیکلي ئې دي چې که چېرې په نړۍ کې یوم انسان د بل انسان بندګي کړې وي نود هغوی دډلې څخه به ئې یو سیف الله و چې د سلطان ایوبي بندګي ئې کوله. دصلاح الدین ایوبي د یو ډیر نژدې دوست او معاون بهاؤالدین شدّاد په ډایرې یا (د پیښنوپه ورځ لیک )کې ، چې نن هم په عربي ژبه کې خوندي ده ،د همدې وګړي په هکله ډیر څه لیکل شوی. په دغه ډایرې کې د سیف الله یادونه په ډیره تفصیلي توګه شوی. دا سړې چې اوس ئې نوم د تاریخ په هیڅ پاڼه کې نه تر سترګو کیږي د دصلاح الدین ایوبي د مړینې وروسته نژدې اولس کاله ژوندې و ، د پیښنو لیکونکې لیکې چې هغه خپل اخري عمر( نژدې اولس کاله) په بشپړه توګه د سلطان ایوبي د قبر په منجاورۍ کې تیر کړ. هغه وصیت کړې و چې که چېرې ومري نو د سلطان ایوبي سره ئې نژدې خاورو ته وسپارئ، خو څرنګه چې هغه د کوم ځانګړي حیثیت خاوند نه و او یو نوم ورکې انسان و نو په دې اساس ئې دمسلمانانو په عامه هدیره کې ښخ کړ، خو دهغې هدیرې شتون ډیره موده دوام ونه کړ ځکه چې هلته خلکو کلي او کورونه اباد کړل او د هدیرې نوم او نښه ئې هم له منځه یوړه.

د تاریخ له اړخه د سیف الله اهمیت دا و چې هغه د سمندر څخه اخوا د سلطان ایوبي د وژلو په نیت راغلي و، په هغه وخت کې دهغه نوم «میګنا نا(ماریوس) » و، هغه یواځې د اسلام د نامه څخه خبر و ، خو په دې نه پوهیده چې اسلام څه ډول مذهب دې. د صلیبیانو د پروپاګند په اساس هغه ډاډمن شوی و چې اسلام دکرکی اونفرت نه ډک مذهب دې او پیروان ئې «مسلمانان» د کرکی او نفرت نه ډکه ډله ، دوی په ښځو زړه ورکونکې او د انسانانو غوښې خوړونکې قوم دې ، په دې خاطر دغه "میګنانا ماریوس» به چې کله هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان لفظ اورید نو د کرکې به ئې لاړې تو کولې. خو کله چې هغه د بې مثله او بې نمونې جرأت په ښکاره کولو سره دصلاح الدین ایوبي مخته راغې نو بیا هغه « "میګنا ناماریوس»ووژل شو او د مړو وجود څخه ئې د سیف الله په نوم یو نوی انسان را وزیږید.

په تاریخ کې داسې حکمرانانو کمښت نه شته چې یا خو وژل شوی یا پرې وژونکې یرغلونه شوی وي، خو صلاح الدین ایوبي دتاریخ د هغه څو شخصیتونو څخه یودې چې د وژلو هڅې ئې دښمنانو هم کړې او خپلو دوستانو هم. بلکه خپلو ئې د پردېو څخه د هغه د وژلو ډیرې هڅې تر سره کړې. دا ډیره د افسوس وړ خبره ده چې د سلطان ایوبي د ایمان نه د ډکو پیښو د یادولو تر څنګ د ایمان پلورونکو قصې هم یادېږي. په همدې خاطر به صلاح الدین ایوبي بیا بیا ویل چې « ډیر ژر به د اسلام اومسلمانانو تاریخ داسې ووینئ چې مسلمانان به مسلمانانوي خو خپل ایمان به ئې پلورلې او صلیبیان به پرې حکومت کوي.»

اونن مونږ هماغه وخت په خپلو سترګو وینو !

دسیف الله قصه دهماغه وخته څخه پیلیږي چې صلاح الدین ایوبي د صلیبیانو متحده بیړه د روم په بحیره کې و سوځوله او ډوبه ئې کړه ، دهغوی یو څو بحری جهازونه خوندي پاته شوی و ، سلطان ایوبي د روم د بحیرې په ساحل کې د خپل فوځ سره موجود و او د سمندرد څپو څخه را وتونکې صلیبیان به ئې نیول او تړل، دهغوی د ډلې څخه هغه اوه نجونې هم وې چې تفصیلي یادونه ئې مخته شویده.

هلته په مصرکې د سلطان ایوبي سوډانې فوځ بغاوت وکړ خو سلطان د هغوی بغاوت او پاڅون و ځپاوه ، هغه ته د سلطان زنګي له اړخه را لیږل شوی مرسته هم را ورسیده، اوس نو هغه د صلیبیانو د موخو او پلانونو د له منځه وړلو له پاره خپل پروګرامونه تر لاس لاندې و نیول.

د روم د بحیرې څخه اخوا د روم د ښار په څنډو کې د صلیبي مشرانو کانفرانس جوړ شو ، چې په کې اګستس پادشاه هم ګډون درلود ، ددې څخه اخوا په دې غونډه کې د ریماند پادشاه او د اوم لوئې ( شهنشاه ) ورور هم ګډون کړې و. په دې کانفرانس کې تر ټولو ډیر قهرېدلې وګړې ایملرک و، هغه د صلیبیانو د دغې متحدې بیړۍ ،چې په مصر باندې د یرغل له پاره لیږل شوی وه، ستر قومندان و . خو سلطان ایوبي پرې د ناڅاپي افت په څیر را پریوت، چې ددې ناڅاپې یرغل په واسطه ددې بیړۍ یو عسکر هم د مصر په ساحل کې په سلامتۍ سره قدم کینښودلای شو. ټول هغه صلیبیان چې د مصر تر ساحله پورې رسیدلي وو، دسلطان ایوبي په لاسو جنګی بندیان و ګرځیدل . دصلیبیانو په دغه کانفرانس کې د ایملرک شونډې رپیدلې، دهغه د بیړۍ ډوبیدو او سوځیدو نژدې پنځلس ورځې تیریدې ، هغه په پنځلسمه ورځ د ایټالیې ساحل ته بیرته راستون شوی و. په داسې حال کې چې د سلطان ایوبي اور توغونکو د هغې د کشتۍ بادبانونه ځیرلې او سوځولې و خو هغه د ښه نصیب او قسمت خاوند و چې دهغې ملاحانو په اور باندې کنترول وموند او دهغې جهاز ئې د ډوبیدو څخه و ساته ، خو د بادبانونو پرته جهاز په سمندر کې ګډیده ، بیا توپان راغې ، دهغې د خوندي پاته کیدو ټولې لارې له منځه تللې وې ځکه چې ډیر شمیر پاته شونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشتۍ او جهازونه په هغې توپان کې،چې د سلطان ايوبي د ځواکونو د بريد ورسته را پيدا شوی و ، غرقې شوي وي. دا يوه معجزه وه چې د ايملرک جهاز په سمندر کې په ګډا و او په ډيرو غورځو پرځو تر ساحله پورې را ورسيد. ساحل ته ددې د کشتۍ په را رسيدو کې د هغې د ملاحانو پوهه اوکمال هم شامل و، ځکه هغوی د څپو په توان سره کشتۍ کنترولوله.ساحل ته د رارسيدو سره سم هغه ټولو ملاحانو او سپاهيانو ته ډيرزيات انعامونه ورکړل.

صليبي مشرانو همله دده انتظار کاوه ، هغوی په دې فکر او غورکې ډوب و چې چا ورته دوکه ورکړې ، ښکاره ده چې دا شک يواځې په سوډاني سالار ناجي کيداې شو ځکه دوی دهغې د ليک پر بنسټ هلته خپله متحده بحري بيړه ور ليږلې وه ، او دهغوی سره د ناجي د ليکنواړيکو لا د پخوا څخه شتون درلود. هغوی د ناجي ددې ليک ، ليک دود د هغې د پخوانيو ليکنو سره يوځاې کړ نو شک ورته پيدا شو چې حتما څه ګړبړ شته ، هغوی قاهرې ته جاسوسان استولې و خو دهغوی له اړخه هم لا تر اوسه کوم خبر نه و را رسيدلې ، هغوی ته ددې خبرې خبر ورکونکې او ددې راز را سپړيدونکې هيڅوک نه و چې ورته ووائې چې سلطان ايوبي ناجي او دهغې سازش کونکې ډله په پټه توګه له منځه وړې دي ، او د شپې په تياره کې ئې په نوم ورکو قبرنو کې ښخ کړې دي. دا ليک پخپله د ناجي د لاس ليک و. خو د يرغل تاريخ ئې سلطان ايوبي تبديل کړې و ،د څارکښۍ دا ډول مالومات له هيڅ ځايه نشواې تر لاسه کيداې.

په همغه ورځ دا کانفرانس پرته له کوم مثبتو پايلو څخه پاې ته ورسيد، د ايملرک دخولې څخه يوه خبره هم نه راوتله ، هغه ماته خوړلې وه ، په غُصّه او قهر کې ډوب و ، او سترې ستومانه هم. کانفرانس د بلې ورځې پورې وځنډول شو...... دشپې ټول پادشاهان او رئيسان د ماتې او غم په شرابو کې ډوب پراته و.

په سبا يوبل سرې هم دې غونډې ته راغې چې يواځې ريمانډ پيژنده ، هغه د ريمانډ باورې دوست او جاسوس و. هغه د يرغل په ماښام د مصر په ساحل کې پياده شوی و ، دهغې څخه لږ څه وروسته د صليبيانو بيړه راغلې وه او دابيړه دهغه د سترګو تر مخ د سلطان ايوبي د ډير لږ فوځ په بريد تباه او ډوبه شوه.

دا جاسوس همله دمصر په ساحل کې اوسيده او ډيرزيات مالومات ئې را ټول کړي و. ريمانډ دغه نوي کس هغو ټولو ته ور وپيژانده ، نو ټول ترې سمدستي راتاو شول ، دې جاسوس ته معلومه وه چې صليبي مشرانو د سلطان ايوبي د وژلو له پاره د رابن په نوم يو جاسوس د سمندر څخه اخوا ليږلې و . او دهغې د مرستې له پاره ئې پنځه کسه نور تکړه او روزل شوی يوه جاسوسان او اوه کسه ښياسته او ښکلې روزل شوی نجونې هم استولې وې.

دې جاسوس ووېل چې رابن د زخميانو سره يو ځاې د زخمي کيدو په بهانه دصلاح الدين ايوبي تر پنډ غالي پورې ورسيدلې دي د هغه پنځه کسه همله ته د تاجرانو په لباس کې شتون لري ، دهغوی د ډلې څخه کرستوفر نومې يو سرې په سلطان ايوبي باندې يو غشې هم ور وويشتې و ، خو غشې خطا ولاړ. پنځه واړه کسان نيول شوی دي او هغه اوه نجونې هم همله ته بنديانې دي ، که څه هم هغوی ډيره ښه قصه جوړه کړې وه ، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطر سلطان ایوبي نجوني په خپله پناه کې واخستې او هغه پنځه کسه تاجران ئې پرېښول ، خو د ایوبي یو ډیر پوه رازموندونکې چې علي بن سفیان نو میږي په ناڅاپي توګه راغې هغه یوځل بیا ټول و نیول ، او دپنځو ځخه ئې یوکس د ټولو تر مخ وواژه او د نورو ځخه ئې اقرار واخست. دې جاسوس غونډې ته وویل « ما د خپل ځان په هکله ویلي و چې زه ډاکتر یم په دې خاطر سلطان ماته د زخمیانو د علاج دنده را وسپارله . ماته د هماغه ځایه ځخه خبر را ورسید چې سوډانیانو بغاوت کړې و خو دسلطان ایوبي له خوا و ځپل شو. او د سوډانیانو سالاران او مشران د ایوبي په لاسو کې کنبیوتل ، اوس رابن ، ځلور نورکسان او شپږ نجوني د ایوبي په بند کې دي او ایوبي تر اوسه پورې په ساحل کې دې ، هغه اومه نجلۍ چې تر ټولو ډیره هو ښیاره ده بې درکه شوی ، ددې بې درکې نجلۍ نوم «موبینا ارتلاس » دې خو هلته ورته (موبي) وائي. ایوبي هم په پنډغالي کې نشته ، او د ځارکښی د شبکې مشر ئې هم هلته شتون نه لري ، زه په ډیره ستونزمنه توګه راوتلې یم ، په ډیر زیات جرأت سره مې له هغه ځایه ځان را وویست او یوه ګړندی کشتی مې تر لاسه کړه ، زه دهمدې خبر د ورکولو له پاره دلته تاسو ته راغلي یم چې رابن ، دهغې جاسوسان او هغه شپږ نجوني ټول د مرګ د خطر سره مخ دي. د سرېو دومره فکر کول په کار نه دي خو د هغو نجونو په ځنګول او خوندي کول ډیر اړین دي. تاسو پو هیږئ چې هغوی ټولې ځواني او په ګوته را ټولې کړل شوی ښایسته نجوني دي. دهغو هغه بدحالي چې اوس به په کې د مسلمانانو له خوا را ګیرې وي ستاسې د تصور او انګیرنې ځخه پورته دي»

«مونږ به دا قرباني ورکوو » شاه اګستس وویل.

« که چیرې ماته ډاډ راکړئ چې د نجونو د خلاصون له پاره به په ګډه قدم پورته کوو نو تر ټولو دمخه زه دې قربانۍ ته چمتو یم. » ریمانډ ورته وویل.« خو د خواشینۍ ځاې دې چې مسلمانان به دهغوی سره د وحشیانو په څیر سلوک وکړي ، او نجوني به پر مونږ لعنت وايي ، زه به د هغوی د خوندي بیرته راستنید په اړه خپلې هیڅ ډول هڅې و نه سپموم»

« داهم کیداې شي ، » رابرټ ورته وویل « چې مسلمانان د دې نجونو سره ښه سلوک وکړي او برعکس ئې زمونږ پر خلاف د ځارکښی له پاره په کار واچوي. په هرصورت دا زمونږ دنده ده چې هغوی ددې قیدو بند ځخه ازادې کړو ، زه دهغوی د ازادی له پاره د خپلې نیمائي خزانې مصرفولو ته تیار یم.»

« دا نجوني یوائې په دې خاطر ارزښتناکه نه دي چې نجوني دي » جاسوس ورته وویل « هغوی روزل شوی دي، د داسې خطرناکه کار له پاره داسې په ګوتو را ټولې کړل شوی نجوني پیدا کیږي چیرته ! تاسې به په ډیره ستونزمنه توګه داسې یوه نجلۍ تیاره کړئ چې هغه دې د دښمن سیمې ته ولاړه شي او خپل ځان دې دښمن ته ور حواله کړي بیا دې ددښمن د عیاشۍ له پاره وسیله شي او د هغوی تر منځ دې جاسوسي او تخریب کاري پیل کړي. دداسې کار د ترسره کولو له پاره تر ټولو دمخه عزت له منځه ځی او تر ځنګ ئې د ا ګوانښ تل موجود وي چې کله چې هم دښمن ته مالومات تر ګوتو شي چې دا نجلۍ جاسوسه ده نو هغه ته بیا اذیت ناکه سزا ورکوي او په ډیره خرابه توګه ئې وژني..... دانجوني مونږ په ډیر زیات قیمت تر لاسه کړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا مو روزلي دي او بيا مو په ډېره ستونزمنه توګه هغوی ته مصري او عربي ژبې ورزده کړي ، په يوه ځل د اوه تجربه لرونکو نجونو د لاسه ورکول د عقل نه لرې خبره ده»

«ايا ته په باوري توګه ويلای شې چې نجونې به د ايوبي عسکري پنډغالی څخه ازادې او را وويستې شو؟» اګستس ترې وپو ښتل.

«هو درونده مشره !» جاسوس وويلې « هغوی را ويستل کيدای شي خو ددې کار له پاره په غېر معمولی توګه د زړه ورو او تجربه لونکو وګړو اړتيا ده، دا هم کيدای شي چې هغوی رابن ، دهغې ځلور ملګرې او دا نجوني قاهرې ته يوسي. چې بيا به ئې د هغې ځای په څخه را ويستل ډېر درانده تماميږي ، که چېرې مونږ وخت له لاسه ورنه کړو نو مونږ هغوی په همغه عسکري پنډ غالي کې ګيرولای شو.تاسو ماته شل کسان را کړئ زه به د هغوی لارښوود و اوسم ، خو سړي بايد داسې وي چې هر ډول خطر په ځان و مني او پر خپل ځان هر ډول اذيتونو ګاللو ته چمتوالې ولري.

«مونږ بايد په هر قيمت چې کيږي دا نجوني بيرته را ستني کړو » ايملرک په غُصّه وويل ، هغه څه چې د روم په بحيره کې پرهغه تير شوی و د هغې د بدلې اختسلو احساس هغه نور ليونې کړې و . هغه د صليبيانو د متحده بيړې او په هغې بيړۍ کې د سپور لښکر اعلی قومندان و او په دې هيله مصر ته تللې وه چې د مصر دسوبې پګړۍ به دده په سر و تړل شي. خو سلطان ايوبي هغه ته د مصر تر ساحله پورې دتللو فرصت هم ورنکړ. هغه په سوځيدونکې جهاز کې د سوځيدو څخه خوندې پاته شونو جهاز ئې د توپان څپو پسې واخست ، اوس چې خبرې کوي نو شونډې ئې رپيږي او دخبرو په وخت کې يا ميز په سوکانو وهي او يا خپل ورون په زوره زوره په څپيړو وهي او بيا خبره کوي. هغه وويلې «زه به نجونې هم راوړم ، او سلطان ايوبي به هم وژنم. زه به همدا نجونې د مسلمانانو د سلطنت د جرړو د ويستلو له پاره استعمالوم.»

«زه د زړه له کومي ستا تائيد کوم ، ايملرک پادشاه !» ريماند ورته وويل ،« مونږ بايد دا روزل شوی نجونې دومره په اسانۍ له لاسه ورنه کړو ، او نه دا کار کوو ، تاسې ټولو ته ډاګيزه ده چې د شام(سورئې ) په حرمونو کې زمونږ څومره نجونې ور ننوتې دي او څومره مسلمان واليان او اميران د همدې نجونو په لاسو کې لوبيږي، په بغداد کې همدې نجونو د امراو په لاسو ټول هغه وګړي چې دصليب مخالف و له منځه وړي دي ، مونږ د مسلمانانو خلافت د ښځو او شرابو په واسطه په درې برخو ويشلې دې. په هغوی کې يو والي نه دې پاته ، هغوی په عيش او عشرت کې ډوب دي ، او لا ډوبيږي. يوازې نورالدين زنګي او صلاح الدين ايوبي دي چې که چېرې ددې دواړو څخه کوم يو هم ډېر ژوندي پاته شو نو بيا به زمونږ له پاره د اسلام له منځه وړل اسانه نه وي ، که چېرې سلطان ايوبي د سوډانيانو بغاوت ځپلې وي نو دهغې مطلب خو دا شو چې دا وګړي دهغې څه نه هم زيات خطرناک دي تر کومه پورې چې مونږ انګيره. مونږ ته اوس د جنګ د ډګر څخه اخوا د تخريب کولو محاذ پرانستل هم اړين دي ، په مسلمانانو کې د تفرقې او بې باورۍ د خپرولو له پاره مونږ ته دهمدې نجونو څخه دکارد اختسلو له پاره سخته اړتياده .»

«مونږ ته د خپلو کاميابه تجربو څخه ګټه پورته کول اړين دي» د اوم لوبيې ورور رابرټ وويل ، » په عربو کې مونږ دمسلمانانو دکمزوريو څخه ګټه اخستې ده ، مسلمانان د ښځو ، شرابو او شتمنيو پسې ړانده دي ، د مسلمانانو د وهلو او ځپلو يوازېنۍ لار داده چې هغوی پخپله دخپلو مسلمانانو په لاسو ووژنئ ، مسلمانانو ته د ذهني عياشۍ سامان تيار کړئ نو بيا هغوی دخپل دين او ايمان څخه هم لاس په سر کيږي. بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسي د مسلمانانو ايمان په ډيره آسانۍ سره اختسلاي شئ» هغه دخپلو خبرو د تائيد له پاره د عربو د ځو رئيسانو ، امرانو او وزيرانو نومونه واخستل چې صليبيانو د ښځو ، شرابو او شتمنيو په واسطه اخستي و او هغوی ئې په پټه خپل دوستان ګرځولي و.

د لږ څه وخت له پاره د مسلمانانو په کمزوريو باندې خبرې وشوی اوبيا د نجونو د ازادولو په عملي اړخونو هم غور پيل شو. اخر دا پريکړه وشوه چې شل زړه ور کسان دې ددې کار د ترسره کولو له پاره تر سبا ماښام پورې واستول شي ، سمدستي ئې ځلور پنځه قومندانان را وغوښتل ، هغوی ته ئې اصل مقصد او موخې وښوولي او ورته ئې وويل چې شل کسان بايد و ټاکئ. قومندانانو د لږ څه وخت له پاره ددې موخو د تر لاسه کولو په لار کې د خطرونو په اړوند بحث وکړ، يوه قومندان وويل « مونږ لا د پخوا څخه دهمداسې يوه ځواک په تيارولو لګيا يو چې ولاړ شي او دمسلمانانو په پنډغالي کې شپيني غلچکي عمليات تر سره کړي او دهغوی په متحرک فوځ هم د شپې له اړخه غلچکي بريدونه وکړي اوهغوی ارام ته پرې نږدي داسې ځواک له پاره مونږ يو ځو کسان ټاکلی هم دي.»

«خو دا وګړی بايد سل په سلو کې باوري وي» اګستس وويل. « هغوی زمونږ اوستاسې له سترګو پټ خپل کارونه تر سره کوي، دا هم کيداې شي چې هغوی هيڅ هم و نه کړي او بيرته را و ګرځي او ووايي چې هغوی ډير څه کړي او راغلي دي.»

« ته به ددې خبرې په اوېدو سره حيران شئ» يوه قومندان وويل « چې زمونږ په فوځ کې داسې سپاهيان هم شتون لري چې مونږ د زندانو څخه راويستلي دي ، دا وګړي غله ، لاروهونکي، شوکماران او داړه ماران دي ، هغوی ته ډيرې اوږدې اوږدې سزاګانې ورکړل شوی دي ، هغوی به په بنديخانو کې مړه کيده ، مونږ دهغوی سره خبرې وکړې نو هغوی په ډير جوش او مينې سره فوځ ته راغلل ، تاسو به ددې مالوماتو په هکله هم حيران شئ چې په دغه ناکامه يرغل کې همدې مجرمو بنديانو په ډيره بهادرۍ سره ځو جهازونه په څنګ کړي دي... زه دمسلمانانو څخه د نجونو د ازادولو ددې پلان شوی يرغل له پاره درې همداسې کسان استوم.»

تاريخپوهانو ليکلي دي چې په مسلمانانو کې دعيش او عشرت ميلان ورځ په ورځ مخ په زياتيدو و، او اتحاد او يووالي ئې له منځه تلونکي. عيسايانو دمسلمانو د اخلاقي تباهۍ له پاره هغوی ته د ذهني عياشۍ هر ډول سامان او وسايل تيار کړي و.... اوس هغوی دا هيله کوله چې مسلمانان به په يوه يرغل سره له منځه يوسي ، هماغه و چې د هغوی پر خلاف ئې په عيسائي دنيا کې د نفرت او کرکې يو توپاني پروپاګند پيل کړ. او هر چاته ئې د مسلمانانو پرخلاف په جنګ کې د ورګډيدو بلنه ورکړه ، ددې پروپاګند په ځواب کې او دمسلمانانو پر خلاف په جنګ کې دګډون له پاره دهغوی د ټولنې د هرې برخې خلک په صليبي لښکر کې ورننوتل ، په دوی کې عيسايي ملايان (پادريان ) هم شامل و، اوهغه عادي مجرمين هم ، چې د خپلو ګناهونو څخه ئې توبه کړې وه، ټولو د مسلمانانو پر خلاف وسله پورته کړه. د يو شمير هيوادونو په بندي ځايو کې هغه مجرمين چې د اوږده بند سزا ورکړل شوی وه هم په فوځ کې د ورګډيدو بلنه تر لاسه کړه ، ځکه ددې مجرمينو په اړوند عيسايانو ښه تجربه درلوده ، او دهمغې تجربې له مخې يوه قومندان د نجونو د ازادولو او د صلاح الدين ايوبي د وژلو په خاطر دهمدې بندي مجرمينو د ډلې څخه ځو کسان انتخاب کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ناوخته پورې شل ډېر زړه ور او ذهين روزل شوى وګړي را ټول کړل شو چې په دې ډله کې يوبندي « ميګنا ناماريوس» نومي هم شامل و. نوموړې د روم د جيل څخه را ويستل شوى و.

هغه جاسوس چې د سلطان ايوبي په پښو غالي کې ئې د ډاکټر په څير کار کاوه او اوس را تښتيدلې و ، ددې کمانډو ډلې قومندان او لارښود و ټاکل شو. دې ډلې ته دا دنده ورکړل شوې وه ، چې نجونې به د مسلمانانو د بند څخه ازادوي ، که چېرې و توانيږې چې رابن او دهغه نور څلور ملګري هم را ازاد کړاى شي ډېره به ښه وي او که نه دهغوى له پاره دخپلو ځانونو په خطر کې اچولو ته اړتيا نه شته ، دهغوى بله دنده به داوي چې سلطان ايوبي به له منځه وړي ، دې ډلې ته ئې کومه روزنيزه ښوونه هم ورنه کړه. يواځې په خوله ئې ورته يو څو لارښوونې وکړې او د اړتيا وړ نظامي وسايل ئې ورته برابر کړل او په همدې ورځ ئې د ماهي نيونکو په بڼه په يوه بادباني کشتۍ کې هلته ور واستول.

*****(۲۴)

هغه وخت چې دا کشتۍ د ايټاليې د ساحل څخه روانه شوه ، نو صلاح الدين ايوبي د سوډانيانو بغاوت په مکمله توګه ځپولې و ، د سوډانيانو زيات شمير قومندانان يا خو وژل شوى و او يا زخمي پراته و او يا د سلطان ايوبي ددفتر تر مخه ولاړ وو. هغوى وسله پر ځمکه ايښې وه، ماتې خوړلې و او د سلطان ايوبي اطاعت ئې منلې و. هغوى د سلطان د حکم منتظر و ، سلطان دننه ناست و او خپلو سالارانو ته ئې احکام ورکول. علي بن سفيان هم هملته موجود و. په دې سوبه کې د هغه ډېر زيات لاس و ،د صليبيانو په ماتې کې هم د هغې جاسوسي نظام ډېر زيات کار کړې و بلکه دغه دواړه برياوي دجاسوسي نظام برياوي وي. داسې بريښيده چې سلطان ايوبي ته يو ناڅاپي څه ور په ياد شوى وي ، علي بن سفيان ته ئې مخ واړاو او ورته ئې ويل « علي ! مونږ ته دهغه جاسوسو نجونو او دهغوى دملګرو په هکله د فکر کولولو له پاره وخت هم نه دې تر لاسه شوې ، هغوى ټول تر اوسه پورې په ساحل کې په بنډعالي کې بنديان دي ، هغوى ټول سمدستي دلته راوړئ ، مالومات ترې تر لاسه کړئ اوبيا ئې په تورو کوټو کې ور واچوئ»

«زه همدا اوس پيغام استوم» علي بن سفيان ورته وويل « هغوى ټول به دلته د ساتونکو تر منځ را وغواړم .....خو سلطانه ! شايد چې له تا څخه هغه اومه نجلۍ هيره شوې وي ، هغه د سوډانيانو دېوه قوماندان «باليان » سره وه ، دهغې نجلۍ څخه دجاسوسانودشتون اود سوډاني فوځ دبغاوت راز را څرګند شوى و، زه اوس وينم چې باليان په دغه قومندانانو کې، چې بهر ولاړ دي ، نه شته. په زخميانو کې مې هم نه دې تر سترګو شوى او په مړو کې ئې هم چا جسد نه دې کتلې ، زه شکمن يم چې هغه اومه نجلۍ چې نوم ئې فخر المصري (موبي) وايه ، دباليان سره چېرې پټه شوې ده.»

«« خپل شک رفع کړه علي !» سلطان ايوبي ورته وويل « اوس دلته له ما سره ستا شتون ته اړتيا نه شته ، که باليان ورک شوې وي نو خامخا به د روم د بحيرې په لور تللې وي ، دصليبيانو پرته هغه ته بل څوک پناه نه ورکوي ، په هر صورت هغه جاسوسان ټول په تاخانو کې ور واچوه او سمدستي د خپلې شبکې دجاسوسانو ډله تياره اود سمندر څخه ئې اخوا واستوه ،»

« ډېره اړينه خو داده چې زيات شمير جاسوسان په خپله خپل هيواد کې خپاره کړو ،» ددې مشورې ورکونکې د سلطان نور الدين زنګي له اړخه د را ليږل شوى فوځ يو سالار و ، هغه ورته وويل « مونږ ته دصليبيانو له اړخه دومره ګواښ نه شته څومره چې د خپلو مسلمانو امرينو ، رئيسانو او سازش کونکو څخه دې. خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاسوسان دهغوی په حرام سرايونو کې ورداخل کړئ و به وينئ چې د ډيرو زياتو سازشونو څخه پردې پورته شي.» هغه نور هم په تفصيل سره خبره وکړه چې دا حکمرانان څه ډول او په کومو لارو د صليبيانو په لاسو کې لوبول کيږي. سلطان زنګي به زيات وخت اندېښمند و او ويل به ئې چې «د بهر د يرغل مخه و نيسو او که خپل کور دخپل چراغ او په خپل لاس دسوزيدو څخه خوندي و ساتو».

صلاح الدين ايوبي دا خبرې په ډېر غور او دقت سره واوريدې او وئې ويل «که چېرې تاسې خلک چې وسله وال ياست، دېانت لرونکې او دخپل مذهب سره مخلص واست نو د بهر يرغلونه او د کور سازشونه قوم ته هيڅ ډول زيان نه شي ور رسولې، تاسې خپلې سترګې د سرحدونو څخه لرې هغه لورې ته يوسئ، د اسلامي سلطنت پولې نشته، تاسې چې له کومې ورځې خپل ځانونه او د الله ج دغه ستر مذهب اسلام، په سرحدونو او پولو کې را و نغاړه نو په همغه ورځ په دې وپوهيږئ چې تاسې به په خپله په خپلې بندي خانې کې بنديان ياست.بيا به ستاسې پولې پخپله رژيږي. خپلې سترګې د روم د بحيرې څخه اخوا واړوئ ،سمندر ستاسې مخنيوي نه شي کولې، د کور د ځراغونو څخه مه ويريږئ، دا خو د يوه پوکی په واسطه له منځه ځي او مونږ به ددې پر ځاې د ايمان ځراغ رو ښانه کوو.»

«دروند ه سلطانه ! مونږ هيله لرو چې د ايمان پلورنکو مخه به تم کړاي شو.» سالار ورته وويل «مونږ نا هيلي نه يو».

«يواځې ددوه بديو څخه ځانونه خوندي وساتئ زما دوستانو !» سلطان ايوبي ورته وويل.« دنهيلئ اوبل ذهني عياشئ څخه. انسان لمړې د هر څه د مخه نهيلې کيږي اوبيا د ذهني عياشۍ په واسطه د تيښتې لاره خپله وي»

په دې وخت کې علي بن سفيان تللې و، هغه سمدستي يو قاصد د روم دبحيرې پنډغالي ته ددې پيغام سره يو ځاي استولې و چې رابن، دهغه څلور ملګري او نجونې ټول په آسونو او يا اوښانو سپاره اودلته دارالحکومت ته ئې د ساتونکو په ساتنه کې خوندي راواستوئ،.....قاصد ئې اخوا و ليږه خو پخپله د خپلو شپږ اوه سپاهيانو سره د قومندان باليان په لټون پسې را ووت، هغه د هغو سوډاني قوماندانانو څخه چې هلته بيرون ناست و د باليان په اړوند هم پو ښتنې کړې وې. ټولو ويلې و چې هغه مونږ ته په دې جنګ کې چېرې هم نه دې ترسترګو شوی او نه هم هغه ددې فوځ سره، چې د روم د بحيرې په لور د سلطان په فوځ باندې د يرغل له پاره ليږل شوی و، کتل شوی. علي بن سفيان د باليان کور ته ولاړ خو هلته ئې د هغې ددوه زړو خدمه و څخه بل څوک ونه موندل، هغوی ورته وويل چې د باليان په کور کې پنځه نجونې وې، په هغوی کې به چې دکومې يوې عمر لږ څه ډيريده هغه به ئې له دې ځايه غيبوله، او د هغې پر ځاي به ئې ځوانه نجلۍ را وړله، هغو خدمت ګارانو وويل چې د بغاوت تر مخه هغه ته يو فرنګي نجلۍ راغلی و ه چې ډيره زياته ښايسته او هو ښياره وه، باليان دهغې غلام ګرځيدلې و ،د بغاوت نه يوه ورځ وروسته کله چې سوډانيانو وسله پر ځمکه کښيښوده نو باليان د شپې دشپې په آس سپور شو او په يوه بل آس هغه فرنګي نجلۍ سپره شوه، خو ګرځنده نه شوه چې هغوی کومې لورې ته ولاړل، دهغوی سره اوه آس سپاره نور هم ملګرې و. د حرم د نجونو په اړوند هغو زړو خدمه و وويل چې هغوی ته چې څه په کور کې په لاس ورتلل وائې خستل اوپه خپلو خپلو لارو ولاړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي بن سفيان دهغې ځاې څخه بيرته راستون شو نو يو کس چې خپل آس ئې ډير ګړندې ځغلاوه راغې او دعلي بن سفيان تر مخ و دريد . په دې آس باندې فخر المصري سپور و . را ټوپ ئې کړ او دآس څخه را ښکته شو اوپه لړزيدلې اواز ئې وويل «زه تاپسې راغلې يم ،زه هم همدغه بدبخته باليان او ددغې کافرې نجلۍ پسې ګرځيدم. زه دهغوی څخه بدله اخلم ، تر هغه چې دغه دواړه په خپلو لاس و نه وژنم ، نو ارام به نه کېنم، زه پو هيږم چې هغوی به اوس چيرې تللې وي خو دهغوی سره او ه کسه ساتونکې دي او زه ځانته يم ، هغوی د روم د بحيرې په لور تلل ، خو په عامې لاره نه ، بلکې د عامې لارې څخه لرې په درغلې بې لاريو باندې روان دي.» هغه دعلي بن سفيان په پښو لاس کښيښود او ورته ئې وويل « د خداې له پاره ماته يوا ځې ځلور سپاهيان راکړه ، زه د هغوی پسې ورځم اوهغو ې له منځه وړم.»

علي بن سفيان هغه په دې وعدې سره سوړ کړ چې هغه ته به د ځلورو پر ځاې شل سپاره ورکړې ، هغوی د ساحل نه اخوا دومره ژر نه شي تللاې ، ته له ماسره اوسه ، علي بن سفيان ډاډمن شوې و چې دا کرّه مالومات خو ورته تر لاسه شو چې هغوی کومې لورې ته تللي دي.

*****(۲۵)

په دې وخت کې باليان د همدې صليبي نجلۍ سره ،چې نوم ئې (موبي) ويل کيده ،دساحل په لورې د عامې لارې څخه اخوا په کږو وږو لارو باندې روان و. هغه ددې سيمې د لارو اولوړو ژورو څخه ښه خبر و ، خو هغه ته دا معلومه نه وه چې سوډاني فوځ او دهغې قوماندانانو ته صلاح الدين ايوبي عامه ښښنه کړې ده ، هغه خو له يوه اړخه د سلطان د قهر څخه په تيښته کې و اود بله اړخه هغه نه غوښتل چې د (موبي) په څير ښايسته نجلۍ له لاسه ورکړي ، هغه داسې انګيرله چې د نړۍ ښايسته نجونې يواځې په مصر او سوډان کې دې خوددغې ايټاليائې نجلۍ ښايست او زړه راښکونکې مخ هغه ړوند کوڼ کړې و. هغه د همدې نجلۍ په خاطر خپله رتبه ، خپل مذهب او ان تردې چې خپل هيواد پريښودو ته تيار شوی و. خو هغه ته دا نه وه څرګنده چې (موبي) اوس دهغه څخه د ځان د خلاصون په فکر کې وه ، هغه چې دکوم هدف له پاره راغلې وه هغه اوس ختم شوې و .بلکه هغه هدف له منځه تللې او تباه شوې و . خو بياهم (موبي) خپله دنده تر سره کړې وه ، ددې موخې د تر لاسه کولو له پاره هغې د خپل جسم او عزت قرباني هم ورکړې وه . هغه اوس د خپل عمر څخه ددوه هومره زيات عمر د يوه سړي د هوس او عياشۍ وسيله ګرځيدلې وه.

باليان په دې خيالونو کې ډوب و او فکر ئې کاوه چې (موبي) له هغه سره ډيره زياته مينه لري خو (موبي) له هغه څخه نوره کرکه او نفرت کاوه ، مګر څرنګه چې هغه مجبوره وه نوپه دې خاطر ئې نه شوکولاې په يواځې ځان د تيښتې لار پيدا کړي. هغې د همدې مقصد له پاره باليان له ځانه سره کړې و . هغې ته د سمندر څخه دخپل ځان دخوندي تيريدو اړتيا وه. هغې دروم د بحيرې څخه اخوا تيريدل غوښتل ،او يا تر راښن پورې ور رسيدل. هغه ته دا نه وه څرګنده چې راښن او دهغې نور ځلور ملګرې چې د تاجرانو په بڼه کې و ، وختې د سلطان ايوبي له خوا نيول شوی دي. هغه د همدې مجبوريو په اساس د باليان په لاسو کې د ناڅکې په څير لوبيدله ، هغې څو ځله هغه ته ويلي و چې ګړندې ګړندې ولاړ شي او خپل پړاونه او تم ځايونه را کم کړې اوکه نه نو و به نيول شي خو باليان به هر چيرې چې ښه او شين سيورې وکوت نو دمه به ئې کوله ، هغه د شرابو ذخيره له خپله ځانه سره ګرځوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه شپه (موبي) له خپله ځانه سره دباليان څخه د خلاصون فکر وکړ. هغې په باليان باندې دومره شراب و څښل چې هغه ئې پرې بې سده اوبې هوشه کړ. د هغه سره هغه اوه ساتونکې هم ويده شوی و. (موبي) پوهيده چې په دوی کی يو داسې ځوان دې چې په ټولو ئې خبره اغيزلري ، باليان به هم ډير وخت له همغه سره هره خبره کوله (موبي) هغه را ويښ کړ او لږ څه لرې ئې له ځانه سره يوړ او ورته ئې وويلې: ته ښه پوهيږی چې زه څوک يم او دلته د څه له پاره راغلې وم.ما خو تاسې خلکو ته مرسته را وړې و تر څو د صلاح الدين ايوبي په څير د اجنبي وګړو څخه خلاصې و مومئ ، خو ستاسې دا قومندان باليان دومره عياش انسان دې چې هغه د شرابو د څښلو وروسته بدمستيږي اوزما د وجود سره لوبې کوي ، ددې پر ځاې چې هغه د پوهې او تدبر په اساس د بغاوت له پاره پلان جوړ کړي او سوبه ترلاسه کړي هغه زه دخپل حرم وينځه وګرځولم او په ړانده توګه ئې فوځ په دوه برخو وويشه ، او په داسې بې پروائې سره ئې حمله وکړه چې په هماغه يوه شپه کې ستاسې دومره ستر فوځ له يوه سره له منځه ولاړ.........

«ستاسې د فوځ دماتې او ناکامۍ ټول مسئوليت ددې وګړي په غاړه دې ، اوس هغه يواځې دعياشې له پاره له ماسره ځي اوما ته وائې چې له ځانه سره ئې د سمندر هغه لورې ته بوځم ، هغه ته په خپل فوځ کې رتبه ورکړم او ورسره واده وکړم. خو زه ددې وګړي څخه کرکه لرم ، ما پريکړه کړې چې که چيرې زه واده هم کوم اويوڅوک له ځانه سره د سمندر اخوا خپل هيواد ته وړم اوپه خپل فوځ کې ورته رتبه ورکوم نو ماته به داسې يوه کس انتخاب اړين وي چې زما خوښ وي ، او هغه کس همدا ته ئې ، ته ځوان ئې ، زړه ور ئې ، دعقل او پو هې خاوند ئې ، دهغه وخته چې ته زما تر سترګو شوی ئې زما په زړه کې دې ځاې نيولې دې ، ماددې زاړه څخه و ژغوره ، زه هم ستايم ، د سمندر نه اخوا ځو ، په فوځ کې رتبه او مال او شتمني به ستا په قدمونو کې کيږدم خو داسې به همدلته له منځه وړې ، هغه ويده دې هغه ووژنه او بيا را ځه چې ځو»

هغې د ساتونکې په غاړه کې لاسونه ور واچول ، ساتونکې هم د هغې په ښايست کې و تړل شو هغه د ليونې په څير نجلۍ په خپلو متو کې را ونغاړله ، (موبي) په داسې جادو کولو کې هنرمنده وه. هغه چې لږ څه لرې شو يوبل ساتونکې ئې په لور ورغې او تر شا ئې يو برچه د هغه په ملا کې ور ښخه کړه، د هغې د خولې څخه د «وائې» اواز راووت او په يوه اړخ پريوت. برچه ئې د ملا څخه را وويسته او دا اواز ئې واوريده ، « دې نمک حرامه ته د ژوندي پاته کيدو هيڅ حق نه شته.» د نجلۍ دخولې څخه يوه چيغه راووته ،هغه را پورته شوه او يواځې همدومره ئې وويلاې شول چې تا هغه وواژه ،د هغې د شا څخه يو لاس د هغې اوږه ونيوله او ټکان ئې ورکړ او له ځانه سره ئې بوتله ، هغه ئې د باليان تر څنګ ور و غورځوله او وئې ويل« مونږ ددې سړې روزل شوی دوستان يو ، زمونږ ژوند دهغه دژوند سره دې ، ته زمونږ له ډلې څخه هيڅ يوهم دهغه پرخلاف بې لارې کولی نه شې هغه چې بې لارې شول هغوی خپله سزا و موندله ، »

باليان د شرابو په نشې کې مست بې هوشه پروت و.

«ايا تاسې خلکو دا فکر هم کړې دې چې تاسې چيرې روان ياست ؟»(موبي) ترې وپوښتل.

«په سمندر کې د ډوبيدو په لور» يوه ځواب ورکړ. « له تاسره زمونږ هيڅ اړيکې نه شته ، تر هر ځاېه چې باليان ځي، تر همغه ځاېه پورې مونږ هم روان يو.» او هغه دواړه ولاړل او څملاستل.

په بله ورځ چې باليان را پورته شو نو هغه ته ئې د شپې پيښنه بيان کړه ، (موبي) ورته وويل چې هغه ماته د وژلو اخطار راکړ او له ځانه سره ئې يوړم ، باليان خپلو ساتونکو ته شابسې ورکړ خو دهغوی دا خبره ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکل وانه وريده چې دغې نجلۍ هغه وژل شوی ساتونکې بې لارې کړې و ، او هغوی ددې نجلۍ خبرې ټولې اوريدلې وې ، هغه د (موبي) د ښايست اوشرابو په نشه کې بې هوشه شوې او ټول هرڅه ترې هير شوی و . (موبي) يوځل بيا هغه ته وويل چې بايد ګړندي تګ وکړو ، خو باليان د هغې د خبرو څه پرواه نه کوله ، هغه په خپل ځان هم نه پوهيده .(موبي) اوس نه شوه ازاد بداي ، هغې کتلي و چې دا خلک د خپلو نژدې دوستانو له وژلو څخه هم سرنه رغړوي.

معلومه نه ده چې علي بن سفيان په کوم فکر کې ددې خلکو تعقيب و نه کړاي شو. د بغاوت نه وروسته دحالاتو د ښه کولو له پاره هغه د سلطان ايوبي سره يوځاې ډير مصروف او مشغول شوی و.

*****(۳۲)

د ساحل د ډېرو غالي څخه رابن ، او دهغې د څلورو ملګرو او شپږ نجونو قافله د ساتونکو په ساتنه کې د قاهرې په لور روانه وه ، قاصد د هغوی څخه لږ څه د مخه تللې و ، بنديان په اوښانو سپاره ، او ساتونکې ئې په آسونو سپاره و. هغوی عادي تګ کاوه او دلارې په اوږدو کې به ئې پړاو اچوو. هغوی دکومې ويرې اوخطر د احساسولو پرته روان و. څکه هلته د دښمن د برغل او ويرې ګواښ شتون نه درلود . د چا د تيښتيدو خطر هم نه محسوسيده . خو هغوی دا هير کړې و چې دا بنديان ټول روزل شوی جاسوسان دي ، هغو چې د تاجرانو په لباس کې نيول شوی و ټول په ګوته راټول شوی غشي ويشتونکې اوتيغ وهونکې فوځيان و. او نجونې يواځې نجونې نه وې چې د ښځو کمزورې ذات وګڼل شي ، دهغې نجونو جسماني زړه را ښکودنه ، اروپائې رنګ ، ځواني او د هغوی بې حيائې داسې وژونکې وسلې وې چې ډيرو سترو جابرو حکمرانانو ورته وسلې پرځمکه کيښودې.

د ساتونکودډلې قومندان يو مصري ځوان و. هغه وکتل چې دهغوی شپږو څخه يوه ئې دهغې لورې ته مخ وراړوي او ورګورې اوکله چې دا ورته ووينې نود نجلۍ په شونډو کې مسکا را پيدا کيږي. او همدې خندا هغه مصري ځوان د موم په څير ويلې کاوه. دماښام وخت و چې هغوی لمړې پړاو وکړ نو ټولومانښامې غذا و خوړله، خو دې نجلۍ ډوډۍ ته لاس هم ونه کړ ،کله چې قومندان ته خبر ورکړل شونو هغه د نجلۍ سره خبرې وکړې ، نجلۍ دهغه په ژبه هم پوهيدله او هم ئې ويلاې شوه ،د نجلۍ د سترګو نه اوښکې راغلې، هغې ورته وويل چې غوارې له ده سره په ځانته ځاې کې خبرې وکړې.

کله چې د شپې ټول ويده شول نو قومندان راپاڅيد ، هغه ، هغه انجلۍ را وينبه کړه او يوه ځانته ځاې ته ئې يوړه ،نجلۍ هغه ته وويل چې هغه مظلومه ده ، فوځيانو د يوه کور څخه را تښتولې ، اوبيا ئې په جهاز کې له ځانه سره راوړه هغه په ټوله لار د يوه منصبدرا په لاسو کې لوبيده ، د نورو نجونو په هکله هغې وويل چې دهغوی سره ئې يواځې په جهاز کې ليده کاته کړې دي ، هغوی هم ټولې را تښتول شوې نجونې دي کله چې په ناڅاپې توګه په جهازنو اورولګيد او جهازونه په اور کې را ونغښتل ، نو هغوی دغه ټولې نجونې په يوې کشتۍ کې ور واچولې اوپه سمندر کې ئې بې اسرې پرې ښودې . کشتۍ دوی تر دغه ساحله پورې راورسولې اوبيا دلته دوی د جاسوسانو په تور نيول شوی او بنديانې کړل شوی.

دا همغه قصه وه چې د تاجرانو په لباس کې هغو جاسوسانو ددې نجونو په هکله صلاح الدين ايوبي ته هم کړې وه ، د ساتونکو دډلې قومندان ته دا ډاګيزه نه وه خو هغه دا فکر کاوه چې د لمړې ځل له پاره دا ډول قصه اوري ، هغه ته خو حکم شوی و چې دا ډيرې خطرناکه جاسوساني دي ، دوی تر قاهرې پورې راورسوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د سلطان په يوه پټه محکمه کې ئي محاکمي ته وړاندې کړئ، ددې حکم په اساس هغه ددې نجلۍ او يا هغو نورو نجونو سره څه مرسته نه شو کولاې ، هغه دې نجلۍ ته خپله مجبوري وويله ، هغه ته دا معلومه نه وه چې د نجلۍ په ورسره کځوره کې لا تراوسه پورې ډير غشي پاته دي. نجلۍ ورته وويل ،« زه له تا څخه هيڅ ډول بسپنه نه غواړم ، که چېرې ته غواړې چې زما سره مرسته وکړې نوزه به تا د مرستې کولو څخه منه کړم ځکه چې ته ماته دومره ګران ئي چې زه نه غواړم دخپل ځان په خاطر تا په کوم مصيبت کې واچوم. زما هيڅ غمخور نه شته ، زه دهغه نجونو سره هيڅ ډول پيژندګلوي نه لرم اوهغه خلک هم نه پيژنم چې له مونږ سره په قافله کې روان دي، ته ماته رحم زړې هم بريښې او زما په زړه هم ښه لګيږې ، په دې خاطر مې دا خبرې تاته وکړې.»

ددومره ښايسته نجلۍ دخولې څخه دداسې خبرو په اوريدلو به کوم نارينه خپل ځان په کنترول کې و ساتي؟ دا نجلۍ مجبوره هم وه ، د شپې يواځې والي هم و ، د مصري نارينتوب را وپاريد ، هغه د نجلۍ سره ددوستۍ خبرې پيل کړې ، نجلۍ اوس د محبت او ميني يو بل غشي وويشت او د صلاح الدين ايوبي په کړچار ئې زهر ور وشيندل ، هغې وويل « ما ستاسې والي صلاح الدين ايوبي ته خپله ټوله قصه کړې وه ،ما هيله کوله چې هغه به زما پر حال باندې رحم وکړي ، خو هغې زه په خپله خيمه کې و ساتلم ، او دشرابو دڅښلو وروسته ئې زما سره بدکاري وکړه . هغه ځناور زما وجود مات مات کړ ، د شرابو د څښلو وروسته دهغې څخه داسې ځناور جوړيږي چې د انسانيت ذره هم په کې نه پاته کيږي.»

دمصري وينه په جوش راغله او را و خوټيده ، وئې ويل « مونږ ته خو ويل شوی و چې سلطان ايوبي يو مؤمن وګړې دې ، يوه فرښته ده، د شرابو او ښځو څخه کرکه لري....»

« ګوره !ما اوس يوځل بيا هغه ته ور وړې» نجلۍ ورته په ډيره مظلومانه توګه وويل « که چېرې ته باور نه کوې نود شپې له اړخه وګوره چې زه به چېرې وم. هغه ما په بندې خانه کې نه ساتي ، بلکه په خپل حرم کې مې ساتي ، زه ددې سرې څخه ويريږم.» دهمداسې زياتو خبرو دکولو په اساس هغې نجلۍ د مصري قومندان په زړه کې د سلطان ايوبي پر خلاف کرکه او نفرت را پيدا کړل او په دې ترتيب ئې مصري په مکمله توګه په خپله ولکه کې واخست. دهغه په زړه او دماغ ئې قبضه وکړه ، مصري په دې نه پوهيده چې دا دهمدې نجونو وسله ده. نجلۍ ورته په اخر کې وويلې « که چېرې ته ماته ددې ذليله ژوند څخه نجات راکړې نو زه به د تل له پاره ستايم او زما پلار به تا د سرو زرو په اشرفيو کې پټ کړي.» هغه ورته لاره داسې و ښووله ، « زما سره يوځاې د سمندر هغې لورې ته و تښتته ، دکشتيو کمښت نه شته ، زما پلار ډير شتمن انسان دې ، زه به له تا سره واده وکړم او زما پلار به تاته ډير ښکلې کور او ډيره زياته شتمني درکړي ، ته به بيا خپل تجارت کوې.»

مصري ته دا په ياد هم نه شوه چې هغه خو مسلمان دې ؟ ، هغه ورته وويل چې زه خپل مذهب نه شم پرې اېښودې ، نجلۍ د يوڅو لمحو د تيريدو وروسته ورته وويل « زه به ستا له پاره خپل مذهب پريږدم» ددې وروسته هغوی د تيښتې او واده د پروګرامونو د جوړولو په فکر کې شول ، نجلۍ هغه ته وويل « زه پر تا باندې زور نه راوړم ، ښه فکر وکړه ، زه يواځې ځان پو هول غواړم چې زما په زړه کې چې ستا له پاره کوم محبت او مينه پيدا شوی ده نو همدومره به ستا په زړه کې هم زما له پاره پيدا شوی وي او که نه ؟ که چېرې ته زما د قبلولو له پاره تياريدې شې نو فکر وکړه او هڅه وکړه چې تر قاهرې پورې زمونږ سفر نور هم اوږود شي، که مونږ يو ځل هلته ورسيږو نو بيا ته زما بوي هم نه شې احساسولې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نجلۍ موخه يوائې همدومره وه چې سفر اوږود شي او د درې ورځو پر ځاي شپږ ورځې تيرې شي. دهغې يو علت داو چې رابن اودهغې ملګري د تيښتې په هکله لارې چارې و لټوي او هغه پخپله هم په دې هڅو کې وه چې دشپې د ويده شوو ساتونکو څخه يا و تښتي او يا دهمغوي وسله را واخلي او پخپله پرې همغوي له منځه يوسي. خو دا کار ورته اوس شوني نه ښکاريده. تر اوسه خو دا لمړې پړاو و د هغې اړتيا همدا وه چې سفر اوږود شي تر څو په ډاډمنه توګه په مختلفو لارو چارو باندې فکرکولو ته وخت ولري او دعمل له پاره ئې ځان چمتو کړي. د همدې مقصد له پاره هغوی همدا نجلۍ ګمارلې وه تر څو د ساتونکو قومندان په خپلو لاسو کې واخلي، نجلۍ په خپله لمړنۍ کتنه کې دا مقصد تر لاسه کړ او مصري ته ئې دهغه دغوښتلو سره سم قيمت ورکړ. مصري ددومره لوړې رتبې سړې نه و هغه يو مامولي قومندان و، هغه ته کله په خوب کې هم دومره ښايسته نجلې نه وه په سترګو شوی. او بيا داسې ژوندۍ پيغله چې د هغې د انګيرونو څخه هم ډيره ښکلې وه. او نجلۍ اوس د هغې وينځه ګرځيدلې وه. هغه اوس خپل ځان، خپلې دندې او خپل مذهب هم هير کړې و. هغه اوس د يوې لمحې له پاره هم د نجلۍ څخه جدا کيدل نه غوښتل.

په دغه ليونتوب کې هغه د سهار په وخت لمړې حکم دا وکړ چې دسپرلۍ ځناور ډير ستړې دي په دې خاطر نن سفر نه شوکولاې، ساتونکو او د اوښانو خاوندانو په دې حکم ډيره خوښي وښوله. هغوی د محاذ د ستړتياو څخه نا ارامه شوی و او تر څنګ ئې منزل ته د رسيدو له پاره هم بيړه نه درلوده. هغوی ټوله ورځ ارام وکړ، خبرې اترې ئې کولې او دهغوی قومندان د هغې نجلۍ تر څنګ ناست بدمسته کيده. ورځ تيره شوه او شپه راغله، او کله چې ټول ويده شول نو مصري دغه نجلۍ له لاسه و نيوله او لږ لرې ولاړل ،نجلۍ اوس هغه د اسمان شنو ته رسولې و.

سهار دا قافله روانه شوه، نو مصري قومندان لاره بدله کړه، هغه خپلې ډلې ته وويل چې هغه لورې ته د بل پړاو له پاره ډير ښه ځاې دې. هلته نژدې يو کلې هم شته چې چرګان او هګۍ ترې اخستلاې شو. دهغه ډله نوره هم خوښه شوه چې قومندان ئې د ساعت تيرۍ اوعياشې له پاره ورته لاره همواروي، خو په دې ډله کې دوه کسه عسکر داسې و چې د قومندان ددغه کړچار څخه خوښ نه و. هغوی هغه ته وويلې، چې له مونږه سره خطرناکه بنديان دي، دا ټول جاسوسان دي دوی بايد ډير ژر حکومت ته حواله کړو، پرته له کومه دليله د سفر دومره زيات اوږدول مناسب نه ښکاري، مصري د هغوی خولې، ددې خبرې په کولو سره چې دا زما مسئوليت دې چې ژر رسيږم او يا وروسته، ور ټپې کړې. که پو ښتنه کيږي نو له ما څخه به وي، له تاسې څوک نه پوښتي، که څه هم هغوی دواړه چپ چاپ شول خو هغوی په ځانته ځاې کې په خپلو منځو کې ددې خطرناکه کار په هکله پس پسکې اومشورې کولې.

(٢٧)*****

دماسپښين نه وروسته هغوی ته په يوه لرې ځاې کې څه ټپوسان،کارغان او نور غوښې خوړونکې مرغان، چې الوتل او کښيناستل، تر سترګو شول، دا ددې نښه وه چې هلته څه شې مردار شوې دې، دا سيمه د خاورې اوشګو دکوچنيو غونډيو څخه جوړه شوی وه. د ګڼو دښتې بوټو څخه هم ډکه وه، په ټلو ټلو کې هغوی په همدې غونډه ايزه سيمه کې ور ننوتل، لاره پورته تلله، دوی ته د يوه لوړ ځاې څخه يو سترډاګ تر سترګو شو، په همغه ځاې کې د ټپو سانو او مرغانو ښکته پورته کيدل او شور او زوږ را ته، لږ څه نور هم مخته ولاړل، نو وئې کتل چې دا د انسانانو لاشونه اومړي دي، بد بويي هم وه، دا دهغو سوډانيانو لاشونه وه چې د روم د بحيرې په ساحل د سلطان ايوبي د فوځي يرغل په پايلوکې له منځه تللي و. په دې ځاې کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان ايوبي سپرو مجاهدينو د سوډاني لښکر په اخرنۍ برخه باندې يرغل کړې و او هغه فوځ ئې خپور ور کړې و ، مخته ترڅو ميلوفاصلې پورې لاشونه پراته و . سوډانيانو ته د خپلو لاشونو د پورته کولو وخت هم نه و ترلاسه شوی ، د بنديانو او ساتونکو قافله روانه وه هغوی خپله لاره بدله کړه او د لاشونو د بدبوي څخه په څنګ تير شول.

کله چې قافله له هغه ځايه تيريده نو هغوی وکتل چې د لاشونو په شاوخوا کې وسله هم لا تراوسه پورې اخوا دېخوا غورځيدلې او پرته ده ، بنديانو دا وسله وکتله ، هغوی په خپلو منځو کې خبرې و کړې او رابن هغې نجلۍ ته، چې اوس ئې مصري قومندان په خپله ولکه کې اخستې و ، يو څه وويل. لاشونه تر ډيره پورې خپاره پراته و ، په ښي اړخ کې د غونډيو تر منځ يوه شنه سيمه را ښکاره شو . هلته اوبه هم وې ، دا شنه سيمه همداسې پورته تلله ، نجلۍ قومندان ته اشاره وکړه ، نو هغه نژدې ورغې ، نجلۍ ورته وويل دا ځای ډير موزون دې همدلته پړاو وکړئ،» مصري د قافلې مخ را وګرځاوه او د همغې شنې سيمې څنګ ته د اوبو د چينې سره يو ځای ئې واړول ، شپه همدلته تيريدله.

ټول د اسونو او اوښانو څخه را ښکته شول ، ځناور په اوبو ور پريوتل ، د شپې د تيرولو له پاره د ښه ځای په لټه کې شول ، ددوه غونډيو تر منځ ځای پراخه او شين هم و ، نو همدا ځای ئې د شپې د تيرولو له پاره و ټاکه.

کله چې د شپې تياره خپره شوه نو ټول ويده شول ، مصري ويښ پاته شو او دا نجلې هم ويښه وه ، هغه ته په ځانګړې توګه په همدې شپه ويښه پاته کيدل او په مصري قومندان په پوره توګه واک موندل او هغه د خپل ځان سره د آسمان په شنو کې مدهوشول و . څه وخت چې هغې د خلکو د خراټو اواز واوريد نو هغه سمدستي مصري ته ورغله ، هغه هم د همدې نجلۍ په خاطر د ټولو جدا په ځانته خيمه کې اوسيده ، نجلۍ هغه له ځانه سره کړ او د غونډۍ څنګ ته ئې يوړ او د هغې ځايه څخه ئې نور هم د لرې تللو غوښتنه وکړه ، مصري هم د هغې د غوښتنو غلام ګرځيدلې و ، هغه ته دا احساس هم نه و چې نن شپه نجلۍ هغه د کوم مقصد له پاره دومره لرې له ځانه سره وړي ، هغه له هغې سره په څنګ څنګ کې ته ، نجلۍ هغه ددريو غونډيو څخه هم لرې يوړ. هلته هغه و دريده او مصري ئې په خپلو متو کې را ونغاړه ، او بې هوشه ئې کړ.

کله چې رابن وکتل چې قومندان له خپله ځايه تللې دې او نور ساتونکې په ژور خوب ويده دي نو هغه په ملاسته ملاسته خپل يو بل ملګري را ويښ کړ اوهغه خپل بل ملګري او په دې ترتيب څلور واړه را پورته شول..... ساتونکې له دوی څخه لرِ څه لرې ويده و ، مصري قومندان هغه نجلۍ دومره بې پروا کړې و چې هغه به د شپې له اړخه پهره دار هم نه دراوه . تر ټولو لمړې رابن په سينه و خوئېد او د ساتونکو څخه لرې ولاړ او دهغې وروسته دهغې هغه څلور نور ملګري هم په همدې تر تيب د هغه ځايه لرې ولاړل. د غونډيو په اړخونو کې هغوی خپل قدمونه نور هم ګړندي کړل او خپل ځانونه ئې د سوډاني فوځ لاشونو ته ورسول. هغوی لاسونه ووهل او څلور کمانونه او د غشو خلطې ئې تر لاسه کړې ، يوه يوه برچه ئې هم را واخسته ، هغوی د همدې مقصد له پاره نجلۍ ته ويلې و چې د قومندان څخه وغواړی همدلته پړاو واچوي ، هغوی وسله راواخسته اوبيرته راغلل ، اوس نو هغوی يو ځای او په ښه وسله سنبال هم و.

هغوی ويدو ساتونکو ته را ورسيدل ، رابن د يوه ساتونکې په سينه باندې دبرچې د وار کولو له پاره لاس پورته کړ ، پاته څلور هم د يوه يوه ساتونکې په سر ولاړ و. دا ډير بريالې چال و . هغوی کولې شول په يوه وخت دغه څلور ساتونکې له منځه يوسي او دپاته يولسو له منځه وړل ورته هم اوس دومره ستونزمن کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه بریښیده. یواځې د اوښانو خاوندان او یو مصري قومندان پاته کیدل. هغوی هم ډیر اسانه ښکار وو . کله چې راښن خپله برچه د وار کولو له پاره پورته کړه لږ څه شور غونډې ئي تر غوږو شو او یو غشې د راښن په سینه کې ور ننوت. ددې تر څنګ یو بل غشې د راښن د ملګرې په سینه کې ورښکته شو. هغوی په غورځیدو شول او هغو نورو درې کسو ملګرو ئې ورته کتل چې دا څه وشول ، په همدې وخت کې دوه نور غشي راغلل او دوه نور بندیان ئي را وپرځول ، اخری بندې د تیښتې له پاره شاته وګرځید او یو غشې ئي په اړخ کې و ننبت ، دا کار دومره په چپه چپتیا سره تر سره شو ، چې دهغې ساتونکو څخه ، چې مرګ ئي په سر سپور و ، د چا سترګې هم خلاصې نه شوی.

غشي ویشتونکي مخته راغلل ، هغوی مشالونه رو ښانه کړل ، دا هغه دوه ساتونکي وو چې خپل قومندان ته ئي ویلي و چې دوی باید ژر تر ژره خپل منزل ته ورسیږي. هغوی ریښتوني او صادق وو ، هغوی ویده و چې دغه څلور واړه بندیان د هغوی د څنګ څخه تیریدل ، د هغوی څخه د یوه سترګې و غوړیدې ، هغه خپل ملګرې هم را ویښ کړ اود دې بندیانو پسې په پټه توګه شاته ولاړل هغوی دا اراده کړې وه چې که چېرې دا بندیان د تیښتې هڅه وکړي نو هغوی به ئې د غشو په واسطه له منځه یوسي ، خو ددې دمخه هغوی غوښتل ووینې چې ددوی هدف څه دې او څه کول غواړي ؟ هغه څه چې ورته په تیاره کې تر سترګو کیدل همغه ئي لیدل ، بندیانو وسلې را واخستلې او بیرته راغلل نو دا دواړه ساتونکي هم راغلل او دغونډۍ په څنګ کې ورته پټ کښیناستل ، خو کله چې دې بندیانو د ساتونکو د وژلو له پاره خپلې برچې پورته کړې نو هغوی پرې غشي را وورول ، او بیا ئې دغه څلور واړه له منځه یوړل. هغوی خپل قومندان ته ورغې کړ خو هغه ورک مالومیده. دهغوی د غږونو په واسطه هغه نورې نجونې را پورته شوې او پاته ساتونکي هم ، نجونو دخپلو ملګرو لاشونه وکتل ، په هر یوه لاش کې یو یو غشې ورکښیوتې و. نجونو په چپه خوله لاشونه کتل هغوی ته دا مالومه وه چې دا خلک به نن شپه څه کوي ، مصري قومندان هلته نه و او یوه نجلۍ هم له صحنې څخه غایبه وه.

ساتونکو ته دا معلومه نه وه چې هغه وخت چې ددې جاسوسو بندیانو په سینو کې غشې ورننوتل ، په هماغه وخت د مصري قومندان په ګیډه کې هم یو خنجر ورننوتې و. دهغې لاش دهغې دربیمې غونډۍ تر څنګ پروت و ، په دې شپه د دښتې شګې د وینو تږې معلومیدې ، مصري قومندان د خپلو ساتونکو او بندیانو څخه بې خبره دهغې نجلۍ سره تللې و او نجلۍ هغه تر لرې ځای په پورې له ځانه سره یوړ ، هغې ته دا معلومه وه چې دهغې ملګري به یوه وینه تویونکې ډرامه جوړوي ، نجلۍ مصري یوې غونډۍ ته بوت او هملته ورسره کښیناسته او په خپل محبت کې ئي مشغول کړ.

دهمدې غونډیو څخه په لږه فاصله کې بالیان او دهغې شپږو ساتونکو هم پړاو اچولې و ، د هغوی آسونه لږ څه لرې ترل شوی و. بالیان د (موبي) سره یو ځای د یوې غونډۍ په لور تللې و دهغه په لاس کې د شرابو بوتل هم و. (موبي) هلته د کښیناستو له پاره یوه درۍ هم راخستې وه ، بالیان غوښتل د خپلو ساتونکو څخه لرې په کوم ځای کې عیش او عشرت وکړي ، هغې درۍ خپره کړه ، هغوی لا تر اوسه ناست نه و چې د شپې په چپتیا کې ئي هلته نژدې د چا دخبرو اوازونه واوریدل ، هغه ټکان وخوړ او سمدستی ئي د خبرو د اوریدو هڅه وکړه. دا اواز د یوې نجلۍ و ، بالیان او (موبي) په ډیر احتیاط سره هغې لورې ته ولاړل او د غونډۍ څنډې ته ئې وکتل ، هغه ته دوه ناست سیوري په سترګو شول ، په ډاګه څرګندیده چې یوه ښځه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو نر دي. (موبي) نوره هم ور نژدې شوه او په ډير غور سره ئې دهغوی خبرې اوريدلې ، د مصري قومندان سره هغې نجلۍ داسې ځرګندې خبرې کولې چې (موبي) ته دا ډاډ پيدا شو چې دا دهغې ملګرې کومه نجلۍ ده او دا هم ورته ځرګنده شوه چې هغوی قاهرې ته ورل کيږي.

کوم حرکت او خبرې چې مصري کولې هغه بلکل ډاګيزه وې ، په هغې کې دهيڅ ډول شک ځاې نه پاته کيده. (موبي) په دې پوه شوه چې مصري ددې نجلۍ د مجبوريتونو څخه په ګټې اخستلو سره هغه دخپلې عياشۍ اله جوړه وې ، (موبي) دا فکر و نه شو کړاې چې شاوخوا ته که بل څوک وي او دوی ووينې او يا هغې چې کومه اراده کړې وه دهغې پايلې به څه وي ، هغه لږ څه وروسته شوه او د باليان په غوږ کې ئې وويلې « دا مصري دې او زما د يوې ملګرې سره عيش کوي ، دانجلۍ بايد په ځنګ کړو ، دا مصري ستا دښمن دې او نجلۍ ستا دوسته.» هغه د باليان دنور زيات را وپارولو په خاطر وويل «دا ډيره ښايسته نجلۍ ده هغه خوندي کړه او په خپل سفري حرم کې يوه بله ښکلې هم ور زياده کړه.»

باليان هم شرابو نشه کړې و ، هغه د خپل ملا بند څخه خنجر را وويست او د مصري قومندان په شا کې ئې ورننويست ،دويم ځلې يې خنجر را وويست او يو ځل بيا ئې په ډيره ګړندۍ توګه يو بل وار هم پرې وکړ. نجلۍ د مصري څخه را پورته او ازاده شوه ، (موبي) ورمنډه کړه او هغې ته ئې ورغږ کړ. هغې هم منډه کړه او (موبي) ته ور غاړې وتله. هغې ورته د رابن او نورو ملګرو په هکله هم مالومات ورکړل او دائې هم ورته وويل چې هغوی د پنځلس کسانو ساتونکو په ساتنه کې دي ، باليان منډې کړې او خپل هغه شپږ کسه ملګري ئې له ځانه سره راورل. دهغوی سره کمانونه او نور هر ډول وسلې وې ، په همدې وخت کې د مصري د ساتونکو د ډلې څخه يو کس مصري ته اوازونه کول او ورپسې ګرځيده. هغه دې لورې ته راغې خو دباليان ساتونکو په يوه غشي د هغې ژوند ورختم کړ. هغې نجلۍ تر خپل ځايه پورې دباليان او د هغې د ساتونکو د راوستلو لارښوونه کوله او دهغوی مخته مخته را تلله.

باليان ته د اخري غونډۍ شاته رڼا تر سترګو شوه. هغه د غونډۍ په سر وخوت او وئې کتل چې هلته دوه ستر ستر مشالونه روښانه دي ، دهغوی ډنډې په ځمکه کې ښخې شوی دي. باليان دخپلو ملګرو سره په تياره اړخ کې و . هغه ته د مشالونو په رڼاکې هغه پنځه نجونې ولاړې تر سترګو کيدې ، ساتونکې ئې هم ليدلې شول . دهغوی تر منځ پنځه لاشونه پراته وو چې په غشو ويشتل شوی و ، (موبي) او هغې بلې نجلۍ دواړو په سلګو سلګو ژړا پيل کړه. د (موبي) په را پارولو سره باليان خپلو ملګرو ته وويل چې دا ستاسې ښکار دې، په غشو ئې وولئ ، اوس نو دهغوی شميره هم څوارلس کسان شوی و. دا دساتونکو بد قسمتي وه چې هغوی رڼا ته و.

دباليان ملګرو په کمانونو او ليندېو کې غشي کښيښول ، ټول غشي په يو ځل دکمانونو څخه ووتل ، په بل ځل بيا په کمانونو کې شپږ غشي کښيښول شول او په يوه ځل د بنديانو شپږ ساتونکي له منځه ولاړل ، پاته لا تر اوسه پورې يوه شوی هم نه و چې غشي دکومې لورې څخه راغلل. نورو شپږ غشو ، نور شپږ کسان ساتونکې له منځه يوړل ، پاته دوه و چې يو ئې په تياره کې ځان ورک کړ. دويم تنبلې وکړه او په يوه وخت د سوډانيانو ددرې غشو ښکار و ګرځيد. درې اوښ چلونکې پاته شول چې په هغه ځاې کې موجود نه و. هغوی هم په تياره کې اخوا دېخوا شول. اوس نو دمشالونو په رڼاکې د لاشونو ډيرې په سترګو کيده ، په هر لاش کې يو يو غشي و رننوتې و ، خو په يوه کې درې غشي و. (موبي) منډه کړه او د نجونو سره يوځاې شوه. په همدې وخت کې هغوی ته د ځغاستونکې آس اواز تر غوږو شو چې په يوه منډه د هغه ځايه څخه ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالیان وویل چې اوس نو دلته تم کیدل مناسب نه دي، ددوی څخه یو خوندي او سلامت ولاړ. هغه دقاهرې په لور ولاړ، سمدستي ددې ځاې څخه و کوچېږئ.

هغوی د ساتونکو اسونه را پرانستل او خپل ځاې ته ولاړل، هلته په رسیدو سره ئې وکتل، چې یو آسپ د زین سره غایب شوی دې. هغه همغه پاته شوني ساتونکې له ځانه سره وړې دې. ځکه هغه خپلو آسونو ته نه شو ورتللاې، هغه په پټه هلته ولاړ که ګوري چې اته آسونه تړلي ولاړ دي او د هغوی زینونه هم ورسره ایښې دي، هغه په یوه اس باندې زین کښیښود او په ځغاسته ئې کړ. بالیان په پاته څوارلس آسونو باندې زینونه کښیښول، سامان ئې په دوه آسونو بار کړ. پاته اسونه ئې له ځانه سره کړل او روان شول. نجونو (موبي) ته ټوله قصه وکړه چې څه پرې تیر شوی و او اوس ئې چېرې رواني کړې وې، هغوی دا هم وویل چې رابن او دهغې ملګري دسوډانیانو د لاشونو څخه د وسلو د راټولولو له پاره هلته ورغلي و خو معلوم نه شوه چې هغوی څه ډول ووژل شول.

(موبي) ورته وویل «چې د ایوبي په پنډغالي کې د هغې او د رابن لیدنه کتنه هسې یوه اتفاقي خبره وه، هغه ویلي و چې ماته داسې تر سترګو کیږي چې یسوع مسیح ته زمونږه بریالیتوب منظور دې او که نه مونږ به دغسې یو ناڅاپه یو له بله سره نه وای کتلې. نن زمونږ لیدنه کتنه د توقع خلاف وه خو زه دا نه وایم چې یسوع مسیح ته زمونږ بریا منظور ده. د یسوع مسیح خدای زمونږه څخه ناخوښه معلومیږي، مونږ چې هر کار ته لاس ور اچولې، لاس مو تش را وتلې، د روم په بحیره کې زمونږ فوځ د ماتی سره مخ شو، دلته د کرستیوفر او رابن په څیر زړه ور خلک اودهغوی روزل شوی ملګري له منځه ولاړل، څرګنده نه ده چې زمونږ انجام به څه وي؟»

«زما په ژوند به هیڅوک تا ته لاس هم ور نه غځوي» بالیان ورته وویل «تا زما د زمریانو کمال هم و کوت».

(۲۸)*****

په هغه وخت کې چې د بندیانو قافله دسوډاني فوځ د لاشونو تر څنګ هلته په غونډیو کې تم وه، نو په هماغه وخت کې هلته د ساحل تر څنګ د سلطان ایوبي د فوځ پنډغالي ته درې کسان رانټوتي وو. هغوی یو اځي په ایټالیائي ژبه خبرې کولې، د بڼې او لباس څخه د ایټالیا کلیوال مالومیدل، هیڅوک د هغوی په ژبه نه پو هیدل، ، د ایټالیا د جنګي بندیانو څخه یو ښتنه وشوه هغوی وویل چې دوی له ایټالیې څخه راغلي دي اود خپلو ورکوو شوو نجونو پسې ګرځي، دوی غواړي دلته د فوځي سالار سره ووینې، هغوی ئې بهاؤالدین شدّاد ته یوړل، هغه د صلاح الدین ایوبي په غیاب کې د پنډغالي قومندان و. د ایټالیا یو بندي را وبلل شو چې په مصري ژبه هم پوهیده، دهغه په واسطه دهغې خلکو سره خبرې اترې وشوې، دهغې درې کسانو څخه یو د پوخ عمر سړې و او دوه نور ځوانان ول، درې واړو یو ډول خبره وکړه، «د درې واړو یوه یوه ځوانه خور صلیبي فوځیانو دهغوی د کورنو څخه را پورته کړې او د خپله ځانه سره ئې راوړې وې. هغوی ته چا ویلي و چې هغه نجونې د مسلمانانو په فوځي پنډ غالي کې دي، دوی اوس د خپلو خویندو په لټه کې دلته رارسیدلي و.

دوی ته وویل شول چې دلته اوه نجونې راغلې وې، هغوی هم همدا ډول قصه بیان کړې وه خو هغوی ټولې جاسوسانې و ختلې، هغوی درې واړو وویل چې زمونږ خویندې د څارکښې سره کوم اړیکې نه لري، مونږ غریب او مظلوم خلک یو، یوه کشتۍ مو پیدا کړه او تر دې ځایه مو ځان را ورساوه.. څه ډول به زمونږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غربیانو خویندې د څارکښې کولو جرأت وکړای شي ؟ مونږ ته د هغه اوه نجونو په هکله څه مالومات نه شته ، دا مالومات هم نه لرو چې هغوی څوک دي مونږ خو یوازې د خپلو خویندو په لټون پسې را وتلي یو . »

«زمونږ سره بله کومه نجلۍ نشته» شدّاد ورته وویل « همدا اوه نجونې وي چې دهغوی څخه هم یوه چېرې درغل شوې ده او پاته شپږ پرون سهار له دې ځایه څخه استول شوی دي ، که چېرې غواړئ هغوی ووینئ نو قاهرې ته ولاړ شئ ، زمونږ سلطان ډیره زړه سواندې انسان دې هغه به تاسوته د نجونو سره دکتلو اجازه درکړي.»

«نه !» یوه وویل « زمونږ خویندې جاسوسانې نه دي ، هغه اوه نجونې به بل څوک وي ، زمونږ خویندې به په سمندر کې ډوبې شوی وي اویا به زمونږ فوځونو هغوی له ځانه سره ساتلې وي.»

بهاؤالدین شدّاد یو نیک خویه انسان و . هغه ددې کلیوالو میلمنو ډیر عزت او ښه میلمستیا وکړه ، اوپه ډیر درنښت ئې رخصت کړل ، که چېرې هلته علي بن سفیان وائې نو هغه درې واړه ئې په دومره اسانۍ سره نه پرېښول چې ولاړ شي . د هغې اطلاعاتې زیرکتیاو به سمدستې دا درک کړې وای چې دغه درې واړه درواغ وائې ...... هغه درې واړه ولاړل ، هیچا ته روښانه نه شوه چې هغوی چېرې ولاړل ، هغوی ولاړل او تر ماښامه پورې ئې خپل تګ جاري وساته ،د پنډغالي څخه لرې د هر ډول خطر څخه خوندي د غونډیو تر منځ ور ننوتل.هلته د همدوی په څیر نور اتلس کسان ددوی په انتظار کې ناست و. د هغوی دریو څخه چې کوم د پوخ عمر سړي و هغه پخپله "میګنانا ماریوس» و ، دا د صلیبیانو هغه کمانډو ډله وه چې د نجونو د ازادولو او د امکان په صورت کې د سلطان ایوبي د وژلو پروګرام ئې درلود . دوی درې واړو د پنډغالي څخه څه نور اړین مالومات هم ترلاسه کړي و.دا ئې هم معلومه کړې وه چې صلاح الدین ایوبي دلته نه شته او اوس په قاهر کې میشت دې ، د شدّاد سره د خبرو کولو په وخت کې کله چې هغوی ته دا ډاګیزه شوه چې نجونې دلته نه بلکه قاهرې ته استول شوی دي ، نو هلته ورته دا هم جوته شوه چې دهغوی سره پنځه نارینه بندیان هم ملګري دي.

دا ډله په یوې ستړې کشتۍ کې راغلې وه ، او خپله کشتۍ ئې د ساحل په یوه داسې ځای کې تړلې وه په کوم کې چې سمندر غر پرې کړې و او دننه ئې څپې تللې. دې خلکو اوس غوښتل د قاهرې په لور ولاړ شي ، خو سپرلۍ ورته نه ترلاسه کیدې. دغه درې واړه چې د پنډغالي څخه راتلل نو هغوی دا هم کتلي و چې د فوځ دسپرلۍ اسونه او اوښان په کومو کومو ځایو کې تړلي دي. هغوی دا هم کتلي و چې د پنډغالي څخه د سپرلۍ پټول دومره اسانه کار نه دې ، یویشت آسونه او اوښان پټول دومره اسانه کار نه و. لا تر اوسه د لمر را ختلو ته ډیر وخت پاته و. هغوی په پښو روان شول ، که چېرې هغوی ته سورلۍ پیدا شوی وي نو هغوی به د بندیانو سره په لار کې یو ځای شوی وای . اوس نو هغوی دا فکر وکړ او په پښو پیاده روان شول چې قاهرې ته ولاړ شي او هملته د بندیانو د خوشې کولو په لارو غور او فکر وکړي. ټول په دې پو هیدل چې دا د ژوند او مرګ کار دې ، صلیبي فوځي مشرانو او پادشاهانو هغوی ته د هغوی د بریالیتوب په صورت کې چې کوم انعام ټاکلې و هغه دومره زیات و چې دهغه د ترلاسه کولو په صورت کې ئې ټول عمر د خپلو کورنیو سره یو ځای د هیڅ ډول کار کولو پرته په عیش او ارام سره ژوند تیرولای شو.

«میګنا ناماریوس» ئې د بندي خانې څخه راوړې و ، هغه ته د غلا او لارشوکونې په جرم دبرش کاله بند ورکړل شوی و ، د هغه سره دوه نور بندیان هم و چې د یوه سزا څلورویشت کاله او دبل سزا اوه ویشت کاله ټاکل شوی وه . په هغه وختو کې بندي خانې د قصاب خانو په څیر وي ، مجرم انسان ئې انسان نه ګڼه ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی څخه به ئې ډېر سخت کار اخسته او د ځرونکو حیواناتو په څير به ئې غذا ورکوله ، بندیانو به د شپې له ارځه هم ارام نه شوکولاې ، دداسې قید و بند څخه مرګ غوره و.[او په دې یویشتمه پیړۍ کې د تمدن داعیانو په افغانستان اوعراق کې دا په ډاګه کړه چې ددوی بندیخانې د پخوانیو قصاب خانو څخه ډېرې بد ترې دي ، کوم سلوک، چې د بندیانو سره د بګرام ، قندهار ، پنجشیر .... او د عراق داوبوغریب او ان د ګوانتانامو په تاپو وزمه کې ددې انساني حقوقو د بیرغ پورته کونکو له خوا وشو ، تاریخ پرې شرمیږي او دې دا ثابته کړه چې له دوی سره د انسانیت هیڅ قدر وقیمت نه شته ، په هغه وخت کې به ئې یواځې کار ترې اخست خو نن ئې ټوله حیا و عزت ترې اخلي .......«ژباړن»] دې درې واړو ته د انعام څخه اخوا د بند اوقید دمعافۍ هم وعده شوی وه. په دې اساس ئې هغوی په صلیب د سوګند کولو وروسته همدې ډلې سره را یوځاې کړي و . کوم پادري چې له دوی څخه سوګند اخستې و هغه ورته ویلي و چې دوی چې څومره مسلمانان ووژلې شي نو دهغې لس برابره به د هغوی ګناه و بښلې شي. او که چېرې هغوی صلاح الدین ایوبي ووژني نو بیا خو به ئې د عمر ګناهونه ورته وبښل شي. او په بله نړۍ کې به د یسوع او مسیح خداې هغوی ته جنتونه ور په برخه کړي.

دا ځرګنده نه ده چې د غه درې واړه بندیانو د بندیخانې د دوزخ نه د خلاصیدو په خاطر د مرګ په دغه مشن کې ورګډ شوی و و او که په بلې دنیا کې د جنت د ترلاسه کولو ، او یا دبل کوم انعام لالچ دلته راوستي و اویا دمسلمانانو پر خلاف ، چې کومه کرکه ددوی به زړونو کې ور اچول شوی وه دلته ددوی دراتلو سبب ګرځیدلې وه. په هر صوت دوی په خپل عزم کې کلک مالومیدل ،خو دهغوی جوش او ولولې بښووله چې هغوی به څه څه ډول کارونه کوي ، یا به له مصره بیرته د کارونو د ترسره کولو وروسته سلامت ستنیږي او یا به خپل ځانونه همدلته د خپلو موخو په خاطر ځاروي. پاته نور اتلس کسان د فوځ څخه په ګوته را ټول کړل شوی سپاهیان و ، هغوی د سوځیدونکي جهازونو څخه خپل ځانونه په ځنګ کړي و او په ډېره ستونزمنه توګه بیرته تللي و. هغوی د مسلمانانو څخه ددې ذلت ناکه ماتې د بدلې اخستل غوښتل ، د انعام لالچ هم ورسره مل و. همدا جذبه وه چې دهغې جوش او ولولو دوی د یوه نه پیژندل شوی لورې په لور روان کړي و.

دماسپښین وخت و یو آس د صلاح الدین ایوبي د دفتر مخته ودرید. د اس څخه خولې د اوبو په څیر روانې وې او سپور ئې د ستړیا له لاسه خبرې نه شواې کولې. هغه له آسه را ښکته شو نو د آس ټول جسم په ډېره سخته توګه و شرکید او پر ځمکه را پریوت او له دنیا څخه ولاړ. سپور هغه په پرلپسې توګه یوه شپه اوورځ د اوبو او خوراک پرته څغلولې و. د سلطان ایوبي ساتونکو د آس سپور سمدستې را ونیو او اوبه او خوراک ئې ورکړه او کله چې هغه د خبرو کولو وړ وګرځید نو هغه وویل چې د کوم سالار او یا قومندان سره ئې لیدنه وکړئ ، په دې وخت کې سلطان ایوبي پخپله بهر راوتلې و ، سپور هغه وکوت ، پورته شو اود سلام کولو وروسته ئې ورته وویل « دسلطان بخت دې ستروي ډېر بد خبر مې را وړې دي» سلطان ایوبي هغه له ځانه سره دننه یوړ ، او ورته ئې وویل « ژر را ته ووایه چې څه شوی دي ؟»

«بندیانې نجونې و تښتیدې ، زمونږه ټوله ډله له منځه ولاړه» هغه ورته وویل « نارینه بندیان خو مونږ ووژل ، یواځې زه ترې خوندي پاته شوم ، ماته دا معلوم نه شوه چې یرغل کونکي څوک وو ، مونږ د مشالونو په رڼاکې و او هغوی په تیاره کې. د تیارې څخه غشي راغلل او زما ټول ملګرې ئې یو په بل پسې وویشتل او وئې وژل»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د ساتونکو د ډلې هغه کس و چې په تیاره کې ئې ځان غائب کړې و .او د سوډانیانو اسپ ئې را پرانستې و او را تښتیدلې و. هغه خپل اسپ د تمیدو او دمې کولو پرته پر پرلپسې توګه را ځغلولې و. هغه دومره اوږود سفر د نیمائې وخت نه هم په لږه موده کې تر سره کړې و .

سلطان ایوبي سمدستي علي بن سفیان او د فوځ یو بل نائب سالار را وبلل ، کله چې هغوی راغلل نو دې سړي ورته ټوله قصه په تفصیل سره واوروله ، هغه د پنډغالي څخه د روانیدو د وخته خپله خبره پیل کړه او دخپلې ډلې د قومندان په هکله ئې وویل چې هغه د یوي بندی نجلۍ سره خپل عیش کاوه او د پاته نورو بندیانو څخه بې پروا شوی و . اوبیا هغه څه چې په لاره کې کیدل هغه ئې ټول هغوی ته واورول ، خو دا ئې ډاګیزه نه شوه کړاې چې په دوی یرغل کونکې څوک و.

سلطان ایوبي علي بن سفیان او خپل نائب سالار ته وویل « ددې مطلب خو دا شو چې صلیبي ګوریلا ډلې دلته د مصر په منځ کې هم شتون لري.»

«کیداې شي » علي بن سفیان ورته وویل « کیداې شي چې دا صحرائي غله اوسي ، دومره ښایسته نجونې د صحرائي غلو له پاره ډیره په زړه پوري خبره ده.»

«تا ددې سړي خبره په غور سره نه ده اوریدلې» سلطان ایوبي ورته وویل « هغه وویلې چې نارینه بندیانو د سوډاني ځپل شوی فوځ دلاشونو سره نژدې پرتې وسلې را پورته کړې وې او غوښتل ئې ساتونکې ووژني ، د ساتونکو څخه دوو هغوی د خپلو غشو په واسطه له منځه یوړل دهغې وروسته پر دوی حمله شوی ، ددې څخه دا ډاګیزه کیږي چې صلیبي غلچکي ډلې د هغوی تعقیب کاوه ،»

«هغه چې هر څوک و ، دروند‌ه سلطانه !» نائب سالار ورته وویل « هغه کار چې باید سمدستي تر سره شي هغه دادې چې دا سپاهي د لارښونو له پاره و استول شي او لږ تر لږه شل ګړندي آسپ سواره د دې خلکو د تعقیبولو له پاره ور سره مل کړل شي، دا وروستۍ خبره ده چې دا مالوم کړو چې هغوی څوک وه ،»

« زه به خپل یو معاون هم ورسره و لیږم» علي بن سفیان ورته وویل.

«دې عسکر ته تر هر څه دمخه غذا ورکړئ» سلطان ایوبي وویل او زیاته ئې کړه چې « پریږدۍ چې دا لږ څه ارام وکړي ، تاسو ددې سره شل کسه اسپ سواره تیار کړئ او ورسره ئې واستوئ ، که چیرې اړین ئې ګڼئ نو د زیاتو سپورو د استولو په هکله هم فکر وکړئ.»

«ما چې له کومه ځایه دا آسپ را پرانسته نو هلته نور اوه اسونه هم ولاړ و » سپاهي وویل. هلته بل دا سې څوک نه و ، کیداې شي چې یرغل کونکې همدا ډله اوسي ، که چیرې دهغوی آسونه اته و نو هغوی به هم اته کسان وي.»

« د ګوریلا او غلچکې وګړو شمیره هم له دې څخه ډیره نه وي » یوه نائب سالار وویل ، « مونږ به که خداې کول هغوی په خپله ولکه کې را نیسو .»

«دا یاد ساتئ چې هغوی غلچکیان دي» سلطان ایوبي ورته وویل « او نجونې جاسوسانې دي ، که چیرې تاسي یو جاسوس او یا غلچکي کس نیسئ نو داسې و انګیرئ چې تاسې ددښمن دوه سوه عسکر ژوندي نیولي دي. زه ددښمن د یوه جاسو س د وژلو له پاره دهغوی دوه سوه عسکر پریښودای شم. یوه ښځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیچاته زیان نه شي رسولې خو یوه جاسوسه او تخریب کاره ښځه په یواځې ځان د یوه هیواد بیړۍ ډوبولاي شي، دا نجونې ډیرې زیاتې خطرناکې دي که چېرې دوی د مصر دننه خوندي پاته شي نو ستاسې ټول لښکر به بیکاره کړي ، د یوه جاسوس او یا جاسوسې د نیولو او یا د هغه / هغې د له منځه وړلو له پاره سل سپاهیان که ځار کړل شي نو بیا به هم دا سودا ډیره ارزانه وي ، که چېرې دا غلچکیان و نه نیول شي دومره پرواه نه کوي خو دا نجونې باید په هر قیمت چې وي تر لاسه شي. که اړینه شي نو د غشو په واسطه ئې له منځه یوسئ خو ژوندئ باید ولاړې نه شي.»

د یوه ساعت په وخت کې نژدې شل کسان ګړندي سپاره تیار او و استول شو.دهغوی لارښود همدا ساتونکی و. اوقومندان ئې د علي بن سفیان یو نائب «زاهدین» و. په دې سپرو کې علي بن سفیان فخر المصري هم په ځانګړې توګه ورګډ کړې و. دا د فخر غوښتنه وه چې هغه د بالیان او (موبي) د تعقیب په خاطر ور ولیږئ ، خودا مالومات نه علي بن سفیان ته و او نه فخر المصري ته چې هغه ډله چې دوی ئې تعقیبول غواړي پخپله همدا بالیان او (موبي) او د هغوی هغه شپږ وفاداره ساتونکي دي او که بل څوک؟

له یوه اړخه دغه شل اسپ سواره روان شول چې یویشتم ئې د ډلې قومندان و ، دهغوی موخه دنجونو بیرته را نیول و اوهغوی ته چې هغوی ئې ازادې کړې وې سزا ورکول و. او د بله اړخه د صلیبیانو شل کسیزه کماندویي ډله هم را روانه وه ، دهغوی موخه هم همدا د نجونو ازادول و. خو دهغوی کمزوري داوه چې هغوی پیدل را روان و ، ددواړو ډلو څخه یوه ته هم دا ډاګیزه نه وه چې دکوم ښکار د تعقیب او رانیولو له پاره چې دوی روان دي هغه چېرې او په کوم ځای کې دي.

*****(۲۹)

د صلیبیانو کماندو ډلې دبلې ورځې د لمر تر ډوبیدو پورې څه ډیره لار وهلې وه ، او نوره هم پورته په لوړه ختله ، دا د لوړو ژورو ډکه سیمه وه ، کله چې د اخلک یوې لوړې سیمې ته ورو ښتل نو هلته ئې لرې په یوه میدان کې ، چې د کجورو او څو ډوله نورو ونوبوټو څخه زرغون ښکاریده ، بې شمیره ولاړ اوښان تر سترګو شول ، دا اوښان چوکول کیدل او خلکو ترې بارونه ښکته کول، هلته څه لس دولس آسونه هم ولاړ و. دهغوی سواره عسکر معلومیده ، پاته نور ټول داوښانو خاوندان و. دا یویشت صلیبیان همدلته تم شول. هغوی یوه بل ته وکتل ، د اوښانو او اسونو شتون ورته داسې بریښیده لکه خوب چېویني. بلکل ئې په خپلو سترګو ډاډ نه راته ، ځکه دا دهمدوی اړتیا وه. دهغوی قومندان دا ډله همدلته تم کړه ، او وئې ویل « مونږ په رینښتونی توګه او د زړه د اخلاصه په صلیب باندې لاس اینبې دي او سوګند مو پرې کړې دي ، راشئ او د صلیب کرشمې ووینئ ، دا معجزه ده معجزه ! خداې له اسمانه تاسې ته سپرلۍ را لیږلې دي ، ستاسو دهربوه په زړه کې چې دکومې ګناه ، یا دخپلې دندې څخه د غفلت او یا د ځان د په خنګ کولو کوم فکر وي هغه سمدستي له خپلو زړونو څخه و باسئ ، د خداې زوې ! !؟ چې دمظلومانو ملګرې او د ظالمانو دښمن دې ستاسې د مرستې له پاره له اسمانه څخه را ښکته شوی دې»

د ستړیا هغه نښې نښانې چې د هغوی پر مخونو باندې راښکاره شوې وې له منځه ولاړې ، او پر مخونو ئې روښنائې را پیدا شوه. خو هغوی لا تر اوسه پورې په دې اړخ باندې فکر نه و کړ ي ، چې ددومره بې شمیره اوښانو او آسونو څخه به چې دبو شمیر اوښ چلونکو او فوځیانو ملکیت و څه ډول د خپلې اړتیا وړ سپرلۍ تر لاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نژدې د سلو په شاوخوا کې د اوښانو قافله وه چې په محاذونو کې پروتو د اسلامي فوځ او مجاهدینو ته ئې خوراکي مواد لیږدول. څرنګه چې په هیواد کې دننه د دښمن د یرغل کومه خطره نه محسوسیدله نو په دې خاطر د قافلې دخوندي ساتلو له پاره کوم ځانګړې اقدام نه و شوی. یوائې لس کسه آسپ سواره ورسره دبدرګې په توګه روان وو.

مګر هلته بالیان هم د خیالي پادشاهانو په څیر په زور زور خندل او نه ئې غوښتل چې د چا خبره واوري. په کومه شپه ئې چې نجونې ازادې کړې وې ، دهغې څخه په بله شپه هغه په یوه ځای کې تم شوې و ، هلته بالیان (موبي) ته وویل ، چې مونږ شپږ نارینه یو او تاسې اوه نجونې ، زما دغې شپږ دوستانو زما سره ډیره وفاداري کړې ده ، زه له تاسره په عیش اوعشرت کې مشغول اوسم بیا هم دوی څه نه وائي ، اوس هغوی ته زه انعام ورکول غوارم ، ته ددې نجونو څخه یوه یوه ئې زما دې ساتونکو ته ور حواله کړه. او هغوی ته ووایه چې دا ستاسې د وفادارۍ تحفه ده.

«داسې نه شي کیدلای» (موبي) په ډیرې غصې سره ورته وویل « مونږ فاحشې نه یو ، دا زما مجبوري ده چې زه له تاسره ستا دلاسو د لوبې د الې په څیر اوسیږم. دا نجونې ستا په لاسو را نیول شوی او اختسل شوی وینځې نه دي.»

« ما ته هیڅکله هم یوه شریفه او باعزته نجلۍ نه ئې ګڼلې ، » بالیان په شاهانه توګه ورته وویل ، « تاسې ټولو زمونږ له پاره د خپلو جسمونو تحفې را وړې ، معلوم نه ده چې دا نجونې به د څومره نارینه و په غیږو کې لوبیدلې وې. په دوی کې ئې یوه هم د مریم په څیر پیغله نه ده پاته شوې.»

«مونږ دخپلو دندو دپوره کولو له پاره خپل جسمونه په تحفه کې ورکوو» (موبي) ورته وویل « مونږ نارینه و ته د عیاشۍ په خاطر نه ورځو ، مونږ ته خپل قوم اوخپل مذهب یوه دنده سپارلې ، ددې دندې د ترسره کولو له پاره مونږ خپل جسم ، خپل ښایست ، او خپل عصمت او عزت د وسلې په توګه استعمالوو. اوس زمونږ دنده تر سره شوې ده. اوس چې ته څه وائې ، دا عیاشي ده ، چې هیڅکله هم مونږ ته دمنلو وړ نه ده. کله چې هم مونږ په عیاشۍ کې و نښلو نو دهمغې ورځې څخه به د صلیب زوال پیل شي. صلیب به مات شي ، مونږ په دې خاطر دخپل عصمت او عزت شیشې ماتوو تر څو صلیب د ماتیدو څخه خوندي کړو .مونږ ته روزنه راکړل شوې ده چې د یوه مسلمان مشر د تباه کولو له پاره د لسو مسلمانانو سره شپې تیرول روا دي ، او دثواب کار دي ،مونږ دا د ډیر خیراو د سترثواب کار ګڼو چې د مسلمانانو یو مذهبي مشر د خپل جسم په واسطه ناپاکه کړو .»

داوښانو چلونکي بې وسلې وو ، هغوی تر اوسه پورې د غلچکي یرغلونو او کماندو عملیاتو ډګر ته نه و راغلي. یا خو د صلیبیانو دغه یو یشت کسیزه ډله لمړني کماندویان و او یا ددې تر مخه د صلاح الدین ایوبي مجاهدینو د شپیني عملیاتو هغه لړۍ ازمینبت کړې وه چې په هغې کې ډیرو لږو سپرو د غلچکي او کماندویي عملیاتو په واسطه د سوډانیانو دځواکمن فوځ اخري برخه باندې یرغلونه کول او بیرته به خوندي ځابو ته ستنیدل.

ددې « خرپ او ترپ، وار وکړه او بیرته و تښته » د جنګ دطریقې د برياو په کتلو سره سلطان ایوبي ، دګرندېو ، ذهینو او د جسماني اړخه سالمو او صحتمندو عسکرو د تیارولو حکم کړې و . او ددښمن په هیواد کې د جنګیدونکو جاسوسانو د لیږلو د پلان د تیارولو حکم ئې هم کړې و . خو صلیبیانو لا تراوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې د شپيني او غلچکی عملياتو په اړوند فکر نه وکړي ، کله کله به صحرائي غلواوشوکمارو دخلکو په کاروانونو باندې يرغلونه کول او لوټول به ئې. سرکاري قافلې به تل خوندي پاته کيدې ، نو په دې خاطر د فوځونو د خوراکي موادو د غه قافله هم پرته له کومې ويرې روانه وه. ددې تر مخه هم دهمدې محاذ له پاره د خوراکی موادو دوه قافلې تيرې شوې وې او د همدې سيمي څخه تيرې شوې وې. نوپه دې خاطر د حفاظتي زياتو اقداماتو له پاره اړتيا نه ليدل کيده.

دا قافله هم په پوره بې پروائي سره د محاذ په لور روانه وه. او د شپې له پاره ئې دغلته تم ځاي جوړ کړې و. ددې ځاي څخه لږ څه دمخه د قافلې له پاره ډير سترګوابن متوجه و. صليبي قومندان خپله ډله په يوه ټيټ ځاې کې تم کړه ، او دوه کسانو ته ئې دنده ورکړه ترڅو ولاړ شي او و ويني چې په قافلې کې څومره اوښان ، څومره آسونه ، څومره وسله وال ساتندويان دي او څه ډول خطر او ګوابن هلته شتون لري. بيا هغوی د شپې د يرغل کولو له پاره پلان جوړ کړ. دهغوی سره د وسلو کمښت نه و ، د جذې او سربښندنې کمښت هم نه و ، د هغوی هر يو سړی د خپل ځان د ځارولو له پاره تيار و.

دنيمائي شپې څخه ډير دمخه هغه دواړه ، چې د قافلې د ليدلو له پاره تللي و ، بيرته راستانه شول. هغوی وويل «چې دقافلې سره لس کسه وسله وال سپاره دي چې په يوه ځای کې سره ويده شوی دي ، آسونه په يو بل ځای کې تبيله شوی دي ، د اوښانو چلونکي هم د بارنو څخه اخوا په ډلو ډلو ويشل شوی اوپراته دي ،په سامان کې ډيرې زياتې بوجۍ دي ، د اوښانو د چلونکو سره هيڅ ډول وسله نه شته ، »

دا ډير ښه مالومات و ، اوس نو دهغوی کار ستونزمن نه مالوميده.

د قافلې خلک په ډير درانده خوب ويده شوی و. دهغې لسو عسکرو سترګې هم وازې نه شوی چې لسو تورو هغوی سره و څيرول. صليبي ګوريلاو دا ټول کارونه دومره په پټه سره تر سره کړل چې د زياتو اوښ وړونکو سترګی هم خلاصې نه شوی. او د چا چې سترګې پرانستل هم شوی په دې نه پوهيدل چې څه کيږی. دهر چا له خولې چې اواز وت هغه د هغه د ژوندانه اخري اواز ثابت شو. يرغل کونکو د اوښانو د خاوندانو د ويرولو له پاره چغې سورې پيل کړې. ويده هم لکه د ليونو په خير په ويره کې را پورته شول. اوښان هم و تريدل او را پورته شول ، صليبيانو د اوښانو د خاوندا نو عامه وژنه پيل کړه ، ډير لږ شمير تري و تښتيدل. صليبي قومندان چغې کړې او وئې ويل ، دا دمسلمانانو خوراکي مواد دي ، له منځه ئې يوسئ ، او اوښان هم له پښو و غورځوئ ،» هغوی د اوښانو په ګيډو کې خنجرونه او توري ور ننويستلې او په کې ئې و ګرځولې ، د اوښانو په فرياد کولو شپه په لړزيدو شوه. د کماندو ډلې وکتل چې دولس اسونه دې لس د سپرو له پاره او دوه نور فالتو ، او نهه اوښان ئې سره رابيل کړل.

د لمر د راختلو سره د دې پړاو منظر ډير ويرونکې و. بې شميره لاشونه خواره واره پراته و. ډير اوښان مړه شوی و. څو په مرګوني حال کې لاس او پښې وهلي. د خوراکي موادو بوجۍ شکيدلې پرتې وې ، ټول لس واړه آسونه غايب شوی و او هلته کوم ژوندي انسان نه تر سترګو کيده. د کماندو ډله لرې تللې وه ، هغوی ته د سپرلۍ وسايل په لاس ورغلي وو ، اوس نو هغوی په ډيره ګړندۍ توګه د خپل ښکار تعقيب کولې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکار ډېر لږې نه و ، د باليان ذهن لا د پخوا ځخه د (موبي) په ښايست ، ځوانۍ او شرابو کې ورک شوی و . اوس نو دهغې تر ځنګ اوه نورې ښايسته نجونې هم راغلې وې ، هغوی خطر له ياده ويستلي و ، (موبي) به هغه ته بيا بيا ويل چې دومره زياد تم کيده ښه نه برېښې ، ځومره ژر چې کيداې شي تر سمندر پورې د ورسيدو هڅه وکړه ، زمونږ پسې خلک ګرځي.« نو ددې مطلب خو دا شو چې ته د صليب دپايښت له پاره ما استعمالوي .» د باليان احساسا ت سوکه سوکه را بيدا ريدل « ايا ته غواړې چې زه د صليب ساتونکې و اوسم.»

« ايا ته تر اوسه پورې په دې کې شک کوې ؟» (موبي) ورته وويل « تا بيا ولې د صليب سره دوستي کړې ده؟»

« د صلاح الدين ايوبي د حکمرانۍ ځخه د ازادۍ په خاطر» باليان ځواب ورکړ او وئې ويل « «نه دصليب د ساتنې له پاره ، زه مسلمان يم ، خو د هر ځه دمخه زه يو سوداني هم يم»

«زه تر ټولو دمخه صليبي يم» (موبي) ورته وويل « عيسائې يم او دهغه وروسته د هغې هيواد لور يم کوم کې چې زيږيدلې يم» (موبي) دهغې لاس را واخست او په خپل لاس کې ئې و نيو او ورته ئې وويلې « اسلام خو کوم مذهب نه دې ، په دې خاطر ته خپل هيواد ته په اسلام غوره والې ورکوې. دا کمزوري ستاسې نه ده بلکه ستاسې د مذهب کمزوري ده ، ته له ما سره د سمندر ځخه اخوا ولاړ شه نو زه به درته خپل مذهب و ښايم ، نوبيا به دې دغه خپل مذهب ،چې ته ئې د خپل سوډانيتوب ځخه وروسته ځان پيرو ګڼې، له ياده ووځي.»

« زه په داسې مذهب باندې لعنت وايم چې خپلې لوڼې دپردو سره دشپې د تر سره کولو له پاره هڅوي او د شرابو د ځښلو عمل ته ثواب وائي ، » باليان يو ناڅاپه را بيدار شو . او وئې ويلې « تا خپل عصمت پر ما نه دې لوټلې ، بلکه زما عصمت دې لو ټلې دې ، ما ته نه ، بلکه تا له ما ځخه د لوبو اله جوړه کړې وه.»

« د يوه مسلمان د ايمان د اخستلو له پاره د عصمت ورکول کوم زيات ځيز نه دې» نجلۍ ورته وويلې ، « ما ستا عصمت نه دې لوټلې ، بلکه ستا ايمان مې اخستې دې ، خو اوس نه غواړم چې ولاړه شم او تا په لاره کې لويدلې پرزيدلې پريږدم. زه اوس تا د يوې ستري رڼا په لور بيايم. چيرې چې ستا راتلونکې او عاقبت روښانه او ځليدونکې تر سترګو کيږی.»

زه هغې رڼا ته نه ورځم» باليان ورته وويل.

«ګوره باليان !» (موبي) ورته وويل « ميړه او بيا جنګې ميړه هيڅکله هم د خپلې وعدې او سودا ځخه نه په شا کيږې. تا زما سودا منلې ده ، ما ستا ايمان اخستې او هغه مې په شرابو کې ورډوب کړې دې او تا ته مې ستاد خوښې قيمت درکړې دې. ددومره ورځو را هيسې ستا ونيځه او بې نکاح ښځه يم ، اوس ته ددې سودا ځخه په شا نه شې تللاې. اوس يوې کمزورې نجلۍ ته دوکه مه ورکوه.»

« تا ماته هغه ستره رڼا همدلته و ښووله کومه چې ته غواړې د سمندر ځخه اخوا ئې ماته را وښائې.» باليان وويل « ماته خپل را تلونکې او عاقبت د هيرو په ځير همدا اوس ځليدونکې په سترګو کيږې.»....(موبي) د ځه ويلو هڅه کوله نو باليان ورته په قهر سره وويل « چپ شه نجلۍ ! صلاح الدين ايوبي زما دښمن کيداې شي خو زه د هغه رسول دښمن کيداې نه شم چې صلاح الدين ايوبي ئې هم په نوم باندې ځان ځاروي ، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغې رسول په‌نوم باندې مصر او سوډان او هر څه‌ځاريدو ته‌تيار يم. د هغې په سترا وپاک نوم‌باندې زه‌د صلاح‌الدين ايوبي‌ترمخ وسلې ايښنولو ته هم‌تيار يم»

«ما تاته څو ځلې ويلې چې شراب لږ څښه ، »(موبي) ورته‌وويل « له‌يوې‌خوا شراب او له‌بلې‌خوا زما د جسم‌سره‌ټوله شپه لوبې‌کول او ويښ پاته‌کيدل ، ګوره ستا دماغ بلکل بيکاره شوی‌دې ، تا دا هم‌هير کړې دې چې زه‌ستا ښځه يم. »

« زه‌د يوې صليبي فاحشې خاوند کيداې نشم» دهغه نظر د شرابو پر بوتل شو، بوتل ئې‌را واخست او لرې ئې خطا کړ ، او را پورته شو. خپل ملګري ئې را وبلل ، هغوی هم په يوه منډه راغلل ، هغه‌ورته‌وويل «دا نجونې او دا نجلۍ هم‌ټول ستاسې بنديان دي دوی بيرته قاهرې‌ته‌يوځئ .»

«قاهرې‌ته !» يوې‌نجلۍ په‌حيرانتيا سره‌ترې وپوښتل «ته‌اوس قاهرې‌ته تلل غواړې ؟»

«هو !» هغه ورته‌وويل « قاهره ، په‌دې‌کې د حيرانيدو څه‌خبره‌ده. تر څو پورې به په‌دغه شګو کې اوړو را اوړو ؟ چېرته به‌ځو ؟ ولاړ شئ او په‌آسونو زينونه کښيږدئ او هره نجلۍ د يوه يوه اسپ په شا و ترئ او سفر پيل کړئ. »

(۳۱)*****

په‌دښتو کې د اوښ سفر بې‌اوازه وي ، خو د آس د خپو اواز اوريدل کيږي. خو د اوښ پښې خدای داسې جوړې کړې دي چې ډير کم‌اواز هم نه‌ترې را پورته‌کيږي ، هغه‌وخت چې‌باليان د (موبي) سره خبرې اړولې را اړولې هغه‌ته‌دا احساس هم‌ونشو چې په‌يوه اوښ‌سپور د يوې کوچنۍ شګلنې غونډۍ په‌سر ولاړ دې او دوی او دا نورې شپږ نجونې تر سترګو لاندې ځاري ، دا د صليبي کماندو د ډلې يو سړې‌و. ددې ډلې قومندان يو هو ښيار سړې‌و. هغوی د باليان د تم ځاې څخه‌لږ څه اخوا دېره جوړه کړې‌وه. د هغوی په‌وهم‌و ګمان‌کې هم‌نه‌و چې دهغوی ښکار د هغوی څخه‌نژدې نيم ميل لرې دې. هغه‌د فوځې پوهې څخه په‌کار اخستلو سره د شپې درې‌کسو ته دنده سپارلې‌وه ، چې‌هغوی دې په اوښانو سپاره شي‌او تر لرې لرې پورې دې پهره وکړي. او هر چېرې چې‌ورته کوم‌خطر او يا د کار څه خبره پيدا شي‌نو سمدستي دې‌دلته خبر راوړي. ددې‌کار له‌پاره اوښ موزون ترينه سپرلۍ وه. ځکه چې‌دهغې د پښو اواز نه‌وي ، درې واړه سپاره په‌مختلفو لورو باندې ولاړل ، دا ټوله‌سيمه د پړاو اچولو او تم کيده له‌پاره ډيره‌مناسبه وه. په‌دې‌خاطر قومندان فکر کړې و چې کيداې‌شي دلته بل‌چا هم تم ځاې جوړ کړې او دېره‌ئې اچولې‌وي.

يو اوښ‌سپور ته رڼا تر سترګو شوه نو هغه همغه لورې ته‌ولاړ ، دا يو کوچنې‌مشال و چې‌د باليان‌په تم ځاې کې‌روښانه شوی‌و. اوښ سپور مخته‌راغې نو د يوې غونډۍ شاته‌پټ شو. دا غونډۍ همدومره ستره وه چې په‌اوښ سپور ترې‌هرې‌لورې ته‌کتلې شول. په‌دغه‌تياره غوني‌رڼا کې نجونې هغه‌ته تر سترګو شوې چې‌د باليان د فوځې ډلې سره‌ئې خبرې کولې ، ددوی څخه‌لږ څه لرې يوه بله‌نجلۍ د يوه سړې سره په‌خبرو کې مشغوله‌ده. او ددوی نه‌لږ څه‌اخوا دهغوی اسونه‌مختبيله شوي و. په‌دې کې هغه‌اسونه هم و چې دوی د بنديانو د ساتونکو د وژلو وروسته تر لاسه کړې وو.

صليبي‌اوښ سپور خپل اوښ را تاو کړ تر يوه ځايه خو سوکه سوکه ولاړ او بيا ئې‌اوښ په ځغاسته کړ. د اوښ له‌پاره نيم‌ميل فاصله هيڅ شې هم نه‌دې. سپور خپلې‌ډلې باندې زيرې وکړ، چې‌ښکار زمونږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدمونو کې دي. قومندان يوه لمحه هم له لاسه ورنکړه ، د اوښ سپور څخه ئې تفصيلات و غوښتل او فوځيانو ته ئې د پيدل تلو حکم وکړ، ځکه د آسونو د پښو د اوازونو څخه د دښمن د خبريدو خطر را پيښيده ... کله چې دا ډله دباليان تم ځاي ته ورسيده نو هغه وخت باليان حکم کړې و چې يوه يوه نجلۍ د آسونو په شاو باندې وتړئ ، د هغه دوستا ن حيران و او د باليان په لور ئې کتل چې هسې نه چې دهغې دماغ خراب شوي وي، هغوی له ده سره خبرې پيل کړې او په دې ترتيب وخت له لاسه ووت. باليان په ډيره سخته توګه هغوی قانع کړاي شول ، چې هغه څه چې هغه يې کوي په پوره هوش او فکر سره ئې کوي. او بيرته قاهرې ته ستنيدو کې عافيت او مصلحت دي.

نجونو په ډيره انديښنه هغه ته کتل ، دباليان خلکو په آسونو باندې زينونه کښيښول او نجونې ئې و نيولې ، يو ناڅاپه پرې افت را پريوت ، باليان په لوړ اواز سره بيا بيا وويل «مونږ وسله غورځوو ، او نجونې قاهرې ته له ځانه سره بيرته وړو .» هغه دغه يرغل کونکي د سلطان ايوبي مجاهدين ګڼل ، خو يو خنجر دهغه په زړه کې ور کښيوت او هغه ئې د تل له پاره چپ چاپ کړ. دهغې ملګرو هم د دومره زياتو وګړو د ناڅاپي يرغل دفاع و نه شوه کړاي ، هغوی د ځانونو د جوړولو دمخه له منځه تللي و. نجونې يو ځل بيا ازادې شوې وې ، کماندو ډلې هغوی سمدستي له خپله ځانه سره يوړې ، هغوی کماندو ډله و پيژندله ، ځکه هغوی هم دهمدې ډلې جاسوسانې وې. هغوی شپه هملته وکړه او د پهرې له پاره ئې دوه ساتونکي و درول چې د تم ځاي په چاپيريال کې به ګرځيدل را ګرځيدل.

(٣٢)*****

تر اوسه پورې د سلطان ايوبي له اړخه را ليږل شوی سپاره دهغې ځاي څخه ، چې بنديانې نجونې د باليان وګړو دساتونکو څخه ازادې کړې وې ، ډير لرې وو. هغوی د شپې هم مزل کاوه او نه ئې غوښتل په دې تعقيب کې وخت له لاسه ورکړي ، لاربښود هم ورسره و هغه ته ځاي او لاره په ياد وه ، هغه دا ډله هغه ځاي ته يوړل د کومه څخه چې پرې حمله شوې وه ، يو مشال ئې روښانه کړ ، وئې کتل چې هلته د راښ او دهغې د ملګرو لاشونه پراته دي. دا ځيرول شوی او خوړل شوی و. په دې وخت کې دښتي ګيدړانو او نورو حيواناتو د هغوی لاشونه خوړل ، د سپرو په کتلو سره دا ځيرونکې و تښتيدل ، د ورځې له اړخه دوی د غوښې خوړونکو الوتونکو ښکار و ، ساتونکي خپل قومندان هغه ځاي ته يوړ د کومه ځايه چې هغه دخپلې تيښتې له پاره آس را پرانستې و ، هلته ئې د مشال په رڼا کې ځمکه و کتله ، د آسونو د قدمونو او پښو نښې تر سترګو کيدې او دهغه لورې نښې ئې هم ښوولې کومې ته چې دوی تللي و. خو دشپې له اړخه ددې نښو ليدل او تعقيبول هم ګران کار و. د وخت د ضايع کيدو او د بې لارې کيدو خطر هم و ، نو په دې اساس د شپې هملته تم شول.

د صليبيانو ډله په خپل تم ځاي کې ويښه ناسته وه ، ډير زيات خوښ و ، قومندان پريکړه کړې وه چې د سهار په تياره کې به د روم د بحيرې په لور خوځيږي ، په دغه وخت کې «ميګنانامار يوس» وويل چې زمونږ مقصد لا تر اوسه پورې نه دې تر لاسه شوی ، دصلاح الدين ايوبي وژل خو په خپل ځاي پاته دي ، قومندان ورته وويل چې دا هغه وخت شوني وو چې مونږ د نجونو پسې قاهرې ته تللي وائې ، اوس مونږ د قاهرې څخه ډير لرې يو نو په دې اساس دهغې موخې د تر سره کولو کار و ځنډول شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



««دا زما دنده ده چې د مرګ پرته ئې بل هيڅ شي نه شي ختمولاي» "ميګنانا ماريوس» وويل« ما د صلاح الدين ايوبي د وژلو سوګند پورته کړې ، ماته د بو ملګري او يوي نجلۍ ارتيا ده.»

«دا پريکړه به زه کوم چې مونږ بايد څه وکړو » قومندان ورته وويل « تهول بايد زما د حکم او امر اطاعت وکړي»

«زه د هيڅا دحکم تابع نه يم» ميګنا ناماريوس ورته وويل» « تاسې تهول د خداې د حکم تابع ياست»

قومندان هغه ته سترګې برګې کړې او په قهر شو."ميګنا ناماريوس» سره خپله توره وه ، هغه پورته شو او په قومندان ئې توره را وويستله ، خو ملګري ئې تر منځ شول ، (ماريوس) ورته وويل« زه د خداى يو بې لارې انسان يم ، زه د ګناه او بې انصافۍ تر منځ ځوړند يم ، ايا تاسو پو هيږئ چې زه ئې ولې په بندي ځاې کې د دبرش کالو له پاره ورغورځولې وم ؟» پنځه کاله مخته زما يوه خور چې عمر ئې شپاړس کاله و وتښتول شوه ، زه يو غريب انسان يم ، زما پلار ددې نړۍ څخه لا پخوا سترګې پټې کړې وې ،مور مې ړنده ده ، زما کوچنې کوچني زامن دي ، ما به زيار او زحمت ويسته ، مزدوري به مې کوله او هغوى مې پالل ، ما په چرچ کې دېسوع مسيح را ځړول شوي بُت څو څو ځلې ماچ کړې او دا مې ترې پو ښتل چې زه ولې غريب يم ؟ ما هيڅکله هم ګناه نه ده کړې ما خپل تهول عمر په ريښتونولۍ او صداقت کې تير کړې ، زه مزدوري کوم اودخپلې کورنۍ پالنه کوم خو زما د کورنۍ ګېډه لا تراوسه پورې هم خالي ده ، زما مور به ولې خداې ړنده پيدا کوله ، ماته يسوع مسيح هيڅ ځواب را نکړ ، او کله چې زما پيغله خور و تښتول شوه نو زه چرچ ته ولاړم او د پيغلې مريم څخه مې و پوښتل چې زما د پيغلې خور په پيغلتوب تا ته ولې درد راپيدا نه شو؟ هغه خو معصومه او پاکه وه ، پر هغه باندې خداې ظلم او تيرې کړې و چې هغه ته ئې ښايست ورکړې و ، ماته نه يسوع مسيح ددې ځواب راکړاې شو او نه پيغلې مريم په دې هکله څه وويل......»

«يوه ورځ راته د يوه ډير شتمن سړي نوکر وويل چې ستا خور ددې شتمن سره په کور کې ده ، هغه يو عياش انسان دي ، پيغلې نجونې را تښتوي څو ورځې ور سره خپله عياشي کوي اوبيا ئې له دې ځايه بل چيرته ليږدوى ، خو دا انسان د پادشاه په دربار کې ناسته پاسته کوي ، خلک دهغه عزت کوي ، پادشاه هم هغه ته دستري رتبې توره ورکړې ، هغه په ګناهونو کې ډوب هم د خداى خوښ دي، د نړۍ قانون دهغې په لاسو کې د لوبو اله ده .....زه د هغې کورته ولاړم ، او خپله خور مې ترې بيرته و غوښتله ، هغه زه په پورې وهلو او تيل وهو دخپل محل څخه را وويستم ، زه بيا چرچ ته ولاړم ، دېسوع مسيح د بُت او د پيغلې مريم دعکس تر مخ مې و ژړل ، خداې ته مې ورغږ کړ، ماته هيڅا ځواب را نکړ ، زه په چرچ کې يواځې وم ، پادري راغې ،ماته په قهر شو او زه ئې د چرچ څخه را وويستم. ،وئې ويل: ددې ځاې څخه دوه عکسونه غلا شوى دي ، ووځه ، اوکه نه پوليسو ته دې په لاس کې ورکوم.» ما ترې په حيرانتيا سره و پو ښتل« ايا د ا دخداې کور نه دي.؟» هغه ځواب راکړ « ته زما څخه د اجازې پرته دخدائې کور ته څنګه را ننوتې ئې ، که چېرې دګناهونو معافي غواړې نو ماته راشه ، خپله ګنا بيان کړه ، زه به خداې ته وواېم چې ستا ګناهونه تاته وبښي ،ته نيغ په نيغه د خداې سره خبرې نه شي کولې ، زه وځه له دې ځايه... اوزما دوستانو زه ئې په دغه توګه دخداې له کوره را وويستم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه داسې وختونه او داسې داستانونه بيانول چې په ټولو باندې چپتيا راغلې وه ،د نجونو د سترګو څخه اوښکې روانې شوی ، ددښتې د شپې چپتيا کې ددې خبرو اغېز په ټولو باندې د طلسم او جادو په څير را خپور شوی و .

هغه وويل «ما پادري ، د يسوع مسيح بُت ، د پيغلې مريمې انځور او هغه خداې چې ماته په چرچ کې تر سترګو نه شو ټولو ته د شک په سترګه وکتل او په همدې شک سره د چرچ نه را بيرون شوم. کله چې کور ته ولاړم نو ړندې مورمې راڅخه و پوښتل ، چې زما لور دې راوړه او که نه ؟ زما ښځې له ما وپو ښتل ، زما زامنو له ما و پو ښتل ، خو زه د يوه تصوير او بُت په څير چپ ولاړ وم. خو زما په وجود کې يو توپان راولاړ شو او زه بهر را ووتلم. زه ټوله ورځ هسې ګرځيدم را ګرځيدم ، د ماښام په وخت کې مې يو خنجر واخست ، او ددرياب په غاړه باندې زنګيدلې ګرځيدم. شپه تياره شوه او ډير وخت لړې يوې لورې ته ولاړم ،ماته دهغه محل رڼاوي تر سترګو شوی په کوم کې چې زما خور بندۍ کړل شوی وه ، زه ډير ګړندې ولاړم او ددې محل د شا له لورې په دې محل کې و رننوتم ، زه دومره چالاکه او زيرکه انسان نه وم خو زه چالاکه و ګرځيدم ، کله چې زه د شا ددروازې څخه محل ته ورننوتم نو د محل په يوه کوټه کې شور و غوغا وه ، کيداې شي چې څه خلکو به شراب څښل ، زه په يوه کوټه کې ورننوتم نو يوه نوکر زه و درولم ، ما د هغې په سينې باندې خنجر کښيښود اودخپلې خور نوم مې واخست او ترې ومې پو ښتل چې هغه چيرې ده ، نوکر زه د دننه پاتخو له لارې پورته پورې ته يوړم اوپه يوه خونه کې ئې و ر داخل کړم او وئې ويل چې دلته ده ، زه دننه ولاړم نو زما شاته دروازه و تړل شوه ، او خونه خالي وه......

د لږ ځنډ وروسته دروازه پرانستل شوه او يو زيات شمير خلک دننه راغلل ، دهغوی سره توري او ډنډې وې، ما د خوني شيان را پورته کول او دهغوی په لور مې ورويشتل ، ډيرشيان مات او وران ويجاړ شول، هغوی زه و نيولم ، وئې وهلم ان ترډې چې زه بې هوشه شوم. کله چې زه په هوش کې راغلم ومې کتل چې زه په ځولنو او ځنځيرونو کې تړل شوې يم ، زما پر خلاف دا الزام و چې ما ډاکه اچولې ده ،د پادشاه د يوه درباري کور مې خراب کړې دې او درې کسان مې د وژلو په نيت زخميان کړي هم دي، زما فرياد هيڅا وانه وريد . اوماته ئې دېرش کاله د بندي پاته کيدو سزا راکړه او د بندي خانې په دوزخ کې ئې ور واچولم. اوس نژدې پنځه کاله پوره کيږی خو زه انسان نه يم پاته شوی، تاسو د بندي خانې په سختيو نه پوهيږئ ، د ورځې له اړخه درڅخه دحيواناتو په څير کار اخلي او دشپې مو د سپيو په څير په ځنځيرونو تړي ، ماته د امعلوم نه وه چې زما هغه ړنده مور به ژوندۍ هم وي او که مړه شوی به وي ، ماته دخپلې ښځې اوبچيانو په هکله هم مالومات نه و ، زه ئې د يو خطرناک غل په څيرساتلم اوهيڅوک ئې را ته نه را پريښودل.....

«... ما به هر وخت فکر کاوه چې زه به ريښتوني يم که خداې ، ځکه اوريدلي مې وه چې خداې بې ګناه خلکو ته سزا نه ورکوي ، خو زه خداې په کومې ګناه کې را نيولې يم او دا سزا ئې راکړې ده ؟زما بچيانو ته په کومه ګناه سزا ورکول کيږي.... زه پوره پنځه کاله په همدې انديښنو کې ککړ وم، څو ورځې دمخه د فوځ يو څو افسران هلته بندي خانې ته راغلل، هغوی ددې کار له پاره چې اوس مونږ ورته مؤظف شوی يو څه کسانو ته اړتيا وه ، ما خپل ځان ورته نه را مخ کاوه ، ځکه چې دا د پادشاهانو ننبتې او جنګونه دي ، ما ته ټول پادشاهان يو څير دي خو کله مې چې واوريدل چې څو نجونې د مسلمانانو د بند څخه ازادول دي نوزما په زړه کې زماد خپلې خور غم را تازه شو. مونږ ته ويل شوی و چې مسلمانان دکرکې وړ قوم دې ،ما دا اراده کړې چې زه به عيسائې نجونې د مسلمانانو د بند څخه ازادوم ، نو که چيرې خداې ريښتونې وي نو زما خور

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي دهغه ظالم عيسائي د لاسو ښخه را ته ازاده کړي. بيا فوځي افسرانو وويل چې د يو مسلمان پادشاه دوژلو پلان هم دي نو زه ددې کار په اهميت پوه شوم او خپل ځان مې ورته را مخکښې کړ. خو شرط مې ورته دا کښيښود چې ماته دومره رقم راکړئ چې زه ئې خپلې کورنۍ ته ورکړم. هغوی د رقم د راکولو وعده وکړه او دا ئې هم وويل که چېرې د سمند ښخه اخوا له منځه ولاړئ نو ستاسې کورنيو ته به دومره زيات رقم ورکړل شي چې د ټول عمر له پاره به چاته اړ نه پاته کيږي.

هغه دخپلو ملګرو په لور اشاره وکړه او وئې ويل «دا دواړه زما سره په بندي خانې کې و ، دوی هم خپل ځانونه را وړاندې کړي دي ، له مونږه ښخه د سلګونو خبرو پو ښتنه شوې ده خو مونږ دړې واړو هغوی ته ډاډ ورکړې دي چې مونږ به خپل قوم او خپل مذهب ته دوکه نه ورکوو ، ماخو په حقيقت کې دخپلې کورنۍ له پاره خپل ځان پلورلې دي د بندي خانې ښخه د وتلو تر مخه يو پادري مونږته وويل ، چې دمسلمانانو عامه وژنه د ټولو ګناهونو د ښنلو سبب کيږي. او د مسلمانانو د بند ښخه د عيسائې نجونو ازادول خو تاسو نيغ جنت ته بيائي .ما د پادري ښخه و پو ښتل ، چې خداې چيرې دي ؟ هغه چې کوم ځواب راکړ هغه زما له پاره د ډاډ وړ نه و.ما په صليب باندې لاس کښيښود او سوګند مې ياد کړ ، مونږ ئې بهر را وويستو ، زه ئې خپل کورته بوتلم ، زما کورنۍ ته هغوی ډير ستر رقم ورکړ. زه ډاډمن شوم ، اوس نو زما دوستانو ! ما ته د خپل سوګند تر سره کول اړين بريښي ، زه غواړم ووينم چې زما خداې چيرې دي ، ايا د يوه مسلمان پادشاه په وژلو به خداې را ته تر سترګو شي.»

«ته ليونې ئې ، ليونې !»قومندان ورته وويل «تا چې څومره خبرې و کړې ماته په هغې کې د عقل لږ څه بوي هم نه راځي»

«هغه ډيرې ښې خبرې وکړې» دهغه يو ملګري وويل ، « زه به له هغه سره يوځاې کيږم»

«ماته اوس د يوي نجلۍ اړتيا ده» "ميګنا ناماريوس» دنجونو په لور وکتل او وئې ويل « زه به د نجلۍ د ځان او عزت مسؤل يم، زه د نجلۍ پرته تر صلاح الدين ايوبي پورې نه شم رسيدلې ، د هغه وخته چې زه دلته راغلې يم په همدې فکر کې ډوب يم چې زه به دصلاح الدين ايوبي سره ښنګه په يوه ځانته ځاي کې ووينم.»

(موبي) پورته شوه او دهغې سره د تللو له پاره ئې خپل هوډ و ښوده. او وئې ويل « زه له ده سره تللو ته تياره يم»

«مونږ خو تاسو په ډيره ستونزمنه توګه دهغوی ښخه ازاد کړې ياست (موبي) !» قومندان ورته وويل « زه تاسې ته د داسې خطرناک مشن د تللو اجازه نه شم درکولاې.»

« ماته دخپل عصمت د بدلې اخستل را په غاړه دي،قومندان صيب! (موبي) ورته وويل « زه د صلاح الدين ايوبي دخوب خوني ته په اسانۍ سره ور ننوتلې شم ، ماته معلوم دي چې د يوه مسلمان رتبه چې څومره لوړه وي همغوره ډيرهغوی د ښکلو نجونوليواله او زړه بايليدونکې اوسي ، صلاح الدين ايوبي ته به دا احساس هم و نه شي چې هغه په خپل ژوند کې اخرې نجلۍ ويني.»

د ډير زيات بحث او تکرار نه وروسته "ميګنا ناماريوس» د خپل يو ملګري او (موبي) سره يوځاې د خپلې ډلې رخصت واخست ، ټولو ورته دعاوې وکړې او خداې پاماني ئې ورته وويله. هغوی دوه اوښان له ځانه سره واخستل ، په يوه ئې (موبي) سپره کړه او په هغه بل هغه دواړه سړي کيناستل. دهغې سره دمصر سګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم وي او طلائي اشرفۍ هم. دواړو سرو چوغې واغوستې ، په دې وخت کې د "ميګنا ناماريوس» ږيره هم را اوږده شوې وه ، دهغه د مخ رنګ هم په بندي خانې کې د سختيو له لاسه ايټاليائي نه و پاته شوی ، دهغه په رنګ کې توروالې را ځرګندېده ، په دې اساس پر هغې دا شک نه کېده چې دا اروپائې دې ، هغه ته ئې د ځان د بدلولو په خاطر کالي ورکړي و خو يو څنډ ترمخه وه چې علاج ئې نه پيدا کېده ، او هغه دا چې (ماريوس) ته د ايټاليي ژبې پرته په بله ژبه خبري کول نه ورتلل، خو (موبي) د مصريانو په ژبه خبري کولې ، هغه بل سړي چې له دوی سره يوځاې تللې و هم دمصريانو په ژبه بلد نه و . دوی غوښتل ددې څنډ د لرې کولو کومه لاره پيدا کړي .

هغوی يواځې يوه شپه دمخه روان شوی و ، (موبي) د لارې په ښکته پورته ښه پو هيده ، ځکه هغه د قاهرې څخه راغلې وه . (ماريوس) پر هغې باندې هم يو چوغه ورواچوله ، او دهغې سرئې د لوپټې په څير په يوه ځادر کې پټ کړ.

(۳۳)*****

د سهار په رڼښائې کې د سلطان ايوبي د سپرو هغه ډله چې د تعقيب له پاره وتلې وه د آسونو د قدمونو په نښه کولو سره همغه لورې ته روانه شوه ، دلته د ډيرو آسونو د پښو نښې ليدل کيدې چې پټيداې نه شوی ، د سهار څخه د مخه د صليبيانو ډلې نجونې له ځانه سره کړې او د ساحل په لور روان شول ، د هغوی تګ ډير ګړندې و. دهغوی په تعاقب کې د لټونکو سفر تم کيدونکې و . ځکه چې د شپې له خوا هغوی ځمکه نه شوه کتلاې خو صليبيانو خپل سفر جارې و ساته ، هغوی غوښتل چې په نيمه شپه کې پړاو وکړي خو هغوی په ډيره بيړه کې وو.

صليبيان چې په نيمه شپه په کوم ځاې کې تم شوی و د سهار د لکيرو د را ښکاريدو سره سم بيا و خوځيدل ، خو دهغوی تعقيب کونکې ډله د سهار په پوره رڼښائې کې د هغوی پسې وخوځيده .

"ميګنانا ماريوس» د عقل څخه کار اخستې و چې هغوی پر اوښانو سفر پيل کړې و ځکه اوښان د لوږې او تندې دومره پرواه نه کوي ، د تم کيدو پرته د آسپ نه زيات سفر کوي ، په دې خاطر (ماريوس) او دهغې ډله په ګړندۍ توګه خپله هدف ته ورنژدې کيدل.

تر اوسه پورې د لمر پريوتو ته لا ډير وخت و چې هغوی ته دانسانانو لاشونه ترسترګو شول ، دعلي بن سفيان نائب د باليان لاش و پيژانده ، دهغه څهره سلامته وه ، دهغې سره نژدې دهغې د شپږو نورو ملګرو لاشونه پراته و ، د ټولو څخه کارغانو او حيواناتو غوښې شکولې وې ، سپاره حيران وول چې دا څنګه خبره ده ؟ د وينې څخه معلوميده چې ددوی د مړينې څخه ډير وخت نه دې تير شوی. که چيرې دوی د بغاوت په شپه مړه شوی واې نو د وينې نښه به ئې هم نه واې پاته ، يواځې هډوکي به وو. دا يوه معمه وه ، چې هيڅوک ئې په حل نه پوهيدل. ددې ځاې څخه بيا د اسونو د پښو نښې را پيدا شوی سورو خپل اسونو ورو ځغلول ، تر نيم ميله پورې ولاړل ، نو د اوښانو دپښو نښې هم ترسترګو شوې ، هغوی همداسې مخته ولاړل ، د لمر د پريوتو سره بيا هم هغوی دمه ونه کړه ، اوس نو د خاورو د غونډيو لوړه ژوره سيمه پيل شوه. چې په دې کې يوه لاره د يوه سُرنګ څخه تيريده ، ددې پرته بله دتللو لار نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صليبيان هم په همدې لار تللي وو. او د روم د بحيرې په لور روان و .د غونډيو سيمه تر ډيره ځايه پورې خپره وه . دهغې ځاې څخه د وتلو وروسته تعقيب کونکې و دريدل ځکه چې مخته ورته پراخه شګلوړه ميدان پروت و.

کله چې دسهار په وخت روان شول نو چا وويل چې د سمندر هوا راولګيده ، سمندر هم دومره لرې نه و خو صليبيان نه تر سترګو کيدل ، په يوه ځاې کې د خوراک څښاک د پاته شونو څخه دا انګيرل کيده چې دلته دشپې يو شمير خلک تم شوی دي ، اسونه ئې هم همدلته تړلې دي ، بيا نو دا اسونه له هغه ځايه څخه روان شول ، د ځمکې په کتلو سره تعاقب کونکو خپل آسونه په ځغاسته کړل ، لمرهم په خپل سفر روان و او مخته ته ، آسونو ته ئې په يوه ځاې کې ارام ورکړ. اوبه ئې ورکړې او بيا روان شول ، د سمندر هوا هم تيزه شوی وه چې په هغې کې د سمندر بوي صاف محسو سيده ، بيا د ساحل غونډۍ تر سترګو شوې ، ځمکې دا ويل چې آسونه لږ مخته روان دي چې شميره ئې نه معلوميږي.

د ساحل غونډۍ را نژدې کيدې ، تعاقب کو نکو ته په يوه غونډۍ باندې دوه کسان تر سترګو شول ، هغوی همدې لورې ته راکتل ، هغوی په تيزی سره د سمندر په لور ښکته شول ، آسپونه نورهم تيز شول ، کله چې د غونډيو په لور ورنژدې شو نو آسونه ئې و درول ، ځکه چې دلته د څو لارو څخه د غونډيو شاته تګ کيداې شو . يو کس ئې په يوې غونډۍ و خيژاوه تر څو مخته ووينې ، هغه سرې د آسپه را ښکته شو او منډه ئې کړه او په يوې غونډۍ باندې ورپورته شو . د ختلو وروسته هغه په ملاسته مخته وکتل او بيا ئې بلې لورې ته او بيرته را غې ، هغه دهماغه ځاې څخه آسپ سورو ته اشاره وکړه چې پيدل راشئ ، سپاره د آسونو څخه ښکته شول او په منډه ئې ځان هغه ځاې ته ورساوه ، تر ټولو دمخه دعلي بن سفيان نائب پورته وخوت ، هغه وکتل او بيرته ئې په منډه ځان خپلې ډلې ته را ورساوه خپل ملګري ئې خواره واره کړل او په مختلفو ځايو کې ئې ځاې په ځاې کړل.

د بله اړخه د آسپونو د شنړيدو اوازونه را تلل ، صليبيانو هملته شتون درلود .دا هغه ځاې و چې هلته سمندر غونډئ پرې کړې وې او په هغو کې دننه را ننوتې و. دوی خپلې کشتۍ هملته تړلې وې ، هغوی د آسونو څخه ښکته شول اوپه کشتۍ کې سپريدل ، کشتۍ ډيره ستره وه نجونې په کشتۍ کې ورختلې وې ، آسونه ئې پرې ايښي و ، يو ناڅاپه پرې د غشو باران جوړ شو . دوی نه غوښتل ټول هلاک کړې ، بلکه غوښتل ئې هغوی ژوندي و نيسي ، ډيروپه کشتۍ کې ځانونه ورواچول او کشتۍ په چپو کې ور وخوځيده ، هغوی چې ترشا پاته و د غشو نښې و ګرځيدل. هغوی د کشتۍ خلکو ته ډير ننګ ورکړ او د خپلې مرستې له پاره ئې راوبلل ، خو هغوی تم نه شول ، هلته سمندر ډير ژور و ، کشتۍ په ډيره سوکه توګه تګ کاوه ، هلته په يوې اشارې سره غشي ويشتونکو په کشتۍ باندې غشې ور ويشتل ، د سمندر د چپو خوځښت و دريد . او پرې د غشو دويم باران او بيا دريم باران پيل شو ،غشې د لاشونو سره ورننبتل. اوس نو په هغوی کې هيڅ يو ژوندي نه و پاته ، کشتۍ هملته په سمندر کې په ګډا پيل وکړ ، د سمندر څپې به د ساحل په لور راتللې ،او د غونډيو سره به ئې د ټکر وروسته بيرته په شا تګ کاوه ، لږه شيبه وروسته کشتۍ بيرته ساحل ته را ورسيدله. په آسونو سپاره را ښکته شول او کشتۍ ئې را ونيوله ، وئې کتل چې هلته يواځې لاشونه دي ، نجونې هم له منځه تللي او ان تردې چې په ځينو دوه دوه غشي لګيدلي دي.

کشتۍ ئې هملته بيرته وتړله ، او د سپرو مجاهدينو دا ډله د محاذ په لور روانه شوه. پنډغالي يې هم دومره لرې نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*****(۳۴)

"میگنا ناماریوس» قاهرې ته په رسیدو سره په یوه سراې کې ځانته تم ځای و نیو .ددې سراې یوه برخه د عامو او غریبو مسافرو له پاره وه او بله برخه ئې د امراو او لوړې رتبې دمسافرو له پاره ځانګړې شوې وه. په دې برخه کې شتمن تاجران هم اوسیدلاې شول د هغوی له پاره شراب او نڅیدونکې هم تیاریدل. (ماریوس) هم په دې ځانګړې برخه کې پاته شو. هغه (موبي) خپل ښځه ور وپيژنده ، اوخپل ملګرې ئې خپل باورې ملازم و ښود. د (موبي) ښکلا او ښایست د سراې په خاوندانو باندې د (ماریوس) رعب او دبدبه پیدا کړه .ځکه هر یو فکر کاوه چې داسې ښایسته او ځوانه ښځه به د کوم ښه شتمن سړې وي ! د سراې خاوندانو به دهغوی ځانګړې پاملرنه کوله ، (موبي) هم خپل ځان مسلمان ګڼله اود صلاح الدین ایوبي دکور او دفتر په هکله ئې مالومات را ټول، دا ئې هم معلومه کړه چې سلطان ایوبي سوډانیانو ته معافي کړې ده. او سوډاني فوځ ئې له منځه وړې دې. هغې ته دامالومات هم وشو چې د سوډاني فوځ دسالارانو او قومندانانو حرم سرایونه ئې خالي کړې دي او دا هم چې هغوی ته ئې کر کیلي له پاره زراعتي ځمکې ورکړې دي.

دا د(ماریوس) یا ډیر زیات جرأت و او یا د هغې ډیر زیات حماقت و چې په داسې حال کې چې ددې هیواد په ژبه هم نه پوهیده ،خو بیا هم د دومره خطرناکه کار د ترسره کولو له پاره راغلې و. هغه دومره ستر شخصیت ته د ورسیدو او دهغې د وژلو په هکله هم کومه روزنه نه وه تر لاسه کړې. هغه په ذهني توګه یو ناروغه انسان و خو بیاهم هغه په داسې حال کې د صلاح الدین ایوبي د وژلو له پاره هڅه کوله چې دهغه په شاوخوا کې د ساتونکو یوه پوره ډله موجوده وه. د هغې د ډلې خپل قومندان ورته ویلي و چې ته پاګل او احمق ئې ، تا چې ځومره خبرې کړې دي په هغوکې ماته د عقل لږ څه بوي هم نه راځي ، ښکاره ده چې (ماریوس) پاګل هم و.

دا یو تاریخي حقیقت دې چې د سترو خلکو وژونکې په عمومي توګه پاګل ډوله انسانان اوسي ، که چیرې پاګل او احمق نه وي نو بیا ئې هم په ذهني توازن کې څه توپیر حتما موجود وي. د ایټالیې ددې مجرم ذهني حالت هم همداسې و ، دهغې سره یوه داسې وسله وه چې د ډال کار ئې هم ورکاوه. او هغه وه (موبي). (موبي) نه یوازې د مصریانو په ژبه پوهیده بلکه هغې ته او دهغې هغه نورو مرو شوو نجونو ته د مصري او عربي مسلمانانو د اوسیدو لارې چارې ، د هغوی تهذیب او تمدن ، او د نورو ټولنیزو ښکته پورته په هکله ډیره اوږده روزنه ورکړل شوې وه. هغوی د مسلمانو خلکو د روحیاتو څخه هم خبرې وي ، په اداکارۍ کې ئې هم پوره پوهه درلوده اوتر ټولو سترښه والي ئې دا و چې هغوی نارینه په ګوتو نڅول او د اړتیاو په وخت کې ئې هغوی ته د خپل ټول جسم د لوڅولو او نارینه و ته د مخکې کولو په لارو کې هم د پوره تجربې خاوندانې وي.

دا خو هیڅوک نه شي ویلاې ، چې په بنده خونه کې (موبي) ، دهغوی ملګرې او (ماریوس) څه خبرې کولې اوڅه ډول پلان ئې جوړاوه، خو داسې ثبوتونه په پخوانیو لیکونو کې تر لاسه کیږي چې دوه درې ورځې په سراې کې د اوسیدو وروسته "میگنا ناماریوس» بهر راووت نو دهغې ږیره توره سپنه وه اودهغې رنګ د سوډانیانو په څیر توروالي درلود، چې هیڅ ډول مصنو عیت په کې نه تر سترګو کیده ، هغه یوه ماموله چوغه وا غوسته او په سرئې یو ماموليرومال او لونګۍ و تړله ، (موبي) هم د سرنه تر پښو پورې په بُرکه ډوله لباس کې پټه وه ، دهغې پر مخ باندې یو باریکه نقاب داسې را ځړول شوی و چې شونډې او زنه ئې پټوله ، خو تندې او مخ ئې لوڅ ول ، دهغې په تندې باندې تور وریښمین ویښتان را پراته و ، دهغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرې په معمولي لباس کې و اوداسې ترې معلومیده چې ریښتیائې هم نوکر دې. دسراې نه بهر دوه د ډېر ښه نسل آسونه ولاړو و. دا آسونه دسراې خاوندانوو (ماریوس) ته د کرائې په مقابل کې را غوښتي و. ځکه هغه ویلي و چې هغه د خپلې ښځې سره د سیل کولو په لور درومي. (ماریوس) او(موبي) دواړه په اسونو سپاره شول اوکله چې اسونه روان شول نو دهغوی ملګري دنوکرانو په څیر ورپسې وروسته وروسته منډې وهلې.

صلاح الدین ایوبي خپل ټول نائبین کښینولې و او د سوډانیانو په اړوند ئې احکام ورکول ، هغه غوښتل دا کار ډېر ژر پائې ته ورسیږي ، ځکه هغه پریکړه کړې وه چې د سلطان زنګي له اړخه را استولي فوځونه ، د مصر د نوي فوځ او وفاداره سوډانیانو سره یوځاې کړي او یو نوي فوځ ترې جوړ او په بیت المقدس باندې ئې د یرغل له پاره چمتو کړي، د روم د بحیرې د ماتې وروسته ، په داسې حال کې چې سلطان زنګي فرینکو ته د هغه په هیودا کې هم ماتې ورکړې وه ، تر یوه اوږده وخته پورې صلیبیانو ته د بیرته ځان جوړولو کار شونې نه و، دهغوی دخپلو زخمونو د جوړیدو تر مخه سلطان ایوبي بیت المقدس په خپلو لاسو کې د را وړلو پروګرام درلود ، ددې دمخه هغه غوښتل سوډانیان د ځمکو په کر کیله کې مشغول کړي او دبیا بغاوت خطر دتل له پاره له منځه یوسي.

دنوي فوځ منظمول او د زرګونو سوډانیانو دځمکو په ابادېو کې مشغولول څه اسانه کار نه و ، په دې دواړو کارونو کې ډېره ویره وه ، ځکه د سلطان ایوبي په فوځ او انتظامیه کې داسې ستر افسران موجودوو چې هغوی سلطان ایوبي د مصر د واکمن په څیر د لیدلو زغم نه درلود ، د سوډانیانو د فوځ په ماتیدو سره هم دسلطان ایوبي پر خلاف دا ویره را پیدا کول کیده ،ځکه د هغې فوځ یو څو اعلی منصبداران لا تر اوسه هم ژوندي و. هغوی د سلطان اطاعت منلې و خو دعلی بن سفیان انتلیجنس ښوول چې د بغاوت ایرې لا تر اوسه په خپل ځان کې د اور سکروټې لري.

د جاسوسي شبکو را پور داهم و چې دې باغي مشرانو ته د خپلې ماتې په هکله دومره افسوس نه وه لکه څومره غم و هَمّ ئې چې د صلیبیانو دماتې او شکست په هکله کاوه، ځکه دهغې بغاوت د له منځ وړلو وروسته هم صلیبیانو څخه مرسته غوښتل کیداې شو او داسې فوځي افسران هم وه چې هغوی د سوډاني فوځ د ماتې او دهغوی په له منځه وړلو ډېر خواشیني و ځکه هغوی په دې هیله ناست وو چې سلطان ایوبي به ډېر ژر یا ووژل شي اویا به و تښتي. او ځواک به بیرته دوی ته تر لاسه شي. دا د ایمان پلورونکو ډله وه ، خو دسلطان ایوبي ایمان ټینګ و ، هغه د مخالفینو څخه خبرو خو بیا ئې هم د هغوی پر خلاف ّهیڅ ډول قدم وا نه خست. دهغوی سره ئې د نرمۍ ، میني اوخلوص نه کار اخست ، په هیڅ غونډه کې ئې دهغوی پر خلاف یوه خبره هم ونه کړه او کله به چې هغه خپل فوځ ته ویناکوله نو داسې الفاظ به ئې هیڅکله هم نه کارول « چې زه به خپلو مخالفینو ته ددې مخالفت خوند و ښایم اویا..... ، » کله ئې ګواښونکې او یا طنزیه الفا ظ هم نه دې اسعمال کړي ، البته داسې الفاظ به ئې ډېر له خولې را وتل لکه « چې که چیرې کوم ملګرې د ایمان دخرڅلاو په حال کې وویني نو د هغه مخه و نیسئ ، او هغه ته را په یادکړئ چې هغه مسلمان دې او دهغه سره د مسلمانانو په څیر سلوک وکړئ تر څو ددښمن د اغېز څخه ازاد واوسي ،» خو په پټه به ئې ځان د مخالفینو د کړو وړو څخه د خپلو جاسوسي شبکو له لارې خبراوه. د علي بن سفیان شبکې ددې کار تر سره کولو له پاره ډېرې زیاتې مصروفې وې او سلطان ایوبي ته ئې تر ځمکې لاندې اطلاعات را رسول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو ددې شبکې دندې او مسؤليتونه نور هم زيات شوي و. د ساتونکو او اوښ وړونکو د عامي وژنې خبر هم قاهرې ته را رسيدلې و ، ددې تر مخه د جاسوسانو هغه ډله چې نجونې هم په کې وې دنامالومو وګړو په واسطه د ساتونکو د لاسو څخه ازادې کړل شوې وې ، دې دوو پيښو دا ډاګيزه کړې وه چې په هيواد کې صليبي جاسوسان او غلچکي يرغلکونکي شتون لري ، او دا هم را څرګنديده چې هغوی ته ددې ځاې د اوسيدونکو پناه او ملاتړ ور په برخه دې. خو تر اوسه پورې هغه اطلاع نه وه راغلې چې غلچکي يرغلکونکي او نجونې په هماغه وخت کې له منځه ولاړل چې په کشتۍ کې سوريدل او د سمندر اخوا تګ ته ئې ځان جوړاوه ، د يرغل کونکو د يرغل د مخنيوي له پاره ئې د فوځ دوه ډلې په ټوله سيمه کې د ګشت له پاره تير ماښام استولې وي او د اينټيلي جنس نظام ئې نور هم پراخه کړې و.

سلطان ايوبي لږ څه انديښمن هم و ، چې هغه د کوم مقصد له پاره مصر ته راغلې و او هغه د اسلامي سلطنت د استحکام او ټينګښت او پراختيا له پاره څه خه ډول پلانونه له ځانه سره جوړ کړي و خو دهغې پر خلاف د ځمکې څخه د لاندې او د ځمکې پر سر داسې توپان را پورته شو چې دهغې پلانونه ئې سره و لړزول ، هغه ته انديښنه وه چې د مسلمان توره د مسلمان په څټ سپره وه. دايمان پلورنکو ليلام لګيدلې دې ، اسلامي سلطنت او خلافت هم د سازشونو په جال کې را نغښتې او د سازش کونکو د کار اله ترې جوړه شوې ، ښځې او شتمنۍ د عربو ځمکې سره لړزولې دې ، سلطان ايوبي ددې هر څه څخه بې خبره نه و چې دهغه د وژلو سازشونه کيږي خوهيڅکله ئې هم په دې هکله انديښنه ونه ښوله ، ويل به ئې چې زما روح د الله په واک کې دې ، دهغې مبارک ذات ته چې کله هم زما وجود د ځمکې پر مخ بيکاره ثابت شي نو مابه هم د ځمکې له سر څخه واخلي ، په دې اساس هغه د خپل ځان له پاره د خپله اړخه دساتنۍ دومره فکر نه کاوه ، دا خو دهغې د فوځي نظم له اړخه د ساتندويانو کړنلاره وه چې دهغې په شاوخوا کې به تل د ساتونکو ډلې او د انټيليجنس وګړي موجود و. اوپخپله علي بن سفيان هم په دې هکله ډير سخت متوجه و. او دا د هغه دنده هم وه ، او بل دا چې هغه سلطان ايوبي که بيغمبر نه ګانه نو خپل پير او مرشد خو ئې ضرور ګانه.

په دې ورځ سلطان ايوبي خپلو معاونينو ته احکامات او لاربښوونې ورکولې چې دوه آسونه د هغې د ساتونکو په پوله و دريدل د ساتونکو قومندان هغوی سره و درول ، سپاره دواړه "ميګنا ناماريوس» او (موبي) وو. هغوی د آسونو څخه را ښکته شول نو د آسونو قيضې د هغوی هغه ملګري و نيولې ، (موبي) قومندان ته وويلې چې هغې خپل پلار له ځانه سره راوړې ، غواړې د سلطان ايوبي سره ووينې ، قومندان د (ماريوس) سره خبرې وکړې او د ليدنې کتنې د سبب له پاره ئې ترې وپوښتل ، (ماريوس) ځان داسې بې خبره کړ لکه د سره ئې چې دهغې خبره اوريدلې نه وي ، هغه په دې ژبه هم نه پوهيده ، (موبي) هم خپل نوم يو مسلمان نوم وښود. هغه قومندان ته وويلې چې « ددې سره خبرې کول بې کاره دي دا ګونګې دې او کوڼ هم..... د ليدنې کتنې دموخې په هکله به مونږ سلطان يا بل کوم ستر افسر ته ووايو.»

علي بن سفيان بهر ګرځيده ، هغه (ماريوس) او (موبي) و کتل نو د هغوی لورې ته راغې ، هغه سلام عليکم وويل ، نو (موبي) ورته وعليکم السلام ووايه ، قومندان هغه ته وويل چې دوی غواړې د سلطان سره ووينې ، علي بن سفيان د (ماريوس) څخه د ليدنې کتنې د علت په اړوند و پوښتل نو (موبي) ورته وويل چې دا زما پلار دې ، کوڼ او ګونګ دې ، علي بن سفيان ورته وويل چې سلطان خو اوس ډير زيات مصروف دې ، کله چې فارغه شي نو د ليدنې وخت به ترې واخستل شي ، هغه ورته وويل « که تاسې د ليدنې موخې را ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووایاست کیداې شي چې ستاسې کار د سلطان سره د لیدنې پرته تر سره شي ، سلطان د ورو ورو شکایتونو له پاره وخت نه شې ویستلاې ، اړونده ځانګه پخپله شکایت اوري او رفع کوي ئې..»

«ایا سلطان ایوبي د اسلام د یوې مظلومې لور د فریاد د اوریدو له پاره هم وخت نه شې ویستلاې ؟» (موبي) ترې وپوښتل: « هغه څه چې زه ئې ویل غواړم نو زه به ئې همغه ته وایم.»

«ماته د ویلو تر مخه تاسې له سلطان سره نه شئ کتلې » علي بن سفیان ورته وویل « زه به تر سلطانه پورې ستاسې فریاد ور ورسوم ، که هغه اړین وګڼل نو تاسې به دننه را وغواړي» علي بن سفیان هغوی دواړه دننه خپلې دکار خونې ته بوړل.

(موبي) د شمالي سیمو د یوه کلي نوم واخست او وئې ویل « دوه کاله کیږي چې سوډاني فوځ دهغه ځایه څخه تیر شوی دی ، زه هم د نجونو سره د دې فوځ دکتلو له پاره بیرون را وتلې وم ، یو قومندان خپل آسپ را وګرځاوه او راغې او زما دنوم پو ښتنه ئې وکړه ، کله چې ماورته خپل نوم و ښود نو هغه زما پلار راو غوښت ، هغه ئې لږ اخوا کړ او په غوږ کې ئې ورته څه وویل ، یو چا قومندان ته وویل چې دا ګونګې او کوڼ هم دې ، قومندان چغې کړې ، د ماښام وروسته څلور کسه سوډاني فوځیان زمونږ کورته راغلل، او زه ئې په زور سره پورته کړم او قومندان ته ئې ور حواله کړم. دهغه قومندان نوم بالیان دې ، هغه زه له خپله ځانه سره راوړم او په خپل حرم کې ئې و ساتلم ، دهغې سره څلور نورې نجونې هم وې ما هغه ته وویل چې له ماسره واده وکړه خو هغه زه د واده پرته خپله ښځه کړې وم. دوه کاله هغه زه له ځانه سره و ساتلم ، کله چې سوډاني فوځ بغاوت وکړ نو بالیان هم ولاړ ، دا مالومات نه شته چې هغه به بندي وي او که مړ. ستاسې فوځ دهغې کورته راغې او وئې ویل چې تاسې ټولې نجونې ازادې یاست.....

زه خپل کورته ولاړم ، زما پلار غوښتل ما له چاسره واده کړي نو ټولو زما د واده څخه انکار وکړ. ویل ئې چې دا دحرم ځنډل شوی وینځه ده ، هلته د خلکوتر منځ زما ژوند ستونزمن شوی دی ، مونږ په سراې کې اوسو ، اوریدلې مې دي چې سلطان سوډانیانو ته زمکې اوکورونه ورکوي ، زه اوس د بالیان وینځه او یا ښځه ،هر څه مې چې ګڼئ ، راغلې یم چې ماته هم ځمکه اوکور را کړئ ترڅو زه د هغې ځاې څخه کوچ وکړم او دلته میشت شم او که نه زه به ځان ووژنم اویا به له کوره و تښتم او د فاحشو په ډله کې به ورګډه شم.»

« که چیرې تاسې ته ځمکه د سلطان نه پرته تر لاسه شي نوبیا تاسې د سلطان د کتلو څه اړتیا لرئ؟»علي بن سفیان ورنه وپوښتل.

«هو !» (موبي) ورته وویل «بیا به هم د کتلو اړتیا وي ، دې ته تاسو عقیدت او احترام هم ویلې شئ ، زه غواړم سلطان ته دا ووایم چې دهغې په سلطنت کې ښځه د لوبو یوه اله ګرځیدلې ده ، د شتمنو او حاکمانو په کورنیو کې دواده رواج له منځه تللي دې ، د خداې له پاره د ښځو دعصمت ساتنه وکړئ اوخوندي ئې کړئ ، سلطان ته زما په دې خبرو به زما زړه ته سکون پیدا شي.»

(ماریوس) ددې ټولو خبرو په جریان کې داسې چپ ناست ولکه دهغې په غوږو چې هیڅ خبره نه وي لګیدلې. علي بن سفیان (موبي) ته وویل چې سلطان په یوې غونډه کې ناست دې د هغې غونډې دخلاصیدو وروسته به ترې د وخت د اخستلو له پاره غوښتنه وکړو. هغه د ډیر ځنډ وروسته راغې او وئې ویل چې هغه د سلطان څخه د اجازې د اخستلو له پاره ورځې. هغه دسلطان ایوبي کمرې ته ورغې او د لږ څه ځنډ وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغي او (موبي) ته ئي وويل چي خپل پلار دې د سلطان دفتر ته يوسه ، هغه ورته د سلطان ايوبي كمره ورو ښووله ، كمرې ته د ورننوتلو تر مخه دواړو بهر لوري ته وكتل ، هغوى غوښتل چې د سلطان ايوبي د وژلو وروسته د تيښتې او وتلو لاره په نښه كړي.

*****(۳۵)

په كمره كې سلطان ځانته و ، هغه دا دواړه كښينول ، او د(موبي) څخه ئې و پوښتل ، « ايا ستاپلار د موره ګونګى او كوڼ پيدا شوى دې ؟»

«هو درونده سلطانه !»(موبي) ځواب وركړ ، « دا دهغې پيدايشي عيب دې» سلطان ايوبي كينه ناست ، هغه په كمره كې ګرځيده را ګرځيده ، او وئې ويل « ما ستاسې غوښتنه اوشكايت واوريد ، زه له تاسې سره پوره همدردي لرم ، زه به تاسې ته هم همدلته ځمكه دركړم او كور به هم درته جوړ كړم ، ما اوريدلې دې چې تاسې ماته نور هم څه ويل غواړئ»

«ستا بخت دې الله نور هم ستر كړي !»(موبي) ورته وويل « تا ته به ويل شوى وي چي له ماسره هيڅوک هم واده كولو ته تيار نه دي ، خلک ماته د حرم وينځه ،فاحشته او بد چلنه ښځه وائي، او زما پلار ته وايي چې هغه خپله لور پلورلې ده . ته خو به ماته ځمكه او كور را كړې خو زه يوه ميړه ته اړتيا لرم ، چې زما د عزت ساتوندوى وي....» او بيائې په ماته ژبه زياته كړه « زه دداسې خبرې كولو جرأت نه شم كولې خو دخپلې مور غوښتنه تاسې ته وړاندې كوم چې كه چېرې ته ما له ځانه سره نه شې واده كولې نو په خپل حرم كې مې له ځانه سره و ساته. ته زما عمر ، زما ښايست او زما جسم ته وګوره ، ايا زه ستا له پاره وړ نه يم.؟» ددې خبرې كولو سره هغې د (ماريوس) په اوږه لاس كښيښود اوبل لاس ئې په خپلې سينې باندې او د سلطان ايوبي په لور ئې اشاره وكړه ، دا اشاره د مخكې څخه پلان شوى وه ، (ماريوس) دواړه لاسونه جوړه كړه او د سلطان ايوبي په لور ئې ور اوږده كړه او بيا ئې د (موبي) لاس و نيوه د سلطان ايوبي په لور ئې ور وغځاوه لكه چې دې وائي چې زما لوره قبوله كړه.

«نجلۍ ! زه حرم سراې نه لرم » سلطان ايوبي ورته وويل « زه ددې هيواد څخه حرم سرايونه، قحبه ځايونه او شراب ختمول غواړم ، » د خبرو كولو په وخت كې هغه د خپل جيب څخه يوه سكه را وويسته او په لاسو كې ئې پورته پورته كوله ، هغه وويل « زه غواړم د ښځو د عزت ساتونكي واوسم ، » ددې خبرې په ويلو سره هغه ددواړه تر شا ولاړ. او سكه ئې لاندې و غورځوله ، كله چې د ټنګ اواز راغې نو (ماريوس) يو ناڅاپه شاته وكتل ، اوبيا ئې سمدستې خپل مخ بيرته راواړاوه.

صلاح الدين ايوبي په ډيره ګړندۍ توګه خپل يو فټ اوږود خنجر د خپل ملابند څخه راوويست او د دهغې څوكه ئې د (ماريوس) په غاړه كښيښوده او (موبي) ته ئې وويل « دا سړې زما په ژبه نه پو هيږي ، ده ته ووايه چې خپله وسله له لاسه وغورځوي ، كه لږڅه ځنډ ئې هم وكړ نو بيا به له دې ځايه ستاسې ددواړو لاشونه پورته كيږي.»

د(موبي) ستركې د حيرانتيا او ويرې څخه واځې شوى ، هغې په پوره اداكارۍ سره هڅه وكړه چې ووائي چې زما د پلار په ويرولو او ګواښولو غواړې پر ما باندې قبضه وكړې ؟ما خو پخپله خپل ځان تاته وړاندې كړې دې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ته چې هلته په محاذ کې زما مخ ته راوستل شوی نو ته هلته زما په ژبه نه پوهیدې» سلطان ایوبي ورته وویل او د خنجر څوکه ئې د (ماریوس) په غاړه کې ور کلکه کړه ، هغه وویل ،« ایا تا دومره زر ددې ځاې د خلکو ژبه زده کړه ؟... ده ته ووایه چې خپله وسله سمدستي د لاسه و غورځوي.»

(موبي) په خپله ژبه (ماریوس) ته څه وویل نو هغه خپلې چُوغې ته لاس کړ او خپل خنجر ئې را وویست ، د هغه اوږودوالي هم د ایوبي هومره و . سلطان ایوبي ئې د لاسه خنجر واخست ، او خپل خنجر ئې د هغې دغاړې څخه لرې کړ او وئې ویل « پاته نورې نجونې چیرې دي ؟»

«تا زما په پیژندګلوي کې غلطي کړې ده ، » (موبي) په لړزیدلي اواز وویل « زما سره بله کومه نجلۍ نشته ، ته دکومو شپږو نجونو خبره کوې ؟»

ماته خداې سترګې را کړې دي » سلطان ایوبي ورته وویل ، « او خدای را ته ذهن هم راکړې چې په کې هغه مخونه عکاسي کیږی چې یو ځل مي کتلي وي. ستا مخ چې اوس په نیمائي نقاب کې پټ دي ما مخته هم کتلي و.....ته او ستا دغې ملګرې ته خدای داسي ناقصه ذهن ورکړې دې چې دکوم کار له پاره چې تاسي راغلي یاست تاسي د هغې وړ نه واست ، په سراې کې تاسي دواړه د ښځې او میړه په څیر هستۍ ، دلته په راتلو سره تاسي لور او پلار و ګرځیدئ ، خو تاسو هیڅ هم نه یاست ، ستاسي یو ملګرې بهر د آسپونو سره ولاړ دي هغه ستاسي نوکر نه دي ، هغه مو نیولې دي.»

دا دعلي بن سفیان کمال و ، هغه ته (موبي) ویلي و چې هغوی په سراې کې اوسیږي. هغه دوی دواړه په خپله کمره کې کښینول او پخپله راووت او په اس سپور شو او دسراې په لورې ولاړ، د سراې خاوندانو ته ئې دهغوی د څهرو په هکله وویل نو هغوی ورته وویل چې هغه خو ښځه او میړه دي او یو نوکر هم ورسره دي . هغه ته ئې دا مالومات هم ورکړ چې هغوی د بازار څخه کالي او څه نور سامانونه هم رانیولي دي چې په هغې کې د نجلۍ له پاره بُرکه شکله چوغه او پنې هم وي ، هغوی علي بن سفیان ته ویلي و چې هغوی ښځه او میړه دي ، هغه ددې څخه زیاته نوره پلټنه و نه کړه ، دهغوی د کمرې قلف ئې مات کړ او د هغوی د سامانونو تفتیش ئې وکړ. دهغې څخه ئې څو نور داسي شیان را وویستل چې دهغه په بنسټ ئې شک په ډاډ سره بدل شو. علي بن سفیان پوه شو چې د سلطان ایوبي سره دهغوی په یواځې توګه دلیدنې کتنې موخه به څه وي ؟

هغه د هغوی آسونه هم کتلي و ، چې د ښه نسل تیز ځغاستي اسونه وو . د سراې د خاوندانو څخه ئې دهغوی د اسونو په هکله هم و پو ښتل نو هغوی ورته وویل چې درې واړه مسافرین په اوښانو راغلي و او دا آسونه دغه نجلۍ را غوښتي و ، د سراې خاوندانو دا هم ویلي و چې دنجلۍ خاوند ګونګې دې اونوکر ئې هم ګونګې معلومیږي. هغوی د هیچا سره هم خبرې نه کوې ، خو حقیقت کې هغوی د چا په ژبه نه پوهیدل.

علي بن سفیان بیرته راغې او وئې کتل چې غونډه پائې ته رسیدلې ، نو هغه سلطان ایوبي ته ورغې هغه ته ئې ددوی په هکله خبر ورکړ، او ټوله هغه قصه ئې ورته وکړه چې نجلۍ هغه ته اورولې وه ، اوبیا ئې د سراې دخاوندانو څخه تر لاسه شوی مالومات هم هغه ته په مخکې کښیښود ، د هغوی د سامانونو څخه چې کوم مشکوک شیان تر لاسه شوی و هغه ئې هم ورته ورو ښول ، او خپله رایه ئې داسې ورکړه چې دوی ستا د وژلو له پاره راغلې دي. غواړي له تاسره په یواځې ځان ووینې ، هغوی به دا پلان جوړ کړې وي چې تا ووژني او بیرته و تښتي ، تر څو چې خلکو ته ستا په هکله خبر ور رسول کیږي دوی به دهمدې تیزځغاستي اسونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته د سيمې څخه ځانونه ويستلي او د ښاره بهلرې تللې وي ، او دا هم کيداې شي چې دا خلک تا ددومره ښايسته نجلۍ په فکر کې کړي او په خوب ځاې کې ئې ستا و دژلو پلان جوړ کړې وي.

سلطان ايوبي په فکر کې ډوب شوی و ، وئې ويل « هغوی مه نيسئ ، ترمائې يوځل را ورسوئ»

علي بن سفيان هغوی دننه ور وليږل او په خپله د سلطان د دروازې تر څنګ و دريد ، هغه د ساتونکو دډلي قومندان را و غوښت او ورته ئې وويل « دغه دواړه آسونه د خپلو آسونو سره يو ځاې تبيله کړئ ، زينونه ئې را ښکته کړئ او دهغې سره ولاړ سړي تر نظارت لاندې و نيسئ. تالاشي ئې کړئ ، دهغې په بنه کې به خنجر وي هغه ترې واخلئ»

دا احکام پلې کړل شول واو د"ميګنانا ماريوس» ملګرې و نيول شو .دهغه څخه يو خنجر تر لاسه شو او دهغوی آسونه هم ظبط کړل شو.

اوکله ئې چې هغوی د سلطان ايوبي کمرې ته ور ننويستل نو په خبرو خبرو کې سلطان دبوې سګې په غورځولو سره په دې ډاډمن شو چې دا سړې کوڼ نه دې ځکه هغه د سګې په اواز باندې سمدستې تر شا کتلې و.

صلاح الدين ايوبي نجلۍ ته وويلې « چې دې ته ووايه چې زما روح د صليبيانو دخداې په لاسو کې نه دې ، زما دخپل اللهج په لاسو کې دې.»

(موبي) پر خپله ژبه د(ماريوس) سره خبرې وکړې نو هغه متوجه شو او څه ئې وويل ، (موبي) سلطان ايوبي ته وويل چې « دا وائې چې ايا ستا خداې څه بل ځوک دې ؟ او ايا مسلمانان هم خداې مني ؟»

«دې ته ووايه چې مسلمانان پر هغه خداې عقيده او باور لري چې ريښتوني دې او دريښتوني عقيدې خلک خوښوي» سلطان ايوبي ورته وويل « ماته دا خبره چا وکړه چې تاسې دواړه زما د وژلو پسې را غلي ياست؟... زما رب ! که چيرې ستاسې خداې ريښتوني واې نو ستاسې خنجر به زه تر اوسه پورې له منځه وړې وم.زما رب ستاسې خنجر زما لاس کې راکړ» هغه د کومه ځابه يوه توره راوويستله ، اوخو نور شيان ئې هم ور وښول ، « دغه توره او دغه نور شيان ستاسې دې ، دا ستاسو سره يو ځاې د سمندر څخه د هغه لورې دلته راغلي دې ، ليکن ستاسو څخه مخته ماته رارسيدلي دې ،»

(ماريوس) د حيرانتيا څخه پورته شو ، دهغې سترګې د حيرانتيا نه بوتې را وتلي وې ، څومره خبرې چې کيدې د (موبي) له لارې کيدلي ، (ماريوس) په خبرو پيل وکړ خو يواځې په خپلې ژبې په خبرو کولو پو هيده ،د خداې په اړوند دخبرو اوريدو سره هغه وويل « دا سړې د ريښتوني عقيدې خاوند بريښي ، ما غوښتل ددې ځان واخلم او وئې وژنم ، خو اوس زما ځان دهغې په لاسو کې دې.دې ته ووايه ستا په سينه کې يو خداې دې هغه ماته را وښيه ، زه غواړم هغه خداې ووينم کوم چې ده ته دا ښولي چې دا خلک ستا د وژلو په نيت راغلي دې.»

دسلطان ايوبي سره ددومره اوږدو خبرو مهلت نه و ، که هغه غوښتلي نو دواړه ئې جلادانو ته ور حواله کولې شول ، خو هغه وکتل چې دغه سړې بې لارې شوی ښکاري ، که چيرې دا پاګل نه وي نو په ذهنی توګه خو ضرورلارورکې دې. هماغه و چې د هغوی سره ئې دوستانه خبرې پيل کړې. په همدې وخت کې علي بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفيان هم را ننوت ، هغه غوښتل چې د سلطان خيريت و پوښتي ، سلطان ورته په خندا کې وويل چې «هر څه درست دي علي ! ما له هغه څخه خنجر اخستي دي.» علي بن سفيان د سکون نه ډک «اه» وکړه او بيرته بهر ولاړ.

(ماريوس) وويل « مخکې له دې چې سلطان زما سر له تنې پرې کړي ، زه غواړم دخپل ژوندد قصې کولومهلت راکړل شي .» سلطان اجازه ورکړه ، (ماريوس) همغه قصه واوروله چې څو شپې د مخه ئې خپلې ډلې او قومندانانو ته په هغه دښته کې اورولې وه ، تکې په تکې ئې همغه سلطان ايوبي ته واوروله ، اوس نو هغه په صليب د عيسې د راځوړند شوی بُت ، د پيغلې مريم د انځور ، او د پادريانو دهغه خداې نه چې دپادريانو د اجازې پرته ورسره خبرې نه شي کيداې ، نوره هم په ډيره کلکه توګه بيزاري ښکاره کړه ، اووئې ويل « د مړينې تر مخه ماته د خداى يو څرک يوځل را وښاياست، زما خدا ې زما کوچنيان د لوږې ووژل ، زما مور ئې رنده کړې ده ، زما خور ئې د شرابي وحشيانو په بندي ځاې کې ور اچولې ده ، او زه ئې دېرش کاله په بندي خانه کې ور و غورځولم. زه چې دهغې ځاې څخه راووتلم نو د مرګ په خوله کې را پريوتم.

« سلطانه ! زما ژوند ستا په لاسو کې دې.ماته هغه رينښتونې خداې را و ښاياست ، زه به هغه ته فرياد وکړم او دهغې څخه به انصاف و غواړم.»

ستا ځان زما په لاسو کې نه دې» سلطان ايوبي ورته وويل « زما دخداې په لاس کې دې ، که چېرې زما په لاسو کې واى، نو تر اوسه به تاسې زما د جلاد د توري لاندې واست ، زه به تاته هغه رينښتونې خداى در و ښايم چې ستا د سر د پرې کولو څخه ما منه کوي. خو تاته به په هغه رينښتونې خداې باندې عقيده پيدا کول وي. او که نه خداې به ستا فرياد وا نه وري ، اونه به ته انصاف ومومې » سلطان ايوبي د هغې خنجر هغه ته بيرته ور واچاوه ، او په خپله ولاړ او دهغه په لور ئې شا کړه او (موبي) ته ئې وويل « دې ته ووايه چې زه خپل ځان تا ته سپارم ، دا خنجر زما په شا کې ښخ کړه»

(ماريوس) خنجر په لاس کې و نيوه ، هغه ته ئې وکتل ، دسلطان ايوبي په ملا ئې سترګې ولګيدې ، پورته شو اودسلطان تر مخه ولاړ ، هغه ته ئې دسر نه تر پښو پورې وکتل ، دسلطان ايوبي د جلالي شخصيت اغېز و يا د سلطان د سترګو ځليدا وه چې هغه ته ئې رينښتونې خداې تر سترګو کړ.دهغه لاس و رپيده هغه خپل خنجر دسلطان ايوبي په قدمونوکې کښيښود ، په د واړو زنګونو کښيناست اودسلطان لاس ئې ماچ کړ او په زور زور سره ئې و ژړل ، (موبي) ته ئې وويل « دې ته ووايه چې يا خو دا پخپله خداى دې او يا داچې خداى ئې په سينې کې ورننويستې دې ، دې ته ووايه چې ماته خپل خداى را و ښيه .»

سلطان ايوبي هغه راپورته کړ او د خپلې سينې سره ئې يوځاې کړ او په خپلو لاسو ئې د هغې اوښکې پاکې کړې.

هغه ښويدلې انسان و ، دهغه په زړه کې د مسلمانانو پر خلاف نفرت او کرکه وه ، او د اسلام پر خلاف د زهرو څخه ډک و . بيا حالاتو هغه د خپل مذهب څخه بې زاره کړ ، دا يو قسم ليونتوب و ، يوه تنده وه چې هغه ئې دداسې يو خطرناک کار د ترسره کولو په لور روان کړې و .سلطان ايوبي هغه بې ګناه ګانه ، خو هغه ئې ازاد هم پرې نښود. بلکه د خپل ځان سره ئې وساته ، (موبي) خو روزل شوې را استول شوې وه او را تښتيدلې جاسوسه وه ، دا هغه اومه نجلۍ وه چې د صليبيانو پيغام ئې سوډانيانو ته ورساوه ، او هغوى ئې بغاوت ته تيار کړل ، ، هغه د هيواد دښمنه وه ، اسلامی قانون هغه په هيڅ صورت نه شوه ښنلاې ، سلطان هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودهغې ملګرې علي بن سفيان ته ورو سپارل، د تفتيش په وخت کې دوارو په خپل جرم اقرار وکړ. او دا ئې هم وويل چې دخوراکې موادو قافله هم همدوی لوټلې وه اونجونې هم همدوی ازادې کړې وې او داچې ټول ساتونکې ئې له منځه وړې و. او باليان او دهغې ملګری هم همدوی وژلې و.

دا پلټنه درې ورځې روانه وه په دې وخت کې د (ماريوس) ذهن روښانه شوی و ، يوځل هغه د سلطان ايوبي څخه پوښتلي و «ايا تا دا نجلۍ مسلمانه کړې او په خپل حرم کې دې ور ننويستې ده؟»

«نن ماښام به ددې پوښتنې ځواب درکوم» سلطان ايوبي ځواب ورکړ. دماښام په وخت سلطان ايوبي (ماريوس) له ځانه سره يوځاې کړ او لرې ئې تر يوه ځابه پورې يوې سيمې ته يوړ، د لرګې دوه تښتې پرتې وې پر هغوی سپين ځادرونه غوړيدلې و، سلطان ايوبي ځادرونه له يوې خوا څخه پورته کړل او (ماريوس) ته ئې و ښول ، دهغې د مخ رنګ بدل شو ، دهغه تر مخه د (موبي) لاش پروت و ، اوپه بلې تختې باندې دهغه د ملګري لاش ، سلطان ايوبي د (موبي) په سر لاس کښيښود او وروسته ئې کش کړ. د هغې ګردن د وجود څخه جدا و ، هغه (ماريوس) ته وويل ،«ما نه شوکولاې دا وښېم ، تا دا له ځانه سره راوړې وه ، چې زه دهغې په ښايست او جسم باندې زړه له لاسه ورکړم. خو ما ته دهغې جسم د يوې ذرې په اندازه هم ښه نه لګيده ، خو اوس را ته ښه ښکاري ، اوس چې ددې جسم څخه دومره ښايسته شکل او صورت لرې شوی دې ،ماته دا ډير ښکلې ښکاري ، اللهج دې ددې ګناهونه معاف کړي.

«سلطانه !» (ماريوس) ترې و پو ښتل «تاماته ولې عفوه وکړه»

« په دې خاطر چې ته زما د وژلو په نيت راغلې وې» سلطان ايوبي ورته ځواب ورکړ. « خو دا نجلۍ زما د قوم د کرچار د ختمولو له پاره راغلې وه ، او ستا دا ملګرې هم د همداسې يو پلان له مخې د ډيرو وګړو قاتل و ګرځيد ، او تا زما د وينو په تويلو سره د خداې کتل غوښتل.»

څو ورځې وروسته د (ميګنا نا ماريوس) څخه سيف الله جوړ شو چې بيا د سلطان ايوبي په ساتونکې ډله کې ورګډ شو اوکله چې سلطان ايوبي له نړۍ ستر ګې پټې کړې نو بيا همدې سيف الله خپل اخري اولس کلونه د صلاح الدين ايوبي د قبر تر څنګ تير کړل ، خو نن هيڅ ته معلومه نه ده چې د سيف الله قبر چېرې دی.

(۳۶)*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مسلمان جنرالان د صليبي جاسوسي شبکې په لومو کې

## دویمه میرمن........(۴)

دقاهرې د ښار څخه دوه نيم ميله لرې پرته دښته ،چې له يوا ړخه د شګلوړه غونډيو اود نورو درېو اړخونو څخه ان تر اُفقه پورې شګو پوخلې وه ، د انسانانو د سمندر لاندې ډوبه پرته وه. دا د سلونو زرو انسانانو هجوم و، په دوی کې اوښ سپاره هم و او آسپ سپاره هم ، يو زيات شمير خلک په خرو هم سپاره راغلي ول ، خو د هغو خلکو شميره تر ټولو ډيره وه چې هيڅ سپرلۍ ئې نه درلوده. دغه بې شميره هجوم د ځلورو پنځو ورځو څخه را په دېخوا دې دښته کې را ټولېده ، د خلکو ګڼې ګونې د قاهرې د بازارونو ښايسته والې نور هم ور زيات کړې و. سرايونه ټول دخلکو ډک و. دا خلک د لرې لرې ځايو څخه د سرکار ددې اعلان نه وروسته راغلي و چې ويل ئې ، پنځه شپږ ورځې وروسته به دهمدې شګلوړه دښتې په څنډو کې د مصري فوځ د آسونو د ځغاستې ، د آسونو او د اوښانو د سپرو د غشو د ويشتولو مقابلې تر سره کيږې او نور زيات شمير جنګي کمالونو به ښوول کيږي. ډنډوره چې دا اعلان هم کاوه چې هغه شمير غير فوځي خلک هم په دې مظاهرو کې ګډون کولاې شي چې په توري وهلو ، د آس په ځغلولو اود غشي په ويشتلو کې د مقابلې توان ولري.

دا اعلان د صلاح الدين ايوبي له اړخه کيده ، هغه ددې اعلان څخه دوه موخې درلودې يو داچې خلکو ته په فوځ کې د استخدام کيدو په لور رغبت ورکړي اوبل دا چې ،هغه خلک چې له فوځي اړخه سلطان کمزورې ګڼې دهغوی شکوک له منځه ولاړ شي. کله چې سلطان ته د اخبر ور ورسيد چې خلک شپږ ورځې دمخه د سيل او ننداري ځاې ته را رسيدلي نو زيات خوشحاله شو. خو علي بن سفيان اندېښمن برېښيده ، هغه سلطان ته هم دخپلو اندېښنو په هکله ويلي و. سلطان په ډيره خوښۍ هغه ته ويلي و « چې که چېرې د سيلانيانو شميره تر يو لک کسانو پورې ورسيږي نو مونږ به ددې جوګه شو چې دهغوی له منځه پنځه زره زره ورعسکر تر لاسه کړو.»

«درونده اميره !»علي بن سفيان ورته وويل « زه د سيلانيانو هجوم د يو بلې زاوئې څخه هم وينم ،زما د آند په مطابق که دا هجوم تر يو لک کسانو هم ورسيږي نو په هغوی کې به حتماً زر کسه جاسوسان رانوتې وي د کليو او بانډو څخه ښځې هم راروانې دي چې ډيرې ئې سوډانيانې دي ، دهغوی د زياتو رنګ دومره سپينوالې لري چې عيسائې ښځې په کې په اسانۍ سره ځانونه پټولاې شي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«زه ستا په دې ستونزې باندې ښه پو هیږم علي !» سلطان ورته وویل« خو ته پوهیږې چې ما ددې میلې اوسیل انتظام د څه له پاره کړې ؟ ته به خپله شبکه نوره هم زیرکه ، هوښیاره او فعاله کړې.»

«زه ددې میلې په هکله خوښ یم» علي بن سفیان ورته وویل« دا میله ډیره زیاته اړینه وه ، ما خپله اندېښنه ستا د اندېښنو د زیاتولو په خاطر تاته نه ده ویلې ، یواځې دا خبر مې درکړې چې دا میله دخپله ځانه سره دا ډول ګواښونه هم لري. په قاهرې کې موقتي قحبه ځاېونه جوړ شوی چې ټوله شپه د ننداړچیانو څخه ډک وي. د ننداړچیانو او سیلانیانو ډیرو ئې د ښهر څخه دباندې خیمې درولي دي . زما شبکې ماته خبر راوړې دي چې په دوی کې د جوارګرو او عصمت پلورونکو خیمې هم شتون لري. سبا د میلې ورځ ده ، خو نڅونکو او سندرغاړو د همدا اوسه د ننداړ چیانو شتمنۍ لوټ کړې دي .»

«کله چې میله پاې ته ورسیږي نو دا ناپاکي او غلاظت به هم د هجوم سره یو ځاې له منځه ولاړ شي» سلطان ورته وویل« زه اوس نه غواړم په دوی باندې بندیز و لګوم ، دمصر دخلکو اخلاقي حالت ډیر خراب دې ، جوارې او عصمت پلورنه په یوه یا دوه ورځو کې له منځه نه شي تللاې ، اوس هم ماته د لا زیاتو ننداړچیانو او سیلانیانو اړتیا ده. زه باید فوځ تیار کړم او علي ! ته پوهیږې ، چې مونږ ته د ډیر زیات فوځ اړتیا ده ، او ما د فوځي مشرانو په غونډه کې ددې خبرې پوره سپینوالې هم کړې دې .»

«ما ونه شو کولاې تا د هغې سپینوالې څخه منه کړم ، درونده امیره !» علي بن سفیان ورته وویل« زما استخباراتې سترګو ویل چې په هغو مشرانو کې تر نیمائې ډیر زمونږ خواخوږی او وفاداره نه وو ، ته ډیر ښه پو هیږې چې په هغې ډله کې څه داسې هم و چې نه غواړي تا په دې مقام او ځاې کې ووینې ، اوپاته نور هم د سوډانیانو پخوانې دوستان اوملګري دي ، ما دهغوی د هر یوه تر شا دخپلې شبکې یو یو کس مؤظف کړې دي ، او زما خلک ما ته دهغوی د کړوړو او کړ چار په هکله وخت په وخت خبر راکوي.»

«ایا د کوم یوه په هکله تر اوسه کومه خطرناکه خبره را رسیدلې ده؟» سلطان ایوبي ترې و پوښتل.

«نه» علي بن سفیان ځواب ورکړ ، « یواځې دا یوه خبره ده چې دغې خلکو خپلې رتبې او حیثیتونه له یاده ویستلي او د شپې هغه مشکوکو خیمو او ځاېو ته ورځي چې موقتي قحبه ځاېونه او نڅاځاېونه ګرځیدلي دي. تر اوسه پورې ددوی د ډلې څخه دوو کسانو هغه نڅونکۍ نجونې خپلو کورونو ته هم ور بللې دي.... ددې څخه اخوا زما ذهن د هغه بادباني کشتیو په شاوخوا کې را څرخیږي چې لس ورځې مخته د روم د بحیرې په ساحل کې تر سترګو شوی وي.»

« ایا په هغوی کې څه خاص خبره وه ؟» سلطان ایوبي ترې و پو ښتل.

تر هغه وخته پورې د روم د بحیرې څخه فوځ بیرته را ستون شوی و ، خو په پټو او ځانګړیو ځاېو کې دوه دوه کسان هملته په ساحل باندې د پهرې له پاره ګمارل شوی و ، علي بن سفیان د ماهي نیونکو او کوچیانو په بڼه کې په ساحل باندې د استخباراتو د شبکې څو کسان ټاکلي و ، هغه دا کار په دې خاطر کړې و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلیبیان په ناڅاپي توګه یرغل و نه کړي او بل دا چې ددې لارې د صلیبیانو جاسوسان را دا خل نشي. خو د ساحل غاړه ډیره اوږده او پراخه وه ، په ځای ځای غونډۍ او لوړې ژورې هم وې. په دې اساس ټول ساحل په یوه وخت کې تر څارنې لاندې نه شو راتللای. لس ورځې تیرې شوې وې چې دهغه ځایه څخه ، چیرې چې سمندر د غونډیو تر منځ را ننوځي ، دوه بادباني کشتۍ دوتلو په حال کې کتل شوې دي. داسې بریښي چې هغوی د شپې هلته راغلي وې.

د هغوی د بیرته تګ په کتلو سره د سلطان دوه سپاهیانو خپل اسونه د هماغه ځای په لور ور ورځغلول ، خو څه ئې تر لاسه نه شو کړای، هلته د انسان بوي هم نه احساسیده ، او کشتۍ هم په سمندر کې تر لرې لرې پورې تللې وې ، د کشتیو د بادبانو د جوړښت څخه څرګندېده چې دا د مصر د ماهي نیونکو کشتۍ نه دي ،او د سمندر د هغې لورې دلته راغلي دي. سپاره لږ څه اخوا دېخوا په دښته کې و ګرځیدل خو هیڅ ئې په سترګو نه شول. هغوی قاهرې ته خبر ورکړې و چې د ساحل تر څنګ دوه شکمنې کشتۍ تر سترګو شوی دي، د علي بن سفیان له پاره دا شوني نه وه چې په شګلوړه ځمکه کې دا ومومي چې د کشتیو څخه څوک او یا څه را ښکته کړل شوي دي. ځکه هغه ته د خبر په ورسیدو هم درې ورځې تیرې شوې وې.

علي بن سفیان د سلطان ایوبي ددې پو ښتنې ځواب چې په هغې کشتیو کې کومه ځانګړې خبره وه ، دا سپیناوي وکړ او وئې ویل « مونږ د یوې یونیمې میاشتې راهیسې د میلې اعلانونه پیل کړي دي ، په دومره موده کې خو د اروپا مرکز ته هم خبر وررسیږي او دهغه ځایه څخه جاسوسان را تللې شي ، زه تر ډیره ځایه پورې شکمن یم چې د تنداړچیانو سره به صلیبي جاسوسان هم میلې ته راغلي وي ، په قاهره کې اوس نجونې په موقتي توګه نه بلکه په تل پاتې توګه پلورل کیږي. سلطان دا درک کولای شي چې دهغوی را نیونکې خلک د معمولي حثیثت خاوندان نه دي ، بلکه په دغه را نیونکو کې د قاهرې تاجران ، زمونږ د انتظامي یو شمیر غړي او د فوځ لوړپوړي مشران هم ګډون لري. په پلورونکو نجونو کې به په ډاډمنه توګه د صلیبیانو دجاسوسي شبکې روزل شوی نجونې هم ورګډې وي .»

سلطان ایوبي په دغه اطلاعاتو باندې څه اندېښنه و نه ښووله ، د روم په بحیره کې صلیبیانو ته د ماتې د ورکولو څخه نژدې یو کال تیریده ، علي بن سفیان د سمندر هغې لورې ته هم دجاسوسي شبکې جال غوړولې و. خو ډیر باوري نه بریښیده ، دلته قاهرې ته په همدې وختو کې خبر رارسیدلې و چې صلیبیانو په مصر کې د څارکښۍ او تخریب کارۍ له پاره خپل روزل شوی وګړي ګمارلي دي ،مګر تر اوسه پورې دا نه وه ډاګیزه شوې چې د مصر په اړوند هغوی څه پلانونه لري ، د بغداد او دمشق نه په راغلو اطلاعاتو کې ویل کیده چې صلیبیان به ډیر فشار همله راوړي. ځکه هغوی لا د پخوا څخه په سوریه «شام» کې مسلمان امرأ او رئیسان په شرابو کې ډوب کړي و ، خو د سلطان زنګي په شتون کې صلیبیانو تر اوسه پورې هلته د نیغ په نیغه د ټکر کولو همت نه شو کولای. خوکله چې صلاح الدین ایوبي دهغوی ستره جنګي بیړۍ د روم په بحیره کې د ټول فوځ سره یوځای غرقه کړه نو تر څنګ ئې عربو هم د سلطان زنګي په مشرۍ د صلیبیانو په هیواد یرغل وروست او د هغوی څخه ئې جزیه واخسته او سولې ته ئې مجبور کړل. په دې جنګ کې زیات شمیر صلیبیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلطان زنګي په ولکه کې د بنديانو په خير راغلي و ، چې په دې ډله کې دهغوی يو شمير سالاران او لوړ پوړي چارواکي هم موجود وو. سلطان زنګي دا بنديان له ځانه سره وساتل ، ځکه چې صليبيانو د مسلمانانو جنګي بنديان شهيدا ن کړي و. ددې نه اخوا صليبيان په وعده باندې هم نه دريدل او تل به ئې وعدې ماتولې.

که څه هم سلطان ايوبي په دې ډاډمن و چې له هغه اړخه سلطان زنګي د اسلامي امت ساتنه کوي خو بيا ئې هم د خپل فوځ جوړښت ته دوام ورکړ تر څو د صليبي ځواکونو څخه دفلسطين سيمه بيرته واخلي ، او تر څنګ ئې د عربو ځمکه د کفارو د شر څخه د تل له پاره و ژغوري. همدا راز هغه غوښتل د مصر دفاعي سيستم نور هم ورکلک کړي ،خو هغه ته په يوه ځل دحملې کولو او دفاع کولو دواړو له پاره د ډير زيات فوځ اړتيا وه . په مصر کې په فوځ کې دخلکو د را ننوتلو او د فوځي خدمت له پاره د خلکو استخدام کولو پروسه (Process )د سلطان له آنده ډيره کمزورې وه. ددې يو علت دا هم کيداې شو چې د سوډانيانو فوځ له منځه تللې و او دهغې پاته شونو قومندانانو او منصبدارانو په کليو او بانډو کې د سلطان پر خلاف سخت منفي تبليغات پيل کړي و . ددې فوځ ډير کم شميرچارواکو د سلطان سره د وفادارئ تړون کړې و او بيرته په فوځ کې شامل شوی و . سلطان ايوبي و توانيد چې دغه لږه شميره مصری فوځيان او د سلطان زنګي له اړخه راليږل شوی فوځيان، ټول سره د يوه منظم فوځ په شکل کې راټول کړي . د مصر خلکو تر اوسه پورې دا فوځ نه و کتلې ، او نه ئې سلطان ايوبي ليدلې و. سلطان ايوبي ددې ميلې د اعلان سره سم خپلو فوځي او نورو لاس لاندې قومندانانو ته لارښوونه کړې وه چې هغوی دې دبهر څخه د راغلو ميلمنو سره ووينې ، او د مينې او محبت له لارې دې دهغوی باور تر لاسه کړې اوهغوی ته دې دا ډاګيزه کړې چې دا هر څه ددوی خپل دې او زمونږ د ټولو موخې دادې چې د خداې ج او د هغې د رسول ص د نظام پولې تر لرې لرې پورې و غځوو او هيواد ددې صليبي فتنې څخه د تل له پاره پاک کړو .

د ميلې څخه يوه ورځ دمخه علي بن سفيان ، سلطان ايوبي د عيسايي جاسوسانو دنفوذ د خطر څخه خبر کړې و . هغه ورته وويل « درونده اميره !زه د جاسوسانو څخه ويره نه لرم. په حقيقت مونږ ته ګواښ د خپلو کليمه ويونکو ورونو څخه دې چې غواړې د کفارو دغه تر ځمکې لاندې عمليات بريا ته ورسوي. که چېرې دهغوی ايمان کلک وې نو بيا خو د صليبيانو د جاسوسانو ټول لښکر هم پر مونږ نه شي بريالي کيداې. دميلې د نندارچيانو تر منځ چې کومې نخونکې نجونې تر سترګو کيږې دا ټولې دصليبيانو د جال لومې دې چې د يو شمير بې ايمانه مسلمانانو د رانيولو له پاره ئې خپرې کړې خو بيا هم زمونږ شبکې ټولې فعاله او شپه او ورځ د خپلو اطلاعاتو په راټولو کې مشغولې دې»

«خپلو کسانو ته ووايـاست چې هيڅ يو جاسوس و نه وژني ،»سلطان ايوبي ورته وويل ،«ژوندي ئې را ونيسئ، ځکه جاسوس د دښمن سترګې او غوږونه وې ، خو مونږ ته ژبه ده . هغوی تاسې ته د هغوخلکو رازونه وائې چې دلته ئې را استولي دې»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دميلې سهار را وخوت ،هغه ميدان ډير پراخه او خپور و ، د ميدان په درې واړو اړخونو کې دنندارچيانو هجوم و. خو هغې لورې ته چې د شګو غونډۍ پرتې وې چاته د ورتللو اجازه نه وه ، د جنګ ډول ووهل شو او د آسونو د پښو اوازونه داسې را پورته شول لکه ستر سيلاب چې را روان وي ، ګرد او دوړې د اسمان په لور ختلې ، دا د دوه زرو څخه د زياتو سپاهيانو آسونه و ، لمړې آس سپور ميدان ته را ننوت ، دا په خپله صلاح الدين ايوبي و . د هغه دواړو خواو ته بيرغچيان و . وروسته ورپسې دسپرو ډله را روانه وه ، په آسونو باندې ګلداره څادرونه غوړول شوي و . د هر سپور په لاس کې برچه وه ، د هرې برچې په څرکيدونکې څوکې د رنګينو ټوټو يو کوچنۍ جنډه را ځړيده ، د هر سپور په ملا باندې يوه توره را ځړول شوې وه ، آسونه په ډيرې دبدبې سره را روان ول، دسپرو غاړې پورته او سينې ئې خپرې وې ، دهغوی پر مخونو باندې يو جلالي اغيز و ، داسې معلوميدل چې دوی د نندارچيانو د هجوم څخه پورته او اعلې و ستر نور خلک دي ، دهغوی دغه شان او شوکت د نندار چيانو تر منځ چپتيا او دفوځې ډلې رعب را پيدا کړ.

نندارچيان د نيمې دايرې په شکل کې ودريدل ، دهغوی شاته نور نندارچيان په خپلو آسونو سپاره ناست و او بيا د هغوی تر شا اوښ سپاره نندار چيان ول ، ان تردې چې په يوه يوه آس او يوه يوه اوښ تر دوو او يا درې درې کسانو پورې ناست ول . ددوی تر مخه په يوځای کې شاميانې لګيدلې وې ، په دې ځای کې چوکۍ ايښول شوې وې ، چې د سترو رتبو خاوندان پرې ناست ول، په دې ناستو خلکو کې تاجران هم وو او د سلطان د حکومت افسران او د ښار اوسيدونکې معززين هم . په دوی کې د قاهرې د مساجدو امامانو ته هم د ناستې ځای ورکړل شوی و. امامان تر ټولو مخته ناست وو. ځکه چې سلطان ايوبي دمذهبي مشرانو او علماؤ ډير زيات احترام او عزت کاوه . ان تردې چې دهغوی د اجازې پرته کيناسته هم نه . په دې ډله کې د سلطان هغه افسران هم ناست وول چې په انتظاميه کې و خو اصل اړيکې ئې د فوځ سره و. سلطان هغوی ته په ځانګړې توګه ويلې و چې ددې مشرانو سره کښينې او دهغوی سره ددوستۍ اړيکې پيدا کړي ، په دې ډله کې «خادم الدين البرق» نومې وګړې هم و. دا د علي بن سفيان نه وروسته دويم کس و چې دسلطان ايوبي د پټو پلانونو او دمملکت او فوځ د هر راز څخه خبرو. دهغه کار همداسې و او دهغه رتبه د سالار په اندازه وه. د جنګ پلانونه او نقشې ټولې دهغه سره وي ، دهغه عمر نژدې څلويښت کاله پوره کيده . هغه د عربو د نارينتوب د ښايست او جلال يو پيکر و . هغه د ځواکمن جسم خاوند او د روڼ مخ خاوند و.

د البرق سره يوه نجلۍ ناسته وه . ډيره زياته ښکلې او ښايسته وه ، ځوانه هم وه. د نجلۍ سره يو سړې هم ناست و چې عمر به ئې شپيته کالو ته رسيده ، هغه د رنګ او لبا س له اړخه يو ستر تاجر معلوميده ، البرق څو ځله دهغې نجلۍ په لور کتلې و ، يوځل نجلۍ هم دهغه په لورې وکتل او ورته مسکۍ شوه . بيا ئې دهغه زوړ سړې په لور وکتل نو دهغې مسکا له منځه ولاړه.

آسونه د نندارچيانو له مخه تير شول او د اوښانو نوبت را ورسيد ، اوښان ئې هم د آسونو په څير په ګلداره څادرونو پو ښلي و.دهر سپور په لاسو کې يوه اوږده نيزه وه، او دهرې نيزې د څوکې څخه لږ لاندې دوه رنګين بيرغونه را ځړول شوی و، په هوا کې ددې بيرغونو رپيدل اوپړکيدل ډير ښه بريښيدل اوټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



نندارچيان ئې ځانته متوجه کړي و. د هر سپور په اوږو يو کمانو را ځوړنده وه او د اوښ په زين د پاسه د غشو رنګينی خلطي پرتې وي. د سپَرو شان څه بل شان و ، د آس سپَرو په څير اوښ سپرو هم مخ ته کتل ، ان تر دې چې خپلې سترګې ئې هم ښې يا کيڼ لورې ته نه اړولې را اړولې. دا اوښان د هماغه اوښانو په څير وو چې يو شمير نندارچيان پرې د ننداري له پاره ناست و. خودفوځي روزنې ، فوځي چال اودفوځي سپَرو لاندې هغوی څه دېلي نرۍ اوښان معلوميده.

البرق په خپل ځنګ کې ناستې نجلۍ ته يو ځل بيا وکتل ، اوس نو نجلۍ هم دهغې په سترګو کې سترګې ور و ټومبلې ، دهغې په سترګو کې داسې جادو و چې البرق په خپل ځان کې هغه د برق د ټکان غوندې محسوس کړ.

دنجلۍ په شونډو باندې د حيا او شرم خندا راښکاره شوه ، خو کله به ئې چې په خپل ځنګ کې ناست بوډا ته وکتل نو خندابه ئې په کرکې او نفرت بدله شوه. البرق يوه ښځه هم درلوده ، چې څلور اولادونه ئې ترې پيدا شوی و. کيداې شې په دې وخت کې هغه خپله ښځه له ياده ويستلې وي ، هغه د نجلۍ سره دومره نژدې ناست و چې دنجلۍ وريښمين نقاب به د هوا دڅپو په واسطه دهغه په سينې لګيده ، هغه يو ځل دا نقاب په لاس باندې پورې واهه ، نو نجلۍ په شرميدلې توګه ترې معذرت و غوښت ، البرق ورته و خندل خو په خوله ئې څه و نه ويل.

داوښانو پسې پياده فوځ را روان و ، په هغوی کې د غشي ويشتونکو او تيغ وهونکو ډلې شاملې وي ، دهغوی يو ډول تګ ، يو ډول وسله او يو ډول لباس په نندارچيانو همغه ډول اغيز و کړ لکه څنګه چې دسلطان ايوبي راتګ هغوی تر خپل اغيز لاندې راوړي وو. د سپاهيانو په مخونو باندې خوښي او ځلا وه ،او ډير زيات ډاډه تر سترګو کيدل. دا ټول فوځ نه و ، بيواځې منتخب ټولې و. دهغوی شاته منجنيقونه و چې توانمنده آسونو راکشول. د منجنيق دهر دلګې تر شا د آسونو ګاډۍ وې چې په کې سترې سترې تيرې ، يو ډول ختين لوښې او نور اړوند شيان بار کړل شوی و، په دوی کې د تيلو په څير کومه ماده هم ايښول شوی و چې د منجنيقونو په واسطه غوځارول کيده. هر چېرې به چې دا لوښې غورځيده هلته به په ټو ټوټو باندې ويشل کيده او اور اخستونکې ماده به ئې تر لرې لرې ځايو پورې شيندله ، او کله به چې اور لګونکې غشي وروړسيدل نو ټولو ځايو به اور اخسته.

دسلطان ايوبي په قيادت کې دغه سپاره او پياده دلګې ، د نيمې دايرې په شکل کې ښکته پورته شول او په ډيره ګړندۍ توګه د ننداره چيانو له منځه تر لرې پورې ولاړل ، سلطان ايوبي د لارې څخه بيرته راستون شو ، د هغه د اس تر مخه د بيرغچيانو آسونه ، ښي ، کيڼ او شاته د ساتونکو آسونه او دهغوی وروسته د نائب سالارانو اسونه را روان وو. سلطان خپل آس و دراوه ، را ټوپ ئې کړ او نندارچيانو ته ئې په هوا کې د خپل لاس په خوځولو سره سلام کاوه او شاميانې ته دکښيناستو له پاره ور ننوت. هلته ناست ټول خلک پورته شول ، سلطان ايوبي ټولو ته سلام وکړ او په خپل ځاې کښيناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپاره او پياده دلګي ټول مخته ولاړل او د غونډيو شاته ئي ځاې و نيو ،ميدان خالي شو ، يو آس سپور دخپل آس په ځغاسته هلته را ورسيد ، دهغه په يو لاس کې د آس قيضه او په بل لاس کې ئې د اوښ رسۍ وه. اوښ هم د آس د منډې سره سم په منډه وهلو سره ځغليده. دميدان په منځ کې آس سپور په خپل آس و دريد ،او د آس قيضه ئي پريښوده ، او ټوپ ئي کړ د اوښ په شا کښيناست. اوبيا ئي دهغې څخه لاندې پر ځمکه ور ټوپ کړ. څوقدمه ئې د اوښ او آس سره منډه ووهله اوبيا ئي ورټوپ کړاو په آس سپور شو ، د آس او اوښ په منډه کې هيڅ توپير نه تر سترګو کيده. يو ځل بيا هغه دآس د شا څخه د اوښ شا ته ور ټوپ کړ ، هغه ډير مخته ولاړ او غائب شو.

خادم الدين البرق لږ څه ښي لوري ته ښکته شو دهغې دخولې او د نجلۍ د سر تر منځ دوه درې انچه فاصله پاته شوې وه. نجلۍ هغه وکوت ، البرق ورته وخندل ، نجلۍ و شرميدله ، هغه بوډا دا دواړه په همدې حال کې و کتل. دهغه په هغې زړې ټنډې باندې غونجې نورې هم زياتې شوې.

يو ناځاپه د غونډيو له منځه هغه د سطلونو په څير دخاورو جوړ شوی لوښي چې د آسونو په ګاډيو کې بار شوي و ، پورته و غورځول شو او بيرته په ميدا ن کې را پريوتل، لوښې به مات شو او تيل به ترې هر لوري ته و شيندل شول. لږو ډير سل داسې لوښي ميدان کې را پريوتل او دهغوی څخه را وتلې ماده به نژدې په سل متره مربع ځمکه کې خپره شوې وې ، په يوې غونډۍ باندې شپږ کسه غشي ويشتونکي را پيدا شول ، هغوی اوربلونکي غشي را وويشتل او په هغه ماده باندې، چې د ماتو لوښو په واسطه خپره شوې وه ، اور بل ولګيد ، دغشو د ويشتلو سره سم ټوله سيمه يوه شعله و ګرځيده ، چې لوړوالي ئې د اس تر ګيډې پورې او خپور والي ئې نژدې سل مترو ته رسيده. په همدې وخت کې څلور آس سپرو خپل اسونه په پوره تيزۍ سره را وځغلول ، شعلو ته په را رسيدو هغوی آسونه و نه درول ،او نه ئې د آسونو دځغاستې چټکتيا را کمه کړه. ټول په همغه شعلو کې ور ننوتل ، نندارچيان حيران و چې هغوی به ټول په اور کې لولپه شي خو هغوی په دومره پراخه اور کې هماغسې په ځغاسته تر سترګو کيدل ، اخر هغوی ټول د اور څخه سلامت ووتل. نندار چيانو د چک چکوکولو په واسطه هغوی ته شاباسې ووايه ، دننداز چيانو شور او ځوږ دومره زيات وو چې تابه ويل آسمان چوي. هلته ددوو سپرو په ښه اور لړيدلي و. دواړه د ځغليدونکو آسونو څخه په شګو کې را پريوتل او لږ څه په دې شګو کې ور غښتل ،او په دې ترتيب ئي د خپلو ښه اور مړ کړ.

البرق د دې ټولې شورو غوغا او د آس سپرو دکمالاتو د کتلو څخه سترګې اړولې وي او د نجلۍ په لور متوجه و. نجلۍ به هم کله کله دهغې لوري ته کتل او د لږې مسکا وروسته به ئې د هغه زوړ بوډا په لور وکتل. هغه زوړ پورته شو او هيڅوک پوه نه شو چې ولې د هغه ځاېه څخه ولاړ. نجلۍ هغه د تللو په وخت کې تر سترګو لاندې څاره. البرق ته د ا معلومه وه چې نجلۍ د همغه زوړ سره راغلې وه. هغه د نجلۍ څخه و پوښتل « ستا پلار چيرې ولاړ.»

«دا زما پلار نه دې» نجلۍ ځواب ورکړ « زما ميړه دې»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«میره !» البرق ترې په حیرانتیا سره و پوښتل « ایا دا واده ستا دمور پلار په خوښه شوی دې او که ستاپه خوښه ؟»

«نه ! هغه زه اخستې یم .» نجلۍ ورته په غمجنه لهجه ځواب ورکړ.

«هغه چېرته ولاړ ؟» البرق ترې و پوښتل.

«هغه خفه شو او ولاړ.» نجلۍ ځواب ورکړ « هغه ته شک پیدا شو چې زه تا ته د مینې په سترګو ګورم.»

«ایا ته رښتیا هم زما سره مینه لرې ؟»البرق ترې په رومانې او عاشقانه بڼه و پو ښتل.

دنجلۍ په شونډو دحیا او شرم خندا راغله ،او په ډیر نرم اواز ئې وویل «زه ددغه بوډا ځخه نوره تنګه یم ، که چېرې چا زه دهغه ځخه خلاصه نه کړم نو زه به ځان ووژنم»

هلته په میدان کې پیاده اوسپرو فوځیانو حیرانونکی کمالونه ښوول او د حرب وضرب مظاهرې ئې کولې ، نندارچیانو داسې جنګی مظاهرې کله هم نه وې کتلې هغوی یواځې سوډانې فوځ کتلې و چې د خزانې د لوټولو له پاره ترې سپین فیلان جوړ شوی و. دهغوی قومندان به دپادشاهانو په څیر بهر را ووت ، د هغوی سره به که د فوځ کومه ډله وه نو هغه به د باندو او کلیو له پاره مصیبت ګرځیدل ، ان تردې چې دخلکو مالونه به ئې لوټول او حیوانات به ئې را پرانستل او له ځانه سره به ئې بوتلل. که د چا سره به ئې هم دښه نسل آس او یا اوښ وکوت نو په زور به ئې ترې اخیست. د خلکو په زړونو کې دا خبره ناسته وه چې فوځ یواځې او یواځې په رعایاو باندې د ظلم او تیرې په خاطر ساتل کیږي. خو د سلطان فوځ بلکل بل منګه و. یوخو هغه فوځ و چې د نندارچیانو مخته ئې مظاهرې ښوولې او پاته نور فوځ د سلطان د لار ښوونې په مطابق د خلکو تر منځ خپور شوی و.تر څو هغوی د خلکو سره یوځاې شی او دهغوی تر منځ دا انګیرنه را پیدا کړې چې فوځیان ستاسې ورونه دې او هم ستاسې ځخه دې ، د بداخلاقه او بد تمیزه سپاهیانو له پاره ډیره سخته سزا ټاکل شوی وه.

خادم الدین البرق چې دسلطان ایوبې د جنګې مشورتې شبکې مشر او دهغه د راز ملګرې و دسلطان د لارښونې اود میلې د شور و غوغا ځخه ئې بلکل اړیکې پرې شوی و. د نجلۍ ځخه یو جادو جوړ او دهغې عقل اوذهن ئې په خپلو لاسو کې اخستې و. هغه په نجلۍ باندې خپل زړه له لاسه ورکړ. او نجلۍ هم هغه قبول کړې و. دې کار دواړو لوریو ته ځه اسانتیاوې راپیدا کړې. کله چې البرق ورته په کوم ځانته ځاې کې د لیدلو کتلو له پاره وویل نو نجلۍ سمدستې ورته وویل چې هغه خو اخستل شوی وینځه ده او هغه بوډا تر ځارنې لاندې نیولې ده. هغه هیځکله هم هغه له خپلو سترګو نه باسې ، نجلۍ دا هم وویل چې د بوډا په کور کې ځلور نورې ښځې هم شته ،...... البرق خپله رتبه له یاده ویستلې وه د عشق کونکې ځوان په څیر ئې د لیدنو کتنو له پاره دهغو ځایونو نومونه واخستل چې هلته د اواره ، بدکرچاره او بداخلاقه انسانانو پرته بل هیځوک نه ورځې. دالبرق له اړخه د لیدنې د ځاېو په اخستل شوو نومونو کې یو ځاې ددې نجلۍ خوښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. دا ډېره بهر د پخوانۍ زماني يوه کنډر وه ، البرق د نجلۍ سره دا وعده وکړه چې هغه به ئې د هغه بوډا ښځه د ازادولو هڅه وکړي.

(۳۸)*****

د ربيمه شپه البرق له کوره ووت، هغه به تل د کوره د حاکمانو په خير په دبدبه کې را بيرون کيده ، خو په دې شپه هغه د غله په خير په پټه د کوره ووت. اخوا د پخوا ئې وکتل ، او په يوه لورې باندې روان شو. د قاهرې ښار کې چپه چپتياوه، د فوځي ميلې د پايې ته د رسيدو ښځه دوه ورځې تيرې شوي وې. د بيرون ښځه را غلې ننداره چيان ټول بيرته خپلو خپلو ځايو ته ستانه شوي و، د سرکارې حکم په اساس موقتي قحبه ځايونه بند کړل شوي و، د علي بن سفيان شبکې اوس په دې کې مصروف وې چې په ډاګه کړي چې د بهر ښځه را غلې ځومره شمير نجونې او نور مشکوک خلک اوس هم په ښار او يا شاوخوا سيمو کې شتون لري ، د ميلې موخې پوره شوي وې ، يوائې په دوه ورځو کې ځلور زره ځوانان په فوځي خدمت کې اخستل شوي و او د نورو استخدام کول روان وو.

البرق د ښاره ښځه بيرون ولاړ ، او د هغې کنډرې په لور روان و چېرې چې ئې د نجلۍ سره د کتلو وعده کړې وه. د ډېنتې د ګيدړانو او حيواناتو پرته نور ټول اسمان په ژور خوب ويده و. نجلۍ البرق ته ويلي و چې هغه د هغه زاړه وګړي اخستل شوي وينځه او د هغې تر ځارنې لاندې بندې ده. خو بيا هم البرق په دې هيله هلته ور روان و چې نجلۍ به ضرور راځي ، د شوني خطرونو د مخنيوي او د ځان د خوندې ساتلو په خاطر ئې يو خنجر هم له ځانه سره اخستې و .

ښځه په خپله داسې يو جادو دې چې که چېرې يو ځل په چا وشي نو هغه بيا د هيچا پروا نه کوي ، عقل او پوهه له هغه سره خداې پاماني کوي. البرق د پاخه عمر سړې و . خو اوس د هغه ښځه يو ناپوهه زلمې جوړ شوی و . هغه ته په دغه تياره کنډره کې يوه سيورې تر سترګو شو. دا سيورې د سر نه تر پښو پورې په ځادر کې پټ و او د کنډرې په تورتم کې ورجذب شوې و. هغه هم ګرندې ګرندې ګامونه واخستل او کنډرې ته ئې ځان ور ورساوه. د لويدلې ديوال د لارې هغه دننه ور ننوت ، مختنه ئې يوه تياره خونه راغله ، د چت ښځه د کومی سترې الوتونکې د وزرنو پړپراړ را پيدا شو. البرق د هوا تيزه څپه احساس کړه او يو نا ځاپه ئې پرمخ باندې يوه کلکه څپيړه وخوړه. د دې سره يوځاې ئې د «چې چې» اوازونه ترغوږو شول ، هغه داسې و پوهيده چې دا کوم لويې الوتونکې مونږک (شو پرک ) دې. چې د هغې پنجو د دې خوله شکولې وه ، کښيناست او په پښو ښويدو سره يې ځان د خونې ښځه بيرون وويست. مخکې يې حويلۍ وه او د حويلۍ شاوخوا ته برنډه را تاوه وه ، البرق دا فکر هم ونه کړ چې يوه اخستل شوی نجلۍ چې تل تر ځارنې لاندې وي څنګه کولاې شي دې کنډر ته راشي ، خو په برنډې کې د يو چا د قدمونو سوکه اواز هغه متوجه کړ چې دلته څوک شتون لري. هغه د خپل ملابند ښځه خنجر راوويست او په لاس کې ئې و نيوه ، د هغه په سر همغه شوپرکان الوتل را الوتل، د هغوی د وزرونو د پړپړ اواز ويرونکې غوندې و. البرق سوکه اواز وکړ -- « اصفه »-- نجلۍ هغه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل همدا نوم ورښوولې و. او په میله کې ئې دا هم ورته ویلې و چې هغه په څه ډول په دغه زوږ سرې پلورل شوی ده.

«ته راغلې ئې ؟» هغه د اصفې اواز وارید. هغه دبرنډې څخه په منډه را غله، او د البرق سره ورغاړې وتله، وې ویل «ستا په خاطر مې خپل ځان په ستر خطر کې اچولې او دلته راغلې یم، زه باید ډیره ژر بیرته ستنه شم. زاړه ته مې په شرابو کې سفوف ورکړې تر څو رابیدار نه شې»

«ایا ته هغه ته په شرابو کې زهر نه شې ورکولې ؟» البرق ترې و پوښتل.

«ما کله څوک نه دې وژلې،» آصفې ورته وویل « ما کله هم دا فکر نه و کړې چې په دې توګه به د یو پردې سړې سره د لیدلو له پاره دغه ویریدونکې کنډرې ته راځم.

البرق هغه د لاسه و نیوله، یو ناڅاپه د هغه شاته برنډه روښانه شوه. دهغې خونې څخه چې البرق تیرشوی و دوه مشالونه راووتل، چې شعلې ئې ډیر روښې او تیزې وې، البرق آصفه شا ته کړه او په لاس کې ئې خنجر ونیو، ایا دا په دې کنډرو کې اوسیدونکې بدې ارواح ګانې دې ؟ او یا د نجلۍ په تعقیب پسې دهغې خاوند راغلې دې ؟-- البرق لا تر اوسه په همدې فکرونو اوپوښتنو کې ډوب و چې یو اواز و غریده، « دواړه ووژنئ»

مشالونه را نژدې شول، دهغې په رڼاو کې البرق او آصفې ته څلور کسان تر سترګو شول، د یوه په لاس کې برچه او د نورو په لاسو کې توري وې. هغوی مشالونه په ځمکه کې ښخ کړل، د کنډر انګړ روښانه شوی و، څلور واړه کسانو د وړو لیوانو په څیر د البرق په چاپیر کې په ګرځیدا شول، آصفه د هغه تر شا وه. د برنډې څخه یو بل اواز راغې، «تر لاسه شول؟ ژوندي ئې مه پریږدئ» دا د نجلۍ د هغه زوړ میړه اواز و.

آصفه د البرق وروسته وروسته تلله، هغې د قهر او حقارت نه په ډک اواز هغه زاړه ته وویلې --« مخته راشه او ما ووژنه، زه پر تا لعنت وایم، زه په خپله خوښه دلته راغلې یم.»

څلور واړه وسله وال کسان د هغوی چاپیر ولاړ وو، د برچې خاوندانو سوکه سوکه خپلې برچې د آصفې په لور ور اوږدې کړې او دهغې څوکې ئې دهغې د وجود سره یوځاې کړې او ورته ئې وویل، « د مړینې دمخه د برچې څوکې ووینه، خو ستا نه مخته به دا وګړې ستا تر مخه په ترپ ترپ سره و مري دکوم په خاطر چې ته دلته راغلې ئې.»

آصفې ورټوپ کړ او برچې ئې و نیولې، او هغوی ئې ټیل وهل او برچې ئې په خپل واک کې واخستې، آصفه د البرق څخه لرې شوه او چلینج ئې ورکړ او وئې ویل --« راشئ، مخته راشئ، زه وینم چې تاسې به له ما دمخه دا سړې څه ډول ووژنئ،»

(c) ketabton.com: The Digital Library



البرق خپل خنجر را مخته کړ او د هغې تر مخه شو – خو نجلۍ په همغه چا وار وکړ چې برچه ئې ترې اخستې وه. هغه سرې شاته و تښتید ، او نورو ملګرو ئې په البرق باندې د یرغل کولو پر ځای یواځې خپل ځایونه بدل را بدل کړل ، هغوی کولای شول البرق په ډیره اسانۍ سره له منځه یوسي خو هغوی حمله کول نه غوښتل ، د آصفي چلینج لا پخپل ځای پاته و ، هغې به وار کاوه خو وار به ئې خطا کیده ، البرق په یوه کس په خنجر حمله وکړه نو دوه کسان د هغې شاته راغلل ، آصفه په یوه ټوپ دهغې شاته شوه دهغې په لاس کې اوږده برچه وه چې د توري مقابله ئې پرې کولای شوه ، خنجر د توري په پرتله هیڅ دي ، زوړ سړي یوي ډډې ته ولاړ دي او خپل کسان را پاروي ، لږ څه وروسته هغه په آصفي او البرق باندې برید وکړ. خو اصفه په البرق باندې ور پریوته ، البرق به هم ځان د توري د وار څخه په ځنګ کاوه او د خپل خنجر په واسطه به ئې د وار کولو هڅې کولې ، خو ډیره په زړه پورې داوه چې د نجلۍ په دومره حملو کې د هغوی یو کس هم زخمي شوی نه و. د زاړه ملګرو د تیغ وهلو کمال هم و ښوده ، خو البرق او آصفي ته معمولي زخم هم پیدا نه شو ان تردې چې په دې دومره غورځو پرځو کې ګریدلي هم نه و. په همدې وخت کې زاړه وویل « صبر وکړئ»--او جنګ و درید .

زه نه غواړم چې داسې یوه بې وفا نجلۍ په کور کې و ساتم. زاړه وویل « ماته دا نه وه معلو م چې دا دومره زړه وره او بهادره ده ، که چېرې زه دا په زور سره کورته یوسم هم ، نو ویریږم چې مابه ووژني.»

«زه به تاته ددې پوره قیمت درکړم » البرق ورته وویل «وایه ، تا دا په څومره را نیولې ده»

زاړه خپل لاس ور اوږود کړ او د البرق سره ئې لاس ورکړ او وئې ویل« له ما سره ددولت کمښت نه شته ، زه دا نجلۍ تاته دربښم ، هغه له تاسره دومره مینه لري چې ستا په خاطر د خپلو ټولو په مقابل کې و جنګیده ، زه دا نجلۍ په دې خاطر هم تا ته در حواله کوم چې دا د جنګجویانو د نسل څخه ده ، زه یو تاجر او سوداګر یم ،او داستاپه خیر د کوم جنګجو په کور کې ښه ښکاریږي. دریم علت ئې دادې چې ته د سلطان ایوبي د حکومت حاکم ئې او زه د سلطان وفاداره او مرید یم. زه تا نه خفه کوم. ولاړ شه ، ما هغې ته طلاق ورکړل اوهغه مې تا ته حلاله کړه ، .... ځئ دوستانو !دوی ځانته پریږدئ .» هغوی خپل مشالونه واخستل او ولاړل.

د ډیرې حیرانتیا څخه د البرق تر پښو لاندې ځمکه و ښویده ، هغه نه پوهیده چې دا څه وشول ، هغه دا کار دهغه زاړه فریب وګاڼه ، هغه ته دا ګواښ تر سترګو کیده چې دا خلک به لاره کې کمین نیسي او دوی دواړه به له منځه وړي ، د آصفي په لاس کې برچه وه هغه هم ترې البرق واخسته ، او د لږ څه وخت وروسته دوی هم ددې کنډرې څخه ووتل. هغوی خپل شاوخوا او ګردچاپیره و کتل اود ګرنډېو ګرنډېو ګامونو په اخستلو سره ئې د خپل کور په لور مخه کړه. که لږ شانته اواز به ئې هم واورید سمدستی به درېده او مخ به ئې اړاو ، په دې توره تیاره کې به ئې هرې لورې ته د کتلو هڅه کوله ، خو کله چې په ښار کې ور ننوتل نو لږ څه ارام ئې احساس کړ.آصفه و دریده او خپل لاس ئې د البر ق په غاړه کې ور واچاوه او ورڅخه ئې و پوښتل.« ته پرما باندې باوري ئې اوکه نه ؟» البرق هغه د سیني سره یوځای کړه. هغه دومره زیات د خپلو احساساتو د غلبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې راغلي و چې خبره ئې هم و نه شوه کولای. نجلۍ هغه بې پیسو او بې قیمته اخیستي و. هغه ته اوس دا مالومات وشو چې نجلۍ په کوم لیونتوب سره دهغه سره مینه لري او څومره بهادره او زړه وره ده. په حقیقت کې هغه د نجلۍ په ښایست باندې ځاریده. دهغه خپله ښځه دهغه هم عمره وه، د آصفي په کتلو سره هغه محسوس کړه چې نوره هغه ښځه دهغې دکار نه ده. په هغه وخت کې به چې کله هم ښځې پلورل کیدې نو د کور ښځې هیڅ حیثیت نه درلود ، په یوه وخت کې ځلور ښځې خو هر نارینه د خپل ځان حق ګڼله ، خو د شتمنیو خاوندانو به د ځلور و ښځونه علاوه دوه درې ښکلې او ښایسته نجونې د نکاح پرته هم ساتلې. مسلمان حاکمان او امران د ښځو له لاسه تباه شوی دي ، د هغوی تر منځ دا هم رواج و چې د یوه سړي ښځې به دخاوند د خو شحالولو په خاطر ښایسته نجونو لټه کوله او خپلو مړنو ته به ئې هغوی د تحفې په څیر وړاندې کولې.

البرق چې کله آصفه له خپله ځانه سره یو ځای کورته را ننویستله، نو د کور ټول لوی او واړه بیده و. سهار چې کله دهغې ښځې د خپل میړه په پالنګ باندې دومره ښکلې نجلۍ وکتله، نو هغې ته دا احساس هم ونه شو چې دهغې په سر مصیبت را پریوتي دې. بلکه هغه خوشحاله شوه چې دهغې ښایسته میړه ته دومره ښکلې نجلۍ تر لاسه شوی ده. دهغې په راتلو سره دده له سره لږ څه بار کم شوی و. د البرق حیثیت داسې و چې هغه داسې یوه ښځه او یا یوه وینځه له ځانه سره ساتلای شوه.

صلاح الدین ایوبي غوښتل مسلمانان د ښځو څخه او ښځې د مسلمانانو څخه ازادې کړي ، هغه غوښتل چې دیوه خاوند او یوې ښځې حکم جاري کړي. خو لا تر اوسه هغه نه غوښتل چې هر امیر او هر حاکم د خپل ځان دښمن وګرځوي ، ځکه دهغوی هر یوه ئې څو څو نجونې په خپلو کورونو کې ساتلې وې ، د ښځو اخستونکې هم همدا خلک و. دهمدوی په کومک سره به ښځې په عامو بازارونو کې لیلام کیدلې ، د ښځو د تښتولو پیښې به را منځ ته کیدې. خلک به پرې وژل کیدل ، او وینې به په کې تویدې ، او دا د امراو او حاکمانو د ښځو د بندګۍ پایلې وې چې عیسایانو او یهودیانو د نجونو په واسطه د اسلامي سلطنت په جرړو کې زهر ور غورځولي و. ددې نه علاوه سلطان ایوبي دې احساس هم اندېښمن کړې و چې یو وخت همدا ښځې د نارینه و سره اوږه په اوږه د کفارو پر خلاف جنګیدلې او په جهاد کې د نارینه و له پاره نیمائې ځواک همدوی جوړاوه خو نن دوی د نارینه و د تفریح او عیاشۍ وسیله ګرځیدلې دي ، ددې زیان یواځې دا نه شو چې د ولس نیمائي ځواک له منځه ولاړ بلکه د ښځو څخه داسې یوه نشه اې توکي جوړ شو چې د ولس اوقوم نارینتوب ئې له منځه یوړ.

سلطان ایوبي غوښتل د ښځو عظمت اوستروالي بیرته په ځای کړي. هغه یو پلان تر لاس لاندې و نیو چې دهغې له مخې ئې ناواده شوی نجونې په فوځ کې استخدام کول غوښتل ، ددې امر لاندې حرم سرایونه هم خالي کیدای شو خوداسې احکام هغه هغه وخت نافذولی شول چې د سلطنت خلافت یا امارت دهغه په لاس کې وي. دا ډیره ستونزمنه خبره وه. د هغه په دښمنانو کې د پردیو پر ځای د خپلو شمیر ډیر زیات و. او هغه په دې پوهیده چې په قوم کې د ایمان پلورونکو شمیره ورځ په ورځ زیاتیږي. هغه په دې نه پوهیده چې دهغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د راز يو ملګرې او د حکومت د رازونو ساتونکې ، خادم الدين البرق ، هم يوه ځوانه ښکلې نجلۍ خپل انګړ ته را ننويستې ده. او دا نجلۍ د هغه په اعصابو باندې داسې سپره ده چې هغه ئې او س د سلطنت د دندو د اجرا کولو څخه هم بې پروا کړې دې.

په فوځي ميله کې د مصر خلک د سلطان ايوبي د ځواکمنۍ څخه اغيزمن شوى نه و بلکه د هغه فوځ ئې د مصر اسلامي فوځ و انګيره او د همغې څخه ئې اغيز واخست. پخپله سلطان ايوبي تقريرکونکې حاکم نه و. خو په هغې ورځ ئې د خلکو دومره ستړى ټولني ته خپله وينا کول اړين و ګڼل ، هغه وويل چې دا فوځ د قوم دعصمتونو ساتونکې او د اسلام پاسبان دې ، هغه د صليبيانو موخې په پوره تفصيل سره بيان کړې او مصريانو ته ئې وويل ، چې په عربو کې د مسلمانو امراو په عيش او عشرت کې ډوبيدو صليبيانو ته دا فرصت ورکړ چې دلته هم د مسلمانانو ژوند او ارام له منځه يوسي. هغوى د مسلمانانو قافلې لوټوي ، د مسلمانانو نجونې تښتوي اوبې ابرو کوي يې اوبيا ئې پلوري......سلطان ايوبي خلک د قومي جذبې څخه خبر کړل او ورته ئې ويل ، چې تاسې په فوځ کې را ننوځئ اودخپلو لونو د عصمت او د اسلام د عظمت ساتنه وکړئ.د سلطان په وينا کې جوش او جذبه وه ، او دومره اغيز په کې و چې په خلکو کې ئې ګونګوسي را پيدا کړل. او د همغې ورځې څخه را په ډېرو ځوانانو په فوځي خدمت کې د ګډون له پاره خپل ځانونه را مخته کړل.

تر لسو ورځو پورې فوځ ته د نوو راتلونکو شميره تر شپږو زرو پورې ورسيده ، چې په دې ډله کې لږو ډېرو يو نيم زر ځوانانو خپل اوښان هم له ځانه سره راوړې و او تر زرو پورې ځوانانو خپل آسونه اوقچرې هم راوړې وې. سلطان هغوى ته د ځناورو بدله همل‌ته ورکړه او په فوځ کې ئې د هغوى د روزنې کار پيل کړ.

دميلې څخه درې مياشتې وروسته:

د سلطان په فوځ کې درې ډوله جرائمو زياد ښت و موند. غلا ، جوارې او د شپې ناسوبتوب. دا جرائم ددې له مخې هم په هغوى کې شتون درلود خو دومره زيات نه. د فوځي ميلې وروسته دا جرائم د وبا د ناروغتيا په څير خپاره شول ، ددې درې واړو بنسټ جوارې (قمار) وه. غلا هم د همغې پورې تړلې وه ، يو سپاهي به دبل څخه يو څه راپټول او بازار کې به ئې پلورل ، خو يوه شپه د فوځ درې آسونه ورک شول ، د سپرو او سپاهيانو شميره پوره وه ، هيڅوک ناسوبه هم نه و ، که چېرې دا زيان کم و ګڼل شي نو بله ورځ به لس آسونه غلا کړل شي ، راپور تر لوړ پوړو چارواکو پورې ورسيد. هغوى فوځيانو ته ګواښ و کړ او د سزا څخه ئې وويرول ، د خداى څخه ئې وويرول خو بيا هم په دې جرائمو کې زيادښت راته .

يوه شپه يو سپاهي و نيول شو. هغه د کومه ځايه څخه پنډغالي ته را ستنيده ، دد ې څخه مخته شپو کې به ناسوب سپاهيان پټ په پټه د ساتونکو څخه وتل او بيرته به خوندي را ستنيدل. خو دا سپاهي نيغ په نيغه را روان و. ساتونکې وکوت اوهغه ته ئې د دريدو اواز ورکړ. سپاهي ودريد او پر ځمکه را پريووت ، ساتونکې و کتل چې هغه په وينو ککړ دې ، را پورته ئې کړ او خپل منصبدار ته ئې يوړ د هغې په زخمونو يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملهم پتې کښيښنولي خو هغه ژوندي پاته نه شو . د مړيني د مخه يې ويلي و چې هغه خپل يو بل ملګرې سپاهي وژلي ،او د هغه لاش ئې د پنډ غالي څخه نژدې نيم ميل لرې په يوه خيمه کې اچولې.د هغه دوينا له مخې هلته درې خيمې وې ، دا خلک کوچيان و دهغوی سره ښايسته او ښکلې نجونې وې ، هغوی به دا نجونې فوځياتو ته ورښولې ، د شپې به سپاهيان هلته ورتلل ،او ددوی په بلنه به نورو هم دخپلې عياشۍ په لور هلته مخه کوله.

دا کوچيان ډوله خلک يواځې عصمت پلورونکی نه و ، بلکه دهغوی هرې ښځې به خپل فوځي ملګري ته دا ډاډ ورکاوه چې « هغه د هغه په مينه اومحبت باندې ځان ځاروي ، او له هغه سره به واده کوي » خو وروستيو څيړنو و ښووله ، چې هغوی د سپاهيانو ترمنځ رقابت را پيدا کړې و ، او د همدې رقابت پايلې وې چې دغه دواړه سپاهيان د کوچې ډوله عصمت پلورونکو په خيمې کې لاس او ګريوان شوی و ، يو ووژل شو او بل زخمي بيرته راستون شو او د راپور د ورکولو وروسته ومړ.

دبل سپاهي د لاش د راوستلو له پاره ئې هلته عسکر ورواستول ، د هغوی سره دهغوی دلګې مشر هم و ، هغه زخمي عسکر ورته د هغه ځاي لاره او ادرس ورښوولې و ، هلته په ور رسيدو سره ئې وکتل چې د سپاهي لاش پروت دې خو خيمې نه شته ، هلته نښو نښانو دا ښووله چې خيمې ددې ځايه څخه ويستل شوی دي ، د شپې له خوا د هغوی پلټنه شونې نه وه ، دسپاهي لاش ئې را پورته کړ او رائې وست ، سلطان ايوبي ته هم ددې پيښې را پور ورکړل شو . او دا هم ورته وويل شو چې په فوځ کې جرائم زياتيږي ،او درې آسونه هم غلا شوی دي. سلطان ايوبي سمدستي علي بن سفيان را وغوښت او ورته ئې وويلي چې هغه دې د سپاهيانو په لباس کې دخپلې شبکې خلک په فوځ کې ورننه باسي او دا دې ډاګيزه کړي چې ولې په فوځ کې جرائم زياتيږي ، په دې لړکې سلطان ايوبي البرق ته هم همدا ډول يو حکم وکړ.

د سلطان ددې «ولې» ځواب په ښار کې شتون درلود. تر هغه ځايه چې د علي بن سفيان د شبکې د غړو ور رسيدل شونې ول ، هغوی هلته ځانونه ور ورسول ، هلته يو ډير ستر کلي ډوله کور و ، هلته د مصريانو يو کور نه بلکه زياتې کورنۍ اوسيدلې ، په ښار کې ددې کور او د هغې د اوسيدونکو ډير زيات عزت کيده ، ځکه چې دلته به خيرات ويشل کيده ، بې وزلو ته به مالي بسپنه ورکول کيده ، په فوځي ميله کې ددې کورنۍ غړو سلطان ايوبي ته د هغې د فوځ په خاطر د اشرفيو دوه کځوړې ورکړې و ې. دا د سوداګرو کورنۍ وه. مصر ته د سلطان ايوبي د راتلو ترمخه به دا ځاي دسوډاني فوځ د لوړو رتبو د خاوندانو او د انتظاميې د غړو او د حاکمانو ميلمستون و، سلطان ايوبي سوډانيان له منځه يوړل ، نو دا کورنۍ د سلطنت سره وفاداره پاته شوه اوپه دې توګه د سلطان ايوبي وفاداره هم شول.

په هغه ورځ چې سلطان ايوبي البرق او علي بن سفيان ته حکم ورکړ چې هغوی دې په فوځ کې د جرائمو د وبا د خپريدو علتونه معلوم کړي نو دهغې څخه يوه شپه مخته ددې کور په يوه خونه کې لس دولس کسان ناست و ، د شرابو پيالې څرخيدلې ، خونې ته يو زوړ سړې را ننوت ، دهغه د راننوتلو سره سم ټول خلک و

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريدل ، دهغه سره يوه ډېره ښکلې نجلۍ هم ملګرې وه چې نيمائي مخ ئې په نقاب کې پټ شوی و ، خوني ته د راننوتلو سره سم هغوی دخونې دړه بنده کړه ، نجلۍ نقاب لرې کړ او د هغه زاړه تر څنګ کښيناسته ،

« پرون د مصر اميرته خبرورکړل شوی چې په فوځ کې جواري او بدکاري ډيرښت موندلې » زاړه وويل « زمونږه اوسنۍ ناسته ډيره مهمه ده ، امير د فوځ په منځ کې د استخباراتو د شبکې غړي په فوځي لباس کې ور داخل کړي دي ، مونږ بايد د استخباراتو دا کار ناکامه کړو ، همدا راز يو نوي رارسيدلې خبر ډير زيات هيله پيداکونکې دې ،او هغه داچې دوه مصري عسکرو د يوې ښځې په سر په خپلو منځو کې ښته کړې اويو بل ئې سره وژلي دي.دا زمونږد برياو لمړې پړاو دې»

« په درې مياشتو کې يواځې يو مسلمان سپاهي بل وژلي او په خپله هم وژل شوې دې» يوه سړې د هغه زاړه خبره غوڅه کړه او ترې وئې پوښتل« د برياو دا بهير ډير سست دې ، بريا هغې ته وائې چې د سلطان ايوبي يونائب سالار پخپله خپل سالار ووژني.»

«زه بريا هغه ته وايم چې يو سالار يا نائب سالار پخپله صلاح الدين ايوبي ووژني ،» زاړه ورته وويل « ما ته معلومه ده چې که زر کسه سپاهيان هم ووژل شي نو بيا هم کوم ځانګړې توپير نه ترې را پيدا کيږي ، مونږ خو د ايوبي د وژلو پلان په سر کې لرو ، تاسې ټولو ته به د تير کال دواړه پيښې په ياد وي ، چې په ساحل کې په سلطان ايوبي باندې غشې ور وويشتل شو خو خطا ولاړ، د روم څخه خلک راغلل هغوی هم ناکامه شول او ټول له منځه ولاړل او دهغوی ډلې څخه يو بدبخته لا مسلمان هم شو.ددې ټولو څخه څه مقصد اخستلای شو؟ يواځې دا چې د سلطان وژل دومره اسانه کار نه دي لکه څومره ئې چې زمونږ يو شمير خلک ګڼي ، دا هم کيداې شي چې ايوبي ووژل شي خو دهغه ځاې ناستې دهغه څخه نور هم سخت مسلمان وي ، په دې خاطر دا تګلاره ډيره غوره ده چې د هغوی فوځونه په داسې ښکلي لار د تباهۍ کندې ته ور وغورځوئ په کومې لار چې د صليب پالونکو د بغداد او دمشق مسلمان حکمرانان او امران ور روان کړي دي.

« د صليب دپالونکو او سوډانيانو د ماتې نژدې يو کال تير شو » يوه ورته وويل « تاسې په دغه يوه کال کې څه کړي دي ؟...

درونده ! ته په ډيره اوږده لاره روان ئې . ددوه کسانو وژل ډير اړين دي ، لمړې ايوبي او دويم علي بن سفيان»

« که چيرې علي بن سفيان له منځه يوسو نو ايوبي به ړوند او کوڼ شي» يوه ورته اواز کړ.

«ما هغه سترګې تر لاسه کړي دي چې د سلطان ايوبي د سينې هر راز کتلاې شي ، » زاړه ورته وويل ، او دهغې نجلۍ په شا ئې لاس را کش کړ چې تر څنګ ئې ناسته وه. زاړه وويل« دا دي هغه سترګې–ووينئ ، ووينئ چې په دې سترګو کې څه ډول جادو شتون لري ، تاسو ټولو به د صلاح الدين ايوبي د يوه حاکم خادم الدين البرق نوم اوريدلې وي ، او ستاسې څخه به ځينو هغه کتلې هم وي ، يواځې دوه کسان دي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاح الدين ايوبي د سينې رازونه کتلای شي ، يو علي او بل البرق. د علي بن سفيان وژل به هسې ناپوهي وي ، ما چې په کومه توګه په البرق قبضه کړې ده نو په همدې ترتيب به ئې په علي هم وکړم.»

«ايا البرق ستا په قبضه کې راغلې دې؟» يوه ترې و پو ښتل.

«هو !» زاړه د نجلۍ په وريښمي ويښتانو لاس را ښکود او وئې ويل« ما هغه په دغه زنځيرونو کې ښکيل کړې دې. ماتاسو ټول د يو څو نورو خبرو تر څنګ ددې زيرې په خاطر هم رابللي واست. مونږ بايد ډيره ژر خپله ناسته پائې ته ورسوو ، ځکه زمونږ د ټولو په يوه ځاې کې ناسته او را ټوليدل دمصلحت نه لرې دې.تاسې ټول به دا نجلۍ و پيژنئ، زه هيله مند نه وم چې دا به په دومره زيرکتيا او استاذۍ سره دا ډرامه مخته بوځې ، دا د خپل عمر له اړخه هم خامه ده ، زه د تير يوه کال راهيسې د همداسې يوې موقع په لټه کې وم چې علي بن سفيان يا البرق او يا دواړه په دې جال کې را ونخلووم ، خو ما ورسره هيڅرې هم ونه کتل ځکه مانه غوښتل چې هغوی ما و پيژني ، له بله اړخه سلطان ټول فوځي حکام د ښاره بيرون ساتي ، خو کله چې هغه د فوځي ميلې اعلان وکړ ، او ماته ډاګيزه شوه چې هغه خپل فوځي قومندانان، سالاران او نور لوړ پوړو چارواکو ته لاربښونه کړې چې هغوی دې په دې ميله کې د ښاريانو تر منځ کښيني او دهغوی تر منځ دې د فوځ رعب نه ،بلکه باور پيدا کړي ، ماته علي بن سفيان هيڅرې هم تر سترګو نه شو ، ما دا نجلۍ هم له ځانه سره هلته وړې وه. البرق را ته تر سترګو شو دهغه تر څنګ دوه کرسۍ خالي وې ، ما نجلۍ دهمغې تر څنګ په خالي چوکۍ کې کښينوله ، هغه ته مې د نهو لسو مياشتو راهيسې همدا استادي ښووله ، زه ئې خپل زوړ ميړه او خپل ځان ئې پلورل شوی مظلومه نجلۍ و ښووله ، او د البرق په څير مؤمن ئې په خپلې ښکلا کې را و نغاړه ، د ليدلو کتلو ځاې و ټاکل شو ، ما هغې ته وويلې چې هلته په کنډر کې به کوم ډول ډرامه لو بوي ، نجلۍ کنډر ته ولاړه ، زه هم هلته د څلورو نور کسانو سره هملته ناست وم. دهغې ډلې څخه دوه کسان اوس همدلته شتون لري اوپاته دوه نور ئې تاسې نه پيژنئ ، هغوی هم زمونږ د ډلې وګړی دي.

دې نجلۍ البرق ته ثابته کړه چې هغه پرې خپل ځان ځاروي ، زمونږ څلورو واړو ملګرو په البرق او دې نجلۍ باندې د تورو او نيزو حملې وکړې ، پر هغوی ئې د برچې درانه وارونه وکړل او دا ډرامه دومره ښه ترتيب شوې وه چې دريښتوني حال څخه ئې لږ څه توپير هم نه درلود. دهغې بې عقله په ذهن کې دا هم را نه غلل چې د تورو اوبرچو دومره ګذارونو وشول خو څوک په کې ګريدلې هم نه و. ما ددې خبرې په ويلو سره دا لوبه پائې ته ورسوله ، چې دا نجلۍ دومره بهادره ده چې دېوه زړه ور او بهادر تر څنګ ښه ښکاري ، ما پرې خپله خوښې و ښووله او هغه مې البرق ته ورحواله کړه»

ما هغه ته خپل نوم آصفه ور ښوولې دې» نجلۍ وويل --«زه حيرانه يم چې ددومره يوخ عمر حاکم په دومره اسانۍ سره زما په جال کې څنګه ژر را ونښت ، ما اوس هغه د شرابو سره عادې کړې دې ، پخوا تردې هغه هيڅکله هم شراب نه وڅښلي ، لمړۍ ښځه ئې هم په هماغه کور کې اوسيږي ، کوچنيان هم لري خو داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بريښي چې هغوی ئې تول له ياده ويستلې وي ،-- نجلۍ غونډې ته تول تفصيل بيان کړ ، چې هغې د کومو کومو لارو څخه د سلطان ايوبي د دغه ځانګړی باوري مشاور عقل په خپل موټي کې نيولې دې.»

«په دغه تيرو دريو مياشتو کې دغې نجلۍ ماته د صلاح الدين ايوبي ډير مهم او ارزښتناکه رازونه را رسولې دي ،» زاړه وويل « سلطان ايوبي ډير زيات فوځ روزي. دهغوی د ډلې څخه به تر نيمائي په مصر کې پريږدي. او پاته نيمائي به د خپلې قومندې لاندې دعيسائي پادشاهانو پر خلاف د جنګ له پاره له ځانه سره وړي ، دهغې سترګې په بيت المقدس باندې لګيږی. خو هغه راز چې دې نجلۍ د البرق څخه را خيستې دې هغه دادې چې سلطان به تر ټولو دمخه خپل مسلمان حکمرانان او د سيمو حاکمانو يو له بله سره را نژدې کوي ، دهغوی يو والې دصليب پالونکو دومره لرې کړي دې لکه څنګه چې البرق مونږ په خپل موټي کې اخستې دې.

«نو ايا مونږ دا ومنو چې البرق اوس زمونږ د ډلې غړې دې ؟» يوه سړي ترې و پو ښتل.

«نه !» زاړه ځواب ورکړ، « هغه په ريښتونې توګه د ايوبي وفاداره دې ، خو اوس هغه همغومره د نجلۍ وفاداره هم دې، دانجلۍ د سلطان ، قوم او د اسلام د وفادارۍ خبره همداسې کوي چې البرق هغه د قوم ځان ځارونکې لور ګڼي، ددې نجلۍ دښايست او ځوانۍ د جادو اغيز جدا شې دې. مونږ نه شو کولاې البرق دخپلو ځانو سره را يوځاي کړو. او دې ته به اړتياڅه وي ؟ هغه خو په مکمله توګه زمونږ په لاسو کې لوبيږي»

«سلطان ايوبي دنور څه کولو اراده لري ؟» ددې ډلې يوه غړي ترې و پوښتل.

« دهغه په ذهن کې ستر او خپور اسلامي سلطنت دې.» زاړه ورته وويل « هغه غواړې د صليب په سلطنت کې د اسلام بيرغ پورته کړي او دهمدې له پاره خپل پلانونه جوړوي ، زمونږ د هغو جاسوسانو بې کاره کولو او نيولو په خاطر ، چې د سمندر دهغې لورې څخه راغلي دې ، سلطان ايوبي د علي بن سفيان تر ځارنې لاندې يوې ستري شبکې ته دنده سپارلې ده ، د البرق څخه د ترلاسه شوو مالوماتو له مخې هغه د سرتيرو يو ځانګړې لښکر تيار کړې تر څو هغوی صليبي هيوادونو ته ولېږي اوهلته ترې د ځارکښۍ او تخريب کارۍ کار واخلي ، دې فوځ ته ئې روزنه هم پيل کړې ده. د سلطان ايوبي منصوبې او پلانونه ډير خطرناکه دي ، دهمدې پلانونو د پلي کولو له پاره هغه د فوځي ميلي ترنامه لاندې لو به جوړه کړه،او نژدې شپږزره کسان ئې فوځ کې استخدام کړل ، او دا لړۍ لا تر اوسه پورې روانه ده ، په دې خلکو کې سوډانيان هم شتون لري ، ماته چې له پورته څخه څه لارښووني شوی دي ، هغه همدا دي چې د ايوبي په فوځ کې د بدکارۍ ناروغتيا خپره کړئ ، اودهغې طريقه داده چې دهغوی په زړونو کې دښځو سره د محبت او د جوارۍ سره مينه ورزياته کړئ.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاړه وویل چې هغه دفوځي ميلي څخه سمدستي وروسته په فوځ کې د خلکو د ورننويستلو کار پيل کړې دي. او هغوی هم په ډېره ښه توګه په فوځ کې جواري رواج او خپره کړې ده، جواري او ښځه دواړه داسې شيان دي چې انسان د غلا او وژلو پورې را کاږي.

هغه دويمه طريقه داوښووله ، چې عصمت پلورونکو ښځوته د ښې روزنې د ورکولو وروسته ئې هغوی د فوځي پنډ غالي په شاوخوا کې پرې ايښې دي ، خو هغوی هيڅکله هم دا نه وائې چې هغوی ځان پلورونکې دي. هغوی د سلطان سپاهيان د بدکارۍ سره دعادي کولو تر څنګ دهغوی تر منځ رقابت هم را پيدا کړې دي. زاړه ورته زياته کړه « دهغوی بريا تيره ورځ مخته راغله ، هلته چې دوه سپاهيان په يوه وخت د يوي ښځي خيمې ته ورغلل، دواړه په خپلو منځو کې و نښتل اويو بل ئې ډېر سخت زخمي کړ، يو دخيمې په منځ کې ومړ او د بل په هکله مالومات راغلي چې هغه پنډغالي ته په ور رسيدو سره هملته و مړ...دا راپور تر سلطان ايوبي پورې ور رسيدلې دي. هغه علي بن سفيان او البرق ته حکم کړې چې د فوځيانو تر منځ خپل استخباراتي کسانو ته دنده ورکړي او دا معلومه کړي چې جواري ، غلا ، زنا او بدکاري ولې ورځ په ورځ ډېرښت مومي ، په دې خاطر تاسې ټول د ټولو هغو ښځو څخه چې په دې کار کې مصروفې دي غوښتنه وکړئ چې فوځي پنډغالو ته نژدې را نشي.

په دې غونډه کې دا هم وويل شول چې د آصفې اصلي نوم بل څه دې ، هره پنځمه او شپږمه ورځ دغه زاړه ته هغه رازونه او اطلاعات را رسوي چې د البرق څخه ئې تر لاسه کوي ، کومه شپه چې د هغې د را وتلو پروګرام وي نو هغه البرق ته په شرابو کې يو ځانګړې ډول سفوف ورګډوي او ورکوي ئې. دهغې د اغيز له مخې هغه ان تر سهاره پورې خپلې سترګې نه شي پرانستلای ، په غونډه کې دا هم ډاګيزه شوه چې د مصر په زياتو کليو ، باڼډو او ښارونو کې قحبه ځايونه ، او د جوارۍ مرکزونه جوړ کړل شوی دي ، چې ښه پايلې ئې را تر مخه کيږي. روزل شوی نجونې او ښځې د لوړو لوړو کورنيو ځوانان د بد کارۍ په لور را اړوي ، اوس دا هڅه بايد وکړل شي چې په مسلمانو نجونو کې هم د بې حيائې او بدکارې ميلان را پيدا شي.

دا غونډه چې د جاسوسانو ډېره پټه غونډه وه ، پائې ته ورسيده ، هغوی ټول يوځاې بهر ته را ونه وتل ، بهر به يو سړی ولاړ نو بل به څو دقيقې وروسته دهغې پسې راوت ، زوړ هم ولاړ ، يواځې آصفه او يو بل سړې پاته شول ، آصفې په نقاب کې خپل مخ پټ کړ او دهماغه پاته شوی سړې سره روانه شوه.

*****(٣٩)

البرق آصفه په يو راز کې پرې ايښې وه ، هغه تر اوسه پورې چاته نه و ويلې چې هغه دويم واده هم کړې دې ، که څه هم دويم واده کول کومه د عيب خبره هم نه وه خو هغه ويريده چې دوستان به ورسره ټوکې ټکالې وکړي او ورته به وايي چې دومره وخت دې د يوي ښځې سره تير کړ او اخر دې د ځلويښت کلنۍ په عمر کې د يوې ځواني نجلۍ سره واده وکړ ، خو دا راز تر ډېره وخته پورې راز پاته نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي بن سفيان په ښار او د فوځي پنډغالي په چاپيريال کې د خپلې څارکښنې د شبکې جال خپور کړې و . هغه ته دا خبرونه را رسيدل چې د فوځي ميلې د تر سره کولو وروسته په ښار کې د جوارۍ او بدکارۍ ځاپونه ورځ په ورځ زياتيږي. يوه ورځ د شبکې يوه غړي علي بن سفيان ته دا راپور هم ورکړ چې په تيرو درې مياشتو کې هغه څلور ځله کتلي چې دخادم الدين البرق دکوره ښځه ، د شپې هغه وخت چې ټول په خوارړه خوب پراته وي ، يوه ښځه چې په تورڅادر کې ئې ځان را نغاړلې وي را وځي ، هغه چې لږه لرې ولاړه شي نو يو سړې ورسره يوځاې کيږې ، اطلاعاتي مامور وويل چې دوه ځله ئې همداسې کتلي خو دريم ځل د هغې ښځې پسې وروسته ولاړ هغه ددې سړي سره يوځاې يوه کورته ورننوته ، او د څه ډير ځنډ وروسته بيرته را ووته او د همغه سړي سره بيرته را ستنه شوه.

هغه مامور دا هم وويل چې هغه همدا ښځه تيره شپه هم دکوره د وتلو سره سم تر تعقيب لاندې و نيوله ، هماغه کورته و رننوته ، مامور وائې چې هغه په خپله د هغه کور څخه لرې په يوه ځاې کې پټ کښيناست ، د لږ څه ځنډ وروسته دوی را ووتل او دښار په لورې رهي شول او هلته په يو ستر کور کې ورننوتل ، د ډير وخت د تيريدو وروسته دهمدې کور څخه د يو يو کس په راوتلو سره نږدې يولس کسان له هغه ځايه را ووتل. او په اخره کې همدا ښځه د يوه سړي سره هم را ووتله ، مامور هم د تيارې څخه په ګټې اخستلو سره دوی تر تعقيب لاندې و نيول. د البرق د کوره څخه لږ څه لرې هغه سړې بلې لورې ته ولاړ او ښځه د البرق په کور کې و رننوتله.

د اطلاعاتو دغه مامور د البرق په څير د يوه مسؤل اولوړ پوړې چارواکې په هکله دداسې خبرې کولو جرأت هم نه شو کولاې ، خو دعلي بن سفيان لارښوونې او احکام ډير سخت و ، هغه دخپلې شبکې ، غړو ، خبر راوړونکو او ټولو جاسوسانو ته ويلي و چې که چيرې د سلطان ايوبي په کوم حرکت باندې هم شکمن شي نود هغې په هکله دې هم ورته را پور ورکړې ، په دې هکله دې د هيچا د رتبې او ستروالي لحاظ نه کوي ، هر چيرې ئې چې هر ډول شک تر سترګو شي ، که څه هم ډير معمولي او لږ وي بايد علي بن سفيان ته ئې تفصيل ورکړل شي ، دا د جاسوسي روزنې د سبق يوه برخه وه ځکه د څارکښنې دشبکې برياليتوب د همداسې حرکتونو او خبرو په بنسټ ، چې ډير خلک ئې بې معنا ګڼي او له نظره ئې غورځوي ،تر لاسه کيږي .

هغه څه چې د اطلاعاتو دې مامور څلور ځله مشاهده کړي و ، هغه د علي بن سفيان له پاره ډير ارزښتناکه و. هغه د البرق ښځه ډيره ښه پيژندله ، هغه داسې ښځه نه وه چې د شپې د ې د کوم پردي سړي سره چيرې ولاړه شي. د البرق کومه ځوانه لور هم نه وه. او دا هم چاته نه وه څرګنده چې البرق د يوې بلې ځوانې نجلۍ سره واده کړې دې. هغه په دې خبرې ډير فکر وکړ ، هغه ته دا فکر هم را پيدا شو چې البرق دهغه نږدې دوست هم دې اودا دهغې حق دې چې که چيرې دهغې ددوست په کور کې کوم لاندې باندې وي نو دهغې پوښتنه وکړي. خو هغه فکر چې دهغې په ذهن کې را پيدا کيده هغه دا و چې په ښار کې د مشکوکو ښځو سيلاب راغلې دې ، هسې نه چې البرق هم د کومې بدکارې ښځې په چکر کې لويدلې وي؟ دهغه په ذهن کې يو فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



را پيدا شو ، هغه د خپلې شبکې يوه ښځه د سوالګرې په لباس کې د البرق کور ته و استوله تر څو هغوی ته ووايي چې خاوند ئې مړ شوی او ځامن ئې بيکاره او خپل سري دي نو په دې خاطر ستاسې څخه د اعانت او بسپنې هيله لري.

د پلان په مطابق دا ښځه هغه وخت د البرق کور ته ولاړه چې هغه پخپله په کور کې نه و. د بل پلان په مطابق هغه په ټول کور کې و ګرځيده او آصفه ئې تر سترګو شوه. دې ښځې د البرق د لمړنۍ ښځې سره و کتل او ورته ئې خپل «فرياد» وړاندې کړ او ورته ئې وويل چې هغه دې البرق ته ددې په هکله سپارښتنه وکړي. په خبرو خبرو کې ئې ترې و پوښتل ستا لور واده شوی او که لا تر اوسه هم پيغله ده؟ هغه ځواب واوريد چې دا زما لور نه ده ، دا زما د ميړه دويمه ښځه ده ،درې مياشتې کيږي چې واده ئې ورسره کړې دې.»

علي بن سفيان ته دا خبره حيرانونکې وه. دهغه په زړه کې دا شک پيدا شو چې دشپې دکوره وتونکې د هغې همدا دويمه ښځه ده ، علي د يوې بلې ښځې په لاس د البرق لمړنۍ ښځې ته پيغام واستاوه چې هغه غواړي بهر ورسره په کوم ځاې کې ځانته ووينې. خوالبرق بايد په دې خبره پو ه نه شي. هغه ورته په پيغام کې دا هم ويلي و چې دهغوی دکور په هکله په يوه ډيره مهمه خبره باندې ور سره غږيږي. علي ، دالبرق د دفترى مصروفياتو د په نظر کې نيولو په اساس ، د هغې ښځې ته د ليدلو کتلو له پاره ځاې او وخت هم ور په ګوته کړ.

....هغه راغله ، علي بن سفيان دې ښځې ته دزړه له کومې ډير زيات عزت او احترام درلود ، هغه د البرق ښځې ته وويل ، چې هغه ته دا معلومه شوې چې البرق دويم واده کړې دې ، ښځې ځواب ورکړ « د خداې شکر دې چې هغه دويم واده کړې دې –ځلورم او پنځم نه دې»

په خبرو خبرو کې علي بن سفيان ترې و پوښتل « هغه څنګه ښځه ده ؟»

«ډيره ښکلې او ښايسته ده» ښځې ځواب ورکړ.

«شريفه او نيک خويه هم ده ؟» علي بن سفيان ترې و پوښتل ، « ته خو پرې څه شک و شبه نه لرې ؟» تر ډيره وخته پورې هغه په فکر کې ډوبه وه ، علي ترې وپوښتل « که چيرې زه ووايم چې هغه کله کله د شپې له خوا بهر را وځي نو ته خوبه ئې په بده نه اخلې ؟»

هغه په خندا شوه او وئې ويل « زه په خپله اند ېښمنه يم چې دا خبره چاته وکړم ، زما خاوند اوس د هغې غلام ګرځيدلې دې ، له ما سره خو د سره خبرې هم نه کوي ، که چيرې زه د خاوند سره ددې نجلۍ په هکله خبرې وکړم نو ويريږم چې له کوره به مې وکاږي ، هغه به داسې وانګيري چې زه د کينې اوحسد له لورې دا خبرې کوم. دا نجلۍ پاکه نه ده ، پخوا زمونږ په کور کې د شرابو بوي هم نه و ،خو اوس هلته دشرابو منګي خالي کيږي.»

«شراب ؟» علي بن سفيان ټکان وخوړ او وئې ويلې « البرق شراب څښل هم پيل کړې دې ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« نه يوائې دا چې ښنبي ئې » ښځې ئې ورته وويل « بلکه بدمسته او مدهوشه کيږي هم ، ما ځلور ځله دا نجلې د کوره د بهر تللو په حال کې کتلې او ليدلې مې دي چې هغه د ډېر ځنډ وروسته بيرته راستنه شوې. ما دا هم کتلي چې کومه شپه چې نجلۍ بهر ته وځي نو په هغه شپه البرق بې هوشه پروت وي او سهار ډېر ناوخته را پورته کيږي. نجلۍ بدمعاشه ده او د هغه سره چل ول کوي اودوکه ورکوي.»

«نجلۍ بدمعاشه نه ده ،»علي بن سفيان ورته وويل « هغه جاسوسه ده ، جاسوسه ، هغه البرق ته نه بلکه ټول قوم او ولس ته دوکه ورکوي.»

«جاسوسه !» ښځې ترې په حيرانتيا سره و پوښتل ،« جاسوسه اوبيا زما په کور کې !» پورته شوه او غاښونه ئې و چيچل او وئې ويل « ته پوهيږې چې زه د يوه شهيد لور يم ، البرق سم مسلمان و او خپل ژوند ئې د اسلام په لاره کې وقف کړې و . زه خپل اولادونه د جهاد له پاره روزم ، او ته وائې چې زما د اولادونو پلار د يوې جاسوسې سره واده کړې او دهغې په ولکه کې راغلې دې. زه د خپلو اولادونو پلار قربانولې شم خو خپل قوم، وطن او اسلام له منځه تللو ته نه پريږدم ، زه به دا دواړه له تيغه تير کړم.»

علي بن سفيان په ډېره ستونزمنه توګه د هغې احساسات ساړه کړل او هغې ته ئې وويلې چې تر اوسه پورې دا بايد کرّه کړو چې دا نجلۍ جاسوسه ده او دا بايد هم ترڅارنې لاندې و لرو چې البرق هم ددې جاسوسې کړېو غړې ګرځيدلې دې او يا داچې هغه يوائې د شرابو په ورکولو سره استعمالوې. هغې ښځې ته ئې دا هم وويلې چې جاسوسان څوک نه وژنې بلکه را نيسي ئې ، او ورځخه د شبکې د نورو غړوپه هکله پو ښتنې کيږي. علي بن سفيان هغه ته څه لارښوونې وکړې اوورته ئې وويل چې د نجلۍ هر خوځښت بايد تر څارنې لاندې وساتې.....

دا ښځه ولاړه اوداسې ځرګنديده چې دعلي بن سفيان لارښونې به په ساړه فکر سره پلي کړې ، خو د هغې د تګ او انداز څخه داسې معلوميده چې هغه په هر وخت کې له کنتروله وتلاې شي. هغه د حرم سراې او حويلې ښځه نه وه ، بلکه دخپل خاوند وفاداره ماندينه وه اوپه هيواد او ملت باندې ځاريدونکې دقوم لور وه.

(۴۰)*****

خادم الدين البرق او علي بن سفيان نه يوائې د کار ملګري و و ، بلکه پخپلو منځوکې خواږه دوستان هم و. دواړه د يوه عمر خاوندان و ، يو ځاې ئې د عيسايانو د لښکرو په مقابل کې د اسلامې سلطنت د ازادۍ له پاره په جنګونه کې برخه اخستې وه ، دواړه د سلطان ايوبي پخواني ملګري و . خو ددومره خوږې دوستۍ تر څنګ البرق خپل دويم واده د علي بن سفيان څخه پټ ساتلې و . کله چې علي ته دا خبر را په ډاګه شو نو هغه د البرق سره په دې هکله کومه خبره و نه کړه ، هغه دهغې دښځې له لارې د هغې د کور ددغې معمّې د حل لار ه پيدا کول غوښتل ، هغه دالبرق دکور او دهغې تر منځ په هغه واټن کې د خپلې شبکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارکونکوپه شمیره کې ډېرښت راوست چې د البرق دویمې ښځې په کې تګ راتګ کاوه ، د البرق د لمړۍ ښځې سره چې علي خبرې کړې وې دهغه څخه تر اوسه پورې دوه ورځې تیرې شوی وې ، خو نجلۍ بهر نه راوتله ، جاسوسان به ټوله ټوله شپه بیدار اوسیدل .

دربیمه شپه ، د نیمائې شپې څخه لږ څه د مخه په داسې حال کې چې علي بن سفیان په خوا ږه خوب ویده و علي د نورو حاکمانو او امرانو پر خلاف ، خپلو کارکونکو ته ویلې و چې هر وخت چې وغواړي هغه را بیداره ولې شي ، هغه د هغو چارواکو څخه توپیر درلود چې هیچاته هم د خپل ارام په وخت کې د اخلال کولو اجازه نه ورکوي. په دې شپه دعلي یوه ملازم علي را بیدار کړ.او ورته ئې وویلې « عمر راغلي او لږ څه ویریدلي غوندې ښکاري» علي بن سفیان دلیندۍ څخه د وتلي غشي په څیر د خوني څخه راووت او په یو څو ګړندیو ګامونو کې ئې ځان حجرې ته ورساوه ، هلته د هغه د شبکې یو کس ولاړ و، علي ته ئې وویل « ملازمینو ته وواياست چې ورمنډې کړي ، لس دولس سپاره سمدستي را وغواړۍ ، خپل آس هم ډېر ژر تیار کړه ، بیا تاته وایم چې څه شوی دي ؟»

علي بن سفیان خپل ملازم و استاوه تر څو دریارلس څوارلس کسه وسله وال سپاره تیار کړي او ددې آس هم ورته تیار کړي ، خو د عمر څخه ئې و پوښتل «وایه څه خبره ده ؟»

عمر او آذر دوه کسه استخباراتي غړي د آصفې د تعقیب له پاره مامور شوی و ، علي بن سفیان ورته حکم کړې و چې کله چې نجلۍ د کوره څخه وځي نو سمدستي دې ته خبر ورکړئ ، خو دا ځل عمر ډېره خطرناکه اطلاع راوړې وه ، هغه ورته وویل چې لږ څه دمخه د البرق دکوره په تور څادر کې د سرنه تر پښو پټه ښځه را ووتله او نژدې په لږه فاصله کې د البرق له کوره بله همداسې ښځه په همداسې لباس کې را ووتله ، هغه په منډه منډه د هغې لمړنۍ ښځې پسې ولاړه ، کله چې هغه لمړنۍ شکمنه شوه نو ودریده. مونږ دواړه پټ ناست و ، او هیڅ نه وکتلي ، تعقیب مو هم په پټه کاوه ، معلوم نه ده چې ددواړو ښځو تر منځ څه وویل شو ، دهغوی څخه یوې خپل لاسونه و پړکول ، هلته د نژدې ځایه څخه یو سړې را ووت ، هغه څه وکړه چې دا وروسته تلونکې ښځه و نیسي ، ښځې پر هغې باندې د کومې وسلې وار وکړ ، وسله دشپې په تیاره کې نه تر سترګو کیده ، هغه سړې هم په همدې ښځه باندې د کومې وسلې وار وکړ.

هغه ښځه چې لمړۍ راغلې وه دهغې اواز مو واوریده چې وئې ویل « دا پورته کړئ اوویسئ یې» بلې ښځې پرې وار وکړ ، دهغې دخولې څخه چیغې ووتې ، هغې ښځې پرې یو بل وار وکړ او دخپله ځانه ئې دهغه سړې وار دفع هم کړ. دواړه ښځې زخمي شوی دي ، عمر علي بن سفیان ته د اطلاع ورکولو وروسته منډه کړه او وئې ویل آذر هملته پټ ناست دې. هغه دا معلوموله چې دا خلک چیرې ځي ،

علي بن سفیان دداسې هنګامي حالت له پاره د ګړندیو او تجربه لرونکو کسانو یوه ډله تیاره کړې وه ، دوی به تل د خپلو اسونو سره نیژدې بیده کیدل ، د آسونو زینونه او وسلې به ئې له ځانه سره ساتلې ، هغوی ته دا روزنه ورکړل شوی وه چې د شپې د اړتیا په وخت کې هغوی باید په څو دقیقو کې خپل ځانونه تیار کړي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ضرورت ځاي ته ځانونه ورسوي ، هغوی دومره تيز ول ، چې څه وخت چې ملازم ددې ډلې قومندان ته خبر ورکړ چې څوارلس کسان تيار کړي نو علي بن سفيان د کاليو تر بدلولو او د هغه د خپل آس دتيارولو تر وخته پورې هغوی هملته حاضر وموندل ،

دعلي بن سفيان په قيادت اود عمر په لار ښوونه دا ډله د پيښې ځاي ته ور ورسيده ، ددوه سپرو سره مشالونه و ، هلته دوه لاشونه پراته و ، علي بن سفيان له آسه را ښکته شو او وئې کتل ، يو د البرق لمرنۍ ښځه وه ، اوبل آذر و د عمر ملګرې. دواړه تر اوسه پورې ژوندي و او په وينو کې ډوب. آذر وويل چې هغوی د البرق لمرنۍ ښځه د زخمي کيدو وروسته و غورځوله ، نو زه ورته راغلم او را پورته مې کړه چې ناڅاپه د شا لخوا چا زه په خنجر باندې ووهلم ، ما ځان کنترول نه شو کړاي او پريوتم ، حمله کونکې و تښتيد. آذر وويل چې هغه بله ښځه د البرق کورته نه ده تللي بلکه هغه لورې ته ولاړه چې پخوا پرې تلله ، عمر ته دهغه کور معلوم و.

علي بن سفيان دوه سپرو ته حکم وکړ چې دغه دواړه زخميان سمدستي جراح ته ورسوي او د وينې د دريدو هڅه ئې وکړي ، پاته سپاره هغه د عمر په لار ښوونه دهغې ځاي په لور ور و خوځول چېرې چې آصفه مخته هم څو ځلي تلونکې کتل شوي وه ،دا د پخوانيو وختونو يو ستر کور و . او تر څنګ ئې نور کورونه هم و . د انګړ څخه د آسونو د شرنهار اوازونه تر غوږو شول ، علي خپل سپاره دکور ددواړو خوا څخه شاته و استول ، دوه سپاره ئې د کور تر مخه و درول ، او ورته ئې ووېل چې هر څوک چې دکوره بهر را وځي و ئې نيسئ ، اوکه چا د تيښتې هڅه وکړه نو په غشو ئې په ګونډو کړئ.

سپاره هم د شاوخوا ګرځيدو نه وروسته د انګړ په لورې ور تاو شول ، په دې وخت کې د ځغاستونکو اسونو دپښو اواز واوريدل شو. علي بن سفيان يوه سپور ته وويل « په منډه ولاړ شه او خپل قومندان ته دې ووايه چې دا کور محاصره کړي او دننه ور ننوځي ، دننه ټول وګرې ئې و نيسئ ،» سپور د پنډغالي په لور ولاړ علي بن سفيان په لوړ اواز سره خپلو کسانو ته حکم وکړ ، « پونده ورکړئ او تعقيب ئې کړئ ، او يو پر بل باندې نظر ساتئ ، » او هغه خپل آس ته لغته ورکړه ، دا د آسونو د تيبيلې څخه په ګوته را ټول کړل شوی آسونه و . اودهغې سپرو د سلطان ايوبې څخه څو ځله انعامونه اخستې و . تښتيدونکې هم شاهسواره معلوميدل ، دهغوی د آسونو د پښو اوازونو په ډاګه کوله چې د ښه نسل ، تيز ځغليدونکې اسونه دي ،دا د ښار سيمه وه او کورونو د آسونو دځغاستې تر مخ خنډونه را پيدا کول ، کوځې وې چې آس په کې نه شو ځغليداي ، خو بيا ددې څخه اخوا پراخه ډاګ و .

په تياره کې آسونه نه تر سترګو کيدل ، يواځې دهغوی د پښو په اوازونو باندې تعقيب کيده ، خو کله چې هغوی پراخه ډاګ ته شول نو بيائې پټيدل شوني نه و . هغوی د افق په لور د سيورو په شکل تر سترګو کيدل. هغوی څلور وو او نژدې سل متره فاصله ئې پيدا کړې وه. هغوی يو له بله سره څنګ تر څنګ تلل ، دعلي بن سفيان په حکم دوه سپرو په هماغه رفتار سره خپل آسونه ور و ځغلول او دغشو وارونه ئې پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړل ، کیدای شي غشي خطا شوی وي ، تښتیدونکی د پوهې او عقل خاوندان معلومیدل. کله به چې غشي دهغوی له منځه تیریدل نو هغوی به هم آسونه یو له بله سره جلا کول. خو هغوی یو ځای روان ول. د علي بن سفیان ډله هم ډیره ګړندۍ وه ، فاصله هم را کمیده ، خو مخته دکجورو یو ګڼ ځنګل راغې هلته د هغوی آسونه دا سې سره وویشل شو چې دوه ئې د ځنګل کیڼ لورې او پاته دوه ئې د ځنګل ښي لورې ته ولاړل. دا ځای لږ څه هسک و ، آسونه پورته ولاړل او له نظره ورک شول.

تعاقب کونکې چې کله هغه لوړ ځای ته وختل نو هغوی ته چې کوم ځغلیدونکي سیوري تر سترګو شول دا سې معلومیدل چې هغوی یو له بله څخه ډیر لرې شوی وي. اوبیا هغوی دومره لرې لرې شول چې دهر یوه مخه اولاره بدله شوه. علي بن سفیان و پو هیده چې هغوی غواړي زمونږ سپاره په خپلو منځو کې سره وویشي او خپاره ئې کړي ، علي په لوړ اواز سره وویلې ، د هر سپور پسې ډلې ډلې شئ ، یو بل ته سره وواياست او آسونو ته لغته ورکړئ ، فاصلې کمې کړئ او په لیندېو کې غشي کیږدئ ،»

سپاره سره وویشل شو ،ټولو خپلې لیندئ را واخستې او غشي ئې په کې کښیښول ، او د هر آس پسې یوي یوي ډلې ځغاسته پیل کړه. دهغوی د آسونو رفتار نور هم زیات شو. د پښو داوازونو په شور وشر کې د لیندېو څخه د غشو د وتلو اوازونه هم تر غوږو کیدل ، یوه وویل چې یو مې وویشت او آس ئې د کنترول ووت، » هلته دعلي بن سفیان سره چې دوه سپاره و هغوی هم په یوه وخت کې غشي وویشتل ، په تیاره کې د غشي د خطا کیدو خطر زیات و ، او غشي خطا کیدل هم ، خو بیا هم هغوی یو بل آس په نښه کړ، دا اس دکنترولہ ووت او بیرته شاته راغې ، یو سپور هغه په غاړه په برچې باندې وواهه، اویوه بل هغه په برچه باندې په ګیډه کې وواهه خو آس ځواکمن و او و نه لوید . دوی هڅه کوله چې سپاره ژوندي را ونیسي ، دعلي سره یو سپور خپل لاس ور وغځاوه ترڅو یو سپور پرې د مټو څخه را ونیسې ، ځکه دهغه لاندې اس هم زخمي شوې و ،لږه شیبه وروسته دا آس ودرید ،په آس باندې یو سړې سپور و او یوه ښځه. ښځه د سړي څخه مخته ناسته وه.دا سې معلومیده چې ښځه بې هوشه شوی وي.

د صحرا په دې تیاره شپه کې اوس د بل کوم اس د پښو اواز نه تر غوږو کیده ، یوا ځې د سپرو خبرې او د آسونو د عادې تګ اوازونه را تلل ، سپرو یوه بل ته اوازونه کول ، دهغوی د اوازونو څخه دا سې معلومیده چې هغوی ټول تښتیدونکی نیولي دي. علي بن سفیان ټول سره را ټول کړ ل ، تښتیدونکې ئې ونیول ، دهغوی دوه آسونه زخمیان شوی و ، هغه دواړه ئې د مړینې په خاطر هملته په صحرا کې پریښول ، تښتیدونکې ټول ټال پنځه کسان و ، څلور نارینه او یوه ښځه ، ښځه را غورځیدلې وه ، د تښتیدونکو څخه یوه وویل،«تاسې چې له مونږه سره څه غواړئ وئې کړئ ، خو دا نجلۍ زخمي ده مونږ هیله لرو چې تاسې به هغې ته کوم زیان ونه رسوئ ،» د یوه آس د زین سره مشال تړلې و . هغه ئې را پرانسته او روښانه ئې کړ، ښځه ئې وکتله ، ډیره ښایسته او ځوانه وه ، کالي ئې په وینو سره و ، دهغې پر غاړه ، اوږې ته نژدې د خنجر د ور ننوتلو یوژور زخم و ، دهغې څخه دومره وینه تللې وه چې د ښځې رنګ ئې د سپین لاش په څیر ګرځولې و ، سترګي ئې پټې وي ، علي بن سفیان دهغې په زخم کې یوه ټوټه ور ننویسته ، اود پاسه ئې په یوه بله ټوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې وتړه ، او هغه ئې په يوه آس باندې وا چوله اوسپورته ئې وويل چې په بيړه ئې جراح ته ورسوئ. هلته د ژروالي او بيړې پو ښتنه هم نه پيدا كيده ، هغوى د ښاره څخه څو ميله لرې وتلي و. په دې بنديانو كې يو زوړ سړې هم موجود و.

كله چې داقافله قاهرې ته رسيدله نو دسهارسپينې ليكي را خپرې شوې وې ، سلطان ته هم د شپې دپيښې په هكله خبر وركړل شوى و ، علي بن سفيان شفاخانې ته ولاړ او جراحانو د دغې ښځې په ټپونو باندې د ملهمواو پټيو په پورې كولو لاس پورې كړ. هغوى هڅه كوله چې هغه په هوش كې راوړي ، سپرو هغه پرته له كومه ځنډه شفاخانې ته را رسولې وه ، دالبرق لمرنۍ ښځه او آذر اوس په هوش كې راغلي و ،خو روغتيائي حالت ئې ښه نه بريښيده. سلطان ايوبي هم هملته شفاخانې ته ور رسيدلي و هغه علي بن سفيان ځانته كړ او ورته ئې وويل ،«زه له ډيره وخته را هيسې دلته يم ، ما د البرق د راغوښتلو له پاره يو سړې هلته ور استولې ، خو هغه ما ته ډيره عجيبه خبره كړې ، هغه وائي چې البرق په هوش كې نه دې ، د هغې په خونه كې د شرابو پيالې او صراحئ پرتې دي ، ايا هغه د شرابو څښل هم پيل كړې دي ؟ هغه ته دومره هوش هم نه شته چې دهغې ښځه د كوره بهر زخمي پرته ده ، ما تر اوسه پورې د هغه د ښځې سره خبرې نه دي كړي ، ډاكټرانو د هغې سره خبرې كول منع كړې دي.»

«دهغه يوه نه چې دوه ښځې ټپي شوى دي» علي بن سفيان ورته وويل « دغه نجلۍ چې مونږ همدا اوس په دښته كې ونيوله او را مو وسته د البرق دويمه ښځه ده ، پريږده چې لږ څه د خبرو جوګه شي ، مونږ ډير غټ ښكار را نيولې دې.»

البرق د لمر د راختلو وروسته را بيداره شو ، د ملازم د خبر سره سم ئې په منډو ځان را ورساوه ، د هغه دواړه ښځې زخمي پرتې وې ، هغه ته څلور واړه جاسوسان وروښوول شول ، هغه دهغه زاړه جاسوس په كتلو سره حيران پاته شو ، ځكه هغه سړې البرق د آصفي پخوانې ميړه انګيره ، سلطان ايوبي دا قضيه په خپلو لاسو كې واخسته ،ځكه دا دجاسوسانو د يوې سترې ډلې معامله وه چې دهغې يوه باوري ملګرې ، چې د فوځ ټول رازونه او را تلونكي پلانونه ورته معلوم و ،هم په كې ككړ شوې و .

كله چې زخميان د خبرو كولو او دبيان د وركولو جوګه شول ، نو خپله كيسه ئې داسې وكړه چې د البرق لمرنۍ ښځې ته چې كله علي بن سفيان وويل چې دهغه د خاوند دويمه ښځه دشكمن كرچار خاونده ده او جاسوسه معلوميږي نو هغه د ډيرې سختې غُصّې په حال كې كورته ستنه شوه. هغه غوښتل خپل ميړه او آصفه دواړه د تيغه تير كړي ، خو علي بن سفيان هغې ته ويلي و چې جاسوسان ژوندي نيول كيږي تر څو دهغوى څخه د نورو پټو رازونو په هكله پوښتنې ګرويزنې وشي ،او د ډلې نور ملګرې ئې را پيدا كړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خپل ځان تر کنترول لاندې راوست ، او آصفه ئې تر کلکې ځارنې لاندې و نیوله ، هغې دشپې له اړخه ویده کیدل هم پریښودل ، هغې دموقع اوفرصت نه په ګټې سره د آصفې او دهغې د میړه د خوب دخونې په دړه کې یو کو چنې سورې هم وویست ، د شپې به هغې دهمدې سورې له لارې آصفه کتله ، دوه شپې په پر لپسې توګه هغې همدا وکتل چې ښځه البرق ته شراب ورکوي او خپل ځان په مکمله توګه هغه ته لوڅوي ، دې ښځې به البرق ته د سلطان ایوبي خبرې په داسې شکل سره کولې لکه چې هغه ئې پییر او مرشد وي ، صلیبیانو ته به ئې بدې ردې ویلې ، او هماغه خبرې به ئې کولې چې د سلطان ایوبي په جنګې پلانونو کې به شاملې وې. البرق به هغې ته ویلې چې سلطان څه کول غواړي او څه ډول فکر کوي ؟

دالبرق لمړنۍ ښځې دوه شپې همدا ډرامه کتله ،او دهغوی همدا ډول خبرې اترې ئې تر غوږو کیدې ، دریمه شپه هغې یوه داسې ډرامه جوړه کړه چې د البرق لمړنۍ ښځې ئې په پوره بې صبرۍ سره انتظار کاوه ، آصفې البرق ته شراب ورکول پیل کړه ، او دهغه څخه ئې بلکل حیوان جوړ کړ ، آصفې دواړه پیالې را پورته کړې او په دې خبرې کولو سره ، چې نور راوړم ، دخونې څخه بهر شوه. کله چې هغه بیرته راغله نو وئې کتل چې په پیالو کې شراب همغسې پراته دي ، هغې یوه پیاله البرق ته ورکړه ، او بله ئې په خپله دخولې سره ولګوله ،ددې وروسته هغې ډیر زیات لوڅ حرکتونه وکړل ، او البرق بې سده پریوت ، اصفې کالې واغوستل ، او البرق ته ئې سوکه سوکه اوازونه وکړل ، خو هغه د خبرو وتلې و ، بیا ئې هغه و خوځاوه ،او دهغه د سترګو دخلاصون هڅه ئې وکړه خو دهغه سترګې خلاصې نه شوې. هغې د البرق دشرابو په پیاله کې هغه وخت څه داسې شیز ورګډ کړې و کوم وخت چې هغه بلې خونې ته ولاړه او غږ ئې کړ چې نور راوړم.

آصفې کالې وا غوستل ، دپاسه ئې پرې تور څادر داسې وا چاوه چې د سر نه تر پښو پورې په کې پټه شوه ، شپه نیمائې کیدو ته نژدې وه ، روښنائې ئې مړه کړه. اوبیرون را ووتله ،دآصفې دې کړچار لمړنۍ ښځه سور اور وګرځوله ، خپل خنجر ئې را واخست ، خپل څادر ئې له ځانه چاپیره کړ ،کله چې د خونې څخه بهر را وتله نو وئې کتل چې اصفه د یوې ملازمې سره پسیږي ، ددې څخه دا معلومه شوه چې دا ملازمه هم هغې له ځانه سره یو ځای کړې ده. آصفه بهر راووتله ، او ملازمه خپلې خونې ته ولاړه ، لمړنۍ ښځه هم د لوي دروازې څخه بهر راووتله ، هغه ډیره ګړندۍ تلله ، او د آصفې تعقیب ئې کاوه ، هغه د اصفې د قدمونو په غږ پسې روانه وه. هغې غوښتل دا معلومه کړې چې هغه چیرې ځي ، کیداې شي اصفې د هغې د قدمونو اواز اوریدلې وي ، هغه ودریده ، لمړنۍ ښځې په تیاره کې ښه نشواې لیداې ، هغه آصفې ته ور نژدې شوه او هملته و دریده ، یو دبل سره په ناڅاپې توګه د مخ کیدو په اساس لمړنۍ ښځه دا پریکړه و نشوه کولاې چې څه وکړي.

خو بې له ځنډه ئې وپوښتل چې «آصفې چیرې ځې ؟»

لمړنۍ ښځې دا احساس هم نه کړه چې د اصفې د خوندیتوب په خاطر دهغې سره یو ساتونکې په پټه توګه د هغې تر څنګ روان دې ،آصفې یو لاس په بل وواهه او د البرق لمړنۍ ښځې ته ئې په خندا کې وویل --« ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما تر شا راغلې ئې ، يا بل چېرې روانه ئې ؟» په همدې وخت کې چا دغه لمړنی ښځه د متو څخه و نيوله خو هغې په يوه ټکان سره خپل ځان د نيونکی څخه وژغوره ، هغې په منډه خپل خنجر را وويست ، دهغې تر مخه يو سړې ولاړ و ، ښځې پر هغې وار وکړ خو هغه په ځنګ شو ، خو سړې پرې داسې وار و کړ چې دهغه خنجر دښځې په يوه اړخ کې و لګيد ، کله چې هغه سړې وکتل چې له دې سره هم خنجر دې نو ځان ئې وروسته کړ . لمړنی ښځې په آصفې باندې حمله وکړه او خپل خنجر ئې دهغې د اوږې او غاړې تر منځ ور ننويست ، هغې ښځې په زوره چيغه کړه ، هغه سړې يوځل بيا په دغه لمړنی ښځې باندې وار وکړ او دا بله ئې د غورځيدو څخه و ژغورله، کله چې لمړنی په دويمې باندې بيا وار کاوه نوهغه سړې دهغې ښځې لاس په خپل لاس کې ونيو او پرې نه ښوده چې په آصفې باندې خنجر ور ونښلي.

آصفه پريوتې وه او د البرق لمړنی ښځې هم ژور ټپ اخستې و ، چې دتشې څخه تر ګيډې پورې رسيده. هغه سړې اصفه پورته کړه او چېرې ئې يوړه ، د علي بن سفيان دوه جاسوسانو دا ټوله لوبه د يوه پټ ځايه ننداره کوله ، هغوی په دې نه پوهيدل چې دا دويمه ښځه به څوک وي ، عمر دهغه سړې پسې وروسته وروسته ولاړ چې آصفه ئې له ځانه سره اخستې وه، هغه هماغه ځاې ته ولاړل چېرته به چې پخوا تلل ، عمر دهمغه ځايه څخه نيغ علي بن سفيان ته د خبر ورکولو له پاره را ستون شو ، آذر ولاړ او دهمدې زخمې ښځې تر ځنګ کښيناست ، خو د شا له خوا پرې چا د خنجر درې پر لپسې وارونه وکړل او حمله کونکې دهغې ځايه خپلې پښې سپکې کړې. آذر هم هملته بې هوشه پريوت ،

مانښام د البرق د لمړنی ښځې او د آذر روغتيائې حالت مخ په خرابيدو شول ، جراحانو او ډاکټرانو ډيرې هڅې وکړې خو هغوی ژوندې پاته نه شول ، د البرق ښځې علي بن سفيان ته ويلې و «چې ره خپل خاوند ځارولې شم ، خو د مذهب ،قوم ، او هيواد ځارول نه شم زغملې ،» او هغې دخپل قوم اومذهب په نوم ځان ځار کړ.

دسلطان ايوبي په حکم باندې خادم الدين البرق په زندان کې و لويد ، هغه د ډاډ ورکولو ټولې هڅې و ازمايلې او وئې ويل چې دا جرم ورڅخه په ناپوهی کې تر سره شوې ، هغه د هغو جاسوسانو په لاسو کې د لوبې اله ګرځيدلې وه. خو دا ګرګنده شوې وه چې هغه دحکومت او فوځ رازونه د شرابو او ښکلې نجلی په نشې کې دښمن ته سپارلې دي ، سلطان ايوبي د وژلو جرم ببنلاې شو. د شرابو د څښلو او د ښمن ته د راز ورکولو جرم ئې نه شو ببنلاې؟

په دې ورځ ئې د آصفې څخه کوم بيان وا نه شو خستلاې ، پر هغې د ټپ اغيز دومره نه و لکه د ويرې او خوف اغيز چې پرې و . هغه جاسوسه ښځه وه ، هغې ته د شهزادګيو په بڼه کې د شهزادګانو څخه د راز د اخستلو روزنه ورکړل شوې وه . هغې کله هم دا فکر نه وکړې چې دداسې يوه حال سره به مخ کيږي. هغه ډيره زياته له دې ويريده ، چې هغه د مسلمانانو بندی ده اومسلمانان به ئې ډيره خرابه کړي . هغه ته داو يره هم تر سترګو کيده چې مسلمانان به دهغې د ټپونو علاج و نه کړي ، هغې دخپلې دغه ويرې په هکله هر هغه چاته ويل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې اړخ ته به ورتلل ، هغې به د يوه ويريدلي کوچني په څير ژړل ، علي بن سفيان هغه ته ډيره زياته ډاډ ګيرنه ورکړه ، او ورته ئې وويل چې له دې سره به همغسې سلوک کيږی لکه د يوې مسلماني تېپې شوی ښځې سره چې کيږی. خو هغې يو غږ کاوه چې غواړی د سلطان ايوبي سره ووينې ، او دهغې دا غوښتنه تر سلطان ايوبي پورې ور ورسيدله ، سلطان ايوبي ورغې او دهغې پر سر ئې لاس کښيښود او ورته ئې وويل ، چې نومورې ورته په اوسني زخمي حال کې لکه دلور په څير ښکاري.

«ما اوريدلي دي چې سلطان ايوبي د توري نه بلکه د زړه پادشاه دې» آصفې ورته په ژړغوني توګه وويل« دومره ستر پادشاه چې د عيسايانو ټول پادشاهان ئې دماتې ورکولو له پاره سره يو شوی دي ، که يوې مجبورې ښځې ته دوکه ورکوې نو دهغه د شان سره به ښه ښکاره نه شي ،... دې خلکو ته ووايه چې ماته سمدستي زهر را کړې ، زه په داسې حال کې هيڅ ډول اذيت نه شم زغملای.»

«که ووائې نو زه به هر وخت ستا پوښتنې ته راشم » سلطان ايوبي ورته وويل ، «زه تا ته دوکه هم نه درکوم ، آذيت هم نه درکوم خو ته به هم وعده کوې چې ماته به دوکه نه راکوې، ستا روغتيا نوره هم ښه کيږي ، ډاکټران راته ډاډ را کړې چې ستا روغتيائي حالت مخ په ښه کيدو دې،که چيرې تاته مو اذيت درکولای نو مونږ به په همدې حال کې په زندان کې ور اچولې وائې. ستا په زخم به مومالګې ور شيندلې ، او تا به په چيغو چيغو سره په خپل جرم باندې اقرار کړې وای او د خپلو ملګرو ، اړوندو کسانو او ډلې څخه به دې پرده پورته کړې وای، خو مونږ د يوې ښځې سره داسې سلوک نه کوو . د البرق ښځه مړه شوی خو مونږ ستا د ژوندي پاته کيدو پوره پوره هڅه کوو.»

«که زه ښه شم نو تاسې به له ماسره څه ډول سلوک وکړئ؟» هغې ترې و پو ښتل ،

« دلته به کوم نارينه تا ته په هغه سترګو و نه ويني چې ته يوه ځوانه او ښکلې ښايسته پيغله ئې » سلطان ايوبي ورته ووېلې ،«ته دا انديښنه له زړه څخه وکاږه ، ستا سره به همغسې سلوک کيږی چې اسلامي قانون ئې اجازه راکوي.»

د هغه کور تلاشي هم وشوه چيرې به چې آصفه د راپور ورکولو په خاطر ور تلله ، هغه د هيچا کور نه و ، د جاسوسانو د ناستې ځای و . همله دننه د آسونو د دريدو ځای و . دوی همله پنځه نور کسان هم نيولې و.هغوی پنځو او هغو نورو څلور چې د تعقيب په وخت کې نيول شوی و ټولو په خپل جرم باندې داعتراف کولو څخه ډډه وکړه ، اخر ئې هغوی هغه تا خانې ته يوړه چيرې چې تيرو هم خبرې کولې ، هغه زاړه دا ومنله چې هغه د انجلۍ د يوې داني په څير د البرق په ستونی کې ورځای کړې وه، او بيائې ټوله هغه ډرامه چې د البرق را نښلولو له پاره ئې لوبولې وه بيان کړه.نورو هم د ډيرو رازونو څخه پردې پورته کړې.او دهغې کور راز ئې هم بربنډ کړ کوم ته چې د ښار خلک په ډېر درنښت ګوري. په دې کور کې ئې ډيرې نجونې ساتلې وې چې ددوو موخو د تر لاسه کولو له پاره ئې استعمالولې. اول د ځارکښنې له پاره او دويم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو د لوړو کورنیو د ځوانانو د اخلاقو دخرابولو په خاطر ، دا کور د جاسوسانو او تخریب کارانو له پاره لویه هډه وه.

هغې جاسوسانو دا هم وویلې چې دسلطان ایوبي په فوځ کې هغوی خپل خلک ورننویستي دي او همغوی د فوځ تر منځ د جواری کولو عادت را پیدا کړې دي. هغوی د بیلل شوی قمار په خاطر یو دبل پیسې پټوي او غلاوې کوي ، هغوی په ښارونو کې د پنځه سوو ښځه ډیرې فاحشې ښځې خپرې کړې دي. دهغوی دنده دا ده چې ځوانان په خپلو لومو کې را ونښلوي او د عیاشۍ په لار و ئې روان کړي. د جواری پټ مرکزونه هم پرانستل شوی دي ، دې خلکو دا هم وویل چې همدا اوس هم هغه سوډانیان چې د فوځ څخه ویستل شوی دي ، د سلطان پر خلاف را پارول کیږی، تر ټولو مهمه خبره دا وه چې هغوی د شپږو داسې لوړ پوړو مسلمانانو نومونه واخستل چې د سلطان ایوبي په حکومت کې ئې ډیر مهم ځایونه درلودل، خو دسلطان پر خلاف ئې کار کاوه ،اصفه یوه عیسائې پیغله وه چې اصلي نوم ئې «فلیمنګو» و ، هغه په اصل کې یوناني نژاده وه، او هغې ته د دبارلس کالو د عمر را په دې خوا روزنه ورکول کیده. هغې ته د مصریانو ژبه ورزده کړل شوی وه. اود هغې په څیر په سلونو نجونې د مسلمانانو سیمو ته دهمدې موخو له پاره په پټه توګه استول شوی دي.

دې ښځې هم څه پټ نه کړل ، پنځلس ورځې وروسته دهغې ټپونه جوړ شوی و. خو کله چې ورته وویل شول چې هغې ته دمرګ سزا ورکول کیږي نو هغې وویل « زه په خوشحالۍ سره دا سزا منم ، ما د صلیب مشن پوره کړې دې»---او هغه جلاد ته ور وسپارل شوه.

نورو ته لا تر اوسه پورې اړتیا وه ، دهغوی له اړخه په ویل شوو نښو نښانو څونور کسان هم و نیول شول ، چې یو څو ئې مسلمانان هم ول ، هغوی ټولو ته د مرګ سزا واوروله شوه، خو البرق ته د سلو لښتو سزا ورکړل شوه مګر هغه و نه شوه زغملاې او هملته ومړ. دهغې کوچنیان د سلطان ایوبي له خوا تر روزنې لاندې ونیول شول، هغوی ته ئې ددولتي خزانې څخه خدمت ګاران ورکړل ، هغوی د البرق بچیان نه و بلکې د یوې مجاهدې بچیان و او دهغوی مور په مذهب ، هیواد ، قوم او ولس ځان شهید کړې و.

*****(۴۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخلافت مانۍ یا د بدکارۍ هډه

---

## دخلیفه د معشوقې "اُمّ عراره» تښتول او د خلافت بحران (۵)

د( ۱۱۷۱ ) زیږدېزکال د جون د میاشتې د ګرمۍ سوځنده ورځ وه چې د العاضد خلیفه پیغام وړونکي صلاح الدین ایوبي ته دا خبر راوړ چې خلیفه خپل ځان ته ورغوښتي دي.دې خبر په سلطان ایوبي ښه اغیزو نه کړ او قاصد ته ئې وویل چې « خلیفه ته د سلام او درنښت وروسته ووایه چې که چېرې ډېر اړین کار وي نو زه حاضر یم چې هلته درشم ، خو اوس هیڅ فرصت نه لرم ، هغه ته دا هم ووایه چې هغه دندې چې زما تر مخ د اجراء له پاره پرتې دي ، دهغه تر سره کول د حضور په دربار کې د حاضریدو څخه ډېرې اړینې دي»

قاصد ولاړ او سلطان ایوبي په خپله خونه کې نا قراره اوښت را اوښت. دا د فاطمي خلافت دوران و او په مصر کې ددې خلافت خلیفه العاضد و ، په هغه وخت کې به خلیفه پادشاه ګڼل کیده ، د جمعې د لمانځه په خطبو کې به خطیبانو د خدایﷻ او دهغې د رسولﷺ وروسته په هر جومات کې د خلیفه نوم اخست. د عیش او عشرت پرته ددې خلکو تر مخ بل کار هم نه و .که چېرې د نور الدین زنګي او سلطان ایوبي په څېر شخصیتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته نه وای، او یا دوی دواړه هم د نورو وزیرانو او امرانو په څیر غوړه مالي او ایمان پلورنکي وای ،نو دهغې وخت خلفاؤ به اسلامي سلطنت لا د پخوا څخه پلورلې وای ، العاضد هم د همداسي خلفاؤ څخه یو و .
کله چي سلطان ایوبي مصر ته د والي په څیر راغي ،نو په همغه لمړیو کي خلیفه څو څو ځله هغه خپل ځان ته ور وغوښت ، خو سلطان په دې پو هیده چي خلیفه یواځي په دې خاطر دي هلته ورغواړي چي هغه ته دا په یاد کړي چي سلطان هغه نه ، بلکه پخپله خلیفه دي. هغه د سلطان ایوبي ډیر درنښت کاوه ، هغه به ئې له خپله ځانه سره کښیناوه ، خو دهغې دخبرو لهجه او وینا به امرانه وه. هغه چي کله هم سلطان ایوبي ځانته رابللي پرته له کومي موخې ئې بیرته رخصتاوه. د روم په بحیره کې د صلیبیانو لښکرو ته د ماتي ورکولو او د سوډاني فوځ د بغاوت او پاڅون د ټکولو وروسته به سلطان ایوبي خلیفه ته خپل ورتګ څنډني کاوه.

سلطان ایوبي به چي کوم شان و شوکت او دبدبه د خلیفه په دربار کې کتله نو دهغه په سیني کې به ئې د اور لمبې را پورته کولې ، د خلیفه په محل کې د زرو او جواهرو داسې یو دریاب و چې د خوراک څښاک لوښي ئې هم په خپلې غیږ کې را نیولي و. د خوراک څښاک څخه علاوه د شرابو صراحي او پیالې هم د زرو ، جواهرو او هیرو څخه جوړې شوې وې .د هغه حرم سراې به تل د ښکلو نجونو څخه ډک و. په دوی کې ګڼ شمیر مراکشي ، مصري ، سوډاني او ترکي نجونو شتون درلود او تر څنګ ئې هلته یو شمیر عیسایي او یهودي نجوني هم ځاي په ځاي شوې وې. دا دهغه قوم خلیفه (خلیفة المسلمین ) و چي باید ټولې نړۍ ته ئې د الله ج پیغام ور رسولي وای ، همدا راز هغه د کفارو د یو ستر جنګي ځواک سره مخ و . د همدې خلیفه یو څو نورو خبرو هم سلطان ایوبي ته د زړه رنځ پیدا کړې و ، په هغو کې یو داوه چې د خلیفه ځانګړې ساتونکې ډله د سوډاني حبشیانو او قبایلو څخه جوړه شوې وه چي دهغوی وفاداري ډیره شکمنه انګیرل کیده. او بل دا چي د خلیفه په دربار کې د سوډان د باغي او شړل شوی فوځ قومندانان او نائب سالاران را ټول او د ځانګړې اهمیت خاوندان ګڼل کیده.

د صلاح الدین ایوبي د لاربښووني په اساس علي بن سفیان دخلافت په ماڼۍ کې د نوکرانو او نورو کارکونکو په لباس کې خپل استخباراتي وګړي هم ور ننویستي و. ددې تر څنګ هغه د حرم سرای ددوو کارکونکو ښځو باور هم تر لاسه کړې وا و هغوی ته ئې اړیني دندې سپارلې وې. دهمدې استخباراتي شبکې د راپورونو په بنسټ خلیفه تر ډیره ځایه د همدې سوډاني قومندانانو تر اغیز لاندې و. په دې وخت کې دخلیفه عمر هم نژدې شپیته یا پنځه شپیته کاله و خو د ښکلو اوښایسته نجونو په محفل کې به خوشحاله اوسیده ، دهغه د همدې کمزورتیا څخه به د صلاح الدین ایوبي مخالفینو ګټه اخسته ، د (۱۱۷۱ ) زیږدیز کال په دویمه یا دریمه میاشت د خلیفه په حرم سرای کې یوه بله ښکلې اوښایسته نجلۍ هم ور زیاته کړل شوې وه. د حرم د استخباراتي شبکو اړوندو ښځینه غړو علي بن سفیان ته خبر ورکړ چي حرم ته دري څلور کسان په عربي بڼه کې راغلي وا و دغه نجلۍ ئې له ځانه سره راوړې وه ، دهغوی سره زیات شمیر تحفې هم وې، نجلۍ ئې هم د تحفې په څیر دلته راوړې وه چې د ("أمّ عراره» ) یا د عراره د مور په نامه ئې یاده کړې ، په هغې کې یو ښه والې دا و چي خلیفه العاضد ئې دخپل جادو تر اغیز لاندې راوستې و ،ډیره هوښیاره ، زیرکه او چالاکه نجلۍ وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان ايوبي د خلافت ددې ټولو خرافاتو په هکله پوره مالومات درلود ، خو په حکومت ئې دومره زور نه درلود چې د خليفه ددې عياشيو او فساد دپای ته د رسولو پر خلاف کوم قدم پورته کړي ، دده نه مخته هر امير او والي به د خليفه تر مخه ټيټيده ، ځکه د مصر خاوره د پاچونو او بغاوتونو ځمکه ګڼل کيده. هلته خو اسلامي خلافت شتون درلود خو د اسلام بيرغ لاندې را پريوتي و. فوځ به د اسلامي سلطنت و ، خو د محلي حکومتونو ټول امورات به د سوډاني فوځ د سالارانو په لاس کې و، چې دهغوی ټول اړيکې د صليبيانو سره و ، دا همغوي شوني کړه چې عيسيان او صليبيان په قاهره او سکندريه کې ميشت شي. په هغوی کې جاسوسان هم ول، که څه هم صلاح الدين ايوبي خو سوډاني فوځ په خپله لار روان کړي و مګر لا تر اوسه ئې يو څو جنرالانو شتون درلود او ددوی شتون هر وخت د خطر زنګ واهه ،ځکه هغوی اوس د خلافت په مانۍ کې ډير زيات اغيز پيدا کړي و.

سلطان ايوبي په دې خاطر د خلافت د عياشۍ هډې ته لاس نه وروړ چې يو شمير خلک د خلافت په هکله ډير احساساتي او يو څه نورئې ډير سخت ملاتړي ول. په دې ډلو کې د غوره مالو خلکو ډيرکې و ، په دې ډيرکيو کې يو شمير لوړپوړي چارواکي هم ول چې د مصر د امارت د نيولو په فکر کې ډوب و. خو دا مرتبه يوازې صلاح الدين ايوبي ته ورکړل شوی وه. سلطان ايوبي په دغه حالاتو کې ، چې له يوه اړخه هيواد د جاسوسانو او وطن پلورونکو غدارانو څخه ډک و او د بله اړخه د صليبيانو د ځوابي يرغل ګواښ هم په خپل ځاې شتون درلود، نه غوښتل دغه لوړپوړي او کم پوړي چارواکي ، چې دخلافت په دربار کې پالل شوی و ، د خپل ځان دښمنان و ګرځوي. خو د(۱۱۷۱) زيږديز کال د جون د مياشتې په يوي سوځونکې ورځ ، کله چې صلاح الدين ايوبي د خليفه له خوا دربار ته ور وبلل شو او هغه هتله د ورتګ څخه ډه ډه وکړه نو خپل دروازه چې ته ئې وويل چې «علي بن سفيان ، بهاوالدين شدّاد ، عيسى الهکاری او الناصر ماته ډير ژر را واستوه».

*****(۴۲)

دا څلور واړه د سلطان ايوبي نژدې ملاتړي او باوري مشاورين ول ، سلطان ايوبي هغوی ته وويلي « همدا اوس اوس د خليفه قاصد راغلي و تر څو زه د هغه د کتلو له پاره هلته ولاړ شم ، خو ما هلته د تللو څخه ډه ډه وکړه ، ماتاسو ددې خبرې څخه د خبرولو او همدا راز ستاسو د مشورو د اخستلو په خاطر دلته را بللي ياست ، او دا بايد درته په ډاګه کړم چې زه د جمعې د لمانځه دخطبې څخه د خليفه نوم لرې کول غواړم.

«دا کار به د وخته ډير دمخه وي» شدّاد ورته وويلي « خلک خليفه د خپل پيغمبر په څير پيژني ، په دې اساس به د خلکو آند زمونږ پر خلاف شي.»

«تر اوسه خو ئې خلک د پيغمبر په څير پيژني ،» سلطان ايوبي ورته وويل « د لږ څه وخت په تيريدو سره به هغه د خداې په څير هم و مني ، هغه ته د خدايي او پيغمبری مرتبه ورکونکې همدا مونږ پخپله يو چې په خطبې کې ئې نوم د الله ج او پيغمبر ص وروسته يادوو ، څنګه عيسى فقيه ستا انګيرنه څه ډول ده ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«زه همدا ستا نظر تائيدوم ، » عيسی الهکاري فقيه ورته په ځواب کې وويل « هيڅ مسلمان به په خطبې کې د کوم انسان نوم اخستل و نه زغمي ، او بياداسې انسان چې په شرابو ، ښځو او هر ډول نورو ګناهونو کې را نغښتې وي. دا ځانته خبره ده چې د پيړيو پيړيو را هيسې خلفاؤ ته د پيغمبرانو مرتبه ورکړل شوې ده. څرنګه چې زه د ښاري او مذهبي امورو دنده په غاړه لرم ، په دې خاطر دا نه شم ويلای، چې د سياسي او نظامي اړخه به ستا د پريکړې په هکله څه ډول عکس العمل و ښوول شي. »

«عکس العمل به ډير سخت و ي» بهاؤالدين شدّاد ورته وويل « او زمونږ پر خلاف به وي ، خو ددې سره سره بيا هم زه دا مشوره درکوم چې دې بدعت يا(په دين کې نوښت ) ته بايد د پای ټکې کښيښول شي. او يا خليفه په سمه لار روان شي او د رينښتوني مسلمان په حيث د خلکو مخته راشي چې ماته دا کار شونې نه ښکاري»

«زما څخه به ډير د خلکو په رايه او آند بل څوک ښه وپوهيږي ؟»علي بن سفيان، چې د استخباراتي شبکې رئيس و او په ټول هيواد کې ئې د همدې شبکې جال خپور کړې و ، ورته وويل « عامو وګړو ترا وسه د خليفه شکل او صورت هم نه دې کتلې ، هغوی د العاضد نوم نه ، بلکه د سلطان ايوبي نوم پيژني ، زما د ادارې د غړو خبر لوڅو ماته خبر را کړې چې ستا د امارت په دوه کلنی دوره کې دخلکو داسې اړتياوې پوره شوی دي چې دهغوی د پوره کولو په هکله هغوی کله فکر هم نه کاوه. پخوا تر دې په ښارونو کې داسې مطب يا(د بوټو څخه د جوړو شوو دارو ګانو ډاکټير ) نه و چې ناروغان ورشي او علاج ئې وکړل شي. د معمولي معمولي ناروغتياو په پيښيدو سره به خلک د مرګ سره مخکيدل ، اوس سرکاري شفاخانې جوړې شوی دي ،مدرسې او مکتبونه هم پرانستل شوی دي ،د تاجرانو او دوکاندارانو د لوټولو تيرې هم پای ته رسيدلي دي. جرايم هم را کم شوی ، او اوس خلک خپل شکايتونه او عرايض تاته نيغ په نيغه را رسوي ، ستا د راتګ تر مخه به، خلکو د دولتي مامورينو او عسکري وګړو څخه ويره احساسوله ، اوس ورته تا دهغوی حقوق ور ښوولي دي ،او هغوی هم خپل ځانونه د همدې هيواد او ملت غړي ګڼي ، هغوی ته خو دخلافت له اړخه د ظلم ، تيري او نا انصافۍ پرته نور څه نه و تر سترګو شوی، خو تا ورته عدل ، انصاف او عزت ور وبانښه ، زه په ډاډمن زړه سره ويلای شم چې قوم به دخلافت پر ځای د امارت پريکړې و مني.»

« ما به قوم او ولس ته د هغوی عزت او وقار ، يا عدل او انصاف ورکړې وي او يا نه ، »سلطان ايوبي ورته وويل « اويا به مې هغوی ته دهغوی حقوق ورکړي وي او يا نه ، زه نه پو هيږم ، خو زه نه غواړم چې ولس او قوم ته يو ډير عبث او بې ګټې تګلاره پريږدم ، زه خپل قوم او ولس ته شرک او کفر پريښول نه غواړم ، په دې خاطر اړينه ده چې په دين کې دا نوښتونه(بدعتونه )، چې دمذهب برخه ګرځيدلې ، مات او د کثافاتو په ټوکرۍ کې ئې ور و غورځوو. که چيرې همدا رواج ژوندې پاته شي نو دا به هم شوني وي چې سبا بله ورځ زه هم خپل نوم په خطبې کې ور ځای کړم. د ډيوی څخه ډيوه بليږي ، خو زه غواړم دا ډيوه، چې د شرک رڼا خپروي، مړه کړم. تاسې يو هيږئ چې دخلافت قصر اوس د بدکارۍ هډه ګرځيدلې ده ،او خليفه هغه شپه هم په شرابو او د حرم په ښايسته وکې بدمسته و په کومه شپه چې سوډاني فوځ پر مونږ بريد کړې و. که چيرې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت کې زما چال دناکامۍ سره مخ شوی واې نو د مصر ځخه به د اسلام بیرغ د تل له پاره راپریوتي واي ، هغه وخت چې د الله ج سپاهیان اود حق د لارې مجاهدین شهیدا ن کیدل ، په هغه وخت کې هم خلیفه په شرابو کې بد مسته و . ما د خپلې راسپارل شوې دندې په مطابق او د خلیفه د احکامو په اساس هغه ته ددې خبر ورکولو په خاطر ورغلم ترڅو و یو هیږي چې په سلطنت ئې څه ډول یو سترتوپان راغلې دې ، او زمونږ مجاهد فوځ په کومې بهادرۍ سره د هغې توپان څپې و ځپلې ، خو هغه د مست سندړا په څیر سر ښکته کړ او وئې ویل « شاباش—مونږ ډیر خوښ شو ، مونږ به ستا پلارته د ځانګړې قاصد په لاس د مبارکۍ پیغام او انعامونه ور ولیږو » خو ما ورته وویل چې « اې د مسلمانانو خلیفه !ما خپله دنده تر سره کړې، ما خپله دنده د خپل پلار د خوښې په خاطر نه ، بلکه د الله ج او د هغې د رسول ص د خوښې په خاطر تر سره کړې ده.»

هغه عمر تیري خلیفه وویل « صلاح الدینه ! ته تر اوسه کوچنې ئې ،خو کار دې د ستر خلکو تر سره کړې دې......»

هغه له ماسره داسې خبرې وکړې لکه زه ئې چې غلام او د خپل حکم تابع ګڼلې وم ، دا بې دینه انسان د مسلمانانو د خزانې له پاره د سپین فیل په څیر ګرځیدلې دې ،» په همدې وخت کې سلطان ایوبي یو لیک را وویست او ټولو خلکو ته ئې ور وښود او وئې ویل « شپږ اوه ورځې کیږې چې سلطان زنګي ماته د اپیغام را استولې دې او لیکلي ئې دي چې خلافت په درې برخو ویشل شوی دې د بغداد د مرکزي خلاف اغیز په خپلو دوارو لاس لاندې خلفاؤ باندې له منځه تللې دې ، ته دې ته متوجه اوسه چې د مصر خلیفه خپلواکه حاکم و نه ګرځي ، هغه د سوډانیانو او صلیبیانو سره هم د خپلې واکمنۍ په خاطر د سازشونو ځخه دریغ نه کوي. زه اوس په همدې فکر کې یم چې خلافت یواځې په بغداد کې پاته شي او دا نور لاس لاندې خلفاء له منځه ولاړ شي ، خو زه ویریږم چې دې خلکو به زمونږ پر خلاف سازشونه کړې و ي که چیرې تاسې د مصر دخلیفه پادشاهي د هغې په همغه حرم کې سره را و نغاړئ ، نو زه به تاسې ته فوځې او مالي کومک درکړم. په دې لاره کې محتاط قدم اخستلو ته اړتیا ده ،ځکه چې دمصر کورني حالات کړکیچن دي ، په مصر کې به یو پاځون بل هم کیږي ، په دې اساس سوډانیان د کلکې څارنې لاندې و ساتئ ،»

سلطان ایوبي لیک ولوست ،او وئې ویل « په دې کې هیڅ شک نه شته چې خلافت اوس پخپله سپین فیل ګرځیدلې دې. ایا تاسې نه وینئ ؟،کله چې خلیفه العاضد د تفریح او سیل په خاطر بیرون را وځي نو تر نیمائې زیات فوځ دهغې د خوندي ساتنې په خاطر هري لورې ته خپریږي ؟ خلک مجبورول کیږي چې د خلیفه تر مخه قالینې او ښایسته ځادرونه خپاره او هوار کړي ،د خلیفه ساتونکې ډله د خلیفه تر مخه خلکو ته اخطارونه ورکوي او محبوروي ئې ،ترڅو دهغوی ځوانې ښځې اوښایسته نجونې په خلیفه باندې د ګُلونو پاښې و شیندي، دهغې په دغسې دورو باندې د ولس او قوم امانتونه او خزانې داسې شیندل کیږی چې بیا د اسلامي سلطنت د دفاع او پراختیا له پاره او د قوم او ولس د نیکبختۍ او هوسائې له پاره هیڅ نه پاته کیږي. ددې ترځنګ مونږ باید په دې اړخ هم غور وکړو او مصري خلکو ته ، او همدا راز ددې ځاې اوسیدونکو عیسایانو او نور غیر مسلمانو ډلو ټپلو ته دا ثابت کړو چې اسلام د شهنشاهیت مذهب نه دې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دعربو د دښتو ، څرونکو ، دهقانانو او .....ريښتونو پاکو خلکو مذهب دي او دا مذهب انسان ته د انسانيت هغه درجه ورکوي چې الله ج ته ډيره ارزښتناکه ده»

«دا هم شوني ده چې د خليفه پرخلاف قدم پورته کول به ستا پر خلاف ددې بهتان له پاره لار پرانځي چې ته غواړې د خليفه پر ځاې پخپله حاکم و ګرځې.» شدّاد ورته وويل « تل د ريښتيا مخالفت شوی او کيږي» سلطان ايوبي ورته وويل« نن د درواغو او باطل ريښې په دې خاطر کلکې دي چې د مخالفت او مخالفانه کړنو څخه خلک ويريږي او د ريښتيا ويل ئې پرې ايښې دي ، د حق او ريښتيا اواز په سينو کې پټ پاته شوې دې ،د شاهانه دور او شهنشاهيّت غلط کړنچار د خلکو په زړونو کې هغه وقار او عزت ته د پاې تکې ايښی دې چې د قوم او ولس له پاره د امتياز نښه ګڼل کيده. عوام وړې ساتل کيږي اوپر هغوی باندې په زور سره خپله حکمراني چلول او هغوی د غلامۍ په ځنځيرونو کې تړل کيږي په داسې حال کې چې زمونږ رسول اکرم ص د غلامۍ ځنځيرونه لا د پخوا څخه ټوټې ټوټې کړي دي. زمونږ پادشاهانو قوم او ولس د ذلت او خوارۍ هغې کندې ته وړې چې دغه پادشاهان د خپلو عياشيو په خاطر د صليبيانو سره دوستانه اړيکې پالي ، دهغوی څخه نقدې کومکونه غواړي او صليبيان سوکه سوکه په اسلامي سلطنت باندې تسلط پيدا کوي...... شدّاده ! تا د مخالفت خبره وکړه ، خو مونږ ته د مخالفت څخه ويره نه ده په کار.»

«ډير دروند او محترم اميره !» د سلطان ايوبي نائب سالار الناصر ورته وويل « مونږ د مخالفت څخه ويره نه لرو ، تاسې مونږ د جنګ په ډګر کې ازميښت کړي يو ، مونږ په هغه وخت کې هم نه يو ويريدلي چې د سختې محاصرې په حال کې هم ددښمن په خلاف جنګيدلو ،مونږ د لوږې او تندې په حال کې هم جنګيدلي يو ، مونږ د صليبيانو توپان په همغه وخت کې هم په شا تمبولې و چې زمونږ شميره ډيره کمه وه ، خو زه تا ته همستا يوه خبره يادول غواړم ، تا يو ځل ويلي و ، چې که چيرې يرغل او بريد د بهر څخه وي مونږ کولاې شو هغه د لږ شمير مجاهدينو په واسطه هم په شا و تمبوو ،خو هغه بريد او يرغل چې د کور دننه را پيدا کيږي او حمله کونکې د خپلې کورنۍ او قوم وګړي وي نو مونږ يو ځل فکر کوو او حيران پاته کيږو او له ځانه سره وايو : چې ای ذوالجلال و الاکرام ربه !دا څه پيښ شول، درونده اميره ! کله چې د يوه هيواد حاکم په خپله دهغه هيواد دښمن و ګرځي نو ستا توره به ستا د توري په پوخ کې تړپيږې خو د بيرون را ويستلو جوګه به نه وي.»

«الناصره !تا ښه خبره وکړه » سلطان ايوبي ورته وويل«زما توره همدا اوس هم په تيکې کې تړپيږي ، دا نه غواړي د خپلو حکامو په مقابل کې بيرون را ووځي ، زما په زړه کې تل د خپلو حاکمانو له پاره درنښت شتون لري.د يوه هيواد حکمران د هغه هيواد د عزت او وقار نښه ګڼل کيږي ، خو تاسې ټول فکر و کړئ چې زمونږ په حکمرانانو کې څومره عزت او څومره وقار پاته شوې دې ، زه يوائې د خليفه العاضد په هکله نه ګړيږم ، دعلی بن سفيان څخه و پوښتئ ، دهغې شبکه په موصل ، حلب ، دمشق ، مکه او مدينه منوره کې فعاله ده او کوم خبرونه او را پورونه چې هغوی راوړي هغه ددې ګواهي ورکوي چې دخلافت د عياشۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعیش پالنې په اساس ، هر چېرې چې کوم امیر یا حاکم شتون لري ، هغه د همغه ځای خپل واکې حاکم ګرځیدلې دې ، اسلامي سلطنت په ټوټو ټوټو ويشل شوي دې ، د خلافت مرکز دومره کمزورې شوې دې چې دهغې له مخې امران او حاکمان د خپلو ذاتي سیاستونو په لوبو کې را نغښتي دي ، زه ددې ټولو ګواښونو څخه بې خبره نه یم ،او دا هم را ته ګرځنده ده چې کله هم مونږ د قوم او ولس دا خوره وره شیرازه بیرته را یوځای کوو نو دا به نوره هم د خپریدو هڅه کوي ،زمونږ ترمخ به د ستونزو غرونه و دریږي ، خو زه ویره نه لرم ، او زه دا شوني ګڼم چې تاسې به هم دداسې حالاتو څخه و نه ویریږئ ، زه به ستاسو د مشورو احترام کوم ، خو زه به د خلیفه په بلنه هغه وخت هلته ورځم چې کوم اړین کار شتون ولري ، خو په اوسني وخت کې زه د خطبې څخه د خلیفه نوم او یاد باسم.»

ټولو د سلطان ایوبي ددې کار ملاتړ او تائید وکړ ، او هغه ته ئې دخپله اړخه دپوره بسپنې او هر ډول ځان ځارنې په ورکولو سره ډاډ ورکړ.

په دغه وخت کې خلیفه العاضد په یوه ځانګړې خونه کې ناست و چې قاصد ورته وویل چې صلاح الدین ایوبي ورته ویلي چې که چېرې کوم اړین او ضروري کار وي نو زه را تلای شم او که نه زه پخپله ډیر مشغول یم. خلیفه د قهره سور اور وګرځید ، هغه قاصد ته وویل چې رجب راته را ولیږه، رجب د خلیفه د ساتونکې ډلې قومندان و .د نائب سالار رتبه ئې درلوده او د مصر د فوځ لوړ پوړې چارواکې و ، هغه ته ئې د خلیفه د ساتونکو د ډلې قومنداني ور سپارلې وه. هغه د خلیفه د ساتونکو په ډله کې په ګوتو را ټول کړي سوډانیان اخستي وو ، هغه د سلطان ایوبي د مخالفینو څخه او د خلیفه د غوره مالو څخه یو ه تکړه چارواکې و.

په دغه وخت کې چې قاصد د صلاح الدین ایوبي ځواب خلیفه ته وراندې کاوه نو د خلیفه په ځانګړې خونه کې "أمّ عراره» هم ناسته وه ، هغې خلیفه ته وویلې «صلاح الدین ایوبي ستا نوکر دې –تا هغه دومره و نازاوه چې اوس دې په سر را خیژي ، ولې هغه دکاره نه ګوښه کوې ؟ او یا ولې کوم سپاهي نه وراستوې چې لاس تړلې ئې ستا دربار ته راولي ؟»

«په دې خاطر چې دداسې کار کولو پایلې به ډیرې ښې نه وي ،» خلیفه د قهر او غُصّې نه په ډک اواز سره وویل.« دهغه د لاس لاندې یو ځواکمن فوځ دې ، شوني ده چې هغه به زما پر خلاف فوځ په کار واچوي.» په همدې وخت کې رجب را ننوت ، هغه ښکته شو او فرشي سلام ئې وکړ. العاضد ورته د قهره په لړزیدلې اواز وویل ، « زه د همغه لمړیو څخه په دې پو هیدم ، چې دا کمبخته خپل سرې او سرکښه انسان دې ،... دا صلاح الدین ایوبي یادوم .....ما هغه را بللې و نو هغه د را تللو څخه په دې خاطر ډه ډه کړې چې که چېرې کو م ضروري او اړین کاروي نو را ځم او که نه ستا هلته درغوښتل ماته کومه مانا نه لري ، ځکه زما ترمخه ډیره کارونه دي چې باید تر سره ئې کړم.»

په غُصّې غُصّې سره په خبرو کولو کې د هغې ټوخې را وپارید او په خپل زړه ئې لاس کیښود ، رنګ ئې ژیړ شو ، او په یوه ډیر کمزوري اواز ئې وویل « هغه بدبخته ته دا احساس هم نشته ، چې زه یو رنځور انسان یم ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما زړه به یوه ورځ ما لهمنځه یوسي ، زما لهپاره غُصّهکیدل زیانمن دي ، ما د خپلې روغتیا غمشپیلي، او هغه ته خپل کارونه مهم دي.»

«تا هغه د څه لهپاره را بللې و ؟» رجب ترې و پو ښتل --«ماته حکم وکړئ» ما هغه پهدې خاطر رابللې و چې هغهتهدا احساس را پیدا شي چې دهغې پر سر یو حاکم هم شته» خلیفه پهداسې حال کې چې پهخپل زړه ئي لاس ایښی و پهلړزیدلي اواز وویل « همدا تا راتهویلي و چې صلاح الدین خپل واکه او خپل سرې شوې دې ، زه هغهبیا بیا دلتهرا بولم او هغه ته حکم کوم تر څو هغه خپلې پښې لاندې کیږدي ، دا اړینهنهده چې دکوم ضروري کار پهخاطر دې هغه زه دلته را وبولم»

«أمّ عراره» د شرابو پیالهد خلیفه پهشونډو کیښوله او ورته ئي وویل --«سل ځلهمې درته ویلي چې په غُصّه کیږه مه ، ستا د زړه او اعصابو لهپاره غُصّهزیانمنه ده.» هغې د یوه طلاې دبلې څخهنسواري رنګ څه سفوف را وویستل او د خلیفه پهخوله کې ئي ورواچول او د اوبو ګیلاس ئي ور پهخوله کړ. خلیفهدهغې په خورو ورو وریښمینو زلفو باندې لاس را ښکود او ورتهئې وویلې --«کهته نهوائې نو خداې خبر چې زما بهڅه حال و ، دهرچا سترګې زما په شتمنۍ او رتبې نښتی دي ، زما یوه ښځههم داسې نه شته چې زما سره ځانګړې مینه ولري ، یواځې تهزما له پاره اسماني فرښته ئې.» هغهنجلۍ نوره هم لهځانهسره را نژدې کړه او خپل لاسونهئې د هغې د ملا څخه را تاو کړل.

«اې د مسلمانانو خلیفه !» رجب ورته وویل -«تهډیرنرم زړه او نیک خویه انسان ئې ، همدا لامل دې چې سلطان ایوبي ستا تر مخه داسې ناز کوي. دا بهستا لهیاده وتلې وي چې هغهد عربي نسل څخهنهدي ، هغه ستا د نسل څخههمنه دې ، هغه پهختهه کُرد دې. زه حیران یم چې هغهتهدومره لویه رتبه چا ورکړېده ؟کهپه هغه کې کوم کمال وي نو هغه دادې چې هغه ښه عسکر دې ،د جنګ د ډګر استاد دې. هم په جنګ پوهیږې او هم په جنګولو. خو دا صفت دومره مهمنهدې چې هغهتهدې د مصر امارت ور وسپارل شي..... هغهد سوډان دومره ستراو دومره تجربهلرونکې فوځ داسې ژر لهمنځهیوړ لکه یو کوچنی چې یوه د لوبو اله ماتوي ، تاسې لږڅهفکر وکړئ، چې هغه وخت چې دلتهد سوډاني اوسیدونکو یو ځواکمن فوځ و ، د ناجي او اوروش په خیر سالاران ئي درلودل ، نو خلکو ستا د سپیو تر مخ هم سجدې کولې. د سوډاني لښکرو سالاران بهستا په دهلیزنو کې ولاړ ول ، خو اوس خبره دې ځاې ته را ورسیده چې ته خپل یو لاس لاندې کس را بولې نو هغه ستاسې مخ تهد راتلو څخهډډه کوي.»

«رجبه !» خلیفه پهناڅاپي توګه و غوریده او وئې ویل --«ته یو مجرم ئې !»

د رجب رنګ تک ژیړ شو ، "أمّ عراره» هم په یوه ټکان سره د خلیفه څخه ځان بیل کړ. خو العاضد یو ځل بیا هغه د مړونده و نیوله او دخپله ځانه سره ئي را نژدې کړه او ورته ئي پهډیره مینهوویل--« ایا ما تاسې و ویرولئ ؟ ما غوښتل رجب ته دا ووایم چې هغه ماته اوس ددوه کالهد تیریدو وروستهدا وائي چې زمونږ پخواني فوځ او د هغې سالاران نیک خلک وو ، او دصلاح الدین ایوبي پر لاسو جوړ شوې فوځ دخلافت له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاره ښه شګون نه لري، څنګه رجبه ! ایا داسې نه ده ؟ ته په دې خبره د پخوا څخه پوهېدې ؟ ولې اوس چپ ئې ؟اوس چې د مصر امیر خپلې رېښې ټینګې کړې دي ماته وائې چې هغه دخلافت باغي او سرکښه دې ؟»

«زه د حضور د قهر او غضب نه امان غواړم» رجب په ویریدلي اواز سره وویل --« سلطان ایوبي د بغداد د خلافت له اړخه ټاکل شوې و ، او دا کار به هم ستاسې په مشوره تر سره شوې وي. زه د خلافت د ټاکنې پر خلاف د خبرو کولو جرأت نه لرم. خو نن د مصر د امیر خپل سری او ستاسې په روغتیا مې د هغې د اغیز له مخې مجبوراً خپله خوله پرانسته ، زه د ډیره وخته را هیسې دا وینم چې صلاح الدین ایوبي ځو ځو ځله د حضور د امر نه سرغړونه کړې ده او دا زما دنده ده چې زه تا له خطرونو او ګواښونو څخه خبر او دهغوی د پایلو څخه دې خوندي و ساتم.»

په دې وخت کې "اُمّ عراره» د خلیفه د مخ سره خپل مخ ور یوځای کړې و او دهغه په ګوتو کې ئې خپلې ګوتې ور ننویستې وې او د کوچنیانو په څیر ئې ورسره لوبې کولې ، یو نا څاپه ئې د خلیفه د مخ په غومبرې باندې لاس کېښود او ترې وئې پوښتل چې « ایاطبیعت دې لږڅه را ښه شوې دې ؟»

خلیفه هم د هغې د زنې لاندې لاس کړ او ورته ئې وویل چې --« دوایي دومره اغیز نه وکړې لکه څومره چې ستا مینې او محبت پرما و کړ. تاته الله ج هغسې ښایست او جذبه در کړې چې زما د هر رګ له پاره اکسیر دې» هغه د اُمّ عراره سر په خپلې سینې باندې کېښود او ورته ئې وویل -«د قیامت په ورځ چې ما جنت ته لیږدوي ،نوزه به خداې ته ووایم چې زه بله حوره نه غواړم ماته یواځې "اُمّ عراره» را کړه.»

«"اُمّ عراره» یواځې ښایسته نه ده » رجب ورته وویل -« بلکه ډیره هو ښیاره او ذهینه هم ده ، د حضور حرم سراې د سازشونو مرکز ګرځیدلې دې خو دهغې په را تللو سره ټول را ولکه شوی دي، اوس هیڅوک دا جرأت نه شي کولاې چې کومه ښځه د کومې ښځې پر خلاف او یا د خلافت د مانۍ کوم کارکونکې څه خرابي را پیدا کړي.»

رجب د صلاح الدین ایوبي په هکله خبرې کولې ، "اُمّ عراره» ورته وویلې « ددې خبرې په غور سره واوره او صلاح الدین ایوبي ته درنه او درناکه سزا ورکړه.»

« تا څه ویل رجبه ؟» خلیفه متوجه شو او وئې وپو ښتل.

« ما غوښتل عرض کړم چې ما ددې ویرې څخه خپله ژبه بنده کړې وه چې تاسې ته به د مصر د امیر پر خلاف کومه خبره کول د زغم وړ نه وي» -رجب ورته وویل --« شونې ده چې صلاح الدین ایوبي به یو وړ سالار وي»

« زه د هغې په همدې صفت ډیر خوښ یم چې هغه د جنګ او جګړې په ډګر کې د اسلام بیرغ راپریوتو ته نه پریږدي، » خلیفه ورته وویل --« مونږ د سلطان ایوبي په څیر سالارانو ته اړتیا لرو ، تر څو د اسلامي سلطنت وقار او عزت د جنګ او جګړې په ډګر کې هسک و ساتي ،»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«زه د خپلې سپين سترګۍ او بې ادبۍ په هکله بښنه غواړم ، د قدر وړ درونده خليفه !»--رجب ورته وويل -- « مونږ د جنګ په ډګر کې خلافت نه يو ازمېښت کړي. زه د صلاح الدين ايوبي په هکله ددې خبرې کولو جرأت کوم چې هغه د اسلامي خلافت د وقار او عزت له پاره نه بلکه د خپل وقار او عزت له پاره جنګيږي ، تاسې د فوځ د سالار څخه نيولې تر يو عام سپاهي پورې و پو ښتې ، صلاح الدين ايوبي هغوی ته همدا درس ورکوي چې هغوی دې د داسې اسلامي خلافت د قيام له پاره ځانونه ځار کړي چې په پولو کې را نغښتې نه وي ، په ډاګه ده چې هغه د همداسې يو سلطنت خوب ويني چې پخپله ئې پادشاه وي ، نورالدين زنګي هم دهغه ملاتړ کوي ، هغه د صلاح الدين ايوبي د ملاتړ په خاطر دوه زره سواره اود همدومره پياده عسکر و لښکر را استولې دې ، ايا هغه دا فوځ د بغداد د خليفه په اجازې سره را استولې دې ؟ او ايا د خلافت کوم نماينده په دې هکله دمشورو په خاطر ستاسې حضور ته راغلې دې ؟ له تاسې ئې دا پو ښتلې چې په مصر کې ددومره اندازې فوځ اړتيا شته او که نه؟ هر څه چې و شول د خلافت نه پورته وشول.»

«ته صحيح خبره کوي رجبه !» خليفه ورته وويل --« له ماڅخه په دې اړوند هيڅ پوښتنه نه ده شوې ، او ما ته اوس دا فکر را پيدا شوی چې د هغې اړخه راغلې دومره ستر فوځي کومک تر اوسه پورې ولې بيرته نه دې ورليږل شوی.»

«بيرته په دې خاطر نه دې ور ليږل شوی چې دا کومک په مصر باندې د خپل تسلط د ټينګښت په خاطر را ليږل شوی و او دهمدې موخې د تر سره کولو له پاره همدلته ساتل شوی دی.»--رجب ورته وويل --« هغوی ئې د مصر د پخواني فوځ سپاهيان او عسکر په دهقانۍ اود کر کيلې په دندو د مشغولولو په خاطر دلته ستانه کړي دي. ناجي ، اوروش ، کاکيش ، عبدېزدان ، ابی آوز او ددوی په څير اته کسه نور سالاران چېرې ولاړل ؟ په دې هکله به حضور کله هم فکر نه وي کړې. هغوی ټول د صلاح الدين ايوبي په لاسو په پټه توګه دخاورو لاندې کړل شول. دهغوی ګناه داوه چې هغوی د صلاح الدين ايوبي څخه ډير زيرکه سالاران ول، ددې وژلو ګناه د چا په غاړه ده ؟صلاح الدين ايوبي د حاکمانو په غونډه کې ويلي و چې د مصر خليفه هغوی ټولو ته د غدارۍ او سرکشۍ د جرم په اساس د مرګ سزا ورکړې ده.»

«دروغ، دروغ» خليفه د قهر څخه را و خوټيد او وئې ويل -« دا ټول سپين دروغ دي ، ماته صلاح الدين ايوبي ويلي و چې دا ټول غداران دي ، ما هغه ته ويلي و چې ګواهان پرې را وړه او محکمې ته ئې را کش کړه.» هغه د محکمې پرته دا پريکړه پخپله کړې چې د خلافت د مهر نه پرته بيکاره ګڼل کيږي.»-- رجب ورته وويلې « دهغوی بدقسمته سالارانو جرم دا و چې هغوی د صليبي پادشاه سره اړيکې کلک کړي وو ، دهغوی موخې څه نوری وې ، او هغه دا چې د صليبيانو سره اړيکې ټينګ کړي او د خبرو اترو له لارې د جنګ او جدل مخه و نيسي، او مونږ دخپل هيواد اوهيوادوالو د سکون ، ارامۍ او سوکالۍ په لور توجه وکولای شو . که څه هم تاته به دا د منلو وړ نه وي خو حقيقت دادې چې صليبيان مونږ خپل دښمنان نه ګڼي ، هغوی په دې خاطر زمونږ پر خلاف جنګي ځواک تيار ساتي چې د نور الدين زنګي او شيرکوه په څير د« بنسټ پالو» مسلمانانو څخه د حملې او يرغل ويره لري ، شيرکوه و مړ خو خپل ځاې ئې صلاح الدين ايوبي ته پريښود ، سلطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايوبي د شيرکوه روزل شوی سړی دی ، هغه خپل ټول عمر د عيسائي قوم پر خلاف په جګړو کې تير کړی او په دي تر تيب ئې د اسلام دښمنان نور هم زيات کړل،که چېرې د صلاح الدين ايوبي پرځای بل کوم څوک د مصر د حاکم په خير ټاکل شوی وای ، نو نن به عيسائي پادشاهان ستا دربار ته د ميلمنو او دوستانو په څير را تللای ، نه به وژل او داړه ماري وه او نه به دومره ستر ستر سالاران وژل کيدل او نه به نوم ورکي ښځيدل»

«مګر رجبه !» خليفه ورته وويل -« صليبيانو خو د روم په بحيره کې په اسلامي لښکر يرغل کړی و ؟»

« صلاح الدين داسې حالات را پيدا کړي و چې صليبيان دخپلې دفاع په خاطر مجبور شول په حملې کې لمړيتوب وکړي .» --رجب ورته وويل -«صلاح الدين ايوبي ته مالومه وه چې د صليبيانو له اړخه حمله کيدونکې ده ځکه چې دحملې له پاره حالات همغې راپيدا کړي و او په دې خاطر هغه د حملې د مخنيوي او دفاع له پاره ځان له مخکې چمتو کړی و ، دا انسان خو فرښته نه ده چې په غيبو به پوهيده ، هغه داسې يو چال و چلاوه ، چې دهغې په لوبيدو سره په زرګونو کوچنيان يتيمان شول او په زرګونو ښځې کونډې کړل شوې ، دهغې په دغه ظالمانه کار باندې تاسې هغه ته زما تر مخه شاباسې ورکړ او ستاينه ئې مو وکړه، بيا هغه هغه سوډاني فوځ چې ستاسې وفادار و د جنګې تمريناتو په بهانه د شپې له خوا بهر وويست او په تياره کې ئې پرې د خپل فوځ له اړخه عمليات پيل کړل او دا ئې خپره کړه چې د ناجي فوځ بغاوت اوپاڅون کړی و. دهغه په دې کار هم تا دهغه ستاينه وکړه او شاباسې دې ورکړ. تاسې دومره نرم زړه او مخلص ياست چې تاسې دهغه چال او دوکه درک نه کړای شوه.»

په دې وخت کې "أمّ عراره» چې دعربو د ښايست يوه نمونه وه د خليفه العاضد سره « په ډيره معصومانه توګه » د فحش داسې حرکات پيل کړل چې په العاضد ئې د شرابو نشه نوره هم ورزياته کړه. دهغه ذهني خرنګوالې او څنګه والي دهغې نجلۍ په لاس کې و – درجب خبرو او دليلونو دهغه په زړه باندې پوره اغيز کړی و ، خو دهغه په زړه کې يواځې او يواځې "أمّ عراره» وه ، هغه د رجب خبرې هسې په ضمني توګه اوريدلې ، رجب په صلاح الدين ايوبي باندې ډير شرمناکه وار وکړ. هغه و ويلې « صلاح الدين ايوبي په يوي بلې دوکې او غولونې باندې لاس پورې کړی ، هغه اوس هره ځوانه او ښايسته نجلۍ چې ووينې د لاسو ئې نيسې او ابرو ئې تويوي، او بيا د يو څو ورځو عيش او عشرت وروسته ئې په دې خاطر له منځه وړي چې دا جاسوسه ده. د عيسايانو پر خلاف په ولس کې د کرکې دپيداکيدو په خاطر ، هغه په فوځ او عوامو کې دا مشهوره کړې چې صليبيان خپلې نجونې مصر ته د ځارکښنې له پاره را استوي، ددې نه علاوه هغوی زمونږ ولس ته بدکاره او فاحشې ښځې هم را استوي تر څو د قوم د ځوان ګول اخلاق پرې خراب کړي ، زه د همدې هيواد اوسيدونکې يم. څومره قحبه خانونه چې دلته شته د ټولو ښځينه لوبغاړې مصري او سوډاني ښځې دي، که چېرې کومه عيسائي ښځه په کې هم وي نو هغه د چا جاسوسه نه بلکه يو بدکاره ښځه ده.»

«ماته دحرم سرای درې څلورو نجونو وويلې چې صلاح الدين ايوبي هغوی خپل کورته ورغوښتي وی او هلته ئې د هغوی عزت توی کړی دی.» "أمّ عراره» ورته وويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیفه د قهره تک سور شو او وئي ویل --«زما د حرم سراې نجونې ؟ تا ماته دا خبره ولې مخکې نه کوله ؟»

«په دې خاطر چې ته رنځور ئې ، او دا ډول خبرونه ستا د صحت له پاره ښه اغیز نه لري ،» اُمّ عراره ورته وویل --« اوس هم دا خبره زما دخولې څخه بې ارادې را ووتله ، ما دا سې انتظام کړې دې چې اوس هیڅ نجلۍ د چا په وربللو د اجازې پرته نشي وتلاى»

«زه به هغه همدا اوس را و غواړم او په دُرّو به ئې ووهم» خلیفه ورته وویلې -«زه به بدله اخلم»

«د بدلې د اخستلو ډیرې لارې نورې هم شته» رجب ورته وویلې ،--« په اوسني وخت کې خلک د صلاح الدین ایوبي ملاتړې دې ، هسې نه چې په داسې قدم پورته کولو سره هغوى ستا خلاف راپاڅیږي.»

«نو ایا زه خپل دا توهین او سپکاوي و زغمم؟» خلیفه ورته وویل.

« نه ! درونده خلیفه !» رجب ورته وویل « که چیرې ته ماته اجازه راکړې او زما ملاتړ وکړې نو زه به صلاح الدین ایوبي د اسې له منځه یوسم لکه څنګه چې هغه د مصر پخواني فوځ له منځه یوړ او د هغې سالاران ئې یو په بل پسې ورک کړل.»

«ته به په څه ډول دا کار وکړاى شې ؟» خلیفه ترې و پوښتل.

«حشیشین به دا پلان مخته بوځي» رجب ورته وویل « خو هغوى ډیرې زیاتې پیسې غواړي»

«څومره پیسې چې هغوى غواړي هغه به زه درکړم» خلیفه ورته وویل « ته خپل پلان مخته یوسه»

*****(۴۳)

دوه ورځې وروسته د جمعې ورځ راتله ، د قاهرې د مرکزي جومات خطیب ته « عیسى الهکاري فقیه» ویلې و چې په خطبې کې دې د خلیفه نوم نه اخلې. دا خطیب د ترک د نسل څخه و چې په تاریخ کې ئې پوره نوم نه دې را خستل شوى خو د امیر العالم په نامه ئې شهرت موندلې و ، د هغه وخت داسې لیکل شوى ثبوت هم تر لاسه شوى چې د هغې له مخې خطیب امیر العالم پخپله هم څو څو ځله د دې بدعت د له منځه وړلو له پاره خپله اراده ښوولې وه ، او دا د همدې د هڅو پایلې وې چې د خلیفه نوم د خطبې څخه لرې کړل شو . یو بل روایت دا هم دې چې صلاح الدین ایوبي ته پخپله همدې امیر العالم سلا ورکړې وه چې د دې بدعت د له منځه وړلو له پاره دې حکم وکړي. خو د پیښو لیکونکې د دې ټول کار تاج د عیسى الهکاري فقیه په سر ږدي. خو شوني ده چې د دې پلان په هکله عیسى الهکاري فقیه او امیرالعالم دواړو کار کړې وي خو د صلاح الدین ایوبي د ویناو څخه چې کوم شواهد تر لاسه کیږي نو دا ډاګیزه کوي چې دا زړه ور قدم صلاح الدین ایوبي پخپله پورته کړې و. په هر حال په دې کې هیڅ شک نه شته چې په هغه وخت کې رینښتوني مسلمانانو شتون درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطیب امیر العالم د جمعې د ورځې په خطبې کې د خلیفه نوم وانه خست ، صلاح الدین ایوبي هم د لمانځه په منځنیو صفونو کې ناست و ، علي بن سفیان ترې لرې په یوه بل صف کې ځای نیولی و ، د سلطان ایوبي نور باوري ملګري او سلاکاران په خلکو کې خواره واره ناست و تر څو دهغوی عکس العمل په خپلو سترګو ووینې. دعلي بن سفیان د شبکې د غړو ډیر شمیر هم دلته په لمانځه کې موجود ول، د خلیفه نوم دخطبې څخه لرې کول یو دروند کار نه بلکه د خلافت د احکامو په مطابق ډیر دروند جرم ګڼل کیده ، اوس نو دا جرم تر سره شوی و ، د لمانځه په وخت کې چې د مشرانو او لوړ پوړو چارواکو له ډلې څخه څوک په جوماتونو کې نه و نو هغه یواځې او یواځې خلیفه العاضد و.

دلمانځه وروسته سلطان ایوبي پورته شو ، خطیب ته ورغی ، دهغه سره ئې په لاس روغبړ وکړ او دهغه چپنه ئې ماچ کړه او ورته ئې وویل « الله ج دې ستا مل او ملاتړی وي ،» خطیب امیر العالم په ځواب کې ورته وویل « ددې حکم په ورکولو سره تا په جنت کې ځانته ځای جوړ کړ» دبیرته تللو په وخت کې سلطان ایوبي د څو قدمه اخستلو وروسته بیرته و درید ، او د خطیب لور ته ولاړ او ورته ئې وویل « که چیرې ته خلیفه ځانته و بللې ، نو هغه ته د ورتللو پر ځای زما لورې ته راشه ، زه به له تاسره یو ځای ولاړ شم.»

«که چیرې امیر ئې سپین سترګی و نه ګڼي» امیرالعالم ورته وویل « نو عرض کوم چې د باطل او شرک پرخلاف عمل کول او د حق وینا که چیرې جرم وي نو بیا خو د هغې سزا زه پخپله ګالم ، زه به هیڅکله ستا څخه پناه و نه غواړم ، که خلیفه ور وبللم نو ځانته ورځم ، ما دخلیفه نوم ستا په حکم نه بلکه د خدای ج په حکم له خطبې لرې کړی دی. زه تاته ددې کار مبارکي وایم.»

له ماښامه وروسته صلاح الدین ایوبي ، علي بن سفیان ، بهاؤالدین شدّاد او څو نور سلاکاران د راپورونو د ورکولو له پاره را ټول شوی وو. د جاسوسي شبکې زیات شمیر غړي د عامو خلکو په لباسو کې د خلکو تر منځ ګرځیدل او د خلکو آند ئې ځانته مالوماوه. علي بن سفیان سلطان ایوبي ته وویل چې د هیڅ ځایه داسې کومه خبره نه ده راغلې چې چا ویلي وي چې نن په خطبې کې د خلیفه نوم نه دی اخستل شوی. دعلي بن سفیان خپلو وګړو په یو څو ځایو کې دا خبره یاده کړې وه چې نن خطیب دجمعې په خطبې کې د خلیفه نوم نه دی اخستی ،او دا خوئې ډیر بد کار وکړ. دهغوی په دې خبرو ډیر خلک حیران پاته کیدل لکه چې هغوی ته دا مالومه نه وي چې په خطبې کې د خلیفه نوم هم اخستل شوی او که نه. دهغوی له ډلې څخه ئې یو څو کسانو په ډیره بی پروائې سره وویل چې څه فرق کوي ، خلیفه خو خدای یا پیغمبر نه دی ! ددې راپورنو له مخې سلطان ایوبي ته داڼ وریه برخه شو چې دخلکو د هغه عکس العملونو څخه چې هغه ویرول کیده هغه په هیڅ ځای کې هم را څرګند نه شول.

سلطان صلاح الدین ایوبي په همدې وخت کې د سلطان نورالدین زنګي په نوم یو پیغام ولیکه ، په دې پیغام کې ئې هغه ته دا خبر ورکړی و چې هغه د جمعې دخطبې څخه د خلیفه نوم لرې کړی دی. دخلکو له اړخه هم ډیر ښه عکس العمل را څرګند شوی دی. په دې اساس ته د مرکزي خلافت نوم د خطبې څخه ایسته کړه. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې مضمون هغه يو اوږود پيغام و ليکه او خپل قاصد ئې سهار وختي هغې لورى ته واستوه ،ترڅو دا پيغام نور الدين زنګي ته ور ورسوي. ددې وروسته هغه علي بن سفيان ته وويلې چې د خليفه په مانۍ کې دخپلې شبکې غړي متوجه کړه ، که چېرې هلته لږ څه مشکوک خوزښت هم وشي نو سمدستي دې مونږ ته خبر راکړي. سلطان ايوبي رجب لا د پخوا څخه پيژنده ، او دا هم ورته معلومه وه چې رجب د خليفه نازولې نائب سالار دې ، په دې خاطر ئې علي بن سفيان ته وويلې چې « د رجب سره يو کس د سيوري په حيث و تاکه»

په دې شپه د خليفه د عيش او نوش په محفل کې رجب نه و ، هغه د سلطان ايوبي د وژلو په پلان باندې کار کاوه. هغه غوښتل د حشيشينو د مشر حسن بن صباح سره ووينې ، خليفه د هرې ورځې په څير د بهرنۍ نړۍ څخه بې خبره او د "أمّ عراره» په طلسماتي ښايست او دهغې په نازو ادأ کې ورک و. هغه ته چا دا نه و ويلې چې نوم ئې د خطبې څخه لرې کړل شوى دې. هغه په دې خوښ و چې د صلاح الدين ايوبي د وژلو پلان تر لاس لاندې دې ، "أمّ عراره» هم د هغې د سمدستي بيده کولو په خاطر هغه ته بې دريغه شراب ورکړي و او تر څنګ ئې خوب راوړونکې سفوف هم پرې څښلي و. ددې زاړه څخه د ژر خلاصون په خاطر هغې ته ددې نسخې داستعمال پرته بله لاره هم نه وه پاته. هغه ئې ويده کړ ،دخونې قنديلونه ئې مړه کړل او د خليفه دخونې څخه ووتله، هغه دخپلې هغې ځانګړې خونې په لور روانه وه چې په هغې کې به ئې د رجب سره هره شپه د زړه خواله کوله.

څنګه چې هغه خپلې خونې ته ور ننوتله ،نو چا پرې د شا لخوا کمبله ور واچوله ، هغه ئې اواز ويستلو ته هم پرې نښوده ، او دهغې خوله ئې د يوې بلې ټوټې په واسطه کلکه ور و تړله ، يو کس هغه په خپلو اوږو را واړوله او د خونې څخه ووت ، دا دوه کسان و ، چې د مانۍ د ټولو پټو او ښکاره لارو څخه ښه خبر وو ، هغوى د شپې په تياره کې په زينو وروښتل او دچت څخه ئې يوه رسۍ را و ځړوله او هغه کس چې نجلۍ ئې په اوږو اچولې وه د نجلۍ سره يوځاې لاندې را ښکته شو. دهغه وروسته هغه بل هم را کوز شو او دواړه د شپې په تيارو کې ورک شول.

لږ څه لرې ځلور اسونه تيار ولاړ وو ، دوه کسان ددې آسونو تر څنګ ناست و ، هغوى خپل ملګري وکتل ، او دا ئې هم وکتل چې يوه يوه نجلۍ په شا اړولې او ګړندې ګړندې را روان دې. هغوى آسونه لږ څه نور هم را مخته کړل ، ټول په اسونو سپاره شول، يوه سپور نجلۍ خپلې مخې ته واچوله ، دهغوى د ډلې څخه يوه وويل «آسونه اوس مه ځغلوئ ، د آسونو د پښو اواز به ټول ښار را ويښ کړي» آسونه سوکه سوکه مخته تلل او دښاره ووتل.

«دا د سلطان ايوبي کار دې ؟»

«د مصر د امير پرته بل څوک داسې جرأت نه شي کولاې ،»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«دهغې پرته بل څوک دا کار کولې نه شي !»

دخلافت په ماڼۍ کې هرې لورې ته همدا شور و غوغا پورته وه چې صلاح الدين ايوبي "أمّ عراره» تښتولې ده. رجب هم بيرته راستون شوې و ، د محل او ماڼۍ کونج کونج ئې لټولې و، ساتونکې ډله د خپلو قومندانانو د قهر او غضب لاندې را غلي وو ، پخپله قومندان هم د سپاهيانو په څير لړځيده ، د يوې نجلۍ تښتول معمولي خبره نه وه ، او نجلۍ هم داسې چې خليفه د جنت دپيغلو څخه شميرله ، دمحل د شا له لورې يوه رسۍ را ځوړنده وه ، په ځمکه هم دپښو نښې نښانې موجودې وې چې د لږ څه تګ وروسته د انسانانو دپښو نښې ورکيدې او بيا د آسونو د پښو نښې تر سترګو کيدې، ددې څخه دا ثبوت تر لاسه کيده چې نجلۍ ئې دهمدې رسۍ په واسطه لاندې ښکته کړې ده ، دا شک هم شونې و چې نجلۍ په خپله خوښه او رضا د چا سره تښتيدلې وي ، خو خليفه دا شک شونې نه ګاڼه هغه ويل چې "أمّ عراره»په هغه باندې ځان ځارولو ته تياره وه.

«دا د صلاح الدين ايوبي کار دې» رجب العاضد ته وويلې ، « د خلافت په ماڼۍ کې دهر يوه په خوله همدا خبره ده ، چې د هغه پرته بل څوک دداسې کار دکولو جرأت هم نه شي کولای .»

خو دا خبره ټولو ته رجب پخپله کړې وه ،څکه کله چې هغه ته د "أمّ عراره» د ورکيدو خبر ور ورسيد نو هغه په ټول محل کې وګرځيد او دهر چا څخه ئې د نجلۍ په هکله و پوښتل او هر چا ته ئې وويل چې «دا د سلطان ايوبي کار دې» ، د خلافت د ماڼۍ د لوړ پوړو چارواکو څخه نيولې تر ښکته ملازمينو پورې ، ټولو همدا خبرې بيا بيا کولې ، رجب بيا همدا خبره د خليفه العاضد په غوږو کې هم ور واچوله ، هغه د يوې لحظې د فکر کولو اړتيا هم احساس نه کړه چې دا الزام صحيح هم دې او که نه. بلکه دا اوازه دهغه په غوږونو کې لا دمخه ور اچول شوې وه او ورته ويل شوې و چې سلطان ايوبي په ښکلو ښځو او نجونو باندې ځان ورکوې هغه ته "أمّ عراره» ويلې و چې سلطان ايوبي د حرم څلور نجونې تر اوسه پورې بې عزته کړې دي ، خليفه په همدې وخت کې خپل ځانګړې قاصد را وباله ، او ورته ئې وويل چې د مصر د امير په لور ولاړ شي او هغه ته ووايې چې په پټه دې نجلۍ بيرته را واستوي ، زه به تر هغې کوم قدم نه پورته کوم.

په هغه وخت کې چې خليفه قاصد ته دا پيغام ورکاوه نو په هماغه وخت کې د قاهرې څخه لس دولس کيلو متره لرې درې اوښ سپاره د قاهرې په لور په پوره دبدبه کې را روان وو ، هغوی د مصر د فوځ ګشتې ډله وه ، ځرنګه چې په دې وخت کې د مصر سياسي او امنيتي حالات ډاډمن نه و او د جاسوسانو او تخريب کارانو فعاليتونه ددې پر ځاې چې کمښت ومومي نور هم ورځ په ورځ زياتيدل، سلطان ايوبي ته په ډيره ښه توګه دا ډاګيزه وه چې په هيواد کې د غدارۍ او بغاوت سکروټې تازه کيږي ،همدا راز دهغه سوډاني فوځ ګواښ چې هغه له منځه وړې و لا پوره له منځه نه و تللې و. ددې فوځ قومندانان ، مسؤلين او سپاهيانو پوره تجربه لرونکې وګړې و ، او هغوی هر وخت د هيواد د سلامتۍ له پاره ګواښ پيدا کولې شو. تر ټولو ستره خطره دا وه چې د سلطان ايوبي مخالفينو د صليبيانو سره دوستانه اړيکې کلک کړې و ، دهغوی جاسوسانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته‌ئې پناه ورکړې‌وه ، او دهغوی له پاره ئې د تخريبي کارونو د کولو له‌پاره لاره برابره وله ، دهمدې خطرونو د په نظر کې نيولوپه اساس د دارالحکومت څخه‌لرې لرې او هرې لورې ته د فوځ ډلې ډلې خورې شوې وې. د هغوی ګشتي ډلې به شپه او ورځ او هر وخت په غرونو ، غونډيو او دښتو کې پرګشت را وتلی ترڅو د راتلونکو خطرونو د پيښيدو ترمخه مرکز ته خبر ورکړای شي.

دغه دری اوښ سپاره هم د همدې ګشتي ساتونکې ډلې څخه‌و چې په خپلې ور سپارل شوې سيمه کې ئې دخپلو دندو د ترسره‌کولو وروسته‌بيرته را ستانه‌شوی‌و. مخته د خاورو او تيږو غريزه پراخه سيمه پرته وه، هغوی په‌يوې وادي(ناو ) کې تيريدل چې دېوې ښځې اواز ئې‌واوريده ، ترځنګ ئې د نارينه‌و اوازونه هم اوريدل‌کيده ، ددې څخه دا ډاګيزه کيده چې په‌کومه‌ښځې يا نجلۍ باندې ظلم او تيرې کيږي ، يو اوښ سپور را کوز شو او په‌هغه غونډۍ وخوت چې د بل اړخ څخه‌ئې ناری او سوری را تللې ، هغه په پټه و کتل چې څلور آسونه‌ولاړ دي او څلور کسان‌ورسره دي، دوی څلور واړه سوډاني حبشيان دي...ددوی سره يوه ډيره ښکلې نجلۍ هم ولاړه ده ، يو حبشي‌هغه‌په‌خپلو متو کې را نغښتې او دخپلو ملګرو ترمخ ئې درولې ، هغه په خپلې سينې لاس ايښې او وائې چې« ته‌ډيره پاکه نجلۍ ئې ، خپل ځان پخپله په ستونزو کې د اچولو په اساس مونږ مه ځوروه ، د ډيوتا قهر به مونږ يا خو وسوځوي او يا به مو تيرې کړي»

«زه مسلمانه يم» -نجلۍ چيغې کړې ، ستاسې په ډيوتاګانو باندې لعنت وايم ،ما پريږدی او که‌نه زه به تاسې ټول د خليفه‌د سپيو ترمخ د ټوټو ټوټو غوښو په‌څير ور واچوم.»

«ته‌اوس دخليفه ملکيت نه‌ئې» يو حبشي ورته‌وويل « اوس‌نو ته‌دهغه ډيوتاګانو ملکيت ئې چې په‌لاسو کې ئې د اسمان د بريښنا قهر، د مارانو زهر او د زمريانو ځواک شتون لري ، هغه يواځې ته‌خوښه‌کړې ئې ، اوس نو هر څوک چې دهغوی څخه ستا د بيلتون هڅه‌وکړي نو هغه به د دښتې شګې په خپل ځان کې وسوځوي او ايری به‌ئې کړي.»

يو حبشي بل ته‌وويل ،« ما تا ته‌ويلي و چې دلته مه ځنډيږئ ، خو تاسو ارام‌کول غوښتل ، هغه‌وتړۍ او خپلې‌لار ته دوام‌ورکړئ ترڅو د ماښامه ترمخه خپل ځای ته ورسيږو .»

«ايا زمونږ آسونه ستړي شوی‌نه‌و؟» حبشي ځواب ورکړ ، «ايا مونږ ټوله شپه ويښه‌تيره نه‌کړه ؟»

بل‌وويل « هغه‌بيرته و تړئ او روان شئ ، »

هغه‌نجلۍ کلکه کړه،خو يو ناڅاپه دهغه‌په ملا کې يو غشي‌ور ننوت ، هغه نجلۍ سسته‌کړه ، نجلۍ هغه ته ټيله ورکړه او د تيښتې هڅه ئې‌وکړه نو يوه بل حبشي هغه‌را ټينګه کړه او د خپله ځانه‌سره ئې را ښکوده، او د آسونو پورې ولاړ، په‌دې وخت کې يو بل غشي‌را غې چې د يوه بل سرې په غاړه کې و ننبت ، هغه سړې و غورځيد او په‌ترپيدو شو خو هغه چا چې نجلۍ ئې نيولې‌وه د خپل آس قيضه‌ئې کلکه کړه او نجلۍ ئې له ځانه سره په آس سپره او آس ئې د ښکته په‌لور و ځغلاوه چې ډير نژدې و ، يو بل حبشي هم پاته‌و چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د ښکته په لور منډې کړې... دا غشي هغه اوښ سپور ویشتلي و چې په غونډۍ راختلې و ، وروسته چې هغه کوم بیان ورکړ په هغې کې هغه ویلي و چې هغه د دېوتاګانو له نامه څخه و ویریده ،خوکله چې نجلۍ وویلي چې هغه مسلمانه ده او په دېوتاګانو باندې لعنت استوي نو ددې ایمان هم را بیداره شو ، او کله چې نجلۍ د خلیفه نوم واخست نو هغه و پو هیده چې دا دحرم سراې کومه پیغله ګوتې ده ، دهغې لباس ، شکل او صورت دا په ډاګه کوله چې هغه معمولي څوک نه ده ، هغه تښتول کیدله ، او سوډان ته ئې د پلورلو په خاطر روانه کړې وه . ساتونکې ته دا ځرګنده وه چې د لږو ورځو وروسته د سوډانیانو میله جوړیږي او په هغې کې نجونې پیرل او پلورل کیږي.

سلطان ایوبي خپل فوځ ته حکم کړې و چې د ښځو د حیا او عزت ساتندویان به وي ، که چېرې د یوي ښځې د عزت د خوندي ساتلو په خاطر د یوه درجن خلکو د وژلو وخت هم راشي نو هغوی ته اجازه ده . دې ساتونکي دغه ټولې خبرې خپلې مخې ته ایښې وې او پریکړه ئې کړې وه چې دا نجلۍ باید خوندي کړل شي ، هغه ددوه غشو په ویشتلو سره دوه حبشیان له منځه یوړل ، خو هغه دا غلطي وکړه چې دهغه نورو دواړو حبشیانو د نیولو په خاطر د غونډۍ څخه را کوز شو او په خپل اوښ سپور شو او خپلو ملګرو ته ئې وویل چې ددې انسان پلورنکو تعقیب اړین دې ، هغوی درې واړو خپل اوښان و ځغلول خو هغوی د غونډۍ څخه د راتاویدو ستر چکر وواهه ، هغوی دا فکر هم و نکړای شو چې اوښ د آس تعاقب نه شي کولاې ، په هغوی درې واړو کې غشي او لیندۍ یواځې د همدې یوه سره وې. دنورو دواړو سره توري او برچې وې.

دوی هغه ځاې ته ور ورسیدل چېرې چې ئې نجلۍ او حبشیان کتلي وو . هلته ددوه لاشونو پرته نور څه نه تر سترګو کیدل ، هغه سوډاني حبشیانو نجلۍ له ځانه سره وړې وه او دخپلو مړو ملګرو آسونه ئې هم . اوښ سپرو د هغوی په تعقیب پسې خپل اوښان ور ځغلول خو هغه سیمه د غونډیو او لوړو ژورو سیمه وه ، لاره په لوړو ژورو کې ورکیده ، تر یوه ځایه پورې هغوی د آسونو دپښو اواز اوریده خو وروسته هغه اواز هم ورک شو. اوښ سپرو هغه دواړه لاشونه په اوښانو بار کړل ، اوبیرته را ستانه شول ، هغوی په دې پوهیدل چې دا لاشونه د چا دي ، دا دعام انسان پلورونکو لاشونه هم کیداې شول ، دهغوی راوړل دومره اړین نه و خو نجلۍ دخلیفه د محل مالومیده نو په دې خاطر ئې دلاشونو له ځانه سره را وړل اړین وګڼل،تر څو دا ډاګیزه کړي چې تښتونکي څوک دي ؟

*****(۴۴)

صلاح الدین ایوبي اندېښمن و او د غُصّې په حال کې اوښت را اوښت ، په خونه کې ورسره د هغه سلاکاران او باوري مسؤلین هم ناست و . دوی دهغه دوستان هم و ، ټولو سرونه ښکته اچولي ناست وو ، سلطان ایوبي به تل خپل ځان په قابو کې ساته ، هیڅکله به ئې د جذباتو څخه کار نه اخست ، خپله غُصّه به ئې پخپله تیروله ، او په خپل ذهن به ئې قابو مونده او د سوچ او فکر وروسته به ئې پریکړه کوله ، هغه په داسې حالاتو کې هم ازمیښت شوی و چېرې چې جابرو او تیري کونکو جنګجویانو هم خپلې وسلې غورځولې ، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په محاصره کې هم جنګېدلې و او په داسې محاصره کې هم پاته شوې و چې سپاهيانو ئې زغم او حوصلې له لاسه ورکړې وې ،او په کلا کې د خوراک څښاک څه هم نه و پاته شوی ، دسپاهيانو دغشو خلطې هم تشې شوې وې ، دهغه سپاهيانو به دا انتظار کاوه چې هغه به وسله کيږدي او هغوی ته به د اذيت لرونکې مړينې څخه خلاصون ورکړي خو صلاح الدين ايوبي به نه يواځې خپله حوصله ټينګه ساتله بلکه په خپلو سپاهيانو کې به ئې هم د جنګ او قهرمانۍ نوي روح ورپوکاوه ، خو په دې ورځ سلطان ايوبي پر خپل ځان قابو نه شو موندلای ، دهغه پرمخ د غُصّې نښې هم وې ، او ويره هم همدا علت و چې ټول چُپه خوله ناست و .

نن دلمړي ځل له پاره زما ذهن زما سره ملګرتيا نه کوي» هغه وويل .

«ايا دا شونې نه ده چې ته د خليفه دا پيغام له پامه و غورځوی؟» دهغه نائب سالار الناصر ورته وويل .

« زه په همدې هڅو کې مشغول يم » سلطان ايوبي ورته وويل ، « خو کله چې د هغه الزام څرنګوالې چې پر مائې کړې او ويلې ئې دي چې ما د حرم يوه نجلۍ را تښتولې ده ، وينم ، نو پرته له دې چې ووايم «استغفرالله - الله ماته بښنه وکړې ، هغه زما په سپکاوي کې هيڅ کمې نه دې کړې ، پيغام بلکه اخطار ئې دخپل قاصد په خوله را استولې دې ، هغه به زه ورغوښتې واې او له ماسره به ئې مخ په مخ خبرې کړې واې»

«زه اوس هم همدا سلا درکوم چې خپله سينه سړه کړه » بهاؤالدين شدّاد ورته وويلې.

« زه دې فکر وړې يم چې ايا رښتيا هم د حرم سراې څخه کومه نجلۍ تښتول شوی ده او که نه ؟» سلطان ايوبي وويل --« ما ته دړواغ ښريښې ، هغه ته به دا څرګنده شوې وې چې ما د خطبې څخه دهغه نوم ويستلې دي او دهغې په ځواب کې هغه پر ما دومره ستر الزام لګولې دې چې په اصطلاح ما دحرم کومه نجلۍ تښتولې ده ، هغه په دې ترتيب دبدلې د اخستلو هڅه کړې ،» سلطان ايوبي "عيسې الهکاري فقيه» ته مخ واړاوه او ورته ئې وويل « د مصر د ټولو جوماتونو په نوم يوه حکم نامه و ليکه چې په راتلونکې کې به په هيڅ يو جومات کې د جمعې په خطبې کې د خليفه نوم امامان نه اخلي »

«ته هلته ورشه او د هغه سره خبرې وکړه » الناصر ورته وويل « هغه ته په ډاګيزه توګه ووايه چې خليفه دقوم او ولس د عزت او وقار نښه ګڼل کيږي ، خو دهغه حکم نه چليږي ، په ځانګړې توګه په داسې شرايطو کې چې ددښمن د يرغل ګواښ شتون ولري او هيواد د بهر او دننه دواړو لورو د ګواښ سره مخ وي ، زه ان تر دې ځايه پورې سلا درکولې شم چې دهغه د ساتونکې ډلې وګړي را کم کړل شي ، د سوډانيانو حبشو پر ځاې دې مصري وګړی هلته وګمارل شي ، او دهغه د محل او دربار مصارف دې را کم کړل شي ، زه ددې د پايلو څخه خبر يم ، مونږ ته به مقابله کول اړينه وي. خو مونږ بايد په الله ج باندې تکيه ولرو.»

«ما تل پر خپل خداې باندې تکيه او توکل کړې دې » سلطان ايوبي ورته وويل « ذوالجلال رب به ما ددې ذلت څخه هم خوندي و ساتي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازه چې را ننوت ، ټولو دهغه په لور و کتل ، هغه وويل چې د سارا دګشتي ډلي قومندان د خپلو درې ملګرو سره راغلي او هغوى ددوه سوډانيانو لاشونه هم له ځانه سره را وړي دي .»

ټولو د دروازه چې راننوتلو ته په ښه سترګه و نه کتل ، ځکه په دې وخت کې سلطان ايوبي د خپلو سلاکارانو سره په يوه ډير مهمه او پټه غونډه کې مشغول و. خو سلطان دروازه چي ته وويل « هغوى دننه را وليږه » ، سلطان ايوبي خپل دروازه چي ته ويلي و چي کله هم کوم څوک دهغه سره د ليدلو کتلو له پاره راځي نو هغه ته ئي خبر ورکړئ او که چېرې د شپې د هغه د راپورته کولو اړتيا وي نو هغه بې له ځنډه د خوبه را بيدار کړئ ، سلطان نه غوښتل کومه خبره او يا کومه ليدنه پرته له کوم عذره ځنډني کړي.

قومندان دننه راغې ، دهغه مخ په دوړو سپيره شوې او ستومانه مالوميده ، سلطان ايوبي هغه کيناوه او دروازه چي ته ئي وويل چي دهغوى له پاره دخوراک څښاک څه راوړي ، قومندان سلطان ته وويلي چي دهغه ګشتي ډلي څلور سوډاني حبشيانو څخه د يوې نجلۍ د خلاصون هڅې کړې وې دوه ئې په غشو ويشتلي او وژلي ئې دي ، او دوه نورو نجلۍ پورته کړې او تښتولي ئې ده ، قومندان ورته وويلي چي د ساتونکو د ډلې د وينا په اساس نجلۍ د کوچيانو او يا بلې عامي کورنۍ څخه نه وه ، هغه د ډيرې شتمنې کورنۍ مالوميده ، او هغې دا ويلي چي هغه د خليفه په ملکيت کې ده.

«داسې مالوميږي» سلطان ايوبي وويل --«چې ذوالجلال رب زما د ملاتړ له پاره لاس کړې دې» هغه بيرون را ووت ، په خونه کې دننه ناست ټول د هغې پسې را و خوځيدل.

بيرون پر ځمکه دوه لاشونه پراته و ، يو لاش پړمخه پروت و ، تر څنګ ئې درې سپاهيان ولاړ وو ، هغوى د مصر امير ته چي دهغوى اعلى قومندان هم و او د لمري ځل له پاره ئې کتلي و په عسکري توګه سلام وکړ او شاته شول ،سلطان ايوبي نه يوازې د هغوى د سلام ځواب ووايه بلکه دهغوى سره ئې په لاس روغبړ هم وکړ او ورته ئې وويل «زما مؤمنو !دا ښکار مو چېرې ښکار کړې ؟» هغه چا چې د غونډۍ د سر څخه د غشو په ويشتلو دوه کسه را پرځولي و ، خپل سلطان ته د ټولې پيښې په هکله تفصيلي مالومات ورکړل ،

ايا دا شوني ده چي هغه نجلۍ د سلطان ساتل شوی نجلۍ(معشوقه ) وي ؟» هغه د خپلو سلاکارانو څخه و پوښتل.

« مالوميږي خو همداسې» علي بن سفيان ورته وويل « د هغوى خنجرونه و ګورئ ، هغه دوه خنجرونه سلطان ايوبي ته ور وښول ، په هغه وخت کې چي هغه سپاهي د پيښې په هکله مالومات ورکاوه نو علي بن سفيان د لاشونو پلټنه وکړه ،د هغوى په تن سوډاني قبايلي لباس وو ، د کاليو دننه د هغوى ملابندونه وو چي يو يو خنجر ئې په کې پټ اينبودې و. دا د خليفه د ساتونکې ډلې له پاره جوړ کړل شوی ځانګړې خنجرونه وو. د هغوى د خنجرونو په لاسو باندې د خلافت ټاپه لږيدلې وه ، علي بن سفيان وويل « که چېرې هغوى دا خنجرونه را پټ کړې نه وې ،نو بيا خو دا دواړه د خلافت د ساتونکې ډلې ساتندويان مالوميږي ، دا هم شوني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې دهغوی را تښتول شوې نجلۍ هم همغه ده چې د خلیفه دحرم څخه را تښتول شوې ده او را تښتونکي ئې هماغه د خلیفه د ساتونکو دډلې وګړي دي.»

«لاشونه پورته کړئ او خلیفه ته ئې له ځانه سره یوسئ ،»سلطان ایوبي وویل « تر هر څه دمخه دا ډاډمنه کړئ چې دا په رښتیا سره د خلیفه د ساتونکو څخه دي ،» علي بن سفیان وویل او دهغې ځاېه څخه ولاړ.

ډیر وخت لا نه و تیر شوې چې د علي بن سفیان سره یوځاې دخلافت د ماڼۍ یو قومندان راغې ، هغه ته ئې دواړه لاشونه ور وښوول ، هغه سمدستي دواړه و پیژندل اووئې ویلي چې دا دواړه د ساتونکو د ډلې وګړي دي. دوی د تیرو درې ورځو را هیسې په رخصتیو وو ، هغوی اوه ورځې رخصت درلود.

«بل کوم سپاهي هم په رخصتۍ تللې دې ؟» سلطان ایوبي تري وپوښتل ،

« هو ! دوه نور هم دي»

«ایا هغوی هم ددوی سره یو ځاې په رخصتیو تللي و ؟»

«یو ځاې تللي و» قومندان ځواب ورکړ او یوه داسې خبره ئې ډاګیزه کړه چې ټول ئې هک پک او حیران کړل.

هغه وویلي « دوی د سوډان دداسې یوې قبیلې سره اړوند دي چې په وینه تویولو کې شهرت لري ، ددوی تر منځ د فرعونیانو د وخت یو شمیر رواجونه اوس هم شتون لري ، دا قبیله هر درې کاله وروسته یو جشن جوړوي ، دا داسې یوه میله وي چې درې شپې او درې ورځې دوام کوي ، هغه ورځې ټاکې چې څلورمه شپه ئې سپوږمۍ پوره کیږی. میلې ته هغه خلک هم ورځي چې ددې قبیلې سره هیڅ ډول اړیکې نلري ، هغوی یوائې د خپلې عیاشۍ له پاره هلته ورځي ، په دې میله کې د نجونو د پیرلو اوپلورلو ځانګړې مارکیټ جوړیږي ، ددې میلې څخه نژدې یوه میاشت د مخه دشاو خوا خلک بلکه تر قاهرې پورې د ټولو هغه خلکو لونې چې ځواني او پیغلې شوی وي هوښیار او سخته څارنه ئې کوي ، هغوی خپلې لوڼې بیرون وتلو ته نه پریږدې ، ان تر دې چې په دې ورځو کې کوچیان هم ددې ځاې څخه لرې لرې ځاېو ته ځي. خلک نجوني را تښتوي او دلته ئې په میله کې پلوري ، دغه څلور واړه سوډانیان هم د همدي میلې په خاطر په رخصتۍ باندي و . میله درې ورځې وروسته پیلیږي.»

«ایا ددې په اړوند دا ویلاې شې چې د خلیفه د حرم نجلۍ به هم همدوی را تښتولې وي ؟ علي بن سفیان تري و پوښتل.

«زه په ډاډمنه توګه څه نه شم ویلاې» قومندان ورته ځواب ورکړ او وئې ویل « خو دا ویلې شم چې په دې شپو ورځو کې ددې قبیلې خلک خپل ځانونه په خطر کې اچوي او د نجونو د تښتولو هڅې کوي او دا دومره وینه تویونکې دي چې که چیرې د کومې نجلۍ وارث د میلې ځاې ته ورشي او دخپلې نجلۍ د خلاصون او یا بیرته اخستلو هڅه وکړي نو دوی ئې په وژلو هم دریغ نه کوي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نجونو په اخستونکو کې دمصر اميران ، وزيران ، او حاکمان هم شتون لري ، په دې ميلې کې موقتي قحبه ځايونه هم پرانستل کيږي او هلته د جوارۍ ، شرابو او د ښځو خوښونکي خپله شتمني شيندي. ددې جشن اخرى شپه ډيره د رازونو نه ډکه شپه وي ، په کوم ځانګړى ځاى کې ځوانه او ښايسته نجلۍ قرباني کوي ،دا هيچا ته هم نه مالوميږي چې نجلۍ چيرې او په کوم ځاي کې او په څه ډول قرباني کيږي. دا کار د هغوى يو مذهبي لارښود چې حبشيان ئي خداى ګڼي ، تر سره کوي. دهغه سره ډير کم شمير کسان او څلور پنځه نجونې وي ، خلکو ته د نجلۍ غوښ شوى سر او وينه ورښوول کيږي چې دهغې په کتلو سره ددې قبيلې خلک د ليونيو په څير شراب څښني او نڅاوى کوي.

***** (۴۵)

خليفه ساتونکې ډلې ته سزا ورکوله ، ټول ساتونکې ئې د سهاره څخه په سور لمر کې درولي و ،خو اوس لمر هم پريوتو ته ور نژدې کيده ،قومندانانو او نورو چارواکو ته هم نه د ډوډۍ خوړلو اجازه وه او نه اوبو څښلو. رجب به بيا بيا را ته او اعلان به ئې کاوه چې نجلۍ د ساتونکو د ملاتړ او بسپنې پرته نه شي تښتول کيداې ، هر هغه چا چې په دې کار کې کومک کړې وي هغه دې خپل ځان و ښيي او که نه تاسې ټول به همدلته د لوږې او تندې څخه هلاک کړل شئ ، که چيرې نجلۍ په خپله بيرون تللي واى نو ستاسې د ډلې څخه به يو چا ضرور کتلې وه ،.... دې ټولو اخطارونو هيڅ اغيز و نکړ ، ټولو ويل چې هغوى بې ګناه دي.

خليفه رجب ارام ته نه پريښوده ، هغه رجب ته ويلي و چې « زه د نجلۍ په هکله انديښمن نه يم ، خو په دې انديښمن يم چې څوک چې ددومره سختې پهرې څخه يوه ژوندى نجلۍ تښتولې شي نو هغه خوبيا ما هم وژلې شي. زه دې ثبوت ته اړتيا لرم چې نجلۍ رښتيا هم صلاح الدين ايوبي تښتولې ده.»

رجب هم د تښتولو دا بهتان د صلاح الدين ايوبي پر سرور تپلي و ، خو خليفه ورته ويل چې ثبوت راوړه ، خو رجب به ثبوت له کومه کړې و ، مګر اوس دهغه په ځان راغلي وه، هغه يو ځل بيا د ساتونکو د ډلې په لور ولاړ ، نور نو د غُصّې څخه سور را خوټيدلي و ، هغه هغه پخواني اخطارونه يوځل بيا هغوى ته تکرار ول غوښتل چې په دروازې ولاړ ساتونکې دروازه پرانسته او اعلان ئې وکړ چې « دمصر امير تشريف راوړې»

په لوئې دروازې د سلطان ايوبي آس ور ننوت ، دهغه تر مخه د هغه ددوه ساتونکو آسونه هم روان وو او نور اته کسان سواره ورپسې تلل ، د هغه ښي لورې او کيڼ لورې هم دهغه ساتونکو پوښلي وه. دساتونکو وروسته دسلطان ايوبي سلاکاران او حاکمان هم را روان وو ، په دې ډله کې علي بن سفيان هم و ، رجب خليفه ته خبر ورکړ چې صلاح الدين ايوبي راغلي دي ، ټولو و کتل چې سلطان ايوبي دملګرې ډلې وروسته يوه دڅلور پيښو ګاډۍ هم را روانه ده چې دوه آسونو را کشوله ، په دې ګاډۍ دوه لاشونه پراته و ، غشي لا تر اوسه دهغوى په لاشونو کې همغسې ننبتي و ، ددې لاشونو سره هغه درې اوښ سپاره هم ملګري و چې دا حبشيان ئې وژلي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیفه بیرون را ووت ، سلطان ایوبي او دهغې تول سواره ملګري د خپلو آسونو څخه را ښکته شول ، سلطان ایوبي خلیفه ته همغسې احترام وړاندې کړ دکوم چې هغه وړ و . هغه ته ښکته شو ، لاس ئې ورکړ او د هغه لاسونه ئې ښکل کړل ،

«ماته ستا پیغام رارسیدلې و چې زه ستا د حرم نجلۍ بیرته راولم ،» سلطان ایوبي ورته وویل « خو ما ستا د دوه ساتونکو لاشونه له ځانه سره راوړي دي ، دا لاشونه به ما بې ګناه ثابت کړي ، او زه د حضور په خدمت کې دا ویل اړین ګڼم ، چې صلاح الدین ایوبي ستا د فوځ سپاهي نه دې بلکه دهغه خلافت نمایندګي کوي چې ته هم د همغې له اړخه را لیږل شوې ئې.»

خلیفه د صلاح الدین ایوبي په فکر باندې و پو هید. دهغه د فاطمي خلافت ضمیر د ګناهونو د بار لاندې کړېکې وهلې ، هغه د سلطان ایوبي د هیبت ناکه او جلالي شخصیت تر مخ د را څرګندېدو وړ نه و . هغه د سلطان ایوبي په اوږه لاس کیښود او وئې ویل « زه تا دخپلو اولادونو څخه هم ډیر دوست ګڼم ،صلاح الدینه ! دننه راشه.»

«زه تر اوسه د ملزم په حیث دلته شتون لرم ،»سلطان ایوبي ورته وویل « زه باید اوس دخپل ځان پاکوالی ثابت کړم او دا وښایم چې زه د نجلۍ په تښتولو کې کوم لاس نه لرم. اللهؑزما سره بسپنه وکړه او ماته ئې دوه لاشونه را ولیږل ، دا لاشونه خبرې نه شي کولاې خو دهغوی چپوالي او دهغوی په وجودونو کې ورننوتي غشي په دې ګواهي وائې چې صلاح الدین ایوبي ددې جرم ، چې د خلافت په ماڼۍ کې تر سره شوې ،مجرم نه دې. تر هغې چې زه خپل ځان بې ګناه ثابت نه کړم نو دننه به ولاړ نه شم ،» هغه د لاشونو په لور ولاړ.

خلیفه هم خجالت نیولې د هغې پسې روان شو ، لرڅه اخوا دځلور ځلور نیم سوه کسانو ساتونکې ډله ولاړه وه ، سلطان ایوبي دا لاشونه را پورته کړل او دهغوی تر مخ ئې کیښوول ، او په لوړ اواز ئې وویل « اته اته سپاهیان مخته راشئ او دا لاشونه و وینئ او ووایاست چې دا څوک دي ؟»

لمرې قومندانان او نور چارواکي را غلل ، هغوی د لاشونو په کتلو سره حیران پاته شو ، دهغوی نومونه ئې واخستل او وئې ویل « دوی زمونږ د ډلي سپاهیان دي» دهغوی وروسته نور اته عسکر راغلل هغوی هم د لاشونو د کتلو وروسته وویل چې دوی دهغوی د ډلې خلک دي. په همدې تر تیب اته اته کسان راتلل او ویل به ئې چې دا لاشونه دهغه اود هغه د ملګرو دي.

«صلاح الدینه !» خلیفه ورته وویل « ما دا ومنله چې لاشونه د خلافت د قصر د ساتونکو دي زه غواړم چې مخته واورم چې دوی چا او څه ډول هلاک کړي دي»

صلاح الدین هغه ګشتي ډلې ته چې دا دواړه ئې وژلي و وویل ، چې خپل د سترګو لیدلې حال بیان کړي ، هغوی خلیفه ته ټوله پیښه په تفصیل سره بیان کړه ، کله چې دهغوی خبرې خلاصې شوې نو سلطان ایوبي خلیفه ته وویل « نجلۍ ئې ماته نه ده راوړې ، هغه ئې د سوډاني حبشیانو میلې ته د پلورلو له پاره وروړې ده»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیفه نور ددریدو ورٍ نه و -هغه سلطان ایوبي ته وویل چې دننه خونې ته ورشي ، خو سلطان ایوبي دننه خونې ته د تللو څخه ډه ډه کوله او وئې ویل ، زه به هغه نجلۍ ژوندۍ یا مړه را پیدا کوم او بیا به ستا خونې ته حاضرې درکوم. خو اوس همدومره وایم چې د حرم سراې دداسې یوې نجلۍ تښتول چې په تحفه کې راوستل شوې وه او ستا خپله ښځه هم نه وه بلکه ساتل شوې نجلۍ وه ، ماته د یوې ذرې په اندازه هم اهمیت نه لري ، الله ماته ددې څخه ډیرې مهمې نورې دندې را سپارلې دي.»

«زه په دې اندېښمن نه یم چې یوه نجلۍ چا تښتولې ده ،»خلیفه ورته وویل « اصل اندېښنه داده چې که چېرې په همدې توګه د نجونو د تښتولو کار دوام وکړي نو په هیواد کې به د قانون حیثیت څه وي ؟»

«او زه په دې اندېښمن یم چې ټول اسلامي سلطنت لګیادې تښتول کیږي ،» سلطان ایوبي ورته وویل « ته ډېره اندېښنه مه کوه ، زما د څارګنې شبکه به د هغې نجلۍ د را پیدا کیدو پوره پوره هڅې وکړي.»

«خلیفه سلطان ایوبي له لاسه و نیوه او لږ څه اخوا ئې یوړ او ورته ئې وویل «صلاح الدینه ! زه د ډیره وخته راپه دېخوا احساسوم چې ته زما څخه لرېوالې کوې ، زه د نجم الدین ایوب (د سلطان صلاح الدین ایوبي پلار )ډیر درنښت کوم ، خو ستا په زړه کې زما له پاره لږ احترام او عزت هم نه شته. او ماته نن وویل شو چې د مرکزي جومات امام امیر العالم دا ګستاخي کړې ده چې زما نوم ئې د خطبې څخه غورځولې دې. ماته رجب ویلې دي چې زه د ګستاخي سزا ورکولې شم ، زه له تا څخه پوښتم چې هغه خو به ستا په ملاتړ دا کار نه وي کړې ؟»

زما په ملاتړ نه بلکه زما په حکم ئې د خلیفه نوم د خطبې څخه ایسته کړې دي ، » سلطان ایوبي ورته وویل « یوازې ستا نوم نه بلکه د هرهغه خلیفه نوم ، چې ستا څخه وروسته راځي هم ، دخطبې څخه لرې کړل شوې دې.»

«ایا دا حکم د فاطمي خلافت د کمزورې کولو په خاطر ورکړل شوې دې ؟» خلیفه ترې و پوښتل.« زه شکمن یم چې دلته عباسي خلافت بیا راوړل کیږي.»

«حضور ډیر زوږ شوی دې ، »سلطان ایوبي ورته وویل « قران شراب څښل په دې خاطر حرام کړي دي چې دهغې په واسطه دماغ بې کاره کیږي ،»... سلطان د لږ څه فکر کولو وروسته وویل « ما پریکړه کړې ده چې د سبا څخه به ستا د ساتونکو په ډله کې بدلونونه را ځي ، او د رجب پرځاې به زه تا ته نوې قومندان ټاکم ،»

«خو زه غواړم چې رجب همدلته اوسي.» خلیفه ورته وویل.

«زه د حضور څخه غوښتنه کوم چې په فوځي او عسکري امورو کې د لاس وهلو هڅه و نه کړي » سلطان ایوبي ورته وویل او د علي بن سفیان په لور متوجه شو چې د پنځه حبشي ساتونکو سره هلته را روان و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې پنځه واړو هم د همغه قبيلې سره اړيکې درلودل ، علي بن سفيان ورته وويل « ما دهغوى ټولو ځخه و پوښتل چې که چېرې دهغې قبيلې اړوند ځوک شتون ولري نو بيرون دې را ووځي ، دغه پنځه واړه د صف ځخه بيرون را ووتل ، ما ته ددوى په اړوند ددوى قومندان وويل چې دوى هم بله ورځ په رخصتۍ باندې تلونکې دي ، زه به دوى دخپل ځان سره بوځم. د نجلۍ په تښتولو کې ددوى لاس هم شونې دې.»

صلاح الدين ايوبي رجب را وباله او ورته ئې وويل « سبا به دلته بل يو قومندان را ځي ،ته به هلته زما خواته راشې ، زه غواړم تا د منجنيقو قومندان کړم» د رجب د مخ رنګ بل منګه شو .

*****(۴۲ )

کله ئې چې "أمّ عراره» په آس سپره کړه او دواړه حبشيان و تښتيدل او دومره لرې ولاړل چې هلته ورته د تعاقب خطره نوره نه تر سترګو کيده ،نو هغوى خپل آسونه و درول ، نجلۍ يو ځل بيا د خپلې ازادۍ له پاره لاس و پښې وهل پيل کړل ، حبشيانو هغې ته وويل چې دهغې لاس وپښې وهل بيکاره دي ، اوس که هغه ازاده هم شي نو ددې شګزار ځخه ژوندۍ نه شې و تلې ، هغوى ورته دا هم وويل چې هغوى به هيڅکله هم هغه بې عزته او بې ابرو نه کړي ، که چېرې دوى داسې کوم بد نيت درلوداې نو هغوى به له دې سره د وحشي حبشيانو په څير سلوک کړې و . "أمّ عراره» حيرانه وه چې دې وګړو تر اوسه پورې هغې ته په بدو سترګو کتلي هم نه دي ، هغوى ته دا احساس هم نه کيده چې دومره ستره ښايسته نجلۍ دهغوى په لاسو کې ده ، دهغوى د ډلې ځخه هغه يو کس چې ووژل شو دهغې تر مخه په زنګونو شوې و او غوښتنه ئې ترې کړې وه چې هغه دې هسې په هسې خپل ځان په اذيت کې نه اچوي ، "أمّ عراره»د هغوى ځخه و پوښتل چې چېرې ئې وړي،نو هغې ته ځواب ورکړل شو چې هغوى هغه د اسمان ددېوتا ملکه جوړول غواړي ، او همملته ئې دېوتا ته ور وړي.

هغوى يو ځل بيا د نجلۍ په سترګو باندې توره پټۍ و تړله ، اوپه آس ئې سپره کړه. هغې هم د خپلې ازادۍ له پاره هلې ځلې پريښودې ، هغه پو هيده چې اوس داسې هلې ځلې کول عبس دي ، اسونه روان شول او "أمّ عراره» په يوه آس باندې د يوه حبشي تر مخ ناسته او ځنګيدله ، په يو ځاې کې لږ ځه تم شول او دهغې په خوله کې ئې اوبه ور واچولې او اسونه يو ځل بيا د خپل منزل په لور روان شول. ډير وروسته د يخنۍ دزياتيدو په اساس هغې دا احساس کړه چې شپه پخه شوې ده ، آسونه و دريدل ، خو د پرلپسې آس سپرلۍ ددې نازکې نجلۍ وجود ټوټې ټوټې کړې و . د ويرې او هيبت له لاسه ئې دماغ کار پرې اينبې و. هغې د اسونو د دريدو سره سم ددرې ځلورو نارينه و او ځلور پنځه ښځو اوازونه واوريدل ، هغه د هغوى پر ژبه نه پوهيده ، دې حبشي ساتونکو دهغې سره په لاره کې په عربي ژبه خبرې کولې. خو ددوى خلکو لهجه عربي نه وه.

لاتر اوسه ئې د هغې د سترګو ځخه پټۍ نه وي پرانستې خودهغې ژبه هم داسې مالوميده چې ولاړه ده. هغه چا پورته کړه او په يوه نرم شي ئې کينوله ، داپالکې و ، پالکې پورته وخوت او په دې تر تيب دهغې نوي سفر پيل شو. ددې سره سم د ډول نرم او ملايم اواز هم په غږيدو شو ، تر څنګ ئې ښځو هم سندرې ويل پيل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغوی د سندرو په معنا باندې هغه نه پوهيدله خو په دې سندرو کې د جادو اغيزو ، دا داسې اغيز و چې د "اُمّ عراره» ويره ئې نوره هم ورزياته کړه ، خو د دې ويرې سره داسې نښې هم را پيدا شوې چې په کې خمار ، نشه او مستي را پيدا کيده ، د شپې يخنۍ په دې خمار اومستۍ کې نور هم لذت را پيدا کاوه ، "اُمّ عراره» که غوښتلې نو کولاې شول چې ددې پالکې څخه ټوپ کړې او و تښتيږی او دا خلک ئې ووژني ، خو هغه داسې جرأت و نه کړ ، هغې دا محسوسوله چې هغه د انسانانو په لاسو کې نه ده بلکه بل کوم داسې ځواک دې چې دې ئې په قبضه کې نيولې ده ، هغې اوس په خپله خوښه کوم حرکت نه شو کولاې.

هغې احساس کړې و چې دپالکې پورته کونکي خلک په زينو باندې پورته خيژي ، هغوی همداسې پورته ختل ، نژدې دېرش زينې پورته ولاړل او بيا ئې بيرته هوار تلل پيل کړل ، څو قدمه مخته ولاړل او ودريدل ، پالکې ئې پر ځمکه کيښود ، د "اُمّ عراره»د سترګو څخه ئې پټۍ پرانستې خو چا دهغې په سترګو لاسونه کيښول ، لږه شيبه وروسته د هغې لاسونو ګوتې ازادې شوی اونجلۍ هرې لورې ته رڼاوې و کتلې ، سوکه سوکه د هغې د سترګو څخه هغه لاسونه پورته شول ، ويې کتل چې هغه په داسې يوه ماڼۍ کې ده چې د زرګونو کلو پخوانۍ مالوميږي ، دايروي شکله ستنې ئې پورته لوړی شوې وې، يو پراخه سالون و چې فرش ئې په رڼاګانو کې له ورايه ځليده ، ددېوالونو سره ډنډې لګيدلې وي او د ډنډو په سر باندې د مشالونو شعلې بليدې ، دننه فضا داسې خوشبويه وه ، چې دهغې بوي د دې له پاره يو نوي څيز و . د دېلار سپک سپک اوازونه او د ښځو سندرې هرې لورې ته اوريدل کيدې ، دې دېلارونو او سندرو په دې سالون کې داسې انګازې را پيدا کړې وي چې د هغې له پاره ئې دخوب کتل ګرځولې و.

هغې مخته وکتل ، هلته يوه چوتره وه چې نژدې اته يا لس زينې ئې درلودې ، د چوترې د پاسه د تيږې څخه د جوړشوی بُت سر او خوله ښکاريده ، د سر لاندې کوچنۍ غاړه هم تر سترګو کيدله ، ددې بُت څهره د يوه اوږود انسان څخه هم اوږده، پلنه او سوره وره وه ، خوله ئې پرانستې وه ، دومره ستره چې که يو انسان لږ څه ښکته شي نو په کې دننه ورننوتلې شي ، دهغې په خوله کې سپين غاښونه هم ايښول شوی و، داسې بريښيده لکه چې په وازه خوله خندا کوي ، دهغې ددواړو غوږونو څخه ډنډې را وتلې وې چې په سرونو کې ئې مشالونه روښانه شوی و ، دهغې سترګې چې اوږدوالې ئې نژدې يو ګز و په ناڅاپې توګه را و ځليدې، او روښنائې ترې را په خپريدو شوه ، د ښځو د سندرو سور بدل شو ، د دېلارونو په ساز کې جوش را پيدا شو . د تيږلوړې بُت خوله هم رو ښانه شوه ، دهغې څخه دوه کسان چې اوږدې اوږدې چپنې ئې اغوستې را ووتل ، هلته درې زينې وې ، ددې خلکو رنګونه تور او په سرونو باندې ئې د مرغانو اوږدې اوږدې او رنګ په رنګ بڼکې ترلې وې ، د بُت دخولې څخه د راوتلو وروسته يو ښې لورې ته او بل کيڼ لورې ته ودريدل.

ددې پسې سمدستي وروسته د تيږې د خولې څخه يو بل سړې هم را ووت ، هغه هم ښکته شو او بيرون راغې، هغه لږ څه عمرتيرې ښکاريده ، هغه سور رنګې چپنه په ځان کړې وه او پر سر ئې تاج درلود. يو مصنوعې مار د هغې په کيڼې اوږې باندې او بل دهغې په ښۍ اوږې باندې کينول شوی وو. ددې مارانو رنګ تک تور و. "اُمّ عراره» دويرې څخه لکه د بُت په څير ولاړه پاته وه. دا سړې چې ددې قبيلې مذهبې لارښود يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروهتې و د چوترې د زينو څخه را کيوت ، هغه سوکه سوکه "أمّ عراره» ته را نژدې شو او دواړه ګونډې ئې په فرش باندې و لګولې ، دنجلۍ دواړه لاسونه ئې په خپلو لاسونو کې و نيول او ښکل ئې کړل ، هغه نجلۍ ته په عربې ژبه وويل ،« ته هغه د ښه قسمت خاونده ئې ، چې زما دېوتا د ځان له پاره خوښه کړې ئې. مونږ تا ته مبارکي وايو.»

"أمّ عراره» را بيداره شوه ، هغه په ژړغوني اواز سره وويل «زه دېوتا ميوتا نه منم ، که چيرې تاسې دېوتاګان منئ نو زه تاسې ته همغه واسطه کوم او در څخه غوښتنه کوم چې ما پريږدئ ، زه مو ولې دلته راوستلې يم ؟»

«دلته چې هر څوک راځې نو همدا خبره کوي» پروهتې ورته وويلې ،« خوکله چې پر هغه دهغه مقدس ځاې راز را څرګند شي نو بيا وائې چې زه ددې ځابه تلل نه غواړم. زه پوهيږم چې ته د مسلمانانو دخليفه معشوقه ئې. خو هغه چا چې ته د خپله ځان له پاره غوره کړې ئې دهغه تر مخه د دنيا خليفه ګان او د اسمانونو ملائکې سجدې کوي ، ته جنت ته راغلې ئې، جنت ته.»

هغه د خپلې چينې څخه يو ګُل را وويست ، او د "أمّ عراره»د پوزې سره ئې يو ځاې کړ. "أمّ عراره»د حرم سراې شهزادګۍ وه ، او هغې داسې عطر بوي کړې و چې ددې په خير د شهزادګيو پرته ئې بل څوک په خوب کې هم نه شي بويولاې. خو ددې ګُل بوي دهغې له پاره څه بل منګه و ، دا بوي دهغې روح ته ورکيوت. دهغې د فکرونو دنيا بدله شوه ،د سترګو د ليد زاوئې ئې بدلې شوې ، پروهتې ورته وويلې ،« دا د دېوتا تحفه ده » او هغه هغه ګُل دهغې د پوزې څخه لرې کړ.

"أمّ عراره» سوکه سوکه خپل لاس مخته کاوه او د پروهتې ګُل نيونکې لاس ئې را نيوه او خپلې پوزې ته ئې را نژدې کاوه ، دګُل د بوي کولو وروسته ئې په خمار اواز سره وويلې « دا خومره ستره او زړه وړونکې تحفه ده ، دا ماته نه راکوی ؟»

«ايا تا دا تحفه و منله ؟» پروهتې ترې و پو ښتل ، دهغه په شونډو باندې نرۍ شانته مُسکا وه .

«هو !» "أمّ عراره» ورته ځواب ورکړ « مادا تحفه قبوله کړې ده » هغې دا ګُل يو ځل بيا پوزی ته نژدې کړ او بوي ئې کړ ، سترګې ئې داسې پټې کړې لکه دهغې بوي چې په خپل وجود کې د جذبولو هڅه کوي.

«دېوتا هم ته قبوله کړې ئې ،» پروهتې ځواب ورکړ او ترې وئې وپو ښتل « ته تر اوسه پورې چيرې وې ؟»

نجلۍ په فکر کې داسې ډوبه شوه لکه د کوم شي د را يادولو هڅه چې کوي ، سر ئې و ښنډه او وئې ويلې «زه همدلته وم ،نه زه په بوه بل ځاې کې وم...... ما ته نه دي په ياد چې زه چيرې وم»

«ته دلته چا راوړې ئې ؟»

« هيڅا نه» "أمّ عراره» ځواب ورکړ ، « زه پخپله دلته راغلې يم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ته په‌آس سپره دلته نه‌وې راغلې ؟»

«نه !» نجلۍ ځواب ورکړ« زه په‌هوا کې الوتونکې راغلې یم.»

«ایا په‌لاره کې ځنګلونه ، دښتې ، غرونه او .... نه‌و ؟»

«نه ، هیڅ نه‌و » نجلۍ د کوچنیانو په خیر په شوخۍ سره ځواب‌ورکړ ،« هرې لورې ته شنه چمنونه او ګُلونه و.»

«ایا ستا په سترګو چا کومه پټۍ تړلې وه ؟»

«پټۍ ؟.... نه هیڅکه !» نجلۍ ځواب ورکړ ، « زما سترګې پرانستې وې او ما رنګ په رنګ مرغان کتل ، خواږه خواږه مرغان.»

پروهت په لوړ اواز سره څه‌وویل–په‌دې وخت کې د "اُمّ‌عراره»د شا له‌خوا څلور نجونې راغلې ، هغوی ترې کالي وویستل، او د مور څخه‌د پیدایښت دوخت په خیر ئې لوڅه لغړه و دروله ، هغه مسکۍ شوه او وئې ویل « دبوتا به‌ما په‌همداسې حال کې خوښه کړي ؟» پروهت ورته وویل «نه ! تاته‌مونږ د دبوتا دخوښې کالي دراغوندو ،» نجونو دهغې پر اوږو باندې یو لوې ځادر خپور کړ، او دهغې جسم ئې د سر نه تر پښو پورې په‌کې پټ کړ. ددې ځادر په‌څنډو باندې د رنګ‌لرونکې رسیو ټوټې تړلې وې ، ځادر ئې را مخته‌کړ او د رسیو ټوټې ئې سره را و تړلې ،اوس نو د ځادر څخه یوه ښکلې چوغه جوړه شوې‌وه. د "اُمّ‌عراره» ویښتان د وریښمو په‌خیر نرم او تور والې ته مایل و، یوې نجلۍ د هغې ویښتان ګُمنځ‌کړل او دهغې په اوږو ئې را خپاره‌کړل ، چې ددې سره‌د هغې ښایست‌نور هم‌زیاد‌ښت ومونډ.

پروهت هغه‌ته په مُسکا سره وکتل او بیرته‌وګرځید او د تیږې د هیبت ناکه‌څهرې په لور ورستون شو. دوه نجونو د "اُمّ‌عراره» لاسونه و نیول او د پروهت شا شا ته روانې شوی ، "اُمّ‌عراره»د شهزادګیو په‌خیر روانه وه، هغې هیڅ لورې ته‌نه‌کتل ، او نه ئې خپل چاپیریال وکوت ، دهغې په‌تګ کې یو بل شان و ، د پروهت شاته ، او لاسونه‌ئې د نجونو په‌لاسو کې په زینې باندې ورختله ، پروهت د تیږې د غره په‌خیر د څهرې په خوله کې ورننوت ، "اُمّ‌عراره» هم درې زینې پورته ولاړه او د پرو هت په‌خیر د تیږې په خوله‌کې ور ښکته شوه او ورننوتله ، دواړه نجونې د تیږې دخولې مخ ته‌و دریدې ، اوس نو د "اُمّ‌عراره» لاس پروهت نیولې و ، د تیږې دخولې چت دومره هسک و چې هغوی په‌کې نیغ په‌ولاړه روان ول، کله چې تر حلقه پورې ورسیدل نو هلته‌بیا نورې زینې وې ، د زینو څخه په ښکته‌کیدو سره یو تاخانه راغله ، په تاخانه کې قندېلونه روښانه شوی و، په‌دې خونه کې هم یو ځانګړې مهک و خو دا خونه دومره ستر ه نه‌وه او نه ئې چت اوچتوالې درلود. دهغې دېوالونه‌او چت د ونو په پاڼو پوښل شوی‌و، په‌فرش باندې‌نرمه ګیاه او د ګیاه دپاسه د ګُلانو پاڼې خپرې‌ورې پرتې وې. د خونې په‌یوې څنډې کې ډیره ښکلې‌صراحې او پیالې ایښول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې وې ، پروهتې د صراحي څخه دوه پيالي ډکې کړې ، يوه ئې پخپله واخسته او بله ئې "أمّ عراره"ته ورکړه دواړو خپلې پيالې دخپلو شونډو سره يوځاې کړې او د سترګو په رپ کې ئې خالي کړې.

«دبوتا به کله راځي ؟» "أمّ عراره» و پوښتل.

«تا تر اوسه پورې هغه نه دې پيژندلې ؟» پروهتې ورته وويلې « ستا تر مخ ثوک ولاړ دې ؟»

"أمّ عراره»د هغه په پښو کې کيناستله او ورته ئې وويلې « هو ! ما پيژندلې دې ،ته همغه نه ئې چې ما هلته پورته و کتلې ، تا زه قبوله کړې يم ،؟»

«هو !» پروهتې ورته وويلې « دنن ورځې څخه ته زما ناوې ئې»

***** (۴۷)

زه اوس تاته نور څه نه شم ويلې، زما پلار ماته ويلې و چې پروهتې نجونو ته ګل بويوې چې دهغې د خوشبوې په واسطه نجلۍ بيا په ځان نه پو هيږي چې هغه څه شې و؟د کومه ځاې څخه راغلې وه ؟ او څه ډول راوستل شوې وه؟ ددې ګل د بوې کولو وروسته هغه د پروهتې وينځه ګرځي او هغې ته د دنيا ډير مردار شې هم ډير ښه او پاک تر سترګو کيږي. پروهتې درې ورځې هغه همدلته په تاخانه کې له ځانه سره ساتې.»

دا ثرګندونې د هغه پنځو حبشيانو څخه يوه علي بن سفيان ته کولې چې هغه دخليفه د ساتونکې ډلې څخه را ويستلې و. دا پنځه واړه ه دهمغې قبيلې خلک و چې ځلورو ئې "أمّ عراره» تښتولې وه ، علي بن سفيان هغوی د خپله ځانه سره واخستل او ورته ئې وويل « چې څنګه چې تاسې د همغې قبيلې خلک ياست چې هر درې کاله وروسته جشن جوړوې او هر وګړې ئې شپږ ورځې رخصت اخلي نو په دې اساس به تاسې ته ډاګيزه وې چې نجلۍ څه ډول تښتول شوې ده. هغوی پنځه واړو وويل چې د نجلۍ د تښتولو په هکله پوهه او مالومات نه لري. علي بن سفيان ورته دا لالچ ورکړچې که چيرې هغوی ريښتيا ووائې نو هيڅ ډول سزا به ورته ورنه کړل شي. خو بيا هم هغوی په دې هکله د خپلې بې خبرۍ ثرګندونه کوله ، دا قبيله دخپلو وينه تويونکو او وحشيانه عادتونو په واسطه ډيره مشهوره وه ، هغوی د سزا څخه لږ څه هم نه ويريدل ، دغو پنځه واړو په پوره زړه ورتيا سره د حقيقت د را برسيره کولو څخه ډه ډه کوله ، اخر علي بن سفيان د هغو لار و څخه د ګټو د پورته کولو پريکړه وکړه چې تيرې ئې هم ويلي کولاې شوی.

هغوی پنځه واړه ئې جدا جدا کړل او هغه ځايونو ته ئې و ليږل چيرې چې د چا «اه» او« واه » چا نه شوه اوريدلاې ، که د پرليسې اذيت او وهلو ټکولو په واسطه به کوم ملزم مړ کيده هم ،نو څه پرواه به ئې نه وه. دا پنځه واړه سوډانيان ډير سخت ځانه مالوميدل، هغوی به ټوله شپه اذيت کيدل ، علي بن سفيان به ټوله شپه ويښ پاته کيده ، اخر ئې هغوی په هغه ازميښت کې ور وغورځول چې دهغوی له پاره اخرې لاره انګيرل کيده. د اذيت دغې طريقې کې به ډير وخت ملزمان بې هوشه کيدل ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سهار په مهال یو عمر تیري حبشي علي بن سفیان ته وویل « زه په تولو هر څه باندي پو هیږم ، خو د دېوتا له ویرې ئې نشم ویلاې ، ځکه ویریږم چې د بوتا به ما په ډیر ناکاره مرګ ووژني.»

«ایا ددې څخه زیات بل ناکاره مرګ کیداې شي چې زه مو پرې وژنم ؟»علي بن سفیان ورته وویل ،« که چېرې ستاسې دېوتا ریښتوني وې نو هغه به تاسې ددې شکنجې او زوروني څخه ازاد کړي واست ؟ که د مړینې څخه ویریږئ نو مرګ دلته هم شتون لري ، ته خبره کوه زما په لاس کې داسې یو دېوتا دې چې هغه به تا ستا له دېوتا څخه وژغوري ،»

دا سوډاني حبشي څو ځله بې هوشه شوی و ، هغه ته خو دېوتا نه ، بلکه مرګ په ځرګنده توګه تر سترګو کیده. علي بن سفیان د هغه ژبه را پرانسته ، هغه ئې د اذیت څخه خلاص کړ او خوراک څښاک ئې ورکړ ، او د ارام لپاره ئې ورته ځاې ورکړ. هغه اقرار وکړ چې "أمّ عراره» دهغې د قبیلې څلورو کسه تښتولې ده. هغه څلور واړه په رخصتۍ تللي و ، خو هغوی د تښتولو شپه او وخت مونږ ته ښوولې و ، دغه پنځه واړه حبشیان چې اوس د علي بن سفیان په بند کې و په هغه شپه پهره درلوده ، د تښتونکو څخه دوه باید دننه راغلي وی ، هغوی ته د لویې دروازې څخه د راننوتلو له پاره لاره هواره شوې وه. او دهغوی سره د بیرته تښتیدو او تښتولو هر ډول مرسته شوې وه. هغه حبشي ورته وویل چې هغوی به هغه نجلۍ د دېوتا په قربان ځاې کې قربانوي ، ددوی قبیله هر درې کاله وروسته یو جشن جوړوي خو د قربانۍ له پاره نجلۍ ددوی د خپلې قبیلې څخه نه وي ، دهغې له پاره شرط دادې چې هغه به دقبیلې بهر څوک وي ، سپین رنګه به وي ، د لوړې کچې د کورنۍ څخه به وي ، او دومره ښایسته به وي چې خلک ئې په کتلو حیران پاته شي.

«نو ددې مطلب دا شو چې هر درې کاله وروسته ستاسې قبیله د بهر څخه یو ښکلې نجلۍ را تښتوي او قربان ځاې ته ئې راوړي » علي بن سفیان ترې و پوښتل.

«نه دا غلطه ده» سوډاني حبشي ځواب ورکړ ، « درې کاله وروسته یواځې میله جوړیږي ، د نجلۍ قرباني د هر پنځه میلو یا هرو پنځلس کالو وروسته صورت نیسي ، خو مشهوره داسې ده چې په هر درې کالو کې یو ځل یوه نجلۍ قرباني کیږي».

هغه د خپل پلار په حواله هغه ځاې په ګوته کړ چېرې چې دا قرباني صورت نیسي ، هغه پروهت د هغه دېوتا ځوي ګاڼه. په هغه ځاې کې چې میله جوړیده دهغه ځابه څخه دوه دونیم میله لرې یوه غرنیزه سیمه وه چې په ځنګلونو کې پټه شوې وه. دا سیمه دومره پراخه او عریضه نه وه. ددې سیمې په اړوند دا مشهوره شوې وه چې دلته دېوتا اوسیږی او دهغې د خدمت له پاره پیریان او ښاپیریاني شتون لري ، خلکو په دې خاطر دا خبرې منلې چې هرې لورې ته صحرا او په هغې کې د جزیرې په څیر څه سیمه غرنیزه او شینخولې وه. چې په خپل ذات کې د قدرت د عجایباتو څخه ګڼل کیده ، او عامو خلکو ګمان کاوه چې دا به د دېوتاو د اوسیدلو ځاې وي. په دې سیمه کې د فرعونیانو د وخت کنډرې لا تر اوسه پاته وي ، تر څنګ ئې یو جهیل(د اوبو ډنډ ) هم و چې واړه او غټ (Crocodile )یا سترې ځمځاری په کې اوسیدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قبيلې کوم وګړي به چې دروند جرم وکړ نو هغه به ئې د پروهت په لاسو کې ورکاوه ، پروهت به هغه ژوندې همدې جهيل(د اوبو ډنډ ) ته ورغورځاوه او (Crocodile)یا سترو خمڅارو به نواله کاوه . پروهت په همدې کنډوالو کې اوسيده ، هلته د يوې سترې تيږې سر او خوله چا تراشلې وه ، چې په دې تيږه کې ددوی د ګروهې په مطابق دننه دېوتا اوسيدل ، ددېوتاو د خوښې او خوشحالۍ په خاطر به ئې هر پنځلس کالو کې يو ځل د قبيلې څخه بهر يوه ښکلې نجلۍ دلته را وستله ،او پروهت ته به ئې ور حواله کوله ، پروهت به نجلۍ ته يو ګل بوي کاوه، د ګل د بوي کولو وروسته به نجلۍ دا هيرول چې هغه څوک وه ، له کومه ځايه راغلې او چا راوستې ده؟ په دې ګل کې به ئې کوم نشه ايز څيز ورګډاوه ، چې دهغې له مخې به هغې پروهت خپل دېوتا او خپل ميړه ګاڼه ، هغې ته به د هغه ځاې ګنده او مردار شيان هم ډير ښه او ښکلې تر سترګو کيد .

د نجلۍ قرباني به هم په همدې کنډرو کې کيدله ، پرو هت به نجلۍ له خپله ځانه سره په تاخانې کې ساتله ، په دې ځاې کې نور څلور کسه نارينه او څلورکسه ښکلې نجونې هم اوسيدلې . ددوی څخه اخوا بل چاته ددننه د ورننوتلو اجازه نه وه . کله به ئې چې نجلۍ د قربانۍ ځاې ته بوتلله ، نو هغې ته به دا احساس هم نه کيده چې دهغې څټ به پرې کيږي . هغه به په فخر او خوشحالۍ سره مرګ مانه ، دهغې وجود به هلته په جهيل(د اوبو ډنډ ) کې (Crocodile)یا سترو خمڅارو ته ور اچول کيده ، او وينبتان به ئې پرې کول او د قبيلې هر کورنۍ ته به ئې د سوغات(خوردې) په توګه ورليږل ، دا وينبتان به مقدس ګڼل کيدل، د نجلۍ سر به ئې د وچيدو په خاطر په يوه غار کې ايښوده ، او کله به ئې چې غوښه له منځه ولاړه او يواځې کوپړۍ به ئې پاته شوه نو هغه به ئې په همدې غار کې ايښوله ، خود نجلۍ شکل او صورت به د هغې په ژوند کې چاته نه وربښول کيده .

«پنځلس کاله پوره شوی دي اوس به يو ځل بيا د نجلۍ قرباني ورکول کيږی.» دغې حبشي وويل ،«مونږ نهه کسان د مصر په فوځ کې ورګډ شوی و . څرنګه چې مونږه نه ويريدونکی او وحشي ګڼل کيدو په دې خاطر ئې مونږ د خليفه د ساتونکې ډلې غړي غوره کړو . دوه مياشتې کيدې چې مونږ دغه نجلۍ کتلې وه ، داسې ښايسته نجلۍ کله هم مونږ ته نه وه تر سترګو شوې ، مونږ ټولو پريکړه وکړه چې دا نجلۍ به له دې ځايه تښتوو ،او د قربانۍ له پاره به ئې وړاندې کوو. زمونږ يو ملګری چې پرون ووژل شو خپلې قبيلې ته تللې و او خپلو مشرانو ته ئې ددې نجلۍ په هکله ويلي و ، او ورته ئې ويلي و چې دا ځل به مونږ د قربانۍ له پاره نجلۍ را وړو ، په دې خاطر مونږ نجلۍ و تښتوله.»

(۴۸)*****

کله چې دا قصه صلاح الدين ايوبي واوريده نو ډير زيات حيران پاته او په فکر کې ډوب شو ، علي بن سفيان دهغه دحکم منتظرو ، سلطان ايوبي نقشه و کتله او وئې ويل « که چيرې ځاې همدا وي نو بيا خو دا زمونږ د احاطې څخه بيرون دي هغه مالومات چې تاسې د ښار دخلکو څخه تر لاسه کړي دي ، دهغو څخه دا په ډاګه کيږی چې فرعون ډيرې پيړۍ پخوا مړ شوې دي خو دهغه فرعونيت لا تر اوسه په خپل ځاې پاته دي . مونږ ته د مسلمانانو په خير دا اړينه ده چې که چيرې مونږ تر لرې پورې نه شو تللاې نو لږ تر لږه دهغه نژدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاونډيانو څخه خوکفر او شرک له منځه يوسو ، مالومه نه ده چي تر ننه پوري به دڅومره ميندو او پلرونو پاکي او معصومي لوټي ددي رواج ښکار شوی او ځار شوی وي ، او په دي ميلي کي به تر اوسه پوري څومره پاکي او معصومي نجوني پلورل شوي وي مونږ بايد د دېوتا ګانو انګيرنه له يوه سره ختمه کړو . دغه بد نامه مذهبي مشران خلکو ته د دېوتا د غلطي انګيرني په اساس دخلکو معصومي نجوني را تښتوي او د بدکاری او عياشی کار تري اخلي.

«زما د مخبرانو را پورونو کي دا ډاګيزه شوی ده چي هلته زمونږ د فوځ قومندانان او د مصر شتمن خلک ورځي او نجوني پيري او يا ئي د څو ورځو له پاره په کرايه اخلي .» علي بن سفيان ورته وويل « د کړچار د تباهی نه اخوا دا ګوابښ هم شتون لري چي د سوډانيانو دلري کړل شوی فوځ عسکر به دي ميلي ته په ګڼ شمير ورځي ، د سوډاني فوځ پخواني فوځيانو سره يو ځاي زمونږ د فوځ ورګډيدل او دهغوی سره په دي جشن کي برخه اخستل مناسبه نه بريښي ، دا ډول ګډي تفريحګاني د هيواد له پاره ګټوري نه ثابيتږي.» علي بن سفيان لږ څه په وارخطائي سره وويل « او نجلی د قرباني څخه دمخه خوندي کول او خليفه ته د هغي ورسپارل په دي خاطر هم اړين دي چي هغه ته دا مالومه شي چي هغه د تښتوني الزام چي هغه پر تا باندي لګولي و څومره بي بنسټه او درواغ و .»

«علي ! زه دهغي څه پرواه نه لرم .»سلطان ايوبي ورته وويل « زه دخپل ځان په لور نه وينم ، ما چي څوک هر څومره سپک ګڼي بيا به هم زه د اسلام عظمت او پرمختګ له ياده و نه باسم ، زما ذات هيڅ نه دي ، او ته هم دا په ياد ساته علي ! دخپل ذات څخه توجه واړه وه .او د سلطنت د ټينګښت اود خپل ولس د سوکالی په لور متوجه اوسه ، پخوا به د اسلام دعظمت امين خليفه و خو د وخت په تيريدو سره خليفه په خپل ذات کي ډوب شو او د خپل نفس ښکار و ګرځيد ، اوس زمونږ خلافت د اسلام ډيره ستره کمزوري ګرځيدلي ده . صليبيان زمونږ همدا کمزورتيا زمونږ پر خلاف استعمالوي ، که چيري ته غواړي خپلي دندي په برياليتوب سره تر سره کړي نو بيا دخپل ذات ، شخصيت او نفس د پاللو څخه لاس واخله ،..... هغه الزام چي خليفه پر ما لګولي دي ، هغه ما په ډيره ستونزمنه توګه وزغمه ، ما کولي شو چي د هغي ځواب په هماغه وخت کي ورکړم، خو زما ځواب به هم دومره اغيزمن نه و ، او بيا به زه دخليفه سره په شخصي سياسي لوبه کي را ننبتي وم ، ماته همدا خطره تر سترګو کيدله ، چي په اسلامي ملت به داسي يو وخت راځي چي د خپلو حکمرانانو ، د ذاتي سياسي لوبو ، خپل نفس پالني ، په نورو باندي د خپل ستر والي د ښوولو او د ځواک په هوس کي به له منځه ځي.»

«دبي ادبی ښننه غواړم درونده اميره !» علي بن سفيان ورته وويل ، « که چيري ته غواړي دا نجلی د قرباني څخه خوندي پاته شي نو امر وکړه ، وخت ډير کم دي ، بله ورځ ميله پيليږي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«فوځ ته سمدستي دا حکم ورسوئ چي په دې میله کې هیڅ فوځي ته دګډون کولو اجازه نه شته.» سلطان ایوبي خپل یو سالار راو غوښت او ورته ئې وویل « د حکم سرغړونکي ته به د هغې د رتبې او مرتبې څخه د لرې کولو تر څنګ د عوامو تر مخ پنځوس لښتې سزا هم ورکول کیږي»

ددې حکم د صادرولو وروسته په پلان باندې کار پیل شو. سلطان ایوبي لا د پخوا څخه اړوند مسؤلین را بللي و. هغه ټولو ته ویلي و چي زمونږ موخې دادي چې دا طلسم مات کړو ، دا د فرعونیت اخري ځاې مالومیږي.... اول هغه لورې ته د فوځ لیږل تر بحث لاندې راغلل ، خو هغه په دې خاطر د بحث نه ولویدل چي دا کار به د هغې قبیلې خلک دخپل ځان پرخلاف فوځي برید وګڼې، که جګړه وشي نو زیات شمیر بې ګناه خلک به، د کوچنیانو او ښځو په ګډون ، په کې و مري ، دا وړاندېز هم وشو چي همدا حبشي د لاړښود په ځیر له ځانه سره واخلي او هلته ، چې دغه نجلۍ په کې قرباني کیږي ، ناڅاپي یرغل کونکی ډلې و استوي ، سلطان ایوبي هلته د عسکرو سره د هغه حبشي لیږل اړین و نه ګڼل ځکه د هغې څخه د دوکې ورکولو خطر شوني و. تر دې بحثه پورې د سلطان ایوبي په حکم د ناڅاپي حمله کونکو او د شپې د برید کونکو یوه ځواکمنه ډله تیاره کړل شوې وه. دا د ځان ځارونکو سرتیرو مجاهدینو ډله وه چي د جذبې له اړخه دومره پاخه شوې و چي دداسې دندو تر سره کولو له پاره ئې تلل خپل فخر ګاڼه ، هغوی چي اوس د کومې دندې د ترسره کولو له پاره استول کیدل نو دهغې څخه ددوی بیرته ژوندي راتلل شوني نه ښکاریدل.

دنائب سالار الناصر اوعلي بن سفیان د سلاګانو له مخې دا پریکړه و شوه چي یوا ځي دولس ګوریلایان( غلچکی برید کونکي ) به دغره په هغه ځاې کې ور ننوځي چي پروهت په کې اوسیږی ، او دنجلۍ د قربانۍ ځاې هم دې.

دحبشي د ورکړل شوی مالوماتو په بنسټ په دغه شپه په میله کې ډیره ګڼه ګونه ئي ، ځکه چي هغه د میلې اخري شپه وي ، دقبیلې دخلکو پرته بل چاته دا مالومه نه وي چي نجلۍ قربانیږي ، داسې مالومیده چي هغه په دې نه پوهیده چې د قربانۍ ځاې چیرې دې ، ددې مالوماتو په رڼا کې دا پریکړه و شوه چي پنځه سوه عسکر به د میلې د کتونکو په بڼه کې په تورو او نورو اړوند وسلو سمبال ، په هغه شپه په میله کې شتون ولري ، دهغوی له ډلې څخه به ددوه سوو سره غشي او لیندۍ وي ، په هغه وخت کې د دې وسایلو په ګرځولو او درلودلو بندیز نه و. د ګوریلا ئي ډلې په ذهنونو کې ئي په ښه توګه دهغه ځاې نقشه انځور کړه، خو هغوی ته وویل شو چي مخامخ او نیغ په نیغه به برید نه کوي ، بلکه د ګوریلاو په ځیر به په غرنۍ سیمه کې ور ننوځي، ساتونکي به په پټه خوله له منځه وړي او اصل ځاې ته په رسیدو سره به هغه وخت برید کوي چي نجلۍ دقربانۍ ځاې ته ور وړي ، ددې د مخه د یرغل زیان به داوي چې نجلۍ به هملته په تاخانه کې له منځه یوړل شي او یا به بل چیرې پټه کړل شي.

دا ډاګیزه شوې وه چي قرباني په نیمائې شپه کې ، کله چي سپوږمۍ مکمله شي ، تر سره کیږي ، پنځه سوه نور سپاهیان د قربانۍ د ځاې تر څنګ د غرونو په چار چاپیر کې ځاې په ځاې کیدل، او د ګوریلایانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داحتمالي ناکامۍ په صورت کې او يا د هغوی د دندو په تر سره کولو کې د ستونزو د راپيداکيدو په وخت کې دوی ته لار ښوونه شوې وه چې هغوی دې د نښې په توګه يو اور بلونکې غشې هوا ته و توغوي ، ددې غشې د رڼا په کتلو سره به دا پنځه سوه کسان خپل بريد پيلوي.

په دې وخت کې دولس کسه سر تيري و ټاکل شول ، او دنور الدين زنګي د هغه فوځ څخه چې دوه کاله مخته هغه د صلاح الدين ايوبي د مرستې په خاطر را استولې و پنځه سوه ذهين او زړه ور عسکر او قومندانان و ټاکل شول ، دوی له عربو څخه راغلي و ، دوی لا تر اوسه پورې د مصر او سوډان د سياسي لوبو او عقايدو تر اغيز لاندې نه وراغلي ، دوی يوائې پر اسلام پو هيدل او همدا ددوی عقيده او ګروهه وه. هغوی به د هرې هغه عقيدې پر خلاف را پورته کيدل چې غير اسلامي به ورته ښکاريده ، هغوی ته ويل شوی و چې هغوی د يوې باطلې عقيدې پر خلاف جنګ ته روان دي ، او شونې ده چې دوی ته د خپلې شميرې څخه د زياتو مخالفينو سره د مقابلې کول ورپه غاړه شي ، جنګ او جګړه هم ويني تويونکې وي او دا هم شونې ده چې دهغوی تر مخ ځوک دمقاومت توان هم و نه لري ، او ټول کار د جنګ او جګړې کولو پرته تر سره شي. هغوی ته د ټول پلان په هکله خبر ورکړل شو. او دهغوی په ذهنونو کې غريزه سيمه ، د هغې سيمې دغرونو لوړوالې ، چې دومره زيات نه بريښيده ، او په هغې کې دننه د قربان ځاي په هکله ټول مالومات ورکړل شول، هغه دولس سر تيرو مجاهدينو ته هم همدا انګيرنه ورکړل شوه ، هغوی لا د پخوا څخه سخت روزل شوی وو ، په غرونو ختل ، په ګلوړه دښتو کې منډې وهل ، لوږه ، تنده د اوښ په څير زغمل... دهغوی له پاره ستونزمن نه و.

لا تر اوسه د قربانۍ شپې ته شپږ ورځې پاته وی ، درې شپې او درې ورځې سرتيرو اوپنځه سوه فوځيانو ته روزنه ورکړل شوه ، څلورمه ورځ ئې سر تيري په اوښانو سپاره و استول ، هغه ځاې د اوښانو په عادي سفر يوه ورځ او نيمه شپه لرې پروت و ، اوښ چلونکو ته حکم شوې و چې سر تيري د غريزي سيمې څخه لرې چېرې ښکته کړي او دوی بيرته را ستانه شي ، همدا راز ئې پنځه سوه نور عسکر د نندارچيانو په بڼه کې، ددوه دوه او څلورو څلورو په ټوليو کې په آسونو او اوښانو سپاره واستول ، هغوی ته ويل شوی و چې خپل ځناور به له ځانه سره ساتي ، دهغوی سره د هغوی قومندان هم په هماغه بڼه کې روان شوی و.

*****(۴۹)

دميلې اخري شپه وه –

سپوږمۍ دخپل ستروالې په اخري پړاو کې وه ،د صحرافضا د شيشې په څير شفافه وه ، په ميلې کې د انسانانو د هجوم او ګڼې ګوڼې شميره شونې نه وه ، په څو ځايو کې نيمې لوڅې نجونې نڅيدلې او په ځينې نورو ځايو کې د سندرغاړو اوهغوی ته د راټولو شو خلکو ډلې ټپلې را ټولې شوې وې. خو تر ټولو زيات خلک د هغې چوترې تر خوا را ټول شوی و چېرې چې نجونې ليلامېدلې. يوه يوه نجلۍ به ئې چوترې ته را وستله او هلته به ئې د اخستونکو د نظره تيروله ، پيرونکو به د هغوی مخ ، صورت ، غاښونه ، ويښتان او ټول وجود د سرنه تر پښو پورې له نظره تيراوه ،او بيا به ئې پرې بولې پيل کولې ، هلته جوارې هم روانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه اود شرابو څښل په اخري پړاو کې و. هلته يوائځي شي چې شتون نه درلود هغه قانون و او بس. د هر څه ازادي وه د لرې لرې ځايو څخه د راغليو خلکو خيمې په شاوخوا کې ښخې شوې وې ، نندارچيان د مذهب او اخلاقو د بنديزونو څخه ازاد وو ، هغوی ته مالومه نه وه چې دهغوی دخيمو څخه لرې د لرې د غرونو په غيږ کې يوه ښايسته او ښکلې پيغله د حلاليدو تياري نيسي ، او هلته يو انسان له ځانه دېوتا جوړ کړې ، هغوی همدومره پوهيدل چې ددې غرونو تر منځ ژوره سيمه د دېوتاګانو پايتخت دې. هلته پيريان او دېوان پهره ورکوي ،او کوم انسان هلته د ورتللو جرأت هم نه شي کولاې.

هغوی ته دا هم نه و مالوم ،چې دهغوی تر منځ د الله ج پنځه سوه مجاهدين ور ننوتي دي. او نور دولس کسه سرتيري مجاهدين د دېوتاګانو په چاپيريال کې ور داخل شوی دي .. د صلاح الدين ايوبي دولسو کسو سرتيرو ته ورښول شوی و چې په غرونو کې د ورننوتلو لارې دکومه ځايه څخه پيل کيږي خو هغوی دهغې لارو څخه هلته نه شو ور ننوتلاې ، ځکه هلته دهغوی ساتونکي ولاړ ول، هغوی بايد د يوې ډير ستونزمنې لارې څخه هلته ور ننوځي ، هغوی ته دا هم ويل شوی و چې د غرونو په شاو خوا کې هيڅ انسان شتون نه لري، خو دا خبره غلطه وه او هغه حبشي علی بن سفيان ته په دې هکله غلط مالومات ورکړي و ، ځکه هلته انسانانو شتون درلود. د غرونو ددې سيمې اوږدوالي او پلنوالي د يوه ميل څخه هم لږ و ، څرنګه چې هغوی روزل شوی سر تيري و نو هغوی خواره واره اوپه احتياط سره مختته تلل ، يوه سر تيري ته په ناڅاپي توګه د يوې ونې تر څنګ خوځنده سيوري تر سترګو شو . سرتيري په پټه پټه او په خويدو سره د هغې پسې ولاړ ، ورنژدې شو او ناڅاپي بريد ئې پرې وکړ، دهغې څټ ئې را تاو کړ او په خپلو متو کې ئې را ونغاړه او خنجر ئې ورته د زړه په سر کيښود او ترې وئې پو ښتل چې ته دلته څه کوې او دلته څه ډول پهرې ولاړې دي.؟

هغه حبشي و او سر تيري په عربي ژبه خبرې کولې چې حبشي پرې نه پو هيده ، په همدې وخت کې يو بل مجاهد راغې هغه هم خپل خنجر د حبشي په سينې کيښود هغه ترې په اشارو سره و پوښتل نو حبشي هم په اشارو سره ځواب ورکړ چې داسې ترې څرګنديده چې دلته ساتونکي شتون لري ، سر تيرو ددې حبشي شارګ ور پرې کړ او سرتيري نور هم محتاط مختته ولاړل ، د هغوی تر مخه يو ځنګل را غې، ددې نه لږ اخوا غرونه و . خو ځنګلونو او غرونو تياره جوړه کړې وه ، هغوی په غره باندې يو له بله څخه په لږ څه لرېوالی سره پورته و ختل.

هلته دننه په هغه سيمه کې چې نجلۍ ئې پروهتې ته په لاس کړې وه څه نورې خبرې رواني وی ، د تيږې د څهرې تر مخه يوه قالينه غوړيدلې وه ، په هغې باندې يوه تيزه او تيره توره ايښول شوی وه ، توري ته نژدې يو لوی لوښې هم پروت و ، په قالينه باندې ګلونه خواره شوی و ، چې تر څنګ ئې اور لمبې وهلې ، دڅوترې څلورو خواو ته قنديلونه او مشالونه روښانه کړل شوی و چې څلور نجونې ئې په رڼا کې ګرځيدې. د هغوی لباس يوائې دوه دوه پاڼې وې او نور وجودونه ئې لوڅ لغړ و. ددوی سره يوځاې څلور حبشيان هم تر سترګو کيدل چې د سرنه تر پښو پورې په سپينو څادرونو کې را نغښتې ول، "أمّ عراره» په تاخانه کې د پروهتې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشغوله وه. پروهت دهغې د وينېتانو سره لوبې کولې ، او هغې په مخمور اواز ويلې « زه د انګوک مور يم او ته د انګوک پلار. زما زامن به د مصر او سوډان پادشاهان جوړيږي ، زما وينه پر هغوی و څښئ ، او زما اوږده اوږده طلاې وينېتان دهغوی په کورونو کې کيږدئ ، ته ولې زما څخه لرې کيږې ، ماته را نژدې شه ، » خو پروهت دهغې په جسم باندې د تيلو په ځير کوم شې مښوده.

په غالب ګمان چې انګوک دهغې قبيلې نوم و ، او يوه عربې نجلۍ د نشو په مستيو کې ددې قبيلې مور او د پروهت ښځه ګرځيدلې وه، هغه د قربانۍ له پاره تياره شوې وه. او پروهت هم اخرې رسومات پر ځاې کول.

دولس سر تيرې د شپې د چېنجيو په ځير په سينو باندې پورته په غرونو ور ختل، کيوتل او پرځيدل. دا ډيره ستونزمنه سيمه وه ، د سيمې ډير بوټې اغزې لرونکې و ، سپوږمې هم سر ته را پورته شوې وه ، چې د ونو په مينځ کې ئې هم د روښنائې ځرکونه را پيدا کړې و ، د رڼا په همدې لړو ځرکونو کې هغوی ته يو بل حبشې هم تر سترګو شو چې په يوه لاس کې ئې برچه او په بل لاس کې ئې ډال نيولې و ، دا هم د دېوتاګانو د پايتخت ساتونکې و. په چپه خوله دهغې له منځه وړل اړين و ، هغه په يوداسې ځاې ولاړ و چې د شا له خوا پرې بريد شونې نه و ، او دمخ په مخ مقابلې کول مناسب نه بريښيدل ، يو سرتيرې هلته د بوټو په يوه ګڼه کې پټ کيناست او بل د هغې تر مخه يوه تيږه ور واچوله ، د تيږې په خويدو سره اواز را پيدا شو ، حبشې سمدستې متوجه شو او همغې لورې ته ولاړ. څنګه چې هغه په بوټو کې د پټ شوی سر تيرې مخ ته راغې نو د هغې څټ د ځواکمنو متيو په منځ کې را تاو کړل شو. او يو خنجر ئې په زړه کې ور ښخ کړل شو. سرتيرې تر څه وخته پورې هملته پاته شول او بيا ئې په احتياط سره مخته قدم کيښود.

"أمّ عراره» د قربانۍ له پاره تياره شوې وه ، پروهت د اخرې ځل له پاره هغه د خپلې سينې سره يو ځاې کړه، او هغه ئې له لاسه و نيوله او د زينو په لور ئې روانه کړله ، بهر منتظرو نجونو او نارينه و ته د تيږې د بُت دخولې څخه رڼاګانې تر سترګو شوې ، نو هغوی د بُت د خولې تر مخه په سجدې پريوتې، پروهت په خپله ژبه يو اعلان وکړ او د بُت دخولې څخه لاندې را ښکته شو ، "أمّ عراره» دهغې سره يو ځاې وه. هغه ئې هغې ښايسته کړل شوی قالينې ته يوړه ، نر او ښځې دهغې په چار چاپير کې و دريدې ، "أمّ عراره» په عربې ژبه وويل « زه د انګوک د لوړو اوزامنو له پاره خپل څټ پريکول غواړم ، زه د هغوی د ګناهونو کفاره ورکول غواړم ، زما څټ پرې کړئ ، زما سر د انګوک دبوتا په قدمونو کې کيږدئ ، دبوتا به زما په دې سر د مصر او سوډان دپادشاهيو تاج کيږدې.» څلور واړه نجونې او نارينه يو ځل بيا په سجده پريوتل ، پروهت "أمّ عراره» په قالين په دواړو زنګونو باندې کينوله ، د هغې سر ئې مخته ټيټ کړ او هغه توره ئې را پورته کړه چې دهغې پترۍ د پوره لاس په اندازه اوږده وه.

يو سرتيرې چې تر ټولو دمخه و، ودريد ، هغه په غوږو کې په خپل ځان پسې بل سر تيرې ته هم د دريدو وويل، دغره د لوړوالې څخه هغوی ته چوتره او د تيږې سر تر سترګو کيدل ،... وئې کتل چې په چوتره يوه نجلۍ په دوه زنګونو باندې کينول شوې ده ، او سرئې مخته ټيټ کړل شوی دې ، سپينې سپوږمۍ ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشالونو او د قندېلونو رڼاو شپه په رڼا ورځ اړولې وه ، د نجلۍ سره د ولاړ سړي په لاس کې توره وه. په دواړو زنګونو ناسته نجلۍ لوڅه لغړه وه ، دهغې د جسم رنګ دا ډاګیزه کوله چې دا د حبشي قبیلې نجلۍ نه ده ، سرتیري لږ څه لرې هم و اوپه لوړه هم. دهغه ځایه د غشي د خطا کیدو خطر موجود و خو هغوی چې په کوم غره باندې ولاړ و نو دهغې تر مخه د غره لمن نه وه بلکه ددېوال په څیر ځاې و چې ښکته کیدل تر ې شوني نه ښکاریدل.

هغوی و پوهیدل چې نجلۍ قربانیږي ، او دهغې د په څنګ کولو له پاره دومره لږ وخت دې چې که چېرې دوی هلته ور وانه لوځي نو دهغې په څنګ کول شونی نه دي ،هغوی د غره دسر څخه لاندې وکتل نو جهیل(د اوبو ډنډ ) ورته تر سترګو شو ، هغوی ته ویل شوی و چې په دې جهیل(د اوبو ډنډ ) کې (Crocodile)یا سترې ځمځاری اوسیږي.

وئې کتل چې ښې لوري ته دغره لمن شته ، خو هغه هم ددېوال شکل درلود ، هلته بوټې او ونې وی ، هغوی یو دبل لاس و نیوه او د هغې ځایه څخه را ښکته شول دهغوی د ډلې څخه اخري سر تیري په ناڅاپی توګه مخته وکتل چې د سپوږمۍ په رڼا کې ورته یو حبشي تر سترګو شو. چې په یوه لاس کې ئې ډال او په بل کې ئې برچه نیولې وه ، هغه خپله برچه د توغولو له پاره تیاره نیولې وه ،خو په سر تیرو باندې د سپوږمۍ رڼا نه لګیدله ، حبشي تر اوسه پورې په شک کې و ، اخري سرتیري په لیندۍ کې یو غشي کیښود د شپې په چپتیا کې د غشي د توغیدو اواز اوریدل کیده خو غشي د حبشي په شارګ باندې و لګید او هغه دهغې ځایه په سرګونډالو لاندې راپریوت، سرتیري دغره د لمن څخه را ښکته کیدل خو د لویدلو خطر ئې هره ګړۍ زیاتیده.

*****(۵۰)

پروهت د توري منځ د "اُمّ عراره» په ښې جوړ کړ او توره ئې پورته کړه ، نارینه و او ښځو د سجدې څخه سرونه پورته کړل او په دواړو زنګونو شول او یوه ډیره د سوزه ډکه سندره ئې په ټیټ اوزا پیل کړه ، دا یوه انګازه شانته وه چې ددې دنیا سره ئې هیڅ ډول اړیکې نه درلودل ، دغرونو په منځ کې په دغه وادي کې یو داسې طلسم خپور شوې و چې بیرون هر انسان ته ئې دا ډاډ ورکولې شو چې دا د انسانانو نه بلکه د دېوتاګانو ځاې ځیګې دې...

پروهت توره پورته کړه ، اوس نو د یوې ساه اخستو په اندازه وخت و ، څنګه چې توره لاندې را ښکته کیده د پروهت په تشې کې یو غشي ور ننوت شو. لا تراوسه دهغه د توري لاس لاندې نه و راښکته شوې چې درې نور غشي یو په بل پسې دهغې په اړخونو کې و رننوت شول ، نجونو چیغې کړې ، نارینه و چاته اوازونه پیل کړل ، په دې وخت کې د غشو یو بله دوره پیل شوه ، چې دوه نارینه ئې دپښو وغورځول ، نجونو د هغې بُت د خولې په لور منډې کړې ، خو "اُمّ عراره»د خپل چاپیریال څخه او هم د خلکو د وژلو او وینو تویولو څخه بې خبره ټیټ سرې ناسته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتیري په ډیره ګړندۍ توګه مخته راغلل ، په چوتر ي را وختل او یوه ئې "أمّ عراره» را پورته کړه ،هغه تر اوسه پورې په نشې کې ډوبه وه ، یو سرتیري خپله کورتۍ را وویستله او هغه ئې پرې پټه کړه ، دوی لا دهغه ځابه تللي نه وه چې دولس دېارلس حبشیان برچې او ډال په لاس هلته را ورسیدل ، سرتیري خواره شول ، دهغوی څلور کسانو سره غشي او لیندۍ وي ، هغوی غشي وویشتل ، پاته سر تیري یوې لورې ته پټ شول ، او کله چې حبشیان مخته راغلل ، نو دشا له اړخه ئې پرې برید وکړ. یو غشي ویشتونکي د لیندۍ څخه رڼاکونکې غشي و توغاوه ، کله چې غشي پورته ولاړ نو هلته ئې هغه رڼا ، چې د غشي د رفتار په واسطه کمه شوې وه ، ددریدو سره سم زیاته شوه اوغشي بیرته د ځمکې لورې ته را ستون شو.

دمیلې جوش وخروش لا تر اوسه پورې کم شوې نه و. د نندارچیانو څخه نژدې پنځه سوه کسان را بیل شول او دهغې غرنۍ سیمې په لور ئې کتل چې یو شعله ورته په کې تر سترګو شوې وه ، هغوی په خپلو اوښانو او اسونو باندې سپاره شول ، د هغوی قومندان هم ورسره و ، لمړۍ هغوی سوکه سوکه را تلل ،تر څو چاته شک پیدا نه شی. خو لږ چې لرې شول نو خپلو اسونو او اوښانو ته ئې لغتې ورکړې او په ځغاسته ئې کړل ، ننداراچیان دمیلې په شرابو ، جوارۍ او د نجونو په عصمت پلورلو اوبې عزته کولو کې دومره ډوب وو ، چې چاته هیڅ ددې ګمان هم و نه شو چې د هغوی په دبوتاګانو باندې کوم اسماني افت را نازل شوې دې.

سرتیرومجاهدینو ددې خطرې له مخې اوربلونکې غشې هوا ته توغولې و چې د حبشیانو شمیره به زیاته وي خو کله چې فوځ هلته ورسید یواځې ددولس دېارلس حبشیانو مړي او د مجاهدینو دوو کسو شهیدانو جسدونه هلته پراته و. هغوی په برچو باندې شهیدا ن شوی و ، قومندانانو دهغه ځاې څخه کتنه وکړه ، د تیږې په خوله کی ورننوتل ، او تاخانی ته ورسیدل ، هغه شیان چې هلته دهغوی لاسوته ورغلل،هغه ئې له ځانه سره را واخستل ، په هغې کې یو ګُل هم و چې د تیږې څخه جوړ شوی و. د احکامو په مطابق فوځ باید همملته په غرونو کی پټ پاته شوی واي ، سر تیرو "أمّ عراره» په آس سپره کړه او دقاهرې په لور روان شول.

سهار راوخوت:

د میلې جم وجوش پاې ته رسیدلې و ، ډیر ننداراچیان دزیاتو شرابو د څښلو په واسطه تر اوسه پورې بې هوشه پراته و ، دکاندارانو د تللو په خاطر خپل سامانونه سره را ټولول ، د نجونو اخستونکو هم نور د تللو تکل کاوه ، په صحرا کې د تلونکو خلکو قطارونه جوړ شوی و. د میلې د ځاې سره نژدې چې کوم کلي و دهغې ځاې خلکو په ډیره بې صبرۍ سره د شپې د قربان شوې نجلۍ د وینېتانو انتظار کاوه ، ددې قبیلې خلک چې د لرې لرې کلیو اوسیدونکي و دغرنیزي سیمې څخه لرې ولاړ وو او د دبوتاګانو د ځاې په لور ئې سترګې نښلولې وی. دهغوی زړو او سپین سرو به هغوی ته ویلې چې اوس به پروهت راشي او ددبوتاګانو دخوشحالۍ پیغام به راوړي ،او دهغوی تر منځ به وینېتان وویشي ، خو تر اوسه پورې هیڅوک نه و راغلي ، ددبوتاګانو د اوسیدو په ځاې باندې چپه چپتا خپره شوې وه ، دغې منتظر هجوم ته دا څرګنده نه وه ، چې هلته اوس فوځ ځاې په ځاې شوی او اوس به دهغه ځابه ددبوتاګانو پیغام نه راځي..... ورځ په تیریدو شوه ،د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبيلې کومو ځوانانو چې د قربانۍ کومې خبرې اوريدلې وې ، هغوی ته شک پيدا شو چې دا ټول درواغ دي ، ورځ تيره شوه ، لمر د همدې غرونو تر شا پريوت ، په چا کې دومره جرأت نه و چې هلته تللاې واې او کتلاې وائې چې پروهتې ولې را نه غې.

*****(۵۱)

« طبيب را وبولئ !» سلطان ايوبي وويل ، « په انجلۍ د نشې اغيز دې»

"أمّ عراره» د هغه تر مخه ناسته وه او ويل ئې « زه د انګوک مور يم ،ته څوک ئې ؟ ته خو د بوتا نه ئې ، زما ميره څه شو ؟ زما سر پرې کړئ او د بوتا ته ئې ورکړئ ، ما پر خپلو زامنو قربان کړئ » هغه همدا خبره په پرلپسې توګه کوله ، خو اوس پرې خوبوړې حالت راغلې و. د هغه سر لاندې زنګيده.

طبيب د راتلو سره سم د هغه حالت درک کړ، او څه دواې ئې ورکړه ، د لږ ځنډ وروسته د هغې سترګې ورغلې، هغه ئې څملوله ، او په خواږه خوب ويده شوه ، سلطان ايوبي ته د پيښې تفصيلي مالومات ورکړل شول ، او راپور ورکړل شو چې هلته په هغه غريزه سيمه کې څه پيښ شول او څه تر لاسه شول ، هغه خپلو نائب سالارانو هر يو الناصر او بهاؤالدين شدّاد ته حکم وکړ چې پنځه سوه سواره له ځانه سره واخلي ، د اړتيا وړ سامانونه هم له ځانه سره يوسي او هغه بُت له منځه يوسي ، خو هغه ځاې بايد دفوځ په محاصره کې اوسي ،د حملې اويرغل په وخت کې مقابله وکړئ ، که چېرې هغه خلک تسليم شي او د جګړې نه لاس واخلي نو هغوی ته هغه ځاې ور وښئې او په مينه او محبت سره ئې پوه کړئ چې دا (د بوتاګان ) يو اځې يو فريب او دوکه وه.

شدّاد په خپله (ډايري ) ورځپيښې کتابچه کې چې په عربي ژبه ئې ليکلې ده، دا پيښه داسې بيان کړې چې «هغه د پنځه سوه سورو سره هلته ور ورسيد ، د هغوی لاربښود د هغه فوځ قومندان و چې د پخوا څخه هلته ميشت شوی و. په سلګونو حبشي سوډانيان هلته لرې لرې ولاړ ول، د هغوی څخه ځينې په اسونو او اوښانو سپاره وو ، او د خپلو ځانو سره ئې برچې، ډالونه ، غشي ، ليندئ او توري هم را ختسې وی ، مونږ خپل ټول سپاره کسان د هغه غره شاوخوا ته داسې و درول چې د هغوی مخونه د بهر په لورې او د هغوی په ليندېو کې غشي ورکړل شوی و ، هغوی چې غشي او ليندۍ نه درلودې هغوی په برچو مسلح شوی و ، د ويني تويونکې جګړې خطر شتون درلود . زه د الناصر سره دننه ولاړم ، د بُت د کتلو سره سم مې هغه ته وويل چې دا د فرعونيانو يادګار دې. هلته د حبشيانو لاشونه خواره واره پراته و ، په هر ځاې کې و ګرځيدو را وګرځيدو ، هلته د غرونو تر منځ يوه کنډر وه ، چې د فرعون د وختونو يو ښکلې مانۍ مالوميده ، د هغه په د بوالونو د هغه وخت ليکل انځور شوی و چې الفاظ ئې د انځورونو په څير ښکل شوی و ، هيڅ شک نه پاته کيده چې دا دې د فرعون ځاې ځيرې نه وي ،.... هلته د ديوار په څير د غره په لمنه کې يو جهيل(د اوبو ډنډ ) و ، د جهيل(د اوبو ډنډ ) په منځ کې ستر ستر (Crocodile)يا سترې څمڅارې خوځيدلې ، د جهيل اوبو د غره لمنه دننه ور پرې کړې وه او د غره په منځ کې ور ننوتې و د اوبو د پاسه د غره چت و ، دا ډير ويرونکې ځاې و ، زمونږ په کتلو سره ډير (Crocodile)يا سترې څمڅارې د اوبو غاړې ته راغلې او مونږ ته ئې سترګې و نيولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما سپاهیانو ته وویل ، د حبشیانو لاشونه په دې جهیل کې ور واچوئ ، دوی ورېې دي ، هغوی لاشونه را ښکودلو سره را وړل ، اوپه جهیل(د اوبو ډنډ ) کې ئې ور واچول ، د (Crocodile)یا سترو ځمځارو د شمیرې اندازه نه کیدله ، هغه د یوه پوره فوځ په څیر وو ، د لاشونو سرونه داوبو په سر خو وجودونه ئې لاندې په اوبو کې د غره د لاندې برخې په لور کشیدل، د پروهتې لاش ئې هم راوړ، هغه نور انسانان (Crocodile)یا سترو ځمځارو ته ور اچول ، خو اوس مونږ هغه پخپله په جهیل(د اوبو ډنډ ) کې ور وغورځاوه ،... دوه سپاهیانو څلور سوډاني نجوني راوړې ، هغوی چېرې پټې شوې وې خو لوڅې لغړې وې ، یوائې د ملا سره ئې یوه پانه شاته او یوه مخته تړلې وه ، ما او الناصر خپل مخونه ترې واړول ، سپاهیانو ته مو وویل چې هغوی ته څه ور واغوندې او پټې ئې کړئ ، کله چې دهغوی جسمونه په کالیو کې را ونغاړل شول نو ومو کتل چې هغوی ښه ښکلې وې، ژړلې ئې ،ویریدلې ، زمونږ ژباړن ته ئې دهغې ځاې ټول حال احوال په خپله ژبه تیرکړ چې ډیر شرمناکه و ، مسلمان باید په ښځو باندې دغه ډول تیرې و نه زغمي ، ښځه که خپله وي او که د بل چا ، کافره وي او که مسلمانه ، اسلا م هغه ته لور ویلې دي ، دهغو څلور و نجونو احوال دا ډاګیزه کوله چې هغوی فرعون په خداېې منلې و ، او دهغوی قبیلې انسان ته خدای وایه.

دا ډیر ښکلې ځاې و ، ټوله دښته ئې شنه وه ، هلته دننه د اوبو یو چینه وه چې دهغې د اوبو څخه دغه جهیل(د اوبو ډنډ ) جوړ شوې و ، ښکلې او دنګې ونې په کې ولاړې وې چې یخ سیورې ئې درلود. د فرعونیانو څخه ئې دکوم یوه دا ځاې خوښ شوې و ،او ځانته ئې ترې د تفریح کولو ځاې جوړ کړې و او د خپلې خدائې د ثبوت له پاره ئې دا تیږلوړه بُت جوړ کړې و. هغه خپل ځانته تاخانه دعیش او عشرت په خاطر جوړه کړې وه ، خو آسمان څه بل رنګ ښوده ، لمر دهغه ځایه څخه بل ځاې ته تللې و ، د فرعونیانو ستوري مات شوی و خو په مصر کې نور باطل مذهبونه را پیدا شوی و. بلاخره د حق کلیمه را پورته شوه ،او مصریانو د (لا اله الله) کلیمه وا وریدله ، او د الله په وړاندې رون مخي شول ، خو هیڅوک په دې نه پو هیدل چې باطل لا تر اوسه په دې غرونو کې ژوندې پاته دي ، الحمدلله مونږ د ستر ذات په کومک هدایت و موند او د باطل دا انځور مو هم د بیخه وویست او دا شګلوړه او غریزه سیمه مو د باطل څخه پاکه کړه.»

***** (۵۲)

«دا ځاې مو د سپرو په محاصره کې واخست او د فوځ مجاهدو ځوانانو د تیږې دغه هیبت لرونکې بُت ټوټې ټوټې کړ. چوتره ئې هم لاندې را وغورځوله ، تاخانه د خاورو او تیږو څخه ډکه شوه ، بیرون په سلګونو حبشیان حیران او په ویره کې ولاړ وو ، او کتل ئې چې ددوی په دبوتاګانو باندې څه وشول ؟ ، اوس نو ټول را وغوښتل شو او دننه یوړل شول او ورته وښول شو چې دلته هیڅ نه و، څلور واړه نجونې هغوی ته ور وسپارل شوی ، دهغوی څلورو واړو پلرونو او ورونو هملته شتون درلود ، هغوی هر یوه خپله خپله لور له ځانه سره یوځاې کړه ، هغوی ته دا وویل شول چې دلته یو بدکاره انسان اوسیده هغه مو (Crocodile)یا سترو ځمځارو ته ورحواله کړ. هغه په سلګونو راټول شوی منتظر حبشیان ټول کینول او دهغوی په ژبه ورته وعظ او نصیحت وکړل شو، هغوی ټول چپ ول ، هغوی ته د اسلام په لور بلنه ورکړل شوه ، هغوی بیا هم چپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپ پاته و ، کله کله به دا شک کیده چې دهغوی په سترګو کې وینې را بهیږي ، هغوی ته د ا ټکې د اخطار په څیر واورول شول ،«چې که چیرې تاسې ریښتنې خدای لیدل غواړئ ، نومونږ به ئې درته و ښایو ، خو که چیرې تاسې همدا ځای چیرې چې تاسې ناست یاست د خپلو درواغجنو خدایانو کور ګڼئ نو مونږ به دا غرونه هم ریزه ریزه او د شګو په ډیری بدل کړو ، بیا به تاسې وویني چې کوم خدای ریښتونې دې»

هلته په قاهره کې "اُمّ عراره» په هوش راغلې وه ، هغې هم خپله قصه بیان کړې وه ، هغې به کله ویل چې هغې کوم خوب کتلې دې خو هغې ته ټولې خبرې په یاد راغلې وی ، هغې وویل چې پروهت به هغه شپه او ورځ بې ابرو کوله ، او ځو ځو ځله به ئې هغه ګُل دهغې پوزی ته بوي کاوه ، "اُمّ عراره» ته وویل شول چې که چیرې سرتیري مجاهدین په وخت نه وائې در رسیدلې نو ستا ځټې به هغه پرې کړې و ، سر به دې په غار کې او وجود به دې د (Crocodile)یا سترو ځمخارو په خیټه کې پروت وه ، دغه نازکه او ښکلې نجلۍ د ویرې و لړزیده ، د سترګو ئې اوښکې را روانې شوی ، هغې د سلطان ایوبې لاس ښکل کړ او ورته ئې وویل «ماته الله ج د ګناهونو سزا راکړې ده ، زه پر خپلو ګناهونو اعتراف کول غواړم ، د خداې په خاطر ما ته پناه راکړه ، » دهغې ذهنې حالت ډیر خراب بریښیده.

هغې د شام د یوه شتمن تاجر نوم واخست اووئې ویل چې دهغه لور ده ، دا یو مسلمان تاجر و ،هغه د شام د امراو سره دوستانه اړیکې درلودل ، په هغه وخت کې به امیر د یوه یوه ښار یا دېوي یوي ټوټې ځمکې حکمران و چې دمرکزي امارت تابع به و ،او مرکزي امارت به د مرکزي وزارت او مرکزي خلافت تابع و ، دا امراء د لسمې پیړۍ را هیسې په پوره عیاشې کې ډوب شوی و ، د سترو او شتمنو تاجرانو سره به ئې د دوستۍ اړیکې ټینګول ، دهغوی سره به ئې ګډ تجارت هم کاوه او رشوت به ئې هم د همغوي په لاسو اخست، دهغوی حرم سرایونه به د ښکلو نجونو څخه تل ډک و او د شرابو میلې به په کې لګیدلې.

"اُمّ عراره»د همداسې یوه تاجر لور وه چې دخپل پلار سره به د دولس دیارلس کالو په عمر دامراو ماڼیو ته د نڅا او سندرو محفلونو ته ورتلله ، پلار ئې کتله چې لور ئې ډیره ښکلې ده په دې خاطر ئې هغه د کوچنیوالې څخه د امراو په محفلونو کې د عادې کولو په خاطر راوړه ، "اُمّ عراره» وائې چې د څوارلس کالو په عمر وه چې د امراو زړونه ورته را مات شول ، دهغوی له ډلې څخه دوو ئې هغې ته ډیرې قیمتې تحفې ورکړې اوپه دې ترتیب هغه د ګناهونو په نړۍ کې ور ډوبه کړل شوه.

په شپاړس کلنۍ کې هغه د پلار د اجازی پرته د یوه امیر معشوقه و ګرځیده ، خو په خپل کور کې به اوسیدله، هغه په شتمنیو کې را پورته شوې وه ، د شرم و حیا نوم ئې هم نه پیژانده ، دوه درې کاله وروسته هغه د پلار د لاسو څخه ووتله ، او په پوره ازادۍ سره ئې ددوه نورو امراو سره هم جنسې اړیکې پیدا کړل ، هغې په ښکلا ، غوړه مالۍ ، او نارینه په دوو ګوتو د ګډولو په امورو کې نوم و ګاټه. د تیرو شپږو کالو راهیسې هغې ته یو بل ډول روزنه هم ورکول کیده ، دا د درې امراءو د سازش پایلې وی چې پلار ئې هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې شریک و. مخته بیا په دې سازش کې یو صلیبي هم را ګډ شو. دې امراؤ پخپله د خپلواکه حاکمانو دجوړیدو خوبونه کتل، او دا کار د صلیبیانو د بسپنې پرته شونې نه و.

"أمّ عراره" ئې د نورالدين زنګي او خلافت ترمنځ د فساد دپيدا کولو له پاره هم استعمال کړې وه، صلیبیانو دهغې سره په دې دنده کې درې نورې عیسايي نجونې هم ور یو ځاې کړې وې، او په دې ترتیب ئې د ځمکې لاندې یو جال خپور کړې و.

کله چې دوی و کتل چې په مصر کې د صلاح الدين ایوبي په نامه یو ځوان نوم پیدا کړې دې او هغه داسې دوه مهم کارونه هم ترسره کړي دي چې دهغې په واسطه هغه د مصر وزیر او امیر نه بلکه پادشاه ئې ګرځولې دې، نو "أمّ عراره" ئې خلیفه العاضد ته د تحفې په توګه و استوله، هغه ته دا دنده ورسپارل شوې وه، چې دخلیفه العاضد په زړه کې د صلاح الدين ایوبي سره دښمني را و ټوکوي، او پخواني سوډاني فوځ چې یو څو عسکري منصبداران ئې لا تر اوسه پورې په فوځ کې پاته دي العاضد ته را نژدې کړي او سوډانیان دې یو بل پاڅون ته و هڅوي، هغې ته بله دنده دا ورسپارل شوې وه، چې خلیفه العاضد دې ته وهڅوي چې کله چې سوډانیان پاڅون او بغاوت وکړي نو هغوی ته دې وسلې او سامانونه ور ولیږي اوکه شونې وه نو دصلاح الدين ايوبي د فوځ یوه برخه دې هم د هغه پرخلاف بغاوت ته و هڅوي او د سوډانیانو ملګري دې ئې کړي، که خلیفه نور څه و نه شو کولاې، نو خپله ساتونکې ډله دې سوډانیانو ته ور حواله کړي او پخپله دې د صلاح الدين ایوبي تر څنګ پناه واخلي او هغه ته دې ووائي چې دهغه ساتونکي باغیان شوی دي. لنډه داچې د صلاح الدين ایوبي پر خلاف داسې محاذ جوړول و چې هغه پرې د مصر نه تیښتې ته مجبور کړي اوخپل پاته عمر په نوم ورکۍ کې تیر کړي.

"أمّ عراره" سلطان ایوبي ته وویل چې هغه د یوه مسلما ن په کور کې پیدا شوی ده خو پلار ئې ورته د مسلمانانو د ریبنو او جرړو د ویستلو روزنه ورکړې، د اسلامي سلطنت امراؤ دخپلو دښمنانو سره په یو لاس کیدو سره دخپل سلطنت د تباه کولو هڅې پیل کړې دي.

دې نجلۍ د خلیفه العاضد دماغ او زړه په خپله ولکه کې واخست، او هغه ئې د سلطان ایوبي پر خلاف را وپاراوه، رجب هم په دې سازشي کړۍ کې شریک و، رجب دوه نور فوځي مشران له ځانه سره یو ځاې کړي و، رجب په دې لړ کې دا کار وکړ چې دخلیفه په ساتونکې ډله کې ئې د مصریانو پر ځاې سوډانیان ور ننویستل، کله چې "أمّ عراره" خلیفه ته را وستل شوه، لا تر اوسه ئې دوه دونیمې میاشتې نه وې تیرې شوې، چې د خلافت په ماڼۍ ئې پوره ولکه و مونده، او دخلیفه د حرم سراې ملکه و ګرځیده، هغه دا خبره هم ډاګیزه کړه چې خلیفه غواړي سلطان ایوبي له منځه یوسي، چې په دې لړ کې رجب د حشیشینو د ملاتړ د تر لاسه کولو له پاره دهغوی سره په خبرو کې مشغول دې.

دا هسې یوه اتفاقي خبره وه، چې سلطان ایوبي د خلیفه د بیکاره وجود او دهغې د عیش او عشرت نه په تنګ راغلې و او دهغه پر خلاف ئې پاڅون پیل کړې و، او دا هم اتفاقي خبره ده چې "أمّ عراره" همغې خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تښتولې وه چې د سلطان ایوبي پر خلاف ئي جګړه کول غوښتل ، او دا خو يو ډير ښه اتفاق و چې سلطان ایوبي د رجب څخه د ساتونکو د ډلي قومنداني اخستې وه ، اوهلته ئي دخپلې خوښې يو قومندان ټاکلي و. خو دي ټولو اتفاقاتو دحالاتو څپي د سلطان ایوبي پرخلاف را ګرمي کړي او پخپله سلطان ایوبي ته ئي خطر را پیدا کړ. سلطان "أمّ عراره»په خپله پناه کې واخسته ، نجلۍ په خپلو پخوانيو کړنو ډيره زياته پښيمانتيا ښوله ، او د خپلو ګناهونو کفاره ورکول ئي غوښتل ، قدرت هغه ته يو لړزه ورکړه او دهغې دماغ ئي درست کړ ، سلطان ایوبي په پوره ډاډ سره په دي فکر پيل کړ چې هغه حکام چې په دي ټول جال کې ورګډ شوی دهغوی سره څه ډول سلوک وکړي.

بله ورځ الناصر او بهاؤالدين شدّاد د فرعونيانو اخري ننبې له منځه يوړې او بيرته د فوځ سره يوځای را ستانه شول.

(۵۳) *****

اته ورځې وروسته:

د شپې اخري برخه وه ،د سلطان ایوبي په را ويښيدو کې لږ څه وخت و ، خو هغه ملازم را ويښ کړ او ورته ئي وويل چې الناصر ، علي بن سفيان او دوه نور نائب سالاران راغلي دي ، سلطان ټوپ کړ او را پورته شو ، او د ليدني خوني ته ورغې ، ددې مسؤلينو سره د هغو دلګيو قومندان هم و چې د ښاره ئي بيرون ګشت کاوه ، سلطان ایوبي ته وويل شول چې لږ تر لږه شپږ زره سوډاني ، چې په کې د لرې کرل شوی فوځ وګړي هم شامل دي او دهغې وحشي قبيلې وګړي هم ، چې د عقيدې ننبې ننباني ئي له منځه ورل شوې وې د مصر په پولو کې را ننوتی او په يوه ځای کې ئي پړاو اچولې دي ، دې قومندان د هوښيار تيا نه کار اخستې و چې په عام لباس کې ئي دوه اوښ سپاره هلته ور استولي و تر څو مالوم کړي چې ددې لښکر موخې څه دي، دې اوښ سپرو خپل ځانونه مسافرين ور پيژندلي و ،هغوی ته دا مالومه شوه چې دا لښکر په قاهرې باندې د بريد او يرغل په خاطر و روان دې ، اوښ سپرو د لښکر دمشرانو سره يو ځای شول او د صلاح الدين ايوبي پر خلاف ئي خبرې پيل کړي او ورته ئي ډاډ ورکړ چې دوی به زيات شمير خلک په دې لښکر کې د شامليدو په خاطر راوړي ، ددې خبرو وروسته هغوی رخصت واخست ، ددوی د اطلاع په مطابق دا لښکر د اخوا دېخوا نورو ځايو څخه د خلکو د راتلو منتظر و او په راتلونکې بله ورځ ئي د هغه ځايه کوچ کاوه.

سلطان ایوبي لمړې دا حکم وکړ چې دخليفه په ساتونکې ډله کې يواځې پنځوس کسان او يو قومندان پريږدئ او پاته نور ټول عسکري قشلې ته راوړئ ، که چيرې خليفه احتجاج وکړي نو ورته وواياست چې دا زما حکم دي ، سلطان ایوبي علي بن سفيان ته وويل چې دخپلې شبکې لږ تر لږه سل کسان چې په سوډاني ژبه و پوهيږي د سوډاني باغيانو په لباس کې ددې قومندان سره سمدستي هلته ورولیږئ ، قومندان ته ئي وويل چې دا سل کسان دهغو دوو اوښ سپرو سره يوځای د سوډانيانو په لښکر کې ورګډ کړئ ،دا دوه اوښ سپاره به هغوی ته ووائي چې هغوی د وعدې سره سم دادې کومک راوړې دې ، دهغوی له پاره هدايات دادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغوی به د لښکر د مخته کیدو په هکله مالومات را رسوي ، او هم به دا خبر راوړي چې د شپې په وخت ددې لښکر حیوانات او خوراک څښاک چېرې وي، سلطان ایوبي الناصر ته وویلې چې ګړندي اس سواره او دکوچنیو منجنیقونو دلګې تیار کړي.

«ما فکر کاوه چې مونږ به مخامخ او نیغ په نیغه ټکر کوو او سوډانیان به له ښاره لرې په کوم ځاي کې له منځه وړو » الناصر ورته وویلې.

«نه !» سلطان ایوبي ورته وویل ،« الناصره ! په یاد ساته چې که ددښمن شمیره ستاسې د شمیره څخه لږ هم وي نو بیا هم د نیغ په نیغه ټکر څخه ځان ساتئ ، د شپې له اړخه سرتیري مجاهدین استعمال کړئ ،تر څو هغوی د شپې غلچکي یرغلونه پیل کړي ، دښمن د اړخونو څخه ، د شا څخه... اود هرې لورې څخه تر فشار لاندې راوړي ،او د ترپ او خرپ د عملیاتو وروسته خپلې پښې سپکې کړي. تر څنګ ئې د دښمن د خوراک څښاک لارې بندې کړئ، څناور ئې له منځه یوسئ ، او په دې ترتیب دښمن وار خطا کړئ ،د هغوی ډلې سره وویشئ ، هغوی ته د مخته د راتلو فرصت مه ورکوئ ، هغوی ښي او کیڼ لورې ته په خپریدو مجبور کړئ ، که چېرې مخامخ ټکر اخستل غواړئ نو بیا دا له یاده مه باسئ چې دا صحرا ده ، د هر څه دمخه د اوبو په ځاېو باندې ولکه پیدا کړئ ، د لمر ګرمي اود هوا ځپې د دښمن پر خلاف کړئ ، هغوی مجبور کړئ چې ستاسې د خوښې ډګر ته راشي ، زه به تاسې ته عملي درس درکړم. زه به ددې لښکر د ا غوښتنه پوره کیدو ته پرینږدم چې هغوی دې قاهرې پورې را ورسیږي. او یا دې زما فوځ دهغوی سره مخامخ جګړه وکړي.» هغه علي بن سفیان ته وویل « ته چې د خپلې شبکې کوم سل کسان په هغه فوځ کې د ګډون له پاره ور استوې ، هغوی ته ووایه چې هغوی دې په سوډانیانو کې دا افواه خپره کړي چې په شپږ اوه ورځو کې صلاح الدین ایوبي په بیت المقدس باندې حمله کونکې دې په دې خاطر په کار ده چې په قاهرې باندې برید دهغه په غیاب کې تر سره شي.

په همدې توګه زیات شمیر هدایات او احکام ئې صادر کړل او هغوی ته ئې وویل چې هغه به سر له نن څخه په قاهره کې نه وي موجود . هغه هغوی ته د قاهرې څخه ډیر لرې ځاي ور په ګوته کړ. هغه غوښتل خپل نظامي دفتر ددښمن تر څنګ جوړ کړي تر څو جګړه تر خپل نظارت لاندې تر سره کړي. ټولو د لیدنې په همدې خونه کې د سهار لمونځونه اداکړل ، او دسلطان ایوبي په احکامو ئې عمل پیل کړ.

سلطان ایوبي دفوځي او جنګي تیاریو له پاره خپلې خونې ته ولاړ.

***** (۵۴)

دسوډانیانو په لښکرو کې ورځ په ورځ زیادښت را ته ، دوه کاله پخوا د هغوی یو بغاوت ناکامه شوی و.او د بل بغاوت اوپاڅون له پاره ئې کار پیل کړې و ، صلیبیانو ورسره د نظامي او مالي کومکونو وعده کړې وه او دسلطان ایوبي د راپرځولو له پاره ئې د جاسوسانو یو زیات شمیر مصر ته ورننوستي و .

د سوډانیانو یرغل به یو ورځ نه یو ورځ کیده، خو اوس په ناڅاپي توګه راغې ، علت ئې داو چې سلطان ایوبي د یوې سوډاني قبیلې یو مذهبي مشر باندې فوځي برید کړې و ، اودهغوی د دبوتاګانو ځاي ئې له منځه وړې و. دا څه معمولي کار نه و ، په مصر کې د سلطان ایوبي مخالفینو دهغه ددې اقدام څخه پوره ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته کړه ،او د سوډاني فوځ لړي کړل شوی ټول باغي قومندانان ئې يو له بله سره را يوځاي کړل ، هغوی ټولو يوځل په خوزښت پيل وکړ ، په دوی کې مصري مسلمانان هم و ، هغوی ددې سوډاني قبيلې مذهبې جذبات نور هم را وپارول او هغوی ته ئې وويلې چې د هغوی مذهب ريښتونې دې او که چېرې هغوی د سلطان ايوبي پر خلاف پا څون وکړي نو دهغوی دپوتا به د خپل توهين د بدلې د اخستلو له پاره ددوی سره کومک وکړي، هغوی په پنځه شپږو ورځو کې لښکر را ټول کړ او په قاهره ئې د يرغل کولو له پاره ځانونه چمتو کړل ، څه وخت چې داخوا دېخوا خلکو او قبيلو ته دا خبر ورسيد ، هغوی هم په دې لښکر کې شامليدو ته تياريدل.

کله چې ددوه اوښ سپرو سره يوځاي هغه سل وسله وال کسان په دې لښکر کې ورګډ شول نو دا لښکر د پولې څخه دې غاړې ته راغلې و، اوپه يوه ځاي کې ئې پړاو اچولې و، سلطان ايوبي دشپې شپې هلته دومرنژدې ور غې چې ددې لښکر د نقل وحرکت په هکله ژر خبرېداې شو. هغه سل کسانو د لښکر مشرانو ته وويلې چې سلطان ايوبي تر څو ورځو پورې د فلسطين په لور خوځيږي ، د لښکر مشران ډير خوښ شول هغوی دا پړاو دوه ورځې نور هم اوږود کړ. بله شپه سلطان ايوبي ته ددې لښکر په هکله لمړې خبر راورسيد.

په وروسته شپه هغه پنځوس سواره او پنځه منجنيقونه هلته ور واستول چې اور بلونکې مادې باندې سنبال شوی و، هر منجنيق يوه آس کشاوه ، نيمه شپه ، هغه وخت چې سوډاني لښکر په درانه خوب بيده و مجاهدينو دهغوی د خوراک په ذخيرې باندې د اور ګولې ورو توغولې او وروسته ور پسې اور بلونکې غشې ورو توغول شول ، صحنه ټوله د اور د شعلو نه ډکه شوه ، په لښکر کې سخته بده ورځ را پيدا شوه ، منجنيقونه ئې سمدستې بېرته را وليږل ، دغه پنځوس کسه مجاهدين په څلورو ډلو وويشل شول ، دوی خپل آسونه ور وځغلول او د لښکر د اړخ خلک ئې د خپلو برچو او نيزو په واسطه له منځه يوړل او د شپې شپې ئې ځانونه خوندي ځايو ته ورسول ، لښکريانو ته د ځانو د راټولولو فرصت په لاس نه ورته ، هلته چې د اور په لمبو کې دهغوی د خوراک ذخيره سوځيدله نو په هغه ځاي کې آسونه او اوښان هم و تريدل او وتښتيدل، په همدې وخت کې د سلطان ايوبي سواره يوځل بيا را پيدا شول او غشي ويشتل ئې پيل کړل، او بيرته ولاړل ، هغوی بيرته بيا را ونه ګرځيدل.

په بله ورځ خبر را ورسيد چې د سوډانيانو لږتر لږه څلور سوه کسان د اور په لمبو کې ، د آسونو او اوښانو د تريدو او د ګوريلا مجاهدينو د حملو په واسطه له منځه تللې دي ، دهغوی د خوراک ټوله ذخيره سوځيدلې وه ، او د غشو ذخيرې ئې هم له منځه تللې وي ، باغي لښکر دهغې ځايه کوچ وکړ او دشپې په يوه داسې ځاي کې ئې پړاو وکړ چې شاوخوا ته ئې خاورينې غونډۍ پرتې وي . په دې ځاي کې هغوی ته د شپينې عملياتو خطر نه و، دهغوی صحرائې ګشتي ډلو هم تر لرې لرې ځايو پورې تګ را تګ کاوه ، خو د مجاهدينو لخوا يو ځل بيا پرې بريد و شو . دا بريد هم د تيرې شپې د بريد په څير و ، د لښکر مشرانو ته دا مالومه هم نه وه چې دهغوی دوه ګشتي ډلې د سلطان ايوبي د مجاهدينو تر ولکې لاندې راغلې او له منځه تللې وې ، غشي ويشتونکو د خاورينو غونډيو څخه اور بلونکي غشي ويشتل او بيرته پټيدل ، دا شپينې عمليات ان د سهار د رڼا د را پيدا کيدو پورې روان و. په دې عملياتو کې هم سوډاني باغيانو او ددښمن لښکرو ته د تيرې شپې څخه زيات زيان ور اوښتې و.

ماښام علي بن سفيان سلطان ايوبي ته د خپلې شبکې د غړو دا راپور اوراوه ، چې سبا ورځ به سوډاني فوځ په داسې توګه راوړاندې کيږي چې دشپينې عملياتو د ډلو په هکله مالومات پيدا او دهغوی د ختمولو هڅې وکړي ، سلطان ايوبي سره نژدې يو شمير فوځيان و ، هغوی د شپې له اړخه يرغل و نکړ ، هغوی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالومه وه چې دښمن راببدار شوې ، په بله ورځ هغه څلورسوه فوځیان د سوډاني لښکر کيڼ اړخ ته نژدې نیم میل لرې ور ولیږل ، او څلور سوه نور ئې د هغوی ښي اړخ ته . هغوی ته ئې دا هدایت ورکړ چې هغوی دې مخته ځي ، دواړه ډلې د سوډانیانو د لښکر د اړخونو څخه تیرې شوې نو سوډانیانو د دې خطر له مخې خپل اړخونه و غوځول چې دا ډلې به د اړخونو څخه او یا دشا له خوا پر دوی یرغل وکړي ، دسلطان ایوبي د هدایت په مطابق دهغوی قومندانانو خپلې ډلې دهغوی څخه لرې نورې هم لرې کړې ، سوډانیان په دوکه کې و لویدل ، هغوی خپل لښکر ښي او کیڼ اړخ دواړو لورو ته و غوځولې . ناڅاپه د سلطان ایوبي پنځه سوه سپاره د غونډیو د پټو ځایو څخه را ووتل او د سوډانیانو په منځ باندې ئې برید وکړ . دلته د هغوی اعلي قومندان هم موجود و . د آس سپرو مجاهدېنو دا حمله ډیره ګرندی ، تیزه او سخته وه ، په ټول لښکر کې شورو غوغا ګډه شوه ،د اړخونو څخه هم پیاده عسکرو غشي توغول پیل کړل ، اوپه دې ترتیب نژدې دېارلس سوه مجاهدېنو د دښمن شپږزره فوځ د تیښتې او ماتې سره مخامخ کړ، داسې ماتې چې صحرا د مړو د لاشونو څخه ډکه شوه ، او یو زیات شمیر سوډانیان بندیان هم شول او څه په تیښته بریالي شول ، ویل کیږی چې د تښتیدونکو شمیره لږه وه .

دا د سوډانیانو دویم بغاوت اوپاڅون و ، چې سلطان ایوبي د همغوي په وینو کې ورډوب کړ. اوس نو سلطان ایوبي د ډپلوماسۍ څخه کار وانخست ، هغه د جنګي بندیانو څخه مالومات تر لاسه کړل ، دهغوی ټول هغه قومندانان او حاکمان چې په بغاوت کې ئې ګډون درلود په بندي خانو کې واچول، د تخریب کونکو نښې ئې هم را پیدا کړې ، هغوی ته ئې د مرګ سزا ورکړه ،د رجب په څیر سالاران ئې په عمري بندیخانه کې ورواچول ، سلطا ن ایوبي په دې ډیر حیران و چې یو شمیر داسې حکام هم په دې سازش کې شریک ول چې سلطان هغوی ځانته وفاداره ګڼل، هغه خپلو باورې ملګرو اوسالارانو ته وویل چې دمصر ددفاع اودسلطنت د ټینګښت له پاره په سوډان باندې یرغل او دهغې هیواد ولکه کول ډیر اړین دي.

هغه خلیفه العاضد څخه د هغه ساتونکې ډله بیرته را وسته اوهغه ئې له کاره ګوښه کړ. او اعلان ئې وکړ چې اوس به مصر د عباسي خلافت تر کنترول لاندې وي ، او دا هم چې دخلافت مرکز به بغداد وي ، سلطان ایوبي "أمّ عراره»د اته ساتونکو سره یوځاې نورالدین زنګي ته د ورحواله کولو په لور ورواستوله.



Dawat, P.O.Box 289, 2001 Lillestrøm, Norway tel. 63844384-mobile.90856195 www.dawatfreemedia.org

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان به يواځې په نوم مسلمان پاته وي ، په هغوی کې به د صليبيانو په څير بې حيائې را پيداشي،او دهغوی تهذيب او تمدن به د صليبيانو په رنګ کې و رنګول شي(سلطان ايوبي)

## هغه نجلۍ چې له فلسطينه راغلې وه:(۲)

سلطان صلاح الدين ايوبي په خپلې خونې کې ګرځيده او د «اه» نه په ډک فرياد سره ئې وويل « قوم او ولس يو کيدای شي او يو کيږي هم ،مګر دا حکام او امراء دي چې د قوم او ولس يووالي له منځه وړي او ياخو دخپله ځانه جوړ شوی هغه قايدين دي چې غواړي ددې يووالي په له منځه تللو سره اميران ، وزيران او يا حاکمان و ګرځي. تا وکتل ! علي! چې دمصر دخلکو په ژبو باندې زمونږ پر خلاف هيڅ ډول شکايت نه شته ، غداري او وران کاري يواځې لوړې پوړې چارواکي کوي ، دغه لوړ پوړي او شتمن خلک زما سره شخصي دښمني نه لري خو زه هغوی ته په دې خاطر ښه نه ښکارم چې زه په هغه ځای کې ناست يم چې هغوی ئې خوبونه کتل.»

د سلطان ايوبي خبري علي بن سفيان او بهاؤالدين شداد دواړو اوريدلې، دوی دواړه هملته دسلطان سره په خونه کې ناست و. وخت د سپتمبر د لمړي اونۍ يو ماښام و ، د جون او جولاې په مياشتو کې صلاح الدين ايوبي د سوډانيانو بغاوت ځپلې و او دهغې سمدستي وروسته ئې العاضد د خلافت د مقام څخه ګوښه کړې و. او دهغه مخته ئې هم د سوډانيانو يو پاځون دخپلو غوره جنګې تاکتيکونو سره مات او دهغوی ستر لښکرئې له منځه وړې و. خو په هغه وخت کې ئې بغاوت کونکې کوم قومندان ، عسکر او يا کوم قايد ته سزا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وه ورکړې ، د ډيپلوماسۍ څخه ئې کار اخستې و ، او په دې ترتيب د هغه جنګي تاکتيک او ډيپلوماسۍ دواړو ډير ښه اغيز پيدا کړې و. اوس چې سوډانيانو يو ځل بيا سر راپورته کړې و نو سلطان ايوبي د تل له پاره ددې سر د ټيټولو او ځپلو په خاطر، تر هر څه لمړې د جګړې په ډګر کې د سوډانيانو د لاشونو انبارونه جوړکړل او بيا ئې چې څوک هم نيول نو هغو ته ئې د هغو د رتبې او مقام د په نظر کې نيولو پرته سخته سزا ورکړه. د هغوی ډير ئې د جلادانو په لاسو کې ورکړل ، او پاته خلکو ته ئې اوږدې سزا ګانې واورولې او په زندانو کې ئې ور واچول ، او يائې د هيواده وويستل او د سوډان په لور ئې و شړل.

«نن دوه مياشتې تيرې شوی دي» سلطان ايوبي وويل «ما لا تر اوسه د سلطنت د پرمخ بيولو او د قوم د سوکالۍ په لورهيڅ ډول توجه نه ده کړې ، مجرمان راوستل کيږي او زه د ډير فکر او غور وروسته هغوی ته د مرګ سزا ورکوم ، که څه هم زړه مې داسې رنځيږي لکه عامه وژنه چې تر سره کوم، ځکه زما په لاس ګڼ شمير مسلمانان ووژل شول»

«دروند ه اميره !بهاؤالدين شداد ورته وويلې «که يو کافر او يو مسلمان د يو ډول جرم مرتکب شي نو ډيره سزا بايد مسلمان ته ورکړل شي ،ځکه چې هغه ته د الله ج د دين رڼا وررسيدلې ده خو بيا ئې هم ګناه ته لاس ور اچولې دې ،کافر خو په عقل هم ړوند وي او په مذهب هم. ته ددې غم مه کوه ، چې تا مسلمانانو ته سزا ورکړې د ه ، هغوی غداران و، د اسلامي سلطنت باغيان و او د اسلام نوم ئې د خاورو سره دخاورې کولو له پاره دکفارو سره يووالې او اتحاد کړې و.»

« شداده ! زه په دې غمجن يم» سلطان ايوبي ورته وويل «چې زه مصر ته د حکمرا ن په څير نه وم راغلې ، که چيرې ماد حکومت کولو شوق درلوداې نو د مصر اوسني روان حالات زما ددې غوښتنې د پوره کولو له پاره تيار و. هغوی چې يواځې د امارت د مقام سره علاقه لري نو هغوی بيا د سازشي ذهن حاکمان خوښوي ، هغوی قوم او ولس ته د څه ورکولو پرته په زړه پورې بلکه درواغجن انځورونه ښکاره کوي. په خپلو شخصي کار کونکو کې شيطان صفته وګړې ټاکي ، او د لاس لاندې حاکمانو ته د شهزادګانو درجه ورکوي او په خپله خپل ځان شهنشاه جوړوي. زه وايم چې له ماڅخه دا مقام واخلئ ، خو له ما سره به وعده کوئ چې زما په لار کې به هيڅ ډول خنډونه نه را پيدا کوئ ، زه چې د کومو موخو په خاطر له کوره را وتلې يم ، ما د هغو د پوره کولو له پاره پريږدئ ، نورالدين زنګي د زرګونو وګړو په ځان ځارنې سره او دمجاهدينو په سرو وينو د نيل ددرياب څخه په تيريدو سره د مصر او شام يو والې و ساته ، زه د دې يو او متحد سلطنت پراخيدل غواړم، سوډان په مصر کې راګډول غواړم ، او فلسطين د صليبيانو د لاسو ازادول مې ارزو ده ، غواړم صليبيان د اروپا کومې منځنۍ برخې ته په رسيدو سره په ګونډو کړم. زما دا فتوحات او سوبې زما دخپلې حکمرانۍ په خاطر نه دي بلکه د الله ج د حکمرانۍ د تر لاسه کولو په خاطر دي. خو اوس مصر زما له پاره دلدل ګرځيدلې دي ، داسې کونج نه شته چې د هغې څخه د غدارۍ ، بغاوت ، پاڅون او سازش خبر نه راځي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ددې ټولو پلانونو تر شا صليبيان دي » علي بن سفيان ورته وويل « زه حيران يم چې هغوی په څه ډول ناروا لارو خپلې پيغلې نجونې روزي او زمونږ پر خلاف ئې استعمالوي ، په داسې حال کې چې د هغو نجونو ښايست او ژبه پخپله يو طلسم او جادو دې»

« دژبې وار د توري څخه ډير سخت او ډير ژور وي »سلطان ايوبي ورته وويل « هغه عقل چې ستاسې کمزورتيا احساسولې شي علي ! هغه د خپلې ژبې څخه په داسې انداز اوپه داسې موقع سره داسې الفاظ را باسي چې ته به پخپله خپله توره په تيکي کې ننه باسې او دښمن په قدمونو کې به ئې کيږدې ، دصليبيانو سره دوه ډوله وسله ده ، الفاظ او حيواني جذبه ، هغوی په انساني جذبې د غالبيدو په خاطر خپلې ځوانې او ښايسته نجونې استعمالوي ، ان تر دې چې هغوی د مسلمانو امراو د زړونو څخه مذهب هم ويستلې دې»

«درونده اميره ! دا يواځې حکام نه دي» علي بن سفيان ورته وويل « د مصر په عامو وګړو کې ئې هم بدکاري او فساد عام کړې دې ، دا دصليبيانو کمال دې ، دشتمنو مسلمانو وګړو په کورونو کې هم بې حيائي او فحاشي پيل شوی ده.»

«همدا خو تر ټولو ستره خطره ده» سلطان ايوبي ورته وويل « زه د صليبيانو د ټول لښکر مقابله کولې شم او کړې مې هم ده ، خو زه ويريږم چې دصليبيانو دا يرغل به تم نه شم کړای ، اوکله چې زما سترګې را تلونکې ته وينې نو زما وجود و لړزيږي ، ځکه مسلمان يواځې په نوم مسلمان پاته دې ، په هغوی کې به د صليبيانو په څير بې حيائي را پيدا کيږي ، او دهغوی تهذيب او تمدن به د صليبيانو په رنګ کې رنګول شوې وي. زه د مسلمانانو په کمزورتياو پو هيږم ، مسلمان خپل دښمن نه پيژني ،او دهغوی په خپور کړل شوی جال کې پخپله ورننبلي. ما ته د صليبيانو کمزورتياوې هم معلومې دي ، که څه هم هغوی د مسلمانانو پر خلاف يو لاس شوی دي، خو دهغوی زړونه يو له بله جدا دي ، فرانسويان او جرمنيان يو دبل پرخلاف دي ، انګليسان اوايټالويان يو بل نه خوښوي ، خو هغوی مسلمانان د يوه ګډ دښمن په څير پيژني او پر خلاف ئې يو لاس شوی دي ، پخپله د هغوی تر منځ ستري ستري دښمنئ شتون لري ، دهغوی پادشاه آګستس دوه مخې پادشاه دې ، اوپاته نور ئې هم همداسې درواخله ، خو هغوی مسلمان حکمرانان د ښځو د ښايست او د زرو او جواهراتو په ورښولو سره رانده کړي دي ، که چيرې مسلمان حکمرانان يو لاسي شي نو صليبيان به په څو ورځو کې پخپلو منځو کې خواره واره شي ،... اوس د فاطمي خلافت په له منځه وړلو سره زما دښمنان نور هم ډير شول ، په داسې حال کې چې فاطمي دخپل مقام د خوندي ساتلو په خاطر د صليبيانو او سوډانيانو سره زمونږ پر خلاف سودا کوله.»

«دهغه شاعر ته پرون د مرګ سزا ورکړل شوه» سلطان ايوبي ورته وويل « د عمارة اليمني شاعرۍ زما پر زړه هم ډير زيات اغيز کړې و ، خو هغې دخپلو الفاظو او اواز په سرو سکروټو داسلام د درمند د سوزولو هڅې کولې »

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمارة اليمني دهغه وخت ډېر مشهور شاعر و، په هغه وخت کې اودهغې وخت څخه د مخه به هم خلکو شاعرانو ته د پيرانو او پيغمبرانو په څير درجه او مرتبه ورکوله.شاعرانو به د خپلو اشعارو او اواز په واسطه په فوځ کې د جذباتو يو نوي روح ور پو کاوه ، او همدا درجه هغه مسلمان شاعر ته هم ور په برخه شوی وه. هغه چې په ولس کې ځانته کوم ځای پيدا کړې و د هغه ،هغه داسې استعمالول پيل کړل چې له يوه اړخه به هغه په خلکو کې د جهاد جذبه راپاروله خو تر څنګ به ئې د فاطمي خلافت دعظمت اوستروالي ويره دخلکو په زړنو کې کينوله. فاطمی خلافت د هغه دومره ملاتړ کاوه چې بلاخره ئې د همغې ملاتړ له مخې د سلطان ايوبي پرخلاف په زهرو خپرولو هم پيل وکړ. دهغه اخری اشعار داو چې «ای د فاطمی خلافت سره د مينې په خاطر زما ملامتونکو ! پر ما لعنت وکړئ ، زه تاسې پخپل ځان د لعنت ورکنم ،...د فاطمي ماڼيو په ورانو ويجاړو اوښکې توی کړئ ، په هغې کې اوسيدونکو ته زما پيغام يوسئ چې هغه زخم چې ماته ستاسې په خاطر را رسيدلي هغه هيڅکله هم دجوړيدو وړ نه دي.»

دهغه په کور په ناڅاپي توګه يرغل وروړل شوی و ، هلته ليکلي ثبوت تر لاسه شوی چې هغه يواځې او يواځې د فاطمي خلافت منونکي او دصليبيانو تنخوا خور دي ، صليبيانو هغه ته په همدې خاطر تنخوا ورکوله چې هغه دي دمصريانو په زړونو کې فاطمي خلافت حاکم کړي ،د سلطان ايوبي پر خلاف کرکه او نفرت خپور کړي او ..... په دې خاطر ورته د مرګ سزا ورکړل شوه.

« د يوه قوم او او لس شاعر چې ددښمن تنخوا خور وي نو دهغې قوم مقدر به ذلت او رسوائي وي ،»سلطان ايوبي وويل.

دروازه چې دننه راغی او وئې ويل چې دمعزول خليفه العاضد قاصد راغلې دې ، دسلطان ايوبي د تندي نښې نورې هم ژورې شوی ، او ويې ويل « دخلافت پرته دا بوډا زما څخه نور څه غوښتلي شي ؟» دروازه چې ته ئې وويل « هغه دننه را وليږه »

د العاضد قاصد دننه راغې او وئې ويل « دخليفه سلام درته وړاندې کوم»

«هغه نور خليفه نه دې » سلطان ايوبي ورته وويل « دوه مياشتې وشوی چې هغه له کاره ګوښه شوی او په خپلې ماڼۍ کې بندي دې»»

« ښښه غواړم درونده اميره !» قاصد وويل «د عادت له مخې مې دخولې څخه ووتل ، العاضد د سلامه وروسته ويلي دي چې[ ناروغتيا په بستره باندې پريستلې يم ، پورته کيدل را ته شوني نه دي ، غواړم له تاسره ووينم ، که چېرې محترم امير دلته تشريف راوړي نو پر ما به ئې احسان وي.»]

سلطان ايوبي په ناقرارۍ سره خپل لاس په ورانه وواهه او وئې ويل « هغه ما هلته غواړی ، ځکه چې هغه اوس هم خپل ځان خليفه ګڼي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«نه د مصر اميره !» قاصد ورته وويلې « د هغې روغتيائي حالت ډير خراب دې د محل طبيب دهغه په هکله خطر احساسوي ، دا دهغه پخوانۍ ناروغتيا ده چې د غم او غصې په وخت کې ډيربنت مومي او اوس خو د را پورته کيدو څخه هم وتلي دي.» قاصد لږ څه په وارخطائي سره وويل « هغه دا هم ويلې دي چې ته که يوائې راشي ، دري څلور د راز خبرې دي ، چې د نورو ترمخ ئې نه شم درته کولې.»

«هغه ته د سلام وروسته وواييه چې صلاح الدين ايوبي د راز په ټولو خبرو خبر دې» ايوبي ورته وويل « اوس دې د راز خبرې د الله ج سره کوه ، الله ج دې درته بښنه وکړي»

قاصد ناهيلې ولاړ، سلطان ايوبي دروازه چې راو غوښت او ورته ئې وويلې چې طبيب را وبولي ، هغه بهاؤالدين شداد اوعلي بن سفيان دواړو ته وويل « هغه زه په ځانته ځان ورغوښتې يم ، ايا په دې کې به دهغه کوم چال نه وي ، ايا زما اند ښننه به غلطه وي چې غواړي زما کار په محل کې تمام کړي ، هغه غواړي پرما وار وکړي ، او دا دهغې خپل حق دې.»

« تا ډير ښه وکړل چې ورنه غلې ،» شداد ورته وويل اوعلي بن سفيان ئې هم تائيد وکړ.

طبيب راغې اوسلطان ايوبي ورته وويل « ته العاضد ته ورشه ، زه پوهيږم چې هغه له ډيري مودې راهيسې ناروغ دې ، داسې بريښې چې دهغه خپل طبيب نور نهيلې شوی دې. ته ولاړ شه هغه ووينه اوعلاج ئې وکړه. دا هم کيداې شي چې هغه ناروغ نه وي ، په هرصورت ماته اطلاع راکړه.»

*****(۵۷)

پخوانې خليفه العاضد ته په همدې محل کې، چې دهغه دخلافت مرکز و ، د اوسيدو اجازه ورکړل شوې وه، هغه ددې محل څخه ځانته يو مثالي جنت جوړ کړې و، د هغه د حرم هره لويشت د ښايسته او ښکلو نجونو څخه ډکه وه ، د وينځو يو هجوم به تل شتون درلود ، د سلونو ساتونکو ډلې به خپلې دندې ترسره کولې ، فوځي او عسکري منصبداران به تل د حاضرۍ له پاره په قطارونو کې ولاړ ول، خو دسلطان ايوبي انقلاب ددې محل او مانۍ دنيا بدله کړه ، خليفه اوس هغه پخوانې خليفه نه و ، خو په محل کې دعيش اوعشرت ټول وسايل لکه دپخوا په څير پاته و، د فوځي قومندنانو ساتونکې ډلې ئې له دې ځايه څخه لرې کړې وې خو د ساتونکو يوه کوچنۍ ډله لا تر اوسه هم هملته موجوده وه ، هغوی د العاضد ساتونکې نه و بلکه پر هغه ولاړ پهره داران و ، څرنګه چې دخلافت محل د سازشونو مرکز و نو په دې خاطر ئې هلته پهره درولې وه ، العاضد اوس په خپل محل کې تر ځارنې لاندې و، هغه عمر خوړلې هم او د زړه په ناروغتيا ککړ هم. هغه د خلافت څخه د ګوښه کولو غم ، دعمرزياتوالي اود شرابو او عيش او عشرت ....ټول هغه څه و چې هغه ئې په بستره باندې را پرځولې و.

په څو ورځو کې هغه د لاش په څير و ګرځيد ، دهغه د خدمت کولو په خاطر به دوه نيم عمر خوړلې ښځې اويو نارينه تل د هغه په خونه کې موجود و ، العاضد به چې کله سترګې پرانستلې نو همدوی به ئې کتل ، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغوی په کتلو سره به ئې سمدستي خپلې سترګې بیرته پټولې ، دمحل طبیب ورته دوا ورکړې وه ، دوه ځوانې نجونې دهغه خونې ته را ننوتې دا د هغه د محل ښایستو، دهغوی څخه یوې ئې د خلیفه لاس په خپل لاس کې و نیو او په هغه ور ټیټه شوه او دهغه د روغتیا حال ئې و پو ښته ،او بلې د العاضد مخ په دواړو لاسو کې ونیوه او د هغې د روغتیا له پاره ئې دعا وکړه ، دواړو نجونو یوې بلې ته په سترګو کې و کتل ، نو یوې ئې وویل ،«ته ارام وکړه ، مونږ نه غواړو تا ارامه کړو» بلې ورته وویل « مونږ هر وخت ددې تر څنګ خونې کې اوسیږو ، مونږ ته غږ راکوه » او دواړه د خلیفه دخونې څخه بیرون ولاړې.

العاضد زږیروې کاوه او خپل اړخ ئې بدل کړ او دخپل څنګ نیم عمر تیرو ښخو ته ئې وویل ،«دا دواړه نجونې زما د روغتیا د مالومولو له پاره نه وې را غلې ،دوی ددې له پاره راغلې وې چې زه به کله مرم، زه پوهیږم چې هغوی څنګه اوس له ما سره خپله دوستي ټینګه کړې ده. دا د غوښې خوړونکو کجیرانو په څیر دي ، زما دمړینی انتظار کوي ، د هغوی سترګې زما په مال او دولت باندې ښخې دي ، دلته ستاسې ددرې واړو اخوا زما بل کوم غمخور نه شته ؟.... هیڅوک نشته ، هیڅوک هم نه شته ، دا د فاطمي خلافت چغې وهونکي څه شول ؟ چېرته ولاړل ؟هغه خپل لاس په زړه کیښود او اړخ ئې بدل کړ. هغه په ډیر تکلیف کې و.

په همدې وخت کې قاصد راغې او ورته ئې وویل « دمصر امیر د راتلو څخه ډډه کړې ده »

« اوه ! بد نصیبه صلاح الدینه !» العاضد په زږیرویجنه لهجه وویل « زما د مړینې تر مخه خو به یو ځل دلته راغلی وی» ددغه خبر ټکان دهغه تکلیف نور هم ورزیات کړ. هغه په ډیر کمزوري اواز سره وویل « اوس خو به زما وینځې هم زما په را بللو دلته را نشي، د مصر امیر به ولی راځي....ماته د خپلو ګناهونو سزا راکول کیږي. زما د وینې اړیکې هم پرې کړل شوی دي ، دهغوی څوک هم زما خوا ته را نه غلل ، هغوی به زما جنازې ته را ځي ، او هر هغه څه چې په محل کې تر ګوتو کوي اخلي به ئې.»

هغه تر یوه وخته پورې زږیروې کول او اوښت را اوښت ، دواړه خدمت کونکې ښځې حیرانه ولاړې وې او دهغه خبرې ئې اوریدلې ، دهغوی سره خلیفه ته دډاډ او تسلۍ ورکولو او دهغه دحوصلې د زیادښت له پاره هیڅ الفاظ نه و ، هغوی باندې ویرې خپل اغیز کړې و او داسې بریښیدې چې هغوی د هغه خدای د قهر او غضب څخه په ویره کې وې چې د پادشاه څخه ګدا او د امیر څخه فقیر جوړوي.

دواړو یو ناڅاپې ددروازې په لورې و کتل ، هلته یو سپین ږیرې سړې ولاړ و ، هغه پښه نیولې دننه را ننوت ، او د العاضد په نبض ئې لاس کیښود ،« اسلام علیکم ، زه د مصر د امیر ځانګړې طبیب یم ، هغه زه ستا دعلاج له پاره را استولې یم .»

«ایا د مصر امیر دومره مروت هم نه درلوده چې را غلې وې اوزه ئې کتلې وې ؟ العاضد ورته وویل « هغه زما په را بللو هم را نه غې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«دهغه په اړوند زه څه نه شم ویلای» طبیب ورته وویلې ،«هغه زه ستا دعلاج په خاطر را استولې یم ، زه به ددې ویلو جرأت وکړم. چې ددومره سترې پیښې وروسته ، چې هلته ستره جګړه وشوه او په زرګونو انسانان په کې له منځه ولاړل ، د مصر امیر شاید دلته نه وي راغلې ، خو هغه ته ستا د روغتیا په هکله اندېښنه حتماً وه ، که چېرې داسې نه واې نو هغه به زه ستا دعلاج له پاره نه واې را لیږلې ، په اوسنې وخت کې ته داسې کومه خبره په خپل ذهن کې مه راوړه چې ستا زړه ته پرې تکلیف ور رسیږي ، او که نه علاج به دې شونې نه وي»

«زما علاج وشو » العاضد ورته وویل « زما یو پیغام په غور سره واوره او صلاح الدین ایوبي ته ئې ټکې په ټکې ور ورسوه ، زما د نبض نه لاس پورته کړه ، زه اوس دنړۍ د حکمت او ستا ددوایو څخه بې نیازه شوې یم. طبیبه ! واوره ! سلطان ایوبي ته ووایه چې زه ستا دښمن نه وم خو زه ستا ددښمنانو په جال کې را نښتې وم ، دا چې دا بدقسمتي زما وه او که د صلاح الدین ، خو زه د خپلو ګناهونو اعتراف داسې وخت کوم چې زه شاید د یوه ساعت میلمه واوسم ،..صلاح الدین ایوبي ته وواياست ، چې زما په زړه کې تل ستا له پاره محبت و او هم ستا محبت سره یو ځاې له نړۍ رخصت اخلم ، زما جرم دادې چې ما د زرو ، جواهراتو او حکمرانۍ محبت هم په خپل زړه کې پیدا کړې و چې را څخه پر اسلام باندې غالب شوې و ، اوس نو ټولې نشې له منځه ولاړې ، هغه وینځې هم زما د مړینې منتظر دي چې زما په اشارو به نڅیدلې ، زما په دربار کې لوڅې لغړې نجونې هم اوس ما ته دکرکې او نفرت په سترګو ګوري ، .... د انسان تر ټولو ستره غلطي داده چې د انسانانو په خبرو کې را ونښلي او خداې له یاده و باسي ، او دا ئې له یاده ووځې چې دهمغه خداى په لور سفر کوي چېرې چې یو انسان د بل انسان د ګناهونو بار نه شي پورته کولې ، هغه بدبختو له ما څخه خداې جوړ کړ خو اوس چې د ریښتوني خداې بلونکې راغلې دې نو ماته هم حقیقت را څرګند شو بدې.....»

« ما دخپل ځان د خلاصون له پاره همدا لاره غوره کړې چې زه په خپلو ګناهونو اعتراف وکړم. اوصلاح الدین ایوبي دداسې خطرو څخه خبرول غواړم ، چې دهغې څخه به هغه ته پوره مالومات نه وي ور په برخه. هغه ته ووایه چې زما د ساتونکې ډلې پخواني قومندان ژوندې دې ، او په سوډان کې چېرې پټ شوی دې،

هغه د تللو په وخت کې ماته ویلې و چې د فاطمي خلافت د بیرته را ژوندي کولو له پاره به هغه د سوډانیانو اود باوري مصریانو څخه یو فوځ تیاروي او د صلیبیانو څخه به مالي او نظامي بسپنې غواړي ..... صلاح الدین ایوبي ته ووایه چې هغه دې د ساتونکو د ډلې ځارنه وکړي او بیرون دې ځانته نه وځي ،د شپې له اړخه دې د ډېر احتیاطه کار واخلي ، ځکه چې رجب د فدائیانو سره یو ځاې د هغه د قتل او وژلو پلان تیار کړې دې. هغه ته ووایه چې مصر ستا له پاره د اور خوټونکې غره په څیر دې ، هغوی چې ته ډېر دوستان ګڼې هغوی هم ستا دښمنان دي ، هغوی ستا د غولولو له پاره ستا د اواز سره خپل اواز یوځاې کوي او د ستر اسلامي سلطنت د جوړیدو شعار ورکوي په هغوی کې هم د صلیبیانو روزل شوی ماران شتون لري....

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ستا د دفاع په شبکې کې د فیض الفاطمی په نامه یو ستر حاکم هم شتون لري خو ته هغه نه پیژنې ځکه هغه هم ستا د مخالفینو په صف کې ولاړ دي ، هغه د رجب نبي لاس دې ، یواځې د ترکانو ، شامیانو او نورو عربي نژاد قومندانانو او سپاهیانو څخه پرته پر بل چا باندې باور او اعتماد و نه کړې ، یواځې همدوی ستا وفاداره او د اسلام ساتونکي فوځ دي ، په مصري فوځ کې باوري خلک هم شته او بې باوره هم. هغه وخت چې تا په سوډاني فوځ باندې برید وکړ ، ته نه پوهیدې چې ستا ددوو دلګیو قومندانانو ستا د جنګي تاکتیک د ناکامولو له پاره ستا په هدایاتو باندې بل منګه عمل کول غوښتل ، خو دا ستا د ترک او عربو سپاهیانو او مجاهیدینو جذبه او احساس و چې هغوی د خپلو قومندانانو د حکم د انتظار کولو پرته په سوډانیانو باندې د قهر او غضب په څیر را نازل شول او که نه دوی دواړو قومندانانو پلان درلود چې د جنګ لورې بدل او تا ناکامه او نامراده کړي»

د العاضد اواز به د هغه په ستوني کې دریده او بیا به ئې پیل کاوه ، یو ځل دوه طبیب هغه د خبرو کولو څخه منه کړ خو هغه د خپل لاس په اشاره هغه ددې خبرې څخه منه کاوه ، د هغه پر مخ د اسې خولې را ماتې شوی لکه چا چې پرې اوبه شیندلې وي ، دواړو ښځو د هغه د مخ خولې وچولې ، خو خولې د اوبو د چینې په څیر پرې را رواني وی. هغه په همدې ترتیب د فوځ او ولسې څو نورو حاکمانو نومونه هم واخستل چې د سلطان ایوبي پر خلاف په سازشونو کې مشغول وو ، په دوی کې یو تر ټولو زیات خطرناک کس یو فدایې و چې د هغه دنده پټ په پټه وژل و ، هغه په دې فن کې ډیر ماهر و. العاضد هغه ته په مصر کې د صلیبیانو د اثر ورسوخ په هکله هم تفصیلي مالومات ورکړل او ورته ئې وویل «دوی ته مسلمان مه وایه ، دوی خپل ایمانونه پلورلي دي ،... صلاح الدین ایوبي ته ووایه چې الله ج دې تا بریالي کړي ، خو دا په یاد ساته چې یو خو هغه خلک دي چې په پټه تا ته دوکه درکوي ، او بل هغه خلک دي چې په غوړه مالۍ سره تا ته دخدایه وروسته دویمه درجه درکوي ، دوی د هغو خلکو څخه زیات خطرناکه دي چې په پټه دوکه درکوي .... هغه ته ووایه چې کله چې دښمنان و ځپوي اوبیا په ډاډ سره د حکومت په مقام کیناستې ، نو زما په څیر درڅخه ددواړو جهانونو پادشاه جوړ نه شي ، پادشاهي یواځې او یواځې د الله ج له پاره ده ، په همدې مصرکې د فرعونیانو پخوانې وراني ویجاړې ووینه ،بیا زما انجام ته وګوره ، او خپل ځان د داسې خراب انجام څخه خوندي وساته.....

د هغه ژبه نوره هم درنه شوه ، او پر مخ ئې د خفګان نښې ورکې او په ځای ئې د ارامۍ اوسکون نښې را پیدا شوی ، هغه د خبرو کولو هڅه وکړه خو اواز ئې په ستوني کې بند شو ، سر یې یوی لورې ته و غورځید او د تل له پاره چپ شو. دا پیښه د (۱۱۷۱) زیږدیز کال د سپتمبر د میاشتې ده ، طبیب سلطان ایوبي ته ځواب واستاوه ، او په محل کې د خلیفه د مړیني خبر لکه د اور په څیر خپور شو ، د محل د هیڅ یوه کونج څخه د ژړا غږ خو پریږده چې د چاد پوزی د تریویدو خبر هم را پورته نه شو . یواځې د هغه دوو خدمت کونکو ښځود سترګو څخه اوښکې تللي ،چې تر اخره پورې ئې په خونه کې ورسره شتون درلود...

سلطان ایوبي د یوڅو نورو دولتي لوړپوړو چارواکو سره محل ته راغي ، وئې کتل چې هلته د محل په مختلفو ځایونو کې څه فعالیتونه روان دي ، هغه ته شک پیدا شو او د ساتونکي ډلي قومندان ئې را وغوښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او حکم ئې ورته وکړ چې دمحل په ټولو خونو کې و ګرځیږي او ټول نارینه او ښځې د کوټو څخه بیرون را وباسئ او په انګړ کې ئې کینوي ، او حکم یې ووکړ چې هیڅوک بیرون تللو ته پری نږدئ، هیچاته ، که څه هم ډیره زیاته اړتیا ولري ، هم دتبیلي څخه د آس د پرانستلو اجازه ورنه کړئ ، سلطان ایوبي په ټول محل باندې د ولکې کولو حکم وکړ. هغه ته دا ډیره حیرانونکې وه چې وئې کتل چې العاضد چې ځانته ئې پادشاه وایه اویواځې د شرابو او ښځو سره په مستیوکې ئې ژوند تیراوه ، اوس ئې په مړي باندې د ژړا خو پریږده چې د خفګان کولو هم څوک نه شته په داسې حال کې چې ټول محل د ښځو او نرو څخه ډک و.

طبیب سلطان ایوبي له ځانه سره ځانته کړ ، او هغه ته ئې د العاضد اخري خبرې ټکې په ټکې بیان کړې ، هغه ورته خپل آند داسې څرګند کړ چې « دهغه د ژوند په اخري ګړیو کې تاته په کار و چې دهغې بلنه دې منلې وي او ورته راغلي وې. سلطان ایوبي هغه ته وویل چې هغه ددې خطر د په نظر کې نیولو په اساس را نه غې چې په هغه زما باور نه و پاته ، او بل علت ئې داو چې هغه د ایمان پلورونکو څخه کرکه کوله ،خو اوس چې د طبیب په خوله د العاضد پیغام ورته ورسید نو سلطان ایوبي سخت پښیمانه شوې و ، هغه ډیر زیات نا قراره و او وئې ویل « که چیرې زه راغلې وائې نو دهغه دخولې څخه به مې د راز څه نورې خبرې هم را ویستلې واې ، هسې نه چې کوم راز ئې له ځانه سره په سینه کې وړې وي»

بې شمیره تاریخپوهانو په خپلو لیکنو کې لیکلي دي چې العاضد ډیر زیات عیاش او بې لارې انسان و ، هغه د سلطان ایوبي پر خلاف د هر ډول سازش ملاتړ هم کړې و خو دهغه زړه د سلطان ایوبي د محبت نه ډک هم و . دوه تاریخپوهانو دا هم لیکلي دي چې که چیرې سلطان ایوبي د العاضد په ورغوښتلو هلته ور غلې وای نو العاضد به هغه ته ډیرې نورې پټې خبرې هم ښوولاې واې.

په هرحال تاریخ دا ثابتوي چې د العاضد په ورغوښتلو کې هیڅ ډول فریب او دوکه نه وه. هغه د خپل روح د نجات او خلاصون په خاطر ، او د سلطان ایوبي سره د محبت له مخې د خپلو ګناهونو د ښښنې همدا لار خپله کړې وه. تر ډیرې مودې پورې سلطان ایوبي په دې غم کې ځوریده چې د العاضد د ژوند د اخري خبرو څخه بې برخې پاته شوې و . د همغې د خبرو په بنسټ ټول هغه الزامات چې خلیفه د یو شمیر وګړو په هکله په ګوته کړي و صحیح ثابت شول.

سلطان ایوبي د هغو ټولو خلکو نومونه علي بن سفیان ته ورکړل او حکم ئې ورته وکړ چې د هغوی ټولو څارنه وکړي خو د هغوی څخه هیڅوک هم د ثبوت او ګوهۍ پرته و نه نیسي ، داسې لارې خپلې کړي چې دهغوی له مخې ملزمان تور لاس و نیول شي ، هسې نه چې د کوم چا سره بې انصافي او تیرې وشي. ددې احکامو په ورکولو سره هغه د خلیفه د مړي دجنازې او ښخولو د مراسو له پاره انتظامات پیل کړل او په همدې ماښام ئې العاضد د مسلمانانو په عامې هدیره کې خاور ته وسپاره. سلطان ایوبي ټول محل و لټاوه ، دهغه څخه ډیره زیاته طلا ، جواهرات او نور ډیر قیمتي او ارزښتناکه تحفې تر لاسه شوی ، سلطان ایوبي ددې دومره زیاتو شیانو او قیمتي تحفو په کتلو حیران پاته و. هغه د حرم ټولې ښځې او ځوانې نجونې علي بن سفیان ته ورحواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او حکم ئې ورته وکړ چې دا مالومه کړي چې څوک د کوم ځایه او دکومه راغلي دي، دهغوی د ډلې څخه چې څوک هم خپلو کورونو ته ورتلل غواړي نو هغوی په خپله ساتنه کې هلته خوندي ورسوئ او هغه چې غیرمسلمان او فرنګیاني دي نو دهغوی په هکله پوره پوره مالومات تر لاسه کړئ چې هغوی دکومو ځایو څخه راغلي او چا راوستي دي او کومه کومه ئې شکمنه ده ، شکمني ازادي نه کړئ بلکه مالومات ترې تر لاسه کړئ ،

سلطان ایوبي د خلیفه العاضد دمحل څخه تر لاسه شوې مال او شتمني هغو روزنیزو ادارو ، دېني مدرسو او شفاخانو باندې وویشله چې نوې نوې په مصر کې پرانستل شوې وې.

*****(۵۸)

العاضد د مړینې دمخه د خپلې ساتونکې ډلې دسالار رجب په هکله ویلي و چې هغه په سوډانیانو کې پټ شوی او غواړي د هغه ځایه څخه د سلطان ایوبي پر خلاف فوځ تیار کړي او دا چې هغه به د صلیبیانو څخه هم مرسته غواړي ، علي بن سفیان شپږ داسې سر تیري و ټاکل چې جنګیدونکې جاسوسان و او قومندان ئې رجب دپخوا څخه ډیر ښه پیژانده ،هغوی ئې د تاجرانو په بڼه کې سوډان ته واستول او دا حکم یې ورته و کړ چې که شوني وي نو هغه دې ژوندي ونیسي او که نه هملته دې ئې ووژني.

هغه وخت چې دا ډله سوډان ته روانیده نو هغه وخت رجب په سوډان کې نه و بلکه دفلسطین په یوې مشهورې او مستحکمې کلا ، شوبک ، کې اوسیده، دا وخت فلسطین د صلیبیانو په ولکه کې و ، او هغوی دا ځاې خپل مرکز ګرځولې و ، د همدې ځایه ئې مسلمانان ډیر زورول ، د مسلمانانو ژوند ئې را تنګ کړې و ، مسلمانان له دې ځایه هره ورځ کورنۍ کورنۍ تښتیدل، هلته د هیڅ مسلمان عزت خوندي نه و. صلیبیانو به کله کله د غلو په څیر داړې غورځولې ، د مسلمانانو قافلې به ئې لو ټلې او بیرته به فلسطین ته راستنیدل ، هغوی به نجونې هم تښتولې همدا علت وه چې سلطان ایوبي تر ټولو دمخه په فلسطین کې میشت صلیبیان د تیغه تیرول غوښتل ، تر څو د مسلمانانو مال او ابرو خوندي پاته شي ، ددې نه اخوا یو ستر علت دا هم و چې د مسلمانانو په لمړۍ قبله باندې صلیبیان حاکم و . خو د مسلمانود امراؤ دا حال و چې هغوی د صلیبیانو سره ددوستۍ اړیکې کلکو ل او ځان ئې پرې خوندي ساته ، رجب پخپله هم یو مسلمان عسکري منصبدار و ، خو هغه د سلطان ایوبي پر خلاف د کومک د ترلاسه کولو له پاره دصلیبیانو څنګ ته ورغلې و.

صلیبیانو د رجب د عزت په خاطر هلته په عسکري کلا کې د نڅا او شرابو محفل ګرم کړې و، رجب دا احساس هم و نکړ چې ووینې چې د لوڅو لغړو نڅونکو ډیرې ئې مسلمانانې هغه نجونې دي چې صلیبیانو په کوچنی والي کې تښتولې او بیائې د نڅا روزنه ورکړې ده ، هغه خپلې لونې دکافرو په محفل کې نڅیدونکې کتلې او دهغوې د لاسو ئې شراب په خوله کول ، د رجب سره دوه نور مسلمان قومندانان هم وو، هغوی ټوله شپه په شرابو او فساد کې مست و ، او سهار د صلیبیانو سره دخبرو اترو له پاره کیناستل ، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډه کې دصليبيانو مشهور پادشاه «ګائي لوزينان »او قومندان« کونارډ » هم شتون درلود. ددوی څخه اخوا يو څو نور عيسائي فوځي قومندانان هم وو. هغوی ته د شيې له اړخه رجب ويلي و چې سلطان ايوبي د سوډانيانو دقبيلې عبادتځاي له منځه وړي او دهغوی مذهبي مشر پروهت ئې هلاک کړې دې ، دسلطان ايوبي پر خلاف سوډانيانو بريد وکړ خو د صلاح الدين ايوبي په لاسو د ماتې سره مخ شول ، سلطان ايوبي د خليفه العاضد خلافت هم له منځه يوړ او دهغه پر ځاي ئې عباسي خلافت جوړ کړ. خو په مصر کې به هيڅ خليفه نه اوسيږي. رجب هغوی ته وويل چې ددې مطلب دادې چې سلطان ايوبي به پخپله د مصر خپله واکه حکمران و ګرځي. رجب د صليبيانو دې غونډې ته وويلې چې هغه ددوی څخه د نظامي او مالي مرستې د تر لاسه کولو له پاره راغلي دې او غواړي له دې ځايه سوډان ته ولاړ شي او هلته يو فوځ تيار کړي. هغه په مصر کې د حالاتو د خرابولو او د ګډوډيو د راوستلو له پاره ئې هم د صليبيانو څخه د کومک غوښتنه وکړه.

«ز مونږ تر مخه اوس د مسئلې دوه اړخه دي چې بايد پاملرنه ورته وشي» کونارډ وويلې ،« د هغې حبشي قبيلې په مذهبي چارو کې چې صلاح الدين ايوبي په ډيره ظالمانه توګه مداخله کړې ده بايد د انتقام او بدلې د اخستلو له پاره را و پارول شی. ددې تر څنګ خومره مذهبونه او عقيدې چې په سوډان کې شتون لري د هغوی پيروان بايد د صلاح الدين ايوبي پرخلاف وسله وال کړل شي او هغوی ته وويل شي چې دا مسلمان پادشاه د خلکو عبادتځايونه او دهغوی د دېوتا بُت ځايونه هرچېرى چې ويني ورانوي ئې. مخکې له دې چې هغه په بلې کومي عقيدې باندې يرغل وکړي هغه په مصر کې له منځه ولاړ شي. په دې توګه دخلکو مذهبي جذبات را وپارول شي او هغوی په مصر باندې د يرغل له پاره په اسانۍ سره تيار کړل شي»

«مونږ د مصر مسلمانان هم د صلاح الدين ايوبي پرخلاف درولې شو » يوه صليبي قومندان وويل ،« که چېرې محترم رجب باندې بده و نه لګيږي نو زه به د همغې د ګټې خبره وکړم ،د مسلمانانو تر منځ دمذهبي ليونتوب د راپارولو له پاره پخپله مسلمان د مسلمان په لاسو وژل څه ستونزمنه خبره نه ده ، لکه څنګه چې زمونږ يو شمير پادريانو خپل ځانونه د ګرجو حاکمان ګرځولي دي او خپل ځانونه ئې د انسان او خداي تر منځ درولي دي ، بلکل په همدې توګه په اسلام کې هم يو شمير امامانو په جوماتونو ولکه کړې اوخپل ځانونه ئې دخداي نماينده ثاکلي دي ، زمونږ سره شتمني شته ، چې دهغې په ځواک سره مونږ مسلمان ملايان تيارولي او د مصر په جوماتونو کې ئې کښينولي شو. زمونږ تر څنګ داسې عيساي پادريان هم شتون لري چې د اسلام اوقران څخه په ښه توګه خبر دي ، چې مونږ هغوی د مسلمانو امامانو په شکل کې استعمالولي شو.»

دصلاح الدين ايوبي پرخلاف په کوم جومات کې خبرې کولو ته اړتيا نه شته دهمدې ملايانو په ژبه مونږ په عوامو کې داسې توهم پالنه پيدا کولي شو چې دهغوی په زړونو کې د صلاح الدين ايوبي هغه عظمت له منځه ولاړ شي چې هغه په کې پيدا کړې دې.»

«دا پلان خو سمدستی پيلول په کار دي» رجب ورته وويل « سلطان ايوبي په مصر کې مدرسې جوړې کړې دي، په دې مدرسو کې ځوانانو ته دمذهب صحيح لاره ور ښوول کيږي ، په داسې حال کې چې پخوا داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه مدرسې هلته شتون نه درلود. خلکو به په جوماتونو کې خطبو ته غوږ ایښوده ، چې په هغو کې به د خلیفه ډیره زیاته ستاینه کیدله ، خو صلاح الدین د خطبو څخه د خلیفه نوم هم وویست ، که چیرې په عامو وګړو کې د علم او پوهې رڼا زیاته شي او ذهني بیداري په کې را پیدا شي نو بیا خو به زمونږ کار نور هم ستونزمن شي ، تاسې پوهیږئ چې دحکومت د ټینګښت له پاره خلک باید په ذهني او فکري توګه وروسته پاته او په جسماني توګه اړ او محتاج و ساتل شي.

«درونده رجبه !» یو صلیبي قومندان ورته په خندا کې وویل «تا ته دخپل هیواد په هکله هم دومره پوهه نه شته ، چې هلته د ځمکې لاندې څومره کار روان دي ، مونږ دا کار دهمغې ورځې څخه پیل کړې و په کومې چې صلاح الدین ایوبي زمونږ بحري بیړه په روم کې ډوبه کړه، مونږ په ډاګیزه تخریب کارۍ باندې باور نه لرو ، خو مونږ ذهنونه تخریبوو ، لږڅه غور وکړه درونده رجبه ! دوه کاله پخوا په قاهره کې څومره قحبه ځایونو شتون درلود؟ او اوس ولاړ شه ووینه چې څومره شتون لري ؟ ایا په هغوکې ډیر زیات زیاتوالې نه دې راغلې ؟ ایا په شتمنو مسلمانو کورنیو کې د نجونو اوهلکانو تر منځ د نیوکې وړ معشوقي نه دې پیل شوی ؟کومې عیسوي نجونې چې مونږ هلته وراستولې دې هغوی د مسلمانو نجونو په لباس کې د مسلمانو نارینه و تر منځ د رقابت د پیداکولو او وینې توېولو کارونه نه دې تر سره کړې ؟مونږ په قاهره کې ډیره په زړه پورې جواري پیل کړې ده ، همدا اوس دهغې ځاې په دوه جوماتونو کې زمونږ له اړخه استول شوی امامان ناست دې ، هغوی په ډیره ښه لاره د اسلام اصلي شکل بدلوې ، هغوی د جهاد معنا بدلوې ، مونږ هلته د عالمانو او فاضلانو په لباس کې هم یو شمیر وګړی ګمارلې دي ، چې مسلمانان د جنګ او جګړې پر خلاف تیاروې ، هغوی د دوست او دښمن انګیرنه هم بدلوې ، زه په ذاتي توګه دا توقع لرم چې مسلمانان به تر څو کلونو پورې په همدې ذهني خرنګوالی کې ورننوځې په کوم کې چې به هغوی ځانته په ډیر فخر سره مسلمان وائې خو دهغوی په ذهنونو او دهغوی په تهذیب او کلتور به دصلیب اغیز سپوروي»

«د صلاح الدین ایوبي د ځارکښی نظام ډیر فعاله دې» رجب ورته وویلې ، « که چیرې دهغې د ځارکښی د شبکې مسؤل علي بن سفیان ووژل شي نو صلاح الدین ایوبي به ړوند او کوڼ شي.»

«ددې مقصد خو دا شو چې ته پخپله هیڅ هم نه شې کولې ،»کونارډ ورته وویلې «ته یو حاکم هم له منځه نه شې وړلاې ، که چیرې ته د عقل له اړخه دومره کمزورې ئې ، نو ته خو به بیا زمونږ وګړې هم د هغوی په لاسو کې ورکړې او پرې به ئې ووژنې ، او زمونږه شتمني به هم بیکاره او له منځه یوسې»

«دا کار به زه پخپله تر سره کړم» رجب ورته وویل «ما د فدائیانو سره په دې هکله خبرې کړې دي ، هغوی خو دصلاح الدین ایوبي د وژلو له پاره هم تیار دي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې د سوډان له پولو څخه د مصر په پولو باندې بد امني را پيدا کولو ته دوام ورکړئ .»کونارډ ورته وويلې « د هيواد دننه به مونږ ذهني او نورو هر ډول تخريبي کارونو ته دوام ورکړو ، دبله اړخه هلته په عربو کې يو څو امراء زمونږ په لاسو کې کيوتي دي ، دهغوی څخه يو شمير مونږ دومره بې واکه کړي دي چې مونږ ته جزيه را کوي. مونږ کوچنی کوچنی حملې کوو او دهغوی په لړه لړه ځمکه باندې ولکه کوو او مخته ځو. تاسې د سوډان له اړخه هم همدا لو به و لوبوئ ، په مسلمانانو کې يوا ځې همدا دوه وګړي پاته شوی دي چې يو ئې نور الدين زنګي او بل ئې صلاح الدين ايوبي دي ، ددوی د له منځه وړلو سره سم به د اسلامي نړۍ لمر په ډوبيدو شي ، په دې شرط چې تاسې خلک ثابت قدمه اوسئ ، ددې خبرې اړتيا به نه وي چې مصر به همستا وي .»

ددې ډول بنستيزو خبرو اترو وروسته ، تر ډيره پورې ددې پلان په عملي لارو چارو باندې بحث او څيړنه و شوه ، بالاخره رجب ته درې ډيرې ښايسته او چالاکه نجونې او په زرګونو طلائې سکې ورکړل شوې. هغه ته په قاهره کې ددوه کسانو ادرسونه هم ورکړل شو . دهغوی څخه يوه ته ددې نجونو ور رسول ډير زيات اړين ول ، ددې دواړو وګړو څخه ئې يو دسلطان ايوبي د جنګې او دفاعي څانګې رئيس فيض الفاطمي و ، رجب ته دا ونه ويل شول چې نجونې به څه ډول استعمالوي ، هغه ته همدومره وويل شول چې د فيض الفاطمی سره ئې اړيکې شته دي ، هغه پوهيږي چې نجونې څه ډول استعمال کړل شي ،همدا راز نجونو ته هم څرګنده ده چې هغوی باید څه وکړي ، دې درې واړو نجونو عربی او مصر ي ژبه په ډيره ښه توګه ويلاې شوه .

په همدې ورځ ئې دغه درې واړه نجونې او لس کسه ساتونکې د رجب سره کړل او رخصت ئې کړل. هغوی دهر څه د مخه د سوډان هغه غرنی سيمې ته تلل چېرې چې دنجلۍ قرباني ورکول کيده ، او چېرې چې د سلطان ايوبي سر تيرو مجاهدينو ام عراره د حبشيانو څخه ازاده کړې وه او د هغوی مذهبي مشر پروهت ئې وژلې و ، او د فرعون د وختونو مانۍ ئې په خرابو بدلې کړې وې. رجب د سوډانيانود ماتې او د العاضد دخلافت نه دګوښه کيدلو وروسته تښتيدلې و او په همدې ځاي کې پټ شوې و ، او بيا ئې همدا ځاي دخپلو فعاليتونو مرکز ګرځولې و . هغه په خپل شاوخوا کې د حبشيانو همغه قبيله را ټوله کړې وه چې پروهت ئې د سلطان ايوبي د مجاهدينو په لاسو هلاک شوې و، دې خلکو تر اوسه پورې هم دا ځاي د ديوتاګانو ځاي ځيګې ګڼه ، او د غرونو منځ ته نه ورتلل، هلته يوا ځې څلور زاړه حبشيانو تګ راتګ کاوه ، دهغوی له ډلې څخه يو د دوی مذهبي مشر و ،او خپل ځان ئې د وژل شوی پروهت ځاي ناستې ګڼه ، هغه ځانته نور درې کسان د ساتونکو په توګه ټاکلي و چې دهغه سره به د غرونو منځ ته ورتلل ، رجب هم د همدې کوچنی سيمې يو بل کونج ځانته د کورګي په څير ټاکلې و ، هغه د تيښتې وروسته دغه ځاي خپل پټ ځاي ګرځولې و ، اوبيا په مصر کې ميشت د کوم صليبي جاسوس په مرسته تر فلسطينه پورې تللې و .

(٢٠)*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حبشيانو دا قبيله چې انګوک نوميده ، ډيره په ويره کې وه ، يو خو د هغوی ددبوتا قرباني پوره کړل شوی نه وه. او بل داچې دهغوی مذهبي مشر پروهت ووژل شو. او دريم دا چې دهغوی د دبوتا بُت ، او ځاې له يوې مخې په کنډوالو بدل شوې و. او څلورم مصيبت پرې دا نازل شوې و چې دقبيلې په سلګونو ځوانان د خپلو دبوتاګانو د سپکاوي د بدلې د اخستلو په خاطر دسلطان ايوبي د مجاهدينو په مقابله کې د ماتې وروسته وژل شوی و. ددې قبيلې په هر کور کې غم او وير ګډ و. دهغوی څخه يو شمير خلکو دا فکر هم کاوه چې شونې ده چې هغه چا چې دهغوی دبوتا له منځه وړې هغه به دهغه نه ستر دبوتا وي ، د وژل شوی پروهت ځاي ناستي چې کله د خپلې قبيلې دخلکو دا حال وکوت نو لمړی خو ئې دا وويل چې ددبوتا سترې ځمځارۍ وربې دي د هغوی ګيډې ډکې کړئ ، حبشيانو يو څو وزي د سترو ځمځارود خوراک له پاره پروهت ته ور وليږلې ، يو کس ددې قربانۍ له پاره خپل اوښ هم پروهت ته ورکړ ، څو ورځې په پرلپسې توګه دا ځناور سترو ځمځارو ته په ډنډ کې ور اچول کيدل ، خو د قبيلې څخه ويره لرې نه شوه.

يو شپه نوي پروهت د قبيلې خلک د غره تر څنګ را ټول کړل او ورته ئې وويل چې هغه تر دبوتا ګانو پورې د وررسيدو لارې پيدا کړي دي ، خو دبوتاګانو دا اشاره ورکړې ده چې څرنګه چې نجلۍ په خپل وخت قرباني شوی نه ده نو په دې خاطر په قبيلې باندې داسې ستر مصيبت راغلي دي ، دبوتاګانو ويلې دي چې اوس به په يوه وخت کې ددوه نجونو قرباني ورکوئ نو مصيبت به درڅخه لرې کړل شي او که نه دبوتاګان به ټوله قبيله ارامۍ ته پرې نه ږدي ، پروهت دا هم وويل چې نجونې به د انګوک د قبيلې څخه نه وي ، هغوی بايد سپين رنګه وي..... ددې خبرې په ويلو سره د قبيلې زيات شمير زړه ور او جنګجو وګړي را پورته شول او وئې ويل چې هغوی به د مصر څخه دوه مسلمانې او يا فرنګي نجونې د قربانۍ له پاره را تښتوي.

هلته رجب د فلسطين څخه ددرې صليبي نجونو او لس کسه ساتونکو سره يوځاې دې لورې ته را روان و . دهغوی سفر ډير اوږود او ستومانه ونکې و ، هغه د سلطان ايوبي دفوځ تښتيدلي سالار او باغي عسکر و. هغه ته دا مالومه وه چې د مصر په پولو به سلطان دګشتي پهرو انتظام کړي وي ، په دې خاطر هغه خپله قافله په يوي اوږدې لار روانه کړې وه ، دهغې په قافلې کې درې اوښان و چې اوبه ، خوراک او د صليبيانو لخوا ورکړل شوی ډير سامانونه پرې بار و ،پاته وګړي ټول په اسونو سپاره و ، د څو ورځو د فاصلې د طې کولو نه وروسته هغوی د دبوتاګانود اوسيدو غرني ځاې ته را ورسيدل، ددې څخه يوائې يوه ورځ د مخه دقبيلې پروهت ويلې و چې ددوه سپين پوسته نجونو ، چې سوډاني نه وي ، قرباني کول اړينه ده ، تر ټولو دمخه رجب د پروهت سره وکتل ، پروهت ورسره درې سپين پوسته اوډيرې ښايسته نجونې و کتلې ،نو دهغه سترګې د خوښۍ څخه وځليدې ،دا نجونې د قربانۍ له پاره مناسبې وی ، هغه د رجب څخه د نجونو په هکله وپوښتل، نو رجب ورته وويل چې هغوی ئې د يوه ځانګړې موخې د تر سره کولو له پاره له ځانه سره راوړي دي.

رجب دا نجونې د غرونو تر منځ داسې يوي سيمې ته يوړې چې ډيره شنه او شادابه وه. داسېمه ددرې اړخونو څخه په غرونو کې را ګيره شوی وه. رجب هلته د پخوا څخه خيمې ښخې کړې وی. نجونې بايد په ډيره پټه توګه او د ډيرو پټو لارو له لورې هغه چاته ورحواله شوی واې چې صليبيانو ئې په هکله مالومات ورکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. هلته د نجونو د میشت کیدو له پاره تولې اسانتیاوې شته وې ، رجب ورته د شرابو انتظام هم کړې و ، هغه په بریالیتوب سره د سفر پای ته رسیده او خپل ځای ته په امن د را رسیدو په خوشحالۍ کې جشن جوړ کړ. صلیبي ساتونکو ته ئې هم ښه ډیر شراب ورکړل ،اونجونو پرې هم خپله تنده ماته کړه.

د نیمې شپې وروسته ،کله چې ساتونکي او دهغه خپل هغه نور ملګري چې د پخوا څخه هلته شته و تول په خوارړه خوب بیده شول ، نو رجب یوه نجلۍ له لاسه و نیوله اوخپلې خیمې ته ئې له ځانه سره یوړه، نجلۍ دهغه په نیت و پوهیده ، هغې رجب ته وویل، « زه فاحشه نه یم ، زه دلته د صلیب د فرض او دندې د اداء کولو په خاطر را غلې یم زه له تاسره شراب څښلې شم خو بدې درسره نه شم کولای.»

رجب په خندا کې هغه دخپلې خیمې لورې ته کشوله خو نجلۍ ترې خپل متې خلاص کړ، کله چې رجب لاس ور اوږود کړ نو نجلۍ ترې خپلو نورو ملګرو نجونو ته و تښتیدله ، هغوی دواړه هم بیرون راووتلې ، هغوی هڅه وکړه تر څو رجب و پوهوي ،چې دا نجونې غلطې او فاحشې و نه ګڼي،

رجب په غصه شو او ورته ئې وویل « زه پو هیږم چې تاسې څومره پاکې یاست ، بې حیائي او فحاشت خو ستاسې دنده ده»

« دا دنده مونږ هغه ځای کې استعمالوو چېرې چې زمونږ د فرض د تر سره کولو له پاره دهغې د استعمال اړتیا وي»نجلې ورته وویلې « مونږ د عیاشۍ په خاطر عیاشی نه کوو.»

رجب نه غوښتل چې دهغوی په کومه خبره باندې ځان و پوهوي ، بلاخره نجونو ورته وویلې « زمونږ سره خوا کې لس کسه ساتونکي دي ، هغوی زمونږ د ساتنې په خاطر دلته راغلي دي ، سبا هغوی بیرته ستنیږي ، که چیرې مونږ د هغوی اړتیا احساس کړه نو مونږ به هغوی همدلته له ځانه سره تم کړو ، او یا به پخپله له دې ځایه څخه بیرته ولاړې شو.»

رجب چپ پاته شو ، خو دهغه عزم دا ښووله چې هغه به دا نجونې و نه ښیي ، هغه شپه تیره شوه ، بله ورځ کله چې رجب دفلسطین څخه راوړې ساتونکي له خپله ځانه رخصت کړل ،...نو هغه ورځ هم تیره شوه ، دماښام په وخت کې کله چې رجب د نجونو تر خوا ناست و او خبرې ئې ورسره کولی نو په دې وخت کې پروهت د خپلو څلورو حبشیانو سره راغې او په سوډاني ژبه ئې رجب ته وویلې « زمونږ د بوتا له مونږه خفه شوې دې هغه ددوه فرنګۍ یا مسلمانو نجونو قرباني غوښتې ده ، دا نجونې د قربانۍ له پاره مناسبې دي ، ددوی څخه دوه نجونې مونږ ته راحواله کړه.»

په رجب باندې سر و څرخید ، او ځواب ئې ورکړ ،«دا نجونې د قربانۍ له پاره نه دي ، مونږ ددوی څخه ډیر ستر کار اخستل غواړو ، او دهمدوی په لاسو غواړو ستاسو د بوتاګانو دښمنان له منځه یوسو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ته دروا غ وائې» پروهڅ ورته وويلې «تا دا نجونې دلته د تفريح له پاره را وړې دي ، خو مونږ به دهغوی څخه دوه نجونې قربانوو.»

رجب ورته د هرې لورې دليلونه وويل خو پروهڅ هيڅ دليل ته غاړه نه ايښوده ، دهغه په ذهن باندې دبوتا سپورو ، هغه پورته شو او ددوه نجونو په سرونو ئې بيا بيا لاس راښکوده او وئې ويل «دا دواړه د دبوتا له پاره دي ، د انګوک خلاصون ددې نجونو په لاسو کې دې» دائې وويل او ولاړ ، بيا ودريدل او رجب ته ئې وويل. « د نجونو سره يو ځاې ددې ځاې د تيښتې هڅه و نه کړې ، ته بايد په دې پوه شې چې مونږ به ډير ژر تا راپيدا کړو.»

نجونې په سوډاني ژبه نه پو هيدلې ، حبشي پروهڅ دهغوی په سرونو لاس را ښکود ، خو رجب ئې اندېښمن وکوت ، درجب څخه ئې و پوښتل چې دا حبشي څه ويل غوښتل ؟ رجب هغوی ته په ځرګنده توګه وويل ، چې هغه دوی دواړه د قرباني له پاره غواړي ، د نجونو د بلې پو ښتنې په ځواب کی هغه ورته وويل چې هغه غواړي ستاسې سرونه پرې کړي او د وچېدو له پاره ئې کيږدي ، اوستاسې جسم د اوبو ډنډ ته ورواچوي تر څو هلته ئې ستري ځمځاری وخوري ، دنجونو رنګونه و تښتيدل ، هغوی رجب ته وويل چې هغه د هغوی د خوندي کولو په خاطر څه فکر کړې دي ، رجب ځواب ورکړ ،« ما هغه ته دهغه دپوهولو په خاطر زيات شمير دليلونه وړاندې کړل خو هغه په يوه هم د پوهيدو هڅه و نه کړه. زه د همدې خلکو په رحم وکرم پورې تړلې يم. زه غواړم دوی له خپله ځانه سره ملګري کړم ، دوی زما په فوځ کې د يو ځاې کيده له پاره تيار دي ، خو په خپله ګروهه دومره پاخه اوکلک دي چې غواړي تر هر څه لمړی خپل دبوتاګان خوشحاله کړي ، بيا به زما خبره اوري ،»

د رجب د خبرو او دهغې د لهجې څخه نجونو ته شک را پيدا شو چې هغه به ددې توان و نه لري چې هغوی خوندي کړي ،او يا به دهغوی د خوشحالولو په خاطر ددوی د خوندي کولو هڅه و نه کړي، ځکه هغوی تيره شپه د رجب د نيت يو ځرک هم کتلې و ، د همغه نيت د په نظر کې نيولو په اساس هغوی نا هيلې شوې وې، رجب هغوی ته په رسمي توګه هم ډاډ ورنکړاې شو چې هغوی به خوندي کړاې شي ، نجونې بيرته خيمې ته ستنې شوی اوپه را پيدا شوی حالاتو ئې غور او خيړنه پيل کړه ، او دې پايلو ته ورسيدې چې هغوی دلته نه د رجب د عياشۍ وسيله کيدو ته او نه د حبشيانو پردبوتاګانو د ځانو دقربانولو له پاره راغلې دي ، هغوی نه غواړي هسې په هسې بې مقصده و مري ، هغوی ددې ځاېه د تيښتې اراده وکړه. خو تښتيدل او تر فلسطينه پورې په خيريت سره رسيدل څه اسانه کار نه و. خو ددې اخوا بله چاره هم نه وه ، دا نجونې يوا ځې ښايسته او زړه وړونکې نه وی بلکه د آس دځغلولو او عسکري زده کړو روزنه هم ورکړل شوی وه تر څو د اړتياو په وخت کې خپل ځانونه خوندي کړاې شي ، هغوی پريکړه وکړه چې له دې ځايه به تښتې اوفلسطين ته به ځانونه بيرته رسوي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه شپه په خير سره تيره شوه ، بله شپه نجونو هرې لورې ته وکتل چې د شپې آسونه چېرې تبيله کيږي ، اودا چې دهغه ځاېه څخه دوتلو لار کومه ده. حبشي پروهتې د ورځې له اړخه يو ځل بيا راغې او درجب سره د خبرو کولو وروسته بيرته ولاړ ، نجونو د رجب څخه و پوښتل چې هغه څه وويل ؟ هغه ورته وويل چې هغه سبا شپه تاسې له دې ځاېه څخه غواړي يوسي ، هغه ماته اخطار راکړ چې که چېرې زه د هغوی ترمخ کوم خنډ پيدا کړم نو هغوی به ما ووژني او سترو ځمځارو ته به مې په هغه ډنډ کې ورواچوي ، نجونو هغه ته د خپلې تيښتې د پلان په هکله څه و نه ويل ، ځکه هغوی د رجب په نيت باندې شکمنې شوې وې، هغوی ډيرې زياتی ذهينې نجونې وی ، هغوی د رجب سره داسې خبرې پيل کړې اوداسې خبرې ئې دهغې دخولې څخه را وويستې چې دهغې له مخې هغوی ته دا په ډاګه کيدله چې هغه د هغوی د په ښنګ کولو پر ځاې د حبشيانو خوشحالي غواړي ،تر څو حبشيان دې همله له ځانه سره پټ و ساتي او د سلطان ايوبي پرخلاف ورسره د يوه ځواکمن فوځ په جوړولو کې مرسته وکړي. نجونو ته دا شک هم پيدا شو چې رجب به دداسې يوه قيمت په ورکولو سره دهغوی دخوندي کولو هڅه وکړي چې هغه ته ئې ورکول اړين نه برېښي.

ټوله ورځ په همدې کشمکش کې تيره شوه ، رجب ته هيڅ ډول شک پيدا نه شو چې نجونې به و تښتيږي ، هغه هغه وخت هم شکمن نه شو چې نجونو هغه ته وويل چې په داسې جهنمی دښته کې دداسې ښنې سيمې شتون پخپله د قدرت يو عجوبه ده. راځه او پر مونږ ددې سيمې لږ څه سيل وکړه. رجب هغوی ته د سيمې ښوولو او سيل کولو په خاطر دهغوی په ګرځولو باندې پيل وکړ. مخته هغه ويرونکی جهيل (ډنډ) راغې چې د هغه په څنډو باندې پنځه ويرونکې سترې ځمځاری ناستې وې. د ډنډ اوبه ډيرې بد بويه او خرابې وی ، يوی نجلۍ وويلې چې داسې برېښي چې د غره په دننه کې کومه د اوبو چېنه را خوټيږي ، کله چې ټولو د غره په دننه کې وکتل نو د يوې نجلې د خولې څخه چېغې ووتې ، اوبو د غره په منځ کې يو ستر غار جوړ کړې و ، رجب ورته وويل ،«دا هغه سترې ځمځاری دي چې د خوراک له پاره ئې دلته د مجرمانو او دقربانۍ کړل شوو نجونو لاشونه وراچول کيږي» دداسې ويرونکې منظر په کتلو سره د نجونو د تيښتې روحيه نوره هم زياته پخه شوه. هغوی د سيل په بهانه د تيښتې لارې په نښه کړې او داسې نرمه ځمکه ئې و کتله چې د اسونو د نعلونو اواز ترې نه را پورته کيده ، دهغوی د سيل او ګرځيدو د غوښتنې څخه همدا موخې هغوی تر لاسه کول غوښتل.

د بله اړخه هلته حبشي پروهتې د خپلې قبيلې په يوه نژدې کلي کې ناست و او خلکو ته ئې زيرې ورکاوه چې د قربانۍ له پاره نجونې پيدا شوی دي اوقرباني به د نن څخه څلور شپې وروسته، کله چې سپوږمۍ مکمله شي ، تر سره کيږي. هغه ورته وويل چې قرباني به د ددېوتاګانو د اوسيدو په ځاې کې او د عبادت ځاې په کنډرو کې تر سره کيږي. ددې وروسته به دا عبادتځاې مونږ په خپله جوړوو. اوکله چې ددې عبادتځاې جوړښت پاې ته ورسيږی نو مونږ به دهغه قوم څخه ، چې زمونږ د دېوتاګانو سپکاوي ئې کړې دې ، دبدلې د اخستلو تياري نيسو.

*****(٦١)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدې نيمائې شپه تيره شوې وه ، په رجب او دهغه په ملګرو نجونو دخپل ځانګړي فن له مخې دومره زيات شراب څښلي و ، چې د هغوی د بيرته را ويښيدو خطره ئې له منځه وړې وه ، هغوی بې هوشه پراته و ، نجونو دخپل سفر له پاره سامانونه سره را ټول کړي او ترلي و ، په دريِ اسونو ئې زينونه کيښودي و ، په آسونو سپرې شوې او په همغه نرمه ځمکه ئې آسونه ور پريښول چې هغوی دورځې له اړخه کتلې وه ، ددې سيمې په يوه برخه کې څلور کسه حبشيانو شتون درلود خو هغوی هم ويده شوی و ځکه هغوی په دې پوهيدل چې ددې ځاې څخه ځوک د تيښتې هڅه نه شي کولې ، او که هڅه هم وکړي نو د صحرا په دې لويه لاره کې به ئې له منځه يوسي ، خو نجونې دهغه شنې ، زړه وړونکې خو ويرونکې بنديخانې څخه وتلې وی ، هغوی د همغې لارې څخه غوښتل فلسطين ته ستنې شي په کومې چې د رجب له خوا راوستل شوې وې، هغوی ډيرې هوښيارې او د ښه عسکري روزنې څخه برخمنې وی خو هغوی په دې نه پو هيدې چې په صحراو کې دومره دوکې اوفريبونه شتون لري ، چې د پوهانو عقل هم ړندوي ، ددومره اوږد صحرائې سفر له پاره خلک دقافلو په شکل کې روانيږي ، او د خپله ځانه سره د صحرا دهر مصيبت دمقابلې له پاره اړين سامانونه او وسايل را اخلي.

دشپې له اړخه د صحرا هوا يخه وه ،دري واړو نجونو تر يوه ځايه پورې آسونه سوکه سوکه يوړل او بيائې په ځغاسته کړل ،د څه ډيرې لارې د تللو وروسته هغوی يو ځل بيا د آسونو دتګ رفتار راکم کړ او پاته شپه ئې آسونه په همدې کم رفتار سره مخته يوړل ،کله چې سهار شو او لمر پورته وخوت نو دنجونو شاوخوا شګلوړه غونډۍ تر سترګو شوی ددې ترمخه د خاورو ستر ستر او هسک غرونه په مخ کې پراته و. دوتلو هيڅ لاره ترې نه تر سترګو کيدله ، هغوی د لمر څخه دخپلې لارې د تللو اندازه واخسته ،او د غونډيو په منځ کې ور ننوتې ، آسونه ئې تندې اخستې و ، دهر آس دپاسه د اوبو يوه يوه کوچنۍ مشکيزه ايښې وه ، چې د يوې ورځې له پاره ئې هم بسنه نه کوله ، ددې له پاره چې آسونو ته اوبه ورکړاې شي نو نجونې دخرما دبوټو دځنګل په لټون کې شوې. لمر همداسې سر ته را پورته کيده ، او د صحرا څخه دوزخ جوړيده ،خو د خرماد بوټو دځنګل کوم نښه نښانه نه تر سترګو کيده.

رجب اودهغه ملګرې د لمر د راختلو وروسته هم را ويښ نه شول ،هغوی د بې هوشۍ په خوب ويده شوی و ، پروهڅ دخپلو درې نورو حبشې ملګرو سره را غې ، هغه تر ټولو لمړۍ د نجونو خيمې ته ولاړ ، وئې کتل چې خيمه تشه پرته ده ، هغه رجب را پورته کړ او ورته ئې وويل « هغه دواړه نجونې ماته را وسپاره ،» رجب و بريد او را پورته شو او د پروهڅ د قايلولو هڅه ئې پيل کړه او ورنه ئې غوښتنه وکړه چې دا نجونې ضايع نه کړي. هغه ورته ټوله خبره په تفصيل سره وکړه چې ددې نجونو څخه کوم ډول کار بايد واخستل شي. خو پروهڅ دهغه يوه خبره هم ونه منله ، رجب غوښتل خپل ملګري هم را پورته کړي خو حبشيانو هغه و نيو ، پروهڅ ورڅخه و پوښتل « نجونې چيرې دي ؟»

رجب د هماغه ځايه نجونو ته ور غږ کړ خو کوم ځواب ئې تر لاسه نه شو کړاې ، هلته خيمې ته ورغې وئې کتل ، بيا ئې اخوا دېخوا مخ واړاوه ، خو هغه ته نجونې په هيڅ ځاې کې تر سترګو نه شوی ، ناڅاپه ئې د آسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زينونو ته وکتل، ګوري چې درې زينونه غائب دي ، په اسونو ئې ځغلنده نظر وکړ او وئې کتل چې درې آسونه هم په تبيله کې نه شته ، رجب پروهڅ ته وويلې « هغوی ستاسې له ويرې تښتيدلې دي ،تاسو زما د ډير ستر کار نجونې له ما څخه په تيښته مجبور کړې .»

« هغو ته به تا د تيښتې ويلې وي» پروهڅ ورته وويلې او خپلو درې واړو حبشيانو ته ئې د رجب په هکله وويلې « دا هلته يوسئ او وئې تړئ ، هغه يوځل بيا د انګوک دېوتا ناراضه کړې دي ، ښه سپاره را وبولئ او د نجونو د نيولو پسې ئې ورو ځغلوئ ، هغوی لرې نه شې تللای»

درجب د ټولو عذرونو او زاريو سره سره بيا هم حبشيانو هغه له ځانه سره يوړ او له يوې ونې سره ئې داسې وتاړه چې لاسونه ئې تر شا تړل شوی و. دهغه د ويدو ملګرو وسلې ئې را واخستې او بيا ئې هغوی هم سره را وينښ کړل او اخطار ئې ورکړ چې که چېرې ددې ځايه و خوځيږې نو هلاک به کړل شي .... لږه شيبه وروسته شپږ آس سپاره او اوښ سپاره را حاضر شول او د نجونو د نيولو له پاره واستول شول ، خو د نجونو نيول اوس دومره ساده او اسانه خبره نه وه . ځکه چې د تيښتې او تعاقب تر منځه نژدې لس دولس ساعته فاصلې شتون درلود. حبشي سپرو ته دا اسانتاوي تر لاسه وي چې هغوی د صحرا په رازونو ښه پو هيدل ،او بل دا چې ټول نارينه و ،هر ډول سختئ او ستونزی ئې تيرولاې شوی. په مخته تللو کې هغوی ددې ستونزو سره مخ شول چې هوا په لګيدو شوه او دې هوا د شګو په الوزولو باندې د نجونو د آسونو پښو نښې له منځه وړې وی خو بيا هم هغوی د اندازې له مخې خپل سفر ته دوام ورکړ.

ددرې څلور ساعتونو د تللو وروسته ، هغوی ته د يوې لورې څخه د اسمان پر افق باندې پورته سره شانتی هوا تر سترګو شوه چې پورته ختله او مخته روانه وه. سواره وويريدل اويو بل ته ئې وکتل ، اسونه او اوښان ئې بيرته شاته را وګرځول اوپه ځغاسته ئې کړل ، دا د صحرا هغه توپان و چې د شګو سترې سترې غونډۍ ئې د شګو د ذرو په څير له ځانه سره الوزولې ، که کوم انسان يا ځناور به په هر ځاې کې ولاړ او يا تم شوی و نو دهغه د جسم سره به دريدې او هغه به ئې ژوندې په شګو کې ښخاوه ، او په هغه به ئې ستره غونډۍ جوړوله ، هلته ددې توپان څخه د خوندې پاته کيدو له پاره بله کومه ستره او کلکه غونډۍ نه تر سترګو کيدله . هغوی وتښتيدل او غوښتل ئې چې بيرته خپلې غرنۍ سيمې ته ځانونه و رسوي خو هغه هم ډيره لرې پاته شوی وه ...... اوس نو هغوی ته دا توپان را رسيدلې و ، دهغې ځاې ونو هم د توپان د ځواک توان نه درلود او چېغې ئې وهلې ، د جهيل (ډنډ) سترې څمڅاری هم هلته د غار دننه ورننوتلې او ځانونه ئې خوندې کړل . پروهڅ په يوځاې کې خپلې ګونډې ښخې کړې وې او خپل لاسونه ئې په هوا کې پورته کړې و اوپه زوره زوره به ئې پر ځمکه بيا بيا وهل ،او په لوړ اواز به ئې ويل « اې د انګوک دېوتا ! خپل قهر و زغمه ، مونږ به ډير ژر دوه ډيرې ښايسته نجونې ستا په قدمونو کې قربان کړو .» هغه دا توپان د دېوتا قهر ګاڼه ، که څه هم صحرا او دا ډول توپانونه تل يو دبل سره مل وې خو دا ډول سخت او توند توپان به کله کله را پيدا کيده ، نجونې هم په همدې توپان کې را ګير شوې وې، دهغوی له پاره هيڅ پناه ځاې او يا د وتلو لاره نه وه پاته. که څه هم هغوی د حبشيانو د خطرې د ځاې څخه ډيرې لرې وتلې وی خو د صحرا په داسې يوې خطرې کې را

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګيرې شوې وې چې د هغوی له پاره مرګونی ثابتیدای شوه ، پر هغوی باندې یو بل مصیبت دا راغې چې د شګو دتوپان او د هغې د اوازونو د ویرې درې واړه اسونه د هغوی د کنترول نه پرته ،په خپل سر خوشې شوی و .دا اسونه تر ډېره ځایه پورې یو ځای یو له بل سره ځغلیدل، ددې یوه ګټه دا شوه چې د شګو په توپان کې د ژوندې ښخیدو ویره له منځه تللې وه ، خو دا مالومه نه وه چې دا بې واګو اسونه به چېرې ځانونه رسوي ، اوهغه ځای به بیا د اصلي لارې څخه څومره لرې وي ، په نجونو کې دومره توان نه و پاته چې آسونو په خپل واک کې واخلي او په اسونو کې هم نور ددې توان نه و پاته چې ددې څخه زیاته ګړندی منډه ووهي ، هغوی تندې اخستې و او د نیمې شپې را هیسې په پر لپسې توګه روان او په ځغاسته و.

سترتیا او تندې اسونه بې حاله کړي و ، یو اس د ځغاستې په وخت کې سر په تاراک را و غورځید اوپه هغې سپره نجلۍ داسې را و غورځیدله چې آس دوباره پورته شو خو بیرته را پریوت او نجلۍ یې دځان لاندې کړه، هغه مړه کیدونکې وه ، لږڅه مخته ولاړل اودبوه بل آس د زین پټۍ را پرانستل شوه او زین په یوه لورې و خویده ،پر هغې سپور هم همغې لورې ته پریوت خو پښه ئې په رکاب کې و نښته ، اس نجلۍ په ځمکه کشوله ، او کله چې دریمې نجلۍ د هغه سره د مرستې له پاره لاس ور اوږود کړ نو دهغې مرسته ئې و نه شوه کړای ځکه دهغې خپل اس بې واکه شوی و ، هغې دخپلې ملګرې اواز اوریده خو سوکه سوکه د هغې اوازونه هم خپ شول او هغې د نجلۍ لاش کوت چې پر ځمکه ئې اس د ځان پسې را کاږي ، پر هغې هم ویره کیناسته ، هغه چې هر څومره زړه وره وه خو بیا هم ښځینه وه ، په زوره زوره ئې و ژړل ، هغه د پرانستل شوی زین اس و درید ، خو دریمې نجلۍ خپل اس و نه شو درولای ، هغې شاته وکتل خو په توپان کې څه ورته تر سترګو نه شول ، اوپه دې پوه نه شوه چې پر هغه آس باندې څه و شول ، دهغه سپرلۍ خو لا د پخوا څخه له منځه تللې وه .

دریمه نجلۍ یواځې پاته شوی وه ، هغې د آس د رکابونو څخه خپلې پښې لږ څه شاته کړې ، دهغې د ویرې دا حال و چې هغې د آس قیضه پرې ایښې وه او لاسونه ئې د اسمان په لورې پورته کړي و او په ستوني څیرولو سره ئې خدای را باله ، «زما ستره ربه !د اسمانونو ربه !زما ګناهونه را وبښه ، زه ګناهګاره یم ، زما هر وینښته ګناهګار دې ، زه د ګناه کولو له پاره راغلې وم ، زه په ګناهونو کې روزل شوی یم ، اې زما ربه! زه په هغه وخت کې هم کوچنۍ وم چې غټانو زه د ګناه په لارې روانه کړم ، هغوی ماته د ګناهونو درس را زده کړ او په همغې کې ئې را ځوانه کړم ، او را ته ئې وویل چې ورځه او نارینه دخپل جسم او خپل ښایست په واسطه بې لارې کړه. دهمغوی په لاسو نور انسانان ووژنه ، درواغ ووایه ، دوکه اوفریب ورکړه ، او بدکاره او فاحشه وګرځه، هغوی ماته ویلي و چې دا د صلیب فرض دې که ته ئې پوره کړې نو جنت ته به ولاړه شې.»
هغې دلیونو په څیر چیغې وهلې او دهغې د آس رفتار را کمیده ، هغې په زار اوقطار سره ژړل او خپل خدای ته ئې ویل « ستا هر مذهب چې رینښتوني وي ، ماته د همغې مذهب معجزه را ښکاره کړه.»

دهغې عقیده متزلزله شوی وه ، د ګناهونو احساس دهغې پر ذهن باندې ولکه موندلې وه ، د مړینې ویرې دهغې د یاده ویستلي و چې هغه د کوم مذهب خاونده ده . هغې ته خپله تیره شوی په ګناهونو کې ډوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاريده ، اوپه زړه کې ئې دا احساس را پاريده چې هغه د نارينه و د استعمال يو شي دې او هغه د هغوی د فريب او دوکې له پاره استعماليږي ، خو اوس سزا يواځې هغې ته ورکول کيږي.

په هغې بې هوشي اغيز کړې و خو دا اغيز ډير ژر له منځه ولاړ ، هغې په ژړا ژړا کې خپل ويښتان را ونيول او سرئې راښکته کړ او په لوړ اوازئې وويل ،«زما مرسته وکړه ، ای زما ربه ! زه نه غواړم اوس و مرم.» ددې دعاو سره سم هغه ته په ياد شول چې هغه يوه يتيمه نجلۍ وه ، د مرګ تر مخه انسان تل د تيرې شوی زمانې لورې ته ورګرځي ،او دا د انساني فطرت يو قدرتي عکس العمل دې ، دې ځواني نجلۍ هم خپلې ماضي ته دپناه د ور وړلو هڅه کوله ، خو هلته ئې هم څه نه موندل ، نه مور وه ، نه پلار او ورور، نه خور وه او نه بل کوم خپلوان ، هغه ته يواځې همدومره را ياد شول چې هغه د صليبيانو په لاسو پالل شوې ده اوپه هغه لاره ئې روانه کړه چې په هغې باندې هغه يوه ښکلې دوکه او فريب وګرځيد. هغې اوس هم د خپله ځانه کرکه کوله ، خو اوس ئې ښننه غوښتله ، خلاصون ئې غوښته ، هغه يوځل بيا بې هوشي و نيوله ، دهغې د آس تګ دومره سوکه شوی و چې هغه په ډيره سختۍ سره قدم اخسته ، ددې تر څنګ توپان هم دريدلې و او نجلۍ خپل هوش هم له لاسه ورکړې و.

*****(۲۲)

سلطان ايوبي دخپل هيواد د پولو د ساتلو له پاره په هرې پولې ساتونکې درولې و ، د سوډان سره په ښتې پولې ئې هم د ګشتې پهرې انتظام کړې و د هغوی له ډلې څخه د درې دلګيو قشله دسوډان دعسکرې مرکزونو او دمصر په پولو کې نژدې څلور پنځه ميله دننه پرته وه. ددې عسکرې قشلې خيمې داسې ښخې کړل شوې وې چې د توپانو څخه د خوندې کيدو خورا ډاډمن ځاې ګڼل کيده ، خو دې توپان دهغوی خيمې هم له بيخه نړولې وې ، تر څنګ ئې د آسونو او اوښانو سنبالول هم ستونزمن شوی و. کله چې توپان و دريد نو سپاهيان اونورکارکونکې ټول د خيمو او نورو سامانونو په بيرته جوړولو کې و ښتل ، ددې درې واړو عسکرې قشلو قومندان يو ترک نژادې احمد کمال نوميده ، هغه يو ښايسته شکله او تنومنده انسان و ، هغه هم د توپان د تم کيدو سره يوځاې بيرون راووت او د ځناورو او د نورو سامانونو په ليدنه کتنه بوخت شو. اوس نو فضا هم د ګرد او خاورو څخه پاکه شوی وه ، يوسپاهي يوې لورې ته اشاره وکړه او ورته ئې وويل «قومندانه ! هغه اس او دهغې سپور خو زمونږ د ډلې څخه نه دې ؟»

« مونږ لا تر اوسه پورې نجونې په فوځ کې نه دې را ګډې کړې» احمدکمال ځواب ورکړ « هغه خو نجلۍ ښکارې ، ويښتان ئې خواره واره دې ، چې د ورايه تر سترګو کيږی.»

هغه د هماغه سپاهي سره يوځاې هغه لورې ته ورمنډې کړې ، يو آس ټيټ سر ډير سوکه سوکه روان و ، کله چې هغې ته د ګياه بوې په پوزې شو نو سمدستې د تيبلې په لور رهي شو ، په اس باندې يوه نجلۍ داسې سپره وه چې دهغې متې د آس د غاړې په اخوا دېخوا باندې غوځيدلې وی او نجلۍ پخپله مخې لورې ته د آس په غاړه پرته وه ، د نجلۍ ويښتان خواره مخته را پريوتې و ، د احمد کمال تر ورسيدو پورې هغه آس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو اسونو تبيلې ته ستون شوی و او د ګياه په خوړلو ئې پيل کړې و ، احمد کمال د نجلۍ پښې د رکابونو څخه وويستې او د آسه ئې کوزه کړه او په خپلو لاسو کې ئې پورته کړه . سپاهي ته ئې وويل «ژوندۍ ده او فرنګۍ مالوميږي ، دهغې آس ته هم اوبه ورکړئ .» هغه دا نجلۍ خپلې خيمې ته يوړه ، دنجلۍ ويښتان د شګو له لاسه يو له بله سره سليښت شوی و . احمد کمال د هغې په خوله باندې اوبه ور وشيندلې اوبيا ئې په خوله کې د اوبو ځاڅکي ور واچول .

نجلۍ خپلې سترګې پرانستې ، څو لمحې ئې احمد کمال ته په حيرانتيا سره کتل ، اوناڅاپه را پورته شوه او کيناستله ،د احمدکمال رنګ ئې تور وکوت او په انګليسي ژبه ئې ترې و پوښتل ،« ايا زه په فلسطين کې يم ؟» احمد کمال ورته سر و خوځاوه او د هغې د پوهولو هڅه ئې وکړه چې هغه په دې ژبه نه پوهيږي ، نو نجلۍ په عربي ژبه بيا ترې و پو ښتل چې « ته څوک ئې ؟ او زه چېرې يم ؟ »

«زه د اسلامي فوځ يو مامولي قومندان يم» احمد کمال ورته ځواب ورکړ .«او ته اوس په مصر کې ئې»

د نجلۍ سترګې د اوښکو ډکې شوی او دومره ووېريدله چې تا به ويل چې اوس به بيا بې هوشه کيږي . خو احمد کما ل ورته وويل « مه ويريږه ، خپل ځان کنترول کړه .» هغه دهغې په سر باندې دشفقت او مهربانۍ لاس را ښکود او ورته ئې وويل « زه پوهيږم چې ته فرنګۍ ئې ، ته زما ميلمنه ئې ، د ويريدو هيڅ علت نه شته .» هغه يو سپاهي را وباله او د نجلۍ له پاره ئې اوبه او خوراک را و غوښتل .

نجلۍ ور ټوپ کړ او داوبو پياله ئې پورته کړه او په ډېره بې صبرۍ سره ئې دهغې په څښلو پيل وکړ . احمد کمال دهغې د خولې څخه پياله لرې کړه او ورته ئې وويل « سوکه ، لمړې غذا وخوره او بيا اوبه و څښه .» نجلۍ د غوښې يوه ټوټه راپورته کړه او بيا ئې په خوراک پيل وکړ او اوبه ئې پسې و څښلې ، نو په مخ کې ئې رڼا را پيدا شوه .

احمد کمال هلته يو تشه خيمه ښخه کړې وه . چې هغه ترې د غسل د ځاي کار اخست ، هلته د اوبو کمښت نه و ، دا خيمه ځاې د خرما د ېوه ځنګل سره يوځاي و ، احمد کمال نجلۍ د خوراک څښاک وروسته د غسل خيمې ته ور ننويسته او پرده ئې و ترله، نجلۍ خو غسل وکړ خو ډېره ويريده ، ځکه چې هغه دخپل دښمن په پناه ځاي کې ننبتې وه ،او هغه ددې دښمن څخه د ښه سلوک هيله نه درلوده ، هغه ته دکوچنيوالي څخه دا په ذهن کې ور کينول شوی و چې مسلمانان وحشي دي او د ښځو له پاره هغوی د ځيرونکو حيواناتو په څير دي . ددې ويرې تر څنګ پر هغې د حبشيانو ، د سترو ځمځارو او صحرائي شګلوړه توپان ويره هم پرته وه . دخپلو دوه ملګرو داسې ويرونکې مړينه چې د انسان ويښتان را ولاړوي ، هم ئې په ذهن کې را ځرخيده . هغې د غسل کولو په وخت کې ډېره زياته دا محسوسوله چې هغه د خپل داسې ناپاک وجود د مينځولو هڅه کوي چې ددنيا اوبه ئې نه شي پاکولې ، هغې دغه ټول حالات تر سترګو لاندې و نيول او مجبوراً ئې خپل ځان د حالاتو بهير ته ورحواله کړ . احمد کمال و کتل چې د داسې ښايسته او زړه وړونکې صورت نجلۍ مامولې نجلۍ نه شي کيداې ، دمصر دې برخې ته داسې فرنګۍ نجلۍ څنګه را تلاې شي ؟ هغه د نجلۍ څخه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنل نو نجلۍ ورته وويل چې هغه دقافلې څخه وروسته پاته او جدا شوی ده. په توپان کې ئې آس بې واکه شو ، خو احمدکمال دداسې ځواب څخه ډاډمن کيداې نه شو. هغه ترې درې ځلور نورې پو ښتنې هم وکړې نو د نجلۍ شونډې په رپيدو شوی ، احمدکمال ورته وويلې که چېرې تا دا ويلې واې چې ته را تښتول شوې وې او توپان تا ته نجات درکړی نو شايد چې دا دليل دې منل شوی واې ، تاته درواغ ويل هم نه درځي»

په دې وخت کې هغه سپاهي چې د احمد کمال سره يوځای و د خيمې پرده پورته کړه اويو کڅوړه او يوه مشکيزه ئې هغه ته ورحواله کړه ،او ويې ويل چې دا شيان د نجلۍ د آس د زين سره تړل شوی و. کله چې احمد کمال غوښتل داکڅوړه پرانځي نو نجلۍ وويريدله او په کڅوړې ئې لاس کيښود ، دهغې د مخ رنګ بدل شو احمد کمال کڅوړه همغې ته ورکړه او ورته ئې وويل چې واخله او پخپله ئې پرانيزه.

داسې مالوميده لکه د نجلۍ ژبه چې بنده شوې وې، هغې د کوچنيانو په څير کڅوړه شاته کړه خو احمد کمال ورته وويل چې داسې خو نه شي کيداې چې زه تاته ووايم چې ځه او ددې ځابه ولاړه شه ، زه هيڅ حق نه لرم چې تا تم کړم خو يوه داسې نجلۍ چې د ابادېو څخه لرې په يواځې ځان په آس سپره د بې هوشۍ په حال کې و موندل شي نوبيا خو هغه زه يواځې نه شم پريښولاې ، دا زما انساني دنده ده ، ماته خپل ځای را وښايه، زه به تا د خپلو سپاهيانو په ساتنه کې هلته خوندي و استوم. او که ځای دې نه را ښئې ،نو بيا تا د شکمنې نجلۍ په توګه خپل مرکز قاهرې ته استوم ځکه ته نه مصري ئې او نه سوډاني.

دنجلۍ د سترګو اوښکې را رواني شوی هغه چې دکومو مصيبتونو څخه راخلاصه شوی وه نو دهغې ويره او دهشت لا تر اوسه پر هغې باندې حاکم و، هغه کڅوړه د احمد کمال مخې ته ور واچوله، احمد کمال چې پرانسته نو په هغې کې څه خرما او څه نور واړه او غټ شيان پراته و ، او يوه کڅوړه په کې هم وه چې د طلااو سرو زرو سکې او د طلا يو کوچني زنځير د يوه صليب سره يو ځای پراته و. احمدکمال ددې څخه همدومره و پو هيده چې نجلۍ عيسوي ده ، هغه ته غالباً چې مالومه نه وه چې هر هغه صليبي چې د مسلمانانو پر خلاف په عيسائې لښکر کې شامليږي نو هغوی په يوه صليب باندې سوګند يادوی او يو کوچنې شانته صليب د تل له پاره له ځانه سره ګرځوي ، خو احمد کمال ورته وويل چې زما د پو ښتنو ځواب په دې کڅوړه کې نه و.

«که زه دا ټول سره زر تاته درکړم نو بيا به زما سره مرسته وکړې ؟» نجلۍ ترې و پوښتل.

«څنګه مرسته ؟»

« ما فلسطين ته ورسوه » نجلۍ ترې و غوښتل « او له ما څخه نوره پوښتنه مه کوه »

« تر فلسطينه پورې به دې هم ورسوم او پو ښتنه به هم کوم»

« که چېرې له ما څخه هيڅ شې پټ نه کړې نو دهغې به ځانته انعام درکړم ،»

« هغه څه دي ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«آس به تا ته درکړم» نجلۍ ځواب ورکړ.«او تر درې ورځو پورې ما خپله وینځه وګڼه»

احمدکمال پخوا هیڅکله هم په لاسو کې دومره زیات سره زر نه و پورته کړي ، او نه ئې داسې حیرانونکې ښایست او صورت تر سترګو شوی و ، هغه خپلې مخې ته ځلیدونکې طلاو کتل او بیا ئې د نجلۍ د وریښمو په خیر وینښتانو ته وکتل چې د سرو زرو د تارونو په خیر ځلیدل بیا ئې دهغې سترګو ته وکتل ، چې یو طلسماتي څرک په کې و، داسې څرک چې پادشاهان ئې یو د بله سره دښمنان ګرځول ، هغه یوتوانمند ځوان او قومندان و ،اودهغو ټولو دلګیو قومندان و چې په پوله باندې ئې پهره کوله ، دهغه څخه دپوښتنې ګرویزنی هیڅوک نه و ، خوهغه داټولې طلاې سکې اوصلیب په کڅوړه کې ورو واچول اوکڅوړه ئې د نجلۍ په لاسو کې ورکړه ،

«ولې ؟» نجلۍ ترې و پو ښتل «ایا د ا قیمت ډیر کم دي ؟»

« ډیر کم» احمد کمال ورته وویل « د ایمان قیمت د خدایه پرته بل څوک نه شي ورکولای» نجلۍ غوښتل څه ووائي خو احمد کمال هغه خبرو ته پرې نښوده ، او ورته ئې وویل « زه خپل فرض او خپل ایمان نه شم پلورلای، نن ټول مصر زما په ډاډ باندې په ډاډمن خوب ویده دي ، درې میاشتې وشوی چې سوډانیانو په مصر باندې د یرغل کولو هڅې کړې وی ، که چېرې زه دلته نه واې او یا ما دهغوی په لاسو خپل ایمان پلورلې واې نو دا لښکر به قاهرې ته ورننوتې و او ډیره تباهي به ئې کړې وه ، خو ته ماته د هغې لښکر څخه ډیره خطرناکه ښکارېږې ، ایا ته جاسوسه نه ئې ؟»

«نه هیڅکله !»

« ته همدومره ووایه چې ته دې توپان دکوم ظالم له لاسه خلاصه کړې ئې او یا ته د توپان څخه څنګه خوندي را وتلې ئې ؟» نجلۍ ډیر بې معنا غوندې ځواب ورکړ ،نو احمد کمال ورته وویل « ماته اوس ستا په هکله ددې مالوماتو کومه اړتیا هم نه شته چې ته څوک ئې او د کومه ځایه راغلې ئې ، زه به سبا سهار تا د قاهرې په لور واستوم ، هلته زمونږ د جاسوسۍ یوه محکمه ده ، هغه پو هیږی او ته پوهیږې. ما به خپله دنده اداء کړې وي»

« که چېرې اجازه وي نو زه اوس ارام کولې شم »نجلۍ ورته وویل و « سهار چې ما د قاهرې په لور استوی نوشاید چې زه ستا د پوښتنو ځواب ووایم»

نجلۍ تیره ټوله شپه بیداره تیره کړې وه او د ورځې ئې هم داسې ویرونکې سفر کړې و چې د څملاستو سره سم بیده شوه. احمدکمال وکتل چې هغه په خوب کې بړبړیږې او په نا ارامۍ سره خپل سر اخواد یخوا وهي ، داسې ترې را څرګندېده چې په خوب کې ژاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد کمال خپلو ملګرو ته وویل چې یوه فرنګي نجلۍ مو نیولې او سبا سهار به ئې قاهرې ته استوم ، د هغه ملګري دهغه د کړچار سره بلد و. هیچا هم داسې کوم شک نه شو کولې چې هغه دا نجلۍ د بدنیتۍ په خاطر په خیمه کې له ځانه سره اچولې ده. کله چې هغه د نجلۍ آس وکوت نو حیران پاته شو چې آس ئې د اعلې نسل ځخه دې ، اوکله ئې چې دهغه زین و کوت نو بیا خو شک له منځه ولاړ ، د زین لاندې د مصر د فوځ نښه وه.دا آس د احمد کمال د فوځ خپل آس مالومیده.

حبشیانو د توپان له کبله د نجونو تعاقب پرې ایښې و ، هغوی بیرته ژوندې ستانه شوي و، پروهڅ هم پریکړه اعلان کړې وه چې نجونې په توپان کې له منځه تللې دي ، په دې خاطر دهغوی پسې ځوک استول بیکاره دي ، وخت هم ډیر تیر شوی و خو په رجب باندې افت نازلیدونکې و. دهغه ځخه حبشیانو همدا یوه پوښتنه بیا بیا کوله ، چې نجونې چیرې دي ؟ اوهغه به قسمونه خوړل چې هغه ته دهغوی په هکله هیڅ مالومات نه شته ، حبشیانو ورته اذیت ورکول پیل کړي و، د توري په ځوکو ئې دهغه وجود زخمي کړې و اوخپلې پو ښتنې به ئې ترې بیا بیا تکرارولې ، حبشیانو دهغه ملګري هم د ونو د تنو پورې تړلي و او دهغوی سره ئې هم همداسې ظالمانه سلوک کاوه ، رجب ته خدای د خپل قوم ، خپل ولس اوخپل هیواد سره د غدارۍ سزا ورکوله ، هغوی ئې د شپې له مخې هم نه پرانستل.نور نو دهغوی جسمونه سره را وخوړیدل.

نجلۍ د احمد کمال په خیمه کې ویده شوی وه، هغه د لمر د را ختلو تر مخه یوځل راپورته شوی وه ، احمدکمال ورته خواړه ورکړل او دهغې وروسته بیرته په درانه خوب ویده شوه ، دهغې ځخه دوه درې قدمه لرې احمد کمال ویده و. شپه تیریدله ، په خیمې کې ډیوه بلیده ، ناځاپه نجلۍ چیغې کړې ، د احمد کمال سترګې و غوړیدې و ئې کتل چې نجلۍ ناسته ده او جسم ئې لړزیږي ، ویریدلې ده ، احمد کمال ور نژدې شو ، نجلۍ ډیر ژر د هغه سره ځان ور یو ځاې کړ اوپه ژړا کې ئې ورته وویلې « دهغوی ځخه مې و ساته ، دوی غواړې ما سترو ځمځارو ته ورواچوي ، او زما سر له تنې پرې کړي.»

«څوک ؟»

« هغه و حشي حبشیان» نجلۍ په ویریدونکې لهجې سره وویل ، « هغوی دلته راغلي و »

احمدکمال ته د حبشیانو د قربانۍ په اړه مالومات و ، هغه ته شک را پیدا شو چې شونې وه چې دا نجلۍ ئې د قربانۍ له پاره هلته بوتللې ، هغه د نجلۍ ځخه و پوښتل نو نجلۍ خپل لاس د احمد کمال په غاړه کې ور واچاوه ،او ورته ئې وویل « ما مه پوښته ، یو خوب مې کوت» خو احمد کمال ورته کتل چې هغه ډیره زیاته ویریدلې مالومیده ، هغه ورته تسلي ورکړه ،او ډاډ ئې ورکړ چې دلته به دهغې د ورلو له پاره هیڅوک نه راځي. نجلۍ ورته وویل « چې زه نه شوم ویده کیداې ، ته زما سره خبرې نه کوی ، زه یواځې ویښه نه شم کیناستې ، زه لیونۍ کیږم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد كمال ورته وويل « زه به له تاسره ويبښ پاته شم ،» هغه د نجلۍ په سر لاس را ښكود او ورته ئې وويل « ترهغې چې دلته له مونږ سره ئې نو تا ته به د ويريدو احساس هم ونه شي ،» هغه خپله دا خبره په عملي توګه هم ثابته کړه ، هغه د نجلۍ څخه د حبشيانو په اړه او يا په همدې را بطه هيڅ خبره و نه پو ښتله، هغې ته ئې د تركيې او مصر قصې كولې ، نجلۍ د هغې تر ځنک ناسته وه ،د احمد كمال لهجه ډيره خوږه وه ، هغه د نجلۍ ويره لرې كړه او نجلۍ يو ځل بيا ويده شوه.

كله چې د نجلۍ سترګې پرانستل شوې نوسهار راختلې و ، وئې كتل چې احمد په لمانځه ولاړ دې هغې هغه همداسې كوت ، كله چې احمد كمال د دعاو له پاره لاسونه پورته كړل او سترګې ئې وتړلې نو نجلۍ د هغې به مخ باندې سترګې و ر و نښلولې ، كله چې احمد كمال د دعا څخه فارغ شو نو نجلۍ تري و پو ښتل « تا له خدايه څه و غوښتل ؟»

« د بدبو په مقابله كې همت او توان !» احمد كمال ځواب وركړ.

« تا د خداى څخه كله هم سره زر او ښكلې ښځه هم غوښتې دي»

«دا دواړه شيان ماته خداى د غوښتو پرته را په برخه كړي دي.» احمد كمال ځواب وركړ.« خو زما پر هغوى باندې هيڅ حق نه شته ، شايد چې خداى به زما څخه امتحان اخستل غوښتل.»

«ايا تا ته داډاډ در په برخه شوى چې خداى به تاته د بدۍ په مقابله كې همت او توان دركړي ؟»

« ايا تا و نه كتل ؟» احمدكمال ځواب وركړ « ستا سرو زرو او ستا ښايست زه دخپلې لار ې څخه بې لارې نه كړاى شوم، دا زما خپله هڅه او دخداى له خوا همت او توان دي چې ماته ئې را په برخه كړ.»

« ايا خداى ګناهونه ښښي ؟» نجلۍ تري و پوښتل.

هو ! زمونږ خداى ګناهونه ښښي .» احمد كمال ځواب وركړ ، « خو شرط داد ې چې بيا به ګنا ه نه كوي ،»

نجلۍ سر ټيټ كړ ، كله چې احمد كمال دهغې سلګۍ واوريدې نو دهغې مخ ئې را پورته كړ وئې كتل چې هغه ژاړي ، نجلۍ د احمد كمال لاس و نيوه ، او هغه ئې ځو ځو ځله ښكل كړ خو احمد كمال تري خپل لاس را ښكود ، نجلۍ ورته وويلې ،«نن به مونږ جدا كيږو ، ته ما قاهرې ته ليږدوى ، زه به اوس ازاد بږم نه ، زما زړه ما مجبوروي چې تاته ووايم چې زه څوک يم او له كومه ځايه را ليږل شوى يم، بيا به زه تا ته ووايم چې اوس زه څوک يم. ؟»

« زمونږ د تللو وخت راغلې» احمد كمال ورته وويل « زه پخپله له تاسره هلته ځم. زه دومره نازكه او خطرناكه دنده بل چاته نه شم سپارلې»

« ايا نه غواړې چې واورې زه څوک يم او له كومه ځايه راغلې يم ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«پورته شه » احمد کمال ورته وويل « دا اوريدل زما کار نه دي » او هغه د خيمې څخه بيرون را ووت.

(۲۳)*****

لږه شيبه وروسته شپږ آسونه د قاهرې په لور روان شول ، په يوه احمد کمال سپور و او دهغې پسې په بل آس باندې نجلۍ سپره وه ، او دهغوی پسې د ساتونکو څلور اسونه يو د بل تر څنګ روان وو ددې ټولو تر شا په يوه اوښ باندې د دې شپږو کسانو خوراک څښاک او د سفر نور اړوند سامانونه بار کړل شوي و. تر قاهرې پورې لږو زيات شپږدېرش ساعته سفر و ، نجلۍ دوه ځلې هڅه وکړه چې خپل آس د هغه د اس سره يو ځای کړي ، خو دواړه ځلې احمد کمال ورته وويل چې خپل آس وروسته د ساتونکو د ډلې سره يو ځای کړه. ددې سفر په دوران کې ددې پرته هغه د نجلۍ سره بله خبره هم و نه کړه. د لمر د لويدلو وروسته احمد کمال دېراو له پاره قافله تم کړه.

احمد کمال د شپې يو ځل بيا نجلۍ ته په خپله خيمه کې ځای ورکړ خو رڼا ئې روښانه پريښوده ، هغه په خواږه خوب ويده شوی و ، کله ئې چې سترګې خلاصې شوی نو چا ئې په تندي لاس را کشاوه ، هغه نجلۍ د خپل ځان تر خوا و کتله ، د نجلۍ لاس دهغه په تندي باندې و ، احمد کمال په ډيره تيزۍ سره را پورته شو او کيناست ، وئې کتل چې د نجلۍ د سترګو څخه اوښکې را رواني دي ، هغه د احمد کمال لاس په خپلو دواړو لاسو کې و نيو او ښکل ئې کړ او د کوچنيانو په څير په ډکه خوله په ژړا پيل وکړ. احمدکمال ورته کتل ، نجلۍخپلې اوښکې وچې کړې او وئې ويل « زه ستا دښمنه يم، ستاسې هيواد ته د ځارکښۍ له پاره او ستاسې د لوړ پوړو حاکمانو په خپلو منځو کې د جنګولو او د صلاح الدين ايوبي د وژلو دپلان سره د فلسطين نه دلته راغلې يم، خو اوس زما د زړه څخه دښمني وتلې ده .»

«دا ولې ؟» احمد کمال ترې و پوښتل « ته خو ډيره بې زړه نجلۍ و ختې ، ته دخپل قوم او ولس سره غداري کوې ،تاسو خو چې را ځوړند هم شئ وائې چې په صليب باندې ځاريږو !»

«ددې علت واوره » هغې ورته وويلې « ته لمړۍ نارينه ئې چې زما ښايست او زما ځوانې دې د کرکې وړ شې و ګڼه او هيسته ته دې پريښود..... او که نه څه خپل او څه پردي ، ټولو زه يوه د لوبو نانځکه ګڼلم ، او ما هم د ژوندان هدف همدا شيان ګڼل چې د نارينه و سره لوبې کول هغوی ته دوکه ورکول او خپل عيش کول ، زما روزنه هم دهمدې هدف له پاره چې تاسې ورته بې حيائې اوفحاشي وائې شوی وه. خود ا بې حيائې زما له پاره يو هنر دې ، يوه وسله ده ، زه په دې نه پوهيږم چې مذهب څه شي دې ، او يا داچې دخدای احکام څه دي؟ يوائې د صليب په هکله ماته د کوچنيوالې څخه دا په ذهن کې کينول شوي و چې دا دخدای له اړخه ورکړل شوی نښه ده اودا چې دا د عيسايت د عظمت علامه ده ، او دا چې عيسايت په ټوله نړۍ د حکومت کولو حق لري ، او دا چې مسلمانان د صليب دښمنان دي که چېرې ژوندي پاته کيدل وي نو دصليب په قدمونو کې ژوند تير کړئ ،..... ما دغه څو خبرې د مذهب بنستيز اصول ګڼل ، ماته د مسلمانانو د جرړو او ريښو د پرې کولو روزنه راکړل شوی وه او هغه مې هم خپله مذهبي دنده ګڼله ،.....

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ایا ته خپل یو سالار (رجب) پیژنې ؟» نجلۍ ترې و پوښتل ،

«هغه د خلیفه د ساتونکې ډلې سالار و » احمدکمال ورته وویل « هغه هم د سوډانیانو په برید او سازش کې شریک و ،»

«اوس چېرې دې ؟»

مالومه نه ده » احمد کمال ورته وویل « ماته یواځې دا حکم شوی دې چې رجب د فوځ تنبتیدلې عسکر دې ، هر چېرې چې تر سترګو شي هغه و نیسئ او که و تښتي نو په غشوئې وولئ او وئې وژنئ ،»

«زه به درته ووایم چې هغه چېرې دې ؟» نجلۍ ورته وویلې « هغه په سوډان کې د حبشیانو سره دې ، هلته یوه ډیره شیرازه ځمکه ده ، هلته حبشیان نجونې د دېوتاګانو تر مخه قرباني کوي ، رجب اوس هملته دې ، زه پوهیږم چې هغه د فوځ یو تښتیدلې افسر دې ، مونږ درې نجونې دهغه سره یوځاې دفلسطین ځخه را غلي وو.»

«هغه پاته دوه چېرې دي ؟»

نجلۍ یو سوړ اسویلې وکړ او وئې ویل « هغوی مړې شوی دي ، د همغوي مړینې زه بدله کړې یم ،»

نجلۍ احمد کمال ته یوه اوږده قصه واوروله ، او دا ئې ورته وویل چې څه ډول د فلسطین څخه د رجب سره یوځاې راغلی وه ، څه ډول حبشیانو دهغوی څخه ددوه نجونو د داختسلو او هغوی د دېوتا تر مخه د قرباني کولو له پاره په زور اخستل غوښتل ، رجب هغوی و نه شوی ساتلاې ، بیا څه ډول دهغه ځاېه را وتښتیدې اوبیا په لاره کې هغه دوه نوري څه ډول د توپان قرباني شوی اوبیا ئې ورته وویل « ما خپل ځان یو شهزادګۍ ګڼله ، ما دپادشاهانو په زړونو حکمراني کړې ده ، خو هیڅکله مې هم دا فکر نه و کړی چې خدای هم شته او مړینه هم. زه ئې په ګناهونو کې ډوبه کړې وم ، او زه هم همداسې په کې ور غرقیدم ، هغه ډوبیدل هم ډیر دخونده ډک و. خو ماته هغه سترې ځمځاری را و ښول شوی چې دهغوی تر مخه د حلالو کړل شوو نجونو جسمونه ور اچول کیدل ، دا سترې ځمځاری اوس د اوبو په څنډه ویدې پرتې وې ، دهغوی د ویرونکو جسمونو په کتلو زما وجود و لړزید. هغوی زما دغه جسم چې د پادشاهانو سرونه ئې ځانته ښکته کړي و، دهغې سترو ځمځارو د خوراک له پاره ورغورځاوه ، کله چې ما هغه تور ، بدشکله، حبشیان وکتل چې زما د جسم څخه زما د سر دېرې کولو له پاره راغلي و نو د مرګ د وزرونو پرکار زما تر غوږو کیده ، زما د وجود هر رګ را بیداریده ، زما له وجوده ماته وویل شوه ، د خپل ښایست او زړه وړونکې شکل اوصورت دا حال دې اوس ووینه ،... مونږ خپل سرونه په لاس کې نیولي و او دکوره وتلي و، مونږ ئې په دې خاطر د رجب سره یوځاې د فلسطین څخه هلته ور واستولو چې دا شخص به زمونږ ساتنه کوي خو هغه هم ما ته لاس واچاوه.....

(c) ketabton.com: The Digital Library



« مونږ د هغه ځايه را و تښتيدو ، په توپان کې اسونه خپلواکه شول ، او و تښتيدل ، مونږ په صحرا کې کوم پناه ځاې نه شو موندلاې ، مونږ د توپان او آسونو په رحم وکرم پورې تړلي و. لمړۍ يوه نجلۍ و غورزيده ، ما و کتله چې هغه د اس لاندې شوه ، بيا دويمه نجلۍ د آس څخه را پريوته خو په رکاب کې ئې د پښې د نښتولو په اساس ، آس نژدې دوه دوه نيم ميلو پورې له ځانه سره کشوله ، دهغې چيغې زما زړه سره شکوي ، زه اوس هم د هغې چيغې اورم ، او تر هغې چې ژوندۍ اوسم دهغې چيغې به زما پر غوږو کې وي ، اوبيا هغه نجلۍ لاش و ګرځيد. زما آس هم دهغې سره يوځاې را ځغليده ، خو زما په واک کې نه و. خو د هغې نجلۍ لاش دهغې د اس سره يوځاې له مانه وروسته پاته شول ، زه اوس يواځې وم ، ماته خداى دهغه دوه نجونو د له منځه وړلو په واسطه و ښوول چې زما انجام به څه ډول وي ، هغوى زما څخه هم ډيرې ښايسته او چالاکه وي ، په هغوى کې د ښايست غرور هم و ، هغوى هم پادشاهان په خپلو ګوتو نڅول، خو په داسې ويريدونکې مرګ له منځه ولاړې چې څوک پرې خبر هم نه شول. اوس هغوى د شګو په نوم ورکي قبرونو کې ښخې شوى دي. زه ځانته پاته شوى يم د توپان غرار زما له پاره د مرګ خندا و ګرځيده ، ما دخپل سر د پاسه ، مخته ، شاته ، ښي او کيڼ لورې ته ، دبد روحو ، پيريانو او نورو بلاګانو خنداګانې اوريدې ، زه هسې بې عقله او ناپوهه نجلۍ نه يم ، زما دماغ روښانه دې خو زه پوه شوم چې خداى ماته زما د ګناهونو سزا راکوي ، داسې ويرونکى مرګ او داسې تباه کونکې توپان ، چې تاسې به هم ليدلې وي ، ماته خداى را په ياد شو ، ما خپل خداى په لوړ اواز را وباله ، اوپه ژړا ژړا مې ترې دخپلو ګناهونو ښښنه و غوښته ، اوبيا زه بې هوشه شوم....

« اوکله چې بيداره شوم نو ومى کتل چې زه ستاسو په لاسو کې يم، ستا د تور رنګ په کتلو سره زه خوشحاله شوم او و مې وويل چې ته به اروپائې ئې او زه به په فلسطين کې يم ، دهمدې دوکې له مخې مې له تا څخه په خپله ژبه و پو ښتل ، چې ايا زه په فلسطين کې يم ؟ کله چې زه پوه شوم چې زه دمسلمانانو په ولکه کې يم ، نوزما زړه يو ځل بيا ډوب شو ځکه زه د توپان څخه خوندي شوم خو زه ددښمن په ولکه کې راغلې وم، ماته د مسلمانانو په هکله ويل شوي وچې هغوى د ښځو سره د وحشي ځيرونکو په ځير سلوک کوي ، خو تا له ما سره هغه ډول سلوک وکړ چې ماته ئې هيڅ هيله نه وه ، تا زما طلا او زما ښايسته وجود دواړه تکر کړل او هسې شيان دې وګڼل ، زه دومره ويريدلې وم چې ويل به مې چې هر څوک را ته تر لاسه شي ، خو ماته پناه راکړي او ما د خپلې سينى سره و لګوي ، خو ستا په اړوند ما ته تر اوسه پورې دا ډاډ نه و تر لاسه شوى چې ستا کرچار پاک دې ، ما دا هيله درلوده چې ته به د شپې له اړخه ماته زيان را ورسوى ، ما په خوب کې هم دهغه سترو ځمځارو ، توپان او هغه حبشيانو دهشت او ويره کتله ، زه د ويرې راپورته شوم نو تا زه له سينې سره و لګولم، اود کوچنيانو په ځيردې ماته قصې کول پيل کړې او زما ويره دې ورکه کړه ، او کله چې شپه تيره شوه نوما د را ويښيدو سره سم ته د خداى په وړاندې په سجدې کولو و کتې ، کله چې تا د دعا له پاره لاسونه پورته کړل او سترګې دې پټې کړې نو په هغه وخت کې ستا پر مخ باندې خوښي ، ارامي او رڼا وه ، زه شکمنه شوم چې ته انسان نه کومه فرښته ئې ، ځکه هيڅ انسان د طلاو او زما په ځير د ښايسته نجلۍ څخه ځان خوندي ساتلې نه شي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ستاپه مخ باندې سکون اوخوښي کتلې وه ، اودې سکون زه و ژړولم ،ما غوښتل له تا څخه و پوښتم چې تا ته دا سکون چا در کړې دې ، ستا وجود پر ما دومره اغيز و شينده ، چې ما ستا په خير د يوه انسان دوکه کول ډيره ستر ګناه وګڼله ، ما غوښتل تا ته داووايم چې زه به تا ته په خپل اړوند هره خبره ډاګيزه کړم، خو دهغې په بدل کې ماته هغه کړچار اوسکون را کړه او زما د زړه څخه هغه دهشت لرې کړه چې ماته هر وخت اذيت راکوي خو تا زما خبره وانه وريده ،ځکه چې تاته خپله دنده تر سره کول تر هر څه ښه مالوميدل.»

هغې د احمد دوارړه لاسونه و نيول اوورته ئې وويل « ته به اوس هم دا يو فريب او دوکه ګڼې ، خو زما د زړه خبره واوره ، زه به له تا څخه جدا نه شم ، ما پرون تاته د ګناه په لور بلنه درکړې وه او درته مې ويلې و چې ما خپله وينځه و ګڼه ، خو اوس به زه ټول عمر ستا په قدمونو کې په ناسته تيروم.ما خپله وينځه و ګرځوه او دهغې په بدل کې هغه سکون ماته راکړه چې د لمانځه د اداء کولو په وخت ستا پر مخ باندې ما کتلې و.»

«زه به هيڅکله هم تا ته ونه وايم چې تا ماته دوکه راکوې » احمدکمال ورته وويل « زما مجبوري داده چې زه خپل قوم او ولس او خپل فوځ ته دوکه نشم ورکولاې ، ته زما سره دهغوی امانت ئې ، او زه په دې امانت کې خيانت نه شم کولاې ، هغه سلوک چې ما له تاسره کړې هغه زما په دندوکې شامل دې ، او دا دنده به هغه وخت پاې ته ورسيږي چې زه تا اړوندې محکمی ته وسپارم ، او هغوی ماته حکم وکړي چې احمدکماله ته بيرته دخپلې دندې د اجراء له پاره ستون شه.»

هغه هغې ته دوکه نه ورکوله ، خو نجلۍ په ژړا کې ورته وويل « کله چې ستا سې حاکم ماته د مرګ سزا راکوي نو بيا ته زما لاس و نيسه ، اوس مې همدا يوه غوښتنه ده ، زه تاته داسې خبره نه کوم چې ما فلسطين ته يوسه ،زه ستا د دندې د اجرا په لار کې خنډ نه پيدا کوم ، خوماته همدومره ووايه، چې ما ستا مينه منلې ده. زه تا ته دا هم نه وايم چې ما خپله ښځه کړه ، ځکه چې زه يوه ناپاکه نجلۍ يم ، زما روزونکو زه د تيرې په څير کړې يم ، زه په دې هم پو هيدم چې انسان څخه تيره نه شي جوړيداې اوهغه به يوه ورځ نه يوه ورځ مجبوريږي چې له چا څخه و پوښتي چې سمه لار کومه يوه ده»

شپه تيريدله اودوی دواړو خبرې کولې، احمد کمال ترې و پوښتل « دوی زمونږ هيوادته ستاسې په څيرد نجونو د راليږلو څخه څه کارونه اخلي ؟»

«ډير زيات کارونه ترې اخلي.» نجلۍ ځواب ورکړ ،« يو شمير د مسلمانو امراؤ په حرم سرايو کې دمسلمانې په لباس کې ور ننه باسي اوهلته بيا هغوی دخپلې روزنې په اساس په دې امراؤ او حکمرانانو باندې غلبه پيدا کوي ، په هغوی باندې د صليبيانو دخوښې وګړي ټاکي ، هر هغه حاکم چې د صليبيانو خلاف وي دهغوی پر خلاف عمل کوي ، مسلمانې نجونې دومره چالاکه نه وي ، هغوی په خپل ښايسته والي باندې مغروره وي ، هغوی د حرم سرايو له پاره ټاکل کيږي خو يو عيسايي يا يهودې نجلۍ هغه له کاره باسي او خپله غلامه ئې ګرځوي ، تر دې وخته پورې د اسلامي حکومت د اميرانو او وزيرانو او د کلاو دخاوندانو تر نيمائې زياتې پريکړې زمونږ دقوم په حق کې کيږي ، .....د نجونويوه بله ډله هم شته ،دا نجونې په اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومونو دمسلمانانو سره ودونه کوي ، دهغوی کار دادې چې د شتمنو کورنيو د نجونو دماغ او کرېکټر ورخراب کړي ، دهغوی ځوانان په بدو لار سر کړي ، او دشريفو کورنيو د نجونو اوهلکانو تر منځه معاشقې پيدا کړي ، او زماپه خير نجونې پټ په پټه ستا په خير حاکمانو ته ورځي چې بيا هغوی زمونږ په لاسو کې لوبيږي ، هغو حاکمانو ته د طلائي سکو په شکل کې بدله ور کول کيږي ، هغوی زمونږ په خير د نجونو خوندي ساتنه په همدې توګه کوي تر څو هيڅ ډول شک پرې و نه کړل شي ، دا نجونې دلوړپوړو چارواکو تر منځ غلطې انګيرنې او رقابت را پيدا کوي اودصلاح الدين ايوبي او نور الدين زنګي پرخلاف تبليغات کوي. زه ئې هم ددوه نورو نجونو سره يوځاي د رجب تر څنګ دهمدې کارونو له پاره را استولې وم»

هغې د صليبيانو دپټو رازونو څخه پردې پورته کولې او دمسلمانانو د ايمان پلورلو قصې ئې ورته اورولې او احمدکمال ورته غوږ ايښې و.

(۲۴)*****

په دويمه ورځ د لمر دپريوتو نه ډير دمخه دا قافله قاهرې ته ورسيده ، احمد کمال علي بن سفيان ته ورغې او ددې نجلۍ په هکله ئې ټول راپور په تفصيل سره ورکړ. اونجلۍ ئې همغې ته ور وسپارله ، هغه ورته دا هم وويل چې رجب د همغه حبشيانو په لاس کې دې او هغه د هغې ځاېه څخه ،چې حبشيان په کې نجونې خپلو د بوتاګانو ته قرباني کوي ، خپله نظامي هډه جوړه کړې ده. احمد کمال دا هم ورته وويل که چېرې هغه ته حکم ورکړل شي نو رجب به مړ يا ژوندې راوړي ، علي بن سفيان داسې کوم حکم ورنه کړ ، ځکه چې دهغې مقصد د تر لاسه کولو له پاره د هغه سره روزل شويو سپاهيانو شتون درلود. احمدکمال ورته هغه لاره و ښووله ، چې دهغې په واسطه تر رجبه پورې رسيدل اسانه و ، هغه ته دا لاره د نجلۍ له خوا د وربښول شوو خبرو څخه وروسته په فکر کې راغلې وه ، علي بن سفيان لا د پخوا څخه يوه ډله سوډان ته استولې وه ، هغه دنجلۍ څخه د تحقيق دمخه څلور کسه تکړه قومندانان را و بلل ، او هغوی ئې احمدکمال ته ور حواله کړل او ورته ئې وويل ، چې د احمدکمال د وربښوول شوی لارې مطابق دې د بر ژر د سوډان په لورې ولاړ شي. او د رجب د راوستلو هڅه دې وکړي ، هغه احمد کمال د بيرته ستيندو تر مخه د ارام کولو له پاره ارام سراې ته و استاوه، اونجلۍ ئې د خپله ځانه سره هملته تم کړه.

کله ئې چې د نجلۍ څخه لمړنۍ پوښتنه وکړه نو هغې ورته وويل چې که احمد کمال زما تر مخ ناست وي نو زه به د ټولو پوښتنو ځوابونه ووايم، او که نه ژبه به هم خلاصه نه کړم که څه هم ما د جلاد په لاسو کې ورکړئ.»

علي بن سفيان احمد کمال را وغوښت او د نجلۍ تر مخه ئې کيناوه ، نجلۍ مسکۍ شوه او په وينا ئې پيل وکړ. هغې هيڅ هم پټ نه کړل ، خو وئې ويل چې که چېرې ماته سزا راکوئ نو زما يوه اخري غوښتنه ومنئ، او هغه داچې زه د احمد کمال په لاسو مړينه غواړم.» هغې په تفصيل سره دا خبره وکړه چې هغه اوس ولې د احمد کمال مريده ګرځيدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي بن سفيان نجلۍ په بنديخانه کې د اچولو پر ځاې احمد کمال ته ورحواله کړه ، او پخپله د سلطان ايوبي څنګ ته ورغې ، هغې ته نجلۍ ټول هر څه ويلي و. هغې ويلي و چې « ستا باوري فيض الفاطمي زموږ دښمن دې ، دا نجونې ټولې د همغې څنګ ته را تللې ،» د سلطان ايوبي سمدستي عکس العمل داو چې « هغه درواغ وائې او تاسې بې لارې کوي. فيض الفاطمي داسې انسان نه دې»

« درونده اميره !تا له ياده وويستل چې هغه فاطمي دې ؟» علي بن سفيان ورته وويل « شايد چې تا دا هم هير کړې وي چې دفاطميانو او فدائيانو تر منځ ژور اړيکې شتون لري ، دا خلک په هيڅ صورت ستا وفاداره کيداې نه شي.»

سلطان ايوبي په ډير ژور فکر کې ډوب شوی و. هغه غالباً په دې فکر کې و چې په چا باندې باور وکړي. د لږ څه ځنډ وروسته ئې وويل ،« علي ! زه تاته دا اجازه نه درکوم چې ته فيض الفاطمی و نيسې ، داسې کومه لاره جوړه کړه چې هغه د جرم دکولو په وخت کې ونيول شي ، زه غواړم هغه په همداسې موقع کې و نيول شي او دا موقع پيدا کول ستا کار دې ، هغه د جنګ او دفاع د څانګې په خير د حساسې اداري حاکم دې. د سلطنت ټول جنګي او دفاعي رازونه د هغه سره دي ، ماته ډير ژر دا سې ثبوت پيدا کول اړين دې چې هغه به په داسې يوه ستر جرم کې ککړ وي او که نه.

علي بن سفيان دهمدې کارونو پوه و. او خداې ورته دماغ هم د همدې کارونو له پاره ورکړې و. هغه د لږ څه فکر وروسته يوه لاره پيدا کړه او سلطان ايوبي ته ئې وويل « هغه نجلۍ چې دکومو مراحلو څخه تيره شوی او راغلې ده دهغې ويرې دهغې پر ذهن باندې ډير اغيز کړې دې ، او هغه د احمد کمال له پاره جذباتي شوې ده ځکه چې هغه وګړي هغه د دهشت او ويرې څخه خوندي کړې وه ، او د هغې سره ئې داسې سلوک کړې و چې دهغې پرته ئې خبرې هم نشواې کولې ، زه هيله من يم چې همدا نجلۍ به استعمال کړم.»

« هڅه وکړه او وګوره » سلطان ايوبي ورته وويل « خو دا په ياد ساته چې زه د ځرګندو ثبوتونو او شهادتونو پرته تاته اجازه نه شم درکولاې چې فيض الفاطمي و نيسې ، زه تر اوسه پورې په دې ډاډمن نه يم چې هغه دې د دښمن په لاسوکې و لوبيږي.»

علي بن سفيان نجلۍ ته ورغې او هغې ته ئې خپله موخه بيان کړه ، نجلۍ ورته وويلې « که احمد کمال ووائې نو زه به په اور کې هم ور ودانګم ،» احمد کمال ورته وويل « لکه څنګه چې حکم کيږي همغسې وکړه. او ددوی په خبره ځان پوه کړه.»

«ما ته به ددې کار څه انعام راکړل شي ؟» نجلۍ و پوښتل.

ته به په خوندي توګه د فلسطين د شوبک تر کلا پورې ور ورسول شې» علي بن سفيان ورته وويل ،« او دلته به ته په پوره عزت سره و ساتل شې ،»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«نه !» نجلۍ ورته وويل.«دا خو ډير لږ انعام دي ، ماته زما د غوښتني سره سم انعام راکړئ ، زه اسلام قبلوم او احمد کمال به زما سره واده کوي»

احمد کمال په صافه توګه ددې خبرې څخه انکار وکړ. علي بن سفيان هغه بيرون وويست ، احمد کمال ورته وويل «چې بې شکه دا به اسلام و مني خو زه به بيا هم هغه د اسلام دښمنه ګڼم،» خو علي بن سفيان ورته وويل «دهيواد او ولس د سلامتيا په خاطر به ته دا قرباني ورکوې» احمد کمال بلاخره دهغه خبره و منله ، او دننه ولاړ او نجلۍ ته ئې وويل چې «څرنګه چې زه تر اوسه پورې تا بې باوره ګڼم نو په دې خاطر مې له تاسره د واده کولو څخه ډډه کړې ده ، خو که چېرې ته ثابته کړې چې ستا په زړه کې زما د مذهب له پاره دقربانۍ جذبه شته نو بيا به زه ټول عمر ستا غلام و اوسم.»

نجلۍ علي بن سفيان ته وويل «ووايه چې زه اوس څه وکړم؟ اوزه به دا هم ووينم چې مسلمانان څومره په خپله وعده باندې ولاړ خلک دي ، زما يو شرط به داوې چې احمد کمال به له ما سره يوځاې وي»

علي بن سفيان دهغه همدا شرط هم و مانه ، او خپل يو کس ئې را وباله او د احمد کمال اونجلۍ له پاره ئې د اوسيدو د انتظام له پاره حکم وکړ. هغه دروازه و تړله او نجلۍ ته ئې د احمد کمال په شتون کې دهغې دندې ور وښودلې.

(۲۵)*****

د علي بن سفيان سرتيري په دريمه ورځ د حبشيانو هغه مقدس ځاې ته ور ورسيدل دکومه ځاېه چې دا نجوني را تښتيدلې وې ، او چېرې چې اوس رجب د حبشيانو په قيد کې و . دوی شپږ کسان و چې ټول په اوښانو سپاره و ، هغوی خپل کالي بدل نه کړل ، هغوی د مصري فوځ په بڼه کې و دهغوی سره توري ، برچې ، غشي او ليندۍ هم وې ، هغوی ته احمد کمال دنجونو حال بيان کړې و او د همغې په مطابق علي بن سفيان هغوی ته لاره ښوولې وه ، هغوی په دې غرنۍ سيمه کې دننه ورغلل، دې غرونو هلته د يوې ټينګې کلا شکل خپل کړې و. مالومه نه وه چې يوه برچه له کومه راغله او ددوی تر مخ پر ځمکه کې ور ننوتله ، ددې مطلب داو چې تم شئ.تاسې په محاصره کې ياست ، هغوی و دريدل او حبشي پروهت ورته مخته راغې ، چې خپل درې کسه حبش ملګرې ئې له ځانه سره درلودل ، حبشي هغوی ته اخطار ورکړ چې هغوی اوس د حبشيانو د پټ ناستو خلکو د غشو لاندې دي ، که چېرې دوی کوم غلط حرکت وکړ نو ددوی څخه به يو هم ژوندې ولاړ نه شي.

هغوی ټولو خپلې وسلې حبشيانو ته ورکړې او دخپلو اوښانو څخه لاندې را کوز شول ، د هغوی مشر د حبشي پروهت سره لاس ورکړ او ورته ئې وويل «مونږ ستاسې دوستان يو د محبت په خاطر دلته راغلي يو ، او ستاسې محبت به له ځانه سره ورو ،.... ايا تاسې دهغه درې نجونو قرباني کړېده ؟

مونږ د هيڅ نجلۍ قرباني نه ده کړې» پروهت په غضب سره ورته وويل. «تاسې ولې پوښتنه کوئ ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«مونږ د مصر د فوځ باغیان یو » د ډلي مشر ورته ځواب ورکړ « مونږ ستاسي دهغه فوځ سپاهیان یو چي دمسلمانانو څخه به ستاسو دد یوتاګانو د سپکاوي بدله اخلي ، مونږ ته ستاسو خلکو ویلې و چي هغوی ته ماته په دې خاطر ورکړل شوه چي هغوی د نجونو قرباني نه وه ورکړې ، مونږ د رجب سره و مونږ هغه ته ویلي و چي مونږ به درې فرنګي نجوني را تښتوو او دلته به ئې را رسوو ، او دېو ې پر ځاې به درې واړه قرباني کوو. او د دېوتا سترو ځمځارو ته به ئې ور غورځوو ، مونږ د ډیره لرې څخه درې نجوني په یوه بهانه را وتښتولې او هغوی مو رجب ته ورحواله کړې ، هغه هغوی له ځانه سره دلته راوړې وی ، اوس مونږ ددې په خاطر را غلو چي د نجونو قرباني شوی هم ده او که نه ؟»

حبشي پروهت په دوکه کې و لوید ، هغه ورته وویل « رجب زمونږ سره ډیره بې ایماني کړې ده ، هغه نجوني له ځانه سره راوړې وی خو دهغه نیت خراب شوی وا و بیرته ئې نجوني ددې ځا یه څخه تیښتې ته مجبوري کړې ، خو مونږ هغه پرې نه ښوده چي و تښتیږي . هغه ته مو پوره سزا ورکړې ده ، خونجوني زمونږ له لاسو وتلي دي. ایا تاسو یوځل بیا ددوه همداسي نجونو د راوستلو مرسته کولاې شئ ؟ ددېوتا ګانو قهر ورځ په ورځ ډیر زیاتیږي.»

«مونږ به ضرور ددې تیارې وکړو » قاید ورته وویلې ، « تر لږو ورځو پورې به مونږ دوه نورې نجوني دلته راوړو ،مونږ تر رجبه پورې یو سئ ، مونږ به د هغه څخه و پوښتو چي نجوني څه شوی؟»

حبشي پروهت ټول له ځانه سره یوړل ، هلته په یو ځاې کې د خاورو څخه جوړ شوی یو لوښې ایښول شوی و چي د همداسي یوه بل لوښي په واسطه پټ کړل شوی و ، پروهت پورتني لوښي پورته کړ او په هغې لاندې لوښي کې ئې لاس ور ښکته کړ خوکله ئې چي لاس بیرون را وویست نو په لاس کې ئې د رجب سر و ، دهغې مخ او شکل بلکل سلامت و ، سترګې ئې نیم خلاصه وی او خوله ئې بنده و ه. دهغې سر ئې د هغې دجسم څخه غوڅ کړې و دهغه څخه اوبه څڅیدلې ، دا کومه دوائې وه چي حبشیانو په کې د رجب سر ایښودې و ، تر څو خراب نه شي پروهت ورته وویلې « دهغه جسم مو په سترو ځمځارو وخوړ ، او دهغه ملګري مو ژوندي په هغه ډنډ کې سترو ځمځارو ته ور حواله کړل ، ځکه ستري ځمځاری د ډیره وخته را هیسې وږی وی.

« که چیرې تاسي دا سر ماته را کړئ نو مونږ به ئې ټولو ملګرو ته و ښایو» یوه ورته وویل « او هغوی ته به ووایو چي هر هغه څوک چي د انګوک د دېوتاګانو سپکاوی و کړي نو انجام به ئې همداسي وي.»

«تاسي دا سر په دې شرط له دې ځایه وړاې شئ چي سبا د لمر دپریوتو دمخه ئې بیرته دلته راورسوئ.» پروهت ورته وویلې « دا د انګوک د دېوتا ملکیت دې ، که چیرې بیرته ئې را نه وړئ نو بیا به ستاسو سرونه له جسم څخه جدا کړل شي»



Dawat, P.O.Box 289, 2001 Lillestrøm, Norway tel. 63844384-mobile.90856195 www.dawatfreemedia.org

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دربیمه ورځ د رجب سر د سلطان ایوبي په قدمونو کې پروت و او سلطان ایوبي په یوه ژور سوچ کې ډوب ناست و.

دهمدې شپې پیښه ده --- احمد کمال او نجلۍ دهغې خونې په برنډې کې ویده و چې د هغوی د اوسیدو له پاره هغوی ته ورکړل شوې وه، په دې ځای کې اوس هغوی نژدې شپږ ورځې تیرې کړې وې، په دې وخت کې به نجلۍ احمد کمال ته ویل چې هغه سمدستي مسلمانیدو ته تیاره ده، او احمد کمال دې ور سره واده وکړي، مګر احمدکمال یواځې همدا یو ځواب ورکاوه « ته تر هر څه لمړۍ خپله دنده تر سره کړه » نجلۍ دوه درې ځله ددې اندېښنه ښکاره کړې وه چې دوکه به ور سره وکړل شي، احمد کمال هغه تر اوسه دخپله ځانه دېو لاس لرې کینولو هڅه کوله، تر دې وخته پورې د نجلۍ د زړه څخه هغه ویره هم تللې وه، او اوس هغه په پوره عقل او فکر سره خپله خبره کولای شوه.

په دې شپه هغه او احمد کمال په برنډې کې ویده شوي و، بیرون یو سپاهي د هغوی په ساتنه ولاړ و، دنیمې شپې څخه لږ دمخه ساتونکې د هغه ځای د شاوخوا ګرځیدو په خاطر سوکه سوکه ولاړ نو یو چا دشا له اړخه دهغه ګردن په بازوګانو کې و نیوه، او سمدستي ئې دهغه پر خولې باندې ټوټه کینښوده، دهغه لاس او پښې ئې په رسیو باندې کلکې و تړلې، دا څلور کسان و د کور دروازه د دننه څخه بنده وه، یو کس ددېوار سره شا یو ځای کړه او ودرید اوبل دهغه په اوږو باندې و خوت او ددېوال څخه ئې اخوا ټوپ کړ. هغه له دننه څخه دروازه پرانستله، هغه پاته درې کسان هم دننه ور ننوتل، دهغوی څخه یو چې تر ټولو زیات ځواکمن و دنجلۍ په خوله باندې ټوټه کینښوده، د نجلۍ تر را ویښیدو پورې هغه نجلۍ تر فشار لاندې و نیوه اوبیا ئې را پورته کړه او په اوږو ئې را واړوله، درې نورو کسانو احمد کمال په رسیو کې و تاړه او په خوله ئې ددې ټوټه و تړله اوپه خپل کټ ئې همغسې تړلې پریښود. هغه ته د دفاع له پاره هیڅ وخت نه و تر لاسه شوی، بیرون وتلو سره سم هغوی نجلۍ په کمبله کې را ونغاړله، چې که څوک ئې ووینې نو دا ګمان و نه کړي چې هغوی نجلۍ په اوږه را اړولې ده.

د ښاره دباندې د فرعونیانو د وخت ورانې ویجاړې کنډرې وې دهغوی په اړه به خلکو ډیرې ویرونکې خبرې کولې، او ویل به ئې چې په کنډرو کې یو ستر غر دې ددې غره په سورې کولو سره هلته ډیرې زیاتې خونې جوړې کړل شوې دي او بیا ددې هر ې خونې لاندې نورې خونې شتون لري هلته همغه څوک د تللو جرأت کوي چې دهغې د لارو څخه ښه خبر او د بیرته راوتلو لارې ور ته مالومه وي. د ډیرې مودې را هیسې چا هغې کنډروته د ورننوتلو جرأت نه کاوه، ویل کیده چې هلته دننه د پیریانو او دېوانو ځای ځیګې دي. او هلته د مارانو شتون خو اړین و، دمارانو له ویرې به څوک ددې کنډرو دمخې تیریدل هم نه. په هر صورت ددې ځای په هکله ډیر ویرونکي ویرونکې خبرونه خپاره شوي و. خوددې هر څه سره سره بیا هم هغه څلور کسان چې دا نجلۍ یې را تښتولې وه په همدې کنډرو کې ور ننوتل، او داخل هم داسې شول لکه ددوی خپل کور چې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی دغه غار شکله خونو ته د غلام ځاېو او تورو تیارو کوڅو څخه د کوم خنډ پرته تیرشول ، مخته د مشالونو روڼاګانې وی دهغوی د قدمونو د شور سره به شوپرکونه الوتل ، او په ځمکه به یو شمیره ځمکني خزنده ګانو ځانونه خوندي کول ،... هغوی د غره په منځ کې یوي جوړې شوی خوني ته ورننوتل ، هلته یو کس مشال په لاس ولاړ و او هغه بیا ددوی تر مخ مخ روان شو . مخته زینې وی چي لاندي کوزیدلې ، هغوی ټول لاندي ښکته شول او په یوه اړخ کې یوي پراخي خوني ته ور داخل شول. هلته په فرش باندې بستره غوړیدلې وه. چې تر څنګ ئې یو ښکلې دری هم وه . خونه ښایسته کړل شوی وه، نجلۍ ئې په بستره وا چوله او د هغې د خولي څخه ئې ټوټه لرې کړه، نجلۍ په غصې سره وویل« ولې مو زما سره داسې سلوک وکړ ؟ زه به و مرم خو هیڅوک به ځانته نژدې پرې نږدم»

« که چېرې ته مو دهغه ځاېه نه وائې راپورته کړې نو سبا سهار به ته جلاد ته ور حوال کړل شوې وې» یوه سړې و رته وویل. « زما نوم فیض الفاطمي دې ، ته ما ته راتللې ، هغه پاته دوه نورې څه شوی ؟ ته څه ډول ځانته و نیول شوی ؟ رجب چېرې دې ؟»

نجلۍ ډاډمنه شوه اووئې ویل « زه د خدای شکر کوم چې هغه زه د ډیرو سترو سترو مصیبتونو څخه خوندي کړې یم ، اوس خپل ځاې ته را ورسیدلم» هغه فیض الفاطمی ته د رجب ، حبشیانو ، توپان او ددوه نجونو د مړینې او داحمد کمال په لاسوکې د ورتللو ټول داستان په تفصیل سره بیان کړ. فیض الفاطمي هغه ته تسلي ورکړه او هغه څلورو کسانو ته ئې چې دا نجلۍ ئې دلته راوړې وه د سروزرو شپږ شپږ ټوټې ورکړې اوهغوی ته ئې وویل « تاسې اوس په خپلو خپلو ځاېو باندې و دریږئ ، زه لږ وروسته ځم ، دا نجلۍ به دوه درې ورځې همدلته اوسیږي زه به هم دشپې له اړخه دلته راځم ، کله چې بیرون دهغې لټون پائې ته ورسیږي نو بیا به ئې ددې ځاېه څخه یوسم.»

هغه څلور واړه کسان ولاړل ، او د کنډرې په داسې ځاېو کې کیناستل چې بیرون ترې څارنه کیداې شوه ،د فیض الفاطمي سره دلته یواځې یو کس پاته شو اوهغه هم د مصري فوځ قومندان و. فیض الفاطمي په خپلې بریا باندې ډیر خوښ و خو د هغه دوه نجونو مړینې خفه کړې و . هغه ته تر اوسه پورې د رجب دانجام په هکله مالومات نه و . هغه وویل « د هغه ځاېه د رجب را ویستل اړین دي ، هغه د علي بن سفیان او صلاح الدین ایوبي د وژلو څه انتظام کړې دې خو ما ته ئې تر اوسه مالومات نه دې راکړې ، غالباً چې هغه به د فدائیانو سره معامله کړې وي ، ددې دواړو وژل اوس ډیر زیات اړین دي ، اوس باید مونږ کومه نوي منصوبه جوړه کړو . زه به د نورو ملګرو سره خبرې کوم او تا ته به ئې سبا سهار ووایم. اوس ته ارام وکړه ، زه به بیرته ولاړ شم»

«ایا صلاح الدین ایوبي پر تا باور لري ؟» نجلۍ ترې وپو ښتل.

«ډیر زیات ، دومره زیات چې د خپلو ذاتی خبرو په هکله هم له مانه مشوره اخلي ، » فیض الفاطمی ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ما ته ثرګنده شوی ده چې په لوړ پوړو چارواکو کې د صلاح الدین ایوبي د وفادارو شمیره ډیره ده.» نجلۍ ورته وویل «او دا چې فوځ هم دهغه وفاداره دې.»

«دا صحیح ده ، » هلته ناست یو قومندان ځواب ورکړ « د هغه د څارکښنۍ محکمه ډیره هوښیاره ده هر چېرې چې څوک سر را وچتوي هغه په نښه کوي او له منځه ئې وړي ، په لوړو پوړو چارواکو کې دوه نور هم شته چې د صلاح الدین ایوبي پر خلاف کار کوي ، د هغوی نومونه به محترم فیض الفاطمي تاته ووائې.

فیض الفاطمي ورته دوه نومونه واخستل اوپه مسکا سره ئې نجلۍ ته وویل ، « تا ته به په لوړه سطحه کار کول په مخ کې وي ، یواځې ددوه کسانو تر منځ ټکر پیدا کول دي او دوه نورو کسانو ته زهر وکول دي ، او دا کار ته په اسانۍ سره کولاې شې ، خو اوس دا ستونزه را پیدا شوی ده ، چې مونږ تا کوم محفل ته نشو استولاې ، ته به د حجاب لرونکې مسلماني نجونې په څیر کار کوی ، او که نه و به نیول شې. شوني ده چې زه تا بیرته فلسطین ته واستوم، او بله کومه نجلۍ را وغواړم چې هیڅوک ئې و نه پیژني ، زما ډله ډیره ذهینه او فعاله ده، دا د سالارانو څخه د ټیټې رتبې د خلکو ډله ده ، دغه څلور کسان چې ته ئې دومره په زړه ورتیا دلته را وړې ئې دهمغې ډلې خلک دي ، مونږ د ایوبي په فوځ کې بې اطمیناني خپره کړې ده ، قوم او فوځ یو له بله لرې کول اودهغوی تر منځ یو دبل پر خلاف کرکه را پارول اړین دي ، په دې وخت کې حالات دادي چې شامي او ترکې عسکر په مصري خلکو کې دخپل ښه سلوک ، کړچار او جنګیدو له مخې ډیر زیات محبوب او مقبول دي او هغوی ته خلک د عزت په سترګو ګوري ، سوډانیانو ته د ماتې د ورکولو وروسته هغوی ددې ځاې د اوسیدونکو په زړونو کې ځانو ته د عزت ځاې پیدا کړې دي. مونږ ته اړینه ده چې دفوځ دا د عزت مقام زخمي کړو . سالاران او د فوځ نور حکام باید رسوا رسوا کړو ، ددې پرته مونږ د صلیبیانو او سوډانیانو سره هیڅ مرسته نه شوکولاې، د بیرون یرغل به ناکامه وي ، فوځ به هغوی کامیابیدو ته پرې نه ږدي. قوم به هم د فوځ تر څنګ و دریږي ، که په هغه وخت کې له یوه لورې سوډانیان او له بلې لورې صلیبیان په یوه وخت کې یرغل وکړي نو قوم او فوځ به یو شي او د قاهرې څخه به داسې یوه کلا جوړه کړي چې بیا به ئې سوبه شوني نه وي.د قاهرې د سوبې له پاره به مونږ ځمکه هوارو ، دخلکو په ذهنونو کې به وهم ، او اندېښنې ور ځاې کوو ، او د ځوانانو کړچار کې به جنس پالنه او اوارګي را پیدا کول وي.»

«ماته خو ویل شوي چې دا کار د تیرو دوو کالو را پدېخوا روان دې » نجلۍ ترې و پوښتل.

« څه خاصې بریاوی مو په برخه شوې هم دي »فیض الفاطمي ورته وویل « په بدکارۍ کې ډیرښت راغلې ،خو هلته صلاح الدین ایوبي له یوه اړخه مدرسې پرانستې دي او د بله اړخه ئې په جوماتو نه کې د جمعې د خطبې څخه د خلیفه نوم هم لرې کړې دې ، او ځوانانو ته ئې عسکري روزنه ورکول پیل کړې دې.

*****(۲۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره لاهمدې ځاې ته رسیدلې وه چې دهغو څلور کسانو څخه یوئې راغې او فیض الفاطمی ته ئې وویل « اوس بیرون مه وځه ، ډیر ګړ بړ دې.»

فیض الفاطمي وویرید. دهمغه سرې سره بیرون ولاړ ، په یوه لوړ ځاې کې پټ و درید او وئې کتل ، دنیمائې شپې سپوږمۍ ټول چاپیریال روښانه کړې و. هغه وویل ، تاسې لکه چې ډیره بې احتیاطی کړېده ، دوی خو فوځیان مالومیږي ، د هغوی سره آسونه هم شته ، تاسې څلورو اړخونو ته ووینئ ،چې زه د کومې لارې څخه بیرون وتلاې شم.»

« ما کتلي دي ،» هغه سړي ځواب ورکړ ،« داسې تر سترګو کیږي چې مونږ په مکملې محاصرې کې یو ، ته همته ولاړ شه ، مشالونه مړه کړئ ، او دهغه ځاېه د وتلو غلطې و نه کړئ ، هلته هیڅوک هم نه شي در رسیدلاې ،»

فیض الفاطمي په همغه کنډرو کې غائب شو ، او دا کس چې ساتنه ئې کوله د هغه لوړ ځاېه راښکته شو د دننه تللو پر ځاې د دېوال سره یوځاې سوکه سوکه بیرون ووت ، هلته بیرون شاوخوا پنځوس پیاده فوځیان وو ، اوشل پنځه ویشت په آسونو سپاره وو. هغوی دا ټوله کنډره محاصره کړې وه. دا ساتونکې هغوی ته ورغې او د یوه فوځي څخه ئې وپو ښتل ، «علي بن سفیان چیرې دې ؟»کله چې هغه ورته وښوول شو نو هغه هم ورمنډه کړه ، دهغې ډلې قومنداني علي بن سفیان په خپله کوله ،دهغه سره احمد کمال هم و ، ساتونکي ورته وویل « دننه کومه داسې خطره نه شته ، له تاسې سره دوه کسان هم بسنه کوي ، زما پسې راځئ» دا ساتونکې د هغو څلورو کسانو څخه یو و چې نجلۍ ئې تښتولې وه،

علی بن سفیان دوه مشالونه رڼا کړل ، احمد کمال او نور څلور عسکر ئې له ځانه سره ملګري کړل ، او دهغې ساتونکې سره یو ځاې کنډرې ته ور ننوتل. هغوی وکتل چې یو سړې دکومې لورې څخه راغې او په منډه باندې دننه ورننوت ، لاړښود علي بن سفیان ته وویلې « دا دهغوی سړې دې او ددننه خلکو دخبرولو له پاره هلته ورغې ، تاسو لږ څه ګړندي شئ ،»

هغوی ټولو منډې کړې که چیرې دا خلک د لاړښود پرته وائې نو په هغه کږو وږو کې به بند پاته و اویا به له ویرې بیرته را ستانه شوي واې ، هغوی دخپل لاړ ښود سره یوځاې په ډیره ګړندې توګه مخته روان و، خو د یوه بله اړخه یوبل سړې په منډه راغې ، دوی دهغې همدومره اواز واورید چې زه هغې لورې ته ځم ، تاسو ژر ژر راشئ ، داسړې ددې لاړښود ملګرې و.

هغه هغې غرنۍ خونې ته ورسید چې زینې ئې لاندې تللې وې ، هلته د لاندې څخه دوی ته اوازونه را تلل « له مونږه سره دوکه شوې ده ، دا دواړه د هغوی سړي دي ،» بیا د تورو د ټکر اوازونه واوریدل شو او دا اواز هم راغې « چې هغه هم ختم کړه چې ګواهي ورنکړي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي بن سفیان د احمد کمال سره یوځای د مشال لرونکو په ملتیا په منډو منډو لاندې ورکیوت ، کله چې هغې کوټې ته ور ننوتل نو هلته د وینو سیلاب روان و . نجلۍ په ګیډه باندې دواړه لاسونه ایښي ناسته وه . دفیض الفاطمی سره چې کوم قومندان و هغه او یو بل کس د فیض الفاطمي او یوه ساتونکی سره په جنګ اخته و . علي بن سفیان فیض الفاطمی ته اخطار ورکړ ، خو کله چې فیض الفاطمي د خپل ځان پر خلاف ډیرې توري په هوا کې پورته وکتلې ، نو توره ئې و غورځوله ، احمد کمال منډه واخسته او نجلۍ ئې را و نیوله ، دهغه ګیډه خیرلې شوی وه ، احمد کمال د بسترې څخه څادر را پورته کړ او د نجلۍ په کیډه کې ئې ور ننویست ، او علی بن سفیان ته ئې وویل «که ماته اجازه وي نو زه به هغه بیرون یوسم ؟» علي بن سفیان ورته اجازه ورکړه ، احمد کمال نجلۍ په خپلو متیو کې را واخسته ، هغه ډیره په تکلیف کې وه ، خو بیا ئې هم په خندا کې احمد کمال ته وویل .«ما خپل فرض پوره کړل او ستاسو مجرم مو و نیو .»

فیض الفاطمي او د نجلۍ تښتونکي څلور کسانو څخه دوه ئې ونیول شول ، پاته دوه کسان او یو قومندان چې د فیض الفاطمي سره ملګري و هغوی د علی بن سفیان کسان و ، دا یوه ډرامه وه چې دفیض الفاطمی د بالفعل نیولو له پاره جوړه شوی وه . نجلۍ پوره پوره مرسته وکړه خو هغه زخمی شوله ،دا ډرامه داسې تیاره کړل شوی وه چې د نجلۍ دخولې څخه ئې هغه پټ الفاظ مالوم کړل چې دهغوی ډلې یو بل ته د ورسیدو په خاطر استعمالول ، نجلۍ دا هم ویلي و چې هغه ته تر فیض الفاطمي پورې ورتګ و. علي بن سفیان خپل درې ذهینه جاسوسان استعمال کړل چې یو په کې قومندا ن هم و . هغوی ته ئې دا پټ الفاظ وویل ، او ورته ئې وویل چې هغوی دې د فیض الفاطمي پورې ځانونه ور ورسوي ، او هغه ته دې ووائي چې ددریو څخه یوه نجلۍ دلته رارسیدلې ده، خو هغه په هغه کور کې تر نظر لاندې ده ، چې دهغې ځایه ئې بیرون ویستل اسانه کار دې ، هغوی ته دا هم ویل شوي و چې فیض الفاطمي ته د رجب د درواغو پیغام ورکړئ چې دا نجلۍ په څنګ کړئ او خپلې کړنې نورې هم ګړندی کړئ.

دې جاسوسانو په دریو ورځو کې دننه دننه فیض الفاطمی پورې ځانونه ور ورسول ، او هغه ته ئې دا ثابته کړه چې دوی د هغه د ځمکې د لاندې ګروپ وګړي دي. فیض الفاطمي ته دا خطره هم وه چې څرنګه چې نجلۍ تر څارنې لاندې ده نو په دې خاطر به د لږ څه تکلیف په ورکولو ووائي چې هغه هم دهغوی سره ملګرې دې. فیض الفاطمی ته خپله ساتنه هم اړینه وه ، په دې خاطر هغه د نجلۍ د تښتولو پلان جوړ کړ. په دې پلان کې هغه دا قومندان هم له ځانه سره ملګرې کړ . هغه سرې ته د علي بن سفیان ددوو نورو ورلیږل شو کسانو په مرسته دا کار ورسپارل شوی و چې هغوی به نجلۍ پورته کوي او کنډرو ته بې ور رسوي ، همدا کنډرې هغه د یوه وخته راهیسې خپل پټ مرکز ګرځولې و. کله چې پلان جوړ شو نو علي بن سفیان ته دهغې خبر ورکړل شو.هلته احمد کمال او نجلۍ ته ویل شوي و چې تاسې به پنځه شپږ ورځې هملته په برنډه کې ویده کیږئ ، او د شپې به نجلۍ تښتول کیږي په دې وخت کې به تاسو مزاحمت نه کوئ ، دکور تر مخه یو سپاهي تل پهره ورکوله ، په هغه شپه چې څوک په پهرې ولاړ و هغه سپاهي نه و بلکه د علی بن سفیان دمحکمی یو جاسوس و ، هغه ته مالومه وه چې د شپې به پرې برید کیږي او داورته هم مالومه وه چې برید به څوک کوي او څه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



به وي ، برید کونکې پخپله هم د هغه ملګرى او دعلي بن سفیان دمحکمې غړى و ، که چېرې د فیض الفاطمي د ډلې څوک وي نو بیا خو ئې هغه په خنجر سره هلاکولې شو.

په دې شپه فیض الفاطمی او هغه قومندان دواړه کنډرې ته تللي و ، په هماغه ټاکلي وخت پر پهره دار باندې برید و شو . اونور ددېواله ور واوښتل ، په دې وخت کې احمد کمال ویښ پروت و هغه وکتل چې نجلۍ ئې پورته کړه ، خو خپلې سترګې ئې ترلې وي اوپروت و . هغه هغه وخت لاس و پښې وهل پیل کړل چې هغه په رسیو کې ترړل شوی و ، نجلۍ ئې کنډرو ته ورسوله ، دا ډرامه په دې خاطر و لوبول شوه چې فیض الفاطمی د نجلې د تښتولو پلان جوړ کړې و ، اوپه هغه کې ئې خپل دوه کسان ور شامل کړي و . هغه ته دا ښکاره کول و چې دا دربښتیاو تښتول دي ، چې په کې هیڅ ډول دوکه او فریب نه شته. ان تر اخري وخته پورې هغه ته کوم شک را پیدا نه شو. د تیښتې وروسته علي بن سفیان د ساتونکي او احمد کمال رسئ را پرانستې دهغوی لاس او پښې ئې خلاصې کړې ، هلته پیاده اوسواره هم تیار و ، د لږڅه ځنډ وروسته هغوی هم د کنډرو په لور روان شو او کنډر ئې په محاصره کې واخسته.

دوی تر ټولو د مخه د علي بن سفیان یوه سړي وکتل او همغه ولاړ او هلته ئې فیض الفاطمي ته خبر ورکړ ، هغه ئې بیرون راوست او محاصره ئې ورته وښودله ، اودا مشوره ئې ورته ورکړه چې همغې کمرې ته بیرته ولاړ شي ، هغه ئې بیرته و لیږه او پخپله همدا سړې بیرون را ووت اوعلي بن سفیان او احمدکمال ئې له ځانه سره کړل او دننه ورننوتل ، دا دهغه سړي پوهه او درایت و چې فیض الفاطمي ئې بیرته همغې کمرې ته ولیږه ځکه که چېرې هغه د کنډرو په نورو ورانو ویجاړو کې ځان وهلي وی نوبیا به ئې نیول دومره اسانه نه و. کنډرې ډیرې پراخه او خورې ورې وی ، او دننه تیاره هم وه ،او دېوچاتعاقب کول ددې خطر را ولاړوه چې هسې نه چې خپل کسان په کې ووژل شي. بلکل په هماغه اخرى وختو کې فیض الفاطمی خبر شو چې قومندان او هغه دوه نور کسان دده ملګرى نه دي بلکه هغه ئې په دوکې او فریب سره دلته راوړې دي. دنجلۍ څخه دا غلطې وشوه چې د هغې دخولې څخه داسې الفا ظ راووتل چې دهغې څخه دا په ډاګه کیدله چې هغه هم په دې دوکې کې شریکه ده.دفیض الفاطمي دوه ملګري چې هغه ته ور ورسیدل ،نود دوکې څخه پرده پورته شوه ، او جګړه پیل شوه. فیض الفاطمي دنجلۍ په ګیډه کې د توري نوکه ور ننویسته او دهغې ګیډه ئې پرې و څیرله ، هغه نجلۍ په دې خاطر وژله چې دده پر خلاف دشاهدۍ له پاره ژوندۍ پاته نه شي.

فیض الفاطمي او دهغه نور ملګري ئې په بندیخانه کې ور واچول ،علي بن سفیان هغوی په یوائې یوائې ځایو کې کینول او هر یوه ته ئې د رجب سر و روښوده ، او ورته ئې وویل « دخپل دوست انجام مو ووینئ ، که چېرې تاسې ددې هیله لرئ چې تاسې ته به سمدستي سزا درکړل شي نو دا خیال د ذهنونو څخه وکاږئ ، تر هغې چې خپله ټوله ډله مونږ ته را و نه ښایاست ، نو تاسو به په همداسې شکنجو کې و ساتم ، نه به را نه ژوند وکړئ اونه به مو مرګ ته پریږدم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنجلۍ حالت ښه نه و ، طبیبانو او جراحانو د هغې د خوندي پاته کولو هر ډول هڅې کولې ، خو د غوڅو شوو کلمو هیڅ علاج نه کیده ، هغه بیاهم ډاډه وه او داسې مالومیده چې هغې ته د ګیډې د دې خطرناکه زخم هیڅ پرواه نه وي، دهغې یواځې یوه غوښتنه وه چې احمد کمال دې له ماسره دلته ناست وي ، سلطان ایوبي هم دهغې د پوښتنې له پاره راغې ، احمدکمال چې خپل سالاراو دمصر د فوځ اعلی قومندان وکوت نو د تعظیم له پاره و درید خو نجلۍ هغه له لاسه و نیوه او له ځانه سره ئې کیناوه ، خو احمد کمال د سلطان ایوبي په شتون کې نه شو کیناستلې ، اخر سلطان هغه ته د نجلۍ سره د کیناستو اجازه ورکړه ، سلطان ایوبي د نجلۍ په سر د شفقت لاس را ښکود اوپه ډیره مینه ئې دهغې د روغتیا د حال پوښتنه وکړه.

دریمه شپه احمد کمال د نجلۍ سر ته ناست و نو نجلۍ ترې په یوه ځانګړې لهجې سره و پو ښتل ،« احمده ! تا خو له ماسره واده کړې دې که نه ؟....ما خو خپله وعده پوره کړه ، تا هم خپله وعده پوره کړېده ؟ خدای به زما ګناهونه ماته ببښلې وي ،»

دهغې ژبه غټه شوه ، هغې د احمد کمال لاس په خپلو دواړو لاسو کې کلک و نیوه ، خو کلکوالی بیرته په سستوالي باندې بدل شو ، احمدکمال سمدستی کلیمه وویله، او نجلۍ ئې په خداې و سپارله ، په بله ورځ د سلطان ایوبي د حکم په مطابق هغه ئې د مسلمانانو په هدیره کې خاورو ته و سپارله ،

فیض الفاطمي او دهغې ملګرو یواځې دوه ورځې اذیتونه وګالل ، او د خپلې ډلې ټول وګړی ئې په ګوته ګوته و ښول ، هغوی هم و نیول شول.

مراکشي پیبنې لیکونکې «اسد الاسدې» د سلطان ایوبي دوخت د یوه کاتب په حواله لیکلې دې ، کله چې سلطان ایوبي د فیض الفاطمي دمرګ په سزا باندې لاسلیک کاوه نو سلطان په زوره زوره و ژړل.

*****(۲۸)

د یوه قوم تهذیب او تمدن او مذهب ورخراب کړه نوبیا د فوځ حملې ته اړتیا اوجنګ و جګړې ته توبت نه رسیږی ، که غواړئ چې کوم قوم له منځه یوسئ نو په هغوی کې د جنسي جذباتو اور تازه کړئ(صلیبي قومندان)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# او کله چې عیسائي پادري دمسلمانانو امام وګرځید:(۷)

دا د (۱۱۷۱) زیږدیز کال پیښه ده:

په قاهره کې یو جومات و، خو دومره لوی نه و چې خلک په کې دجُمعې لمونځ وکړي او دومره کوچنې هم نه و چې د ورځې لمونځ کونکو ته ځای ورنکړای شي. دا د قاهرې په هغه سیمه کې پروت و چې د ښار سره نژدې بلکه د ښار بیرونۍ سیمه وه، ددې سیمې اوسیدونکي د منځنۍ او یا دهغې ښخه د کمې درجې خلک و. هغوی مذهب ته خورا زیات درنښت دلود، خودا دهغوی بد نصیبي وه چې د ښوونې او روزنې ښخه لرې او بې برخې پاته شوی و. هغوی به د جذباتي او زړه وړونکو وینا و ښخه ډیر ژر اغیزمن کیدل، او هغه به ئې ډیرې ژر منلې. صلاح الدین ایوبي چې کله مصر ته راغې او ددې ځای ښخه ئې نوي فوځ تیار کړ، نو په هغې فوځ کې ددې ځای دکورنیو زیات وګړي ور شامل شوی و، دې کار دوه علتونه درلودل، یو داچې دا د معاش یوائنۍ ښه ذریعه وه، ځکه سلطان ایوبي د فوځ په معاشاتو کې په زړه پورې زیاتوالي را وستې و، او تر ښنګ ئې عسکرو ته هم زیاتې اسانتیاوې ورکړل شوې وې. او بله علت ئې دا و چې دې خلکو جهاد خپله دیني فریضه ګڼله، هغوی د اسلام په نامه ځان او مال قربانولو ته تیار و، او په دې وختو کې ددې جذبې او احساس ژوندي ساتل ډیر اړین ګڼل کیده. په سرکاري توګه هغوی ته ویل شوي و چې صلیبي نړۍ د اسلامې پو هانو او عالمانو د نوم او ننبې د ورکولو له پاره هر ډول حربې په کار اچوي.

د تیرو شپږو اوو میاشتو را هیسې دا نوم ورکې جومات ډیر مشهور شوی و او د شهرت علت ئې هم د مسجد نوی امام و. هغه به هره ورځ د ماخستن د لمانځه وروسته درس ورکاوه. مخکینې امام یو ائې درې ورځې مخته په داسې یوې ناروغۍ ککړ شو او ومړ چې هیڅ حکیم او معالج ئې پیژنه و نه شوه کړای، هغه به دکیدې د درد او د ګلمو د سوځیدو نه شکایت کاوه، او دهمدې شکایت ښخه هغه و مړ. هغه یو عام مولوي و چې یوائې د جَمعې لمونځ به ئې ورکاوه، د هغه د مړینې نه یوه ورځ وروسته د سره او سپین مخ او سرې ږیرې خاوند یو مولوي را پیدا شو او پخپله ئې خلکو ته دامامت د دندې د تر سره کولو وړاندیز وکړ. دهغه وړاندیز خلکو و مانه، هغه چیرې په کومې چونیړه کې اوسیده، دوه ښځې ئې دلودې. هغه خلکو ته وویلې چې هغه د علم لیواله او د مذهب په سمندر کې لامبو وهي، هغه د خلکو د څه ورکړې او نذرانې منلو ته په ښه سترګو نه ګوري، دهغه اړتیاوې یوائې دادې چې هغه ته یو پراخه او ښه شانته کور تر لاسه شي، تر څو دخپلو دوو ښځو سره په عزت او حیا کې ژوند وکړي.

خلکو ورته همدلته د جومات تر ښنګ یو ځاي خالي کړ چې څو خونې ئې درلودې، خلکو و لیدل چې هغه د خپلو دوو ښځو سره دې کور ته را غې، ښځې ئې په تورو «بورکو» کې د سر نه تر پښو پورې پټې وې، ان تردې چې دهغوی لاسونه هم نه تر سترګو کیدل، او بوټان ئې هم په بورکو کې را پټ شوي و. خلکو ورته د ژوند د اړتیاو وړ سامانونه ورکړل او همدلته ئې اباد کړل. که څه هم خلک دهغه د ظاهري شخصیت د لیدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه ډیر زیات اغیزمن شوي و، خود هغه د اواز د خوږلني جادو هغوی بلکل دده مریدان و ګرځول . کله چې ددې جومات څخه هغه لمړې اذان وکړ نو هلته په سیمه کې د اذان په اوریدونکو کې چپتیا شانته را پیدا شوه. دېو پاک ترنم په څیر ئې په ځمکه او اسمان کې یوه لړزه را پیدا کړې وه، دا داسې یو طلسم و چې هغه وګړي ئې هم جومات ته د لمانځه له پاره را ښکل چې په کورو کې به ئې لمونځ ادا ءکاوه او یا خوبه ئې بلکل لمونځ نه کاوه ، په هماغه شپه هغه لمونځکونکو ته خپل لمړی درس ورکړ او هغوی ته ئې وویل چې پس له دې به هغه هره شپه همدلته درس ورکوي. په پنځه شپږو میاشتو کې هغه ددې سیمي وګړي خپل پیروان کړل ، پخوا په دې جومات کې د جُمعي لمونځ نه اداء کیده ، دغه امام چې په اصل کې یو عالم و د جُمعي لمونځ اداء کول هم پیل کړل ،

د شپږ اوه میاشتو وروسته ددې جومات او عالم شهرت تر ډیرو ډیرو ځایو پورې ورسید. ان تر دې چې د ښاره به هم یوشمیر خلک دهغه درس ته را تلل. هغه چې د اسلام په کومو ډیرو بنسټیزو اصولو باندې زور راوړ هغه عبادت او خپل منځي مینه وه. هغه به د جګړي ، جنګ او جدل پر خلاف درس ورکاوه ، هغه د خلکو په ذهنونو کې دا خبره پخه کینولې وه چې انسان خپل تقدیر پخپله نه شي جوړولاې ، هر څه چې دې هغه د خدای په لاسو کې دي ، انسان د یوه کمزوري چینجي په څیر دې. ددې عالم بیان اودرس ډر اغیزناکه وه. هغه به قران په لاس کې را اخیست او خپله هره خبره به ئې د قران په یوه آیت نه یوه آیت باندې ثابتوله. هغه به دصلاح الدین ایوبي هم ډیر صفت کاوه ، او زیات وخت به ئې ویل چې دا د مصر دخلکو د خوښۍ ځاې دې چې ددې هیواد امارت د اسلام د یو سرورکونکي سپیڅلي مجاهد په لاسو کې دې. هغه به د جهاد د فلسفې او مفهوم په هکله هم خبرې کولې ، که څه هم دهغه دا خبرې د خلکو له پاره نوې وې خو خلکو به بیاهم دکوم دلیل پرته د سر په سترګو منلې.

یوه شپه د ماسختن د لمانځه وروسته هغه خپل درس پیل کړ نو یو سړې را پورته شو او پوښتنه ئې ترې وکړه «درونده عالمه ! الله ج دې ستا د علم رڼا ان تر پیریانو او دهغه د نورو هغو مخلوقاتو پورې هم ور ورسوي چې مونږ ته نه تر سترګو کیږي ، زه د خپلو اتو نورور ملګرو سره د ډیر لرې ځایه دلته راغلې یم ، مونږ ستا د درس اوعلم اوریدلې و ځکه ستا خواته را غلو . که چیرې بې ادبي نه وي او د عالي مقام د خفګان سبب و نه ګرځي نو مونږ ته دجهاد په اړه لږ څه ووایه. مونږ په شک کې یو ځکه خلکو ویلې دي چې مونږ ته د جهاد مطلب غلط ښوول کیږي.»

اوه اته نور اوازونه هم را پورته شول « چې مونږ هم دا درس نه دې اوریدلې»

یوه وویل «دا د وخت اواز دې چې زمونږ په غوږونو کې ئې په غلطه توګه ورځاې کړې دې. مونږ غواړو په دې هکله صحیح خبره واورو.»

عالم ورته وویلې --« دا د قران اواز دې چې هیڅوک ئې نه شي بدلولاې ، دا زما دنده ده چې د قران دا صحیح اواز زر کرته تکرار کړم تر څو هر هر غوږ ته ورسیږي ،..... د جهاد څخه مقصد دا نه دې چې د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځمکو د نیولو په خاطر دعغوی ځپونه ووهل شي ، د جهاد مطلب وژنه او داړه ماري هم نه ده او نه وینه تویول او تباهي را وستل دي.» هغه د قران یو آیت ولوست او دهغې تفسیر ئې داسې بیان کړ «دا زما علم او پوهه نه ده د الله ج فرمان دي چې تاسې به د بدۍ او ګناه پر خلاف جنګیږئ ، او همدې ته جهاد ویل کیږي او دا ډول جهاد پر مونږ ټولو فرض شوی دي.—ایا تاسې نه دي اوریدلي چې اسلام د توري په زور نه دي راغلي بلکه د میني او محبت په واسطه خپور شوی دي ؟ د جهاد مسئله وروسته را پیدا او ومروړل شوه ، دا هغه چا مروړلې ده چې د پادشاهۍ غوښتونکی دي ، عیسایان هم د نورو د هیوادونو د ولکه کولو او په خپلو سلطنتونو کې ئې د راګډولو له پاره جنګ او جګړې مقدس او پاک جنګ ګڼي اومسلمانان هم همدی د وژلو ، چورولو او تباه کولو کار ته جهاد وایي ،دا یواځې د پادشاهیو د جوړولو او د خپل واک د ټینګښت یو ډرامه ده ، خلک د مذهب په نوم راپاروي او جنګوي ئې اوپه دې ترتیب دخپلو پادشاهیو بنسټونه ورکلکوي.»

«نو ایاد مصر امیر صلاح الدین ایوبي مونږ په غلطه لار وړي او جنګوي مو.» همغه کس چې دجهاد د صحیح مطلب د پوښتلو جرأت ئې کړې یو ځل بیا و پوښتل ؟

«نه هیڅکله !» عالم ځواب ورکړ. « په صلاح الدین ایوبي دې د الله ج رحمت وي ، هغه ته چې مشرانو څه ویلي دي نو هغه د یوه ریښتوني مسلمان په څیر په ډیر ښه نیت سره په همغې عمل کوي. دهغه په زړه کې ئې د عیسایانو له پاره نفرت اوکرکه کرلې ده اوهغه د همغې په مطابق عمل کوي ، لږ څه غور و فکر وکړئ ، چې دعیسایانو او مسلمانانو تر منځ تو پیر څه دي ؟ دواړه د یوه ګډ نبي خاوندان دي خو مخته راتلو سره په کې لږ څه اختلافات را ولاړ شول. سیدنا عیسي ع د وروګلوي او مینې پیغام راوړې و ، او زمونږ رسول ص هم د محبت پیغام راوړې ، نو بیا دا توري او ذرّې له کومه را پیدا شوی ؟ دا شیان د هغو خلکو په لاسو را پیدا شول چې دخداې په دې پاکه خاوره ، چې پرې یواځې دهمغه حکمراني ده ، خپل حکومت اوحکمراني جوړول غواړي اود خدای بندګان خپل غلامان ګرځوي.....زه به د مصر د امیر په دربار کې حاضریږم او د هغه په خدمت کې به د جهاد د فلسفې اصلي موخې بیان کړم ، د مصر امیر صلاح الدین ایوبي پخپله، د ناپوهۍ او جهالت پرخلاف ډیر صحیح جهاد پیل کړې دې او تر څنګ ئې د خطبې څخه دخلیفه د نوم په لرې کولو سره ډیر ستر جهاد تر سره کړې دي ، هغه د مدرسو د جوړولو جهاد هم پیل کړې دې خو په مدرسو کې ئې دا خرابوالې را وستې دې چې هلته دمذهب او ټولنیزو روزنو تر څنګ نظامي روزنې هم ورکولې کیږي ، کوچنیانو ته د خداې په نوم د غارت او لوټولو درس ورکول کیږي ، هغوی ته د توري د استعمال او غشي ویشتلو درس هم ورکول کیږي ، نوکله چې تاسې خپلو کوچنیانو ته توره، کمان ، غشي او لیندی په لاس کې ورکړئ نو هغه ته به دا هم وایئ چې په دې باندې به څوک وژنئ ، ښکاره ده چې تاسې به ورته څه انسانان په ګوته کوئ او ورته به وایاست چې دا ستاسې دښمن دي ،هغه له منځه یوسئ»

د عالم په اواز کې داسې اغیز و او په دلایلو کې ئې دومره راښکود و چې اوریدونکې ئې د جادو په څیر تر خپلې ولکې لاندې راوړي و.—هغه وویل « خپل کوچنیان ددوزخ له اوره په څنګ کړئ ، او که نه د هغوی سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



به تاسې هم دوزخ ته ځئ ، ځکه چې دا تاسې یاست چې خپل کوچنیان په غلطو لارو باندې روزئ ، تاسې به ستاسې پادشاه او سالار جنت ته یو نه سې ، هغه دېنې عالم او امام به مو وړې چې په لاسو کې ئې د مذهب اوعلم رڼا نیولې وي ، لکه څنګه چې تاسې په دنیا کې د هغه پسې روان یاست نو دقیامت په ورځ به هم هغه تاسې د خپل ځان پسې وروسته جنت ته ننباسي. د قیامت په ورځ به هغه لاسونه چې د انسان په وینو سره شوي وي، د ټول عمر د لمونځونو او ټولو ښو کړچارونو سره یو ځای دوزخ کې ور اچول کیږي. یوه بله خبره هم واورئ او هغه دا چې: تاسې خپل زکاتونه بیت المال ته ورکوئ او بیت المال د وخت د حاکم ملکیت دې ، په داسې حال کې چې زکات د غریبو او نادارو خلکو حق دې او د وخت حاکم نادار اوغریب نه وي نو په دې اساس ستاسې زکات چې بیت المال ته ځي په هغې دجنګ جګړې له پاره آسونه او وسلې اخستل کیږي اوبیا پرې انسانان وژل کیږي. په دې اساس دهغه فرض د اداء کولو په خاطر چې تاسې غواړئ جنت ته ولاړ شئ د همغې فرض په اداء کولو ستاسې ځای دوزخ ګرځي ، په دې خاطر خپل زکاتونه بیت المال ته مه ورکوئ.»

عالم موضوع بدله کړه او وئې ویل «ډیرې داسې خبرې دې چې عوام پرې نه پوهیږي او که پوهیږي هم نو ځوک نه شته چې هغوی ته ئې ورو ښئې، ایا تاسو نه وینئ چې ستاسو ترمنځ یو حیواني جذبه شتون لري؟ ایا تاسې د ښځو له پاره اړتیا نه محسوسوئ؟ اوایا همدا جذبه نه ده چې تاسې د بدکارۍ په لور را کاږي ؟... دا جذبه په خپله خدای پیدا کړې ده ،دا د کوم انسان له اړخه را پیدا شوی نه ده.تاسو ددې جذبې تسکین کولای شئ ، په همدې خاطر خدای تاسې ته حکم کړې دې چې په یوه وخت په خپلو کورونو کې ځلور ځلور ښځې ساتلای شئ ، او که چېرې تاسې غریب یاست او یوه ښځه هم نه شئ کولای ، نو بیا کومې یوې ښځې ته څه ورکړئ او خپله دا حیواني جذبه ، چې خدای په تاسې کې پیدا کړې ده ،پرې تسکین کړئ. ځکه پخپله انسان هم دهمدې جذبې پیدا ابینت دې ، خو د بدۍ څخه ځان و ژغورئ ، یوه یوه ، دوه دوه ، درې درې او ځلور ځلور ښځې په کورنو کې و ساتئ ، داښځې او خپلې لونې په کورونو کې پټې و ساتئ ، زه وینم چې ځوانو نجونو ته هم عسکري روزنه ورکول کیږي ، هغوی ته هم د آس سپرلې او د اوښ ځغاسته وروښوول کیږي. د نجونو په مدرسو کې هغوی ته د زخمیانو ملهم پټۍ کول او دهغوی د خوندې ساتلو درس ورکول کیږي تر څو هغوی د جنګ په ډګر کې د زخمیانو څخه لیدنه وکړای شي او که اړتیا ورته پیدا شي نو په جګړو کې ورګډې کړل شي.... دا یو بدعت دې ، خپلې لونې ددې بدعت نه وساتئ ، دا خبرې خپلو هغو دوستانو او ګاونډیانو ته هم ورسوئ چې جومات ته نه راځي ، د خدای په کارونو او احکامو کې ګوتې مه وهئ ، دا ډیره ستره ګناه ده.»

*****(۲۸)

کله چې عالم درس پای ته ورساوه نو اوریدونکي چې زیات شمیر ئې په جومات کې د ځای د نشتوالي په خاطر بیرون د جومات د دېوالونو تر څنګ ولاړ و را پورته شول اوعالم ته ئې درخصتیدو په خاطر لاسونه ورکړل او بیرته ستانه شول. یو شمیر خو داسې و چې دهغه لاسونه ئې هم ښکل کړل ، او د ځان د ټیټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصافحه خو هر یوه وکړه. خلک ټول یو یو د هغه ځایه ووتل ، یواځې دوه کسان دعالم ترمخ ناست پاته شول. ددوی څخه یو هغه کس و چې دجهاد په هکله ئې پوښتنه کړې وه ، دې سړې یوه اوږده چوغه اغوستې وه ، یوه کوچنۍ شانته لونګۍ ئې په سر وه او دهغې د پاسه ئې یو ګلداره دستمال اچولی و .هغه اوږده توره ږیره او اوږده بریت درلودل ،د لباس له اړخه هغه دمنځنۍ طبقې خوک ښکاریده ، دهغه په یوه سترګه شین رنګه ټوټه تړلې وه ، چې دې تړلو دهغه یوه سترګه پټه کړې وه. د عالم د پوښتنې په اساس هغه ورته وویلې چې دهغې یوه سترګه خرابه شوې ده ، د هغه بل کس لباس هم مامولي شانته و . هغه هم اوږده او ګڼه ږیره درلوده ، اوس نو په جومات کې د عالم سره همدا دوه کسان پاته شوي و. ددوی سره نور شپږ کسان هم و چې د جهاد ددرس د زده کولو له پاره راغلي و . هغوی بیرون د جومات د دروازې تر څنګ ولاړ وو. شونې وه چې هغوی به د خپلو ملګرو انتظار کاوه.

«ولې ستاسې شک لا تر اوسه هم نه دې رفع شوی؟» عالم په خندا ترې وپوښتل.

«زه فکر کوم شک به رفع شوی وي» په سترګه پټې اینبي کس ورته وویلې.

«مونږ شاید همستا په لټه کې یو ، مونږ ټول مصر ولټاوه خو مونږ ته د جومات نښې نښانې او ځای ځیرې غلط ښوول شوی و.»

«ولې په نیمائې مصر کې تاسې ته زما څخه بهتر او ښه عالم تر سترګو نه شو ؟»

« نه ! مونږ یواځې ستا لټون کاوه .» هغه سړي ځواب ورکړ.« ایا مونږ صحیح ځای ته را غلی یو ؟ ستا درس خو مونږ ته و ښووله چې مونږ یواځې ستا لټون کاوه »

عالم بیرون لوري ته وکتل او په ډیره بې پروائې سره ئې وویل ،« معلومه نه ده چې موسم به څه ډول وي ؟»

«باران به کیږي » دپټې خاوند وویل.

«اسمان خو بلکل صاف دی»عالم ورته وویل.

«مونږ به د وریځو غرونو را وړو » په سترګې د شنې پټې خاوند ورته وویل.

عالم و خندل او په راز سره ئې ترې و پوښتل له کومه ځایه راغلي یاست.

« مونږ د یوې میاشتې را هیسې په سکندریه کې یو » هغه سړي ورته ځواب ورکړ ،« او ددې تر مخه په (شوبک ) کې و »

«مسلمان یاست»»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«فدائیان» د ترلې سترګې خاوند ورته وويل.« اوس مو مسلمان وګڼه» او دخپل ملګري سره ئې په زوره وخندل. «زه تا ددې فن استاذ ګڼم ،» هغه بل سړي هم عالم ته وويل ،« ماته دا ډاډ نه کيده چې دا تهئې ، ته ناکاميدلې نه شې.»

«او کاميابي هم اسانه کار نه دې » امام ورته وويل « تاسو به صلاح الدين ايوبي نه پيژنئ ، بې شکه چې ما د ټولو خلکو په زړه کې د جهاد او جنس په اړه د اسلامي نظرياتو پر خلاف شکوک را پيدا کړي دي ، خو هغه مدرسې چې صلاح الدين ايوبي پرانستى هغه به زمونږ برياوى مونږ ته په اسانۍ سره شوني نه کړي ،» هغه ترې وپوښتل «تا ولې زما څخه و پوښتل چې زه د جهاد په هکله درس ورکړم ؟»

«مونږ ته په (شوبک ) کې ويل شوي و چې ستا دپيژندګلوی تر ټولو ستره نښه همدا ده.» دترلي سترګې خاوند ورته وويل.« دغه ټول الفاظ چې تا په درس کې وويل مونږ ته هملته ويل شوي و ، مونږ ته دا هم ويل شوي و چې ته به د جهاد وروسته د جنسي جذبي خبره هم کوی ، تا خپل درس په ډير ذوق سره ياد کړي دي.»

«زما څه نوم دې؟» عالم ترې و پوښتل ؟

« ايا مونږ په ازميښت کې اچوي ؟ او امتحان را څخه اخلي ؟» هغه سړي ځواب ورکړ ،« ايا ستا پر مونږ شک دي ؟ مونږ يو بل ته نوم نه بلکې نښې نښاني وايو »

«تاسو د څه له پاره راغلي ياست ؟» عالم ترې وپوښتل.

«فدائي د څه کار له پاره راځي !» هغه د ترلې سترګې خاوند ځواب ورکړ.

«تاسې ئې ولې زما خواته را ليږلي ياست ؟» عالم ترې و پوښتل.

« د يوي [اوښی ] له پاره» هغه سړي ځواب ورکړ ،« له تاسره دوه دي ، مونږ به ئې تا ته نه وائې را ليږلي خو تا ته به دا خبر را رسيدلي وي چې د صلاح الدين يو نائب سالار د سوډانيانو سره د (شوبک ) څخه ددرې اوښو سره ليږل شوی و ، دهغوی څخه يوه زمونږ د مقصد له پاره وه ، خو مالومه نه شوه چې پر هغوی څه وشول ، هغوی درې واړه له منځه ولاړي ، درجب کوپړۍ او يوه تر ټولو ښکلې اوښايسته اوښه صلاح الدين ايوبي ته را ورسيدل ، او هغه هم له منځه ولاړه.»

«هو !» عالم د افسوس نه په ډک اواز سره وويل.« مونږ ته ډير ستر زيان را ورسيد.د صلاح الدين ايوبي يو ډير ستر او کارکونکې سالار چې زمونږ په ولکه کې و د جلاد له توري تير شو....ځئ چې دننه ولاړ شو ....دا ځاي خوندي نه دي.»

هغوی دواړه د عالم سره پورته شول ، او بيرون را ووتل ، بيرون شپږ کسان ولاړ و خو ځانونه ئې په تياره کې خواره کړل.

*****(۲۹)

اوس نو هغوی دعالم په کور کې ور ننوتي و ، صاف اوپاک کور و ،څو خوني ئې درلودې ، ددوه درې خونو څخه په تیریدو سره هغوی یوې داسې خونې ته ور ورسیدل چې پر ځمکه خو وه خو د ځمکې لاندې مالومیده ، دهغې تر مخه څه هرزل برزل سامانونه پراته و ، د باهر څخه ئې دروازه تړلې وه او دا تړې ډاګیزه کیده چې د ډیرې مودې را هیسې نه ده پرانستل شوی او په راتلونکې کې به هم پرانستل نه شي ، دهغې په یوه اړخ کې کړکۍ وه ، هغه ته ئې لاس ور وړ اوهغه پرانستل شوه ، عالم دننه ولاړ ، او ورپسې دا دوه نورکسان هم ورننوتل ، دننه خونه ډیره ښایسته جوړه کړل شوی وه. ددېوال تر څنګ یو طلائې جوړ شوی صلیب ځلیده ، دهغه یوې لورې ته د سیدنا عیسي (ع) انځور اوبل اړخ ته ئې د بي بي مریمې (ع) انځور ځړول شوی و.«دا زما ګرجا هم ده او پناه ځاې مې هم»

« د خطرې په وخت کې دې څه انتظام کړې دې؟» هغه یوه کس ترې په راز سره و پوښتل. « تا ته په کار نه و چې صلیب او دا انځورنه داسې ښکاره را ځوړند کړې»

«تردې ځاېه د چا د راتللو خطره نه شته» عالم ځواب ورکړ او په مسکا کې ئې وویل: «مسلمانان ډیر ساده او احساساتي قوم دې او په احساساتی ویناو او راپارونکو دلایلو باندې ځان ځاروي. جنس د انسان ترټولو لویه کمزوري ده ، زه په دې خلکو کې دا کمزوري راپاروم، هغوی ته دا درس ورکوم چې څلور ودونه فرض دي ، او سو که سوکه ئې د بدکارۍ په لاره باندې روانه وم. دمذهب تر نامه لاندې په ټولو مسلمانانو کې بدي هم را ټوکولې شم او نیکي هم. په لاس کې چې قران و نیسې او خبره وکړې نو دا خلک په ډیرو احمقانه خبرو هم ډاډ کوې او دروا‌غ هم ریښتیا ګڼي، زما تجربه ډیره بریالۍ ده. مونږ ته زمونږ په خیر د یوې ډلې پیدا کولو ته اړتیا ده چې په جوماتونو کې کینې اوقران مجید په لاسو کې و نیسي او دهغې خلکو د جهاد احساسات او کړچار ووژني ، زه د ښځې په اړه د هغوی آند بدلوم ، صلاح الدین ایوبي هم د ښځو عسکري روزنه پیل کړې ده، زه هغوی ته وایم چې ښځې په کورنو کې بندي وساتئ ، زه غواړم په دې ترتیب ددې قوم نیمائې ابادي بیکاره کړم»

«د فوځ پر خلاف کرکه او نفرت پیدا کول ډیر اړین دي » هغه د سترګې د پتېۍ خاوند ملګري ورته وویل: صلاح الدین ایوبي همدا کمال کړې دې چې قوم او فوځ ئې سره یو کړي دي. که هغه همدا اوس اعلان وکړي چې د بیت المقدس سوبې ته روان یو نو دمصر ټوله ابادي به ورسره یو ځاې ولاړه شي.»

« خو هغه دا سې اعلان کولې نه شي»عالم ورته وویل -« هغه پوه او عالم دې ، هغه احساساتي خلک نه خوښووي. هغه یواځې یو روزل شوی سپاهي په سل ناروزل شوو احساساتي خلکو باندې غوره ګڼي ، هغه په پوچو نارو د قوم د احساساتو سره لوبې کول نه غواړي ، هغه د حقیقت خبره کوي. دا زمونږ کار دې چې دا قوم د حقیقت او روزنې څخه لرې و ساتو ، او احساساتي ئې کړو. تر څو په دې قوم کې د شعور په ځاې جوش را پیدا شي ، هغه جوش چې په کې عقل او پوهه نه وي او ددښمن په لمرې غشي باندې له منځه ولاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ په دوی کې یواځې جوش پرېږدو ،تاسو واوریدل چې زه په خپل درس کې دصلاح الدین ایوبي ډېر زیاته ستاینه کوم.»

«دا خبرې اترې به وروسته کوو » هغه سړي ځواب ورکړ ،« هغه دواړه اوښی را وښایه ، اودا راته ووایه چې مونږ دلته څه وخت او څه ډول پناه اخستلاې شو. اودلته بل څوک زمونږ د ډلې څخه هم شته او که نه.

«نه !» عالم ځواب ورکړ « دلته بل داسې څوک نه شته»

اوس نو دهغوی تر منځ هیڅ ډول شک اوشبه نه وه پاته ، هغوی د همغه پټو الفاظو په واسطه یو بل سره پیژندلي و ، عالم د خوني څخه را ووت ،کله چې بیرته را ستون شو نو ورسره دوه ډېرې ښایسته او ښکلې نجونې هم ملګرې وی ، ددوی په هکله دې عالم خلکو ته ویلې و چې دوی دواړه ئې ښځې دي ،هغه به دوی د سر نه تر پښو پورې په بورکو کې پټې را وستلې ، خو اوس ددې دواړو سړو تر مخ هغوی لوڅې لغړې راغلې. عالم هغوی دې دواړو سړیو ته ور وپیژندلې ، او د الماری څخه ئې دشرابو بوتل را وویست ، یوی نجلۍ ګیلاسونه راوړل او شراب ئې په ګیلاسونو کې واچول ،هغوی دواړو سړیو شرابو ته لاس هم یو نه وړ. «لمړی د کار خبره وکړه» هغه د سترګې د پټې خاوند ورته وویلې.

« مونږ باید دوه کسه ووژنو ؟» هغه بل ورته وویل «صلاح الدین ایوبي او علي بن سفیان ، خو مونږ مجبور یو ،ځکه مونږ هغه دواړه نه دې کتلي ، مونږ ته هغه دواړه کسان را وښایاست. ایا تا هغوی لیدلې دي؟»

«دومره مې کتلي دي چې هغوی دواړه ان په تیاره کې هم پیژندلې شم.» عالم ورته وویل.«کوم کار چې ما پیل کړې دي دهغه له پاره دا اړینه ده چې دواړه په ښه توګه و پیژنم ، علي بن سفیان خو دومره ذهین او چالاکه دې چې دلته د خپل جاسوس د را لیږلو پر ځاې پخپله هم را تلاځ شي خو که هغه کالې او بڼه بدله هم کړي او بیا زما مخې ته راشي نو بیا به ئې هم زه و پیژنم.»

« او دصلاح الدین ایوبي په هکله څه فکر کوی؟»په سترګې د پټې خاوند ورته وویلې.

« هغه هم ډېر ښه پیژنم» عالم ځواب ورکړ.

هغه په سترګې دپټې خاوند خپل لاسونه تر زنې لاندې کړل ، ږیره ئې پرې و نیوله او را کش ئې کړه ، دهغې اوږده ږیره او اوږده بریت د هغه د مخ څخه را جدا شول ، وروسته ترې کوچنۍ شانته ږیره را ښکاره شوه چې په ډېر ښه ترتیب سره جوړه شوې وه ، بریت ئې هم تراشلي و . دا اوږده ږیره او بریت دواړه مصنوعي ایښول شوي و چې اوس ئې په لاسو کې نیولي و ، هغه د خپلې سترګې څخه پټې لرې کړه او ایسته ئې و غورځوله ، عالم چې په کوم ځاې کې و همغلته د بُت په څیر پاته شو ، دهغه سترګې پراخې شوی او خوله ئې وازه پاته شوه. دواړه نجونې هم حیرانې دریانې ودریدې ، کله یوه سړې ته وینې چې خپل ځان ئې بدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې او کله خپل عالم ته چې رنګ ئې د مړي د لاش په څير ګرځيدلې و . دعالم دخولې څخه د سختې ويرې په حال دا خبره را ووتله چې «صلاح الدين ايوبي ؟»

«هو دوسته ! » هغه ته ئې ځواب ورکړ .« زه صلاح الدين ايوبي يم ، ستا شهرت مې اوريدلې و او ستا د درس اوريدو ته راغلې وم .»صلاح الدين ايوبي دخپل ملګري رېږه هم په لاس راکش کړه او هغه هم د مخ څخه جدا شوه ، هغه عالم ته وويل « دابه هم پيژنې ؟»

«ډير ښه ئې پيژنم» عالم په ناکامه لهجه ورته وويل « علي بن سفيان !»

دعلي بن سفيان په زنه يو څو ويښتان و ، عالم او نجونې يو نا څاپه د الماری په لور ولاړې او دهغې څخه ئې چاقو ډوله توري را وويستې خو کله چې بيرته را وګرځيدل نو دهغوی توري ټيټې شوی ځکه په همدې وخت کې صلاح الدين ايوبي او علي بن سفيان هم دخپلو چُوغو څخه همدا ډول توري را ويستلې وي، که څه هم نجونو ته د توري د وهلو روزنه ورکړل شوی وه خو هغوی د دوه تجربه لرونکو توري وهونکو مقابله و نه شواې کولاې، پر هغوی باندې توري کيښول شوی ، علي بن سفيان بيرون را ووت ، او د سترګو په رپ کې هغه شپږ کسان چې بيرون ولاړ و دهمدې ډول تورو سره يوځاې د کرکۍ له لارې را ننوتل.

په بله ورځ ددې مسجد تر مخه د خلکو هجوم راټول شوی و. په هغوی کې يوڅو سرکاري کسان هم و چې خلک به ئې بيا بيا د عالم هغه خونې ته وروړل چې د سيدنا عيسې او بي بي مريم انځورونه په کې را ځړول شوی و. خلکو ته د شرابو بو تلونه هم ور وښول شول هلته مؤظفو کسانو خلکو ته ددې عالم اصليت ور ښکاره کاوه او دجهاد دهغه آند په هکله ئې وضاحت کاوه چې هغه ئې خلکو ته درس ورکاوه.

*****(۷۰)

دسلطان ايوبي په لار ښونه علي بن سفيان په ټول هيواد کې د جاسوسانو يو جال و غړاوه ،ځکه دا ثابته شوی وه چې په هيواد کې او په ځانګړې توګه قاهره کې صليبيانو زيات شمير جاسوسان او تخريب کاران را ليږلې او ځاې په ځاې کړې ئې دي ، هغه تر ځمکې لاندې پروګرام چې صليبيانو د مسلمانانو د له منځه وړلو له پاره پيل کړې و هغه سلطان ايوبي ته ډير زيات د انديښنې وړ و . کله چې هغه ته علي بن سفيان دا خبر ورکړ چې د يوه جومات امام هره شپه درس ورکوي او د اسلامې افکارو او عقايد د رنګ او مفهوم دبدلولو هڅه کوي نو سلطان ايوبي سمدستي دا حکم ورکړ چې دا عالم و نيسئ ، هغه ويلي و « علي ! د مذهبونو په نوم ډلې ټپلې جوړيدل پيل شوي دي ، دا امام به هم د کومې ډلې څخه وي او دا هم کيداې شي چې هغه د قران خپل تفسير بيان کړي ، زه په مذهب کې مداخله نه کوم ، زه حاکم يم عالم نه يم خو که چېرې ته پوهيږې چې هغه کوم تخريب کار دې نو د نيولو تر مخه ئې په هکله پوره پوره مالومات تر لاسه کړه.د امام درجه زما څخه ډيره پورته ده.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي بن سفيان په خپله دې مسجد ته د درس د اوريدو له پاره نه و ورغلې ځکه هغه شکمن و چې که دا امام په ريښتيا هم ددښمن له اړخه راليږل شوی تخريب کارو ي نوو به ئې پيژني ، هغه دخپلې شبکې ډير پوه او ذهين وګړي هلته وراستولي و. هغوی لس دولس ځله هلته درس کې ګډون کړې و . او هغه درس چې هغوی اوريده نو هغه به ئې ټکي په ټکي علي بن سفيان ته اوراوه ، اخر يوه شپه دغه «صليبي» عالم د جهاد په هکله درس ورکړ. او هغه تأويل ئې وړاندې کړ چې وروسته بيا صلاح الدين ايوبي پخپله هم واوريد . کله چې دهغې د شبکې غړو دا درس علي بن سفيان ته واوراوه نوبيا په دې کې هيڅ ډول شک نه پاته کيده چې هغه جاسوس دې. علي بن سفيان سلطان ايوبي ته وويل او دا سلا ئې ورکړه چې که چېرې دا وګړې د صليبيانو جاسوس او تخريب کار نه وي هم نيول ئې اړين دي ، ځکه هغه د جهاد په هکله داسې خبرې کوي چې يوائې دښمنان ئې وړاندې کولاې شي او يا هغوی چې خپل ذهن ئې له لاسه ورکړې وي.

سلطان ايوبي دا راپور په ډير غور سره واوريده او وئې ويل چې په هر صورت دا د مذهب ، دامام او جومات معامله ده. هغه دا پريکړه و کړه چې هغه به دعلي بن سفيان سره يوځاې په مختلفې بڼې او د بڼې په بدلون سره ددې امام درس ته ورځي او اوري به ئې ، او همئته به پريکړه کوي چې دهغه اصليت او نيت څه دي ! د جهاد سره يوځاې د حيواني احساساتو يادول دسلطان ايوبي ويښتان ودرول ، هغه د علي بن سفيان سره مشوره وکړه او خپل ځانونو ته ئې داسې کالې تيار کړل چې د پيژندګلوی څخه ووت او په همغو کې جومات ته ورغلل.

علي بن سفيان دڅارکښنی د امورو ماهر و او هغه سلطان ايوبي ته د خپلې يوي بلې بريا په هکله هم ويلي و او هغه دا چې که څه هم هغه صليبي نجلۍ چې فيض الفاطمي ئې تورلاسې نيولې و او د احمدكمال تر نامه لاندې د يوه قومندان په خاطر د مسلمانيدو او د هغه سره د واده کولو هيله ئې درلوده وفات شوه ، خوهغې داسې پټ الفاظ او اشارې هغه ته ښوولې و ې چې صليبي جاسوسانو د يوه بل د پيژندلو له پاره استعمالولې ، دهغې په همدې ورښوول شوو اشارو باندې څو مسلمانان چې دصليبيانو له پاره ئې د زرو ، جواهراتو او ښايسته نجونو د ترلاسه کولو په خاطر کارکاوه هم نيول شوي و. هغوی هم علی بن سفيان ته په بندي ځاېو کې ددې خبرو تصديق کړې و چې همدا اشارې او الفا ظ استعمال شوي هم دي ، اشارې داوی چې جاسوسان چې د لمړي ځل له پاره له يوه بل سره ويني ،او يو د بل داډ ځانته ترلاسه کوي نو دهغوی څخه يو د آسمان په لور سر پورته کوي او وايي به چې « مالومه نه ده چې موسم به څه ډول وي ؟» هغه دا خبره په ډيره بې پروائې سره کوي لکه چا ته چې په ناڅاپې توکه موسم په ياد راغلې وي. بل به ووائې « باران به وريږي» نو هغه ته ځواب ورکول کيږي چې « اسمان صاف دې »نو هغه بل به ووائې چې « مونږ به وريځې را وړو » او په قهقه خندا باندې به خاندي ، ددې ډول خندا اړتيا په دې خاطر وه چې که چېرې دا خبرې بل څوک واوري او يا هغه بل سړې ددوی د ډلې څخه نه وي چې دا درک کړي چې دا خو هسې يو ټوکه وه. علي بن سفيان ته ويل شوی چې دا پټه مکالمه هغه وخت بدلون موندلاې شي چې کله دا را څرګنده شي ، بله خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې علي ته مالومه شوې وه، هغه دا چې جاسوسان يو بل ته خپل نوم نه ښئي، دهغوی مرکز د فلسطين يو ښار (شوبک) و. دا د صليبيانو د څارکښنې مرکز و.

دهمدې څرګندونو په پايلو کې سلطان ايوبي او علي بن سفيان دخپلو ځانوبڼه بدله کړه او جومات ته ولاړل، هغوی د جهاد د درس غوښتنه وکړه، نو عالم دهغوی غوښتنه پوره کړه، بيا هغوی دهغه سره يوا ځې پاته شول او دغې پټو ښبو ښبانو د عالم د راز پرده پورته کړه. هغه وروسته بيا بيان ورکړ چې هغه دومره خام جاسوس نه و چې هغه دې د پردېو خلکو تر مخ خپل ځان بربنډ کړي، هغه په هغه پټو الفاظو کې را ونښت، ځکه دا مکالمه هر يوه جاسوس ته هم مالومه نه وه. دا د جاسوسانو د لوړپوړو وګړو مکالمه ده. دهغوی څخه را ښکته هيڅ جاسوس په دې پټو الفاظو نه پوهيږي، ددې مکالمې نه وروسته د قهقه خندا په ځانګړې توګه د يادولو وړ وه ځکه دهغې پرته يو بل ته خپل راز نه شو ويلاې. سلطان ايوبي قهقه خندا وکړه، هغه د خپله ځانه سره شپږ سر تيري هم وړي و چې د اړتيا په وخت کې ئې مرسته وکولاې شي.

علي بن سفيان دا جاسوس او دهغې سره دوه نجونې په خپلې تاخانې کې ور واچولې، او د هر څه دمخه هغه سيمې ته د پلټنې له پاره ولاړتر څو پيدا کړي چې دې وګړي په دې جومات څنګه ولکه و موندله، او ددې دمخه چې هغه په کومه جونپړۍ کې اوسيده، هغه ورته چا ورکړې وه. دهغې ځاې مختلفو خلکو چې کوم بيانونه ورکړل دهغې څخه دا ډاګيزه شوه چې دا شخص د خپلو دوو ښځو سره يو ځاې دلته راغلې و، لمړې د يوه سړې په کور کې ميلمه شو، خوکله چې خلکو و کتل چې دا خو عالم فاضل انسان دې نو هغوی ورته خپله جونپړه ورکړه، دلته په دې جومات کې د ډيرې مودې را هيسې يو امام اوسيده، او دې به هم هلته دلمانځه له پاره و رته، دا شخص دهغه امام مريد و ګرځيد، پنځلس شپاړس ورځې وروسته دهغه امام په ګيډه او کلمو کې درد پيدا شو، د هغه دا درد دومره په توندۍ سره ډيرښت وموند چې درې ورځې وروسته امام بيا جومات ته د راتلو څخه ووت، حکيمان او طبيبان دهغه کور ته ورغلل اوهر ډول دوائيانې ئې ورکړې خو په هماغه درېيمه ورځ هغه ومړ. دهغې وروسته دې عالم دخلکو سره خبرې وکړې او جومات ئې په خپله ولکه کې واخست. هغه په خلکو کې دومره اغيز پيدا کړ چې خلک دهغه منونکې شول او هغه ته ئې د هغه د اړتياو په مطابق کور ورکړ.

د علي بن سفيان د پوښتنې په اساس خلکو هغه ته وويل چې هغه څو څو ځله هغه پخوانې امام ته غذا له ځانه سره راوړله، علي بن سفيان وپوهيده چې هغه امام ته دې سړې زهر ورکړې دي، او هغه ئې دخپلې مخې څخه لرې کړې او په مسجد ئې ولکه پيدا کړې ده. ددې جاسوس دکور د تالاشۍ په وخت کې زيات شمير وسلې چې په مختلفو ځايو کې ئې پټې کړې وې، تر لاسه شوې. دهغه له کوره د زهرو يو بوتل هم وموندل شو. دوی هغه زهر يوه سپي ته ور واچول نو هغه سپي هم درې ورځې ناقراره وه او په درېيمه ورځ له منځه ولاړ.

علي بن سفيان خپلې پلټنې د سلطان ايوبي تر مخ کيښولې، نو سلطان ورته وويلې چې « درې واړه بې خوبه کړئ او ښه ئې وويروئ، خو زه به هغوی جلاد ته ورحواله نه کړم، او په بند کې به ئې هم تر ډيره و نه ساتم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«بیا به نو ته څه پرې وکړې؟»علي بن سفیان ترې و پوښتل.

«زه به هغوی په پوره عزت سره بیرته واستوم .»علي بن سفیان په ډیره حیرانتیا سره د سلطان ایوبي خولې ته کتل ، سلطان ایوبي ورته وویل «زه غواړم یوه جواري وکړم ، علي ! اوس زما نه څه مه پوښته ، زه فکر کوم چې دا لوبه و لوبوم او که نه .» هغه د لرې وقفې وروسته وویل : سبا د ماسپښین د ډوډۍ وروسته نائب سالاران ، سلاکاران ، او د لوړپوړو چاروا کو دهرې خانګې څخه یو یو کس زما ځاې ته له ځانه سره راوړه ،خو ستا شتون ډیر زیات اړین دې»

*****(۷۱)

علي بن سفیان په دې شپه د لمرې ځل له پاره ددې عالم څخه پوښتنې ګرویزنې کړې وی ،خوهغه ډیر سخت انسان وخوت ، هغه وویل « علي بن سفیانه ! زما خبره په غور او دقت سره واوره ، مونږ دواړه د یوه ډګر سپاهیان یو. که چېرې ته زما په هیواد کې کله و نیول شې نو ته به یوه شې چې خپل هیواد او خپل ولس ته دوکه نه ورکوی.؟ته زما څخه هم هماسې هیله و لره ، ماته مالومه ده چې زما انجام به څه ډول وي ؟ که چېرې زه هغه ټولې خبرې هم تاته ووایم چې ته ئې له ماڅخه پوښتې ، نو بیا به هم تاسې ما و نه بښې ، زه به په همدې تاخانې کې مرم ،دا که د جلاد په لاسو وې او یا د کوم سخت اذیت لمخې ، نو بیا به زه ولې خپل قوم او ولس ته دوکه ورکوم ؟»

« زه هیله لرم چې ته به خپله اراده بدله کړې.» علي بن سفیان ورته وویل « ایا ته دهغه دوو نجونو د عزت د خوندې ساتلو غوښتونکې نه ئې او هغه څه چې زه ئې وپوښتم ته ئې ځواب راکړې ؟»

« څه ډول عزت ؟» هغه ځواب ورکړ. « دهغوی سره یواځې ښایست او ناز و نخرې پاته دې او یا هغه استاذې ورسره ده چې دهغې له مخې هغوی تیرې هم ویلې کولې شې. هغوی سره د عزت تر نامه لاندې څه شې شته نه دې. هغوی ته همدا ورزده کول کیږی چې دخپل عزت نه لاس په سر شئ ، مونږ خپل ځان او عزت ډیر لرې غورځوو اوبیا راځو ، تاسو چې دهغه نجونو سره څه ډول سلوک کول غواړئ وئې کړئ ، هغوی زما تر مخه ذلیله کړئ ، بیا به هم زه تاسې ته څه و نه وایم ،او نجونې به هم تاسې ته څه و نه وائې.»

« مونږ جاسوسو نجونو ته د مرګ سزا ورکوو خو هغوی ذلیله کوو نه ،»علي بن سفیان ورته وویلې ، « زمونږ مذهب ښځو ته دا ذیت د ورکولو اجازه نه ورکوي»

«زما دوسته !» جاسوس ورته وویلې « که ته د مینې حربه استعمال کړې او که د اذیت حربه ، خو زمونږ څخه یو به هم خپل هغه ملګرې ، چې ستاسې د سلطنت دجرړو په پرې کولو لګیا دې ، تاسې ته په نښه نه کړو .تاسې د نجونو سره د ښه سلوک وعده کړې ده دهغې په بدل کې زه تاته همدومره ویلاې شم چې دا زما او ستا شخصې جنګ نه دې ، د ا د صلیب او ستوري او سپوږمۍ تر منځ جنګ دې. زه د هغه مامولې جاسوسانو له ډلې څخه نه یم ، چې دهغه ځاې خبرونه دلته وړې راوړي ، او ستاسې د راتلونکو پروګرامونو په هکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالومات تر لاسه کوي. په دې ځانګه کې زه تر ټولو لوړ پوړ لرم، زه عالم یم دخپل مذهب مطالعه مې هم همدومره ژوره کړې ده لکه څومره مې چې ستاسې دمذهب کړې ده. د قران او انجیل ژورتیا ته مې ځان رسولې دې، زه اقرار کوم چې ستاسې مذهب ساده او غوره دې. دا د هر انسان مذهب دې ځکه په دې کې کوم پیچ وتاو او ښکته پورته نه شته.او د مقبولیت علت ئې هم همدا دې، خو زه تاته دا هم ویل غواړم چې ستاسې دښمنانو ستاسې د مذهب اصلیت له منځه وړې دې ،تر څو دهغې مقبولیت له منځه ولاړ شي. یهودیانو دمسلمانو علماو په لباس کې په هغې کې بې بنسټه روایات ورګډ کړي دي، اسلام د توهماتو خلاف و خو په دې وخت کې تر ټولو زیات توهم پالونکې قوم د مسلمانانو قوم دې، ما د لمر او سپوږمې د کسوف و خسوف په وخت کې کتلي چې مسلمانانو نذراني ورکولې او سجدې ئې کولې، او په دې ډول نور ډیر بدعتونه ستاسې په مذهب کې ور شامل کړل شویدي......

«مونږ د ډیرې اوږدې زمانې څخه ستاسې د نظریاتود اصل په اړولو کې مشغول یو، ځکه مونږ پو هیږو چې به نړۍ کې یواځې دوه مذهبه پاته کیږي، یو عیسایت او بل اسلام. او دا دواړه به تر هغې پورې په خپلمنځې شخړو کې را ښتي وي تر څو چې ددواړو څخه یو له منځه ولاړ نشي. هیڅ مذهب د تورو او غشو په واسطه له منځه نه شي تللې، او نه کوم مذهب دتبلیغ په واسطه له منځه تللای شي، ددې همدا یوه لاره ده چې ما خپله کړې ده. زه تاته دا وایم چې په دې کارونو کې زه یواځې نه یم، پوره یو ډلې ستاسې په نظریاتو باندې یرغل کړې دې.»

علي بن سفیان د هغه تر مخه ولاړ و او د هغه خبرې ئې په پوره غور سره اوریدلې، هغه ددې عالم جاسوس په پښو کې بیړۍ او په لاسو کې ځولنې ور اچولې وې، دهغه اراده خو داوه چې دا جاسوس هم د نورو جاسوسانو په څیر د اذیت د داسې مراحلو څخه تیر کړي چې بلاخره خپل رازونه ټول را وسپړي، خو هغه د قیدخانې یو ملازم را وباله، او دهغه بیړۍ او ځولنې ئې ترې پرانستې ،هغه ته ئې ډوډۍ او اوبه راوغوښتلې، هغه ورته وویل «زما دې سلوک ته د شک په سترګه مه ګوره، مونږ د عالمانو درنښت کوو، که هغه دهر مذهب څخه وي، زه به له تاڅخه هیڅ هم و نه پوښتم، هر څه دې چې خوښه وي او ویل ئې غواړې وئې ویه.»

«اوزه ستا قدر کوم علي!» جاسوس عالم ورته وویلې، « ما ستا ډیره ستاینه اوریدلې ده، په تاکې دخپل فن او هنر کمال هم شته او جذبه او حرارت هم. ستا له پاره به ددې نه نور ستر اعزاز څه وي چې صلیبي پادشاه غواړي تا ووژني، ددې مطلب دادې چې ته دصلاح الدین ایوبي او نورالدین زنګي سره یو شان قیمت لرې.... زه تاته وایم چې ما دخپل علم په واسطه دا تر لاسه کړي دي چې د یوه قوم تهذیب او تمدن او مذهب ورخراب کړه نوبیا د فوځ حملې ته اړتیا اوجنګ و جګړې ته توبت نه رسیږي، که غواړئ چې کوم قوم له منځه یوسئ نو په هغوی کې د جنسي احساساتو اور تازه کړئ، که داڅ دې نه راځې نو دخپلو مسلمانو حکمرانانو حال مو ووینئ، ستاسې رسول ص ویلې دې چې نفس ووژنئ چې همدا د تباهۍ جرړه ده. ستاسې قوم تر کومه ځایه په دې وینا باندې عمل کړې دې. د رسول ص ترژوندانه پورې یهودیانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو ښايسته‌و نجونو په‌واسطه ستاسې قوم په‌غلطو لارو روان کړ. نن ستاسې قوم‌د نفس غلام ګرځيدلې دې ، ستاسې ښځه‌د هرېوه‌لاس‌ته چې مال او دولت راځي نو هغه د هر څه‌دمخه خپل حرم سراې‌د ښځو او نجونو ښځه‌ډکوي ، هر مسلمان ، که‌څه هم غريب‌وي خو ځلور ښځې له ځانه سره ساتل غواړي، يهودېانو د مولويانو په‌لباسو کې ستاسو په‌آند کې جنسيت وراچولې دې که چېرې مسلمان‌دخپل رسول په لارښونو باندې عمل کونکې اوسي نو زه دا په ډاډمنه توګه‌ويلاې شم چې نن به‌ددنيا د ځلور ځخه درې برخې مسلمانان وو ، خو اوس حال دادې چې د ځلورو ځخه درې برخې مسلمانان يواځې په‌نوم مسلمانان دي ، اوستاسې سلطنت ورځ په‌ورځ را غونډيږي او رژيږي ، ته‌نه‌پو هيږې چې‌دا دهمغې حملې بايلې دي چې‌زما په‌خير عالمانو ستاسو په‌مذهب ، تهذيب او تمدن باندې کړې‌ده.

«زما دوسته ، دا حملې به‌رواني‌وي ، زه وړاند وينه کولاې شم چې‌يوه ورځ به‌اسلام‌په‌دې‌دنيا کې‌نه‌وي ، او که‌وي‌هم ، نو د يوې له منځه‌تللې او خرابې نظرئې په شکل کې به‌وي. پيروان به‌ئې په جنسي لذتونوکې مست‌وي ، هرڅوک صلاح الدين ايوبي او نور الدين زنګي نه شي کيدلاې ، هغوی به‌نن سبا لکه‌د نورو په ځير له دې نړۍ ځخه سترګې پټوي ، خو دهغوی وروسته چې څوک را ځي هغه به‌مونږ په‌نفس پالنۍ کې ککړو ، ما به ووژنۍ خو زما مهم نه شئ وژلاې، د انسانانو د وژلو په‌واسطه مقاصد له‌منځه‌نه‌ځي ، زماپر ځاې‌به بل څوک را شي ، مونږ اسلام‌يا ختموو او يا ئې‌خپل غلام‌ګرځوو ،...که‌ته‌غواړې‌ما جلاد ته‌ورحواله کوي‌نوکولې‌مې‌شې ، زه‌نور څه‌درته نه‌وايم.»

علي‌بن سفيان دهغه‌ځخه نور هيڅ‌هم و نه‌پوښتل ، هغه‌شايدد‌خپلې‌دندې‌په فکر کې‌وه چې ځومره سخته‌او ځومره نازکه ده ،دغه‌صليبي تخريب‌کار چې څه‌وويل ټول ريښتيا و . هغه کتل چې په قوم کې د اخلاقي تباهيو جراثيم را خواره شوی دې ،د عربو امران او وزيران په مکمله‌توګه ددغه جراثيمو په واسطه تباه شوي دې ، صلاح الدين ايوبي د جنګ په‌ډګر کې‌صليبيانو ته‌ماتې‌ورکړه او د اسلامې سلطنت دپراخولو په خوبونو کې‌ډوب دې خو صليبيانو دداسې اړخ ځخه يرغل راوستې چې دهغه‌مخه‌نيول د سلطان ايوبي د وس نه‌وتلې‌خبره ده.... علي‌بن سفيان دا عالم جاسوس په خونه‌کې بند کړ او دهغو خونو ترمخ و دريد چې نجونې‌په‌کې قيد وي ، هغه‌يوه خونه‌پرانسته او دننه‌ورننوت ، نجلۍ په‌فرش ناسته وه، دده په کتلو سره را پورته‌شوه، علي هغې‌ته‌وکتل ، او د څه‌ويلو پرته ترې‌بيرون ووت.

*****(۷۲)

بله‌ورځ د غرمي د ډوډۍ د خوړلو وروسته د فوځ او انتظاميې ټول مهم مسؤلين په‌هغه‌خونه کې سره راټول شوي‌و چېرې چې صلاح الدين ايوبي هغوی ته‌احکامات ورکول اولارښووني ئې‌ورته‌کولې ، هغوی‌ټولو ته دا مالومه شوی وه چې يو جاسوس ددوه نجونو سره نيول شوی دې. هغوی په خپلو منځو کې په همدې موضوع خبرې اترې‌کولې ، سلطان ايوبي راغې او ټول ئې داسې‌ژور له سترګو تيرکړل لکه‌څوک چې د چا تالاشي اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«زما درنو ملګرو !» هغه وویل « تاسې به اوریدلې وي چې مونږ په یوه جومات کې یو صلیبي نیولې دې چې هلته ئې د هغه ځاې د اوسیدونکو خلکو امامت کاوه ، » هغه په تفصیل سره وویل چې هغه په څه ډول او څنګه و نیول شو او بیا ئې ټولې هغه خبرې واورلې چې هغه جاسوس علي بن سفیان ته په بندي خانې کې کړې وی. علي بن سفیان دا ټولې خبرې سلطان اویوبي ته رسولې وی.

صلاح الدین ایوبي وویل « ما تاسې د لته د نصیحت داوریدلو له پاره نه یاست را بللي ، چې در ته ووایم چې د جاسوسانو او تخریب کارانو څخه ځانونه په څنګ کړئ، زه تاسو ته دا هم نه وایم چې د اسلام ددښمنانو سره دوستي کونکي دوزخ ته ځي ، زه یواځې دا ویل غواړم چې د کفارو سره دوستي کونکې ته به دا ځاې دوزخ وګرځول شي ، زه اوس هیڅ غدار ته د مرګ سزا نه ورکوم ، مرګ دخلاصون لار ده ، ما اوس د یوه غدار له پاره دا سزا ټاکلې ده چې دهغه په غاړه کې به رسۍ اچوو اویوه تخته دهغه مخته او یوه شاته ننبلوو او هره ورځ ئې په بازارونو کې ګرځوو او په چوکونو کې ئې دروو چې په تختیو به لیکل شوې وي« زه غدار یم » ، هغه به هره ورځ سهار اوماښام په همداسې ځاېو کې درول کیږي تر څو هغه د لوږې او تندې له لاسه پخپله و مري او دهغه لاش د ښاره بیرون و غورځول شي. دهغه خپلوانو ته به ددې اجازه نه وي چې د هغه جنازه وکړي او یا ئې خاورو ته و سپاري.....

«خو زما خوږو دوستانو ! زمونږ ددې کار څخه دښمن ته کوم زیان نه رسیږي ، هغوی به یو بل غدار را پیدا کوي. تر هغې چې د هغوی سره د ښځو د بی حیائې او زر و جواهرات په زیاته پیمانه شتون ولري او زمونږ سره د ایمان کمښت وي نو هغوی به زمونږ په منځ کې غداران اخلي ، ایا دا ستاسې دغیرت له پاره چېلنج نه دې؟ چې ستاسې دښمن ستاسې په جومات کې ناست وي ستاسې قران په لاسو کې اخلي او ستاسې د رسول ص فرمان مسخ کوي ؟ په دې اړخ هم غور وکړئ چې هغه نجونې چې صلیبیان د څارکښۍ او زمونږ د ولس د کرچار د خرابولو له پاره را لیږي نو دهغوی له ډلې څخه ډیری ئې د مسلمانانو لوڼې دي ، دا هغه نجونې دي چې کفارو دمسلمانانو دقافلو څخه تښتولي دي او بیا ئې ورته د بدکارۍ د شرمناکه روزنې ورکولو ورسته د جاسوسۍ له پاره را لیږلې دي ، فلسطین د کفارو په ولکه کې دې ، هلته چې په مسلمانانو کوم تیرې او ظلم کیږي ، هغه په لنډه توګه دادې چې صلیبیان دهغوی کورونه لوټوي ، که چېرې هغوی شکایت وکړي نو په بندیخانو کې ئې اچوي ، د هغوی تنکي بچیان د هغوی څخه اخلي او پټوي ئې ، په دې کوچنیانو کې چې کوم یو ئې ډیر ښایسته او په زړه پورې وي دهغوی د ذهنونو څخه د قومیت او مذهب فکر باسي ، او هغوی ته دبې حیائې درس او روزنه ورکوي تر څو پرې د نارینه و څخه د خپلو موخو د پوره کولو له پاره کار واخلي. هغوی د مسلمانانو سیمو ته د څارکښۍ او تخریب کارۍ له پاره استوي ، په دې ډلو کې دهغوی خپلې نجونې هم وي . چې په کې د حیا ، حجاب اوعصمت هیڅ ارزښت نه وي ، هغوی د مسلمانانو لوڼې هم د فحاشت او بدکارۍ له پاره استعمالوي.....

«دهغه وخته راهیسې چې هغوی په فلسطین ولکه کړې ده او تر ټولو ستر انقلاب ئې چې هلته راوستې هغه دادې چې هغوی په مسلمانانو باندې د ژوند ساحه را تنګه کړې ده ، هغوی ئې په عامه توګه ووژل ،دهغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورونه ئې تالا کړل ،د هغوی د جوماتونو څخه ئې گرجی،دعیساییانو عبادت ځایونه او د آسونو د تبیلو ځایونه جوړ کړل ، دمسلمانانو نجونې ئې و تښتولې او هغوی ئې په قحبه ځایو او فحش ځایو کې کېنولی ، هغوی چې ډېرې ښایسته وی هغوی ئې د تخریب کارۍ او بدکارۍ له پاره وروزلې او زمونږ د امیرانو او وزیرانو په قصرونو کې ئې را ننویستلې ، اوهم زمونږ پر خلاف ئې استعمال کړې. هغوی دمسلمانو کورنیو دکوچنیانو په غاړو کې صلیب را ځوړند کړ. هغه مسلمانان چې د فلسطین څخه را و تښتیدل او زمونږ خواته د پنا اخستلو په خاطر جوپې جوپې راتلل هغوی ئې په لارو کې شهیدا ن کړل ، په لویو لارو ئې زمونږ د لوڼو او خویندوعزت واخست.

زما د کلیمې ورنو ! دا لړۍ پای ته نه ده رسیدلې ، اوس هم روانه ده ، دصلیبیانو موخې دادي چې د اسلام کوم نوم اخستونکې پاته نه شي. اومسلمانې نجونې عیسائې نسل و زیږوي ، پرمونږ تولو الله ج لعنت وائي، چې مونږ خپل هغه مسلمان ورونه او د هغوی کوچنیان له یاده و کاږو چې همدا اوس د ذلت او مظلومیت شپې او ورځې تیروي . ددې نه ستره گناه به نوره څه وي چې مونږ هغه شهیدان هم له یاده و باسو چې د صلیبیانو د بربریت ښکار گرځیدلي دي..... زه تاسې ته د کوم حکم د کولو نه د مخه ستاسې څخه پوښتم چې ددې حالاتو په وړاندې مونږ څه ډول دریځ باید غوره کړو ، ستاسې تر منځ تجربه لرونکي فوځیان هم شته او دانتظامیې حاکمان هم.»

یو عمر خوړلې قومندان پورته شو او وئې ویل « د مصر امیره ! مونږ ته به ستا د حکم اړتیا څه وي ، دا خو د الله ج حکم دې چې که ستاسې په گاونډ کې په مسلمانانو باندې ظلم او تیرې کیږی او دهغې ځای مسلمانان د الله ج د مرستې له پاره چغې وهي نو دا پر مونږ فرض گرځي چې په هغه هیواد باندې یرغل یوسو او خپلو مسلمانو ورونو ته دهغوی د تیرې څخه نجات ورکړو ، مونږ ته په کاردي چې په فلسطین باندې فوځي برید وکړو.»

د نائب سالارۍ د رتبې خاوند یو کس پورته شو او په ډېرې جذبې سره ئې وویل «پر کفارو د فوځي برید تر مخه د هغه مسلمانو امراو او حاکمانو پر خلاف فوځي برید کول اړین دي چې په پټه د کفارو لاس ور ټینگوي ، دا مونږ ته ډیره د شرم خبره ده چې زمونږ په لیکو کې غداران هم شتون لري ، د فیض الفاطمی د مرتبې سړې هم غدار کیدای شي نو بیا خو په ورو خلکو باندې څه باور. د یوه مسلمانې لور د عزت د تویولو د بدلې په خاطر که ټول قوم له منځه ولاړ شي بیا هم لږ دي. خو دلته اوس زمونږ د مکمل نسل ابرو تویږي ، او مونږ په دې فکر کوو چې مونږ ته څه کول په کار دي. صلیبیانو زمونږ کوچنیان د بدکارۍ له پاره تیارکړې ، او پخپله پر مونږ د هغوی سره بدکاري کوي. دروندہ امیره ! که زه ډیر جذباتي شوی نه وم نو زه دوړاندېز کولو اجازه غواړم چې مونږ ته د فلسطین ولکه کول اړین دي ،ځکه چې صلیبیانو زمونږ لمړنۍ قبله اوس د بدکارۍ مرکز گرځولې دي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو بل کس را پورته شو خو سلطان ايوبي هغه د لاس په اشارې سره بيرته کينوه ، او وئې ويل « ما غوښتل همداسې واورم ، ستاسې څخه چې څوک ماته نژدې اوسيږي هغوی په دې خبر دي چې زما لمړی هدف فلسطين دې. ما د مصر د امارت د دندې د سنبالولو سره سم په فلسطين بريد کول غوښتل ، خو اوس ددوه کالو څخه ډيره موده تيريږي چې ايمان پلورونکو زه په مصر کې داسې مشغول کړې يم لکه زه چې په کوم دلدل کې را ننبتې اوسم. لږ څه په دې تيرو دوو کالو باندې غور و فکر وکړئ نو درته په ډاګه به شي چې تاسو همدلته د صليبي تخريب کارانو په خلاف په جګړه کې را ننبتي ياست ، زمونږ پر خلاف د سوډانيانو را پارول هم زمونږ دخلکو څخه و ، د سوډاني حبشيانو له لورې په مصر باندې د يرغل کولو له پاره پارونکې خلک هم زمونږ سالاران او قومندانان و او دهمدې قومي خزانې څخه ئې ، چې د ولس پيسې په کې دي او د الله ج په نوم ذکات په کې را ټول شوی ، تنخوا ګانې اخستلې ، ما په دې هيله دا دوه کاله تيرکړل چې زه جاسوسان ، هغوی ته پناه ورکونکي او دهغوی ملاتړ کونکي او ايمان پلورونکي له منځه يوسم او په فلسطين باندې په ډاډمنه توګه بريد وکولای شم. خو زه دې پايلو ته ورسيدم چې د تخريب کارۍ دا لړۍ له منځه تلونکې نه ده ، مونږ بايد هغه چينه بنده کړو چې د اسلام دښمني خړوبه وي او نوي نوي را ټوکوي ، مونږ په خپله صليبانو ته دا فرصت ورکوو چې هغوی دې زمونږ په ليکو کې غداران را پيدا کړي......

«ما تاسې نن دلته په دې خاطر را بللي ياست چې زه اوس پر فلسطين په بريد کولو کې ډير ځنډ نه شم کولی ، د فوځ جنګي تمرينات او روزنه زياته کړئ ، مجاهدينو ته د اوږدې محاصرې روزنه ورکړئ ، زه په ترکانو او شامي عسکرو باندې پوره باور لرم ، په مصريانو او وفاداره سوډانيانو کې جذبه نوره کلکولو ته اړتيا ده ، دهغوی په زړنو کې ددښمن پر خلاف قهر او غضب را وپاروئ ، اودا کار په هغه وخت کې شونې دې چې په هغوی کې غيرت را پيدا کړئ ، اوهغوی ته ووایاست چې دا همستاسې لوڼې او خويندې دي چې د صليب ښکار ګرځيدلي دي ،... دلته چې د انتظامی امورو کوم وګړي شتون لري دهغوی دنده او مسؤليت دادې چې هغوی د جوماتونو امامانو ته ووائې چې خلکو ته د جهاد اهميت اوفرضيت و ښئی، او په نوي را ځوان شوو هلکانو کې د عسکري روزنې له پاره فکر را پيدا کړي ، هر هغه امام يا خطيب چې اسلامي نظريات په غلطه توګه دخلکو ترمخ ږدي ، سمدستي ئې له امامته ګوښه کړئ ، که چيرې کړچار صحيح وي نو هيڅ ډول هڅې به څوک بې لارې نه کړي ، ذهنونه فارغ مه پريږدئ ، پرانستې ئې مه پريږدئ ، او که نه دښمن به ئې استعمالوي ،... د فوځونو د کوچ احکامات به تاسې ته ډير ژر در ورسيږي. الله ج دې ستاسې حامي او ناصر وي.»

*****(۷۳)

اوه ورځې تيرې شوی-

جاسوس عالم او دغه دوه نجونې سلطان ايوبي ځانته د کتلو له پاره وروبللې ، کله ئې چې هغوی را وستلې نو سلطان ايوبي ورته وويل چې دوی په هغه بله خونه کې کينوئ، دهغوی په پښو کې بيړی او په لاسونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنځيرونه وو. په هغه خونه کې ئې چې هغوی کينول هغه د سلطان ايوبي دځانګړې خونې سره نښتې وه ، ددې دواړو خونو ترمنځ يوه دروازه وه ، ددروازې يوه دړه پرانستې وه ، سلطان ايوبي په خپله خونه کې ګرځيده ،او په دې ګرځيدو ګرځيدو کې وويل ،« ماپه (کرک) باندې د سمدستي بريد پرکړه کړې ده»

(کرک) په فلسطين کې دېوې کلا په څير سيمه وه، هلته مشهوره سيمه (شوبک) نوميده ، دا هم يوه ډيره مستحکمه کلا وه ، (شوبک) د صليبيانو مرکز و ، صليبي پادشاه او دهغه قومندانان به ډير وخت هملته په (شوبک) کې سره را ټوليدل ، دا د صليبيانو د څارکښې مرکز هم و ، او په همدې ځانګه کې به خلکو ته روزنه ورکول کيده. دسلطان ايوبي په فوځ کې او د هغه په انتظاميه کې دا په ډاډ سره ويل کيده چې سلطان ايوبي به تر ټولو دمخه په (شوبک) باندې بريد کوي. ځکه همغه ځاې د ډير اهميت وړ ښکاريده ، او دا ويل کيده چې که چېرې دا ټينګه کلا ووهل شي نو بيا د صليبيانو دملا تير له منځه ځي. خو سلطان ايوبي به ويل چې زه لمړی په (کرک) بريد کوم ، داځاې د (شوبک) نه وروسته ددويم اهميت وړ ځاې ګڼل کيده ، يو نائب سالار ورته وويل « درونده اميره ! ستا حکم د سر په سترګو ، خو زما ناقصه رايه داده چې لمړی په (شوبک) باندې بايد بريد وکړل شي. ددښمن مرکزي قومنده له منځه وړل تر هر څه اړين دي. که مونږ (شوبک) په ولکه کې راوست ،نو بيا خو د (کرک) ولکه کول ګران کار نه دي. او که چېرې مونږ خپل توان په (کرک) باندې ضايع کړو نو بيا به د (شوبک) ولکه کول شوني نه وي»

په هغه بله خونه کې دا جاسوسان ناست و ، دروازه هم نيمائې پرانستې وه ، دسلطان ايوبي د خوني خبرې دلته ډيرې پاکې اوريدل کيدې ، دعالم جاسوس غوږونه و دريدل ، هغه سوکه سوکه دروازې ته ورنژدې شو ،په همدې وخت کې سلطان ايوبي ويل« زه غواړم چې درجه په درجه وړاندې ولاړ شم ، (کرک) د (شوبک) په نسبت تر ټولو اسانه ښکار دي ، زه غواړم په هغې ځاې کې د ولکې وروسته خپله نظامي هډه جوړه کړم ، مرسته را غواړم او فوځ ته د څه مودې د ارام وروسته په پوره چمتوالي سره په (شوبک) دبريد حکم کوم ، زمونږ د جاسوسانو په مطابق ددې سيمې دفاع دومره ټينګه ده چې مونږ بايد هغه ځاې تر اوږدې محاصرې پورې له ځانه سره و ساتو . زما له آنده په (کرک) به زمونږ ډير ځواک ضايع نه شي ، مونږ ته تر ټولو لمړی هلته يوه نظامي هډه او عسکري تمځاې ته اړتيا ده ، او د لوژيستکې موادو د رارسيدلو داسې ځاې چې دهغې ځايه مونږ ته سمدستي مرسته را ورسيږي.

عالم جاسوس د دروازې تر څنګ ناست و او خبرې ئې اوريدلې. دواړه نجونې ئې هم تر څنګ ناستې وې ، علي بن سفيان هم ددې راز په اوريدو څه توجه ونه کړه ، شونې وه چې سلطان ايوبي او علي بن سفيان په دې خاطر احتياط نه وي کړې چې جاسوسان بيرته (شوبک) ته تللاې نه شي ځکه هغوی په عمري بند محکوميږی او يا به ئې جلاد سرونه پرې کوي ،

عالم جاسوس نجونو ته په غوږو کې وويل «کاش زمونږ څخه کوم يو ددې ځاې څخه وتلې شواې،اودصلاح الدين ايوبي ددې ارادې او پلان اطلاع مو (شوبک) او (کرک) ته ور رسولې واې ، دا څومره ارزښتناکه راز

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ، که چېرې دا راز دمخه هلته ور ورسيږي نو د مسلمانانو فوځ به(کرک) ته د ورسيدو دمخه په لارو کې د جنګ جګړو په واسطه له منځه ولاړ شي او دهغوی يرغل به د(کرک) څخه ډېر لرې د ماتې سره مخ شي او حالات به بدلون و مومي.

«مونږ بايد دا هر څه په پوره راز سره عملي کړو »سلطان ايوبي په خونه کې د ګرځيدو په وخت کې وويل « که چېرې صليبيانو ته زمونږ د حملې خبر دوخته مخته ور ورسيږي نوبيا خو مونږ (کرک) ته نه شو ورسيدلای ، هغوی به مونږ په لاره کې مصروف کړي ، او زمونږ له پاره دا خورا خطرناکه ده ځکه زمونږ فوځ د صليبيانو د فوځ څخه ډير کم دي. دصليبيانو د سپرو نه علاوه دهغوی آسونه او وسلې هم زمونږه څخه ډيرې ښې دي ، هغوی د اوسپنې خولۍ او اوسپنيز واسکټونه لري اوپه ځان زره هم را اچوي ، دهغوی دهمدې تاکتيک په واسطه زمونږ غشي ويشتونکي بيکاره شوي دي ، زه غواړم چې صليبيان په بې خبرۍ کې را ګير کړم تر څو هغوی ته په پراخه ډګر کې دجګړې کولو موقع په لاس ور نشي، که چېرې هغوی په پراخه ډګر کې و جنګيږي نو زمونږ تر شا به زمونږ د موادو د را رسيدو لارې پر مونږ و تړي ، اوپايلې به ئې ماتې او په شا تګ نه اخوا نور څه نه وي. زه به هماغه لاره خپلوم ، چې د جاريب د غونډيو څخه تيريږي ، دا ډيره ستره او پراخه سيمه ده ، خو ماته يواځې دا خطر تر سترګو کيږي چې که چېرې صليبيان په لاره کې راشي او وجنګيږي نو بيا بايد مونږ د ماتې له پاره چمتو و اوسو .»

« ددې علاج دادې چې فوځ په درې ځلورو برخو باندې وويشل شي او د شپې له اړخه کوچ وکړل شي ، د ورځې له اړخه کوم خوزښت ونه شي.» علي بن سفيان ورته وويل « په لاره کې چې هر چېرې کوم ا جنبي انسان يا قافله تر سترګو شي هغوی له ځانه سره وساتۍ او (کرک) ته تر رسيدو پورې ئې له ځانه سره ملګري کړئ، د څارکښنې پر خلاف همداسې اقدام مناسب ګڼل کيږي.»

په دغه وخت کې چې جاسوس عالم او دې دواړو نجونو د سلطان ايوبي د خولې څخه دومره مهمې او ارزښتناکه مالوماتي خبرې اوريدلې نو هلته د(شوبک) په کلا کې د صليبيانو د مهمو شخصيتونو او قومندانانو ترمنځ يو کانفرنس جوړ شوی و ، هغوی اندېښمن و دهغوی ترمنځ د حاتم الاکبر په نامه يو مصري مسلمان هم ناست و ، هغه ته دا خبرونه په تفصيل سره اورول شوي و چې خليفه العاضد د ګوښه کيدو نه وروسته مړ شوی دې. اومصر اوس د بغداد دخليفه تر نيغې ولکې لاندې اداره کيږي. دصليبيانو وفاداره نائب سالار رحب هم په پټه توګه له منځه تللي دي ، او هغه درې نجونې چې هغه له شوبکه وړې وې هغوی هم له منځه تللي دي ، اودصليبيانو يو بل وفادار مسلمان فوځي حاکم فيض الفاطمي هم د جلاد په لاسو مړ شوی دې ، اوس نو حاتم الاکبر هغوی ته دا بل بد خبر اوراوه ، چې هغه جاسوس عالم چې ددوو نجونو سره قاهرې ته استول شوی و هغه په همغه وخت کې د نجونو سره يوځای و نيول شو چې خپله دنده ئې په بريالیتوب سره تر سره کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«دا ددې خبرې ثبوت دې چې د سلطان ايوبي د ځارکښنې نظام ډېر هوښيار او فعاله دې»کونارډ ورته وويلې ،«کونارډ د صليبيانو يو مشهور حکمران او فوځي قومندان و ، هغه وويلې: دهغه ځاېه دهغو نجونو ازادول خو شوني نه دي ، ډيرې ښې او دکار نجونې زمونږ له لاسو ضايع کيږې.»

« دصليب په خاطر به مونږ دا ډول قرباني ورکولو ته اړيو .» د صليبيانو يو بل پادشاه او فوځي قومندان «ګی اف لوزينان» ، ووېل ،« مونږ به هم مړه کيږو ، زمونږ کوم کسان چې نيول شوی دي هغوی له ياده وباسئ اودهغوی پر ځاې نور خلک ور واستوئ ، دا دوه نجونې مو له کومه را وړې وی ؟» هغه وپوښتل « او درې نورې انجونې څوک وی چې درجب سره ووژل شوی ؟»

« په هغوی کې دوه عيساياني وی» دهغوی د جاسوسی شبکې مشر ځواب ورکړ.«دواړه ايټالوياني وی ، او درې مسلماني وی ، هغوی په کوچنی والي کې را تښتول شوي وې، ډيرې ښکلې وی او د ځوانی تر وخته پورې هغوی ته په ياد نه و چې هغوی مسلماني وی ، هغوی ته د کوچنيوالي څخه په دې فن کې روزنه ورکړل شوی وه، په دې اساس داشک پرې نه شي کيداې چې هغوی مسلماني وی او له مونږه سره به ئې دوکه کړې وي.»

« څه پرې که مسلماني هم وی ؟» کونارډ وويل او د حاتم الاکبر په لورې ئې په اشارې کولو سره وويل « زمونږ ګران دوست حاتم هم مسلمان دې ، ايا هغه ته دخپل مذهب خيال نه شته ؟» هغه د شرابو ګيلاس د حاتم په لاسو کې ورکړ او ورته ئې وويلې « حاتم پوهيږې چې صلاح الدين ايوبي غواړې مصر د غلامۍ په زنځيرونو کې را ونغاړي ، او هغه د اسلام په نوم دا لوبه پيل کړې. مونږ ته په کار دي چې مصر دهغه له لاسو ازاد کړو او هغه لاره داده چې صلاح الدين ايوبي ته په مصر کې د ارام کولو وخت په لاس ور نه شي.»

حاتم الاکبر دصليبيانو دلاس په شرابو کې مست دهغوی دهرې خبرې د تائيد له پاره سر خوراو . هغه وويل:

« زه به اوس هلته داسې انتظام وکړم چې ستاسې هيڅوک هلته و نه نيول شي.

« که چيرې مونږ په مصر کې دا دځمکې لاندې عمليات نه کولې نو تر اوسه پورې به صلاح الدين ايوبي پر مونږ خپل فوځي يرغل لا د پخوا څخه تر سره کړې و.» يو صليبي قومندان وويل. « دا زمونږ بريا ده چې مونږ دهغه ځواک دهغه دخپلو خلکو په واسطه له منځه وړو »

«ايا دهغه او دهغه د ځارکښنې دشبکې د مشر علي بن سفيان د له منځه وړلو له پاره کوم انتظام نه شي کيداې ؟»کونارډ وپوښتل.

«څو څو ځله شوی دې» د ځارکښنې د شبکې مشر ئې وويل « خو بريا مو نه ده په برخه شوی ، د ناکامۍ لامل ئې دادې چې دواړه د تيرې په څير انسانان دي ، نه شراب څښي او نه د ښځو سره سروکار لري ، په دې خاطر هغو ته په شرابو کې څه نه شي ورکول کيداې ، او نه ئې دښځو په واسطه وژلې شو . خو اوس د کاميابېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیلي زیاتې دي ځکه د ایوبي په ساتونکوکې څلور کسان د فدائیانو دي ،ما هغوی په ډېره چالاکۍ سره هلته ورننویستي دي ، کله چې هم فرصت ورته پیدا شي نو یا خو به دواړه او یا به ئې یو له منځه یوسي»

« ایا دلته هم د ایوبي له لوري را استول شوي جاسوسان شتون لري ؟» (لوزینان) وپوښتل .

«په ډاډ سره چې وي به ! »د څارکښۍ د شبکې مشر ئې ځواب ورکړ.« دهغې وخته راهیسې چې مونږ په مصرکې اوبیا په شام کې تخریب کاري پیل کړې ده نو صلاح الدین ایوبي هم خپل جاسوسان دلته را استولي دي ، دهغوی له ډلې څخه ئې دوه مونږ نیولي دي ،هغوی په اذیت ورکولو سره مړه شول خو دخپل بل درېیمګړي نښه نښانه ئې مونږ ته و نه ویلې.»

«دهغوی بریاوي تر کومه حده پورې دي ؟»

« تر ډېره حده پورې»یو بل ځواب ورکړ. « هغه اور چې په (کرک) کې زمونږ د خوراکي اونظامي موادو ذخیرو ته اچول شوی و اوپه کې تر نیمائې زیاتې ذخیرې او یولس آسونه و سوځیدل هغه ټول د ایوبي د تخریب کارۍ اوجاسوسي نظام د کړونو پایلې دي ، زه تاسې ته دا هم ویلای شم چې زمونږ د جنګي ځرنګوالي او څومره والي څخه صلاح الدین ایوبي ته پوره پوره مالومات ر سیږي ، دهغوی جاسوسان د ستاینې وړ دي چې خپل ځانونه هر ډول خطرونو ته مخته کوي اوپه پوره ریښتونولۍ سره خپلې دندې تر سره کوي.»

د هغوی تر منځ تر ډېره پورې په همدې موضوع خبرې اترې روانې وې چې په مصر او شام کې دا تخریبي کارونه نور څه ډول زیات او تباه کونکې کړل شي ، حاتم الاکبر هغوی ته دصلاح الدین ایوبي د حکومت کمزورې اړخونه او قوي اړخونه ورښول ، اخر پریکړه و شوه چې حاتم الاکبر ته څو وسله وال کسان او دوه درې نجونې ورکول شي.

په دې وخت کې سلطان ایوبي خپلو دوو نائبینو او علي بن سفیان ته د خپلو راتلونکو پروګرامونو په هکله مالومات ورکول ، او دا ئې ورته ویل چې هغه په (کرک) باندې د یرغل له پاره تیارې نیسي ، هغه د نن نه شل ورځې وروسته د برید ورځ یاده کړه چې په همغې ورځ هغه فوځ ته د کوچ کولو پروګرام هم ورکړی و . دا ټول پروګرام هغه جاسوس عالم او دهغې دوه نجونو ملګرو چې تر څنګ خونه کې ئې د سلطان ایوبي سره د کتلو انتظار کاوه په ښه توګه اوریده ، جاسوس عالم یوځل بیا د نجونو سره د افسوس څرګندونه کوله چې یو ډیر مهم راز ورته مالوم شوی خو تر (شوبکه) پورې ئې نه شي رسولې ، یوی نجلۍ ورته وویلې« زه به هڅه وکړم چې صلاح الدین ایوبي ما خوښه کړي ، که چېرې د ډیر لږ وخت له پاره هم هغه ما له ځانه سره یوائې و ساتي ، نوزه به ترې دخلاصون لاره پیدا کړم . زه هیله لرم چې زه به دهغې په عقل ولکه وکړای شم»

« مالومه نه ده چې هغه مونږ دڅه له پاره دلته رابللي یو ؟» جاسوس عالم وویل «تاسو دواړه په یاد ولرئ چې که چېرې هغه تاسو یوائې یوائې وروغواړي نو دواړه دا هڅه وکړئ چې دهغه څخه حیوان جوړ کړئ ، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې هغه شراب و څښې نو بيا تاسو پخپله پو هيږئ چې پر هغه څومره و ځښې چې هغه بې هوشه کړي ، نو بيا دهغې وروسته د تيښتې په لارو چارو تاسو پخپله ښه پو هيږئ، بيا تاسو په دې هم پوهيږئ چې دتيښتې وروسته چېرې او چاته ولاړې شئ، دهغه کور د جومات مخته پروت دې.»

«زه پوهيږم » يوې نجلۍ ورته ويلي «مهدي ابادان»

«هو !» عالم ورته وويل «که چېرې تاسې تر مهدي پورې و رسيږئ نو بيا به هغه تاسو ان تر (شوبکه) پورې و رسوي ، او پاته زه شوم ، زما د تيښتې له پاره خو هيڅ لار نه تر سترګو کيږي. تاسو خو د ايوبي جنګي منصوبه او پلان واوريد ، د فوځ د کوچ تاريخ په ياد ساتئ ، لاره هم درڅخه هيره نه شي. کوچ به د شپې له اړخه وي د ورځې له اړخه به دهغې فوځ هيڅ ډول خوزښت نه کوي ، يرغل به (کرک) باندې کيږي ، زه هيله من يم چې دا اطلاع به پخوا د وخت نه هلته ور ورسوئ تر څو زمونږ فوځ د ايوبي د فوځ لارې بندی کړي او ايوبي پخپله هم د همداسې حال څخه په ويره کې دې. (شوبک) ته په وررسيدو سره دا په ځانګړې توګه ياده کړئ چې ايوبي په همواره ځمکه جګړه کول نه غواړي ، ځکه چې دهغه د فوځ شميره لږه ده.»

د سلطان ايوبي د خونې څخه داسې اوازونه راغلل لکه چې غونډه پای ته رسيدلې وي ، اونائبين بيرون روان دي. جاسوس عالم او دواړه نجونې سمدستې دهغه ځايه څخه بيرته هغه ځای ته چې دوی په کې کينول شوی وو ورغلل ، د عالم د ښوولو په اساس هغوی ټولو خپل سرونه په ځنګونو کې داسې کيښول چې تا به ويلې چې هيڅ ئې نه دي اوريدلې او نه د خپل چاپيريال څخه خبر دي چې څه تيريږي. هغوی ته اوس په همدې خونه کې د قدمونو اواز تر غوږو شو خو بيا هم هغوی هغه لورې ته و نه کتل ، عالم هغه وخت پورته وکتل چې چائې په اوږه باندې لاس کيښود او ورته ئې وويل «پورته شه –او زما سره را ځه» دا علي بن سفيان و ، علي نجونې هم له ځانه سره يوړې او هغوی ټول ئې د سلطان ايوبي کمرې ته ورننويستل.

«زه ستاد علم او ستاد ذهانت ستاينه کوم» سلطان ايوبي جاسوس عالم ته وويل او حکم ئې وکړ« ددوی زنځيرونه خلاص کړئ ،...تاسې درې واړه کښينئ» علي بن سفيان بيرون را ووت ، سلطان ايوبي دغه عالم ته وويل «ته دا علم په کوم شيطاني کار کې استعمالوی ، ددې په ځای چې ته دلته راشی او دخپل مذهب له پاره تبليغ وکړې نوما به د زړه له کومې ستا درنښت کړې و چې ته دخپل مذهب او دخپل نبي خدمت کوی ، ايا ستاسې په مذهب کې دا روا دي چې ته د بل مذهب په عبادت ځای کې دهغوی په مذهب کې درواغ ورګډ کړې؟ ايا ستا په زړه کې د مقدس صليب ، دسيدنا عيسي ع او د پيغلې مريم ع ته همدا درنښت دې چې د درواغو او دابليسيت په څير ستره ګناه کوئ او هغه هم خپل عبادت ګنئ؟»

«دا درواغ زمونږ په فرايضو کې شامل دي » عالم ورته وويل « هر څه چې ما کړي هغه مې د مقدس صليب په خاطر کړي دي.»

«ته وائې چې ما د انجيل او قران ژوره مطالعه کړې ده » سلطان ايوبي ترې وپوښتل ، ايا دهغو دواړو څخه په يوه کتاب کې هم انسانانو ته د دې اجازه ورکړل شوې ده چې دا ډول نوی پيغلې شوی نجونې د بدکارۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارو رواني کړئ. پردېو نارینه و ته ئې ورواستوئ او خپل مقصد پرې ترلاسه کړئ ؟ ایا انجیل تاسې ته داویلي دي چې دصلیب په خاطر د خپل قوم دلونړو عصمت اوپاکي نورو نارینه و ته ور حواله کړئ ؟ ایا تاسې کومه مسلمانه نجلۍ د قران او اسلام په نامه کتلي چې خپل عصمت ئې نورو ته ور حواله کړې وي»

«زه خو اسلام د عیسایت دښمن ګڼم.» جاسوس عالم ورته وویل – «ماته چې هر زهر ترلاسه کیږي د اسلام په رګونو کې به ئې ورځاې کړم»

« ته کولې شې ددې خوږو زهرو په واسطه د یوځو مسلمانانو کرچار خراب کړې» سلطان ایوبي ورته وویل.« خو تاسې ددې لارې اسلام ته زیان نه شئ ور رسولې» هغه نجونو ته مخ واړاوه او ورته ئې وویل «تاسې د چا دکورنیو لوڼې یاست ؟ تاسو ته دا مالومه ده ؟ که خپل اصلیت پیژنئ نو ماته ئې وواياست.» دواړه چپ ناستې وې سلطان ایوبي وویل ، « تاسې خپل پاکوالي له منځه وړې ، اوس هم تاسې د کوم با عزته کور ډېرې درنې ښځې ګرځیداې شئ ،؟»

« زه غواړم د احترام وړ ښځه و ګرځم » یوې ورته وویل. « ایا ته ما قبلوې؟ او که نه نو ماته یو باعزته خاوند پیدا کړه ، زه اسلام منم او د ګناهونو څخه توبه باسم »

سلطان ایوبي وخندل او د لږ څه فکر کولو وروسته ئې وویل « زه نه غواړم چې ددې عالم علم د جلاد توري په واسطه په وینو کې ډوب شي اوزه دا هم نه غواړم چې ستاسې ددواړو ځواني اوښایست په قید خانې کې له منځه ولاړ شي..... واوره نجلۍ ! که چېرې ته ربنتیا هم د ګناهونو څخه توبه کول غواړې نو زه تا خپل هیواد ته لیږم ،خو هغه هیواد ستا نه دي ، هغه هم زمونږه دي ، زه به یوه ورځ نه یوه ورځ خپل هیواد ستاسې د پادشاهانو څخه بیرته اخلم ، ته ولاړه شه او د چا درنه ښځه و ګرځه،...زه تاسې درې واړه پریږدم»

درې واړو داسې ټکان و خوړ لکه چا چې په کې ستنه ننویستې وي ، په همدې وخت کې علي بن سفیان د اهنګر سره یو ځاې خوني ته را ننوت. ددرې واړو زنځیرونه ئې مات کړل ، سلطان ورته وویل « علي ! ما دوی پرې ایښې دي ،» د علي بن سفیان عکس العمل هم همغسې و ، هغه تر ډېره وخته پورې د سلطان ایوبي خولې ته کتل، سلطان ورته وویل « دوی ته درې اوښان ورکړه او څلور کسه وسله وال ساتونکي هم ورسره ولیږه. داسې آس سپاره چې ډیر ذهینه او وړ کسان وي تر څو دوی په خپله ساتنه کې د (شوبک) تر کلا پورې ورسوي اوبیرته را ستانه شي ، د لارې له پاره خوراک څښاک هم ورکړه ، اوهمدا نن ئې و لیږه.» هغه عالم ته وویل « هلته په ور رسیدو سره دا غلطه انګیرنه خپره نه کړې چې صلاح الدین ایوبي جاسوسانو ته ښښنه کوي ، زه هغوی د داني په څیر ټکوم او د ټوټه ټوټه کولو وروسته ئې غورځوم.تاسې په دې خاطر پریږدم چې ته عالم ئې ،تاته فرصت درکول کیږي چې د علم روښانه اړخ ووینه ، ستا خلاصون په همدې کې دې.»

*****(۷۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمر لا تر اوسه پورې نه و پريوتې ، چې هغوی ئې په اوښانو سپاره کړل او د څلورو ساتونکو سره يوځاې ئې هغې لورې ته و استول ، ساتونکي په ځانگړي ډول ټاکل شوي و. دې ټاکني دوه علتونه درلودل. يودا چې په لاره کې دغلو خطرو ، اوبل داچې هغوی دصليبي قومندانانو تر مخ ورتلل ، هغوی ښه ځوانان و او د هغوی سورلي هم د ښه او غوره نسل د آسونو څخه ا خستل شوی وه. خو ټول حيران و چې سلطان ايوبي دا فياضي ولې وکړه. د هغه شيوه ددښمن ښبل نه و ، کله چې علي بن سفيان تري و پوښتل نو هغه ورته همدومره وويل « علي ! ما تاته ويلي و چې زه يوه جواري کوم، که چېرې ما بيلوده نو يوائې همدومره زيان به را ورسيږي چې ما به پخوا پورته کړې وي اوهغه دا چې ددښمن درې جاسوسان به زما له لاسه وتلې وي ، ددې څخه زيات بل کوم زيان ترې نه تر سترګو کيږي ،» خو کله چې علي بن سفيان ددې جواری کولو له پاره وضاحت وغوښت نو سلطان ايوبي ورته وويل چې په خپل وخت به ئې درته ووايم»

هلته نور ټول ډير خفه و خو يوائې پريښول شوی کسان د خوشحالی نه په کاليو کې نه ځايدل. خوشحالي يوائې په خوشې کيدو کې نه وه ، اصل خوشحالي ئې په هغه راز کې وه چې دخپله ځانه سره ئې وړ. هغوی د قاهرې د ښاره څخه لرې وتلي و، دهغوی اوښان څنګ په څنګ تلل ، دوه ساتونکي مخته روان و ، او دوه وروسته ، عالم ساتونکو ته ويلي و چې هغه هم د هغوی په ژبه پوهيږي ، دغه څلورو واړو دخپلې ژبې پرته په بلې ژبې نه پوهيدل ، عالم او نجونو دهغوی په ژبه په روانی سره خبرې کولې شوی. دا ژبه هغوی ته په ځانگړي توګه ښوول شوی وه ،

عالم نجونو ته په خپله ژبه وويل ،« د يسوع مسيح خداې معجزه و ښووله ،ددې نه دا په ډاګه کيږي چې هغه زمونږ سره مينه لري ، او زمونږ سوبه ورته منظور ده ، همدا دريښتوني مذهب نښه ده ، دصلاح الدين ايوبي او علي بن سفيان په څير پوه خلک خداې له عقله داسې راندہ کړل چې ډير زيات خطرناکه راز ئې زمونږ تر غوږونو را ورساوه ،مونږ به خپل فوځ ته دهغوی ټوله منصوبه وړاندې کوو ، او زمونږ فوځ به ايوبي لښکر هملته په صحرا کې محاصره او له منځه به ئې يوسي ، هغوی ته به د (کرک) پورې د ورسيدو مهلت هم تر لاسه نه شي. زه هيله لرم چې زمونږ قومندانان به جنګ تر حملې پورې را محدود نه کړي ، هغوی به خامخا په مصر باندې ور خيژي ، مصر به د فوځ څخه خالي وي او دا سوبه به ډيره اسانه وي . «ته عالم ئې او تجربه لرونکې هم» يوې نجلی ورته وويلې ،« مګر هغه څه ته چې ته معجزه وائې په هغې کې ماته يوخطر تر سترګو کيږي..... خطره دا څلور ساتونکي دي ، هسې نه چې مخته تللو سره هغوی مونږ ووژني او دوی بيرته ستانه شي. صلاح الدين ايوبي زمونږ سره ټوکې کړې دي ، هغه مونږ جلاد ته د ورحواله کولو پر ځاې دې خلکو ته ورحواله کړي يو. دوی به مونږ د زړه له خلاصه خرابې کړي او بيا به مو له منځه يوسي.»

« اومونږ بې وسلې يو » عالم ورته په داسې لهجې سره وويل لکه دهغه له زړه څخه چې هغه څو لحظې مخته خوشحالي و تلې وي. هغه ورته وويل « تا چې څه وويل هغه درست ثابتيداې شي ، هيڅ حکمران دخپل دښمن جاسوسان هسې په هسې نه ښېي او بيا مسلمانان دومره جنس پاله دي چې ستاسې په څير ښايسته نجونې خو بلکل پريږدې نه.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« مونږ ته د شپې له اړخه بيدار پاته کيدلو ته اړتيا ده .» هغې بلې نجلۍ وويل ، که چېرې دوی د شپې له اړخه ويده شي نو دوی بايد د همدوی په دې خپلو وسلو ووژل شي. لږ څه همت او جرأت ته اړتيا ده.»

« مونږ به دا همت کوو » عالم ورته وويل « دا کارکه همدا نن شپه تر سره کړو نو ښه به وي ، تر سهاره به مونږ تر ډيره لرې ځاېه پورې ورسيږو . »

دوه ساتونکي مخته او دوه ورپسې په خپلو خبرو کې مصروف روان دي ، دهغوی د تللو څخه دا را په ډاګه کيدله ، لکه هغوی ته چې دسره مالومه نه وي چې دوه ډيرې ښايسته نجونې دهغوی په ولکه کې دي ، لمر پريوتو ته ورنژدې و ، يوه عالم ته وويل چې اوس مونږ تم کيږو نه ، د شپې اوله برخه سفر کوو ،.... هغوی تلل او د صحرا شپه نوره تياره کيدله ، عالم او نجونو خپل اوښان را نژدې کړل تر څو د ساتونکو د وژلو پلان جوړ کړي ، ډيره لرې يوه شادابه او شنه سيمه مخ ته راغله ، ساتونکي تم شول او همدلته ئې پړاو واچاوه ، هغوی دخوراک څښاک له پاره جاسوسانو ته سامانونه ورکړل اوبيائې د ويده کيدو چمتوالې ونيو ، جاسوس وکتل چې درې ساتونکي ويده شوي دي ، اويو ګرځيده را ګرځيده ، ساتونکي څه تکاروا وريد او هملته ئې ورمنډه کړه اوهغه ځاې يې په ښه توګه تر سترګو تير کړ او بيرته راستون شو .

نژدې دوه ساعته تير شوي و ، هغه خپل يو بل ملګرې را پورته کړ اوپه خپله دهغه په ځاې ويده شو. هغه چې را ويښ شوی و هغه د پړاو په چاپيريال کې ګرځيده راګرځيده ، کله به د ځناورو په لور ورته او هغه به ئې کتل او کله به ئې ويده انسانان له نظره تيرول ، عالم نجونو ته وويل ،« مونږ نه شو بريالي کيداې ، دا کمبخته همداسې په پهره ولاړ دي، هر څه چې کيږي ، کيږي به ، ويدې شئ» او هغوی ټول ويده شول.

شپه تيره شوه ، خو سهار لا تر اوسه پورې تياره غوني و، چې ساتونکو هغوی را پورته کړل او دروانيدوحکم ئې ورته وکړ. لږه شيبه وروسته هغوی يوځل بيا په هماغه ډول سفر پيل کړ چې تيره ورځ ئې درلوده ، درې اوښان څنګ په څنګ ، دوه ساتونکي مخته او دوه شاته ، هغوی يو ځل بيا د نجونو څخه بې پروا شول ، هغوی داسې کومه خبره هم ونه کړه چې داسې شک ترې را ولاړ شوې وي چې دا خلک بداخلاقه او يا بدمعاشان دي ، لمر پورته را خوت او دا قافله په غونډيو کې ور ننوتله ، دخاورو او شګو غرونه د منحنی شکله دېوالونو په څير ولاړ و . په هغو کې لارې وی او د غرونو سيورې پرې را پروت و . نجونې وويريدې ، ويره د هغوی په مخونو باندې څرګنديده ، دهغوی له آنده دا ځاې د جرم ، وژنې او ...له پاره مناسب ځاې و. خو ساتونکو دهغوی په لور سترګې هم نه وراړولې.

« هغوی ته ووايه چې زمونږ سره خبرې وکړي» يوې نجلۍ عالم ته وويل.« د هغوی چپوالې او بې پروائې ما ويروي ، هغوی ته ووايه چې که مونږ وژني نو سمدستې دې مو ووژني ، مونږ د دې زيات دمرګ انتظار نه شو کولې .»

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالم چپه خوله و. هغه د نجونو سره هیڅ ډول مرسته نه شواي کولې ، دوی درې واړه دهغو ساتونکو په رحم و کرم پورې تړلي و...... لمر سر ته راوخوت ، نو دوی د هغو غونډیو په یوه داسې ځاې کې تم شول چېرې چې د شګو غرونه و او دې غرونو دا ځاې لږ سیوري کړې و . په همدې سیوري کې دوی لږ څه دمه وکړه ، د خوراک په وخت کې عالم د ساتونکو څخه و پوښتل ،« تاسې ولې زمونږ سره خبرې نه کوئ ؟»

« هغه خبرې چې زمونږ په دندو کې شاملې نه دي ، مونږ ئې نه کوو » د ساتونکو قوماندان ځواب ورکړ .« که چېرې تاسې کومه خاصه خبره لرئ نو مونږ ئې اورو او ځواب درکوو.»

«ایا تاسې ته دا مالومه ده چې مونږ څوک یو ؟» عالم ورنه وپوښتل.

«تاسې درې واړه جاسوسان یاست» ساتونکي ځواب ورکړ .« دا نجونې بدکاره دي دا دهغو د استعمال له پاره دي چې تاسې خلک ئې زمونږ پر خلاف استعمالوئ .تاسې ته مالومه ده چې د مصر امیر صلاح الدین ایوبي ، الله ج دې دهغې په نیکو ارادو کې خیر وبرکت وا چوي ، تاسې ولې وبښلئ ؟ مونږ ته حکم شوی چې تاسې تر (شوبک ) کلا پورې ور سوو او بیرته راستانه شو ، تاسې له مونږه سره امانت یاست ،..تا ولې زما څخه دا پوښتنه وکړه ؟»

« زړه مې غوښتل له تاسې سره خبرې وکړم» عالم ځواب ورکړ ،« دومره اوږود سفر د بې پروائې او پردېتوب سره کول ډیر ستونزمن تمامیږي ، زمونږه سره په دې سفر کې خبرې کوئ او مخته ځئ ،»

«مونږ د سفر ملګري یو ،» ساتونکي ورته وویل ، « خو زمونږ لارې جدا دي ، دوه ورځې وروسته به مونږ یو له بله سره جدا شو.»

جاسوس عالم د ساتونکي په خبرو باندې ځان کوڼ کړ لکه هیڅ ئې چې نه وي اوریدلي او لرې په کتلو شو لکه څه شې چې ويني . هغه د صحرا څخه نبه خبرو ،د صحرا د خطرونو څخه نبه خبر و ، دهغه سترګې د حیرانتیا څخه او یا د ویرې څخه نورې بوتې راوتلې ، ساتونکي هغه لورې ته ، چې عالم ورته کتل ، هم وکتل د ساتونکي سترګې هم را ووتې ، هلته لږ څه وړاندې په دوه سوه ګزه فاصله کې دوه په اوښانو سپاره هلته د غونډۍ په سر ولاړ وو . د سپرو په سرونو او مخونو باندې پګړۍ را تاوی شوې وې ، د اوښانو پښې نه تر سترګو کیدلې ، هغوی د غونډۍ د څوکې شاته و . دې سپرو په پټه خوله د ساتونکو او جاسوسانو قافله تر نظر لاندې نیولې وه، د هغوی انداز او لباس ښوول چې دوی څوک دي.

« پوهیږې چې دا څوک دي ؟د ساتونکو قوماندان د عالم نه وپو ښتل.

«صحرایي غله ،» عالم ځواب ورکړ ،« خو دا مالومه نه ده چې ټول ټال به څو کسان وي.

« و به ګورو » ساتونکي ورته وویل ، هغه خپل یوبل ملګري ته وویل « زماسره را ځه .»

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی دواړه په‌آسونو سواره شول او د غلو په لور ور وخوځېدل ، دهغوی سره د تورو تر څنګ برچې هم وی، اوبښ سپرو چې دوی دخپل ځان په لور را تلونکي وکتل نو اوبنان ئې ښکته کړل او له سترګو ورک شول. دوه نور ساتونکي چې وروسته پاته شوي و هم په نژدې غونډۍ باندې وختل ، عالم نجونو ته وويل ، « زه فکر کوم ستا اندېښنه صحيح ثابتيږي ، دا غله نه دي دا دصلاح الدين ايوبي له اړخه را لیږل شوی وګړي مالوميږي ، اوکه نه دا ساتونکي به په دومره زړه ورتيا سره دهغوی پسې نه تللاې ، ايوبي غواړي تاسې دواړه ډيرې ذليه او رسوا کړي ، ماته خو مرګ ليکلي دي ، خو تاسې ته به ډيره ويرونکې سزا درکول شي.»

« ددې مطلب دادې چې مونږ ازادې نه يو .» يوې نجلۍ و پوښتل ،« مونږ تر اوسه پورې بنديانې يو ،»

« همداسې مالوميږي» هغې بلې نجلۍ وويل.

هغه دواړه ساتونکي بيرته راستانه شول ، دهغوی ملګري او جاسوسان ترې راټول شول. د ساتونکو قومندان چې (حدېد ) نوميده هغوی ته وويل « دا صحرائي غله دي ، مونږ هغوی سره وکتل اوبيرته راستانه شو، دهغوی شميره نه مالوميږي ، دغه دواړه چې مونږ ته ئې سترګې نيولې وی وائې چې د سهار راهيسې زمونږ تر شا را روان دي ، هغوی ماته وويل چې تاسې د فوځ کسان ياست او مسلمانان ياست ، خودا نجونې مسلمانې نه دي دغه دواړه نجونې مونږ ته را وسپارئ ، مونږ تاسې ته نور ه ستونزه نه پيدا کوو ، ما هغوی ته وويلې چې دا نجونې چې د هر مذهب پورې اړونده وي ، زمونږ سره امانت دي ، زمونږ په ژوند ئې تاسې ته نه شو درسپارلې ، هغوی غوښتل مونږ قانع کړي ترڅو خپل ځانونه ضايع نه کړو ، ما هغوی ته وويلې چې تر هر څه د مخه به زمونږ ځانونه ضايع کيږي بيا نجونې له ځانه سره وړی شئ ،» هغه د عالم او نجونو څخه وپوښتل چې « ايا تاسې کومه وسله استعمالولې شئ؟»

« دې نجونو ته د هرډول وسلې د استعمال روزنه ورکړل شوی ده» عالم ورته وويل « له تاسې سره برچې دي ، توري هم شته او غشي او ليندۍ هم ، ددې څخه يو يو وسله مونږ ته را کړئ ،»

«اوس نه» (حدېد ) ورته وويل « زه د وخته مخکې تاسې ته وسله نه شم درکولې ، که چېرې دغلو سره ټکر را مخته شو نو بيا به ئې در کړم ،..... مونږ بايد ددې سيمې څخه بې له ځنډه ولاړ شو ، که دهغوسره د آسونو او اوښانو جګړه و نښته نودا سيمه مناسبه نه ده ، د آسونو د جګړې له پاره دا ډير خراب ځاې دي.»

دوی سمدستې ددې ځاې څخه روان شول ، ساتونکو ليندۍ په خپلو لاسو کې و نيولې ، او دغشو خلطې ئې را پرانستې ، (حدېد ) د ټولو تر مخ و ، ملګري ئې ورته وويل ،« حدېده ! دې جاسوسانو ته وسله ورکول مناسبه نه ده ، هغوی زمونږ دښمنان دي ، کيداې شي چې د غلو سره يوځاې شي او پر مونږ را باندې کړي او ومو وژني»

عالم نجونو ته ويل « ددې خلکو نيت مونږ ته صحيح نه ښکاري ، هغوی مونږ ته د وسلې د راکولو نه ډه ډه وکړه ، غله ددوی خپل کسان دي ، دوی به تاسې دواړه هغوی ته ور وسپاري اوما به ووژني.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوارو يو په بل باندي باورنه درلود، اوپه دوارو باندې د غلو ويره سپره وه، (حدېد) هغه ساتونکو ته ويلي و چې که کوم نقاب پوش درته ترسترګو شي نو ماته د وينا پرته پرې غشي وتوغوئ، دهغوی سره به تکر خامخا کيږی، خو کتل په کار دي چې چېرې به کيږي او څه وخت به کيږي،.... هغوی په ډيره ګړندۍ توګه مخته روان و، آسونو او اوښانو ته اوبه او ګياه ورکول کيده، په دې خاطر پرې د ډيرې ستړتيا اغيز نه ليدل کيده، دغونډيو داسيمه تر ډيره پورې غځيدلې وه، په څو ځايو کې دا قافله د غونډيو په منځ کې هم را تلله، (حدېد) په دې ويريده چې غله د غونډيو دلوړو څخه غشي را ونه وروي، هغه د آسونو دځغلولو حکم وکړ، او جاسوسانو ته ئې وويل چې هغوی دې هم خپل اوښان د آسونو د رفتار سره يوځای کړي او دغونډيو سرو ته دې نظر کوي.

هغوی ددې سيمې څخه ووتل، هيڅ غل تر سترګو نه شو. لمر په پريوتو شو، يو ځل دوه اوښان ددوی په لور د راتللو په حال کې تر سترګو شول، خو قافله همغسې روانه وه، په لاره کې په يوه ځای کې اوبه مخته راغلې، دوی خپلو ځناورو ته اوبه ورکړې، پخپله ئې هم اوبه و څښلې او مخته روان شول، لمر همداسې ښکته روان و ان تر دې چې د افق شاته پټ شو. کله چې ماښام تياره شوه نو (حدېد) قافله تم کړه او وئې ويل« دا ځای د جنګ له پاره موذون دې، ځکه چې شاوخوا کوم ځنډ نه تر سترګو کيږي.» هغه د آسونو څخه زينونه پرانه نستل، تر څو د اړتيا په وخت کې آسونه چمتو وي، اوښان ئې کينول، د خوراک څښاک وروسته (حدېد) نجونې دساتونکو تر منځ ويده کړې، او ورته ئې وويل چې هوښياري اوسئ ساتونکو ته ئې وويل چې هغوی دې خپلې لېندۍ تيارې وساتي، ويده کيږي دې نه، څملاستي دې وي، هغه ډاډمن و چې دشپې له اړخه به غله بريد کوي.

*****(۷۵)

شپه نيمائي تيره شوې وه، صحرا ډيره د سکون او اطمئنان نه ډکه او چپ چاپ وه، خو د نيمې شپې نه وروسته يو نا څاپه د هغوی تر مخه تور سيورې د بوتانو په څير راښکاره شول او بيا دې سيورو منډې او ځغاستې پيل کړې. د اوښانو د قدمونو ټپ ټوپ اوريدل کيده، او ځمکه لړځيدله، د اوښانو شميره دلسو څخه ډيره مالوميده چې يو يو سپورئې درلود، هغوی غوښتل ساتونکي او ورسره بنديان په هسې اخوا دېخوا منډو تررو باندې و ويروي، ددوه درې ځلې تاو را تاوکيدو نه وروسته د غلو دډلې يوه وويل « نجونې مونږ ته را وسپارئ، نو مونږ به ستاسې څخه د نور څه د اخستلو پرته بيرته ستانه شو»

دهغه په ځواب کې (حدېد) په ملاسته ملاسته يو غشې ورو توغوه، د غشي په لړيدو يو سخت اواز را غې، هغه بل ساتونکي هم په ملاسته ملاسته يو غشې د غلو په لور ور ويشت، دوه اوښانو برېرې وهل پيل کړل او بې واکه شول. (حدېد) نجونو ته وويل « تښتئ مه، زمونږ سره و اوسئ»

د اوښ سپرو څخه ئې کوم يوه وويلې « ور ولويږئ پرې، هيڅ يو هم ژوندې پرې نه ږدئ، او نجونې ترې پورته کړئ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صحرا شپه دومره روښانه وي چې که چېرې سپوږمۍ نه وي نو بیا هم تر لرې لرې پورې د سترګو لید رسیږي. اوښ سپاره د اوښانو څخه را کوز شول او د تورو او برچو جنګ و ښبت ، ددواړو ډلو تر منځ جګړې د صحرا زړه چاوه ، هیڅ یو ته د بل په هکله هوش او فکر نه و ، (حدېد ) او نورو ساتونکو نجونې داسې په خپل منځ کې را ایساري کړې وي چې د ساتونکو شاوی د نجونو په لور او مخ ئې ددښمن سره په جګړه کې و ، نجونو څو ځله وويل چې مونږ ته څه راکړئ ، (حدېد ) ورته وويل « زما توره زما د تیکي څخه راوباسه ،» هغه پخپله په برچې سره په جګړه بوخت و ، یوي نجلي د هغې د تیکي څخه توره راوویستله ، او ددواړو ساتونکو له منځه ووتله ، خو (حدېد ) ورباندې غږ کړ چې زمونږ څخه جدا کیږه مه ، د غلو زیات فشار په نجونو باندې و ، خو د جاسوس عالم غږ نه تر غوږو کیده.

دا جګړه تر ډیره وخته پورې روانه و ه ، خلکو په خپریدو پیل وکړ ، ساتونکو یو بل ته اوازونه کول ، او بیا دهغوی اوازونه خپ شول ،د جګړی شور او زوګ هم له منځه ولاړ ، (حدېد ) خپلو ملګرو ته و رغږ کړ خو هیچا ځواب ورنکړ ، هغه د یوی نجلۍ اواز واورید ، هغه ورته چیغې وهلی ، دهغې د اواز سره سم د یوه آس د ځغاستې اواز تر غوږو شو ، (حدېد ) و پو هید چې کوم غل نجلۍ د اوښ پر ځاي د ساتونکي په آس باندې اچولۍ او تښتوي ئې. هغه منډه کړه او تر یوه آس ئې ځان ور ورساوه ، په هغه زین همغسې تړلې و ، په اس سپور شو او په ځغاسته ئې کړ ، هغه د تښتونکو د آس د پښو په اواز باندې دهغوی تعاقب کاوه ، خو دبلې نجلۍ په هکله هغه ته جوته نه وه چې هغه چېرې او په څه حال کې ده ، هغه آس څومره چې ځغلولې شو و ئې ځغلاوه ، په صحرا کې کوم خنډ هم نه و او نه کوم لښتې او ناو و چې د آس تر مخ خنډ شي ، آس په هوا کې الوت ، مخکنې آس هم د ښه نسل څخه و یو اځنې توپیر دا و چې په هغې آس دوه کسه سپاره و.

نژدې د یوه میل په فاصله (حدېد ) ته د هغه لمړي آس سیورې تر سترګو شو ، هغه ورپسې همغسې ګړندې روان و اوفاصله رو رو کمیده ، (حدېد ) و کتل چې دهغه پسې هم یو اس را روان دې ، شونې و چې سپور ئې کوم ساتونکې وي او یا کوم غل. هغه شاته و کتل ، وروسته آس را نژدې شوی و ، (حدېد ) ترې وپوښتل «څوک ئې ؟» هغه ته ځواب تر لاسه نه شو . هغه خپل تګ ته دوام ورکړ ، او د خپل اس د نور ګړندې کیدو هڅه ئې وکړه ، مخته آس نیغ روان و ، داسې مالومیده چې دهغې واګې د نجلۍ په لاس کې راغلې وی ،ځکه (حدېد ) کتل چې اس کله ښي لورې ته او کله کیڼ لورې ته کږیږي او رفتار ئې هم را کمیږي ،..... هغه ور ورسید ، برچه ورسره وه ، هغه په مخکنې سپور د برچې وار وکړ ، خو اس یوي لورې ته شو سپور په څنګ شو خو برچه په اس ولګیده ، (حدېد ) اس ودراوه او را و ګرځید ، مخکې سپور هم د خپل آس د را ګرځولو هڅه وکړه ، خو نجلۍ چې دهغه تر مخ ناسته وه د اس واګې اخوا دېخوا کولې او د اس مخ ئې را ګرځیدو ته نه پریښوده ، (حدېد ) نجلۍ ته ور غږ کړ نو نجلۍ نوره هم زړه وره شوه ،

سپور نجلۍ له ځانه سره د آس څخه را ښکته کړه او آس ئې خپل ډال و ګرځاوه ، (حدېد ) خپل آس چورلاوه او دهرې لورې به ئې چې وار کاوه نو غل به نجلۍ له ځانه سره بلې لورې ته کړه او اس به ئې ډال کړ. اخر (حدېد ) د خپل آسه را کوز شو ، (حدېد ) هغه ته چېلنج ورکړ او ورته ئې وويل « نجلۍ نشې وړلاي» یوه غل نجلۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولکه کې واخستله اوبل د(حدېد ) سره جنګ پیل کړ ، د نجلۍ سره اوس توره هم نه وه ، بل غل هم نجلۍ پرې نبوده ، اوپر(حدېد ) باندې ور پریوت ، (حدېد ) نجلۍ ته ورغږ کړ او ورته ئې وویل « ته په آس کینه او د (شوبک ) په لور ولاړه شه ، زه به دا دواړه پرې نږدم چې له تاپسې درشي.» خو نجلۍ هملته ولاړه وه ،

(حدېد ) په پوره میړانې سره ددواړه مقابله وکړه ، غلو ورته بیا بیا وویل ، « ددې نجلۍ له پاره خپل ځان له لاسه مه ورکوه ، » او (حدېد ) ورته هر ځل همدا ځواب ورکاوه « اول به زما ځان ځي اوبیا به نجلۍ له ځانه سره یوسئ ، » او هغه څو ځله نجلۍ ته وویلې « ته دلته ولې ولاړه ئې ، تښته، ددې ځایه تښته.» اخر نجلۍ ورته وویلې « هیڅکله به تا پرې نه ږدم » (حدېد ) زخمي شو اویو ځل ئې بیا نجلۍ ته وویلې « زه زخمي شوی یم ،زما دمرګ نه دمخه ددې ځایه ځان وکاږه ، »

یو غل د نجلۍ په لور ولاړ (حدېد ) ته فرصت تر لاسه شو او په یو برچه ئې دهغې تشی سوري کړ ، خو په همدې وخت کې دهغه بل غل توري د (حدېد ) اوږه پرې کړې وه ، نجلۍ یو غل لویدونکې وکوت ،منډه ئې کړه او دهغې توره ئې راواخسته و او د شا له اړخه ئې هغه بل غل کې ور ننویستله ، هغه نیغ شو خو د (حدېد ) برچې هغه نیغېدو ته پرې نښود او د هغه په سینه ئې داسې وار وکړ چې هغه ئې پرې را وپرزاوه ، خو دهغې سره سم (حدېد ) هم د دریدو وړ نه و . نجلۍ هغه ته لاس ورکړ ، نو هغه ورته وویل « ته خو به نبه ئې ؟ ما پریږده ، په آس کینه او سمدستي د (شوبک ) په لور روانه شه ، الله ج به تا په خیریت سره هلته ورسوي ، (شوبک ) اوس دومره لرې نه دې ، خپلو ملګرو ته ورشه ، داسې بریښي چې هلته به هیڅ یو ژوندې نه وي پاته.»

«په کومو کومو ځایو زخمي شوی ئې ؟» نجلۍ ترې وپوښتل.

«نجلۍ ! ما خپل مرګ ته پریږده .» (حدېد ) ورته وویلې « ته ولاړه شه ، د خدای له پاره زما دنده ته پخپله پوره کړه ، هسې نه چې بل کوم قزاق (صحرائي غل ) دکوم ځایه راپیدا شي»

د نجلۍ غلط فهمي او شکوک اوس بلکل له منځه تللي و ، هغه په دې پوه شوی وه چې دې وکړي دهغې په خاطر خپل ځان په خطر کې واچاوه ، نو هغې دتللو ، او دهغې د ځانته پریښولو ، څخه په څرګنده ډه ډه وکړه ، منډه ئې واخسته او د آس د زین سره ئې ترلي د اوبو بتک را پرانسته ، اود(حدېد ) پر خوله ئې ورکیښود. هغه ته ئې اوبه ورکړې او بتک ئې بیرته د اس د زین سره و تړه ، او دهغه څخه ئې بیا و پوښتل چې زخم دې په کومو کومو ځایو کې خوړلي دې ، (حدېد ) ورته خپل زخمي ځایونه و ښول ، نو هغې د خپلو کالبو څخه ټوټې و شکولې ، په اوبو کې ئې لمدې کړې او د (حدېد ) په زخمونو ئې و ترلې ، دوی ته ددې کار روزنه ورکړل شوی وه. هغه (حدېد ) ته لاس ورکړ او هغه ئې ودراوه او تر آسه پورې ئې یوړ، په ډیره ستونزمنه توګه ئې په اس کینوه ، په خپله په یوه بل آس کیناسته ، نو (حدېد ) ورته وویل « زه په اس باندې ځانته نشم کیناستلې» هلته درې اسونه و ، نجلۍ د عقل اوپوهې څخه کار واخیست ، چې د آسونو پریښول ئې مناسب و نه ګڼل ، دهغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه نورو آسونو واګې ئې هم د يوه اس په زين پورې و نښلولې او پخپله د(حدېد ) پسې سپره شوه. هغې د(حدېد ) ملا د خپلې سينې سره يوځاې کړه ، او دهغه سرئې پر خپلې اوږې باندې کېښود .

« د (شوبک ) لور را ښوولې شي ؟» نجلۍ ترې و پوښتل.

(حدېد ) د اسمان په لورو کتل ستورې ئې و ليدل ، او يوې لورې ته ئې اشاره وکړه او وئې ويل.« په هغې لورې ولاړه شه ، » بيا هغه ورته وويل «زه کيداې شي ژوندې پاته نه شم ، زما وينه روانه ده ، په هر ځاې کې چې زما روح ووځي ، نو هملته مې خاورو ته وسپاره ، او که چېرې تا زما په نيت باندې کوم شک درلود نو هغه له زړه و کاږه او ماته ښښنه وکړه. ما په ر اسپارل شوې امانت کې خيانت نه دې کړې. خداې دې تا ژوندۍ او سلامته تر خپله ځاېه ورسوي.»

آس روان و او شپه نوره په تيريدو وه.

*****(۷۲)

سهار راوخوت او(حدېد ) همغسې د نيمې بې هوشۍ په حال کې و ، هځه ئې کوله خپل ځان په هوش کې راوړي ، وينه ئې دريدلې وه ، خو د ډېرې زياتې وينې د بهيدو په اساس ئې وجود تک ژيړ او مړژواندې ګرځيدلې و ، نجلۍ هغه دخرماو په يوکوچني ځنګل کې را ښکته کړ ، اوبه ئې ورکړې او د آسونو سره د خوراک څښاک څه شيان تړل شوي و هغه ئې را پرانستل او (حدېد ) ته ئې لږ څه غذا هم ورکړه ، د خوراک وروسته دهغه ذهن لږ څه را ژوندې شانته شو. هغه ته دا فکر پيدا شو چې لمړۍ دا د هغو نجونو ساتونکې و خو اوس دهغې بندي دې. نجلۍ هغه څملاوه.

«(شوبک ) لرې نه دې شايد د يوې ورځې مزل نور هم وي ، ته يو آس واخله او په منډه منډه ولاړه شه ، ژر به ورسيږې ، زما که وجود ښه و بيرته ستنيږم» حدېد ورته وويل.

« ته بيرته ژندې نه شې تللاې» نجلۍ ورته وويلې ، که چېرې د همدې ځاېه بيرته ستنيږې نو ما هم له ځانه سره يوسه ، تا زه ځانته نه يم پرې ايښې ، نوزه به تا څنګه ځانته پريږدم ،»

« زه نارينه يم » (حدېد ) ورته وويلې ،« زما زړه دا نه مني چې يوه نجلې دې زما ساتنه وکړي ، ددې نه غوره داده چې زه و مرم.»

« زه د هغو مامولې نجونو څخه نه يم چې په کورو کې لوست او زده کړه کوي ، » نجلۍ ورته وويلې ،« او هغه چې د نارينه د ساتنې پرته يو قدم هم نه شي اېښولاې ، ما يو فوځي نارينه وګڼه ، توپير يواځې په دې کې دې چې زما وسله ، زما ښايست ، زما ځواني او زما غوږه ژبه ده. زه هم ستا په څير ستونزې ګاللې شم ، زه تر (شوبکه) پورې پيدل هم رسيدلاې شم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«زه ستا د احساساتو قدر کوم .» (حدېد ) ورته وويل « دي غلو مونږ دواړه ځومره يو له بله سره را نژدې کړي يو ، ځومونږ يو دبل دښمنان يو ، تاسي هڅه کوئ زمونږ دهيواد بنستونه له منځه يوسئ ، خو يوه ورځ به زه ستا په هيواد باندې د بريد له پاره راځم.»

« خو اوس زما دوستي قبوله کړه » نجلۍ ورته وويلي « ددښمنۍ خبرې هغه وخت کوه چې رو غيتائې حالت دې ښه شي او بيرته خپل هيواد ته ستون شې .» هغې د(حدېد ) د ورمېږ لاندې لاس کړ او را پورته ئې کړ. اوس (حدېد ) پورته کيداې شو . هغه پورته شو او تر اسه پورې ولاړ، نجلۍ دهغه پښه راپورته کړه او په رکاب کې ئې کېښوده او اوږه ئې ورکړه او په اس ئې سپور کړ. نجلۍ هم په هماغې آس باندې سپريدل غوښتل ،خو (حدېد ) خپل لاس ور اوږود کړ او منه ئې کړه او ورته ئې وويل « اوس ته په هغه بل آس باندې سپره شه، زه به ځانته سپرلي وکړم .»

« خو ددې سره سره به ښيا هم زه له تاسره په هماغه اس باندې کينم .» نجلۍ ورته وويلې « او تا به د خپل ځان سره يوځاې کړم»

د (حدېد ) د ضد سره سره ښيا هم هغه نجلۍ په هماغه اس سپره شوه ، او کله چې ئې خپل يو لاس دهغه په سينې باندې کېښود ، نو (حدېد ) پرې نښوده او ورته ئې وويل « ما پريږده چې په خپل توان سره کينم.» خو نجلۍ هغه په زوره ځانته راکش کړ، او دهغه سر ئې په خپله اوږه باندې کېښود ، او د(حدېد ) ځخه ئې و پوښتل ، « زه پو هيږم چې ته ما يوه بدکاره نجلۍ ګڼې اوزما ځخه لرې والي کوی»

« نه هيڅکله ، »(حدېد ) ورته وويل « زه تا يواځې نجلۍ ګڼم او د خپله ځانه دې دلرې کيدو هڅه کوم ، که چېرې ستا سره د نژدېکيدو هيله مې درلوداې نو دوه شپې ته د ډېرې بې وسۍ په حال کې زما سره قيد و ې ، ما کولې شول تا خپله وينځه و ګرځوم ، خوما په خپل ځان باندې د شيطان غلبه پرې نښوله ، اوس راته داسې احساسيږي چې زه په خپل امانت کې خيانت کوم ، زما په وجود کې د ګناه احساس را پيدا کيږي.»

«ته خو تيره نه ئې ؟» نجلۍ ور ځخه وپوښتل. « زه خو چې هر نارينه کتلې يم ، نو په ورو سترګو سره ئې را ته کتلي دي ، ما خو همدومره قيمت سره ستاسې د قوم ددوه مومنانو ايمان اخستې و .»

« ځومره قيمت ؟» (حدېد ) ترې و پوښتل.

«يواځې همدومره چې هغوی مې تر خپله ځنګه کينول ،اوسرونه مې ئې په خپلې اوږې ايښودې و .»

« دهغوی سره بلکل ايمان وه نه ، » (حدېد ) ورته وويل.

« هر څه چې ورسره و .» نجلۍ ورته وويلې ، « هغه مې دهغوی ځخه واخستل ، او دهغې پر ځاې مې دهغوی په زړونو کې دهغوی دخپل قوم پر خلاف غدارې ورواچوله .»

« هغوی ځوک و ؟» (حدېد ) ورځخه و پوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« اوس ئې درته نه شم ويلاې » نجلۍ ځواب ورکړ ، « لکه څنګه چې ته په خپله دنده کې کلک ئې نو په همدې توګه ماته هم خپله دنده ارزښت لري»

(حدېد ) چپ پاته شو ، هغه د نجلۍ د جسم حرارت او نرې شانته بوې احساساوه ، دنجلۍ وينستان هم د هغه په مخ را لويدلي و . په هغه پرکالي راغله او آس روان و ، ډير لرې د هغه سترګې خلاصي شوى لمر هم تر سره راغلي و ، هغه وويل « آس تيز کړه ، زه هيله لرم چې مونږ به د لمر د لويدلو تر مخه تر (شوبکه) پورې ورسيږو» نجلۍ خپل آس نور هم تيز کړ او صحرا په ګړندۍ توګه دهغوى تر شا پاته کيدله.

*****(۷۷)

لمر پريوتې و او د(شوبک ) دکلا په هغه خونه کې چې صليبي حاکمانو او قومندانانو به په کې غونډې کولې ، اوس هم د حاکمانو تر منځ غونډه روانه وه ، په دې غونډه کې هغه جاسوس عالم هم ناست و اوويلي ئې چې «زه دا په ډاډ سره نه شم ويلاې چې د هغو دوارو نجونو برخليک څه ډول شو ، ما دهغوى د خوندي کولو خو پريږده چې د هغوى د کتلو هڅه هم نه ده کړې ، ځکه چې د هغوى څخه دا راز چې له ماسره و او تاسو ته مې بايد را رسولي واې ،ډير ارزښت درلوده . لکه څنګه چې ما تاسو ته ويلي دي چې غلو داړه وا چوله نو ما دوخته په ګټې اخستلو سره ځان يوى لورې ته کړ او تر يوه آسه پورې مې ځان ورساوه ، يو خو زما ازادول يوه معجزه وه ، اوبله معجزه دا چې ددومره ويني تويونکى جګړې څخه سلامت را ووتم. هيڅوک هم زما پسې را نه غي.

زه فکر کوم چې هغوى غله او داړه ماران نه و ،د سلطان ايوبي را ليږل شوي وګړي و ،زه دا نه شم ويلاې چې هغه مونږ دري واړو ته ولې پخپله سزا را نکړه ، او د نجونو د خرابولو دا لار ئې ولې خپله کړه ، دا يوه ډرامه وه . نجوني به اوس دهماغه خلکو په ولکه کې وي او هر ډول اذيتونه به ګالي ، »

« ايا مونږ د هغوى د ازادولو کومه لار نه شو پيدا کولې و؟»يوصليبي حاکم وويلي ،« دا ځان ځارنه خو به ورکول کيږي ، زمونږ سره د نجونو کمښت نه شته ، زمونږ دا طريقه ډيره کامياب ښکاري ، او دهمدې لړۍ ساتل په کار دي ، نورې نجونې تياري کړئ ،.... ټول راغلي دي ، اوس نو هغه راز ووايه چې تا له ځانه سره راوړي دي.

جاسوس عالم هغو ته ويلي و چې هغه څنګه او څه ډول د قاهرې له يوه جوماته و نيول شو. په قيدخانې کې دهغه سره او د هغه ملګرو نجونوسره هغوى څه ډول سلوک وکړ. اوڅه ډول دسلطان ايوبي له اړخه د هيلو پر خلاف ازاد کړل شو . هغه دا هم وويل چې داراز دوى دسلطان ايوبي څخه څه ډول تر لاسه کړې دي. هغه د وخت او تاريخ په يادولو سره وويل ،«صلاح الدين ايوبي به په دغه ورځ خپل فوځونو ته د کوچ امر کوي ، په (کرک ) باندې يرغل کوي ، که څه هم دهغه نائب سالارانو ويلي چې لمړۍ بايد (شوبک ) و نيول شي ځکه چې دا ډيره ټينګه کلا ده ، خوصلاح الدين ايوبي به نه غوښتل په (شوبک ) باندې خپل ځواکونه له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي ، هغه (کرک) کمزوري ګانه او لمړۍ ئې ددې ځاې د نيولو له پاره حکم وکړ ځکه هغه غوښتل هغه ځاې دخپل فوځ له پاره د نظامي او د خوراکی موادو مرکز و ګرځوي، اوبيا به د همدې ځاېه د رارسيدلو مرستو او وسايلوو روسته په (شوبک) باندې بريد کوي ، هغه په ځانګړي توګه دا وويل چې هغوی غواړي مونږ په بې خبرۍ کې تر يرغل لاندې راوړي ، ددې علت هغه دا وايه چې زمونږ سره آسونه هم دښه نسل څخه دي او له مونږه سره ذره او خول هم شته ، هغه په ځرګندو ټکو کې وويل ، چې که چېرې صليبي فوځ هغه په لاره کې و دراوه نو بيا به ورته د ماتې څخه نور څه په مخ کې نه وي. هغه په پراخه ډګر کې د جګړې څخه ويره ښووله ،» جاسوس عالم ټولې هغه خبرې وکړې چې هغه دسلطان ايوبي له خولې اوريدلې وی.

ددومره قيمتي او ارزښتناکه راز په اوريدلو سره ، نجوني د ټولو هيرې شوی ، او په همدې مسئله ئې بحث او څيړنه پيل کړه ، هغوی دې پايلو ته رسيدل چې سلطان ايوبي په غير مامولي توګه يو تکړه او ذهين جنګجو دي ، هغه چې په (کرک) د بريد کولو کوم پلان جوړ کړې دي ،د هغې څخه دهغه دجنګي پوهې ځرګندونه کيږي ، په لاره کې دهغه د جنګ د نه کولوپريکړه هم د هغې د پوهې ثبوت دي.ځکه هغه نه غواړي خپل توان په لاره کې له لاسه ورکړي. دا د يسوع او مسيح د خداې ځانګړی فضل دي چې مونږ ته دهغه ددې پلان په هکله مالومات تر لاسه شول. اوکه نه هغه د (کرک) د نيولو وروسته د (شوبک) په څير مضبوط مرکز ته ستر خطر پيدا کولې شو...... هغوی د وخت د د لاسه ورکولو پرته د سلطان ايوبي د پلان په مطابق د خپلو فوځونو د نقل وحرکت او د دفاع په پلان جوړولو پيل وکړ. او په پلان کې ئې دا خبرې را مختته کړې:

--د صليبي ځواکونو د مرکزي قومندې ځاې به همدا د (شوبک) کلاوې ، دسامانونو د رارسيدو ځاې به هم همدا وي اوهمدلته به ذخيرې جوړيږي او جنګ به دهمدې (شوبک) څخه کنترولوو.

--د (کرک) کلابندې به نوره هم مضبوطه کړو ، څه نور فوځ هم (کرک) ته ور واستوئ ،

--ايوبي به د (کرک) څخه لرې په کومه سخته سيمه کې تم کړل شي ، ددې موخې د تر لاسه کولو له پاره زيات شمير فوځ هلته ور واستوئ ، په دې فوځ کې به آس سپاره او اوښ سپاره تر ټولو زيات وي. هڅه وکړئ چې د ايوبي فوځ په محاصره کې را ګير کړئ ، د اوبو په چېنو باندې تر هر څه دمخه ولکه وکړئ ،»

په دې اقداماتو سمدستي د عمل کولو حکم نافذ کړل شو. هر يو خوشحاله و ځکه دا لمړۍ ځل و چې دسلطان ايوبي کوم جنګي راز دوخته مخکې دوی ته مالوم شوی و اوکه نه هغه به تل صليبيان تش لاسونه را ګيرول ، خو په دې به د حيرانتيا ځرګندوني هم کيدلې ، چې دسلطان ايوبي په څير د يو انسان څخه دا ډول سهوه څنګه کيداې شي چې دا جاسوسان ، چې د پريښنولو په هکله ئې هغه له ځانه سره پريکړه کړې وه ، په يوې بلې خونې کې کينوي اوبيا داسې نازکه خبرې په زوره زوره د خپلو سالارانو سره کوي چې جاسوسان ئې واوري، او دې پخپله د ماتې سره مخامخ کولې شي. هغو يو کار دا هم وکړ چې د فرانسې فوځ چې له دې ځاېه څخه ډير لرې پروت و دا پيغام ور وليږه ، چې دفلانکۍ ورځ نه ترمخه هغې ځاې ته ځان ور ورسوئ چې د نور الدين زنګي له اړخه را ليږل شوی کومک سلطان ايوبي ته را و نه رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې وخت کې يو صليبي افسر را ننوت ، او د انټيليجنس د مشر په غوږو کې يو څه وويل. هغه مشر دا خبره ټولو ته وکړه چې دهغو دوو نجونو څخه يوه ئې چې د غلو په ولکه کې وه ، همدا اوس اوس را ورسيده ، اطلاع راغلې چې دهغې سره يو مسلمان ساتونکې هم دی. جاسوس عالم تر ټولو دمخه د کمرې څخه ووت ، او وريسې نور خلک هم. نجلۍ (حديد ) هملته په برنډه کې څملولې و او په خپله هم هملته ناسته وه، د آس دې اوږده او ستومانه کونکې سفر د (حديد ) زخمونه راپرانستې و، دهغه وينه چې سهار بنده شوې وه ، بيوځل بيا روانه شوه ،او بې هوشې پرې را غله ، صليبي قومندانانو د (حديد ) په لور هيڅ توجه و نه کړه ، ځکه چې هغوی ته ويل شوې و چې دغلو حمله يو ډرامه وه ، هغوی نجلۍ د لاسو و نيوله ،او خونې ته د ورننوتلو حکم ئې ورته وکړ. هغه ډيره ارزښتناکه نجلۍ وه ، خو هغې تر هغه وخته پورې د دننه تللو پروګرام شاته کړ تر څو چې د (حديد ) ملهم پټۍ نه وي شوې ،

د انټيليجنس مشر [هرمن] جرمنې و ، هغه نجلۍ لږ څه اخوا يوړه او ورته ئې وويل« ته غواړې د مار د بچي ملهم پټۍ وکړې ، دا خوستا قسمت ښه و چې ته خوندي را ورسيدې ، او که نه دې خيرونکو به ته د هغو نورو وحشيانو په لاسو کې ورکړې وی چې د غلو په ښه کې تاسې پسې راغلې و.»

«دا درواغ دي » نجلۍ ورته په سخته ژبه وويلې ،« اول خو مونږ هم په همدې شک کې و ، خو دې انسان زما ټول شکونه لرې کړل ، هغه دوه غله هلاک کړل اوزه ئې ترې خوندي راوستم» هغې هرمن ته ټوله پيښه بيان کړه ، او دا ئې هم ورته وويل چې دې انسان ماته بيا بيا ويل چې ماهمدلته پريږده چې ومرم اوته خپلې ښې وکاږه ، »

دصليبيانو په زړنوکې دمسلمانانو پرخلاف دومره نفرت اوکرکه وه چې ددې دومره افسرانو څخه ئې يو هم و نه ويل چې دهغه زخمي ملهم پټۍ وکړئ ، ان د جاسو س عالم پورې هيڅا ورته توجه ونه کړه. نجلۍ دهغوی سره دننه ننوتلو ته چمتو نه وه ، اخر يو چا وويل چې زخمي دننه خونې ته يوسئ اوسمدستي ئې ملهم پټۍ وکړئ ، هغه ئې خونې ته يوت اونجلۍ دخپلو افسرانو سره روانه شوه. هغې ته ئې وويل چې ووايې چې څه ډول ژوندۍ پاته شوې ده. هغې دپيښې ټول تفصيل بيان کړ ، په دې وخت کې هغې ته هملته خوراک اوشراب راغلل ،خو هغې وويل « که چيرې زخمي ته مو خوراک ښناک ورکړې وي نو بيائې زه هم خورم ، زه به هغه يوځل ووينم ،» هغه هلته د ورتللو له پاره پورته شوه.

« (لوزينا ) و دريږه ! » هرمن په پوره دبدبې سره پرې ورغبږ کړ.« ته يوځل بيا د صليب د احکاماتو خلاف ورځې کوې ، لمړی مو درته د را ننوتلو وويل ، نو تا د زخمي تر پورته کيدو پورې ډډه وکړه ، اوس ته د اجازې پرته او په پوره سپين سترګۍ سره بيرون وځې ، دا ټول د صليبي فوځ ستر چارواکي دي ، اودلته دوه صليبي حکمرانان هم شتون لري ، پوهيږې چې ددې حکم د نه منلو سزا څه شې دې ؟.... لس کاله قيد . اوکله چې بيا ته دحکم نه منل ددښمن د يوه مامولي مامور له پاره کوې نو بيا تاته دمرګ سزا هم درکول کيداې شي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« ایا صلیبي حکمرانان او قومندانان دغه انسان ته ددي بدله نه شي ورکولي چي یوه تجربه لرونکي جاسوسه ئې ، دخپل ځا ن په قیمت خوندي کړي ده ؟ نجلۍ ورته وویلي « زه پوهیږم چي هغه زما ددښمن د فوځ منصبدار دي ، خوزه به هغه ته هغه وخت دښمن ووایم چي کله هغه خپل فوځ ته بیرته ستون شي.»

«دښمن په هر حال کي او په هر ځاي کي دښمن وي» یو صلیبي قومندان پري چیغي کړي او وئي ویل « ځومره مسلمانان مونږ په فلسطین کي ژوندي پری ایښي دي ؟ مونږ ولي دهغوی نسل له منځه یوړ ؟ په دي خاطر نه چي هغوی زمونږ دښمنان دي بلکه په دي خاطر چي هغوی زمونږ د مذهب دښمنان دي ، په دنیا به دصلیب حکمراني وي ، یو زخمی مسلمان زمونږ له پاره هیڅ حیثیت نه لري. کښینه !»

نجلۍ کیناسته اوسترګي ئې د اوښکو ډکي شوی.

*****(۷۸)

بل سهار د (شوبک ) په سیمه کي څه بل ډول خوزښتونه روان وو ، دا عسکري ډوله خوزښتونه و . د (شوبک ) دسیمي وګړي د دي خوزښتونو څخه بي پروا په خپلو خپلو کارونو کي مشغول و ، دکلا څخه فوځیانو په وتلو پیل کړي و ، سامانونه هم له یوه ځایه بل ته وړل کیدل ، د بهر څخه د راغلي فوځ دخیمو د ښخولو له پاره سملاسي ځایونه خالي کیدل ، د لوژیستکي موادو د راټولولو له پاره د اوښانو لیکي جوړي شوي وي، په دي عسکري مرکز کي منډي تړړي رواني وی ، دا ټول چمتو والي د صلاح الدین ایوبي د شوني حملي د مخنیوي له پاره کیده ، اوپه هغو احکاماتو عمل کول پیل شوي و چي تیره شپه دپلان په مطابق ورکړل شوي و . هر یو فوځي افسر په دي منډو تړړو کي مصروف و او ترڅنګ یو څو کسه افسران (کرک ) ته هم ور روان شوی و.

یواځي یوه نجلۍ وه چي ددي ټولو منډو تړړو څخه بي پروا ناسته وه. اودا همغه نجلۍ وه چي زخمي (حدید ) ئي له ځانه سره را وستي و . دهغي افسر هرمن هغه د (لوزینا ) په نامه یادوله ، هغه ته د شپي له اړخه د کانفرانس د خوني څخه نژدي نیمه شپه فراغت په برخه شو . هغي د څارکښۍ د ځانګړي شبکي سره اړیکي درلودل ، په دي خاطر په کانفرنس کي هغي ته اړتیا وه ، دهغي څخه د قاهري د هغه وګړو په هکله را پورونه اخستل و چي نوموړي به هلته ور تلله ، د نیمي شپي وروسته د خوب او د آس د سپرلۍ د ستړتیا څخه هغه نوره په ځان نه پوهیدله ، د کانفرانس نه وروسته یوه افسر هغي ته وویلي و ،« هغه مو ډاکټر ته وسپاره ،ته دهغه په هکله ډیره اندېښنه مه کوه ، ستا دنده داسي ده چي داسي احساسات ئي بري ته نه پریږدي.» او دهغي د خپلي ځانګي ستر افسر هرمن هغي ته ویلي و ،« که چېري نن شپه زه دلته نه وای نو (کونارډ ) او (ګي آف لوزینان ) په خير پادشاهان هیڅوک نه ښيي ، هغوی به ته په قید کي ور اچولي وی ، اوس ستا د ساتونکي غم مو خوړلي دي او تا ته دا حکم کیږي چي پس له دي به ته دهغه سره نه وینی.»

«ولي ؟»(لوزینا ) تري په حیرانتیا او نهیلۍ سره و پوښتل.« ایا زه به دهغه ممنویت هم و نه شم کړای ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« نه هيڅکله !» هرمن ورتهوويلې « ځکه چې هغه د دښمن فوځي دي ، اوته دخپلې شبکې مسئوليت درک کولاې شې ، مونږ تا ته دهغه سره د بيا ليدلو کتلو اجازه نه شو درکولاې ، اوهمدا ستا د فن او فرض غوښتنه هم ده ، زه دا وينم چې ستا دهغه سره احساساتي اړيکې ټينګ شوې دي او تا ته ددښمن سره داسې احساساتي اړيکې ټينګول نه دي په کار.»

« ماته همدومره ډاډ راکړئ ، چې دهغې علاج به کيږی» (لوزينا ) ورته وويل « اوهغه به سم سلامت بيرته واستول شي.»

«(لوزينا ) !» هرمن په قهرېدلې اواز سره وويل «زه تاته ډاډ درکوم چې چې ستا دا غوښتنه به پوره کړل شي. خو واوره ، ته د ډير خطرناک او حساسه دندې د اجراء څخه بيرته را ستنه شوې يې. سفر دې هم د خطرونو نه ډک و ، تا ته د ارام له پاره لس ورځې رخصت درکول کيږي. مکمل ارام به کوی»

دا خبرې د شپې شوې وې، هغه خپلې خوني ته ولاړه ، د جاسوسو نجونو د اوسيدو ځاې د مرکزي دفتر نه ډير لرې په بل ځاې کې و ، دهغې په څير دستري درجې جاسوسې ته به ئې د اوسيدو ډيرې ښې اسانتياوې برابرولې ،په ډيرو ښو او ښايسته خونو کې به ئې د شهزادګيو په څير ساتلې.او هرډول عياشي ورته ميسره وه . دهغوی دندې داسې وی چې هغوی به ئې مسلمانو هيوادونو ته استولې ، هلته به ئې د ګيريدو په وخت کې هر ډول ذلت ، سپکاوی او ستونزې ګاللې ، مرګ او يا مرګوني سزا ئې مقدر و. ددې دندې غوښتنه داوه چې نجونو ته د نړۍ هره اسانتيا ، برابره کړل شي. (لوزينا ) خپلې خونې ته د رسيدو سره سم ويده شوی وه ، بله ورځ د هغې جسم د ستړتيا لهلاسه ماتيده ، هغې نه غوښتل را پورته شي ، خو هغه راپورته شوه ، سهار ناشته ئې وکړه او بيرون ووتله ، دهغې د ځنګ سره اوسيدونکې نجوني راغلې هغوی غوښتل دهغې څخه د قاهرې خبرې واوري ، خو هغې ورته په ډيره لنډه توګه يو خبره دوه وکړې او د شفاخانې په لور روانه شوه .

*****(۷۹)

هغه ډيره لرې تللې وه چې ورسره ئې يوه ملګرې نجلۍ چې د راز ملګرې ئې هم وه يوځاې شوه او ترې وئې پوښتل ،« لوزي چېرې ځې ؟ تو خو ډيره اندېښمنه ئې ، دا د ستړتيا اغيز دي ، او که بله کومه ځانګړې پيښه در پيښه شوی ده ؟ ايا رخصتي نه ده درکړل شوی ؟»

« رخصتي راکړل شوی ده » هغې ځواب ورکړ ،« يوه ځانګړې پيښه شوی ده چې زه ئې ډيره اندېښمنه کړې يم.» هغه د خپلې ملګرې سره د يوې ونې د سيورې لاندې کيناسته او ټول هر څه چې ورپيښ شوي و ورته ئې بيان کړل ، او هغه اخطارونه چې خپلو لوړ پوړو افسرانو ورکړي و هغه ئې هم ورته بيا ن کړل اوورته ئې وويل چې « زه غواړم د(حديد ) سره ووينم ، زه ويريږم چې دهغه به علاج نه وي شوی ،او د ښاره به ئې بيرون ويستلې وي او يا به ئې د مرګه پورې په کومه کوټه کې ور غورځولې وي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«تاته خو ویل شوي چې ته ئې د هغه سره د لیدلو کتلو څخه منه کړې ئې ،» ملګرې ئې ورته مشوره ورکړه چې «دا خطر په ځان مه اخله ، که چېرې تا ګیر کړي نو بیا پو هیږې چې سزا به ئې څه وي ؟»

« دهغه وکړي له پاره زه د مرګ سزا اخستلو ته هم چمتو یم.» (لوزینا ) ورته وویل.« ماتا ته وویل چې هغه زما په خاطر خپل ځان په خطر کې واچاوه ، او که نه زما ځان ته خو ګواښ نه و ، که غلو زه له ځانه سره بوتلې هم وای نو یو څو ورځې به ئې خرابه کړې وای او بیا به ئې کوم امیر کبیر باندې پلورلې وای،خو (حدېد ) زما ددې انجام څخه ښه خبر و ، هغه زما د عزت په خاطر خپل ځان د ستر ګواښ سره مخ کړ . غلو هغه ته ویلي و چې نجوني مونږ ته راکړه او تاسو دخپل کار پسې ځئ ، هغه په دې هم پوهیده چې زه پاکه نجلۍ نه یم ، خو هغه زه امانت و ګڼلم.»

« ته دهغه له پاره احساساتي او جذباتي شوی ئې» ملګرې ئې ورته وویل.

«هو » (لوزینا ) ځواب ورکړ . ما دهرمن تر مخه خپل جذبات ښکاره نه شو کړای خواوس خپل زړه ستا تر مخه ږدم ، ته هم زما ملګرې ئې او د ښځې زړه لرې ، زمونږ ژوند څه شې دې ؟ مونږ یوه ښکلې توره او خواږه زهر یو . زمونږ وجود دنارینه و د تفریح اوفریب له پاره استعمالیږي ، ما پخوا ددې خبرو په هکله هیڅکله هم فکر نه وکړې ، خپل وجود مې د جذباتو څخه خالي احساساوه ، خو ددې سړي جسم چې ما د خپل جسم سره یوځای کړ نو زما په وجود کې هغه ټول احساسات ، چې ما فکر کاوه په ما کې نشته ، را وپاریدل . زه په لمړي ځل د مور ، خور ، لور ، او د یو چا محبوبه ګرځیدلې یم ، کیدای شي دا د همغې اغیزوي ، چې ما خپل ځان پخپله د پادشاهانو په زړونو د یوي حکمراني شهزادګۍ په څیر ګاڼه.....

« ماته ئې دومره لارې او طریقې ښوولې دي چې دهغې په واسطه ډیر ستر اوظالم حکمرانان هم په خپلو دوو ګوتو نڅولې شم ، خو غلو زه یوه پلورونکې څیز و ګڼلم ، زه ئې دومره را ښکته کړم ، چېرې چې زما په څیر نجونې هره شپه پلورل کیږي اویا د کوم مسلمان امر او حاکم په لاسو کې ورکول کیږي اوهغوی ئې د حرم سراېو وینځې جوړوي. دغه سړې چې نوم ئې(حدېد ) دې زه ددې سطحې نه را پورته کړم. ددې د مخه هم زه دهغه په قید کې وم ، هغه هغه وخت هم زه ددې وړ و نه ګڼلم چې ما دخپلې ساعت تیرۍ اله و ګرځوي ، اوهغه داسې کولې هم شول هغه زه له سترګو غورځولې وم ، اوبیا کله چې هغه زما دعزت دخوندي ساتلو له پاره خپل وجود زخمي زخمي کړ ، نو زه بې واکه شوم او هغه مې په خپلې غیږ کې راونیو او دخپلې سینې سره مې یوځای کړ . اوبیرته هغې سطحې ته را غلم د کومې څخه چې زه غورځول شوی وم. ما ته د صلاح الدین ایوبي خبرې هم را په یاد شوی ، هغه ماته ویلي و چې ته ولې دکوم عزتمنده سړې سره واده نه کوی ؟ما په خپل زړه کې ویلي و چې د ا مسلمان څومره بې عقله دي ، خو زه اوس احساسوم چې زمونږ دښمن مونږ ته څومره ستره خبره کړې وه... زه تاته دا په زغرده وایم چې زه اوس جاسوسي نه کوم ، هغه سبق ئې چې زما په مغزو کې د کوچنیوالي څخه اچولي دي ، هغه د صحرا ویریدونکې شپې ، د غلو ویرې او د (حدېد ) د جسم حرارت او دهغې د وینی بوي زما څخه لرې کړې دي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« كه چېرې تا دومره اوږدې خبرې هم نه واې كړې زه پوه شوى وم چې ته اوس څه احساسوې؟ » دهغې سهيلۍ ورته وويلې ،« خو ددې حقيقت نه دې خبرول اړين ګڼم ، هغه به ددې ځاېه ځي او ته به ورسره نه شې تللاې، كه چېرې هغه دلته په ستونزو كې هم وي نو حكم دې چې ته دهغه سره نه شې كتلې ، كه چېرې و نيول شوى نو دخپله ځانه سره به هغه هم له منځه يوسي.»

« ته زما سره مرسته وكړه ،« (لوزينا ) ورڅخه غوښتنه وكړه ،«دا را ته ډاګيزه كړه چې هغه چېرې دې ، اودا چې هغه جوړ شوى او صحتمند شوى او كه نه ، نو زما زړه ته به ارام را پيدا شي.»

« هو كې !» سهيلۍ ئې ورته وويل. زه دا كار كولې شم ، ته بيرته خپلې خونې ته ولاړه شه ،»

هغه خپلې خونې ته بيرته ولاړه اوسهيلۍ ئې بلې كومې لورې ته روانه شوه.

*****(٨٠)

په قاهره كې هم د فوځي خوزښتونو نښې را برسيره كيدې ، فوځ ته جنګي تمرينات وركول كيدل ، يو څو دلګې ئې جدا كړي و. هغوى ته ئې د شپيني غلچكي عملياتو ښوونه كوله اودا چې په لږې شميرې سره د دښمن په زياتو فوځونو باندې بريدونه كول ، او د [ترپ او د خرپ ] تمرينات ئې وركول. دا تمرينات په دې ترتيب سره روان و چې دشپې له اړخه به هم فوځي دلګې د عسكرې تم ځاېو څخه بيرون استول كيده. سلطان ايوبي په خپله ددې تمريناتو سره زياته علاقه درلوده ، هغه به هره څلورمه او پنځمه ورځ اعلى قومندانانو ته او ان تر دلګيو تر قومندانانو پورې لكچرونه وركول او هغوى ته به ئې د نقشو او انځورونو په مرسته ، جنګې لوبې ښوولې ، هغه ددې روزنې بنسټيز اصول دا ډول كيښنول چې:

- دكم شمير په واسطه زيات شمير دښمن ته زيان رسول ، او د وسلې څخه زيات د عقل اوفكر استمالول ،
- د مخ د مخه جګړې نه ځان ساتل ، مخامخ بريد نه كول ، د لس دولس كسانو دغلچكي عملياتو په واسطه دښمن ته زيا ت زيان رسول.

ددې نه اخوا ددښمن كومه كلا يا ښار تر اوږدې محاصرې لاندې د نيولو لارې چارې او يا د كلا ګانو په دېوالونو كې ئې د نقب(سوري) وهلو درس هم وركاوه. هغه د ټولو اوښانو ، كچرو او آسونو څخه ليدنه كړې وه ، كمزوري او يا عمر خوړلي ځناور يې ورڅخه جدا كړي و، د بريد وخت او ورځ ټاكل شوى وه ، هغه منصوبه چې سلطان ايوبي د فلسطين د سوبې له پاره جوړه كړې وه ، دهغې په لمړۍ مرحلې كې په كاميابۍ سره دداخليدو چمتوالې په پوره توان سره روان و. دبله اړخه په لاره كې دتم ځاېو په هكله هم فكر كيده.

ددوارو فوځونو چمتوالې داسې و لكه چې يو بل به د تل له پاره له منځه وړي او نابوده وي به ئې. د صليبيانو د چمتوالي دايره د (شوبک) نه تر (كرک) پورې او ان د مصر تر پولو پورې روانه وه ، هغوى په دغه پراخه دايره كې د سلطان ايوبي له پاره داسې ځنډۍ برابروله ، چې دهغې څخه ئې د تل له پاره د وتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



امکان ورکيده ، دهغوی چمتوالي دسلطان ايوبي دهغه پلان او مالوماتو په اساس و چې هغوی ته د وخته مخته وررسيدلي و.

ددې پراخه تياريو په منځ کې هلته په (شوبک ) کې يوه بله لوبه هم روانه وه ، خو دې لوبې د جنګ سره هيڅ ډول اړيکی نه درلودل بلکه د جذباتو او احساساتو سره ئې اړيکي تړل شوي و. (لوزينا ) په خپله خونه کې پرته وه او د (حدېد ) له پاره ناقراره وه، او سهيلی ئې ددوه ورځو را په دېخوا د (حدېد ) لټون کاوه ، هغه د افسرانو په روغتون کې نه و ، او نه د سپاهيانو په روغتون کې تر سترګو کيداې شو ، هغه جاسوسه نجلۍ وه ، سترو سترو افسرانو د هغې عزت کاوه ، هلته د (لوزينا ) په ګډون هرې جاسوسې نجلۍ ته همدا مقام ور په برخه و. خو ددې سره سره بيا هم به چې دغه نجلۍ د هر چا څخه ددې پوښتنه کوله چې د (لوزينا ) سره چې کوم زخمي را غلي و هغه اوس چېرې دي؟ نو هغې ته به همدا يو ځواب ورکول کيده « ما خو هغه نه دي کتلي » ، په دريېمه ورځ يو افسر ورته په غوږو کې وويل چې دهغې لږ څه علاج کړل شوی دې اودهغې وروسته دمسلمانانو پنډغالي ته ليږدول شوی دې ،

کله چې سهيلۍ دا خبر (لوزينا ) ته ورکړ نو په هغې باندې بې هوشي را غله ،« دمسلمانانو پنډ غالي !؟» دا يو ويرونکې ځاې و، په هغه ځاي کې د پخوانيو جنګونو مسلمان بنديان لا تر اوسه پورې پراته و او هغه مسلمانان هم چې صليبيانو د کوم جرم پرته په اشغالي سيمو کې نيولې و.

دا مسلمانان به ډير وخت د هغه قافلو څخه نيول کيدل چې صليبيانو به لوټولې ، د ا پنډغالي بنديخانه نه وه، او نه د جنګي بنديانو پنډ غالي و، دا يو بيګار پنډغالي و ، چې د اسې سخته پهره پرې نه وه ولاړه ، ددې بدنصيبه بنديانو کوم ريکارډ هم شتون نه درلود. ددې خلکو څخه ئې حيوانات جوړ کړي و ، هر چېرې به چې اړتيا پيښيده ددوی څخه به ئې د اړتيا وړ وګړي هلته وروړل اوکار به ئې پرې کاوه ، خو خوراک څښاک به ئې همدومره ورکاوه چې دهغې په واسطه ژوندي پاته شي ، هغوی په خيموکې اوسيدل ، په دوی کې به چې څوک ناروغ شو نو د هغه علاج به هغه وخت کيده چې ناروغتيا به ئې مامولې وه ، که چېرې ناروغتيا به زياتيدله ، نو بيا به ئې هغه ته زهر ورکول او له منځه به ئې وړ، دا دبدنصيبه مسلمانانو يوه ډله وه ، چې يوا ځې ددې جرم سزا ئې تيروله چې مسلمانان دي ، سلطان ايوبي ته دهغه جاسوسانو ددې پنډغالي په هکله خبر ورکړي و ،

(حدېد ) ئې هم همدې پنډغالي ته ور ليږلې و ، او د (لوزينا) له پاره حکم شوی و چې دهغې سره به نه ويني، هرمن ته شک پيدا شوی و چې دا يوه جذباتي تړون دې خو(لوزينا ) دهغه حکم نه و منلې ، کله چې هغې واوريدل چې (حدېد ) د مسلمانانو په پنډغالي کې دي ،نو هغې خپلې سهيلۍ ته وويلې چې هغه به (حدېد ) ازادوي ، سهيلۍ دهغې د احساساتي حال په کتلو سره دمرستې وعده وکړه او دواړو پلان جوړ کړ.

دوی دواړه هماغه وخت په ښار کې دیوه شخصي ډاکتر سره وکتل ، هغه ته ئې وويل چې هغه يو زخمي راوړي چې علاج به ئې په دې شرط کوي چې دهغه په اړه به هيچاته هم نه وائې. ډاکټر ترې د دې علت و

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښته ، نو(لوزينا ) ورته وويلې « هغه يو غريب شانته مسلمان دې چې زما دکورنۍ ډير خدمت ئې کړې دې.
هغه چېرې په کومه جګړه کې زخمي شويدې ، دهغه په جيب کې څه نه شته نو په دې خاطر ئې ډاکټر علاج نه
کوي ، څرنګه چې دلته ټول ډاکتران عيسايان دي نو په دې خاطر دمسلمان علاج د اجرت پرته نه کوي ، او بل
علت ئې دادې چې که چېرې د ښار ښاروال ته داخبره ورورسيږي چې ددې مسلمانانو تر منځ جنګ جګړه
شوی ده نو بيا همدا بهانه کوي او د مسلمانانو پنډغالي ته ئې ليږي ، هغوی خو بهانه غواړي ، زه دهغې
دخدمت بدله ورکول غواړم ،چې هغه زما د کورنۍ سره کړې ، زه هغه دشپې له اړخه راوړم وو ايه چې ستا
به څومره اجرت کيږي. زه به د راز ساتنې اجرت هم درکوم.

په دې وخت کې ډاکټر هغه د سر نه تر پښو پورې کتله ، (لوزينا ) هغه ته دا ونه ويل چې هغه څوک ده ، همدا
ئې ورته وويل چې هغه د يوې عزتمندې کورنۍ لور ده ، د نجلۍ دښايست په کتلو سره ډاکټر چې کوم اجرت
غوښته هغه ئې په ژبه نه راوست ، (لوزينا ) ددې ډګر او فن ماهره وه ، هغه د نارينه و په سترګو پوهيدله ،
هغې خپل فن استعمال کړ نو ډاکټر د موم په څير ويلي شو ، (لوزينا ) دسرو زرو څلور سکې دهغه مخته
کيښودې ، او کله چې ډاکټر د هغه لاس په خپل لاس کې ونيوه نو وئې ويل ، چې ستا څخه زياته بله قيمتي
سکه نه شته ، نو(لوزينا ) ورته په خپلې ماهرانه خندا کې وويل « ته چې څومره قيمت غواړې درکوم ئې ، خو
زما کار اول وکړه.»

ډاکټر په دې پوه شو چې معامله خطرناکه او د رازه ډکه مالوميږي ، خو د (لوزينا ) په کتلو سره ئې دا خطره
قبوله کړه ، او وئې ويل « راوړه ئې ، همدا نن شپه ، يا سبا شپه ، کله چې ئې راوړې راوړه ئې ، که زه ويده
شوی وم را ويښ مې کړه ،» هغه په يوه لاس کې د طلا سکې او په بل لاس کې ئې د (لوزينا ) لاس و نيوه.

*****(۸۱)

ددې کار د تر سره کولو تر ټولو زياته اوخطرناکه مرحله د (حدېد ) د پنډغالي څخه د رواستلو مسئله وه ، او
داچې هغه څه ډول د پنډغالي څخه را وويستل شي ، هلته د شپې دومره کلکه پهره نه وه ، او علت ئې داو
چې په هغو بدنصيبه بنديانو کې د تيښتې توان هم نه وپاته ، سهار به ئې د لمر خاته نه مخته هغوی د
مشقت کولو له پاره وړل ، او د لمر د پريوتو نه وروسته به ئې بيرته را وړل ، ددوی ټوله شميره يو نيم زر کسان
برابريدل ، د(لوزينا ) ملګرې د پنډغالي په اړوند څه مالومات تر لاسه کړي و ، چې په هغې کې يو دا هم و چې
زخمي اوناروغ بنديان يو عادي کلينيک ته هره ورځ ور استوي ، چې يو اځي يو کس ساتونکې ورسره وي ،
په بله ورځ (لوزينا ) د خپلې سهيلۍ سره هغه ځاې ته ورغله چې ناروغ بنديان ئې را وړل ، هغوی ډير
انتظار و نه کړ ، د پنځه ويشت دېرش ناروغانو يوه ډله ئې چې ډير سوکه سوکه راتلل ،دهغوی ساتونکې په
لاس کې کوتک نيولې و او د حيواناتو په څير ئې پرې چغې وهلې او هغوی چې لږ څه سوکه تلل په ډنډو
ئې وهل او ټيله کول به ئې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه نجونې مخته ورغلې هغوی خپل ځانونه داسې و نیول لکه څوک چې سیل کوي ، کله چې د ناروغانو ډله دهغوی سره نژدې تیریدله نو هغوی هر یوه ته کتل ، ناڅاپه (لوزینا ) ټکان وخوړ ، (حدېد ) هغه ته په غضبناکه سترګو کتل ، هغه چغې نه شوی وهلې ، دهغه دمخ څخه هغه نور اوروښنائې تللې وه چې (لوزینا ) د زخمې کیدو تر مخه کتلې وه ، د (حدېد ) اوږې را پریوتې وې ، او کالې ئې په وینه ککړ ، وینه ئې وچه شوی وه. د (لوزینا ) په سترګو کې اوښکې را غلې ، خو د (حدېد ) په سترګو کې کرکه او نفرت ، هغه مخ واړاوه ،... دا د ناروغانو ډله مخته ولاړه ، نو(لوزینا ) و د هغې ملګرې د ساتونکې سره داسې خبرې پیل کړې چې په کې دهغه مسلمانو ناروغانو له پاره کرکه او نفرت و. هغوی د ژبې په جادو باندې ساتونکې د خپل ځان غلام کړ او ورته ئې وویل چې هغوی غواړې په ټوکو مسخرو سره ددې مسلمانو بندیانو سره خبرې اترې وکړې.

هلته په کلینیک کې نور ناروغان هم وو، ډیر هجوم مالومیده ، بندیان ئې یوې لورې ته کینول ، (لوزینا ) هغوی ته نژدې ورغله ، او ملګرې ئې ساتونکې په خبرو کړ. (حدېد ) د یوال ته تکیه وکړه او کیناست ، دهغه د روغتیا حالت ښه نه و ، (لوزینا ) د سترګو په اشارو سره هغه راو باله ، کله چې هغه ورته نژدې شو ، نو(لوزینا ) ورته په کلاره وویلې « ماته حکم شوی چې له تاسره هیڅکله هم و نه وینم ، کینه ، مونږ به دا نه ځرګندوو چې مونږ خبرې کوو.

« زه پر تا او ستا په حکم کونکې باندې لعنت وایم » (حدېد ) ورته په کمزوري مګر غضبناکه اواز سره وویل، « ما ته د کومې بدلې د اخستلو له پاره دغلو څخه نه ئې خوندي کړې ، هغه زما دنده وه ، ایا تاسې د یوه دندې د اجراکونکې سره همدا ډول سلوک کوئ ؟»

« چې شه حدېده !(لوزینا ) ورته په غبرګوني اواز وویل « داخبرې به بیا کیږي ،ماته ووایه چې ته دشپې په کوم ځای کې ویده کیږې ، نن شپه به تا له هغه ځایه راباسم .»

(حدېد ) نه غوښتل د هغې سره خبرې وکړې ، (لوزینا ) هغه ته د اوښکو په تویولوپه ډیر سخته توګه قناعت ورکړ چې هغه ورته دوکه اوفریب نه ورکوي ، (حدېد ) ورته وویل چې په هغه ځای کې چې هغه ویده کیږي دهغه ځایه راوتل ګران کار نه دې ، خو چې را ووځې نو هغه به ځې چیرې ؟... هغوی ډیر ژر د تیښتې پلان جوړ کړ.

*****(۸۲)

د مسلمانانو پنځه غالې په داسې درانه خوب بیده و لکه دمړو هدېره . ساتونکې هم ویده شوی و. ددې ځایه تر اوسه پورې څوک تښتیدلې هم نه و. اوکه تښتیدلې هم وائې نو چیرې به ته. ددې نه علاوه ساتونکو ته دا هم ډاډګیزه وه چې که چیرې کوم یو و تښتې هم ،نو څوک ئې پوښتنه کوي ،

دشپې لمړۍ برخه پاې ته رسیدلې وه ،چې دیوی پخوانۍ شکیدلې خیمې څخه یو کس دګیډې په خویدو سره بیرون را ووت ، او تر هغه ځایه پورې ولاړ چې د ساتونکې سترګې پرې نه لګیدې ، مخکې هغه ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیاره کې هم د کجورو ونې په سترګو شوی ، مخته ورته یو سیوري د سرنه تر پښو پوري پټ تر سترګو شو ، خویدونکې راپورته شو او دکجورو د تنو پورې ئې ځان ورساوه ، هغه (حدېد ) و او (لوزینا ) دهغه انتظار کاوه.

« تیز تلاې شې؟» (لوزینا ) ترې و پوښتل.

«هڅه به وکړم» (حدېد ) ځواب ورکړ.

دپنډغالي ښخه پوره لرې تللې و مخته پراخه نا اباده سیمه پرته وه ، ستونزه داوه چې (حدېد ) تللاې نه شو. (لوزینا ) ورته لاس ورکاوه تر څو ګړندې ګامونه واخستلاې شي هغه ته ئې په لاره کې وویل چې هغې ته څه ډول اخطارونه او حکمونه ورکول شوي دي. هغې د (حدېد ) غلط فهمي لرې کړه ، مخته د ښار کوڅې راغلې اوبیا د ډاکټر کور هم راورسید ، درې څلور ځلې ټک ټک نه وروسته ډاکټر بیرون راووت ، او (حدېد ) ئې سمدستي دننه یوړ . د (حدېد ) زخم ئې پرانست او وئې کوت ، نو وئې ویل چې لږ تر لږه شل ورځې به دده علاج کیږي . ددې خبرې په اوریدو سره د(لوزینا ) مخته یو ستونزه را غله ، او هغه داوه چې ددومره ورځو له پاره به (حدېد ) په کوم ځاې کې پټوي ، بیګار پنډغالي ته ئې هم بیرته نه وروست ، دهغې عقل ځواب ورکاوه. ډاکټر دهغه علاج پیل کړې و ، نو ورته ئې وویل چې دې ته د ډیرې قوې او ښه غذا اړتیا ده.

(لوزینا ) هغه په خپله خبره کې واخست او ورته ئې وویل چې په کوم ځاې کې چې دې اوسي نو هلته ورته ښه غذا نه ورکول کیږي ،ته دا له ځانه سره همدلته وساته ، او هر هغه څه چې دده له پاره ګټه ور دي هغه ورکړه ، ته چې له ما څخه څومره اجرت غواړې همغومره درکوم.

ډاکټر چې کوم اجرت غوښته هغه ډیر زیات و ، (لوزینا ) ترې د راکمولو غوښتنه وکړه نو ډاکټر ورته وویلې ،« ته پر ما ډیر خطرناکه کار تر سره کوې ، زه پو هیږم چې دا شخص مو دمسلمانانو د پنډغالي ښخه راوړې دي. اودا د مصر د فوځ سپاهي دي ، ته له دې سره څه اړیکې لرې؟ ته چې ماته زماد غوښتلو سره سم اجرت راکوې نو ستا دا راز به هم زما له کوره بیرون نه وځي.

« ماته منظور ده» (لوزینا ) ورته وویلې ، اوډاکټره دا هم واوره چې که داراز فاش شو نو ته به هم ژوندې پاته نه شې.

ډاکټر (حدېد ) په یوه خالي کوټه کې څملاوه ، اوهغه ته ئې وویل چې ته به د علاج پورې همدلته اوسې ، هغه ورته شیدې او میوه راوړه ، او(لوزینا ) ئې یوې بلې کمرې ته یوړه ،.... بله ورځ (لوزینا ) او دهغې سهیلۍ د پنډغالي جاسوسې وکړه ، کلینیک ته ولاړې ، ناروغ قیدیان هلته وروړل ، دواړو نجونو د ساتونکې سره خبرې اترې وکړې ، اود خپل خصوصې فن له مخې ئې دا ډاګیزه کړه چې د(حدېد ) په ورکیدو سره په پنډغالي کې کوم بدلون نه دې راغلې اونه کومه هنګامه پیدا شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې تيريدې ، او څرنګه چې ډاکټر دخپلې خوښې قيمت اخسته نو په دېخاطر هغه (حدېد ) هملته له ځانه سره پټ ساتلې و، دهغه علاج ئې په پوره توجه سره کاوه او قوي غذا ئې هم ورکوله، (لوزينا ) به هر ماښام هلته ورتلله ، څه وخت به د (حدېد ) سره کيناستله او ډيروخت به ئې د ډاکټر په خونه کې تيراوه ، په همدې جريان کې شل ورځې تيرې شوې ، د (حدېد ) زخمونه هم را ټول شوي و ،روغتيائي حالت ئې بلکل ډاډمن و ، (لوزينا ) ډاکټر ته وويل. چې هغه به سبا شپه څه وخت (حدېد ) له دې ځايه څخه باسي.

بله ورځ هغې خپله سهيلۍ بيا استعمال کړه ، د يوي کمې رتبې افسر چې تل به دهغې دسهيلۍ ترشا د تنګولو له پاره د هغې پسې ته ، په يوه چل را ګير کړ. افسر ئې په يوه کوټه کې بند کړ او (لوزينا ) ترې عسکري کالي و کنبل او (حدېد ) ته ئې ور واغوستل ، د آس انتظام هم ستونزمن کار نه و ، هغه ئې هم وکړ ، دا انتظام ئې په دې خاطر وکړ چې د ښار چار چاپير لوي خاورين دېوال و اوڅلور دروازې ئې درلودې ، چې دشپې له مخې به تړل کيدې ، په هغې ورځو کې به د ورځې له اړخه دا دروائې پرانستې وې ، ځکه چې دسلطان ايوبي د راتلونکي يرغل له پاره د فوځيانو اودهغوی له پاره د سامانونو تګ را تګ روان و .

دلمر دپريوتو تر مخه ،د کلا د لوی دروازې په لور يو صليبي افسر په اس سپور روان و د هغه په ملا باندې را ځوړنده توره دمسلمانانو په څير کړه نه وه بلکه نيغه ځوړنده وه ، او لاستې ئې د صليب په شکل و ، هغه له هره اړخه صليبي و ، دروازه پرانستې وه او دهغې څخه د اوښانو يوه بار کړل شوی قافله بيرون روانه وه ، داسي ښکاريده چې د آس سپور افسر ددې کاروان سره يوځاې روان دې ، هغه دروازی ته ورسيد ، نو دصليبي جاسوسي شبکې مشر هرمن ددروازې څخه داخليده ، هغه بيرون له کومه ځايه را ستون شوی و. هغه دا افسر وکوت او ورته په مسکا شو ، خو هغه افسر د خندا ځوا ب په خندا ورنکړ. هرمن چې څو قدمه مخته راغي نو آس ئې و دراوه ، دهغه څخه دوه درې سوه قدمه لرې (لوزينا ) ورته تر سترګو شوه ، هغې چې هرمن وکوت نو په ډيره تيزۍ سره د خپلې کمرې په لور ولاړه،

د علی بن سفيان په څير هرمن هم په څارکښۍ کې پوره ماهر و ، هغه سمدستې خپل آس ددروازې په لور واړاوه ، او ور وئې ځغلاوه ، هغه غوښتل خپل شک رفع کړي ، کله چې هغه آس ته لغته ورکړه نو آس په ځغاسته شو . بيرون چې ووت هر من وکتل چې هغه افسر چې دهغه له مخې تير شوی و دومره لرې تللې دې چې دهغه په تعاقب کې تلل بيکاره و . هغه آس سپور د دروازې څخه د وتلو وروسته سمدستې خپل آس په ځغاسته کړې و ، اس ئې هم ډير تيز تلونکې و، اوپه دې ترتيب (لوزينا ) (حدېد ) ازاد کړ او خپله بدله ئې پوره کړه.

*****(۸۲)

هرمن خپل آس په چټکۍ سره را وګرځاوه او بيرته دننه ولاړ ،ترهر څه لمړې د مسلمانانو پنډغالي ته ولاړ، او دهغې ځاې د ساتونکي څخه ئې د (حدېد ) دننبو نښانو ويلو وروسته ويوښتل چې هغه چيرې دې ، خو په هغه خيمه کې چې (حدېد ) ساتل کيده د هغې ملګرو وويل چې يو سهار هغه ددې ځايه غايب شوی ، مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې وګڼله چې شاید هغه ئې اخوا دېخوا چېرې وړې وي ، د هرمن شک په ډاډ سره بدل شو ، هغه په خپله (حدېد ) و چې دصلیبي فوځ په بېړه کې يې ددروازې څخه وتلې وکوت ، هغه د نورې زیاتې پلټنې له پاره د (لوزینا ) کمرې ته ولاړ ، هغې خپل سر په لاسو کې نیولې وه اوژړل ئې.

«ایا هغه تا و تښتاوه ؟»هرمن ترې په غضب سره و پوښتل ، (لوزینا ) په کلاره خپل سر را پورته کړ ، هرمن ورته وویل « که درواغ دې وویل نو په پلټنه کې به ئې درباندې ثابت کړم چې هغه ته تا دتیښتې ټولې لارې چارې برابرې کړې دي.»

«نه ستا تفتیش ته اړتیا شته او نه ماته ددرواغو د ویلو اړتیا » (لوزینا) ورته وویل « زما ټول ژوند پادشاهي درواغ او زما وجود ډېره ښایسته دوکه او فریب دې ، ما دخپل روح د خلاصون په خاطر دریښتیا په ویلو ځان مرګ ته ورکړ.» دهغې په اوازکې پرکالي وه چې هر ساعت زیاتیدله ، هغه پورته شوه نو پښې ئې په لړزیدو شوی ، ورسره نژدې یو ګیلاس پروت و چې یو څو څاڅکې اوبه ئې درلودې هغه ګیلاس پورته کړاو د هرمن په لور ئې په خپل لاس سره ور اوږود کړ او وئې ویل « ما خپل ځانته د مرګ سزا ورکړې ده ، ددې ګیلاس دغه څو څاڅکې اوبه ددې ګواهي وایې چې ما خپل ناپاک جسم ته د مرګ سزا په دې خاطر نه ده ورکړې چې د خپل قوم سره مې غداري کړې وي او د قوم او ولس دښمن مې د قیده خلاص کړې او د تیښتې لارې چارې مې ورته برابرې کړې دي بلکه زما جرم داو چې زه هغه انسانانو ته ددوکې د ورکولو له پاره تللې وم، چې دهغوی تر منځ دوکه او فریب شته نه دي. دهغوی څخه هغه ثلور انسانان زما د عزت د خوندي ساتلو له پاره وه یانه ، خوهغوی زما د عزت دخوندي ساتلو په خاطر د لسو غلو مقابله وکړه. او بیا دهغوی څخه یو انسان خپل جسم زخمي زخمي کړاو زه ئې دهغو غلو د خولې څخه را وویستلم. ماته د نیکۍ او بدۍ ، د محبت او نفرت توپیر مالوم شو. زه ریښتیا وایم او مره کیږم، دا به ډېر ډاډمن مرګ وي».

هغه لویدلو ته نژدې وه نو هرمن ئې د لاسه ګیلاس واخست اوهغه ئې و نیوله ، (لوزینا ) خپله جسم ته یو ټکان ورکړ او دهرمن د لاسو څخه ئې ځان وویست او لرې ترې و دریده ، په ژړغوني اواز ئې وویل چې « ماته لاس مه راوړه ، دا اوس ستا دکاره وتلې دې. دغې زهرو په دې کې ریښتاوی ور ننویستې دي ، تاسې ته د ناپاکه جسمونو اړتیا ده ،.... هو هغه ته ما دتیښتې زمینه برابره کړې ده ، هغه ما شل ورځې پټ ساتلې و . هغه ته ما د فریښدس درویشي را پته کړې او وراغوستې مې وه ، هغه ته ما آس ورکړ ، خو زه د هغه سره نه شوم تللاې مګر دهغه پرته ژوند هم نه شم کولاې ، په دې خاطر ما زهر و څښل ، که چېرې تا زه نیولې هم نه وي نوما زهر څښلي و ،»-- هغه په پالنګ باندې پریوته ، هرمن ته د هغه اخري خبره تر غوږو شوه « په ریښتیا ویلو سره په مرګ کې څومره سکون دې » هغې خپله اخري ساه داسې واخسته لکه د سکون ډکه «اه».

کله ئې چې هغه خاورو ته سپارله نو یو افسر و پوښتل چې « ددې دکورنۍ که څوک وي نو هغوی ته ئې د مړینې خبر ورکړئ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



« دهغې کورنۍ همدا مونږ و .» هرمن ځواب ورکړ ،« هغه په لس یولس کلنۍ کې د کومې قافلې څخه را تښتول شوی وه »

د صلاح الدین ایوبي د فوځ د کوچ دریېمه ورځ وه ، صلیبیانو دهغوی په لاره کې د تم کولو او محاصره کولو له پاره زیات شمیر فوځونه استولي و . د پلان په مطابق حمله په (کرک) کیدونکې وه نو په دې اساس صلیبیانو د (شوبک) څخه هم زیات شمیر فوځونه کرک ته ور استولي و ، هغوی د خپلو فوځونو یو برخه د شام په لور هم استولې وه ، تر څو چې د نور الدین زنګي د مرستندویه فوځونو د راتګ مخنیوي وکړي ، د همدې فوځ یوه برخه هغوی په لارکې د سلطان ایوبي د فوځ د تم کولو او له منځه وړلو له پاره ور واستولې وه . دکوچ په وخت کې سلطان ایوبي خپل فوځ په درې برخو ویشلې و ، او درې واړه برخې ئې یو له بله څخه لرې لرې ساتلې وی ، کله چې هغه هغې ځاې ته ورسید چېرې چې د صلیبیانو سره ټکر کیدل و ، نو هغه ددرې واړو برخو قومندانان او د هغوی نائبین خپلې خیمې ته راو بلل.

«مونږ اوس هغه ځاې ته راغلي یو چې زه باید تاسې ته راز را ښکاره کړم .» سلطان ایوبي ورته وویل ،« تاسو به حیران شوی یاست چې زه تاسې ته دا ویل غواړم چې زه په (کرک) باندې حمله کونکې یم ، خو ما تاسې په بل طرف روان کړي یاست ، زه په (کرک) باندې حمله نه کوم ، زمونږ منزل (شوبک) دي ، یوه پوښتنه به تاسو ټول اندېښمن کوي چې ما هغه درې واړه جاسوسان چې یوئې عالم او دوه نوري ئې نجونې وی ولې ازاد کړل ، او هغوی ته مې ولې ساتونکې ورکړل ،ددې پوښتنې ځواب واوری: ما هغوی دخپلې خونې تر څنګ خونه کې کینول ، منځنۍ دروازه مې پرانستې پریښوله ، او علي بن سفیان او دوه نورو نائبیو نه مې په لوړ اواز وویل چې زه به په فلانکۍ ورځ او فلانکي تاریخ باندې په(کرک) حمله کوم ، زه پوهیدم چې جاسوسان ئې اوري ، ما دهغوی په غوږونو کې دا خبره هم ور واچوله ، چې زه د صلیبیانو سره په پراخه ډګر کې د جنګ څخه ویریږم....

همدا ډول خبرې مې د هغوی په غوږونو کې ور واچولې او ازاد مې کړل ، او ساتونکې مې ورکړل تر څو په امن و امان سره ئې (شوبک) ته ورسوي. ما ته خبر را ورسید چې په لاره کې یوه پیښه و شوه ، غلو یوه نجلۍ او درې ساتونکې وژلي دي، څلورم ساتونکې پرون شپه د (شوبک) څخه بیرته را ستون شوی دي ، هلته چې زمونږ کوم جاسوسان و هغوی اطلاع راکړې ده چې عالم جاسوس ژوندې (شوبک) ته ور رسیدلي او همغه زما پلان ته بریا ورکړې ده ، صلیبیانو خپل فوځ زما د خوښې په مطابق ویشلې دي ، اوس ستاسې د فوځ د ښي لورې برخه د صلیبیانو د ډیر ستر فوځ ښي لورې د فوځ څخه څلور میله لرې دي»

هغه د ښي لورې د برخې قومندان ته وویل « نن به دلمر د پریوتو نه وروسته ، خپل اس سواره دوه میله مخامخ مخته یوسې ، بیا به کیڼ لورې ته شې او څلور میله به مخامخ ولاړ شې بیا به ښي لورې ته دوه میله نور هم ولاړ شې ، هلته به دښمن تاته د ارام په حالت کې در په سترګو شې ، برید کول ستا کار دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا به ډيره ګړندۍ حمله وي ، په لاره کې چې هرڅه درته مخته راغلل له منځه يې يوسئ او بيرته را ووځئ ، اوهماغه ځايو ته ځانونه ورسوئ د کومه ځايه چې تللي وئ ، دويمه برخه به د ماښام په وخت کې مخته ولاړه شي ، اته نهه ميله لرې به بيا کېن لوري ته شي نو تاسې ته به د دښمن د لوژيستکې موادو قافلې تر سترګو شي ،ددې تر څنګ به تاسې ددښمن تر شا ياست. دورځې له اړخه به دښمن د ښي لورې ډلې تر يرغل لاندې راځي ، خو تاسې به د مخ په مخ ټکر نه ځان ساتۍ ، دورځې ډير وروسته راځئ ، دشپې له اړخه به بيا بريد کوئ ، خو درېږئ به نه. که صليبيان مخته راشي نو هغه منځنۍ برخه به دهغوی تر شا بريد کوي او دښمن به راټوليدو ته نه پريږدئ ، دغه دريېمه برخه چې له ماسره دي نن شپه کوچ کوو ، مونږ به سبا تر غرمې پورې (شوبک) محاصره کړې وي. پاته دوه برخې به په هماغه لارو چارو سره چې تاسې ته ئې روزنه درکول شوې ده دښمن په صحرا کې سرګردانه کوئ ، هغوی ته دهغوی خوراکې او د څښاک مواد مه پريږدئ چې ور ورسيږي ، او کله چې د اوبود چينو څخه لرې شول سمدستې په هغو چينو باندې ولکه وکړئ ، د تل له پاره حمله د اړخ له لورې کوئ ، خو د جنګ له پاره به تم کيږئ نه ، د سرتيرو ډلې به تل د هغوی په حيواناتو باندې اور وروي.

د ا د (۱۱۷۱) زيږديز کال اخري ورځ وه چې د(کرک) د اوسيدونکو د اوږود انتظار وروسته هغوی ته مالومه شوه چې د (شوبک) په خير مهمه کلا د سلطان ايوبي د فوځونو په محاصره کې راغلې ده. په داسې حال کې چې هغوی خپل زيات فوځ (کرک) ته منتقل کړې و او يو شميرئې په دښتو کې د سلطان ايوبي د فوځ د له منځه وړلو له پاره ميشت کړې و. اوس نو هغوی د (شوبک) د اوسيدونکو سره هيڅ کومک نه شوکولاې ، هغه فوځ چې په صحرا کې دې پر هغوی مسلمانانو بده ورځ را وړې وه ، دصليبيانو اندېښنه دا وه چې مسلمانان مخ په مخ جګړه نه کوي ، هغوی د غلچکې او کمانډو عملياتو په واسطه هغوی وار خطا کړې دي ، دهغوی دخوراکې موادو قافلې له منځه تللې وی ،په اوبو مسلمانانو قبضه کړې وه ، د صليبيانو دې فوځ د جنګ توان له لاسه ورکړې و او وروسته هم تللاې نه شو چې د (شوبک ) د خلکو سره مرسته وکړي.

په (شوبک ) کې صليبيانو د کلا او د ښار ددېوالونو څخه دغشو او برچو په واسطه ډيره کلکه مقابله وکړه خو دسلطان ايوبي نقب ويستونکو ډلو دېوالونه مات کړل ، دا محاصره يوه نيمه مياشت روانه وه ، اخر سلطان ايوبي (شوبک ) ته ور ننوت ، تر ټولو لمړۍ هغه د بيګارانو پنډ غالي ته ورغې چيرې چې بې وسه مسلمانانو د شکر سجدې وکړې ، دصليبيانو صحرائې فوځ په ډيره بې نظمۍ سره د(کرک) پورې را ورسيد چيرې چې ډيرې فوځيان بيکاره ناست و اود سلطان ايوبي د ورتللو انتظار ئې کاوه.

(۸۳)*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



«دا ستا دقوم دسپاهیانو لاشونه دي ، دوی د هغه پادشاهانود غوښتنو ښکار ګرځیدلي چې داسلامي سلطنت دله منځه وړلو له پاره د انګلیستان ، فرانسې ، جرمني ، ایټالیې او ....دکوموکومو ځایو څخه دلته راغلي و»( عماد هاشم)

## او کله چې «ایونا» په عایشې بدله شوه:(۸)

د (۱۱۷۲) زیږدیز کال دویمه میاشت په تیریدو وه ، د (شوبک) کلا دمجاهدینو په ولکه کې راغلې وه خو په ښارکې لا تر اوسه پورې بې نظمي او اړودوړ روان و. عیسایانو دخپلو کورنیو سره یوځای دهغه ښاره د تیښتې هڅې کولې ، څه خو لا پخوا تښتیدلي و . هغوی ویریدل چې لکه څنګه چې هغوی د خپلې واکمنۍ په وخت کې د (شوبک) په اوسیدونکو مسلمانانو ظلم او تیري کړي و نو په همدې توګه به اوس مسلمانان هم د هغوی د ژوند ساحه را تنګه کړي. هغوی د دې انتقامي عمل څخه دومره په ویره کې و چې کله چې هغوی خپل فوځونه د کلا نه په تیښته ، دصلاح الدین ایوبي د غشي ویشتونکو په لاسو مړه او وسله غورځونکي کتل نو یواځې خپل کوچنیان به ئې له ځانو سره اخستل او دکورو څخه به وتل. خو مسلمانو سپاهیانو هغوی تللو ته نه پریښودل ، سالارانو او قومندانانو په خپله حکم کړی و چې د ښار اوسیدونکي بلې لورې تللو ته مه پریږدئ ، هماغه و چې سپاهیانو به تښتیدونکي عیسویان د شګلوړه لرې لرې لارو ، د غونډیو او نورو سیمو څخه نیول او بیرته به ئې ښار ته را وستل.

دا خلک په حقیقت کې د خپلو حکمرانانو د ګناه د سزا څخه په تیښته کې و، هغوی ددې ځای اوسیدونکي مسلمانان د چینجیو په څیر سپک او بې ارزښته ګڼل و او د « مسلمانانو پنډ غالې یا بیګار کیمپ » ددې سترثبوت و . سلطان ایوبي ته ددې پنډغالې په هکله مالومات و ، هغه (شوبک) ته د ورننوتلو سره سم همدې پنډ غالې ته ولاړ ، هلته نژدې دوه زره مسلمانان د قید اوبند په اذیتونو اخته پراته و. عیسایانو دغه دوه زره کسان ژوندي لاشونه ګڼلي و. دهغوی څخه به ئې د حیواناتو په څیر کار اخسته ، د دې بندیانو تر منځ داسې کسان هم و چې په ځوانۍ کې ئې راوړي و او همدلته ئې عمر تیرکړي و او اوس اذیتونو زړښت ته رسولي و . هغوی دا له یاده ویستلي و چې دوی ریښتیا هم انسانان دي ، په دې ځای کې د پخوانیو جنګونو بندیان هم و ، خو د هغو بدنصیبو شمیره په کې زیاته وه چې صلیبیانو د قافلو او یا د ښاره څخه نیولي او پنډغالې ته ئې را وړي و. که هغه به ستر تاجر و او یا به د ښکلو نجونو پلار ، هر څوک به ئې چې نیوه دهغه شتمني به ئې تري اخسته او یا به ئې لوڼې تري اخستې او هغوی به ئې همدې ځای ته را رسول. په دوی کې دښار هغه مسلمانان هم و چې دهغوی پر خلاف دا الزام و چې هغوی د اسلامي سلطنت وفاداره او دصلیب دښمنان دي ، په ښارکې چې څومره مسلمانان اوسیدل هغوی به لمونځونه او دقران تلاوت په پټه په خپلو کورونو کې کاوه ، او څه به ئې کوله چې غږ ئې بیرون و نه وځي...... هغوی به یو مامولي شانته

(c) ketabton.com: The Digital Library



عیسائي ته هم ټيټيدل او سلام به ئي ورته کاوه ، هغوی به خپلې مسلماني لونه په پردې کې ساتلې ، او نه به ئي پرې ښولې چې بيرون را ووځي ځکه عيسايانو به د هغوی ښايسته کوچنيان تښتول.

کله چې سلطان ايوبي هغه دوه زره ژوندي لاشونه وکتل ، نو اوښکې ئې د سترګو رواني شوی او وئې ويل « زه ددې مظلومانو د ازادولو له پاره د ټول اسلامي سلطنت په خطر کې اچولو ته تيار وم ،» هغه د هغوی د غذائي او روغتيائي حالت د ښه کولو له پاره سمدلاسه احکامات ورکړل ، او وئې ويل چې اوس دوی په همدې ځاې کې وساتئ اوبستري اونور اړوندي اسانتياوي ورته برابري کړئ ، دسلطان ايوبي سره په دې وخت کې د هغوی د زړه چاودو قصو د اوريدو وخت نه و ، هغه غوښتل تر هر څه لمړی د شاوخوا حالات سم کړي. بيرون لا تراوسه پورې جنګ روان و ، خو دا د ازاد او ميداني جنګ په څير جګړه نه وه. حال دا و چې د صليبيانو هغه فوځ چې د سلطان ايوبي د فوځ د ځپلو له پاره د (شوبک) څخه وتلې و او د (کرک) په لورې او يا په لاره کې د سلطان ايوبي د فوځونو د محاصرې له پاره ئې سنګرونه نيولي و ، هغه خورر ور شوی و او شاتګ ته مجبور کړل شوي و ، مسلمانو چريکانو په هغوی باندې غلچکي عمليات کول او هغوی ئې د ډير بد او خراب حالت سره مخ کړي و . سلطان ايوبي ته دا خبرونه را رسيدل ، چې په ځينو ځاېو کې دهغوی چريکان محاصره شوي او ډير زيان ورته رسيدلي دي ، دا خطره هم وه چې هغه فوځيان چې د(کرک) په کلا کې شتون لري هغوی به په صحرا کې دخپلو نورو صليبيانو د خلاصون له پاره مرسته ور وليږي.

ددې حالاتو سره دمقابلې له پاره دسلطان ايوبي سره د فوځ کمښت و او هغه د مصر څخه هم نور کومک نه راغوښته ، ځکه چې هلته هغه سازشونه لا تر اوسه پورې په پوره توګه نه و ځپل شوي ، دګوښه شوي فاطمي خلافت ملاتړي په مختلفو سازشونو کې مصروف و ،همدا راز سوډاني حبشيانو هم خپلې لښکري راټولې کړې وی ، صليبيانو غوښتل د هغوی مرسته وکړي اوهغوی يو دبل سره دسلطان ايوبي پر خلاف را يوځاې کړي ، تر ټولو لويه خطره داوه چې هلته يو شمير مسلمان سياسي او فوځي مشران هم د سلطان ايوبي پر خلاف په سازشونو کې مصروف وول ، دا د ايمان پلورنکو ډله وه ، چې د واک د تر لاسه کولو له پاره ئې د اسلام د دښمنانو سره لاس يو کړې و او د پردېو سره يو ځاې په سازشونو کې را ګيرو ، هغوی د حشيشين د مسلکې قاتلينو مرسته هم تر لاسه کړې وه ،او دسلطان ايوبي د وژلو پلان ئې تر لاس لاندې نيولې و .

سلطان ايوبي څو ځله ويلي و ، چې دا د صليبيانو خومره ستره بريا ده چې هغوی زما په لاسو زما خپل مسلمانان وژني ، پرته له شکه هغوی ، چې ما ورته د غدارۍ کولو په اساس د مرګ سزا ورکړې وه ، ايمان پلورنکي وو. خوبيا هم هغوی مسلمانان وو ، کليمه ئې ويله ، څومره به ښه و چې دې خلکو خپل دښمن پيژندلی.

له يوه اړخه اوس د (شوبک ) کلا دهغه تر پښو لاندې وه ، او هغه د کلا په دېوالونو دخپلو فوځي سلاکارانو سره ګرځيده ، ددې ښار مسلمانو اوسيدونکو په ډلو ډلو نڅاوی کولې او د[الله اکبر] شعارونه ئې ورکول ،خود بله اړخه په اوښانو د شهيدانو لاشونه او زخميان راوړل کيدل ، سلطان ايوبي په ژور فکر کې ډوب و ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه دوست بهاؤالدين شدّاد په خپلو ليکنو کې ليکي چې «دصلاح الدين ايوبي په مخ او تندي د سوبې اوبريا څه نښې نه ليدل کيدې ، د (شوبک ) د مسلمانانو يوه ډله چې دخوشحالۍ څخه په نڅاو کې و دهغه دبوال تر څنگ و دريدله ، چېرې چې مونږ ولاړ و ، نو صلاح الدين ايوبي هغوی ته کتل ، د هغه په ليدلو سره د خلکو جذبه نوره هم زياته شوه ، خو د ايوبي په شونډو باندې مسکا هم را پيدا نه شوه ، ان تر دې چې دهغې خلکو له پاره ئې لاس هم و نه خوراو چې ددې په خوشحالۍ کې هلته سره را ټول شوي و. هغه ورته يوائې کتل ، د ډلې څخه يوه په لوړ اواز وويل «صلاح الدين دنجم الدين ايوب ځويه ! ته د (شوبک ) د مسلمانانو له پاره پيغمبر راغلې ئې.» دا دعربي نژاده و ، او عربو به يوبل د پلار په نوم پيژانده او غږ به ئې ورته کاوه، په دې خاطر ډيرو صلاح الدين ايوبي ته بن ايوب يا بن نجم وايه ، پخپله سلطان ايوبي دکرد د نژاده و .....

«د نځيدونکو څخه کوم يوه نعره پورته کړه ،-- دکرد ځويه ! مونږ ستا پيغمبرۍ ته سجده کوو ، صلاح الدين ايوبي يو ټکان وخوړ ، په سخته لهجه ئې وويلې ، دوی ته ووايه چې ما نه گنهگاروي ، زه دپيغمرانو غلام يم ، د سجدې کولو وړ يوائې يو اللهﷻ دې.» ما د سلطان يو ساتونکي ته وويل ، ورمنډه کړه او هغه خلکو ته ووايه چې داسې نعرې دې نه وهي ، دمصر امير پرې ناخوښه کيږي ، ساتونکي ورغي نو ايوبي هغه تم کړ او ورته ئې وويل چې « په کلاره ورته ووايه ، دهغوی زړونه مه خفه کوه ، پريږده چې نڅاوی وکړي او سندرې ووائي ، هغوی د جهنم څخه را وتلي دي. زما ژوند دهغې خلکو د خوشحاليو له پاره وقف دې....

هغه نور څه نه شو ويلې ځکه د هغه اواز دژړا ډک و، دا د احساساتو غلبه وه ، مخ ئې واړاوه ، غوښتل ئې خپلې اوښکې له مونږ څخه پټې کړي ، لږوروسته هغه زمونږ لورې ته وکتل ، او وئې ويل «مونږ اوس اوس د فلسطين دهليز ته را رسيدلي يو، زمونږ منزل ډير لرې دې ، مونږ ته دشمال په لورې تر هغه ځايه تگ ته اړتيا ده چېرې چې د روم د بحيرې ساحل دلمرپريواته لورې ته ور گرځي ، مونږ ته دعربو د ځمکو څخه د اخرې صليبي د ويستلو او د روم په بحيره کې د هغوی د ورډوبولو کار را په غاړه دې.

سلطان ايوبي هملته خپلو سلاکارانو ته حکم وکړ چې په ټول ښار کار کې اعلان وکړي چې هيڅ غير مسلمان دې په دې خاطر د ښاره نه تښتي چې مسلمانان به ئې په تنگ کړي ، هر چاته چې دکوم مسلمان ښاري او يا عسکر څخه څه ستونزه ورسيږي نو هغوی دې دکلا د دروازې سره خپل شکايت درج کړي ، دهغې به پوښتنه و شي. هغه وويل چې مونږ دهيچا له پاره هم ستونزې او مصيبتونه له ځانه سره نه دي راوړي بلکه د محبت او مينې پيغام مو راوړي دي ، که چا هم د اسلامي حکومت پر خلاف خبره يا کوم خوزښت وکړ نو هغه ته به د اسلامي قانون په چوکاټ کې سخته سزا ورکړل شي ، په ياد ولرئ چې د اسلامي قانون د سزا څخه که مسلمان وي او که غير مسلمان ، يو هم خوندي نه شي پاته کيداې. ددې تر څنگ هغه حکم وکړ چې که په ښار کې کوم صليبي جاسوس او يا عسکر پټ شوی وي او يا ورته چا په خپل کور کې پناه ورکړې وي نو هغه دې سمدستي خپل ځان د مسلمانانو فوځ ته تسليم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسلطان ایوبي فوځ د(شوبک) کلا ته د یوه دېوال په ماتولو سره ور ننوتې و. هغه حکم کړې و چې د کلا په هغه برخه باندې سمدستي ولکه وکړئ چېرې چې د صلیبیانو د ځارکښۍ د شبکې مرکز و. ددې جاساسونو ددغې مرکز په هکله هغه ته ډېر مالومات ورکړل شوي و او لارښوونه ئې هم ورته کړې وه، خو صلیبیان دومره ناپوهه نه و، هغوی د هرڅه دمخه هغه مرکز خالي کړې و، او ټول اسنادئې ترې له ځانه سره وړي و، دهغوی د جاسوسي شبکې مشر (هرمن) او دهغوی نور چارواکي دهغه ځایه تښتیدلي و، هلته یواځې اته نجونې نیول شوې وې چې علي بن سفیان ته ورسپارل شوې وې، هغه د هغوی څخه مالومات ترلاسه کول، هغو نجونو ویلي و چې لږ و ډېر شل نجونې له دې ځایه څخه وتلي دي. هغوی ټولې په خپله تښتیدلې دي، دهغوی سره کوم نارینه نه و، نارینه جاسوسان هم وتلي و، دهغو اتو نجونو څخه یوی دخپلې ملګرې نجلۍ لوزینا په اړوند وویل، چې هغې یو مسلمان فوځي(حدېد) ته ددې کلا څخه د تیښتې لار برابره کړې وه او بیا ئې په زهرو ځان وواژه.

په (شوبک) کې د امن دټینګښت او نوروامورا تو دښه کولو له پاره فعالیتونه ښه په ځوګ سره روان و. صلیبیانو هم د (کرک) څخه په (شوبک) د یرغل او هغه د سلطان ایوبي څخه د بیرته اخستلو په پلانونو باندې غورکاوه او پلانونه ئې جوړول. خو صلیبیان دبلې حملې له پاره دومره ژر، چې هغوی ئې هیله کوله، نه شواې چمتو کیداې. دهغوی تر مخه لمړۍ پوښتنه داوه چې: په داسې حال کې چې هغه جاسوس عالم ډېر پوخ خبر راوړی و چې سلطان ایوبي پر (کرک) یرغل کوي، دهغه فوځونه د(کرک) په لور را روان هم و، د هغوی دقاهرې جاسوسانو هم همدا ډول خبر ورکړې و چې د سلطان ایوبي فوځ به په(کرک) یرغل کوي او قومنده به ئې هم دهغه په غاړه وي، خو په نیمائې لاره کې دهغه د فوځونو لوری ولې بدل شو؟او داسې چال ئې و لوباوه، چې هغه صلیبي فوځ چې دمسلمانانو دمخنیوي له پاره هلته مخته ورغلې و د غلچکي عملیاتو لاندې راغې او سلطان ا یوبي د (کرک) څخه ډېر لرې په(شوبک) باندې یرغل وکړ.

دا پوښتنه په یوه کانفرانس کې راپورته شوه، چې په کې د صلیبیانو ستر چارواکي او حکمرانان شریک ول، دهغوی د ځارکښۍ د شبکې مشر جرمن نژاده (هرمن) او جاسوس عالم چې سلطان ایوبي په قاهره کې دنیولو وروسته ازاد کړې و دملزمانو په څېر په دې کانفرنس کې ناست و، جاسوس عالم د (شوبک) د سوبې دمخه په تیښته بریالي شوی و، هغه ته دکانفرانس په خونه کې ځولنې اچول شوې وې، په هغه دا الزام و چې هغه د غلطې اطلاع په ورکولو سره مسلمانانو ته ګټه ورسوله، او دهغوی د سوبې او بریا سبب وګرځید. هغه عالم یوځل بیا بیان ورکړ او څرګنده ئې کړه چې هغه ته دا اطلاع څه ډول ترلاسه شوې وه چې سلطان ایوبي په (کرک) باندې یرغل کونکې دې، هغه داهم وویل چې که چېرې دهغه په خبر کې کوم شک واې نو اړوندې اداري باید پر هغې باندې عمل نه واې کړې. دهغه ددې بیان په بنسټ د (هرمن) څخه و پوښتنل شول چې هغه د ځارکښۍ د شبکې د ماهر په څېر څنګه دا و منله چې ددې جاسوس راوړې خبر بلکل سم دې.

«زه په دې هکله ډېر څه ویل غواړم» (هرمن) وویل «زه دا په ډاډ سره ویلاې شم چې زه د ځارکښۍ د شبکې ماهر یم، خو ډېر وختونه داسې راغلي دي چې په هغې کې زما مهارت او د ځارکښۍ کولو محنت له نظره

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورځول شوی دي ، دهغې پایلې دا شوې چې زما مهارت د فوځ دمرکزي قومندې یا د کوم پادشاه د حکم نه قرباني شوی دي ، په دې کانفرانس کې دري پادشاهان هم شتون لري ، او د هغوی د متحده قومندې اعلی قومندان هم شته ، او دا چې مونږ اوس دداسې ستړې ماتې سره مخ شوی یو چې په کې د (شوبک) په څیر ډیره مهمه کلا زمونږ له لاسه ووتله ،او تر څنګ ئې په میلومیلو خپره سیمه هم مسلمانانو ولکه کړې ده ، دبوه کاله زیات لوژیستکی وسایل ددښمن په لاس کې پریوتي دي ، اود (شوبک) ټوله ابادي دمسلمانانو غلامانګرځیدلي دي ، زه غواړم ستاسو خامی او احمقانه حرکتونه ستاسې تر مخ کیږدم او زه تاسې ټولو ته په ډیر احترام او درنښت سره دا یادول غواړم چې مونږ په صلیب باندې لاس ایښودې او دا مو ویلي چې دصلیب وقار اوعزت څخه به ځان ځاروو ، نو که چیرې ستاسې د کوم یوه ذاتي وقار ته کوم زیان رسیږي نو هغه دې دخپل وقار اوعزت په ځای دصلیب وقار او عزت ترمخ کیږدي»

(هرمن) د ستر حیثیت خاوند ګڼل کیده ، او دومره ځواک ئې درلوده چې کونارډ ، ګې اف لوزینان ، او د شاه اګستس په څیر خپل سرو پادشاهانو هم دهغې دخبرې د رد کولو جرأت نه شوکولې ، د ځارکښنې ټول نظام دهغه په لاسوکې و ، په هغوی کې وژونکي جاسوسان هم وو ، (هرمن) ددې جرأت اوهمت درلود چې که وغواړي هر حکمران په پټه توګه له منځه یوسي نو وراې شي. هغه ته اجازه ورکړل شوه چې هغه خپله شننه وړاندې کړي.

« زه په دې خبرې د پوهیدو توان نه لرم ، چې ددښمن دراز د مالومولو له پاره یواځې په نجونو باندې ولې دومره زیاته تکیه کیږي؟» هغه وپوښتل.

« په دې خاطر چې ښځه د انسان تر ټولو ستره کمزوري ده.» یوه حکمران وویل ، « دانسان د کړچار دخرابولو ښه وسیله ښځه ده ، ایا ته ددې څخه انکار کولی شي چې دعربو زیات شمیر مسلمان امراء ، وزراء ... مونږ دهمدې ښځو په واسطه خپل غلامان ګرځولي دي ؟»

« خو تاسې دا فکر نه دې کړې چې په دې وخت کې د مسلمانانو حکومت د فوځ په لاس کې دي ،» (هرمن) ورته وویلې ، دهغوی خلیفه خپل حکم نه شي پیاده کولاې ، په عسکري امورو کې دهغې هیڅ ډول مداخله نشته ، په مصر کې دسلطان ایوبي حیثیت د هغې ځای د والي په څیر دي خو هغه د هغې ځای خلیفه هم ګوښه کړ ، هلته نورالدین زنګي دې چې د یو سالار او وزیر رتبه لري خو په جنګې امورو کې هغه دبغداد دخلیفه څخه د اجازې اخستلو ته هیڅ اړتیا نه لري ، په دې اساس دا په نظر کې و ساتئ ، چې تاسې به یو څو امیران ، وزیران او د کلاو مسؤلین په خپلو لاسو کې اخستي وي خو دهغوی حیثیت د یوڅو غدارانو په څیر دي هغوی تاسې ته دخپل هیواد یو انچ هم نه شي درکولاې ، د اسلامي حکومت اصل حکمرانان فوځیان دي. نورالدین زنګي اوصلاح الدین ایوبي دواړو خپلو فوځونو ته داسې روزنه ورکړې ده چې تاسې نه شئ کولاې د داسې نجونو په واسطه دهغوی دفوځ کړچار خراب کړئ ، او نه مو دا کار تر اوسه پوري کړې دي ، دهغې فوځ له پاره شراب څښل دروند جرم دي ، په اسلام کې دهر یوه له پاره شراب حرام دي ، ددې بندیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغيز دادي چې مسلمان فوځي وي او که غير فوځي هغوی تل په خپل هوش او فکر کې وي ، که چېرې صلاح الدين ايوبي دشرابو عادي واي ، نو نن به مصر زمونږه و ، او صلاح الدين ايوبي به د (شوبک) د کلا فاتح نه ګڼل کيده ، بلکه په دې کلا کې به زمونږ سره بندي واي.

« (هرمن) ! » يو قومندان ورته په سخته توګه وويلي « خپله خبره تر نجونو پورې وساته ، مونږ سره د مسلمانانو د صفتونو د اوريدلو له پاره وخت نه شته .»

« زه همدا ويل غواړم» (هرمن) ورته وويل « چې د ځارکښې له پاره د نجونو استعمال ناکامه شوي دي، په تيرو دوو کالو کې مونږ ډيرې ارزښتناکه نجونې مصر ته واستولې خو هغوی زياتې د مسلمانو فوځيانو په لاسو ووژل شوی ، د نجونو په هکله دا هم ياد ساتئ ، چې ښځه ذات ډيره ژر احساساتي کيږي ، که تاسې نجونو ته هر څومره سخته روزنه ورکړئ بيا هم هغوی د نارينه و په څير د تيږې په شان نه کلکيږي . مونږ هغوی په خطرو کې ورغورځوو ،خطره په هر حال خطره وي او په زړه او دماغ اغيز کوي په ځينوو ختونو کې حالات ډير زيات خرابيږي او په داسې حالاتو کې مسلمان فوځيان زمونږ نجونې د تفريح او ساعت تيريو په ځای په خپله پناه کې اخلي او خپل جسم پرې حراموي ،نجونې د جذباتو ځخه مغلوبيږي. همدا اوس اوس زمونږ يوې نجلۍ د صلاح الدين ايوبي يوه قومندان د غلو ځخه خوندي کړې وه ، او پخپله زخمي شوی و ، نجلۍ هغه له ځانه سره (شوبک) ته راوست خو مونږ هغه د مسلمانانو په پنډغالي کې واچاوه ، مګر نجلۍ هغه ته زمونږ د يوه افسر کالي ورواغوستل او دکلا ځخه ئې وويست ، هغه ته ئې آس هم ورکړ ،ما هغه نجلۍ و نيوله ، خو هغې زهر وخوړل او ځان ئې وواژه، هغې د سزا د ويرې ځان نه و وژلي ، هغې محسوس کړې وه چې هغه ګناهګاره ده ، اوخپل جسم ئې د دوکې له پاره استعمال کړې دې ، دا احساس دومره سخت و چې هغه ئې زهرو خوړلو ته مجبوره کړه.

« دنجونو پر خلاف يو بل دليل هم وړاندې کول غواړم ، زمونږ سره چې څومره جاسوسې نجونې دي دهغوی زياته شميره دهغو نجونو ده چې په کوچني والي کې د مسلمانانو د قافلو ځخه او يا د مسلمانانو د کورونو ځخه را تښتول شوې دي ، مونږ هغوی ته خپل مذهب ورکړ ، او روزنه مو ورکړه ، هغوی ځوانې شوی او خپل اصليت ترې هير شو ، هغوی ته دا ياد هم پاته نه شو چې هغوی د مسلمانانو لونې دي ، خو مونږ يواځې د هغوی نوم بدل کړ، دهغوی مذهب او کرچار مو بدل کړ ، خو دهغوی وينه مو بدله نه شوه کړای ، زه په انساني نفسياتو باندې پوهيږم ، او دا زما تجربه ده ، چې دمسلمانانو نفسيات د نورو مذهبونو د انسانانو ځخه توپير لري، دا نجونې چې کله هم د کوم مسلمان مخې ته ورځي نوداسې ورته مالوميږي چې هغوی ته يو ناځاپه را په يادېږي چې دهغوی په رګونو کې هم دمسلمان پلار وينه ده ، د مسلمان د وينې ځخه د هغه مذهب نه وځي.»

«ته غواړې ووائې چې پس له دې کومه نجلۍ د ځارکښې له پاره مه ليږئ .» يوه قومندان ورځخه و پوښتل.

« کومه داسې نجلۍ مه استوئ چې دکوم مسلمان په کور کې پيدا شوې وي» (هرمن) ځواب ورکړ. « که

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرې تاسې نجونې زما د شبکې څخه وکاږئ نو دا به د صليب له پاره غوره وي، تاسې د مسلمانو امراو حرم سرايو ته نجونې استوئ ، تاسو هغوی په خپلو جالو کې را ګيرولې شئ ، هغوی په اسانۍ سره ستاسې په لاسو کې را تلای شي ، ځکه چې هغوی د جنګ ميدان نه دې ليدلي ، دهغوی توري زمونږ د تورو سره نه دي ټکر شوی ، دهغوی فوځ مونږ پيژني ، يواځې فوځ دې چې دښمن پيژندلې شي ، په دې خاطر هغوی زمونږ په جال کې نه را نښلي .»

دصليبيانو پادشاه اګستس ډيرزيات شيطان فطرته انسان و ، هغه د اسلام سره دښمني عبادت ګڼه ، هغه وويل «(هرمن) ! ستا آند ډير را نغښتې دې ، ته يواځې صلاح الدين ايوبي او نور الدين زنګی ګورې ، خو مونږ اسلام وينو ، مونږ بايد ددې مذهب بيخ را وکاږو ، دهغوی کرچار اوآندونو کې شکوک او شبهات راپيدا کړو ، په مسلمانانو کې داسې تهذيب رواج کړئ چې په کې جذابيت وي ، دا اړينه نه ده چې مونږ خپلې ټولې موخې په خپل ژوند کې تر لاسه کړو ، مونږ به دا کار خپل راتلونکې نسل ته ور وسپارو ، څه بريا به هغوی تر لاسه کړي او دا کار به بيا دهغې وروسته نسلونو لاسو ته ور ولويږي....

بيا به داسې يو وخت هم راشي چې د اسلام نوم او نښه به هم پاته نه وي ، که چېرې اسلام ژوندی هم پاته وي نو بيا به دا مذهب بل کوم صلاح الدين ايوبي او نورالدين زنګي په څير بچيان نه زيږوي ، زه په ډاډ سره ويلې شم چې مذهب به د مسلمانانو خپل وي خو دا مذهب به زمونږ په تهذيب کې رنګ شوې وي، (هرمن) ! د نن څخه سل کاله وروسته په نظر کې و نيسه ، بري او ناکامي وختي پيښې دي ، مونږ به په (شوبک) دوباره ولکه کوو ، ته په مصر کې سازشونو ته دوام ور کړه ، د فاطميانو او حبشي سوډانيانو تر منځ يووالې راوړه او هغوی ته مرسته ورکړه او د حشيشينو څخه کار واخله.

*****(۸۴)

غونډه روانه وه چې يو صليبي افسر را ننوت ، سترې ستومانه او په خاورو ککړ و ، داد هغه فوځ قومندان و چې دښتې ته دمقابلې له پاره استول شوی خو اوس سوکه سوکه د (کرک) په لور شاته را روان و ، هغه ډير اندېښمند و ، هغه وويل « د فوځ حالت ښه نه دې زه ددې وړاندېز سره راغلې يم چې د(کرک) د فوځ سره څه نور فوځ ور يوځای کړئ او په (شوبک) باندې يرغل يوسئ او مسلمانان مجبور کړئ چې مخامخ جنګ ته راشي. اوس د جګړې حال دادې چې زمونږ فوځي دلګې د مرکزي قومندې په مطابق د (کرک) په لورې په شا تګ کوي دمسلمانانو چريکې ډلې د لړشميره وګړو په واسطه غلچکي شپيني بريدونه کوي اوبيا شاته ته تښتي ، او دورځې له اړخه دهغوی يو څو کسان غشي ويشتونکي يوڅو غشي را توغوي او بيرته ور ککيږي ، هغوی ډير وخت اوښان او آسونه په نښه کوي ، او هر ځناور چې په غشي لګيږي نو هغه بيا د کنتروله وځي ، مونږ دلږ څه تم کيدو وروسته خپلې خورې ورې ډلې بيرته سره راټولې کړلې ، او د ځوابي يرغل هڅه مو وکړه خو مسلمانان مخامخ جګړه نه کوي ، زمونږ يو شمير دلګې په دې خاطر له منځه ولاړ ل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانوهغوی دخپلې خوښې ډګر ته را ښکودل ،اوس په سپاهیانو کې د جګړې کولو جذبه مړژواندې شوی ده ، او ددې جذبې د بیرته را پیداکیدو له پاره دې ته اړتیا ده چې یوه قوې ځوابې حمله پیل کړل شي.

په همدې موضوع باندې بحث او څیړنه پیل شوه ، دصلیبیانو له پاره داستونزې پیدا شوې وې چې دهغوی د فوځ ډیره برخه ، چې هغوی ډیر ښه فوځ ګاڼه، د(کرک) څخه لرې په شګلوړه ځمکه کې خوره وره پرته وه.د سلطان ایوبي چال بریالي شوی و ، د هغه قومندانانو او عسکرې ډلو دهغه دغه چال په ډیره ښه توګه پلي کړې و ، هغوی به په اوبو باندې ولکه کوله ، لوړو ته به ئې ځانونه رسول او غونډیزو سیمو کې به ئې غلچکي بریدونه کول ، او د ورځې له اړخه به که هوا تیزه چلیده نو دهمغې تیزی هوا له څپو سره به ئې سمه حمله کوله، ددې څخه دا ګټه تر لاسه کیده ، چې دهوا اودآسونو دپښو څخه الوزول شوی شګې به د صلیبي عسکرو په سترګو کې ننوتلې او ړندول به ئې.دسلطان ایوبي سره زیات شمیر وګړي نه و.

تاریخپوهان لیکي چې که صلیبیانو یرغل کړې واې نو دسلطان ایوبي سره دومره وګړي نه و چې (شوبک) ئې ساتلای واې ، هغه د جنګي فهم اوفراست څخه کار واخست ، اوپه صلیبیانو باندې ئې خپل رعب او دبدبه قایمه کړه ، د (شوبک ) شمال شرق ته دصلیبیانو یو زیات شمیر فوځ هسې بیکاره پروت و ، هغه ئې له دې ویرې له هغه ځایه نه شو را ویستلای چې سلطان زنګي به سلطان ایوبي ته د هغې لارې مرسته ورسوي.

صلیبي قومندانان او حکمرانان هلته په (کرک ) کې سره را ټول وو او دخپلې ماتې غم سره زړه خوړینې کړې و ، خو په (شوبک ) کې ایوبي دې ستونزې غمژن کړې و چې که چېرې صلیبیان یرغل راوړي نو دهغې به څه ډول مقابله کوي ؟

هغه د عیسایانو په بڼه کې خپل جاسوسان (کرک) ته استولي و ، ترڅو د صلیبیانو د راتلونکو عزایمو او منصوبو څخه ورته اطلاعات را ورسوي، هغه داسې انتظام کړې و چې دهغې له مخې هغه ته د محاذ خبرونه ډیر ژر را رسیدل. هغه د (شوبک ) او دهغې د چاپیره سیمو څخه په فوځ کې دخدمت له پاره دخلکو د را نیولو کار پیل کړ. او حکم ئې وکړ چې په فوځ کې د نوو را بوځاې شوو له پاره هملته په کلا کې روزنه ورکول پیل کړل شي. هغوی ته دصلیبیانو زیات شمیر اوښان او آسونه هم تر لاسه شوی و.

بیروني فوځونو ته هغه حکم وکړ چې ددښمن ځناور د وژلو په ځاې ژوندي و نیسئ ، او کلا ته ئې را ولیږئ ، د نوو عسکرو د روزلو په هکله هغه حکم وکړ چې هغوی ته دشپنې غلچکي عملیاتو او خوځنده جنګ کولو روزنه ورکړئ ،

په (کرک ) کې چې کومه غونډه روانه وه په هغې کې د (هرمن) دا وړاندیز رد کړل شو چې د جاسوسۍ له پاره نجونې مه استعمالوئ ، خو عام جاسوسان ئې پریښول اوهغوی ته ئې دا حکم وکړ چې هغوی دې په مسلمانانو د نظریاتي یرغل له پاره وګړي را پیدا کړي. ددې وروسته ددې پوښتنه وشوه چې په (شوبک ) کې څومره نجونې او نارینه جاسوسان پاته شوي ؟ اوایا هغه نجونې د هغه ځایه څخه را ویستلاې شو ؟ (هرمن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ته وویل چې یو څو نجونې دمسلمانانو په قید کې ورغلي اوځه نورې را وتلې دي او یو شمیر ورکې دي ، د نارینه جاسوسانو په هکله هغه وویل چې یو څوئې په قید کې دي ، څه را وتلي دي او څه درغل شوي.
هغو ته خبر ورکول شوی چې هملته اوسئ او د مسلمانانو سره ځان یو کړئ او خپل کار ته دوام ورکړئ ،... یو صلیبي حکمران وویل چې هغه نجونې چې هلته قید دي دهغوی را ویستل اسانه نه ښکاري خو دا هم شوني ده چې یو شمیر نجونو هلته د عیسایانو په کورونو کې پناه اخستي وي هغوی باید دهغه ځایه څخه را وویستل شي.

د لږ څه بحث او خیړنې وروسته دا پریکړه وشوه چې داسې یوه ډله تیاره کړئ چې دسلطان ایوبي د غلچکي ډلې په څیر هر ډول لوبې ته تیار وي ، ددې ډلې هر یو کس باید ذهینه او هوښیار وي په عربي یا مصري ژبه و پوهیږي ، دا ډله دداسې مسلمانانو په بڼه کې هلته (شوبک) ته ور واستوئ چې دهغې نه دا مالومه شي چې دوی د (کرک) دعیسایانو د ظلم او تیري له لاسه را تښتیدلي دي ، هغوی ته داکار وسپارئ چې دنجونو لټون وکړي او دهغې ځایه ئې را وکاږي. ددې کار د تر سره کولو له پاره به هغه مجرم وګڼل ډیر مناسب وي چې د هغوی دغوښتنې په اساس د زندانو څخه را ویستل شوی او په فوځ کې ور داخل کړل شوي دي ، په فوځ کې د همداسې روزل شوو مجرمینو لټون وکړئ او هغوی د څو ورځو روزنې د ترلاسه کولو وروسته بیا (شوبک) ته واستوئ ، خو دا خیال وکړئ چې په هغو کې هغه سپاهیان هم شتون ولري چې (شوبک) کې اوسیدلي وي او دهغې ځاې دکوڅو او لارو سره ښه بلدتیا و لري ،.... اوس دلته دا ستونزه را پیدا شوه چې مجرم وګڼل ددې سیمې په ژبه نه پو هیږي ، ددې له پاره ئې دحل لاره دا را پیدا کړه چې ډیر داسې وګړي ور واستوئ چې دهغې ځاې په ژبه باندې پوهیږي.

زیات شمیر تاریخپوهانو د(شوبک) سوبې ته مختلف رنګونه ورکړي دي، په دوی کې سپین ګویه تاریخپوهان لکه د( ویلیم اف تآئر) په څیر عیسایانو هم ، په صلیبیانو باندې سختې نیوکې کړي دي ، هغوی لیکي چې دهغوی حکمرانانو د ښایسته نجونو په واسطه د مسلمانانو په سیمو کې دهغوی کړچار د خرابوالي ، تخریب کارۍ او ځارکښۍ له پاره توجه کوله ، ددې څخه دهغوی دخپل کړچار لید تر سترګو کیږي چې دوی په خپله څه ډول خلک وو. دا سمه ده چې هغوی به دمسلمانانو څو کسه غیر فوځي چارواکي تر خپل اغیز لاندې را وستي وي خو دهغوی په دماغ کې دا نه راتلل چې دمسلمانانو یو قوم هم شته او یو فوځ هم ، د یوه قوم او دهغې د فوځ د عقیدې وژل دومره اسانه کار نه دي ،اوبیا په هغه وخت کې چې صلیبیانو دمسلمانانو قافلې لوټولې ، د هغوی کوچنیان ئې تښتول ، په نیول شوو سیمو کې ئې په پراخه پیمانه د خلکو ابرو او عزت واخست ، عامې وژنې ئې وکړې او مسلمانان ئې په بیګار پنډغالي کې ور واچول او دځناورو څخه ئې هم سپک سلوک ورسره وکړ.

دمسلمان قوم اوفوځ جذبه له منځه وړل نا شونې ده ، هغوی په خپل دې ناوړه کړچار سره د مسلمانانو په زړونو کې د بدلې اور را تازه کړ. د اسلام په لیکو کې د یو څو کسه غدارانو د پیدا کولو سره ددې مذهب عظمت له منځه نه شې وړل کیدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخپوهانو ليکلي دي چې په هغه وخت کې چې په (شوبک) د يرغل اړتيا وه ، او صلاح الدين ايوبي د جنګي اړخه کمزورۍ و نو صليبيانو د(شوبک) څخه د يو څو جاسوسو نجونو د ويستلو په فکر کې ډوب و اوددې کار له پاره ئې دسرتيرو د ډلې د چمتوکولو حکم کړې و . هغوی ليکي چې دصلاح الدين ايوبي د جنګي فراست ستاينه بايد وکړل شي چې هغه په صليبيانو باندې رعب او ويره اچولې وه ،د هغوی فوځ ئې سره خپور وور کړې و ،اوصليبيانو هم د ا اغيز منلې و، هغوی هيڅ دې لورې ته توجه ونکړه ، چې د ايوبي خپل فوځ دلګي دلګي او ډله ډله خور وور پروت دي اودا هم ويل کيږي چې سلطان ايوبي ددې حال څخه غمګين هم و، دهغه خاص سلاکار ، شدّاد ، چې دهغه د اندېښنې کومه يادونه کړې نو هغه همدا کيدا ې شي چې دهغې فوځي دلګي د صليبيانو د تعقب پسې خواره شوي و او دهغوی مرکزيت له منځه تللې و . دا هم سمه ده چې دهغې دلګي د قومي او ذاتي جذبو په اساس جنګيدل ،دا سې نمونې هم ليدل شوی دي چې يو شمير مسلمان فوځي دلګي د صحرا په لارو کې بې لارې شوي ،د خوراک څښاک څخه بې برخې شوي خو هغوی بيا هم په هر حال کې چې وو، جنګيدل.

دا دجذباتو او احساساتو جنګ و چې صليبي سپاهيان ترې بې برخې و، کله به چې هغوی خپل قومندانان د شا تګ په حال کې کتل ،نو په هغوی کې به هم د جنګ جګړې روحيه له منځه تلله، که چېرې صليبيانو لږ څه توجه دې لورې ته کړې واي نو د ايوبي خوررور لښکرو باندې ئې ولکه موندلې شوه ، خو هغوی په وړو وړو خبرو باندې دومره توجه کوله لکه څومره چې په مهمو جنګی امورو باندې کيږي.

دلته يوه بله يادوونه اړينه ده او هغه داچې د هغه وخت د صليبي پيښو ليکونکو په حواله دوه درې غيرمسلمانه تاريخپوهانو دا ډول غلط بياني هم کړيده ، چې سلطان صلاح الدين ايوبي (شوبک) دوه کاله په پرلپسې توګه تر محاصرې لاندې نيولې و اوبيرته ناکامه را وګرځيد ، هغوی ددې علت دا بيان کړې دي چې د صلاح الدين ايوبي او نور الدين زنګي تر منځ غلط فهمي را پيدا شوی وه ، زنګي ته دهغه سلاکارانو ويلي و چې صلاح الدين ايوبي مصر په خپل ذاتي واک کې اخلي او ځان د فلسطين حکمران جوړوي ، هغه به دفلسطين د سوبې وروسته زنګي هم له کاره ګوښه کړي ، دامؤرخين ليکي چې نور الدين زنګي په دې بهانه (شوبک) ته خپل فوځونه را و استول چې دا د سلطان ايوبي له پاره مرسته ده ، خو هغه خپلو قومندانانو ته لار ښوونه کړې وه چې هغوی دې د (شوبک) جنګی امور په خپل لاس کې واخلي ، همغه و چې کله چې دا فوځ راغې نو سلطان ايوبي ته چاوويل چې سلطان زنګي دا فوځ ددې له پاره نه دې را استولي چې له تاسره مرسته وکړي بلکه د مرکزي قومندې د تر لاسه کولو له پاره ئې را ستولې دې . ددې خبرې په اوريدلو سره سلطان ايوبي خفه شو او د(شوبک) محاصره ئې ختمه او بيرته ئې مصر ته کوچ وکړ.

عيسائي تاريخپوهانو د زنګي او ايوبي تر منځ دغه فرضي ټکر ډير پورته پورته کړېدې خو په هغوی کې دهغو تاريخپوهانو شميره ډيره ده چې دائې ثابته کړې ده چې سلطان ايوبي د يوي نيمې مياشتې محاصرې وروسته په (شوبک ) کلا کې ور ننوتې و. خو دا مالومات هم تر لاسه شوي دي چې صليبي تخريب کاراونو دنورالدين زنګي او سلطان ايوبي تر منځ د اختلاف د پيداکولو هڅې کولې خو بريالي نه شول. ددې ثبو ت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادي چې دسلطان ايوبي پلار نجم الدين ايوب تر ډېرې اوږدې او ستومانه کونکې لارې (شوبک) ته ورسيد ، هغه ته دا شک پيدا شوی و چې هسې نه چې د هغه ځوي داسې بې عقلي و کړي اويا داسې څه پيښ نه شي چې تخريب کاران دهغه غوږونه د زنګي پرخلاف ډک کړي.

بهاؤالدين شدّاد په خپلو ليکنو کې زياتوي چې «صلاح الدين ايوبي دخپل پلار په کتلو ډير حيران شو دهغه لاسونه ئې ښکل کړل او داسې وپوهيده چې پلار ئې ورته ددې ستړې سوبې د مبارکۍ په خاطر راغلې دې. خو هغه خپل ځوي ته لمړۍ خبرې داسې پيل کړې « ايا نورالدين زنګي جاهل او ناپوهه دې چې زما د ورک او غريب د ځوی په خير يو وګړي ئې د مصر حکمران کړ ؟ ايا زه به دا اورم چې ستا ځوی د ذاتي واکمنۍ په خاطر د اسلامي سلطنت د ساتونکي نورالدين زنګي دښمن ګرځيدلې دې ؟..... ولاړ شه او د نورالدين زنګي څخه بښنه وغواړه ،.....

کله چې خبره را برسيره شوه نو مالومه شوه چې د سلطان ايوبي ذهن پاک دې او هغه د سلطان نورالدين زنګي څخه نوره مرسته را غواړي ، نجم الدين ايوب ډاډمن شو او ځرګنده ئې کړه چې دا دصليبيانو تخريبکاري او شيطانت دې. سلطان ايوبي خپل باوري قاصد او سلاکار ( فقيه عيسی الهکاري) دخپل درونډ پلار سره يو ځاې رخصت کړ، او الهکاري ته ئې د نور الدين زنګي په نوم يو پيغام ور وليږه ، او ورسره ئې د (شوبک) څه تحفې هم ور وليږلې ، هغه ورته وليکل « ترټولو ستره تحفه د(شوبک ) کلا ده ، چې زه ئې ستا په قدمونو کې ږدم ، او ددې وروسته به د باري ذات په مرسته د (کرک) کلا درته تحفه کړم.»

په دې پيغام کې سلطان ايوبي دا ډاګيزه کړې وه چې دصليبيانو د تخريب کاريو څخه بايد بيداره و اوسي ، او دا هم له ياده و نه باسي چې يو شمير مسلمانان امراء هم په دې ډول تخريبيو او سازشونو کې د صليبيانو لاس ورکلکوي. په دې پيغام کې سلطان ايوبي د هغه وخت د (شوبک) احوال اود خپل فوځ څرنګوالې ليکلې و،او تر څنګ ئې څه انقلابي وړاندېزونه هم کړي و. هغه زنګي ته ليکلي و چې په اوسنيو حالاتو کې دښمن زمونږ پر ځمکه کلابند دي او د جنګ په ډګر کې زمونږ پر خلاف پوره فعاله دې ،د ځمکې لاندې فعاليتونو کې هغوی زمونږ پر خلاف ډيرې غلطې انګيرنې پيداکوي ، زه دې نتيجې ته رسيدلې يم چې زمونږ غير فوځي قيادت نه يواځې دا چې ناکامه دې بلکه پخپله د اسلامي سلطنت له پاره خطر ګرځيدلې دې. مونږ د کوره لرې په بې رحمه صحراو کې ددښمن پر خلاف جنګيږو ، زمونږ مجاهدين جنګيږي او شهيدانيږي ، هغوی په لوږه او تنده جنګيږی ، او کفن هم ورته ميسر نه وي ، د هغوی لاشونو د اسونو د قدمونو لاندې مښل کيږي د صحرايي ګيدړو او مرغانو دخوراک غوړه مړۍ ګرځي ، د اسلام عظمت او د قوم عزت او وقار له پاره چې ځومره ځان ځارنې هغوی کوي هغومره بل هيڅوک نه شي کولاې ، خو زمونږ د غير فوځي حکامو او مشرانو يو ځاځکې وينه هم نه توئيږي ، هغوی د جنګ د ډګر څخه ډير لرې په خوندې ځايو کې ناست دې همدا علت دې چې هغوی د عيش اوعشرت عادي ګرځيدلې دې ،او دښمنانو هغوی د ښکلو نجونو او اروپايي شرابو په واسطه خپل مريدان ګرځولي دي. مونږ د دين او ايما ن د سرلوړۍ له پاره وژل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږو ، او هغوی د ایمان ددښمنانو په لاسو کې پلورل کیږي او خپل عیش کوي او دهغوی لاسونه ورکلکوي.

سلطان ایوبي لیکلي و ، چې څرنګه چې اوس زه د فلسطین دهلیز ته رارسیدلي یم او ما عزم کړي چې دفلسطین د سوبې پرته به بیرته نه ستنیږم دا اړین ګڼم چې تاسې (نورالدین زنګي ) د غیر فوځي قیادت څارنه وکړئ ، دعلماؤ امیر ته ووایاست چې هغوی دې په جوماتونو او ټولو ټولونیزو ځایو کې اعلان وکړي چې اسلامي سلطنت یواځی او یواځی یو خلیفه لري اوهغه د بغدا خلافت دې ، د هغه واحد خلافت اطاعت پر هر مسلمان فرض دي ، خو په خطبې کې او په هیڅ جومات کې به دخلیفه نوم نه اخستل کیږي. ستر نوم یواځی د الله ج دي او دهغه درسول ص . دا حکم جاري کړئ چې په راتلونکې کې کله هم خلیفه یا کوم بل حاکم په کومې لوري یا د یو څه د کتلو له پاره را وځی نو دهغې د ساتونکو د ډلې نه پرته به بل جلوس ورسره مل نه وي ، او خلک مجبور نه کړي چې په لاره کې ورته ټیټ شي او هغه ته سلام وکړي.....سلطان ایوبي تر ټولو مهمه خبره دا وکړه چې د شیعه او سني تفرقه ورځ په ورځ زیاتیږي ، دفاطمي خلافت د ګوښه کیدو څخه وروسته په دې اختلاف کې ډیرښت راغلې دې ، بې له شکه چې خلافت او حکومت د سنیانو سره دي خو هیڅ سني حاکم او یاکارکونکې ته دا حق نه شته چې شیعه خپل غلامان وګڼي ، په حکومت او فوځ کې شیعه ګانو ته پوره پوره ونډه ورکړئ.

په همدې تر تیب څه نور انقلابي وړاندېزونه هم وو، چې سلطان ایوبي نور الدین زنګي ته واستول . تاریخپوهان په دې خبره کې سره یو دي چې نورالدین زنګي پر دې وړاندېزونو باندې سمدستي عمل وکړ. سلطان ایوبي د خپله اړخه هم دشیعه سني تفرقه د مینې او محبت ، پوهې او عقل له لارې له منځه یوړه.

*****(۸۵)

هلته په (کرک) کې صلیبیان د سلطان ایوبي پر خلاف د ځوابي حملې په فکر کې ډوب و دهغوی مرکزي قومندان دخپلو قاصدانو له لارې خپل خپور وور فوځ ته احکام لیږلي و چې دمسلمانانو سره د جنګیدو څخه مه کوئ ، بلکه دهغو ځایو څخه د راوتلو لارې و لټوئ ، تر څو د ځوابي حملې له پاره زیات فوځ را ټول کړاې شو . ددې احکامو تر څنګ هغوی د څلوېښتو کسو سرتیرو یوه ډله تیاره کړه چې باید د مظلومو مسلمانانو په بنه کې هلته (شوبک) ته ورننوځي ، او جاسوسي نجوني دهغه ځایه را وکاږي ، صلیبي حکمرانانو په دې فکر کې چې سلطان ایوبي د مصر څخه غیر حاضر دي هلته د خپلو تخریبکارانو د ډیرښت له پاره پریکړه کړې وه ، هغوی غوښتل چې ژر تر ژره حبشي سوډانیان اود فاطمي خلافت پاته شوني سره را یوځاي کړي او پر قاهره باندې ولکه و مومي.

د (شوبک ) او (کرک ) په منځنۍ برخه کې لا تراوسه وینې بهیدې ، هغه ټوله سیمه هموراه شګلوړه نه وه ، په څو ځایو کې هلته د خاورې او شګو سترې سترې غونډۍ پرتې وی او یا دشګو داسې سیمې وی چې که څوک به یو ځل ورننوت نو بیا به ئې د وتلو شونتیا لږه وه. په داسې سیمو کې صلیبیان هم له منځه تلل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان ایوبي مجاهدین هم. اوهلته د (شوبک) هغه عیسایان هم له منځه تلل چې دمسلمانانو له ویرې د ښاره څخه د(کرک) په لور را تښتیدل، هلته د جنګ منظر داسې و لکه د یوه افق نه تر بله پورې چې انسانان یو د بل وینې تویوي، په دې پراخه شګلوړه کې یوځای نخلستان یا د خرماو د بوټو ځنګل هم و چې هلته اوبه تر لاسه کیدای شوی اوسترې ستومانه انسانان، زخمي انسانان او دتندې مړه کیدونکی انسانان هلته ورتلل او لویدل به.

عماد هاشم د سلطان ایوبي دفوځ دیوې کوچنۍ سر تیرې ډلې قوماندا ن و، هغه شامي نژاده و په دې خاطر ئې دخپل نوم سره عماد شامي لیکه، هغه جذبه چې دصلیبیانو پر خلاف پر هر مسلمان کې شته وه هغه په عماد شامي کې هم موجوده وه، خو دهغه په جذبه کې د انتقام اوبدل اخستلو قهر او غضب زیات مالومیده، د هغه په اړه ټولو ته ډاګیزه وه چې هغه یتیم و او نژدې خپلوان ئې هیڅوک هم نه درلودل خو هغه په دې خبره ډاډمن نه و، چې هغه یتیم دې او که نه، ځکه د هغه پلار دهغه د سترګو تر مخه نه وفات شوی، هغه د پنځلس شپاړس کالو په عمر کې دخپله کوره را تښتیدلې و. په هغه وخت کې ئې کور په(شوبک) کې و، هغه ته په یاد و چې دهغه په کوچنیوالي کې صلیبیانو په (شوبک) باندې ولکه موندلې وه، او بیا یې دمسلمانانو په وینو تویولو لاس پورې کړې و. دهغه کوچنیوالې د صلیبیانو په دهشت او وحشت کې تیر شوی و، هغه مسلمان جنګي بندیان هم کتلي و چې په وهلو وهلو به ئې راوستل، او دهغه تر مخه ئې ددوه کسانو سرونه هم پرې کړي و، او دا ځکه چې هغوی د زخمونو له لاسه نور د تللو وړ نه و. هغه دمسلمانانو له کورونو څخه دنجونو د تښتولو پیښې هم په خپلو سترګو کتلې وې او مسلمانان ئې بیګار کیمپ ته د وړلو په وخت کې هم کتلي و. د (شوبک) مسلمانانو به ویلې، کله چې په ښار کې عیسایانو بې له کومه دلیله مسلمانانو نیول او پنډغالي ته ئې بوتلل او دهغوی په کورونو یرغلونه کول پیل کړل نو په دې پوه شه چې چېرې هغوی د مسلمانانو په لاسو د ماتې سره مخ شوی دي.

د عماد شامي کور هم د عیسایانو د یرغل څخه خوندي نه و پاته، هغه ته خپله خور یاده وه، چې عمر ئې اوه اته کاله و ډیره ښایسته او دنانځکې په څیر نجلۍ وه، په کور کې ئې پلار، مور اویو ورور هم و. یوه ورځ د عماد دغه کوچنۍ خور بیرون ووتله، او درغل شوه، پلارئې وریسې لټون وکړ خو پیدا ئې نشوه کړاې، یو مسلمان ګاونډي ورته وویل چې هغه عیسایانو پورته کړه او یوړه ئې، پلار ئې دښار د حاکم دربار ته فریاد وروست، خو څنګه ئې چې وویل چې مسلمان دې نو حکمران ورته په غضب شو او الزام ئې پرې و لګاوه چې په حکمران قوم باندې دومره ددرواغو ډک الزام لګوی، کور ته په را ستنیدو سره ئې پلار او د عماد مشر ورور د عیسایانو پر خلاف شور و شر جوړ کړ. ددې پایلې دا شوی چې د شپې د هغوی په کور باندې یرغل وشو عماد خپل مشر ورور او مور په وینو کې ډوب وکتل، هغه پخپله بیرون را ووت او وتښتید، او دیوه مسلمان په کور کې پټ شو. دهغې وروسته بیا هغه خپل کور ته ستون نه شو. ځکه هغه مسلمان ګاونډي عماد ددې ویرې هلته بیرون نه پریښوده چې عیسایان به ئې ووژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږې ورځې وروسته هغه مسلمان ګاونډي دا يو بل چاته وسپاره ، او هغه په پټه د ښاره را وويست ، د سهار په وخت هغه د يوې قافلې سره روان و ، ډېرو ورځو د سفراو ستومانتيا وروسته ، هغوی شام ته ورسيدل ، او هلته ورته د يوه ستر تاجر په کور کې نوکري ورکړل شوه ، اوس نو دهغه ژوند همدا و چې نوکري کوه اوژوندي اوسه ، هغه په ذهني توګه بالغ اوځوان شوی و ، د انتقام او بدل اخستلو جذبه په کې ژوندۍ او قوي وه ، او دهمدې جذبې په درلودلو سره پرې فوځيان ښه لګيدل ، هغه ددې تاجر نوکري پريښوده او د يوه فوځي حاکم کورته ولاړ اوهلته نوکر شو. عماد هغه ته دخپل تيرشوي ژوند پيښې بيان کړې اوداڅې هم ورته وويل چې غواړي په فوځ کې خدمت وکړي.

دغه فوځي حاکم دهغه پالنه وکړه او د شپاړسو کالو په عمر ئې په شام کې په عسکري خدمت کې و نيوه ، هغه دانتقام اوبدلې له پاره ناقراره و ، هغه ته په درې څلورو ځايو کې په جنګ کې ګډون له پاره فرصت تر لاسه شوی و ، چې په هغوی کې هغه خپل فن اوميړانه و ښووله ، لس يولس کاله وروسته هغه ئې دهغې فوځ سره مصر ته وليږه ، چې نورالدين زنګي د سلطان ايوبي د مرستې له پاره و ر استولې و ، دوه کاله ئې په مصر کې تير کړل ، بيا خدای دهغه دا مراد او غوښتنه هم پوره کړه چې هغه په (شوبک) باندې د بريد کونکي فوځ سره يو ځاې هغه لورې ته ولاړ. خو هغه ئې په هغه فوځ کې وساته چې په شګلوړه ځمکه کې يې د صليبيانو پرخلاف غلچکي يرغلونه کول.

هلته عماد د صليبيانو له پاره قهر ګرځيدلي و ، دهغه غلچکي ډله ډيره مشهوره شوی وه ، عماد شامي دخپلو سپرو سره يوځاې په صليبيانو باندې اور را ښکته کړې و خو د هغې د سيني اور مړکيدونکی نه و ،.... يوه مياشت وروسته دهغه په ډله کې يواځې څلورکسان پاته شوي و پاته نور ټول شهيدان شوي و ... يوه شپه هغه د همدې څلورو سپرو سره يوځاې د صليبيايو په يوې پنځوس کسيزه ډله باندې بريد وکړ ، هغه ټوله ورځ پټ پټ دهغوی شاته ته ،د ورځې له اړخه يې نه شو کولاې دخپلو څلورو کسو سره په هغو پنځوسو کسانو بريد وکړي ، د هغوی په تعقيب پسې دا تر ډيره لرې ځاېه پورې ولاړ ، د شپې صليبيان تم شول او يوځاې کې ئې پړاو وکړ ، خو زيات شمير ساتونکي ئې بيداره پريښول ، عماد د نيمې شپې په وخت کې په اسونو وروځغاستل او د ويدو صليبيانو ترمنځ داسې تير شو چې په خپلې برچې باندې به ئې په ښې او کيڼ لورې وار کاوه ،او دهغه هغه څلور واړو ملګرو هم همداسې کول.

هغوی ته به چې کوم خوزنده شې تر سترګو کيده ، په هغوی به ئې د تورو او يا برچو وار کاوه ، اوبيرته به ئې ځانونه غايبول ، څو کسه په خوب ويده صليبيان دهغوی د آسونو تر پښو لاندې شول ، ساتونکو به په تياره کې غشي ويشتل چې خطا به تلل ، مخته عماد دخپلو سرتيرو ډله و دروله ، او دهغې ځاېه ئې خوندي ځاې ته بوتله، هغه دا فکر هم نه وکړې چې دښمن بيداره شوی دې هغه يو ځل بيا اسپ سواره هغوی ته نژدې ور ورړل ، او په هغوی ئې دبريد کولو حکم وکړ. په تياره کې ورته څه سيوري تر سترګو شول ، پنځه واړه اسونه په ځغاسته ولاړل او دهغوی په منځ کې تير شول ، خوکله چې په دښمن د وار کولو وروسته شاته شول نو وئې کتل چې د پنځو په ځاې درې را وتلې دي. دهغو دوه کسان صليبي غشي ويشتونکو را پرځولي و. د عماد

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینه نوره هم ګرمه شوه ، او خپلو مجاهدینو ته ئې وویل: « اوس به بدله اخلو .»دا د هغه بې عقلي وه ، هغه خپل دواړه مجاهدین را و ګرځول او د صلیبیانو په لور را غلل او د رانژدې کیدو په وخت کې ئې د برید حکم وکړ. اوس خو اسونه هم ستومانه شوي و، او دښمن هم په پوره توګه بیداره و. ددې یرغل پایلې دا شوی چې عماد یواځې پاته شو. دا ځل چې هغه ددښمن څخه ووت نو دخپلو دوه ملګرو په ځای ورسره دوه صلیبیان و چې دهغه تعقیب ئې کاوه. صلیبیانو پرې و رغبرګ کړ. هغه هم په تیاره کې د غبرګ څخه و پیژندل، او که نه هغه خو هغوی خپل ملګري ګڼلي و.

هغوی هغه ته ور رسیدلي و، او په تورو ئې پرې برید وکړ، دهغه سره اوږده برچه وه، په ځغاستي آس باندې ئې ددواړو مقابله وکړه، ددوی جنګ پوره اوږود شو، او هغه دواړه بیرته و ګرځیدل خو عماد دا دواړه هملته له منځه یوړل، او ددواړو آسونه ئې (شوبک) ته د ورو ستولو له پاره د واګو څخه و نیول. دهغوی توري ئې هم را واخستې خو هغه دې ته متوجه نه شو چې تر کومه ځایه پورې رسیدلی دې، هغه اسونو ته او هم خپل ځان ته د ارام د ورکولو له پاره په یو ځای کې پړاو وکړ هغه د ویده کیدو څخه ویریده، ځکه چې په هر وخت کې اود هرې لورې څخه ددښمن په برید کې را تلای شو. هغه شپه په بیدارۍ کې تیره کړه، د ستورو په کتلو سره ئې دا مالومه کړه، چې (شوبک) کومې لورې ته او (کرک) کومې لورې ته دې. او په دې صحرا کې چېرې ور ته تلل ور په غاړه دي تر څو د خپلو ملګرو سره یو ځای شي.

د سهار دراختلو سره سم هغه روان شو، هغه د صحرا د پیریانو په څیر د لارې د ورکیدو خطره نه احساسوله، هغه تجربه لرونکې چریک و، د لرې څخه ئې د خطرې د بوي کولو احساس کولای شو. هغه ته ډیر لرې د صلیبیان څلور څلور او یا پنځه پنځه کسانو ډلې تر سترګو شوی نو که چېرې دهغه سره دغه دوه زیاتي اسونه نه واې نو په یوه ټولي خو ئې برید کاوه، هغه خوندي په خپله لار روان و، هغه روا ن و اولمر په اسمان کې را پورته کیده، مخته ورته د غونډیو سیمه راغله، دلته ورسره ویره پیدا شوه چې د صلیبیانو کومه ډله به د شپې له اړخه قیام وکړي، نو غوښتل ئې د لمر د پریوتو تر مخه دهغه ځایه ځان و کاږي، ددې نه هم ویریده چې په کومه غونډۍ د صلیبیانو کوم غشي ویشتونکی ناست نه وي، هغه هرې لورې ته او هم پورته کتل او روان و.

*****(۸۲)

مخته لاره ددووشګلوړه غونډیو تر منځ ګرځیدلې وه، دهغې ځایه چې راتاوشو نو ناڅاپه ورته د چا د پښو اواز تر غوږو شو. داسې مالومیده چې څوک د هغه دځنګ غونډۍ سره پټ شوی و. هغه دخپل آس واګو ته ټکان ورکړ او د خپل اس تګ ئې ګړندې کړ. کله چې هغه د غونډۍ شاته ولاړ نو هلته لاره یوي بلې غونډۍ بنده کړې وه ،دې سیمې دغونډیو ترمنځ د یوی پراخه کندې بڼه خپله کړې وه، د عماد څخه شل قدمه لرې په خاورو کې خړ پړ یو چا چې چوغه ئې اغوستې وه هڅه کوله د لاسو او زنګنو په مرسته پورته و خیژي،دهغه شا د عماد په لور وه، اوسرئې هم پټ و، عماد پرې ور غبرګ کړ خو هغه دعماد غبړ ته د ځواب ور کولو پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو پورته ختلو ته دوام ورکړ. غونډۍ شګلوړه او ختل پرې ستونزمنه و ، عماد مخته ورغې هغه انسان یو بله هڅه وکړه خو لاس او پښې ئې ټینګې نه شوی ، هغه نیم بې هوشه شانته و. بیرته را ورغړید او د عماد د آس په قدمونو کې تم شو. د هغه د سر څخه د چوغې برخه لرې شوی وه، عماد دهغې په کتلو سره حیران پاته شو. هغه یوه ځوانه نجلۍ وه او دومره ښایسته چې پخوائې کله هم نه وه تر سترګو شوې.

عماد د آسه را ښکته شو ، نجلۍ په ویره کې وه ، دهغې پاته توان هم ویرې ختم کړې و. هغې غوښتل و دریږي خو کیناسته ، عماد ترې وپوښتل چې څوک ده ، هغه ځواب ورکړ ،«اوبه راکړه» عماد د یوه اس څخه اوبه راپرانستې او هغې ته ئې ورکړي، هغې په ډیره بې صبرۍ سره اوبه وڅښلې نو سترګې ئې په پټیدو شوی.

عمادهغې ته دخوراک له پاره هم څه ورکړه، نو دهغې په مخ باندې د ژوند نښې را برسیره شوی ، عماد ورته وویل «له ما څخه مه ویریږه ، ووایه چې څوک ئې؟»

« د(شوبک ) څخه د خپلې کورنۍ سره را وتلې وم ،» هغې په سترې او ستومانه اواز وویل « ټول مړه شول ، زه یواځې پاته شوم ، په لار کې مسلمانانو برید را باندې کړې و.»

«ماته ولې ریښتیا نه وائې ؟» عماد ورته وویلې « هغه څه چې تاوویل ټول درواغ دي»

« که ته ئې درواغ ګڼې و ئې ګڼه » هغې په ویریدلې لهجې سره وویل ،« خو پر ما رحم وکړه او ما (کرک) ته ورسوه ،»

« تر(شوبکه) پورې» عماد ورته وویلې « زه تا (شوبک ) ته وړلای شم ،(کرک) ته نه» ته وینې چې زه مسلمان یم ، زه نه غواړم چې په لاره کې د عیسائې فوځ په لاسو ومرم.»

بیا نو ماته یو آس را کړه »نجلۍ ورته وویلې ، « زه نجلۍ یم که چېرې په لاره کې د چا لاسو ته ورغلم نو ته پوهیږې چې زما انجام به څه وي ؟»

« زه درته آس هم نه شم درکولاې ، اوتا له دې ځایه ځانته هم نه شم لیږلاې ، عماد ورته وویل « دا زما دنده ده چې تا له ځانه سره (شوبک ) ته یوسم.»

« هلته به ما چا ته سپارې ؟»

« خپلو حاکمانو ته !» عماد ورته وویلې او تسلي ئې ورکړه چې «ستاسره به هغسې سلوک نه کیږي چې ته ترې ویریږې»

نجلي (کرک) ته د تللو ضد کاوه ، عماد هغې ته وویل چې هغه ته حکم شوی دې چې د (شوبک) هیڅ عیسائې او سیدونکې ددې ځایه تیښتې ته مه پریږدئ. ددې نه علاوه هغه نجلۍ خبره کړه چې هغه (کرک) پورې نه شي رسیدلاې ځکه چې هغه تور رنګه ښایسته نجلۍ ده. مګر نجلۍ ددې نه ویریدله چې دا مسلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



فوځي به ئې بې ابرو کړي ، هغې فکر وکړ چې باید ددې سړي سره دخپلې ابرو سودا وکړي ، هغه ته به ووائې چې آس راکړه او له ما سره چې څه کوې هغه وکړه. نجلۍ خپله رويه بدله کړه او عماد ته ئې وويل «زه ډيره ستومانه شوى يم ، نن شپه همدلته پړاو وکړه ، سهار به (شوبک) ته ولاړ شو» عماد هم ستومانه شوى و او آسونه خو لاد پخوا څخه ستومانه و. هغه د نجلۍ حالت هم همداسې وکوت ، نو په دې خاطر ئې همدلته د تم کيدو پريکړه وکړه. ددې تر مخه نجلۍ دې ته دومره په غور سره نه وکتلې ، هغې همدومره کتلي و چې دا د اوږدې ږيرې مسلمان دې چې په خاورو او دوړو ککړ ې څهرې ترې وحشي جوړ کړې ، نو هغې د هغه څخه د رحم هيله نه دلورده ، اوس چې هغې يو پلان په فکر کې نيولې و نو په دې خاطر ئې عماد په ژوره توګه تر سترګو تير کړ.

عماد هم هغې ته په ژور نظر وکتل ،او فکر ئې کاوه چې دومره ښکلې او ښايسته نجلۍ په دې صحرا کې ځانته پاته کيدل ، په داسې حال کې چې صليبي او اسلامي عسکر دزياته وخته راهيسي د وړو ليوانو په څير منډې ترړې وهي ، ددې له پاره څومره خطرناکه دي ، او دا هم شونې ده چې ددې نجلۍ په سربه سپاهيانو او قومندانانو يو بل سره وژلي وي. هغه پخپله هم فرښته نه وه ، دهغې نجلۍ سترګو ته ئې وکتل ، په همدې وخت کې نجلۍ هم ده ته کتلې ، عماد هڅه کوله چې د نجلۍ څخه خپلې سترګې واړوي ، خو دنجلۍ سترګو ددې سترګې را ستنولې ، نجلۍ په خپل جسم کې کومه داسې جذبه احساسوله چې دهغې له پاره پردۍ وه ، هغې يو ځل سترګې ښکته کړې خوسترګې ئې په خپله را پورته شوى او ډيرې نارامه شانته ښکاريدې ، د نجلۍ په شونډو نرۍ غوندې خندا را غله ، عماد ورته وويل «چې شايد ناواده شوى پيغله ئې ؟ !»

«هو !» نجلۍ ورته وويلې ، اوبيا ئې دڅه فکراو ځنډ کولو پرته وويل « زه په دنياکې هيڅوک نه لرم ،که ته له ماسره (کرک) ته ولاړ شې نو زه به له تاسره واده وکړم.» عماد را بيداره شوى غوندې و ،هغه ورته وويل « بيا به ته ماته وائې چې اوس دې نو مذهب هم را بدل کړه ، راځه ته له ماسره (شوبک) ته ولاړه شوه او هلته مسلمانه شه او واده راسره وکړه »

« زه بايد په هر صورت تر (کرک) پورې ولاړه شم.» نجلۍ ورته وويلې « که چيرې ته له ماسره تر هغه ځايه پورې ځې نو ستا دنيابه بدله شي.»

نجلۍ د سودا لوبه پيل کړې وه ، خو عماد څه نور فکر کاوه ، دا فکر داسې و چې هغه پرې پخپله هم نه پوهيده ، هغه به بيا د نجلۍ مخ او څهرې ته کتل اوبيا به ئې سر ټيت کړ او په څه فکر کې به ډوب شو. داسې مالوميده چې هغه د نجلۍ خبره اوريدله هم نه ده. لږ څه وروسته د نجلۍ مخ اوڅهره دماښام په تياروکې ورکه شوه، هغه د آس دزين سره تړلي دخوراک څښاک شيان را واخستل ، نجلۍ ته ئې هم ورکړل اوپخپله ئې هم وخوړل ، د هغه جسم دومره ستومانه وه چې د څملاستو سره سم ئې سترګې ورغلې.

(۸۷)****

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیمائي شپې څخه ډیره برخه تیره وه چې نجلۍ خپل اړخ بدل کړ ،او سترګې ئې پرانستې ، عماد ته یې وکتل، چې په خواږه خوب ویده و ، هلته څو قدمه لرې آسونه ولاړ و ، د شپې د اولې برخې سپومۍ د غونډیو سر ته را غلې وه، نجلۍ آسونو ته وکتل ،زینونه پرې ایښي و ، عماد دومره ستومانه و چې د آسونو څخه ئې زینونه هم نه و راښکته کړي ، نجلۍ اسونه تیار وکتل او دائې هم وکتل چې عماد په خواږه خوب ویده دې او د خوراک څښاک وروسته ئې خپل توان هم بیرته تر لاسه کړې ، په خپله چوغه کې ئې لاس ننویست او کله ئې چې لاس را وویست نو دهغې په هغو ښایسته ګوتو کې خنجر و ، په سپوږمۍ کې ورته د عماد مخ تر سترګو کیده ، اوکتل ئې چې هغه د بې هوشۍ په خوب ویده پروت دې. نجلۍ د سپوږمۍ په رڼا کې د خنجر ځلا ته وکتل ، اویو ځل ئې بیا د عماد په مخ سترګې ور واچولې ، عماد په خوب کې بړیده ، هغه په خوب کې خبرې کولې نجلۍ داسې وپوهیده چې هغه ته خپل خپلوان راپه یاد شویدي.

نجلۍ د عماد سینې ته په غور سره وکتل ، اواندازه ئې وکړه چې دهغه زړه چیرې دې ، هغې د یوه څخه زیات وار کول نه غوښتل ، خو دا وار باید په زړه وشي ، تر څو عماد سمدلاسه و مري ، او که نه په مړینه مړینه کې به هغه هم له منځه یوسي ، نجلۍ خپل خنجر نور هم په قوت سره و نیو او د آسونو په لور ئې وکتل ، هغه په زړه کې ټول هغه څه چې باید کړې ئې واې را وګرځول ،او هغه داچې هغه به په خپل خنجر د عماد زړه سوری کوي ، په آس به سپریږي او آس به ځغلوي. خو هغه عسکره نه وه او که نه بې له سوچه او فکره به ئې خنجر دعماد په سینه کې ور ننویستې واې اوله منځه به ئې وړې واې ، هغه ته همدا علت بسنه کوله چې عماد مسلمان دې ،اودهغې دښمن. خو هغې به بیا بیا د عماد په مخ باندې سترګې ور غوړولې او کله ئې چې خنجر د وار له پاره پورته کاوه ، نو زړه به ئې په ټوپونو پیل کاوه. عماد یوځل بیا و بړید ، اوس نو دهغه دخبرو الفاظ څرګند و ، هغه په خوب کې خپل کورته رسیدلې و ، دخپلې مور نوم ئې واخست ، خور ئې هم رایاده کړه ، او څه داسې الفاظ ئې دخولې څخه راووتل چې هغوی وژل شوي وي او عماد دهغوی قاتلینو پسې ګرځي.

دا چې کوم احساس یا جذبې د نجلۍ لاس تم کړ مالومه نه دې ،شوني وه چې ویره به وي. او د نه وژلو جذبه به هم وي ،نجلۍ ناارامه شوه ، هغې اراده وکړه چې وژل به نه کوي ، سوکه سوکه به پورته شي په آس به سپره شي اوسوکه سوکه به ددې کندو څخه ووځي. هغه راپورته شوه او خنجر ئې په لاس کې را واخست د اسونو په لورې ولاړه ، خو شګو دهغې پښه را ایساره کړه ، هغه ودریده اوعماد ته ئې یو ځل بیا وکتل ، ناڅاپه ئې په ذهن کې دا خیال راغې چې دې سړي دومره پروا هم ونه کړه چې دهغه سره یوه ځوانه نجلۍ په یواځې ځاې کې یوځاې شوی ده ، او دا فکر ئې هم و نه کړ چې دا نجلۍ عیسائې ده او کولې شي چې دخوب په وخت کې ئې ووژني ،هغه د آسونو څخه زینونه هم نه دي راښکته کړي او خپله برچه او توره ئې هم په احتیاط سره نه دي سمبال کړي -- ولې ؟ ایا هغه پر ما باور دلود ؟ یا ایا دومره بې احساسه دې چې زما ځوانۍ په هغه کې هیڅ جذبه راپیدا نه کړه ؟...؟ هغې ته داسې احساسیدله ، چې هغه سړې دې ته داس څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات ارزښت هم نه دي ورکړي ، هغه سوکه سوکه تر يوه آسه پورې راغله ، آس و شنړېده ، نجلۍ وويريدله او د عماد لورې ته ئې وکتل ، د آس په اواز هم د هغه سترګې خلاصې نه شوى.

هغه ددرې آسونو تر منځ ولاړه وه ، کله ئې چې په يوه آس د سپريدو اراده وکړه نو د شا له خوا ئې اواز واورید.« څوک ئې ؟» نجلۍ يو دم شاته وکتل ، يو سړې په خوله باندې شپيلې وواهه « زمونږه دا قسمت !؟» هغوى دوه کسان و ، بل ئې وخندل ، نجلۍ ئې د ژبې څخه و پوهيده چې صليبيان دي ،يوه نجلۍ د لاسه و نيوله ،او خپل ځان ته ئې را ښکوده ، نجلۍ ورته وويلې «زه صليبي يم» هغو دواړو و خندل اويوه ئې وويل « بيا خو ته ټوله زمونږه ئې -- راځه»

«لږ صبر وکړۍ او زما خبره واورۍ ،» هغې ورته وويلې ، زه د (شوبک ) څخه راتښتيدلې يم ، زما نوم "ايونا» دې زه د ځارکښۍ د شبکې غړۍ يم ،(کرک ) ته ځم ، هلته ووينۍ يو مسلمان سپاهى ويده دې ،هغه زه نيولې وم ، ما هغه ويده پريښود او ترې تښتم ، زما سره مرسته وکړئ ، دا اسونه واخلۍ اوما (کرک ) ته ورسوئ ،» هغې دوى دواړو ته ډيرې خبرې وکړې چې هغه د صليبي فوځ له پاره څومره ارزښتناکه پانګه ده.

يوه صليبي هغه د وحشيانو په څير په خپلو لاسو کې را ومروړله ، او وئې ويل « هر چېرې چې غواړې رسوو دې» خو هغه بل ډيره بيهوده خبره وکړه ، اودواړو نجلۍ يوې لورې ته ور ټيل وهله ، هغوى د صليبي فوځ پياده عسکر و ، چې دمسلمانو چريکانو څخه را تښتيدلي و، هغوى د شپې چېرې پټ شوې و او ارام ئې کاوه،دداسې ښکلې نجلۍ په کتلو د هغوى څخه حيوانات جوړ شول . کله چې نجلۍ وکتل چې هغوى ته د صليب هم څه پروا نه شته ، نو هغې په دې هيله په لوړ اواز خبرې پيل کړې چې عماد راپورته شي خو هغه سپاهيانو له ځانه سره راښکودله .

ناڅاپه يوه په ويريدلى اواز د خپل ملګرى نوم واخست او ويې ويلې « ځان څنګ کړه » خو دهغې دخبرې دمخه دعماد برچه دهغه په ملا کې ور ننوتې وه. هغه بل توره را وويسته ، نجلۍ چې کله خپلو لاسو ته وکتل نوګورى چې خنجر ورسره دې هغې دا خنجر د صليبي سپاهي په اړخ کې ور ننويست او يو په بل پسې ئې دوه واره پرې وکړل ، او په چغو چغو ئې وويل «« تاسو ته د ژوندې پاته کيدو هيڅ حق نه شته ، تاسې د صليب په نوم ناولې تور داغ ياست.»

کله چې دواړه صليبيان يخ شول ، نو نجلۍ بې قابو شوه او په ژړائې پيل وکړ. عماد هغې ته تسلي ورکړه او ورته ئې وويل « اوس دلته پاته کيدل سم نه دي ، شونې ده چې ډير سپاهيان به دهغې لورې راشي ، مونږ همدا اوس (شوبک ) ته روانيږو ،»

هغه دنجلۍ څخه و پوښتل « ايا هغوى ته راپورته کړې وى؟»

« نه !» نجلۍ ځواب ورکړ ،« زه ويښه وم او دآسونو سره ولاړه وم ،»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«هلته دې څه کول ؟»

«غوښتل مې په اس سپره شم او وتښتم .» نجلۍ اقرار وکړ او وئې ویل «ما نه غوښتل له تاسره ولاړه شم.»

«دا خنجر دې له کومه کړې؟»

«د پخوا څخه له ما سره و »نجلۍ ځواب ورکړ ، «ما د مخکې نه په لاس کې نیولې و.»

«ولې دې پخوا را خیستې و ؟» عماد ترې و پوښتل « په دې خاطر که زه راوبښ شم نو ما به ووژنې .»

نجلۍ ځواب ورنکړ. عماد ته ئې همداسي کتل. د لږ څه ځنډ وروسته ئې ورته وویل «پخوا له دې چې ته ما ووژنې ماو غوښتل تا ووژنم او بیا درځخه و تښتم.» زه تاته دا په ډاګه کوم چې ما خنجر ستا د وژلو له پاره را خستې و خولاس مې نه پورته کیده . زه دا نه شم ویلای چې ما ولې ستا په زړه کې خنجر و نه شو ننویستلای. ستا ژوند زما په لاس کې و ، زه بې زړه نه یم ، خوبیا هم زه و نه توانیدم تا ووژنم ، زه ددې کوم علت نه شم ویلای ، کیدای شي ته څه ووائې ؟»

« دژوند او مرګ پریکړې د اللهؒ په لاس کې دي .» عماد ورته وویلې ،« ستا لاس زما اللهؒ له ما څخه منه کړې و ، او ستا عزت هم اللهؒ خوندي کړ. زما وجود خو هسې یوه وسیله شوه .... په هر آسپ چې سپریږې سپره شه او ځغله.»

نجلۍ خنجر د عماد په لور ور وړاندې کړ او ورته ئې وویلې« زما خنجر د خپله ځانه سره و ساته ، اوکه نه زه دې وژنم»

«ته دا زما توره هم له ځانه سره واخله» عماد ورته وویل «بیا هم ما نه شې وژلې»

دا تو کې نه وې ، دواړو په پوره هوش او فکر سره داخبرې کولې ، هغوی په اسونو سپاره شول اویو اس ورپسې روان و.

دلمر تر راختلو پورې دوی هغې سیمې ته رسیدلې و چېرې چې صلیبي عسکر نور نه تر سترګو کیدل ، دعماد دفوځ خپل څو کسه سپاهیان تر سترګو شول ، هغه ورسره خبرې وکړې او مخته ولاړل ، داپریل د میاشتې لمر ډیر ګرم وي هغوی خوله اومخ پټ کړې و اوروان و ، لرې شګې د اوبو دسمندر په څیر را وځیلیدې ، او په ښې اړخ کې ئې د شګلوړه غونډیو غرونه تر سترګو شول ، دسفر په دوران کې هغوی له یوه بله سره یوه خبره هم ونه کړه ، د ګرمۍ نه علاوه د انسانانو لاشونو هم په هغه ځای کې چپه چپتا اود ویرې فضا را پیدا کړې وه ، عماد نجلۍ ته وویلې « دا ستا دقوم دسپاهیانو لاشونه دي ، دوی د هغه پادشاهانود غوښتنو ښکار ګرځیدلي چې د اسلامي سلطنت دله منځه وړلو له پاره د انګلیستان ، فرانسې ، جرمني ، ایتالي او ....د کوموکومو ځایو څخه دلته راغلی و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ چپه خوله ناسته وه، هغې به بیا بیا عماد ته کتل ، او د یوه سوړ اسویلي وروسته به ئې بیرته سترګې واړولې ، عماد د (سلول) دغرونو په لور مخه کړه، هغه ته مالومه وه چې هلته به اوبه اوسیورې پیدا شي ، لمر دهغې شاته پاته شو. غرونو ته ورسیدل ، د لټون وروسته ئې شنه ګیاه او بوټې تر سترګو شول ، په یوه ځاې کې د غره لمن شکیدلې وه، او هلته اوبه وې ، دآسه را ښکته شو ، اول ئې پخپله و څښلې اوبیا ئې آسونه د اوبو څښلو ته ور پریښول ، او تر سیوري لاندې کیناستل.

« ته څوک ئې ؟» نجلۍ ترې وپوښتل ،« ستا نوم څه دې؟ او دکوم ځاې اوسیدونکې ئې؟»

« زه مسلمان یم» عماد ځواب ورکړ ،« زما نوم عماد دې او زه شامي یم»

«تا دشپې په خوب کې څوک یادول ؟»

« ماته په یاد نه دي» عماد ورته وویل « زه لکه چې په خوب کې خبرې کوم، زما ملګرو به هم ماته همداسې ویلې ، چې زه په خوب کې ګړیږم.»

«ستا مور یاخور شته ؟نجلۍ ترې و پو ښتل. او ورته ئې وویل «شاید چې ته هغوی یاد وی ،»

« وو ، یووخت !» عماد د افسوسه په ډک اوسیلي سره وویل.«اوس هغوی په خوب کې وینم.» نجلۍ ترې د ټولو خبرو د پوښتلو هڅه وکړه خو عماد ورته نور څه و نه ویلې، هغه نجلۍ ته وویلې « تا دخپل ځان په هکله ماته درواغ ویلي و. ماته ستا څخه د پوښتني کولو اړتیا هم نه شته چې ته څوک ئې ؟ زه به تا هغه اړوندې شبکې ته سپارم اوبیرته به را ستونیږم ، که چېرې ریښتیا ویلې شی نو دخپل ځان په هکله را ته څه ووایه خو دا مه وایه چې ته دهغو صلیبي نجونو څخه نه ئې چې زمونږ هیواد ته د ښارکښۍ له پاره راغلې و ې.»

«ته سمه خبره کوي »نجلۍ ورته وویل.« زه جاسوسه نجلۍ یم ، زما نوم "ایونا» دي»

ستامور اوپلارپه دې خبر دي چې ته څه ډول دنده تر سره کوی ؟» عماد ترې و پوښتل.

« زما مور اوپلار نه شته ،» "ایونا» ورته وویل « ما دهغوی شکلونه هم نه دي کتلي ، زما محکمه زما مور او دهغې مشر زما پلار دې ،» هغې دا خبره همدلته پریښوده ، او وئې ویلې « زما یوی ملګری د یوه مسلمان سپاهي د په څنګ کولو په خاطر زهر و خوړل ، زه هغه وخت ډیره حیرانه وم چې کومه صلیبي نجلۍ د یوه مسلمان له پاره دومره قرباني ورکولې شي ؟ خو زه نن دا احساسوم چې هو دا کار کیداې شي.»

«داسي څرګنده شوی وه چې هغه مسلمان سپاهي هم ستا په څیر هغه نجلۍ د غلو څخه دخپل ځان په قیمت خوندي کړې وه. اوبیا هغې نجلۍ هغه په زخمي حالت کې دخپله ځانه سره (شوبک) ته وړې و. ستا په څیر هغه هم دافکر نه کاوه چې نجلۍ څومره ښایسته ده ، ، لوزینا ډیره ښایسته نجلۍ وه ، زه داویلې شم چې زه هم اوس ستا په خاطر خپل ځان ځارولې شم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ما خپله دنده تر سره کړې ده» عماد ورته وويلي ، «مونږ د حکم تابع يو .»

«کيداې شي دا د جذباتو اغيزوي چې زه داسې محسوسوم لکه ما چې ته پخوا کله کتلي ئې.»

«کتلي به دې يم» عماد ورته وويلي «ته به مصر ته تللې وی ، هلته به دې کتلې يم.»

«زه مصر ته تللې يم» نجلۍ ورته وويلې، «خو ته مې هلته نه ئې کتلی .» هغې ورته په خندا کې وپوښتل.

«زما په اړوند ته څه فکر کوې ؟ ايا زه ښايسته نه يم ؟»

«ما ستا د ښايست څخه انکار نه دې کړې .» عماد ورته وويل «زه پوهيږم چې ته دا پوښتنه ولې کوی.؟»

ته به حتماً حيرانه شې چې ما له تاسره هغه سلوک ولې ونکړ چې ستا د صليب دوه ملګرو له تاسره کول غوښتل ، کيداې شي ستا په زړه کې داويره تر اوسه هم شتون ولري چې زه تا ته دوکه درکوم. اوتا (شوبک ) ته د وړلو وروسته خرابوم. اويا ستا د خوښې خلاف له تاسره واده کوم. او يا دې پلورم ، زه غواړم ستا دا ويره له منځه ولاړه شي ، نجلۍ که زما له مذهبه وې اوکه له بله مذهبه ، زه هيڅ ښځينه ته به بد نظر نه شم کتلاې، دهغې علت دادې چې زه چې کله د دولس دېارلس کالو وم نو زما يوه کوچنۍ خور تښتول شوی وه ، دهغې عمر شپږ اوه کاله و ، اوس دادې شپاړس کاله تيريږي ، هغه په (شوبک ) کې عيسايانو زمونږ د کوره پورته کړې وه، زه نه پوهيږم چې هغه به ژوندۍ وې اويا مړه ، که چېرې ژوندۍ هم وې نو دکوم امير په حرم سراې کې به وې ، اويا به ستا په څير جاسوسي کوي. هره نجلۍ چې وينم هغه خپله همغه خور ګڼم ، هغې ته په خراب نظر ځکه نه شم کتلاې چې هسې نه چې هغه هغه زماورکه شوی خور وي ، زه تا په دې خاطر (شوبک ) ته له ځانه سره وړم ، چې هلته خوندي پاته شې ، زه پوهيدم چې په صحرا کې ستا ځانته تګ او بيا پياده تګ تا څه ډول انجام ته وررسوي، او بيا که ته د چا په لاسو کې کيوتې واې نو ستا حال به هماغه و لکه ستا صليبي ورونو چې له تاسره کول غوښتل ،ماته د خپل ښايست احساس مه راکوه ، زه ددې احساس له اړخه مړ يم، زه په دې صحراو کې د صليبيانو پسې د اس دڅغلولو او هغوی په خپلو وينو کې د لمبلو څخه لذت اخلم.

نجلۍ هغه ته په حيرانونکو سترګو سره کتل ، دهغې په سترګو کې دتندې اغيز و ، دهغې سره تر اوسه پورې داسې خبرې چا نه وی کړې ، هغې ته دبې حياتې اوعياشۍ درس ورکړل شوی و. هغه ئې يوه ډير ښکلې دوکه اوفريب ګرځولې وه، په هغه ئې د حسن او شرابو نشه خپروله ، او هغه ئې د عصمت د مرغلرو څخه بې برخې کړې وه، او هغې ته ئې دروزنې وروسته د خپلو نورو نجونو ملګرو په څير خپل ځان د نارينه و په غيرو کې د ور اچولو حکم کړې و. تر څو د هغوی زړونه په خپله ولکه کې واخلي. هغوی دخلکو په زړونو او دماغونو حکومت کاوه او خپل ځانو نه ئې شهزادګۍ ګڼلي ، هغې ته دا هم په ياد کې نه و پاته چې کور ئې چېرې وه، او مور وپلار ئې څوک و . د عماد جذباتي خبرو دهغې په ذات کې د يوې ښځې جذبات را پارولي و ، هغه په ژور سوچ کې ډوبه وه ، دهمدې ژور سوچ په وخت کې ئې وويل « ماته د يو ويرونکې خوب په څير دا په ياد راځي چې زه ئې دیوه کوره تښتولي وم ، خو ماته ياد نه دي چې په هغه وخت کې به زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو کلنه وم» هغې خپل دواړه لاسونه په وینبتانو کې تیر کړل او خپل وینبتان ئې په دواړو موټو کې را ونیول او داسې ئې کلک کړل لکه څوک چې پخواني یادوونه را وینبوي ، هغې وویل «په یاد نه راځي ، ځکه زما ماضي په شرابو ، عیش او عشرت او په ښکلي فریبونو کې ورکه ده ، ما هیڅکله هم فکر نه و کړې چې زما مور اوپلار څوک و او څنګه و ، ماته کله دمور اوپلار اړتیانه ده پیښه شوې ، زما احساس له منځه تللي و ، ماته دا مالومه نه ده چې نارینه پلار او ورور به هم شتون ولري ، نارینه خوما دخپلې تفریح داستعمال یو نانځکه ګڼي ، په هغوی چې زما ښایست او زما ځواني نشه را نه وړي نو زه هغه دحشیشو او شرابو په واسطه خپل غلاموم ، خو اوس چې تا کومې خبرې وکړې هغې په ماکې هغه احساسات را بیداره کړل چې د مور ، پلار ، ورور او خور مینه غواړي.»

د هغې نا ارامي زیاتیدله ، هغه به تم تم کیده او خبرې به ئې کولې ، او بیا بلکل چپ پاته شوه، کله به ئې عماد ته سترګې و نیولې او کله به ئې د خپل سر وینبتان په دواړو لاسو کې و نیو ل، هغه په حقیقت کې د خپلې ورکې ماضي او حال ترمنځ په جګړه بوخته وه ، کله چې عماد ورته وویلې چې پاڅه چې ځو ، نو هغه د یوه کوچنۍ ماشومې نجلۍ په څیر د هغه سره روانه شوه ، د هغوی آسونو هغوی د غرنۍ سیمې څخه ډیر لرې یوړل خو بیاهم به هغې عماد ته همداسې کتل ، یواځې یو ځل هغې په خندا کی وویل.«ما کله هم د نارینه و په خبرو او وعدو باندې باور نه دې کړې ، زه نه پوهیږم چې زه ولې احساسوم چې زه باید له تاسره ولاړه شم؟» عماد ورته وکتل او مسکې شو.

***** (۸۸)

کله چې هغوی د (شوبک) دروازې ته ورسیدل نو دبلې ورځ لمر را ختلې و ، هغوی په صحرا کې یو ه شپه تیره کړې وه ، هغه ځای ته چې عماد غوښتل دا نجلۍ یوسي نو د هغې ځای په هکله ئې وپوښتل او ور روان شو. آسونه د ښاره څخه تیریدل ، او خلکو "ایونا» ته کتل ، په تلو تلو کې عماد د یوه کور سره خپل اس و دراوه ، او هغه بندې دروازې ته ئې وکتل ، "ایونا» ترې وپوښتل ،«دلته ولې و دریدې ،؟» هغه داسې و لکه هیڅ یې چې نه وي اوریدلي ، دوازې ته لنډ ورغې او په آس سپور ئې دوه درې ځلې د دروازې دړه و ټکوله. یو زوړ سړې دروازه پرانسته.

«دلته څوک اوسیږي؟» عماد ترې په عربي ژبه و پوښتل.

« هیڅوک نه » هغه زوړ سړي ځواب ورکړ ،«د عیسایانو یوه ښځه په کې اوسیدله خو کله چې زمونږ فوځ راغې نو د هغې ټوله کورنۍ و تښتیدله»

«اوس پرې تا ولکه کړې ده ؟»

زوړ ووېرید . هغه وکتل چې سپور یو فوځې دې اود هغه څخه پوښتنې ګرویزنې کوي ، چې د عیسایي په کور هغه ولې ولکه کړې ده ، په داسې حال کې چې سلطان ایوبي د اعلان په واسطه دا حکم کړې و چې د کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان په واسطه دې هيڅ عيسائي ته زيان و نه رسيږي .اوکه نه سخته سزا به ورکړل شي. هغه زوړ وويل .«ما پرې ولکه نه ده کړې ،ددې دساتنې له پاره دلته را غلی يم ، زه به دا بلکل بند کړم.ددې مالک ژوندې دي هغه مسلمان دې او د پنځلس شپاړس کالو راهيسې په هغه بيګار پنډغالي کې پروت دی.

«ولی د مصر امير هغوی دپنډغالي څخه نه دي ازاد کړي ؟» عماد ترې وپوښتل.

« دهغه ځای مسلمانان اوس ازاد دي خو لا تر اوسه په پنډغالي کې دي.» زاړه ځواب ورکړ. « خو دهغوی ټولو روغتيائي حالت دومره خراب شوی دی چې دروند صلاح الدين ايوبي ورته اوس شيدې ، غوښه ، دوائياني او د ښه اوسيدو انتظام کړی دی زيات شمير ډاکټران د هغوی رو غتيائي حال ځاري ، دهغوی څخه چې دهر يوه صحت ښه کيږي نو هغه خپل کور ته ور ليږي ، هلته چې څوک اوسيږي نو دهغوی خپلوان دهغوی دکتلو له پاره همه ورځي. ددې کور خاوند هم همه دې ، يو خو هغه ډير زوړ شوی دی او بل دا چې پنځلس شپاړس کاله ئي د پنډغالي اذيتونه ګاللي دي ، هغه يواځې ژوندې دي زه ئي کله کله کتلو ته ورځم. هيله ده چې روغ به شي ، ما هغه ته ويلي چې دهغه کور خالي شويدی.»

« دهغه خپلوان چيرې دي ؟» عماد ترې وپوښتل.

« هيڅ يو ئي هم ژوندې نه دي ،» زاړه ځواب ورکړ اودرې څلور کوره لرې ئي د يوه کور په لور اشاره وکړه او وئي ويل ،« هغه زما خپل کور دې ، زه ددې خلکو ګاونډې يم خو تاسې را ته دهغه خپلوان ويلې شئ ،»

عماد ددې پوښتنې وروسته چې دننه خو مستورات نه شته ، دآس څخه راښکته شو او دننه ولاړ ، په دېوالونو ئي لاس وواهه ، هغه خپلې اوښکې وچولې ، "ايونا" ئي د اوښکو د راتلو علت و پوښته ،هغه ځواب ورکړ.« خپل کوچنيوالي لټوم ، زه ددې کوره تښتيدلې وم ، ، دا زما کور دي ،»دهغه اوښکې را رواني شوی اودهغه زوړ څخه ئي وپو ښتل ،«ددې خپلوان مړه شويدي، دهغې اولاد هم و ؟»

« يواځې يو ځوي ئي په ځنګ شوی و ، چې د عيسائي غلو څخه زمونږ کورته را تښتيدلې و ،» زاړه ځواب ورکړ ،« ما هغه شام ته وليږه ځکه که دلته اوسيدلې نو وژل کيده به.»

عماد ته هغه شپه په ياد شوه چې دخپله کوره تښتيدلې وه او دګاونډي کور کې ئي پنا اخستې وه ، هغه همدا ګاونډې و ، خو هغه دې زوړ سړي ته و نه ويل چې هغه هلک چې تا د(شوبک ) څخه شام ته استولې و هغه همدا ستا تر مخ ولاړ ځوان دې چې ته ورته قصه اوروې ، دعماد له پاره په خپلو جذباتو کنترولول ډير ګران شول ، خو بيا هم هغه يو سخت روزل شوی عسکرو. هغه زوړ ته ئي وويل « زه ددې کور دخاوند سره کتل غواړم ،ماته دهغه نوم را وښايه ،» زاړه هغه ته دخپل پلار نوم ور وښود اوعماد ته هم دخپل پلار نوم په ډيره ښه توګه په ياد و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« دهغه هلک یوه خوروه ،» زاړه ورته وویل «ډیره کوچنۍ وه هغه عیسایانو تښتولې وه ،او دهغې د تیښتې وروسته بیا ددې کور ټول وګړي د عیسایانو په لاسو ووژل شول.

« "ایونا» » عماد نجلۍ ته وویل « دخپل مقدس صلیب د پالونکو کرتوتونه دې واوره »

"ایونا» هیڅ ځواب ورنکړ. هغې چت ته کتل ، هغې ددروازې یوه پله بنده کړه او دهغې دشا لورې ته ئې مخ کړ. په دروازې باندې درې خلور ورې ورې خو ژورې ژورې لیکې کندل شوې وې هغه کیناسته او دا کندل شوی لیکې ئې به ډیر غورسره کتلې ، عماد هغه د سترګو لاندې څارله ، "ایونا» په هغو کندنو باندې لاس راښکوده ، هغه پورته شوه او دنورو کوټو د لیدلو له پاره ولاړه ، هلته ئې هم په همداسې کندل شوو لیکو باندې لاس کشاوه او د څه لټون ئې کاوه ، عماد ورغې او ترې وئې پوښتل ،« څه ګورې ؟»

نجلۍ ورته وخندل او وئې ویل « ستاپه خیر زه هم خپل کوچنوالې لټوم ،» هغه دعماد څخه وپوښتل « داستاسو کورو ؟ نو ته بیا ددې ځایه تښتیدې ولې ؟»

«د همدې ځایه» عماد ځواب ورکړ اوهغه ته ئې واورل چې څه ډول دهغوی په کور عیسایانو حمله کړې وه او دهغې مور او ستر وورور ئې ورته ووژل ، او زه و تښتیدم او ما تر اوسه پورې دا درک کوله چې پلار به مې هم وژل شوې وي. خو دا زوړ وائي چې پلار مې په پنډ غالي کې ژوندې دې.

« تا هغه زوړ ته ویلي دي چې هغه هلک همدا ته وی چې تا ورته پناه ورکړې وه ؟»

« مانه غوښتل اوس ورته ووایم» هغه د تذبذب په حال کې وویل.

"ایونا» هغه ته په ډیر غور سره کتل ، او هغه زوړ دوی دواړو ته کتل او حیران ولاړ و چې دوی دواړه دلته څه ګوري. عماد د کوچنیوالي په یادوونوکې ورک شوی و ، زاړه ترې و پوښتل « ماته څه حکم شته ؟»

عماد ټکان وخوړ او په حکمي لهجې ئې ورته وویل چې « دا کور چې اوس تا سره دې په پخپله به ئې ساتې» او "ایونا» ته ئې وویل « را څه چې ځو »

« ایا ته دخپل پلار سره نه وینې ؟» "ایونا» ترې و پوښتل.

تر هر څه دمخه خپله دنده تر سره کوم.» عماد ځواب ورکړ ،«ما به هلته په شګلوړه صحرا کې خپل قومندان لټوي ، هغوی به زه په مړو کې شمیرلې یم ، هلته ماته اړتیا ده، را ځه -زما سره -راځه ، چې زه دا امانت چاته وسپارم.»

***** (۸۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجوني ،نجوني ، نجوني» سلطان ايوبي په غوړېدلي اواز سره علي بن سفيان ته وويل: « ايا دا کمبخته صليبيان زمونږ په لارو کې ولې دنجونو دپوالونه جوړوي ؟ ايا هغوی غواړي دا نجوني زمونږ ترمخ و نخوي او د(شوبک ) کلا زمونږه څخه بيرته واخلي ؟

«دروندە اميره !» علي بن سفيان ورته وويل ،« ته پخپله د خپلو خبرو ترديد کوی ، د ا نجوني دېوال نه شي جوړيداي ، ددوی څخه د بمک چينجي جوړ شوي ،او دبمک کار تر سره کوي. ستا او د محترم نورالدين زنګی تر منځ دغلطيو د راپيداکولو کار د همدي نجونو په واسطه تر سره کيږي ، او همدي نجونو دشرابو او حشيشو په واسطه مسلمان حکام او امراء استعمال کړيدي.»

«دا هماغه موضوع ده چي مونږ پري د سلو ځلو څخه زياتي خبري کړي دي ، سلطان ايوبي ورته وويل « ماته دهغو نجونو په هکله څه ووايه ،دا خو ځرګنده شوی چي هغوی اته واړه جاسوساني وی ، ايا هغوی تر اوسه پوري کوم نوي انکشاف کړي او که نه ؟»

« هغوی ويلي چي په (شوبک ) کي صليبي تخريبکاران او جاسوسان شتون لري ،علي بن سفيان ځواب ورکړ ،« خو دهغوی څخه هيڅ يو په نښه شوی نه دي. ځکه چي دهغوی دکورنو او د اوسيدو د ځايو مالومات نشته ، ددوی څخه ئې دري څه موده په مصر کې پاته شوی هم وی او تازه راګرځيدلي دي ، هغه کار چي هغوی هلته کړي هغه مو تاته پخوا ويلي دي.»

« ايادوی اوس په بنديخاني کي دي؟» سلطان ايوبي تري وپوښتل.

« نه » علي بن سفيان ورته وويل ،« هغوی په همغه خپل پخواني ځای کي پاته دي. ساتونکي پري ولاړ دي.»

په دي وخت کي دروازه چي دننوت اووئي ويل چي « عماد شامي قومندان يوه صليبي نجلۍ له ځانه سره راوړي او وائي چي هغه ئي د (کرک) د لاري څخه را نيولي ده ، او دانجلۍ جاسوسه ده.»

«دواړه دننه راو ليږه » سلطان ايوبي ورته وويل.

ددروازه چي د وتلو سره سم عماد او "ايونا» دننه راغلل ،سلطان ايوبي عماد ته وويل چي «مالوميږي چي د ډير لري ځايه څخه راغلی ئي ، ته له چاسره ئي ؟»

«زه په شامي فوځ کي يم ،» عماد ځواب ورکړ ، «زما د قومندان نوم اهتشام بن محمد دي اوزه د البرق د ډلي قومندان يم ،»

« البرق اوس په څه حال کي دي» سلطان ايوبي تري وپوښتل ، او علي بن سفيان ته يي وويل « البر ق په حقيقت کي برق دي ، کله چي مونږ په سوډانيانو باندي غلچکي شپيني بريدونه کول نو قيادت د البرق په لاس کي و. په صحرايي عملياتو کي ددوی مثال نه تر سترګو کيږي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ستره سالاره !» عماد ورته وويل.« ډله مې د اللهﷻ په لاره کې قربان شوى ده ، زما په ډله کې يواځې زه پاته شوى يم.»

«تاسو خو به ډير کسان له لاسه نه وي ورکړي ؟» صلاح الدين ايوبي ترې وپوښتل« د مړو شوو اوقربان شوو ترمنځ ډير توپير شته»

«نه درونده سالاره !»عماد ځواب ورکړ.«اللهﷻ ګواه دې چې مونږ د يوه يوه کس په بدله کې شل شل صليبيان له تيغه تير کړي دي. که چيرې د صليبيانو فوځ خپلو ځايو ته بيرته ستانه شوې وي نو هغه به يواځې زخميان وي ، مونږ د فلسطين څمکه د صليبيانو د وينو په رنګ سره کړې ده ، زمونږ نور دلګي هم په دښمن باندې دقهر په څير را وريدلې دي اوس په دښمن کې دومره توان نه شته ، چې په لږ وخت کې بل جنګ ته ځانونه چمتو کړي.

« او ته !»سلطان ايوبي د نجلۍ څخه و پوښتل« ايا ته غواړې چې په خپل اړوند مونږ ته هر څه ووائې ؟»

« هر څه وايم»"ايونا» ورته په آدب سره وويل او د سترګوئې اوښکې د اوبو په څير روانې شوى.

«عماد شامي !» سلطان ايوبي عماد ته وويل « فوځي ارام ځاې ته ولاړ شه ، ځان پريمنځه ، نن ورځ اونن شپه ارام وکړه ، سبا بيرته خپل فوځي ډلې ته ستون شه.»

« ما له ځانه سره ددښمن دوه آسونه هم راوړي دي» عماد ورته وويلې« او دهغوى توري هم.»

«اسونه تبيلو ته او توري وسله تون ته تسليم کړه» سلطان ايوبي ورته وويل.اوبيا ئې د لږ څه ځند وروسته وويل« که چيرې په هغو اسونو کې کوم يو ستا د اس څخه غوره وي هغه بدل کړه ، هلته په محاذ کې داسونو حال څنګه و؟»

«کومه اندېښنه نه شته» عماد ورته وويلې« چې يو اس مو له منځه ځي نود صليبيانو دوه اسونه تر لاسه کوو.»

عماد سلام وکړ او بيرون راووت ، هغه خپل امانت سم ځاې ته رسولې و . عماد که له يوه اړخه فارغ شوى و خو د بله اړخه ئې زړه دروند و ، دا د جذباتو درونددوالې و ، دا د کوچنيوالې د يادوونو درونددوالې و اودا دهغه پلار د محبت اومينې درونددوالې و چې تر اوسه په پنډغالې کې شته و. دجنګ تر ختميدو پورې هغه نه غوښتل د خپل پلار سره ووينې ، ويريده چې د پلار مينه او د زړه پخوانې زخمونه به ئې د دندې تر مخه خنډ وګرځي...... هغه خپل آس پسې دوه نور اسونه تړلې و او د تبيلې په لور روان و هغه ته د چاپيريا ل په هکله هيڅ احساس نه کيده، هغه اسونه يوه لورې ته يوړل او مخامخ ئې وکتل چې د (شوبک) دکلا دننه برخه ټوله تر سترګو کيږي ، ودريد او د کلا ليدنه ئې پيل کړه ، چيرې پيدا شوى و دکوم ځاېه وطن پريښوولو ته اړ شوى و ، جذباتو پرې نور هم ډير درونددوالې کاوه.

« د لارې لرې و دريږه !» چا پرې اواز وکړ ، هغه شاته وکتل چې يو اس سپوره ډله را روانه ده ، هغه خپل آسونه يوه اړخ ته کړل ، کله چې د اس سورو اخرې کس ددې څخه تيريده نو دعماد څخه ئې وپوښتل « د بيرون څخه را غلې ئې ؟» دهغه ځاېه څخه څه خبر دې ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«د الله؏ کرم دي دوستانو !هغه ځواب ورکړ ،«دښمن له منځه تلونکې دي ، (شوبک ) ته هیڅ خطره نه شته ،»

ډله مخته ولاړه او عماد ښې لورې ته را وګرځید....

*****(۹۰)

« ماله تاسې ځخه هیڅ هم نه دي پټ کړي» "ایونا» دسلطان ایوبي او علي بن سفیان ترمخ ناسته وه او ویل ئې . هغې ویلي وچې جاسوسه ده، دائې هم ویلي و چې په قاهر کې یوه میاشت اوسیدلې ده ، او هلته ئې د یو ځو مسلمانو چارواکو نومونه هم وښول ، چې د سلطان ایوبي پر خلاف ئې کار کاوه ، او هغې دا هم ویلي و چې د صلیبیانو له اړخه سوډانیانو ته ډیره زیاته مرسته رسیږي ، او د صلیبي فوځونو تجربه لرونکي قومندانانو ته د شپیني غلچکي عملیاتو له پاره روزنه ورکول کیږي.... "ایونا» د چا د پو ښتنې پرته دومره زیاتې خبرې و کړي چې یو جاسوس ئې د اذیتونو د ورکولوو وروسته هم کولو ته غاړه نه ږدي. ځکه چې په داسې خبرو کې دهغه جاسوس خپل ذات هم ککړ وي. د"ایونا» په دې ځرګندونو علي ته شک پیدا شو..

«"ایونا !» علي بن سفیان ورته وویل« زه هم ستا د فن لو بغاړې یم ، زه ستا ستاینه کو م چې د ډیرې سترې مرتبې لوبغاړې ئې ، زمونږ د بندیخانې او اذیتونو ځخه دځوندې پاته کیدو په خاطر او زمونږ د بې لارې کولو له پاره ستا دا طریقه د ستاینې وړ ده. خو زه به ستا په دې دوکه اوفریب کې را نشم.»

«ستا نوم؟» "ایونا» ترې وپوښتل.

«علي بن سفیان» علي ځواب ورکړ. « تا به د(هرمن) ځخه زما نوم اوریدلې وي»

"ایونا» را پورته شوه او سوکه سوکه دعلي بن سفیان ځنګ ته راغله په دواړو زنګونونو کیناسته ، دعلي بن سفیان ښې لاس ئې را واخست او ښکل ئې کړ.« ستا په ژوندې کتلو باندې زه ډیره خوشحاله شوم.، ستا په هکله ماته ډیر خه ویل شوي و . (هرمن) به ویلې چې که علي بن سفیان له منځه یوسئ نومونږ بیا د مسلمانانو په جرړو کې ځان ورننه باسو او د جنګ جګړې پرته به ئې له منځه یوسو »» نجلۍ بیرته پورته شوه او په خپل ځاې کیناسته.

« ما هلته په قاهره کې هڅه وکړه چې تا ووینم خو بریالۍ نه شوم. ، هلته زما په شتون کې ستا د وژلو پلان جوړ شوی و ، خو بیا ئې را ته و نه ویل چې هغه پلان بریالي شو او که نه. زه ئې بیرته (شوبک ) ته را وبللم.»

«مونږ ځه ډول ډاډ من شو چې هغه ځه چې ته وائې بلکل سم او صحیح دي ؟» علي بن سفیان ترې و پوښتل.

«تاسې ولې پر ما باور نه کوئ؟» نجلۍ ترې په قهرېدلي لهجې وپوښتل.

«په دې خاطر چې ته صلیبي ئې ؟» سلطان ایوبي ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې زه تاسې دا ووایم چې زه صلیبي نه بلکه مسلمانه یم نو تاسې به ووائې چې دا هم دروغ دي ، نجلۍ ورته ووېل « زما سره هيڅ ثبوت نشته ، شپاړس اولس کاله کیږي چې زه دهمدې کلي څخه تښتول شوې وم ، اوس چې راغلم ماته مالومه شوه چې زما پلار په پنډغالي کې دی ، هغې دخپل پلار نوم و ښود او دا ئې هم وویل چې هغې ته د خپل پلار د نوم مالومات هم همدا اوس وشو ، هغې وویل چې عماد هغه ځنګه او په څه ډول په صحرا کې خوندي و ساتله ، او بیا دې غوښتل د شپې له اړخه هغه ووژني خو دهغې د خنجر لاس نه پورته کیده ، او زیاته ئې کړه چې « ما د ورځې له اړخه د هغې مخ ته او سترګو ته بیا بیا کتل ، زما زړه کې داسې احساس را بیداریده او زه په شک کې لویدم چې ما عماد ددې پخوا چېرې کتلې و او پیژنم ئې. خو ما ته نه په یادېږي ، ما دهغه څخه و پوښتل نو هغه وویل چې داسې نه شي کیدای..... د شپې دوه صلیبي سپاهیانو پر ما باندې برید وکړ نو عماد راپورته شواو یو ئې په برچې باندې وواژه . ما تر هغه وخته پورې خپل ځان صلیبي ګاڼه او زما ملاتړ هم د صلیبیان سره و ، خو ما هغه دویم صلیبي په خپل خنجر باندې هلاک کړ ، زه په دې خوشحاله نه شوم چې ما دهغوی څخه خپل عزت خوندي کړ بلکه پر دې خوشحاله شوم چې ما د عماد ژوند خوندي کړی و .....

« او کله چې په لاره کې عماد زما سره دخپل ځان په اړه جذباتي خبرې وکړې نو په ژوندانه کې دلمړي ځل له پاره زما په سینه کې هم احساسات را بیداره شول ، په ټول سفر کې مې عماد ته کتلې دي ، ماته همدومره یاد و چې زه په کوچنیوالي کې تښتول شوې وم ، خو دا یاد به هم په ذهن کې د ګرد په څیر ورکیده، تاسې ته به مالومه وي چې زما په څير نجونې ځنګه روزل کیدلې ، د کوچنیوالي یادوونه او اصلیت د انسان د ذهن څخه بیرون وځي ، او زما همدا حال و. خو ماته ډاډ را پیدا شو چې زه عماد د پخوا څخه پیژنم. دا د وینې راښکودنه ده ، سترګو سترګو او زړه زړه و پیژانده ، شونې ده چې عماد هم همداسې محسوس کړې وي او د همغې احساس اغیز وي چې هغه زما په څیر زړه وړونکې نجلۍ داسې له سترګو غورځوله لکه دهغه سره چې هیڅوک ملګرې هم نه وي ، هغه ډیر ځل زه په ژور و سترګو سره کتلم.»

"ایونا» په تفصیل سره خپله خبره اوروله اووئې ویل چې: (شوبک ) ته را ننوتلو ، بیا عماد د یوه کور تر مخه و درید او مونږ دواړه هلته دننه ورغلو..... هغه وویل « دا کور مې چې وکوت نو زما د کوچنیوالي یادوونه را بیداره شول ، ما په خپل ذهن باندې د زور را وړلو اړتیا احساس نه کړه ، دا پخپله ذهن و چې زه ئې ددې کور په ځاې ځاې کې ګروځولو ته اړ کړم ، ما د یوې دروازې چپ اړخ وکوت هلته ما ته د خنجر په څوکه کندل شوی لیکې تر سترګو شوی چې هغه ما د مشر ورور د توري په څوکه کندلې وی. زما ذهن زه دبوې بلې دروازې شاته یوړم ، هلته هم همداسې لیکې وی ، بیا ما عماد نور هم په ډیر غور سره وکوت ، دهغه د ږیرې سره سره بیاهم دهغه هغه شپاړس اولس کاله پخواني صورت مې په ذهن کې راغې ، ما خپل ځان په ډیره ستونزمنه توګه کنترول کړ ، ما عماد ته نه دي ویلې چې زه د هغې خور یم. هغه دومره پاک فطرته او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپیڅلې انسان او زه دومره ناولې او ناپاکه نجلۍ ، هغه دومره غیرتمنده اوزه دومره بې غیرته ، که چیرې ما هغه ته ویلې وای نو مالومه نه ده چې هغه به له ماسره څه کړې وای»

په دې وخت کې علي بن سفیان څو ځله سلطان ایوبي ته کتل ، خو هغه نجلۍ ته اوس هم د شک په سترګو لیدل ، مګر د نجلۍ احساساتي څرنګوالي ، د هغې اوښکي او ځیني الفاظو سره د هغې سلګۍ وهلو په دوارو داسي اغیز کړې و چې ووائي چې دنجلۍ خبرې ریښتیا دي ، نجلۍ په اخر کې هغوی په دې قانع کړل چې دهغې په هکله دې مالومات را ټول کړي ، هغې وویل « که تاسو پر ما باور کوئ او که نه ،ما په بندیخانه کې واچوئ ، هر څه چې مو زړه غواړي را سره ئې وکړئ ، زما نور هیڅ نه دي په کار ، زه نه غواړم پس له دې ژوندی و اوسم. که چیرې تاسي اجازه راکوئ نو زه به د خپلو ګناهونو د بښلو له پاره څه وکړم»

« ته څه کولې شې؟» سلطان ایوبي ترې و پوښتل.

« که چیرې تاسي ما (کرک) ته ورسوئ ، نو زه به دصلیب درې څلور پادشاهان او د خپلې شبکې مشر (هرمن) ټول له منځه یوسم»

«مونږ به تا تر (کرک) پورې ورسوو» سلطان ایوبي ورته وویل « خو ددې کار له پاره نه چې ته هلته څوک ووژنې ، زه غواړم به تاریخ کې داسي تهمت تر شا پرې نږدم چې صلاح الدین ایوبي خپل دښمنان د یوې ښځي په لاسو ووژل ، په داسي حال کې چې په (شوبک ) کې ئې فوځ ناست و . که چیرې ما ته دا مالومات ترلاسه شي چې دصلیبیانو کوم پادشاه په کوم لا علاجه ناروغتیا ککړ دې نو زه به دهغه دعلاج له پاره خپل طبیبان ور واستوم ، اوبیا مونږ پر تا داسي باور هم نشو کولای. خو ستا په دې غوښتنه باندې غور کولای شو ، چې تا ته بښنه وکړو او(کرک) ته دې ور و استوو .»

«نه» "ایونا» ورته وویل «زما په زړه کې هیڅ داسي غوښتنه نه شته ، زه غواړم مرګ اوژوند مې همدلته وي ، خو زما د یوې غوښتنې په هکله ضرور فکر وکړئ چې عماد ته ونه وایاست چې زه دهغې خور یم ، زه پندغالي ته د خپل پلار دکتلو له پاره ضرور ورځم ، خو هغه ته هم دا نه وایم چې زه دهغې لور یم .» هغې په چغو چغو و ژړل.

علي بن سفیان د خپلې اړتیا په مطابق دهغې څخه ډیرې زیاتې خبرې پوښتلې وې اوبیا ئې دسلطان ایوبي څخه و پوښتل چې دا نجلۍ چیرې و لیږي؟ سلطان ایوبي د لږ څه فکر وروسته ورته وویلې چې دا په ډیر درنښت او احترام سره و ساته ، ددې په هکله به پریکړه د لږ څه فکر کولو رووسته وکړو.

علي بن سفیان هغه له ځانه سره یوړه ، او دهغو کوټو څخه ئې یوه ورته په ګوته کړه چې جاسوسې نجونې به په کې اوسیدلې ،خو نجلۍ هلته د ورننوتلو نه ډه ډه وکړه ، او ویې ویل « زه ددې کوټو څخه کرکه لرم ، ایا دا به شونې نه وي چې ما همغه کور کې و ساتئ دکومه ځایه چې زه تښتول شوی وم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«نه »علي بن سفيان ورته ځواب ورکړ. «د يو چا د احساساتو په خاطر مونږ خپل اصول او ضوابط تر پښو لاندي کولاي نه شو.»

هغه هتله ساتونکو او ملازمينو ته لارښوني وکړې ، نجلۍ ئي همدلته پريښوده او علي ترې راستون شو .

عماد فوځي ارا م ځاي ته ولاړ ، ځان ئي پريمنځه او ويده شو ، خو ددومره زياتي ستړتيا سره سره ئي بيا هم ستړکې خلاصې شوی ، دېيرو هڅو کولو تر څنګ هم خوب پرې را نغې ، دهغه په ذهن کې همدا يو سوال راته، چي دخپل پلار سره ووينې اوکه نه ، ستړتيا ئې پريښوده او را پورته شو او دهغه ځاي په لور ئي قدم واخست چې په (شوبک ) کې د مسلمانانو دپنډ غالي په نوم مشهور شوی و. هلته په رسيدو سره ئي د خپل پلار نوم واخست ، او په پوښتنه پوښتنه ئي خپل ځان خپل پلار ته ورساوه ، دهغه تر مخه يو زوړ سړي پروت و ، عماد ورته لاس ورکړ او خپل ځان ئي په قابو کې وساته ، دهغه پلار د هډوکو پنجره ګرځيدلي وه، هغه ته ښه خوراک او دوائيانې ورکول کيدي ، عماد دخپل ځان د ورپيژندلو پرته دهغه دا حوال پوښتنه وکړه ، نو هغه ورته وويل چې دکلونو اذيت ناکه مشقت ، قيد ، د بچيانو د جدائي غم او ... دې حال ته راوړې دې ، چي اوس پرې ښه غذا او ښه دوائيانې هم اغيز نه شي کولې.»

پلار په ډير مړژواندي اواز سره عماد ته خپل د زړه حال اوراوه خو عماد هم پخپل فکر کې شپاړس اولس کاله شاته تللې و. هغه ته دخپل پلار شکل و صورت ښه په ياد و ، اوس چې دهغه تر مخه کوم پلار پروت و نو دهغه دمخ هډوکي بيرون را وتلي و ، خو بيا ئي هم د هغه په پيژندلو کې لږ څه هم تأمل و نه کړ،هغه څو ځلې فکر وکړ چې هغه ته ووائي چې دې دهغه ځوي دی ؟ خو هغه د عقل نه کار واخست چې ورته ئي د ا خبره ونه کړه. هغه دوه خطرونه محسوس کړي و ، لمړي دا چې پلار به ئي دا ښه لمحه ونه شي زغملاي ، او بله دا چي که وئې هم زغمي نو دهغه تر مخه به خنډ وګرځي ، او دا هم کيداي شي چې هغه ترې بيرته محاذ ته ولاړ شي او هغه دا صدمه هم و نه شي زغملاي ،هغه دخپل پلار سره لاسونه ورکړل او ترې ولاړ.

کله چې هغه بيرته خپلې کوټې ته راستون شو نو هغه ته حکم و شو چې مرکز غواړي دې همدلته وساتي. په دې خاطر دې هغه هر وخت په ارام ځاي کې شتون ولري ، هغه حيران و چې مرکزي کمان له ده سره څه کار لري ؟ دا حکم علي بن سفيان د "ايونا» په هکله د مالوماتو د راټولو له پاره ورکړي و. هغه غوښتل ووينې چې د "ايونا» قصه تر کومه ځايه پوري ريښتوني ده ، هغه هلته پنډغالي ته ولاړ ، "ايونا» ورته دخپل پلار نوم ښوولې و ، علي بن سفيان ئي د پلاره څخه خبره تصديق کړه چې دهغه لور په کوچنيوالي کې تښتول شوی وه، مشر ځوی اوښځه ئي وژل شوي و او کشر ځوی ئي د ګاونډي کور ته تللي و چې بيا ورته دلته په پنډغالي کې وويل شو چې هغه د (شوبک ) څخه ويستل شوی دې.

نيمائي شپه وه ، "ايونا» د بسترې څخه راپورته شوه ، تر هغه وخته پورې ورته خوب نه ورته ، هغې د علي بن سفيان له سلوک څخه دا احساس کړې وه ، چې پر هغې ئي باور نه دې کړې ، او اوس نه پوهيږې چې انجام به ئي څه وي ، هغې فکر کاوه چې په څه توګه دوی ډاډمن کړي چې هغه قصه چې هغې دوی ته کړې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درواغ نه ده ، ددې سره دهغې وینه د انتقام اخستلو له پاره په جوش کې راغله ، عماد سره یوځای هلته خپل کور ته د تللو په وخت دهغې په ذهن کې د کوچینوالي یادونه ، په خپله را بیداره شوی و . او دخوب په څیر ورته ډیري خبرې را یادیدې هغې ته داهم ور په یاد شول چې هغې ته د تښتولو وروسته ډیره زیاته مینه ، د لوبو نانځکی او ډیر ښه خوراک څښاک ورکول کیده اوبیا هغې ته هغه ګناهونه راپه یاد شول چې ددې په لاسو به ئې کول ، او بیا دا ټوله د سر نه تر پښو پورې ګناه و ګرځیدله،هغه د انتقام اخستلو له پاره ناقراره وه ...... اوهمدې جذباتي حالت هغه خوب ته نه پریښوده ، په همدې ذهني کیفیت کې ئې دخپل پلار سره د کتلو غوښتنه هم قوي کیدله ، هغه بیرون نشوه را وتلای ، ځکه بیرون دوه کسه ساتونکي هروخت موجود و ، دهغې دماغ اوس دفکر کولو وړتیا هم له لاسه ورکړې وه ، اود احساساتو تر اغیز لاندې را غلې وه .

هغې دروازه پرانسته د خبرو اواز ئې تر غوږو شو ، ښي لورې ته نژدې شل ګزه لرې ئې هغه دواړه ساتونکي په خبرو کې بوخت وکتل ، نجلۍ ددروازې څخه سر را ویستلې و اوهغوی ته ئې کتل اوغوږ ئې ورته نیولې و. ساتونکي دهغه ځایه لږ څه نور هم لرې ولاړل ، نجلۍ په ډیره سوکه توګه را ووته او د عمارت بهرنۍ برخې ته ولاړه ، مخکې لاره ښکته شوی وه ،د خپلو پښو په خویدو سره لاندې ولاړه ، اوس نو هغه د ساتونکو په نظر نه راتلله ، هغې ته مالومه وه چې دمسلمانانو پنډغالې چیرې دې ؟ او دا هم ورته مالومه وه چې هغه اوس په میلمستون بدل شویدې ، په دې خاطر هغې ته دا خطره نه وه چې هلته به ئې کوم ساتونکې و دروي ، هغه دخپل پلار سره د کتلو له پاره ورتلله هغې ته ئې یواځې نوم مالوم و . هغه تیزه تیزه روانه وه چې تر شا ئې د قدمونو اواز را پیدا شو ، شاته ئې و کتل خو څوک ئې تر سترګو نه شو ،اوهغه اواز ئې دخپلو قدمونو اواز وګاڼه او روانه شوه ، خو دا دبل چا دپښو اواز و ، یو قوي او تنومنده انسان دهغې پسې دهغه ځایه روان شوی و په کوم ځای کې چې هغه لاندې راکیوتې وه ،

دا اواز یو ځل بیا د "ایونا» ترغوږو شو ، هغه لا ولاړه نه وه چې په سر او خوله ئې ټوټه را و غورځیده ، د سترګو په رپ کې ئې ټوټه و تړل شوه ، اودوو ځواکمنو لاسوو هغه و نیوله ، هغې چې هر څومره ټوپونه ووهل ، خو ټوپونه وهل ئې بیکاره و. شپه تیاره وه او داسپمه هم اباده نه وه. لږ څه مخکی ئې هغه په یوی کمبلې کې را ونغاړله، او د یوه لرګي په څیر په اوږه کړه ، هلته یو نه دوه کسان و ... نیم ساعت وروسته ئې هغه بیرته ښکته کړه ، اوس نو دوی په یوی کوټه کې وو چې دوه ډیوي په کې بلیدې ، دلته څلور کسان و ، هغې ټولو ته په حیرانتیا سره بیا بیا وکتل او ورته ئې وویل «تاسې تر اوسه پورې همدلته یاست ؟.... او ګیرالډه ته؟ ته تر اوسه پورې دلته ئې ؟»

«مونږ ولاړو اوبیرته راغلو »ګیرالډ ځواب ورکړ ،«ددې ځایه ستاسې دټولو د ویستلو په خاطر. ښه شو چې ته خو تر لاسه شوی.»

دا د هغه څلویښتو صلیبیانو د ډلې وګړي و چې د (کرک) څخه ئې د همدې کار له پاره را استولې و تر څو هغه ټولې جاسوسې نجونې چې دمسلمانانو په ولکه کې دي دهغه ځایه را وکاږي ، او د (شوبک) خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاسوسان هملته په شوبک کې منظم کړي ، اوکه شوني وي نو همدلته دې په تخریبکارۍ پیل وکړي ، په تخریبکارۍ کې ئې دا کار هم شامل و چې په تبیلو کې به ور ننوځي او د څناورو په ونبو کې به زهر ور ګډوي لوژیستکې موادو ته دې اور ور اچوي ، دعسکرو په لنګر ځاې کې که شوني وي نو دهغوی خوراک دې هم په زهرو ولړي.

ددې ډلې قومندان ګیرالډ نومي یو انګلیس و چې د تباه کونکي ځارکنبۍ ماهر و ، "ایونا" هغه ډیر ښه پیژانده بلکه د هغه شاګرده پاته شوې وه ، او ډیر نژدې دوستانه اړیکې ئې ورسره درلودل،دهغه په کتلو سره د "ایونا" وینه دانتقام د اخستلو له پاره یوځل بیا ګرمه شوه خو ډیر ژر ئې ځان کنترول کړ ځکه دا وخت دهغې د نفرت او کرکې د ښکاره کولو له پاره مناسب نه و ، ګیرالډ داسې ګمان هم نه شو کولاې چې "ایونا" به بدله شوې وي، هغه د "ایونا" څخه وپوښتل چې هغه چېرې تلله ؟ "ایونا" ورته وویل چې د تیښتې فرصت ئې پیدا کړې و .او غوښتل ئې و تښتیږي.

ګیرالډ هغې ته وویل چې هغه دچریکي جاسوسانو یوه ډله د (کرک) د مظلومو مسلمانانو په ښه کې دلته راوړې ده ، په هغه ورځو کې د(شوبک) حالات داسې و چې دا ډله په اسانۍ سره د یوې ډلې په څیر را ننوتې شوه. د جنګ جګړې په اساس خلک تلل را تلل، د شاوخوا د کلو مسلمانان هم ښار ته ډلې ډلې را تلل ، په همدې تر تیب دا ډله هم را ننوتې وه ، هلته په ښار کې لا د پخوا څخه جاسوسانو شتون درلود.هغوی دا ټوله ډله د پردې تر شا و ساتله. ګیرالډ "ایونا" ته وویل چې هغه ددوو شپو څخه دغه ځاې په ننبه کړې چې نجونې په کې بندیانې دي ، دهغه ځاې په هکله هغه ته پوره پوره مالومات و ، بلکه همغه پخپله جوړ کړې و ، د شپې به هلته د کتلو له پاره ورته، او کتل به ئې چې د پهره دارانو کړچار څه ډول دې خو دا ډیر ښه اتفاق و چې د "ایونا" سره یوځاې شو . "ایونا" ورته وویل چې د نجونو را ویستل دومره اسانه خبره نه ده ،خو بیا هم شوني کار دې.

د شپې له اړخه پلان جوړ شو ، "ایونا" ګیرالډ ته وویل چې نجونې په پرانستو خونو کې دي چې دبندي خانې شکل نه لري ، یواځې دوه کسه پهره داران دي...او په همدې تر تیب ئې نور تفصیلات هم ورکړل ، دا پریکړه وشوه چې د نجونو د راویستلو له پاره چې څومره وګړو ته اړتیا وي هومره به هلته ولیږي ، اونور پاته خلک چې په کوم ځاې کې سره راټول شوي دي همدلته به پاته وي. ددې پلان وروسته "ایونا" ورته دا وړاندیز وکړ چې هغه باید بیرته هلته ولاړه شي ځکه چې دهغې په ورکیدو سره به د نجونو د پاسه پهره نوره هم سخته شي او بیا به دا پلان ټول ناکامه شي.ګیرالډ د "ایونا" وړاندیز ډیر غوره وګاڼه ، او هغه ئې دخپله ځانه سره دهغې د اوسیدو تر ځابه پورې یوړه ، ساتونکو چې "ایونا" د بیرونه څخه د راتللو په وخت کې وکتله ، نو سختې پوښتنې ئې ترې وکړې ، خو هغې یواځې یوه خبره وکړه چې هغه لرې نه وه تللې ، ساتونکې په دې خاطر چپ شول چې دنجلۍ په وتلو کې هغوی ته د هغوی د بې پروائې او غفلت سزا ورکول کیدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله ورځ علي بن سفيان په يوه بل کار کې مصروف و ، "ايونا» ساتونکو ته وويل چې هغه سمدستي علي بن سفيان ته يوسي ،ساتونکې ددې کار څخه ډېره وکړه او فکر ئې وکړ چې دلته به دهغې په رابللو ځوک را نشي . "ايونا» په ډېر سخته توګه ساتونکی قایل کړ چې هغه بل چاته وو ايي چې مرکزي کمان ته دا خبره ورسوي چې ډېر زيات مهم او نازکه پيغام دې. هغې ساتونکی ته وويل که چېرې هغه ددې پيغام و نه رسوو نو دومره زيات زيان به ورسيږي چې دهغې د بې غورۍ په هکله به دا ساتونکی هم د سزا ځخه خوندي پاته نه شي..... ساتونکو د پيغام د رسولو چمتوالي وښود ، علي بن سفيان د پيغام د ورسيدو سره سم هغه نجلۍ ور وغوښتله ، اودهغې وروسته نجلۍ بيرته خپلې کوټې ته راستنه نه شوه ،

کله چې دشپې له اړخه د (شوبک ) ټول فعاليتونه اوخوزښتونه په ځاې و دريدل او ښار په خواږه خوب ويده شو. نو دهغه عمارت په شاوخوا کې نژدې لس کسه سيوري اوختل را اوختل چېرې چې نجونې پاته کيدې. عجيبه خبره دا وه چې دواړه ساتونکي غائبه شوي و. د هغوی ځخه اته کسو د ګيډو په خويدو سره ځانونه پورته را وړل ، هغوی ته"ايونا» ويلي و چې نجونې په کومو کومو خونوکې ناستې دې ، هغوی ته د کوټو دروازې او کړکۍ هم مالومه وی ، دوه کسان يوی کوټې ته ور ننوتل ، پاتو ددې پروا کولو پرته چې هلته ساتونکي شته او که نه د نورو کوټو په لورې په ډېره ډاډمنه توګه ورغلل،ځکه هغوی ته ويل شوي و چې هلته يوائې دوه کسان ساتونکي دي ، اولسوکسانو ته ددوو کسانو قابو کول اسانه و. هغوی د ټولو نجونو په کوټو کې ور ننوتل ، خو دهغوی ځخه يوئې هم بيرون را ونه ووت.

ګيرالډ په هماغه ځاې کې چې تيره شپه ئې "ايونا» له ځانه سره وړې وه ناست و. په دې کور کې د پلان په مطابق شل کسان وسيدل. پاته نور ئې د بل کوم عيسائې په کور کې پټ شوی و. ګيرالډ په بې صبرۍ سره د نجونو انتظار کاوه ، تر اوسه پورې هغوی بايد دلته را رسول شوی واې.....اخر دروازه و ټکول شوه ،دا د دروازې د ټکولو ځانګړې شان و . ګيرالډ پخپله ورغې او دروازه ئې پرانسته ، دا کور د پخوانۍ زمانې يوه ستره ښکلې شانته کلا وه، چې يو اميرکبير عيسائې تاجر په کې اوسيده. څنګه چې ګيرالډ دروازه پرانستله نو هغه چا دبيرون ځخه راښکود ، د فوځيانو يو هجوم په دروازې کې را ننوت. دهغوی په لاسو کې اوږدې اوږدې برچې وې فوځيان د تيز او تند سيلاب په څير دننه ولاړل ، په يوې پراخه کمرې کې ناست صليبي چريکي جاسوسانو ته دځان د خورولو فرصت هم تر لاسه نه شو. دهغوی ځخه وسلې واخستل شوی اوهغوی ئې د کور د خاوند او دکورنۍ د غړو سره يو ځاې بيرون راوستل.

همداسې يوه حمله په هغه ځاې باندې هم شوه ، چې پاته صليبي چريکان په کې خوندي و ، دا دواړه حملې په يوه وخت کې تر سره شوی ، دا فعاليت ټوله شپه روان و ، دکورنو لټون وشو اوسهار علي بن سفيان دصلاح الدين ايوبي ترمخه چې کوم خلک و درول په هغوی کې ګيرالډ او دهغه ځلويښت کسه چريکان هم و. او نژدې همدومره شميره دهغو جاسوسانو او تخريبکارانو و چې د نورو ځايو ځخه نيول شوي او را وستل شوي و. دهغو کورونو څخه چې څه شيان تر لاسه شوي و په هغو کې ډېره اندازه وسلې ، د زهرو ډېره اندازه ، برچې ، غشې ، اوراچونکي ماده ، اوډېره نقدي هم وه. دا د"ايونا» فعاليت و ، هغې د ګيرالډ سره پلان جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ اوهغه ئې خپل انجام ته ورساوه. او ټول هغه څه ئې پرې را برسیره کړه چې په (شوبک ) کې ئې پټ کړي و . ګیرالډ په "ایونا» باندې پوره باور درلود ، "ایونا» د راتګ سره سم علي بن سفیان ته خبر ورکړ او د سهاره تر شپې پورې ئې دا پلان جوړ کړ اود جاسوسانو د ځایونو مالومات ئې را ټول او دهغوی ځایونه ئې په نښه کړل ، دشپینې عملیاتو له پاره ئې دصلاح الدین ایوبي چریکان را وبلل،نجونې ئې دکمرو څخه راوویستلې اوپه بل کوم ځای کې ئې پټې کړې . اودهغوی په ځای ئې په کمرو کې درې درې چریکان کینولي و . کله چې جاسوسان د نجونو د ورلو په خاطر هغو کوټو ته ور ننوتل نو مسلمانو چریکانو هغوی هملته و نیول ،په دې ترتیب په (شوبک ) کې دصلیبیانو نژدې ټول جاسوسان نیول شوي و چې تر ټول ارزښتناک ئې هیرالډ و .ټول د تفتیش او دهغې وروسته د سزا له پاره په بندي خانو کې واچول شول.

"ایونا» د ټولو هغو مسلمانو شخصیتونو نومونه هم را بر بند کړل چې په قاهر ه کې دسلطان ایوبي پرخلاف مشغول و.، هغه منصوبه چې دحشیشینوپه لاسو د صلاح الدین ایوبي اوعلي بن سفیان د وژلو له پاره جوړه شوی وه ، هم "ایونا» بې پردې کړه اوسلطان ایوبي ته ئې وویل «اوس نو به ستاسو پر ما باور راغلي وي»

هغه منظر ډیر جذباتي او ژړونکی و کله چې عماد ته وویل شو چې "ایونا» ئې خور ده او کله ئې چې ورور او خور د خپل پلار مخې ته ودرول نو د احساساتو په څپو کې دازوړ پلار بې هوشه شو . کله چې په حال شو نو وئې ویل چې دهغه د لور نوم عائشه دې ، نوسلطان ایوبي ددې کورنۍ له پاره ځانګړې معاش و ټاکه اودعلي بن سفیان شبکې ته ئې حکم وکړ چې دټولو جاسوسو نجونو په هکله پلټنه وکړئ. صلیبیانو نورې نجونې هم دمسلمانانو له کورونو څخه را تښتولې وی ، سلطان پر خپل حکم کې وویل چې په هغوی کې چې څوک مسلمانه وي دهغوی کورنۍ ولټوئ او لونې ئې په پوره درنښت ور وسپارئ.

دسلطان ایوبي فوځ دډیرې سترې خطرې څخه خوندي پاته شو ... د (شوبک ) څخه د لرې جنګی محاذونو خبرونه هم زړه خوشحالونکې و. خو سمدستي دې ته اړتیا لیدل کیده چې خپور وور فوځ سره را ټول کړل شي ، سلطان ایوبي دهمدې موخې دتر لاسه کولو له پاره فوځي نظام خپلو نائیبونو ته وسپاره اوپخپله ئې خپل مرکز د (شوبک ) نه لرې صحرا ته یوړ. هغه د ګرندېو قاصدانو یوه ډله له خپله ځانه سره واخسته ، او دهمغوې په واسطه ئې په یوې میاشت کې دننه دننه خپل ټول فوځ سره راټول کړ ، دهغې وروسته ئې فوځ په درې برخووویشه او د(شوبک ) دفاع ئې داسې ټینګه کړه لکه د قاهرې ئې چې کړې وه ، د ټولو لرې سرحدي دلګې و چې سپرو به ئې ګشت کاوه،دهغوی څخه پنځه میله لرې د فوځ دویمه برخه په خیمو کې میشته و او دریېمه برخه ئې خوزنده ډله وه.

په (کرک ) کې د را ټول شوي فوځ څرنګوالې داسې و چې هغوی د سمدستي حملې چمتوالې نه درلود ، له دې اړخه سلطان ایوبي د نوو فوځیانو بهرتې کول ګرندي کړل اودنوو وګړو د روزنې له پاره ئې همله په صحرا کې پرواګرام جوړ کړ. هغه علي بن سفیان ته وویل چې (کرک ) ته جاسوسان و استوي چې دهغه ځایه د خبرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د راوړلو نه علاوه دا کار هم وکړي چې دهغه ځاې ځوان مسلمانانو ته دکرک ښځه د وتلو او دلته په فوځ کې دخدمت کولو په لور ترغیب ورکړي.

(۹۱)*****

الحمد لله.

ددې کتاب ژباړه چې د ۲۰۰۸م زکال د جون دمیاشتې په شپږمه پییل شوې وه د همدې کال داګست په پنځمه پاې ته ورسیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما نوري ژباړې

- اسلامي سياست: د مولانا ګوهر الرحمن (رحمة الله عليه ) ليکنه.
- اسلامي رياست: دمولانا ابو الاعلي مودودي (رحمة الله عليه ) ليکنه.
- د اسلامي انقلاب حکمت: د سيد اسعد ګيلاني (رحمة الله عليه ) ليکنه.
- حجاب : دمولانا ابو الاعلي مودودي (رحمة الله عليه ) ليکنه.
- خلافت او ملوکيت: دمولانا ابو الاعلي مودودي (رحمة الله عليه ) ليکنه.
- دنبوت پاې: د شيخ الاسلام مولاناعبدالسلام رستمي (غفرالله ) ليکنه.
- دقران د انکار نه تر دحديثو تر انکاره پورې: د شيخ الاسلام مولاناعبدالسلام رستمي (غفرالله ) ليکنه.
- د ايمان پلورونکو داستان: د التمش ليکنه او د حکايت د مجلې د مدير عنايت الله را ټولونه.

او يو شمير نورى کوچنۍ رسالى ، چې نو مونه به يې وروسته ، انشاألله، و ليکل شى.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**